[illegible] "[illegible] (مسلم لیګ) سره [illegible]"

[illegible] ۱۲ [illegible]

[illegible]

د مسلم لیګ غړي هر څه دعوی چه کوي

لیکن حقیقت دادی چه دوی جماعت

بنیاد هم د انګریزانو او هم د هندو د مشوره

مطابق د انګریزانو هندو قائم کړی دی

دوی جماعت د مسلمانانو [illegible]

نه دی بلکه فرنګي هندو جوړ کړی

د جنګ د پاره میدان ته راوستلی دی

په ابتدا [illegible] هندو مسلم [illegible]

[illegible]

[illegible] مسلم لیګ [illegible]

[illegible] هندو [illegible]

په [illegible] او د انګریزانو [illegible]

ختم کړی چه مسلمانان په [illegible]

په هندوستان حکومت کړی [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما ژوند

# او

# جد وجهد

عبدالغفار

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جشن [illegible] د باچاخان د قرآن [illegible]

[illegible] د لیلی — [illegible]

محترم [illegible] غلام [illegible] خلق د کتاب [illegible]

د [illegible] په [illegible] [illegible]

[illegible] — نه ما [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتساب

قاعده داده چه خلک کتاب وليکي نو دچاپه نامه يې منسوب کوي، د مخفي صاحب دانظم زما د ژوند فکر، عمل او جد وجهد د پښتونۍ ملګری دی نو ځکه زه غواړم چه زه دا خپل کتاب، «زما ژوند او جد وجهد» تا سو دد ي نظم دیادګیر سړي وراندي کړم.

(۱)

خاونده ته و دانه کړې — زمونږ د يو والي حجره
يو ځای پکښې ځانه کړې — د پښتو د له خوږه
يو زړه يو سايو ماڼۍ کړې — دې ببل او ببل پښتون لره

(۲)

کشمير نه تر هرات هورې — بلوچستان نه تر دوړې
دا ټول پښتون دي هم چېرې — خه رنګي پروت زړې زړې
دي وجود په ماڼۍ کړې — يا خدايه دا زړه زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

لویو تپو دپښتنو — په غوره په سم پوتو
نمسو دلویو پلرګنو — راځۍ چه یوشو لیونونو
یالویه خدایه ودانه کړې — سپېره بېلتون لره دپېروه

(۴)

پښتو زمونږه چوته یې — ولې له مونږه بېرته یې
زمونږه زړه ځیګرته یې — زمونږ دقام وزورته یې
په مونږه لاره آسانه کړې — چه مونږه یوشو کل سره

(۵)

دپښتنو اول نیکه — خوارهٔ نمسی دې یوکړه
داشانی تیت دي دوی په څه — خبر له یوله بل نه
یالویه خدایه ودانه کړې — سپېره بېلون لره دوېږه

(۶)

زمونږ له ملک نه دښمنان — یاخدایه لوکړې دا تړسالان
په مونږه کړې زمونږه خان — زمونږ دقام زمونږ دخاان
ربنا زمونږ له خا نه کړې — دپښتنو توره تیارره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

| مخونه | عنوان |
| --- | --- |
| ۱ - ۴ | شروع کوم په نامه دخدای چه ښښونکی او مهربان دی : |
| ۴ - ۵ | کورنۍ |
| ۵ - ۱۲ | تاریخي پس منظر |
| ۱۲ - ۱۳ | دپښتنو خوبونه او دوددونه |
| ۱۴ - ۱۶ | دپېرنګي اثرات |
| ۱۶ - ۲۰ | زمانیانه بین توب |
| ۲۱ | سکول ته تګ او هغه وخت : |
| ۲۲ - ۲۵ | ابتدائي تعلیم - دپېښور سکول |
| ۲۵ - ۲۹ | دکلي ماحول |
| ۲۹ - ۳۰ | مشن سکول |
| ۳۰ - ۳۱ | زما استاذ |
| ۳۱ - ۳۴ | کلیوالي لوبي |
| ۳۴ - ۳۶ | اخترونه او میلې |
| ۳۶ - ۳۸ | دا ما مانو بیاشت |
| ۳۸ - ۴۰ | کلي کلوبخي |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
|---|---|
| سخات خیرات | ۴۰ - ۴۵ |
| یوه لطیفه | ۴۵ - ۴۸ |
| واده مبادی | ۴۸ - ۵۲ |
| دیوي پېغلې قصه | ۵۳ |
| فوج کښې کمیشن | ۵۴ - ۵۸ |
| بیا تعلیم پسې | ۵۸ - ۶۲ |
| ازادی میدان، تازه افکار: | ۶۳ |
| د عالمانو سره تعلق | ۶۴ - ۶۵ |
| مدرسې جوړول | ۶۵ - ۷۰ |
| دیوبند سره تعلق | ۷۰ - ۷۳ |
| شیخ الهند صاحب او سندهي صاحب | ۷۳ - ۷۴ |
| قوم پرستي | ۷۴ - ۷۸ |
| ورومبی واده | ۷۸ - ۸۴ |
| آګره کښې د مسلم لیګ جلسه | ۸۴ - ۸۸ |
| کلی وطن کښې تعلیم او تبلیغ | ۸۸ - ۹۲ |
| د شیخ الهند صاحب سره: | ۹۳ |
| د شیخ الهند صاحب خط | ۹۳ - ۹۵ |
| آزاده علاقه کښې د مرکز تلاش | ۹۶ - |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| عنوان | مخونه |
| --- | --- |
| چمرکند | ۱۰۱ - ۱۰۴ |
| سالارزی، ماموند | ۱۰۴ - ۱۰۷ |
| اولنی جنګ عظیم | ۱۰۷ - ۱۰۹ |
| دحاجی صاحب هجرت | ۱۰۹ - ۱۱۰ |
| زما بونیر ته تګ | ۱۱۰ - ۱۱۳ |
| بونیر کښې د پیرنګیانو سازش | ۱۱۳ - ۱۱۴ |
| مدرسې بندې شوې | ۱۱۴ - ۱۱۹ |
| مومندو ته دحاجی صاحب هجرت | ۱۱۹ - ۱۲۲۰ |
| دسوات دباچاهۍ کشاله | ۱۲۲ - ۱۲۶ |
| دپیرنګیانو مظالم | ۱۲۶ - ۱۳۰ |
| رولټ ایکټ او مونږ : | ۱۳۱ |
| د یورپ جنګ | ۱۳۲ - ۱۳۳ |
| وبا - د رومبي تره مړګ | ۱۳۳ - ۱۳۵ |
| رولټ ایکټ | ۱۳۵ - ۱۳۷ |
| زمونږ جلسې | ۱۳۷ - ۱۴۳ |
| زما ګرفتارې | ۱۴۳ - ۱۴۹ |
| زما د بابا او نورو کیانو ګرفتارې | ۱۵۰ - ۱۵۴ |
| د جیلخانې حالت | ۱۵۴ - ۱۶۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
|---|---|
| دقيدنه خلاصېدل | ۱۶۰ - ۱۶۱ |
| ددوهم واده تيارى او بيا گرفتارى | ۱۶۱ - ۱۶۵ |
| رهايي اودوهم واده | ۱۶۵ - ۱۶۸ |
| **خلافت، تحريک او هجرت :** | ۱۶۹ |
| د هلي کښې دخلافت کميټي جلسه | ۱۷۰ - ۱۷۱ |
| هجرت | ۱۷۱ - ۱۷۴ |
| سونړ کابل کښې | ۱۷۴ - ۱۷۷ |
| باجوړته واپسي | ۱۷۷ - ۱۷۸ |
| ديرکښې دخالونومدرسه | ۱۷۸ - ۱۸۰ |
| **ذهني انقلاب :** | ۱۸۱ |
| تعليمي او اصلاحي جدوجهد | ۱۸۲ - ۱۸۳ |
| د اتمانزو آزاد سکول .... | ۱۸۳ - ۱۸۶ |
| دخلافت کميټي صدارت | ۱۸۶ - ۱۸۸ |
| **جيل او دجيلخاني قصه :** | ۱۸۹ |
| دفعه ۴۰ کښې گرفتارى | ۱۹۰ - ۱۹۳ |
| دچمرکند مجاهدين | ۱۹۳ - ۱۹۵ |
| ډيرۀ اسماعيل خان جيل ته بدلي | ۱۹۶ |
| دجيلخاني قصه | ۱۹۶ - |
| دجيل بدمعاشي | ۲۰۲ - |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
| --- | --- |
| زما مشقت | ۲۰۵-۲۰٦ |
| جیل کښې پرې جنبې | ۲۰٦-۲۱۳ |
| جیل کښې زما ګناه | ۲۱۳-۲۱٦ |
| ډیرهٔ غازي خان جیل | ۲۱٦-۲۲۳ |
| د جیل ژوند | ۲۲۳-۲۲۸ |
| د پښتنو په هکله غلط پراپیګنډه | ۲۲۸-۲۳۲ |
| زما د غاښونو مرض | ۲۳۲-۲۵۷ |
| مذهبي تعصب | ۲۵۷-۲٦۵ |
| لاهور جیل ته دوباره تګ | ۲٦۵-۲٦۹ |
| مطالعه | ۲٦۹-۲۷۵ |
| د لاهور جیل نه بیا ډیرهٔ غازي خان ته | ۲۷۵-۲۷۸ |
| د مور مرګ | ۲۷۸-۲۷۹ |
| د سیاسي قیدیانو جنګونه | ۲۸۰-۲۸۹ |
| میانوالي جیل ته | ۲۸۹-۳۰۰ |
| رهائي | ۳۰۰-۳۰۴ |
| سیاسي سرګرمي او پښتون اخبار: | ۳۰۵ |
| کلي کور کښې | ۳۰٦-۳۰۸ |
| د فخر افغان لقب | ۳۰۸-۳۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
| --- | --- |
| انجمن او مدرسې | ۳۱۳ - ۳۲۰ |
| دحج سفر | ۳۲۰ - ۳۲۳ |
| پښتون (اخبار - مجله) | ۳۳۳ - ۳۳۹ |
| امان الله خان | ۳۳۹ - ۳۴۷ |
| نادرخان | ۳۴۷ - ۳۵۲ |
| منظم سیاسي جدوجهد .... : | ۳۵۱ |
| لاهور کښې د کانګرس جلسه | ۳۵۱ |
| خدایي خدمتګاري | ۳۵۱ - ۳۵۹ |
| دوری | ۳۵۹ - ۳۶۶ |
| مرغز کښې جلسه او یوه قامي پریکړه | ۳۶۶ - ۶۸ |
| اتمانزو کښې لویه جلسه او مشاعره | ۳۶۸ - ۷۰ |
| ګجرات جیل او کانګرس سره ترون : | ۳۷۱ - |
| ګرفتاري سنه ۱۹۳۰ع | ۳۷۲ - ۴ |
| ګجرات جیل | ۳۷۴ - ۶ |
| د قصه خاني واقعه | ۳۷۶ |
| ګجرات جیل کښې | ۳۷۶ - |
| د پیرنګي جبر او د پښتنو عزم | ۳۸۰ - |
| کانګرس او مونږ | ۳۸۶ - |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
| --- | --- |
| پټیل کمیټی رپورټ | ۳۸۹-۳۹۰ |
| دګجرات جیل ملګری | ۳۹۰-۴۰۷ |
| رهائی | ۴۰۷-۴۰۸ |
| لاهور کښی زما استقبال | ۴۰۸-۴۱۴ |
| ګاندهی اروین پیکټ .... | ۴۱۵ |
| دوری | ۴۱۶-۴۱۸ |
| دکانګرس جلسه کراچی کښی | ۴۱۸-۴۱۹ |
| دخدائی خدمتګارو (سرخپوشو) بنسټ اثر | ۴۱۹-۴۲۰ |
| کراچی کښی مصروفیت | ۴۲۰-۴۲۵ |
| دهندوستان دوره | ۴۲۵-۴۳۰ |
| وطن ته واپسی | ۴۳۰-۴۳۵ |
| دپنجاب دپښتنی علاقو دوره | ۴۳۶-۴۳۹ |
| زموږ کار او دپیرنګی سازشونه | ۴۳۹-۴۴۱ |
| دکانګرس کمیټیٔ په ځای دسرحد جرګه | ۴۴۱-۴۴۲ |
| دګاندهی جی په بلنه بار دولی ته تګ | ۴۴۲-۴۴۵ |
| دیوبداس سره دوره | ۴۴۵-۴۵۱ |
| بابره کښی دلامه او زموږ کمزوری ملګری | ۴۵۱-۴۵۸ |
| دپیرنګیانو دجبر وتشدد زیاتوالی | ۴۵۸-۴۶۴ |
| ددیوبداس ګاندهی دسرحد دوره | ۴۶۴-۴۷۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
|---|---|
| دراوند تهيل كانفرانس ورڅوکښې : | ۴۷۱ |
| په بمبۍ کښې د .... | ۴۷۲ - ۴۷۳ |
| دجرګې مشرانوکښې اختلاف | ۴۷۳ - ۴۷۵ |
| شملې ته زماتګ | ۴۷۵ - ۴۸۷ |
| شمله کښې زمونږ مصروفيت | ۴۸۷ - ۴۹۱ |
| دفارن سکرتر اوهوم سکرتر سره ليدل | ۴۸۸ - ۴۸۶ |
| خپله صوبه کښې کار : | ۴۸۸ - |
| دپېره اسماعيل خان ته تګ | ۴۸۸ - ۴۹۰ |
| اتمانزو ته واپسي داحمد شاه معامله | ۴۹۰ - ۴۹۴ |
| دپېرو دوره | ۴۹۴ - ۴۹۶ |
| دسرحد لويه جرګه | ۴۹۶ - ۵۰۱ |
| دهزارې دوره | ۵۰۱ - ۵۲۲ |
| دهزارې نه واپسي | ۵۲۲ - ۲۶ |
| دترنګزو حاجي صاحب اوخدائي خدمتګاري | ۵۲۶ - ۲۷ |
| دخليلو مومندو دوره | ۵۲۷ - ۹ |
| مانړکانوباندې، اورمړ، خالصه | ۵۲۹ - ۲ |
| لاټ سره ليدل | ۵۳۲ - |
| دنوښار په تحصيل کښې جلسې | ۵۳۵ - |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
|---|---|
| صوابی تحصیل کمیټی جلسې | ۵۴۵-۵۳۷ |
| دلویې جرګې اجلاس | ۵۴۸-۵۴۵ |
| زه هزاری باغ جیل کښې باهر عامه ګرفتاري: | ۵۴۹ |
| په دې کښې ..... زمونږه ګرفتاري | ۵۵۲-۵۵۰ |
| عامه ګرفتاري او تشدد | ۵۵۴-۵۵۲ |
| هزاری باغ جیل کښې | ۵۵۹-۵۵۴ |
| بهادره ښځه | ۵۶۲-۵۵۹ |
| زه ما په صوبه سرحد او پنجاب بندیز: | ۵۶۵ |
| په سرحد زما بندیز - آل انډیا کانګرس ..... | ۵۷۰-۵۶۶ |
| سابرمتي جیل | ۵۷۳-۵۷۰ |
| بریلي جیل | ۵۷۷-۵۷۳ |
| دالهوزي جیل | ۵۷۸-۵۷۷ |
| رهائي | ۵۷۹-۵۷۸ |
| واردې ته تګ | ۵۸۰-۵۷۹ |
| دخپل اولاد سره ملاقات | ۵۸۱-۵۸۰ |
| انتخابات او کانګرس ورکنګ کميټي | ۵۸۲-۵۸۱ |
| زه بمبۍ کښې | ۵۸۴-۵۸۲ |
| دفیض پور کانګرس | ۵۸۶-۵۸۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخونه |
|---|---|
| د لیبنتنو په هکله غلط فهمی | ۵۸۸-۵۵/۸۶ |
| وزارتونه | ۵۹۰-۵۱/۸۹ |
| مونږ وارداو سیوا کرام کبنی | ۵۹۳ -۵۵۹۰ |
| دکانگرس وزارتونه | ۵۹۷ -۵۱۹۳ |
| بنارس ، دیلی ، گجرات ، کاتیاوار | ۵۹۹ -۵۱۹۷ |
| دهندوستان د مسلمانانو د پاره فکر | ۶۰۳ -۵۱۹۹ |
| د بلوچستان دوره | ۶۱۰ -۶۱۰۳ |
| **د خدایي خدمتکارو د رومبی وزارت :** | ۶۱۱۱۱ |
| زه اوه کاله ..... | ۶۱۵ -۶۱۱۳ |
| د خدایي خدمتکارو وزارت | ۶۱۹ -۶۱۹۶۱ |
| زمونږ وزیران او پېرنګیان | ۶۲۰ -۶۱۹۹ |
| د جواهر لال دوره | ۱۲۵ -۶۲۰ |
| دگاندهي جي دوره | ۱۳۰ -۶۲۵ |
| وزارتونه او خدایي خدمتکار | ۳۲ -۶۳۰ |
| وزارتونه مات شول | ۴۴ -۶۴۲ |
| **د خدایي خدمتکارو غورزی پرزی** | ۶۴۵ |
| اخر د ۱۹۴۲ کال .... | ۷ -۶۴۶ |
| قابلیونه د خدایي خدمتکارو وفدونه | -۶۵۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخ‌ونه |
| --- | --- |
| دهندوستان پر ببر دی تحریک | ۶۶۶ - ۶۶۷ |
| چپاوونه | ۶۶۷ - ۶۸۴ |
| دبمبئی ټک | ۶۸۴ - ۶۸۷ |
| زلمی پښتون | ۶۸۷ - ۶۸۸ |
| الیکشن، کیبنټ مشن، عبوري حکومت: | ۶۸۹ |
| الیکشن | ۶۹۰ - ۶۹۵ |
| دآئین ساز اسمبلی ممبران | ۶۹۵ - ۶۹۶ |
| کرپس مشن | ۶۹۶ - ۶۹۸ |
| شمله کنفرانس | ۶۹۸ - ۷۰۰ |
| کیبنټ مشن | ۷۰۰ - ۷۰۳ |
| دکانګرس صدارت | ۷۰۳ - ۷۰۴ |
| دجواهرلال بیان | ۷۰۴ - ۷۰۵ |
| دجواهرلال په بیان عکس العمل | ۷۰۵ - ۷۰۶ |
| انټرېم حکومت | ۷۰۶ - ۷۰۹ |
| قبایلي علاقې او جواهرلال | ۷۰۹ - ۷۱۱ |
| تورخم | ۷۱۱ - |
| دملکانو ایجنسي | ۷۱۱ - ۷۱۵ |
| سور دریاب | ۷۱۵ - ۷۱۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| عنوان | مخونه |
| --- | --- |
| بجټ پیش کول | ۷۱۹- ۷۲۰ |
| دمونټ بیتن مشن | ۷۲۰-۷۲۳ |
| دایرکټ اکشن او مساوات | ۷۲۴- ۷۲۵ |
| زه بهار کېږي | ۷۲۵-۷۳۲ |
| د تقسیم اعلان | ۷۳۲ |
| دورکنګ کمیټي اجلاس | ۷۳۲- ۷۳۶ |
| دکانګرس او مونټ بیتن سازش | ۷۳۶- ۷۳۷ |
| دکانګرس بې وفايي | ۷۳۷- ۷۴۰ |
| لوستونکو ورونو | ۷۴۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شروع کوم په نامه د خدای چه ښه ښونکی او مهربان دی

زه د هشنغر په اتمانزو نومی کلی کښی په کال ۱۸۹۰ ع کښی پیدا شوی یم . هغه وخت د پیدایش د نیټې د لیکلو رواج نه و او نه څوک په لیک او لوست پوهیدل . نو زما د پیدا کیدو نیټه چا لیکلې نه وه خو دا چه زه وایم چه په کال ۱۸۹۰ ع کښی پیدا شوی یم د دې نه وایم چه خدای دې زما مور و بخښي مانه ویل چه « ستاد ورور ډاکټر خانصاحب واده چه و نه د یوولسو کالو وي » او د ډاکټر صاحب واده په دسمبر ۱۹۰۱ ع کښی شوی و نو ځکه زه وایم چه زه په ۱۸۹۰ ع کښی پیدا شوی یم . زه د مور او پلار کشر زوی وم د ټولو نه مشره زمونږ خور وه ، ور پسې ډاکټر خانصاحب و بیا می بله خور وه بیا زه وم . د کشر اولاد سره قدرتی د مور او پلار مینه زیاته وي او ورته ډیر خوږ او نیازبین وي . زه مور او پلار ته ډیر ګران وم د خدای قدرت داسی وچه د ټولو نه مخکی زما مشره خور مړه شوه بیا ډاکټر خانصاحب شهید شو ، بیا می بله خور مړه شوه . زه د ټولو نه وروستو یم او روستو پاتې شوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اتمانزو کلي دپښتونو نه شل میله لیرې شمال ختیزته دهشنغر
مینځ کښې دسوات اوباجوړ دسیند په غاړه نوښار ته نژدې پروت دی.
زما تعلق محمدزي قبیلي سره دی او هشنغر چه دا بازونه رااوخلو
نوښاره پورې دی، په دې کښې محمدزي آباد دي. دا د پښتنکلي سرسبز
او آباد ملک دی اودا د پښتنو د روولو په تقسیم کښې نوررو روغو
له بخپله خوښه راکړی و. زما نیا یوسف زی وه، د صوابۍ د مرغز کلي
او نیکه مې محمدزي وچه دهشنغر د اتمانزو کلي و. نیکه مې لوی خان و
قلرتی خبره ده چه د محمدزو او یوسفزو شریک اولاد ډیر لایق
قابل وي. جنګي بي دهلکانو نه زیاتي ذهيني وي. زما درې نمسي
د اکتراني دي، نورې نمسی مې خوګ ایم. اې ،خوک بی. اې دي ا
لور مې ده هغه بی. اې. بی. ټی. ده. یوکشر زوی مې عبدالعلي
(زه ورته لالی وایم) د اکسفورډ ایم. اې، دی. دوه مې نورزامن
مشر عبدالغنی دی چه هغه مې د ترور، کسترۍ د تعلیم دپاره امریکې
لیږلی و خو چه زه فیرنګیانو په ۱۹۳۱ع کال کښې جیل ته ولیږلم او زما جا
هم کډ وډ کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه تعلیم سرته ونه رسولو او
راغی. بل عبدالولی دی چه سینیر کیمبریج یې پاس کړو. دی ډیر
لایق او قابل دی، دی یوروپ له تعلیم له لاړ نه شو ولې چه زه جیل
لازم نو دی هم د تعلیم نه پاتي شو. عجیبه خبره دا ده چه زه هم شاهي
(STATE PRISONER) وم، ډاکټر خانصاحب او قاضي صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی بچولرلپی د تعلیم دپاره وظیفه او دکور دپاره خرڅ ورکولو او دا د
شاهي قیدي (STATE PRISONER) سره رعایت نه دی دهغه قانوني حق دی
خو زما اړا دامنو ته یې نه ورکولو . زما یو زوی یوسف زی کړي ده ، بل مومند ته کړي ده
او دریم پارسي (پارسیبان) کړي ده . زما لور په کشمیری واده ده . زما ځلور
لمسی په یوسفزو کښې واده دي . دوه په ختکو کښې او یوه په پنجاب کښې په
پنجابی واده ده . مونږ خپل اولاد په دولت پسې نه ورکوو ، په شرافت ،
قابلیت ، او لیاقت پسې یې ورکوو . مونږ خپل اولاد بغیر دهغوی دخوښې
چاله نه ورکوو

اتول هشنغر شکلي او شیرازه سیمه ده درځرو او اتمانزو نه د
سیند په بله غاړه چه د زور ښار ښې ښنباني راڅرګندې شوي دي هغه درزړو
سره د سیند نه پوری غاړه د شیخانو ډیری سره د کندهار تهذیب .
او دوی نه مخکښې آثار دی دغه ښار ته یې پشکلاوتی وی - دانوم د برسند د کمر
او کلونو پوری ترلی دی - لوی تجارتی او ثقافتی مرکز و - داموجوده سیند چه اوس
د نهرو او شیخانو ډیری ترمینځه بهیږی دا په هغه زمانه کښې د ډیری نه قبلی
غاړي ته بهید لو او دا تول زور ښار تر دی رزړو پوری غزیدلی و .
د دې ځای او سیدونکی پښتانه وو خو بودیست وو . بودایی مذهب
لرد دې ځایه دسوات او کلکت په لاره تبت او چین ته تللی او خورشوی دی
او د بده مت خورمه مذهبی غونډه هم په دې ځای کښې شوې وه .
د ښکاره شو آثار و دفن او صنعت نه معلومیږی چه په دې علاقه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنعت، تجارت، زراعت او علم ډېره ترقي کړې وه. دا ښار یوازې نه یوازې د
سیاسي مرکز نه بلکې د ایشیا د زیاتو برخو تجارتي، صنعتي او علمي مرکز و
د اټک او مارګلې په لاره یې د هندوستان سره، د سوات او ګلګت
په لاره یې د کشمیر او تبت او چین سره، د دیر او چترال او بدخشان
په لاره د مرکزي ایشیا او له هغه ځایه یورپ سره، د کابل، کندهار او سیستان
په لاره یې د ایران، عراق، ترکیې او شام سره تعلق لرلو. د تجارتي مالونو
منډې وه، د علوم زانګو وه.

زما مور ډېره زړه سواندې، پوهه، نیک سیرته او خوش خلقه ښځه
زمونږ د زمینداره لوی کورو، زمونږ ډېرې غوا، مېښې وې، هره ورځ
به د خوا او شا غریبانانو خلک په شوملو مستوسېي مونږ کره راتلل او
به مې په روڼ تندي دهغوی سره ستړی مه شي کول شوملې او ماسته به
ورکول او هر مابنام به یې د دوی د پاره بیله کټوی پخوله.

## کورنۍ:

زما د پلار بهرام خان نوم و، د ګلي خان وا و په مشر خان مشهور
د نورو خانانو په شان نه و په کلي کښې دده هومره جایداد چې یانه و خود
نه ښکاریده لکه خان، پوه او زیړ لیښستون و، په چاپي زیاتي نه کولو
مظلومان د بل چا زور زیاتي ته پرېښودل. که دده سره به چا زیاتي وکړ
به یې په صبر برداشت کولو او د بدل جذبه یې په زړه کښې نه ساتله. د
ترېورانو ورسره ډېر زیاتي کړی و دده وس کیده چې بدل ورته واخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خاطر به يې ونه ځنبل بلکه احسان او ښېګړه به يې ورسره کوله. موږ ګذار، پرهېزګار او سوله دوست سړی و، د صبر او زغم خاوند و. کله چې به حجرې له نابلده مسافر راغلل چې هېڅوک به يې نه پېژندل پلار به مې ورله پخپله ډوډۍ ور وړله، نوکران به وو خو ده به پخپله د ډوډۍ شکور را اخستې و او د انګولي لوښي به يې په لاس کښې را اخستي و او ويل به يې دا د خداى ميلمانه دي په کار دي چې زه يې پخپله خدمت وکړم. اکثر به داسې وشو چې ميلمانه به ژمي کښې شپې له راغلل نو چې سحر به ورله نوکر چاى ور وړه نو خبر به يې را وړو چې ميلمانه نشته. تللي دي او بېرسته يې هم د خان سره وړي ده د نورو خانانو په شان حاکم پرست نه و، د حاکمانو سره يې تعلق نه ساته او نه يې د دوى خدمتونه کول. زما د نيکه هم دغه حال و. زما د نيکه سيف الله خان نوم و، کله چې فرنګيانو د بونير د نيولو په غرض په بونير حمله وکړه او د سور کاوي غزا وه نورخانان د فرنګي ملګري وو او سيف الله خان بابا د قام مړستې له ورغی. د ارنګي زما غور نيکه عبيد الله خان بابا آزاد خيال پياوړي او ملي مشر و چه د هغه وخت د درانو حاکم سلطان محمد خان طلائي د لاسه پهانسي شو. د درانو حکومت د عياشى په خپل قام د زور زياتى، د کورني اختلافونو او جنګونو په وجه ختم شو او د دې نه وروسته د سکهانو حکومت راغی. د درانو چه واوريدل سکهان دارو آدي شپه په شپه کابل ته وتښتيدل او پښتانه يې سکهانو ته پرېښودل.

## تاريخي پس منظر:

يا هغه وخت چه کله بابر د پښتنو د بې وقوفي او خود غرضي او د ايرانيانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامداد اولمسون په وجه د ابراهیم لودی نه د هند بادشاهی تخت او
تاج واخستو، شیرشاه سوری راپاڅیدو او د بابر د زوی همایون نه
دپښتنو حکومت بیرته واخستو. دیلی یی ونیو همایون وتښتید و او
د ایران دربار ته یی پناه یوړه او هلته ایرانیانو دپښتنو دکمزوری کبله
موقع له ساتلی و.

شیرشاه دپښتنو جنډه په کلکته و دروله اوشیرشاه چه د ملک
د ابادی له پاره د صنعت، تجارت او زراعت کومی منصوبی جوړی کړی
په هغی د مغلو داکبر پاچا نوم وشو. دا داکبر دماغ نه و دشیرشاه دماغ
یا هغه وخت وچه کله په پښتنو د ایرانیانو حکومت وپښتانه سپی سپک
او سپک پیژنی گڼل. په کندهار کښی میرویس خان نیکه راپورته شو پښتانه
د ایران د غلامی نه آزاد کړل او د پښتنو بیرغ یی په اصفهان و دراوه
هغه وخت وچه پښتانه نادر افشار د ټیم هیرکړی و. چه نادر افشار مړ
شو نو د پښتنو لویه جرگه په کندهار کښی راغونډه شوه او د دیر غور ورو
یی احمد شاه بابا په مشری دعاء خیر وکړه.

احمد شاه بابا راپورته شو ایرانیانو ته یی شکست ورکړو او دپښتنو د
بنیاد یی کښیښود. یوازی پښتونخوا نه بلکه ټول هندوستان یی د هغه و
د مغلی حکومت د ظلمونو نه خلاص کړو. دی وخت کښی انګلیزان هند
له نوی راغلی وو چه احمد شاه بابا دیلی واخست نو د انګریزانو د ټک و د
خبر شو او اراده یی وکړه چه انګریزان هم د هندوستان نه و باسم. انګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په دې پوه شول د ایران دربار ته یې سفیر ولیږلو او ایرانیان یې راپورته کړل چه په افغانستان حمله وکړي. احمد شاه بابا چه د دې سازش نه خبر شو د انګلیزانو د مخنیوي کار یې پرېښود او په مخه افغانستان ته رارawan شو چه جهلم ته راورسېد د جهلم د سیند په غاړه و دریدلو او د پښتنو قول خپلونه او قبیلې چه وېشلې شوې هغو ټولو ته یې ووېل چه له دې ځایه تر اموده یا به پورې ستاسو ملک پښتنخواه دی او یا د غه وخت و چه د درانو د عیاشۍ، بې تدبیرۍ په خلکو د زور زیاتي، کورني اختلافونو او جنګونو په سبب پښتانه دومره پر یو تل چه خپل ملک ورکښې د سکهانو د مقابلې نه وو. هغه د پلار نیکه کنتې خوږ پرېږده خپله خاوره ترې سکهانو لاندې کړه او په دوی کښې دومره ځوک نه و چه خپله خاوره او ناموس یې ننګ او غیرت کړی وی. د سکهانو زور او ظلم په مقابله کښې یې سر او وجت کړی وی او د پښتنو عزت او عظمت یې د دې ظلم نه بچ کړی وی. د سکهانو د پر ظالمانه حکومت و زما د مور دار خه نیکه محمد دین خان به مونږ ته داخبره کوله چه یوه ورځ زه د شولګرې نه راتلم او په سیند راپورې وتم چه په دې کښې یو سکه راغی ما ته یې اشارت وکړو چه راوګرځه او ما په شا پورې باسه. محمد دین نیکه ورته ووې چه زه نا باری یم خو سکه مجبور کړی دی او چه سکهان په شا راسور کړی دی او د ا ولو مینځ ته رسید لی نو تو یو نه کړي دي او سکه یې د اوبو په مینځ کښې غوږ ځولی دی او دی ترې تللی دی.

د هند وسنان د هغه سره سید احمد بریلوی او اسمعیل شهید په دوی یعنې په پښتنو باندې ننګ او غیرت کوی او د سکهانو د مقابلې د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتنو خاورې ته راغې . دهغه وخت دحکومت افغانستان له طر
دده سره مرسته ونه شوه بلکه یار محمد خان له خوا ورسره ځیګلره وش
لکه څنګه چه دپښتو ددې زرې چاربیتی نه څرګندېږي :

روان شو یار محمد سید اوباسې پېنجتاره
سید لره یې ورکړې آلهي پرور دګاره

ددې علاقو دپښتنو همله دی دسید صاحب سره وه . دده غوښ
چه ملک کښې شریعت نافذ کړي او دشرعي قانون سره سم دخور اولورولو
کړی او په میراث کښې ښځوله هم شرعي برخه ورکړي او ځینې غلط رسم
رواج اصلاح کړی . په خانانو او ملایانو ددی خبرو بد اثر وشو شور
پې جوړ کړو چه یوسکه لاړو او بل سکه راغی . دپښتنو او مسلمانانو
هم ورانوی دوهابي فتوا ولګوله . په پښتنو کښې قومي او سیاسي ش
نه ؤ نو دبریلوی صاحب او دده دډلې په ضد راپورته شول ، څه لې و
او څه لې په اباسیند هږاې ته پورې ویستل . دهزاری ځینې مسلما
په ځای ددې چه دبریلوی صاحب مرسته وکړي سکهانو ته لې مخ
وکړه سکهان راغلل او باقیمانده هلته دسکهانوله لاسه ژغالاترغ
سید صاحب او اسمعیل صاحب بالاکوټ کښې شهیدان ش
خومره دافسوس خبره ده چه سید صاحب دپښتنو په ښځو
وکړو او بې ننګه پښتنو دوی سره ننګ ونه کړو . چه سید
سکهان دپښتنو دخاورې نه وایستل نو دافغانستان ح

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید صاحب ته وویل چه اوس د املک مونږ ته پریږده.

قصه داسې وه چه دتهکال ارباب بهرام خان چه د سید صاحب مرید و هغه به کال په کال د روژې په میاشت کښې بو ملي ته تللو د قرآن پاک ختم او تراویح به یې هلته د سید صاحب سره کولې. پخوا د حمل و نقل ذریعې هم نه وې، په اسونو زوان و چه کوجرانوالی له راغلی دی نوتږی شوې دی په لاره کښې کوهی ؤ ښځې ورله اوبه راغلې وې دی چه کوهی ته ورنږ دې شو نو د لاس په اشاره یې د ښځو نه اوبه وغوښتې چه دې ښځو منګی د ک کړل نو دې تولې لاړې او دوه ښځې پاتې شوې نو ده له یې اوبه یورلې، چه ده له یې اوبه ورکړې نو په ژړا شوې او ورته یې وویل چه مونږ پښتنې یو او سکهانو په زوره راوستي یو او دوه دوه بچي مو هم پیدا اشوي دي. ارباب چه بیرلي ته ورسید و نو هغه ډیر زهیر وو. سید صاحب ترنه پښتنه وکړه. چه دا ته ولې زهیر یې. هغه ورته د کوجرانوالی دا تول واقعه بیان کوړه. نو سید صاحب د جمعې په ورځ په منبر وخوت دا قصه یې بیان کړه او د جهاد اعلان یې وکړو. زه د لته تاریخ نه بیانوم صرف دا خبره ښکاره کوم چه د دې څه وجه ده چه پښتنو لوی لوی حکومتونه جوړ ولی شول خو ټینګولی یې نه شوال د دې وجه دا وه چه په پښتنو کښې اجتماعي ژوند، قومیت او اتفاق نه و، که څه هم پښتنو کښې به داسې وخت په وخت لوی لوی او قابل سیاستدانان پیدا اشول لوی لوی سلطنتونو به یې قایم کړل. خو کله به چه ده سر په کفن کښې ونغښتو په پاتې کسانو کښې به یې د قامولی مینه او اتفاق او د اهلیت جذبه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولت او اقتدار کنټرول د پاره به یو بل ته اړ هم شول . په عوامو کښې به هم د قامولی
احساس نه و چه مشران یې غلطې لارې ته نه پرېښودلی یا یې خودغرضه او نالایقه
مشرانو له موقع نه ورکولی . په پوهه ، لایقو . بې غرضو او خدمتگار و مشرانو له راغوندېدلی
او خپل حکومت یې ټینګ ساتلی . په عوامو کښې د قامولی او ملیت د جذبې د
نشتوالي له کبله به په دوی د خودغرضو مشرانو اثر و شو او بې اتفاقی او خانه جنګی
به عامه شوه خپل طاقت به یې د خپلو کښې یو په بل ختم کړو . د ښمنان خو به د منځ
په ځمع ناست وو . موقع به یې وموندله بادشاهی او حکومت به یې ورڅخه واخسته
دوی به یې غړ ونوته وشړل . د ښمنانو به د دوی په آبادو مزکو چرچې شروع
کړې او دوی به غرونو او غونو کښې سر وهلی در په در گرځېدل خو چه به یې بیا
تو به قبوله شوه او د خدای رحم به پرې وشو لایق او پوه سرې به پکښې پیدا شو
بیا به یې د ښمنان له وطنه وشړل او له نوي سره به یې په آبادی ګو تې پورې کړی
د سکهانو نه پس د پیرنګیانو دور راغی - پیرنګی چه په خو د ښمنان د غلا
راغلی وو . ولی داورته معلومه وه چه د هندوستان د تاریخ ټولې حملې د قطع
شوی دی ، او د خپل برطانوی هندوستان سلطنت د ساتلو د پاره هغه د ښې
خاورې ته راپورې وتلو چه به هغه د مړو لارو او سیندونو قبضه وکړی
کوم و د هیرته حملې شوی دی .
د فوجی حکمت عملی نه علاوه هغه د دې سیمې سیاسی حالات نو ته هم توجه
هغه ولیدل چه دلته هم هغه پالیسی روانه وه کومه چه د هغه نه مخکښې مخت
حاکمانو آزمایلی وه . حقیقت دا دی چه کله مغلو د پښتنو سره جنګونه وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله شهنشاه اکبر د پښتنو د لاسه اول په خیبر بیا به په کرېه او په آخره چه یې کله د بنیر په کړاکر کښې د خپل پوځ سره سره خپل لوی وزیر بیربل هم مړ شو نو بیا اکبر را اغی پښتنو ته د اباسین نه پورې یې د اتک قلاع جوړه کړه. سره د خپلو وزیرانو کښې نا است چه په دې خبره سوچ وکړي چه پښتون خو یې په جنګ ونه وهلی شو او س یې یې په کومه وسله وهی. چنانچه د ډېر غور او فکر نه پس په دې نتیجه ورسیدو چه پښتون دوه خاصیته لری. یو پښتون من حیث القوم مسلمان دی او د اسلام سره لوی عقیدت لری. دوهم انسانی کمزوری یعنی د دولت سره مینه لری. نو د دې په رڼا کښې هغه یوه داسې پالیسی وضع کړه چه داسې عالمان، ملایان او پیران پیدا کړی چه دهغوی په ذریعه د اسلام د خادر. د لاندې خپل سیاسی غرضونه سر کړي او دویم دا چه د پښتنو دنیاوی مشران. ملکان او خانان د دولت او نوکرو په زور په بیعه واخلی.. هم په دې سلسله کښې مونږ. وکتل چه د اخون درویزه او هغه په شان نورو دېرو دینی مشرانو د مغلو په وینا او بنودنه د پښتنو د قامی او ولسی تحریک د مخ نیوی دپاره د پیر روښان غونډې با عمله عالم او سوچه مسلمان باندې د مغلو د پاره کفر فتوی ووکولی

پیرنګی دا ولیدل چه هغه پالیسی د مغلونه پس درانیانو خپله کړه او دهغوی نه په وراثت کښې سکهانو ته پاتی شوه. پیرنګی چونکه د شلمی صدۍ د تعلیم یافته او سائنسی دور پیدا وار وو نو ده هم د شهنشاه اکبر هغه مجربه نسخه خپله کړه او کوښښ یې دا وو چه یو خوا د پښتنو دینی مشران د خپل سیاسی غرض دپاره استعمال کړی او بل خوا دهغوی دنیاوی مشران په دولت او منصبونو واخلی. ولې دېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتعجب خبره داده چه هغه اسلام چه کوم مغل مسلمان دخپل مسلمان ورور دغلامولو دپاره استعمالولو هم هغه اسلام نن دی ایمان خرڅوملایانو ، عالمانو او پیرانو دکافر پیرنګی دسیاسی اغراضو او مقاصدو دپاره استعمالوو .

## دپښتنو خویونه او دودونه :

سره ددې کله چه فرنګی راغی زما یادشی چه په پښتنو کښی ډیر ښه ښه خویونه او خصلتونه لاموجود وو په ډېرو غو به ځان ورته بد ښکاریده . ورور ولی عزیز ولی به یې ښه پالله . یو په بل اعتماد و په یوه بل به یې ننګ کولو ، راشه درشه وه مینه محبت وکه دیو بل سره یې څه اختلاف هم و په سپکه به یې نه یادو داسی نه ولکه دا اوس په خوله یوه او په زړه بله ژوند بالکل ساده ؤ او بی تکلف په ناسته ولاړه کښی ډیر تیته پیته نه وه ، جامې ساده او دوطن جوړی دخپل وطن شړله خامتایی دبل په اتلس نه ورکوله دخامتا لویی الوبی خلکي کمیسونه او پرتوګونه به یې اغوستل ، دوطن جوړی پېنې او څپلی به یې پښو کولی ، توپۍ او دخامتا پګړی به یې په سر ولې . ښځو به د ډرتکینه خامتا او مشروبی (*) پرتوګونه یې اغوستل . خوراک هم ساده و دساده خوراک په وجه د صحتونه ښه وو دومره کمزوری نه وو . مسالې نه وې ، چایی نه وې ، سود کول شراب څښل او زنایی ډیر بد ګڼل که به یوه شول چه څوک دا کاروونه کوی نو د سره به چا چپلولي نه کوله ، خور ، لور به چا نه ورکوله . اخلاقاً دومره په یوتی نه و اوس چه دی . دچاچه به زور ورمېلمه راغی نو چرګ به یې ورله حلال کړود

(*) مشروبی ، دخپل کلي کور جولا به یو رخت جوړولو چه هغی ته به یې مشروبي ویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکه ښښوروا بېلي جوړه کړه ، دغواوو، مېښو زېړ غوړي به وو . سره ې سره ې پېټی
پرسیدلی خمبیره دوډی به وې . مازیګر به په بت دجوارو نیني کېدلی کوره
به وروسره خلکو خوړله ، په دوډی کښې به دامیر او غریب فرق نه و . ټولو به په
یوتالی او یوځای کښی دوډی خوړله . څرنګه چه پوښاک او خوراک ساده وو
دغسې دناستی ځایونه او کورونه هم ساده وو . یوه لویه کوټه به وه ټول کور بانه
به یوځای ویده کېدل او چه میلمه به راغی نو دکلي په شریکه حجره کښی به
څملاستو د اکثرو خلکو کورونه په دغه شان وو او چه کوم سړی په دوی کښی لوی
سړی و یا به خان و نو دهغه په کور کښی به دکوټې سره یوځای یو منډو او دپوړی
وه او دمېلمنو دپاره به بېله حجره هم وه . دااوچتې اوچتې ماڼۍ او سپینی
سپیتي بنګلی نه وې خو هغه خوشحالی او آسودګي چه په هغه ساده ژوند کښی
وه نن، په دې بنګلو بنګلو بنګلو کښی او په دې خوند ورو خوراکونو کښی او دولي جام
کښی ننښته مرضونه ډېر نه وو، نر او ښځې په بدن سالم او تکړه وو . جنیکو او هلکانو
به یوځای لوبې کولې لوی لوی به وو دشپې تر ناوخته به یې لوبې کولې ، یو بل ته
به یې دخور او ورور په نظر کتل ، اخلاق ډېر اوچت وو . د لوبو ډېر رواج و ، قسم
قسم لوبې به وې . دلېښتنو په لوبو کښی دهر قسم پرکتس (سپورټ) ، خیال ساتلی
شوی او . دمنډو خیال پکښی و . دبار اوچتولو او ورلو خیال پکښی و ، دسا اخستلو
خیال پکښی و ، دشپې ګرځېدلو په شپه کښی دځان پټولو دمخالف فریق
دلټولو خیال پکښی و . او همدا وجه وه چه ددوی صحتونه ښه او ډېر ښایسته
وو . اګر چه پوبو کښی به ډېر یم ګړی نه وو، مګر بیا هم لوبغاړو به یو بل سره تکی نه کوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دپیرنګی اثرات :

دپیرنګی دراتلو نه وړاندې دپښتنو دتعلیم څه خاص انتظام نه وه
په تعلیم نه کاوه صرف دملایانو زامنو به دلمانځه، اوداسه، روژې سرپاني
حج اوقربانۍ ، زکات اوصدقاتو او ددغه شان مسئلو تعلیم کولو داهم داماميا
له پاره لوستل به یې زده و ، لیکل به یې نه و زده او ددغه تعلیم طریقه هم دغسې
وه چه ملا صاحب به په جماعت کښې ناست وُ داماميا سره به یې هلکانوت
درس هم ورکاوه . مور او پلار به چه وغوښتل چه خپل اولاد تعلیم وکړي ن
جماعت له به یې بوتلو او دملا صاحب سره به یې په سبق کښیناوه . ملا صاح
به ورته سیپاره شروع کړه مور او پلار به یې دخپل وس سره سمه شیرینۍ
ووېشله اوچه یوه سیپاره به خلاصه شوه نو ملا صاحب له به یې شکرانه
او دبلې په شروع کښې نه بیا شیریني وویشلې شوه . دملا صاحب دتعلیم ورک
په بدل کښې څه خاصه تنخوانه وه ، داستاذانو به دخپلو شاګردانو سره ډېره
وه دخپلو بچو په شان به یې ګڼل . شاګردانو به هم استاذ دپلار په ځای ګڼلو
استاذ به دسبق معنا شاګردانو ته نه ښودله هغوی غربیان څه ملامت و
هغوی یې پخپله هم په معنی نه پوهېدل نو شاګردانو ته به یې څه ښودلی
زمونږ دجماعت اخون هلکانو ته سبق ښودلو . یو هلک ته یې چه سبق
نو ورته په غصه شو ورته وویل « ان الذین کفروا خربېشویه » نو شاګرد هم
« ان الذین کفروا خربېشویه » داچه مونږ واورېدل نو ډېر مو وخندل
هغه شاګرد ته په غصه شو ، مونږ ورته ووې چه ددې هلک څه قصور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وايي هغوى هم وايي .

پېرنګيانو د هندوستان د خلکو د تعليم دپاره په نوې طريقه سکولونه جوړ کړي وو خو د پښتنو دپاره يې تش په نامه د کمې درجې سکولونه جوړ کړي وو. چرته به په يو نيم لوى کلي کښې پرايمرى (ابتدائي) سکول و، په هغې کښې هم څه دومره هلکان نه داخليدل. نور هندوستان لږ ابتدائي تعليم په مورنۍ ژبه کښې يې ورکولو خو يو پښتنون بدقسمته قام لره يې تعليم په پردۍ ژبه کښې ورکولو. ددې دپاسه يې ملايان ورپسې لمسولي وو چه که دا قام تعليم وکړي ستا سو قدر به کم شي او بازار به مو سوړ شي. بيدارشي چه د پښتنو څوک دونه علم حاصل نه کړي. ملايانو به پرا پيګنډه کوله چه پښتو دوزخي ژبه ده او دوزخ کښې به پښتو ويلې شي. د ملا صاحب نه هيڅ دا پوښتنه نه کوله چه هلکه ته د دوزخ نه کله راغلى يې او کوم دوزخي دا خبرې تا ته رسولي دي. ملايانو به دا هم ويل چه څوک د مدرسې سبق وايي نو اووه پېړۍ به يې په دوزخ کښې وي او دا سندره به يې ويله :

سبق د مدرسې وي دپاره د پيسې وي

جنت کښې به يې ځاى نه وي په دوزخ کښې به غسې وهي

ملايانو خو خلک د انګرېز په سکولونو کښې د تعليم نه منع کول خو ځپلې يې هم هيڅ انتظام نه کولو او عجيبه خبره خو دا ده چه ملايانو د دين په نامه خلک له علمه باغي کول، حالانکه اسلام داسې دين دى چه علم يې په نرو او ښځو فرض کړى دى خو مونږ داسې بدقسمته قوم يو چه د اسلام په نامه د علم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتي شو همدا وجوهات وو چه پښتانه د ټولې دنيا د قومونو نه په علم کښې وروسته پاتي شول او نتيجه يې دا شوه چه يوازې علم څه چه هر خير کښې د دنيا نه وروسته پاتي شو او څومره د افسوس خبره ده چه يو وخت د پښتنو ځا د دنيا د خلکو د پاره د علم مرکز و. دلته په هغه وخت کښې چه يوروپ د انسانيت د تور دور نه تېرېده د پښتنو په دې خاوره لوى لوى درسګاهې او يونيورسټې وې چه چاپېره ملکونه يې د علم په رڼا روښانه کول.

د ليرې ليرې وطنونو نه به خلک د علم د زده کړې د پاره زمونږ وطن ته راتلل او د اسلام په نوم نن د دنيا د ټولو قومونو نه په علم کښې وروسته پاتي کړې شول.

زما د مور او پلار اولاد نه پائېده نو دوې په ډېر وزيارتونو، باباګانو ملايانو باندې ګرځېدلي وو. هغوى ورته ويلي وو چه خداى پاک به زوى درکړي او چه زوى مو وشي نو غوږ به يې سورى کوئ او د سر وزرو والى به پکښې اچوئ او بل به تر اووه کالو پورې کال به کال د سپينو زرو او نورې ورته په غاړه کښې اچوئ او چه د اوو کالو پوره شي نو بيا به ترې دا او نور داوالۍ و باسئ او د خداى په رضا به يې ورکوئ.

## زمانيازبين توب:

زه د مور پلار کشرې زوى وم او کشرې اولاد په مور پلار ډېر ګران وي او ورسره يې ډېره مينه او محبت وي او نازبين وي، زه هم مور پلار ته ډېر نازبين وم او زما دې نازبين توب ما ته هم ډېر نقصان ر

(c) ketabton.com: The Digital Library



واو زه مامور لري ډېر تکليف ورکړی و. ما چه به وېل که ډوډی به منل خوښه او که به يې نه منل او د منلو به نه وو نو زه به بيا په خوله دغېدم او په چغو چغو به مې ژړل او تر ډېرې پورې به مې ژړل او دغېدم چه تر څو به زما مور زما خبره منلې نه وه. دغه شان تو له ورځې به مې پېښېږي ونښتې وهلې دا راته چا نه وېل چه په تر سره نه کوڅه او که به يې راته وويل نو ما منله کله. اکثر به په دې غرمو کې چېد لو زما ستړګی خوږې شوې، د شپې او ورځې به نا ارامه وم، مور به مې هم د ځانه سره نا ارامه کړې وه. شپه او ورځ به مې پرې خپله زانګو زنګوله او چه مور به مې ډېره ستړې او تنګه شوه او خدمتګاره به يې راته زانګو ته کښېنوله نو ما به چغې کړې نو هغه به راغله. شپه او ورځ مې هغه نا ارامه کړې وه او زما زانګو به يې زنګوله. هغې به راته وې چه ته چيپه دا زه دې په څه مصيبت کښې اچولې يم چه له ډېره شپه دې نه اخوا شم نو ته بيا چغې کړې ارام ته مې نه پرېږدې. نو ما به ورته وېل چه زه څه وکړم زه خو اېله نه يم.

ژمونږ به ډېره غله کېدله کنډوان به ډک وو چه نوې غله به راو لګېدله نو بيا به مو هغه زړه غله خرڅوله. ژمونږ د کور سره يو ډرام او کيوسنګ هټۍ وه دا دواړه وړونه وو ما به تو له ورځ د دې کنډوانو نه غله دې هټۍ ته ژغلوله. په هغه وخت کښې به په هټو کښې د دې قسم څيزونه نه وو لکه نن يې چه مونږ وينو. زيات نه زيات به پکښې املوک، غوزان، چنې او منچې وې او ماسپښين نه پس به يې باټينګن او پکوړې تلولې مور به راله دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دړې خله په ورځ کښې په جولۍ کښې غله راکوله لیکن په هغې به زما تسلي
چېرته وه الکتر به مې دهغې نه په پټه داڼې دکندوانو نه هم وړلې او کالتل به مې
چه مور به مې اخوا دې خواشوه نو ما به په یوه منډه هغې ته ځان رساوه
کله نا کله چه به دمور راته فکر شو نو آواز به لې را باندې وکه چه "ته به ځې"
او ما پښتوله سبه زور ورکه لیکن ددې نه زیاتی به لې راته څه ویل نه. زه خو
مورته ډیر ګران او نازبین وم . زه خوچخپل سود او زیان سبو او بد و نه
پوهېدم او داخو ما سره مور سبه نه کول څکه دې کار به ما کښې دغلا عادت
پیدا کاوه . زما مور له په کار وچه زه لې ددې عمل نه منع کولی او زه لې
پوهولی چه بچیه دا کار خوبد دی او ته باید دا بد کارونه کړې ننه چه څه
غواړې هغه خوزه درکوم . زه لې باید پوه کړې وای او ددې بلبل عمل نه
تو به کار کړی وای څکه دمور غیر خود انسان اوله او ډېره مهمه مله
ولی راته کیسه کوله چه زه په لندن کښې سهار دخپله مکانه راووت
چه کودم نو یوه ډېره ښکلې منه دونی نه راپرېوتې ده یو ماشوم هلته ولا
دی ماورته اشاره وکړه چه واخله (Take it) نو هغه راته کوته وخوځول
نه دا زما نه ده (No, it is not mine) هغه خو ماشوم و دا ورته چا ښود
و ؟ دا ورته مور .
په ماشوم والي کښې چه څه عادتونه په بچو کښې پېدا شي نو چه بیا غت
نو هم پکښې وي او به ډېره مشکله دهغو بد وعادتونو نه خلاصېده شي
زه چه به دشپې دمور سره اوده وم نو په شپه کښې به چه را ویښ ن

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبه مي وڅړل او چه نه به چپ کېدم نو مور به راته ويل چه هغه دی (بڼ) راغی هغه دی (پېرى) راغی نو دا زما په ذهن کښې تر اوسه پورې د (بڼ) او (پېرى) داوېره پرته ده حالانکه چه زه په دې خبره پوه يم چه نه (بڼ) شته او نه بلا شته. زمونږ يوه لوبه کوټه وه، مونږ ټول به په هغې کښې څملاستو زه سپاييسته لوی وم خو يوازې څملاستی نه شوم د مور سره به څملاستم خکه چه زه به يوازې وم نو په ماخپسه راتله زه چه بيا بناره ته د سبق له پاره لاړم نو چه بابا به مې ښاره ته راغی په ما به اختر و خکه بيا د هغه سره څملاستم.

د قصو ډېر شوقمن وم او داسې ذهن مې و چه هر قسم اوږده او لنډه قصه به مې د چا نه واورېده بيا به هغه زما زده وه. ما ته اوس هم د ما شوم توب قصې ياد دي.

زمونږ په کوټه کښې يوه دوکانچه (څوتره) وه د دې دوکانچې په منځ کښې به نغرې وو په هغه به هم نغلی کېده او هم به يې کوټه تودوله د دې نغرې يوې خواته به پوزکي غوړېدلي وو ليمڅي به پرې د پاڅه پراته وو. يوې خواته به زنانه ناستې وې او بلې خواته به نارينه کښېناستل. چه د ډوډۍ وخت به شو نو زنانو به مونږ ته ډوډۍ راچوله او چه مونږ به خوړله نو بيا به هغوی خوړه. په هغه وخت کښې نارينه و د زنانه و سره ډوډۍ نه خوړه او دا ورته معيوب کار ښکارېده او ښځو هم د نارينه و سره ډوډۍ نه خوړه په ژمي کښې به مونږ اکثر غنمې وريجې خوړلې. هغه زمانه کښې چايې نه وې سحر وختي به چه پاڅېدو نو وريجې به تيارې وې هغه به مو خوړې. دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورېجو سره به موسو چه غوړی، اچار، شربت او کله قورت خوړل .. په اوړي
کښې به چه سهار پاڅېدو نو اکثر به مو په منتو شکره واچوله. د جوارو
سره ډوډۍ به مو په مستو کښې ماته کړه و به مو خوړه. او چه کله به سبق ته
تلم نو مور به راله د غنمو په ډوډۍ کوچ او شکره پوړې کړل او هغه به مو بيا
خوړل، ليکن دا خوراک د عامو پښتنو نه و دا د هغو خلکو و چه خانان وو.
غريبانانو به سره ډوډۍ او شلومبې خوړلې.

زما د مور سره د مېښو ساتلو ډېر شوق و اکثر به يې پخپله د هغې خسمانه کوله او اکثر به يې
ورته پخپل لاس واښه اچول او بوتاوه به يې ورله جوړوله. د ما سپښين به يې ماته پيروۍ او شود
راکول. ښځې به پيروي باندې ډېرې مينې وې چاله يې نه ورکوي او پرې خپه کېږي، ولې چه به
به کوچو کښې نقصان راځي خوړه ورته نه راځين وم او ماله به يې راکول او زما د مور چه به هر شې په خوله خو
وګنېد نو ماله به يې راکاوه او که زه به نه وم راله به يې ساته. چه کله به مې د پلار سره ډوډۍ خوړله او چرګ به
پوخ کړی و نو هر چاله به يې هلوکی ورکاوه خو بابا به مې ماله خپله برخه هم راکړه.

زمونږ د دې کوټې سره زمونږ يو بنګلې منډوهم واوه ورسره يوه ډېوټۍ چه په هغې کښې د ښتو ښتک هم
زمونږ په دې کوټه کښې لوی لوی کندوان هم وو چه په يو کښې به جوار او په بل کښې به غنم وو په هلې کوټه کښې به خومان
چه په يو کښې وريجې په بل کښې مې او په بل کښې شکره او ګوړه، او دا، مرچکې به پرته وو او همدای خومانوسته به د غوړو تيان
چه د روژې مياشت به راغله نو زمونږ د ډېره مال الهی وه او ډېرپه به وو مور به مې اکثر پيشمې کښې کاليز اشيين برنج
هغه به ډېر خوندناک واو د پيشمې به يې يو غټه پيړۍ نيولې هغه پيړۍ زما ډېر خوښ وه او ډېر مزه دار به وه نو زه خ
وم روژې په ماته او ډېل ي خوددې پيړۍ د خاطره به مې هره شپه ويل چه ما به پيشمې ته پاڅوۍ زه به پيشمې
نه پاڅېدم مور به مې ويل چه مونږ تا کښېنوو او ته نه راوېښېږې بيرته خملې او ويده شې. زه به يې په
پاڅولم او چه کله به يې پانه څولم نو چه سحر به راوېښ شوم نو ډېره لويه ژړا او انګولا به مې جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سکول ته تګ او هغه وخت

ابتدائي تعلیم ، د پېښور سکول - د کلي ماحول ، مشن های سکول

زما استاد و کرم صیب ، اختر ونه او میلې ، د ا ما ما نو میاشت

کلي کلویغی ، سخات خیرات ، یوه

لطیفه ، واده بنـا دی

دیوې پېغلې

قصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابتدائي تعليم :

دخوش قسمتۍ نه زما پلار سړه ددې چه متقي مسلمان وخو ډېر روښنفکره سړی و هغه دملا یانو دېر اپېګنډې هیڅ پروا ونه کړه او مونږ دواړه وروڼه یې په سکول کښې داخل کړو . پلار مې زه او محبت خان چه زما دکشر تره زوی و او زما همزولی و او پلار یې مړ شوی و دکلي په جماعت کښې داسماعیل استاذ سره سبق ته کښېنولو . زما دسبق په ناسته زما مور، او پلار دېر خوشحاله شول او ډېری شیریني یې وویشلې . داسماعیل استاذ نه مې قرآن ختم کړو ، مور او پلار مې ډېره خوشحالي وکړه شیریني یې وویشله او استاذ له یې ډېره شکرانه ورکړه خوزه به قرآن پوه نه شوم زمونږ کلي کښې یو پرائمري سکول و خو زما مشر ورور خان صاحب دغه وخت کښې دپېښور په سکول کښې سبق ویلو . زه هغه دسبق دپاره پېښور ته بوتلم او په هغه سکول کښې یې زه هم داخل کړم ح ده یکښې سبق ویلو ولې چه په دغه وخت کښې دکلو حالت ډېر خراب و . پرې جنبې ، دښمنې او ترېګنې وې ، جنګونه او قتلونه وو ددې وغو دعوې او مقدمې وې .

## دپېښور سکول :

دغو ړڅو کښې پېرنګیانو د (جرګه سیستم) په نامه دپښتنو په کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو کښې لاس وهلو د پاره يو مخصوص نظام جاري کړي وچه د پښتنو
د ښوا ابتي قامي جرګو سره سمون نه خوري . اکثر به بې ګناه خلق قيد شو او ګنهګار
به خلاص شو او ناربنه خو پرېږده چه زمونږ ښځې لې هم تحېرونه راوښکلې
په ملک کښې ډېر کړېږي و او دا ټول دې جرګې سيستم د نظام پيدا
کړي و . انصاف نه و . يو شريف سړي د پاره دلته ژوند ډېر ګران و
که زه په داسې ماحول کښې کلي کښې پاتې شوې وای نو د مالکي په کان
کښې به زه هم مالګه شوی وای . ماته په دې تلو کښې که يو طرف ته فايده
ورسيده نو بل خوا مې تعليمي تاوان وکړلو . د پرايمري پورې تعليم مې
په دې سکول کښې وکړو ماته د پېښور د سکول نه د خپل کلي سکول ښه
ولګه چه د تعليم ذريعه خو به دواړو کښې اردو وه خو به اتمانزو کښې به
د سکول استاذ پښتون و مونږ ته به يې په پښتو باندې پوهولې شواو
په پېښور کښې د سکول استاذ د پنجاب و . هغه له پښتونه ورتله او يو
شپږ کلن او وه کلن ماشوم ته دا ډېره ګرانه شي چه په يو وخت هم پردۍ ژبه
زده کړي او هم په هغه ژبه کښې علم زده کړي . بله دا وه چه په پېښور کښې زه د
ډاکټر صاحب سره وم او د ډاکټر صاحب پخپله هم د لوبو سره شوق و او زه به
يې هم د لوبو نه منع کولم او د ماشومانو خو تعليم او سبق ته دومره نه ګلېږي د لوبو سره
شوق لري . زما هم سبق ته ډېره دومره نه لګېده او د لوبو سره مې شوق و په سکول
کښې به د فټبال او کرکټ لوبې کېدې ډاکټر صاحب د کرکټ د ټيم کپتان و .
زه به لوبو کښې د نورو نه وړاندې وم ، زما به ورزش کښې د لامبو سره هم ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوق و. په کلي کښې چه به وم مور به مې په خوږکي سا تلم چه سین له لاړ نه شم
هسې نه چه سیند مې یوسي ما به مې د مور سترګې خالي چه موقع به مې بیا
موندله نو په منډه به سیند ته لاړم. د مور اندېښنه مې بې ځایه نه ووه. زه
دوه کرته سیند وړی وم او دواړه کرته به د سیند په غاړه خوږ ولاړ و زه به
بې وکښلم. زه چه په میونسپل بورډ سکول کښې وم زما په ملګرو کښې د هغو
خلقو بچو سره تعلق پیدا شو او لوبې به مې ورسره کولې چا چه به د ملګرسې صفا
کوله او خلکو به ورته بنګیان او چوړیان وئیل او خلکو به زه د دوی سره د لوبو نه منع
کولم خو زه نه منع کېدم نو په دې وجه به یې ماته هم بنه نه کتل خو ما د دې پروا
نه کوله. د ډاکټر صاحب د خلکو سره راشه درشه هم ډېره وه ماته به یې توجه نه ور
چه امتحان ته به میاشت دوه پاتې شوې نو هله به ډاکټر صاحب په خپله هم
کوشش شروع کړو او په ما به یې هم زور ولګولو. د دغې میاشتې دوو
کوشش خو به زه په امتحان کښې پاس شوم خو کمزوری به وم ..

د ډاکټر صاحب ناسته ولاړه په دې وخت کښې د دوه سره د غلا
سرور خان، د تهکال ارباب جمعه خان، د چارسدې پردل خان او د قا
خیلو میا محمد نعمان سره وه. دوی په ما ډېر مهرباني او شفقت لرلو او
د دوی ډېر قدر او عزت کولو. د غه شان د ښار شیخ صاحب او حافظ ج
زرګر او بشیر زرګر سره یې هم ښه تعلقات وو. ثمین جان خان، زما د سکو
ملګری و خو دی زما نه یو جماعت مخکښې و او د دغه وخت نه زما او د ده په
ملګری شوې ده. دی د غلام سرور خان په سرپرستۍ کښې و. زما او د

تعلق مینه او محبت دوړوکوالي نه ترمړګه پورې و . زما ورور خانصاحب چه کله لسم جماعت پاس کړو کلي ته راغی او زه یې د خان سره کلي ته راوستم او د چوټي رخصتۍ ، په ورځو کښې یې د کلي په مدرسه کښې داخل کړم سحر به مدرسې له تلم او ماز یګر به کورته راتلم .

## د کلي ماحول :

یوه ورځ د مدرسې نه راوتلم کورم چه یو لوی جلوس را روان دی یو سړی مخکښې دی او خانان او ملکان ورپسې دي . د خواوشا عوام هم ورپسې دي . د جلوس له مینځه زما یو تربور چه هغه زمونږ ملک و ما ته اشاره کوي او لاس په تندي ږدي خو زه یې په مطلب پوه نه شوم او د جلوس په تماشایم چه جلوس تیر شو او کورته راغللم څه نسبه وروسته زما هغه تربور مونږ کره راغی نو ما ته یې ډیرې خبرې وکړې چه سړه د تعلیمه ته دومره نالایقه یې چه ما درته اشاره کوله چه صاحب ته سلام وکړه تا زما په اشاره هم سلام ونه کړ . ما ورته وویل چه دا څوک و نو ده راته وویل چه دا تانه دار صاحب و . ما ورته وویل چه ما څه پیژانده . ده راته وویل چه اوس خو دې وپیژانده آینده پام کوه . په دغه وخت کښې د پېرنګیانو د حکومت ډیر زیات رعب او دبدبه وه او خلکو به تانه دار هم د ملک لوی حاکم ګڼانه . یوه ورځ زملک صاحب راغی زه په کلي کښې وم ماته یې وویل چه اسسټنټ کمشنر سره زه ستاسې موقع لپاره ځم ته هم راسره لاړ شه . زه هم ورسره لاړم . مونږ دواړه په اسونو سواره شو و چه د چیا رسدي تحصیل ته ورغلو اسسټنټ کمشنر هم راغی په اس سوررو . په هغه موقع مو ولیده چه بیرته راغلو او دیوبل نه رخصت شو و نو ما په اس سور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسسټنټ کمشنر ته دیوه بل نه درخصتېد و په وخت لاس ورکړ او چه مونږ
راروان شو دی ماته ډېر په غصه شو او ماته یې وویل چه تا اله په کالرو چه
اس نه کوز شوی وای او هغه له دې لاس ورکړی وای .

زمونږ د ترناومسرۍ خواکښې د زراعتي تجرباتي فارم مشر یو انګریز د مسټ
براون یې نوم و . د غه وخت کښې زه د تعلیم نه خلاص شوی وم او ماسرۍ د زراع
ډېر شوق و زه به هم کله ناکله فارم ته تللم او دی زما ډېر دوست شو . یوه شپ
زما میلمه شو چه ډوډۍ مو وخوړه د کپ شپ نه پس دی د رخصتېدو نا
و ماو رسرۍ سرې کول چه ولې رسوي، ځایي د اتمانزو د نهر بنګله تقریباً زم
د ځایه یو میل لیری وه نو ده ماته وویل چه ماته د سې وحاجت نشته بس
سړی دې ماسرۍ لاتهین واخلي چه خلک زما تولیه ووینی نو ماته بیا څوک
ویلي نه شي .

زمونږ په کلي کښې یوه کونډه ښځه وه یو زوی یې و هغه پولیس نیولی و د
لوی کپتان کلي ته راغلی وو خلک ورته ورتلل داکونډه هم خبره شوه د خلکو
هم ورغله هغه وخت چه به پېرنګی کوم ځای ته تللو د لیری لیری ځایو نو خلک
چه خبرېدل لېد و ته به یې راغونډېدل . دې کونډې ورته د خپل زوی
کښې عرض کړی دی هغه تانه دار راغوښتی دی پوښتنه یې ترې کړې د
ته یې ویلي دي چه زوی به دې خلاص شي بوډۍ ورته په دعا لاس پورې
دی چه خدای دې تانه دار کړه . نو هغه وخت تانه دار خلکو ته ډېر لوی ا
ښکارېده . کپتان سوټ اچولی و بوډۍ چه کتلی شا ده یې په اوو ښه نښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهوره داده چه عجب خان



ي ويلي دي زه به ته خوشاله هم نه لري ماكره ډېره ښه خامتا پرته ده كه دي خوښه وي
يو شا دربه درله راوړم . د پوليس اختيارات هم زيات وو كه به يي وهل او كه به يي تړل
او كه به يي پر انسل چاتوي پوښتنه نه كوله گناهكار به يي پرېښود او بې گناه به يي راايسار
كړ چاورته دومره نه شو ويلي چه په مخ دي خوستركي دي د تانه دار په دوستي او اشنائي
به لويو لويو خانانو او ملكانو فخر كاوه او د تانه دار په دوستي به يي غريب خلك
خوړول او خوړل . د سودم يو لوى مخور يز خان و عجب خان نوميده د تانه دار سره
به خه شى خبره اړولې وه تانه دار په ناروا مقدمه كښې ښكېل كړ او په انسى شو .
ډېر تكيانو د ظلم او زياتي په مقابله كښې به كله نا كله د غيرتيانو غيرت په
جوش راغى او پرې ورو به يي دانكل . زمونږ د كلي يو خان و عبد الحميد خان
نوميده د هغه مشر ورور عمر خان د پوليس سره راز باز لرو او د خپل كشر ورور
د سيكولو پيسي يي تانه دار راوستي و . خداى دي پښتون ته د بدى وس نه وركړي
چه وس وموني لكه د لوم د بچو خپله مور خوري . د عبد الحميد خان هسې هم
تانه دار سره چه رام داس نوميده او د پنجاب هند وو او ډېر ظالم او بد ي
ورسره ي او نه لگېده او نه يي پخپله د پوليس سره ناسته ولاړه خوښېده د عبد الحميد
خان او د ورور يي حجره شريكه وه . عبد الحميد خان دوى او ده دي چه ورور
تانه دار پرې وروخېژاوه ، تانه دار دروازه ورتكولي ده عبد الحميد خان د خوبه
پښ شوى دى غوږ يي كړى دى چه خوك يي تانه دار ورته ويلي دي چه رام داس
مغه ورته وو ديړ ا ښستي دى تانه دار دو ورننوتو سره پرې چغه وښكلي ده چه ونه خوځېږي
ورته مېړه پورته كړى دى چه تانه دار صاحب مونږ معاف كړه . دومره خبره

د پښتنو خاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تانه دار خپله بې عزتي ګڼلې ده او پر غرمبېدلی دی دخان خوښي هم ور
زره ډک ومتو یک یې ورته راارولی دی او ویشتلي یې دي دده او د پولیس
دزې شوې، دی هم ولګېده، رام داس مړ نه وزخمي و خوخپله سا ه یې بنده ک
وه. هسې نه چه خلک ووایي چه ژوندی دی مړ یې کړی. رښتیا خبره دا د
ظالمان بها دران نه وي ډېر بزدله او بیمانه وي. بهادر سړی هیڅ چیرې په چ
نه کوي. دشپې رپوټ وشو مجسټریټ راغی، سهار مونږ خبر شو د پېښې
ته ورغلو ډېر خلک هلته راجمع شوي وو ځکه چه د تانه دار سره مقابله لویه خبر
هر څوک راتلل چه خپلو سترګو حالات ووینې خان قید شو خود تانه دار انو
هم عقل راغی. دغسې نور واقعات هم کېدل د تنګی اجون خان چه تحصی
ورته سپکې سپورې کړې وې تحصیلدار یې تښتولی و. دغه مقابلې انفراد
که څه هم دغه مقابلو قوم ژوندی ساتلی دی خو په دې طریقه کامیابي حاصلېد
دکامیابۍ دپاره اجتماعي تحریک او قربانۍ په کاروي نو دچا په زړه کښې چه دا قس
او احساس پیدا کېږي هغوی له په کار دی چه په قام ډکوځي او ځان سره دد
د احساس خاوندان ملګري پیدا کړي او په ګډه د ظلم، زیاتي او بې عزتی مخ
چه په قام کښې داسې ډله پیدا شي او قوم تنظیم کړي نو کامیابي حاصلېد
هغه قام بیا څوک غلام ساتلی نه شي. د انفرادي او اجتماعي حرکت یو فرق دا
حکومتونه انفرادي حرکتونه خاموش کولی او ختمولی شي. هم دا وجه ده چه
کښې وېره او ترس هم ډېروي او حکومت اجتماعي حرکتونه وژلی نه شي
پکښې نه وي. ډېر انفرادي حرکتونه چه ډېر وغښتلو پښتنو یې رهبري کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګریزانو او پاکستان خاموش او ختم کړل مګر خدائي خدمتګار تحریک چه اجتماعي تحریک و نه ئې رنګیانو ظلمونو، وژلو، وهلو، ټکولو، قید ولو، بې آبه کولو، فریبونو، دسیسو ختم کړاو نه دپاکستان د دوه دېرش کالو ظلمونو، شړولو، وژلو، جایداد ضبطولو، قید ولو، پېرمتهو اولا لچونو ختم کړ. په پښتنو کښې د پرلوی لوی پاچاهان او مشران پیدا شوي دي او تېر شوي خو هیڅ په پښتنو کښې اجتماعي ژوند او د اجتماعي ژوند فکر نه دی پیدا کړی اولنی تحریک دخدائي خدمتګار تحریک دی چه اجتماعي ژوند او فکر ئې پکښې پیدا کړو.

## مشن سکول:

ماچه دپنځم جماعت امتحان ورکړو او شپږم ته پاس شوم خانصاحب اسلم نه یوولسم ته پاس شو. زمونږ په ټوله صوبه کښې کالج نه و په دغه کال په مشن سکول کښې یوولسم پرانستل شوی و نو زما ورور خانصاحب په مشن سکول کښې په یوولسم کښې داخل شو او زه ئې هم د مشن سکول په شپږم کښې داخل کړم ترکومې پورې چه مونږ په پورډ سکول کښې وو په ښار کښې اوسېدو او چه په مشن سکول کښې داخل شو نو د مشن سکول په بورډنګ کښې چه په چونئ کښې واوسیدو ئې ځای هوا صافه او پاکه وه د صحت دپاره ښه وه، دفټبال، کرکټ او ټینس دانونه ئې الول ده بورډنګونه ئې لرل یو د مسلمانانو او بل دهندوانو و خو مونږ ته د بورډنګونو نه بل ځان ته ځای راکړو. زما تره خوی او زما هم خولې محابت خان هم په کلي کښې پنځم جماعت پاس کړې و او د سبق دپاره دلته راغلی و او مونږ سره ځای و. په بورډنګ کښې د پرهلکان و پښتانه وو او د صوابه د تحصیل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک لوی څوک واړه خو ډېر شریف هلکان وو زمونږ او د دوی د درونو پېښه شان کوز
وه . زمونږ بورډنګ په چوڼی کښی او سکول موږ په ښار کښی ؤ . د دې سکول اسبق نس
د بورډنګ سکول نه ښه ؤ . د ښوونې طریقې یې هم ښه وه استاذان یې هم ښه و
د هلکانو سره یې ډېر کوښښ کاوه .

## زما استاذ :

زمونږ بورډنګ ته مخامخ د پرنسپل چه مستر هور نومېده بنګله وه
هغې کښی زمونږ هیډ ماستر وکرم صاحب او د هغه ورور ډاکټر وکرم صاحب
په مشن هسپتال کښی وو اوسېدل . دا دواړه ورونه د انګلستان د یو لوی س
زامن وو . دواړه یې مشن ته بخښلی وو په کومه مینه او اخلاص چه دې دوا
ورونو د خلکو خدمت کاوه زه یې بیان نه شم کولی . زه هغه وخت وړوکی وم
نه څه په دې خبر و پوهېدم . مستر وکرم به چه کومه تنخواه اخیستله د هغې
یې زمونږ بې وزلو پښتنو هلکانو ته وظیفې ورکولې . یوه ورځ زما پښه ګوزک ش
ډاکټر وکرم خبر شو ، راغی زه یې خپلی بنګلی ته بوتللم او به یې ګومی کړې زما
وو ښخله او بیا یې زما په پښه پټی وتړله . ربښتیا خبره خو دا ده چه زمونږ
په قول د «خیر النّاس من ینفع الناس» باندې دوی عمل کړی دی . وا
چه ناس یعنی د خدای مخلوق خو پرېږده د خپل قام . ورور او عزیز خدم
تیار نه یو . خدمت خو لا پرېږده په اوږ کښی وانه ولاړ دي او خلکه خو
خوار او ذلیل کړي یو . ما کښی چه د انسانیت ، قوم پرستی ، ورور
ولۍ او وطن دوستی او د خدای د مخلوق د خدمت کوم جذبه پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په هغې کښې زما ددې استاذو کړم ډېر لاس دی. ما به دا فکر کوو چه ډېری دکوم ځای نه راغلي دي زمونږ دقام نه دی زمونږ په مذهب نه دی دلته راغلی دی او زمونږ دبچو خدمت کوي او غریبانو ته دخپلې کیلې بوخه ورکوی او زمونږ خپل وطن دی، زمونږ دخپل بچي دی، زمونږ دخپل قوم دی او مونږ دهغوی دپاره هیڅ نه کوو بیا به می دی خپل قوم او ملک طرفته خیال لاړ نو ما به لاړي ته ډېر فکر کوه چه زمونږ خانان، نوابان، ملایان او تعلیم یافته خلک سره ددې چه مونږ یو قوم، یو وطن او یو مذهب یو خو دا جذبه راکښې نشته چه ددې خپل غریب قوم دبچو سره امداد وکړو په مشن سکول کښې نیمه گنټه دانجیل ددرس دپاره وه «روال دی کړیو» نومی یو پرنګی و هغه به راته دانجیل درس وایه او وعظ به یې هم راته کاوه. زه وړوکی وم په دې خبرو دومره نه پوهېدم خو ټمین جانخان زمانه یو جماعت مخکښې و هغه پرې پوهېده ماته به یې ویل چه زه د «روال دي کړیو» وعظ ته غوږ نه نیسم په غوږ وکښې ګوتې ږدم ځکه چه بیا ما تأثیر کوی هسې نه چه بل څه چل را باندې وشي.

## کلیوالی لوبې:

زه دوړوکوالی نه کفایت شعاره وم او دخپل خرڅ دپیسو نه به می بچت کاوه همدا یې ده چه ما په خپل ټول عمر کښې دچا نه قرض نه دی غوښتی او نه چا ته محتاج شوی یم. خلکو زما نه قرضونه اخیستي دي چه ډېر ورانه خوړلي دي او زما دوړود خانصاحب منت بږ ارت و. دګرمۍ په چوټیانو کښې به استاذانو ډېر کار راکاوه خو چه زمونږ به کلی ته پښې ورسیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به مونږ وو اولوبې به وي. زمونږ به هم درس ته ددې نه لګېدلو او
او نه هم راته چانه ویل. دلوبو سره دخلکو شوق هم ډېرو قسما قسم لوبې اوسا
تېرې وې حجرې به دخلکو نه ډکې وې په حجرو کښې به تتې کېدلې پټ
کونجکه به دشپې په حجرو کښې کېده. لوندان به دشپې په حجرو کښ
خلاستل او دواده خاوندان په کورو کښې ویده کېدل، په حجرو کښې به تر ناو
ځوانان په لوبو او ګپ شپ لګیا وو دومره کاروته او مصروفیت نه و. ژوند د
پیچیده نه و، خودغرضي نه وه، صفا، سوتره ژوند و. په اخترونو کښې به لو
خوشحالی وه، خلکو به دیوبل کره دخوراک څیزونه لیږل. د زانګلو د یار
دبرګو لوی لوی تالونه او بارې چغونه وو. ښځو به په کورونو کښې تالونه اچولی و
یا به یې بانې چغونه ایښې وو چه دکورونو کانې به خلاصې شوې ایښلې او
به شروع شوې ځای په ځای به کېدې کېده ځوانانو به یکښې زوروونه ازمې
زمونږ په کلي کښې کال په کال زور وره کبې کېده او دلیرې لیرې علاقو ځوا
به یکښې برخه اخیستله او ډېر زور او پهلوانی به یې ښودله. په زړو کونو تماش
به ورته راتلل، زمونږ دکلي خانان به دوه ډلې شو یو داسې سړی به یې
کرچه دچا پره به یې نه کوله کېر چا پېر به خلک نا نست وو او په منیځ کښې
دکبډې میدان و دیوې پرې نه به یو ځوان راپورته شو په میدان کښې
دبلې پرې نه به چه چا ځان کښې دهغه دمقابلې طاقت لیده ورته به راپو
کشتي به دمنصف په اجازه شروع شوه دکومې پرې پهلوان چه به
شو دهغې پرې زلمیان به راغلل ډېل پهلوان به یې په اوږو کې په میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي وګلو ځاڼه اوخپل ځای ته به يي ورساوه او خانانو به ورله انعام ورکړاوددې پرې خلکو به په هغه بله پره باندې « الا الا » چغې وويستې په دې سلسله کښې يوه واقعه زما ياده شي، چه داسې يوی کېږی له يو زلمي د اتمانزو را پاڅېدو هغه پيسې دمقابلې دپاره د دواوی يو زلمي راپورته شو. لکه چه دهغه وخت قاعده وه هر يو کېږه مار به خپل خپل پير يا زيارت را يادوه ، دوی چه خپل خپل باباګانو ته مخ واړه وواوسلامونه يي اوکړل . نومنځه ګړی دواړه وال کېږه مارته وويل چه ستا باباچه په دې سپينډو راپوری ووځي . نواتمانزو وال به دړله کارخلاص کړی وی ولې چه دهغه باباګان دکېږی ډاګ ته نژدې وو. او وشوه همدغسې دوواړو وال را اوپړ زيد. کله به يو هم ونه پړزېده او دواړه به ستړی شو منصف به ورغی اوخلاص به يي کړل. کله نا کله به په لوبو کښې جنګ هم وشو .

نوری لوبې هم وې لکه انګۍ ، شرنګۍ ، لنډی ماری ، پټ پټانې ، بنګړيواتې ګيټکه ، پټه کونجکه ، چينډرو اونور . په حجرو کښې تاشونه هم کېدل دغوزانو لوبې هم کېدې . ما سره ددې ټولو لوبو شوق واوکولې مې او نورو نه به مې ګټلې . دکوم شي سره چه به مې شوق و په هغې کښې به ما هروم نوځکه په لوبو کښې ما هروم اوچه دسبق سره مې شوق نه و په هغې کښې مې خوند نه و او په سبق کښې مې چه دحساب جومټری اوتاريخ سره شوق و په هغې کښې تکړه وم او دنورو مضمونو سره مې شوق نه و په هغو کښې کمزوری وم او د نه شوق وجه همدا وه چه ددی مضمونو ابتدايي زده کړه ما په ښار کښې دپنجابي استاذ نه په پردی ژبه کښې کړې وه . ښه مې نه وه زده کړې ځکه به مې ورته د ده هم نه لګېده په حجرو کښې به پوچ لوبه هم کېده او دلوبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کټلو په شرط هم لګېده کومه دله چه په پره شوه هغې به چای، دودی ، میوه یا
ګنې چه په خرشی به شرط اېښودل شوی و راوړل . اکثر به شرط په چایو ترل کېده
لکه چه چای نوی څیزو د خلکو به خوښېده . بابا به می د چایو یوه عجیبه قصه راته
کوله چه ملا ستی ته یو افسر راغلی و شاه بازخان (زمونږ دکلی لوی خان و) چای
راوړه یوه پیاله یې ماته هم راکړه هغه وخت شنې چای رواج وې ، په بلغمی پیالیو کښې
به څکل کېدې . ما سره میرا فضل خان (زمونږ یو میرنی ترهٔ و ) ناست و ماځیله پیاله
هغه له ورکړه ورته می وویل چه تو ده ده هغه زما په خبره پوه نه شو په یوځل یې پ
سر واړوه تو له خوله یې وسوزېده ولی چه هغه وخت چا چای نه پېژانده او رواج
دېر لږ و .

## اختر ونه او میلې :

په اخترونو کښې به لویې لویې میلې لګېدلې په زرګونو خلک به پکښې جمع کېدل
نېزه بازی به پکښې کېده ، اتڼونه به اچول کېده ، ډمان به ګډېدل ، ډجواری ډیر
به کېده او خلک به په زانګو ګانو کښې ځنګېدل ، سازیان به وو د سورلۍ د پاره
دلګو اسونه وو ، خوګ به په او ښانو سواره وو ځوګ به په اسونو ، خانان به زور
ګنلی شو د پر خلک به ورپسې وو . اکثرو خانانو به په دغه ورځ د خپل چم کاونډ خا
د خانه سره بیول ، په کبا پونو او قتلمو او میټایانو به یې مړول ، دا په خانانو د غ
یو قلنګ غوندې و ، کله نا کله به په میله کښې جنګ وشو او څېنې وخت به دانفراد
نه جنګ اجتماعی شکل اختیار کړ نو بیا به د ګنهګار او بې ګناه فرق نه کېده . یو ځل
وشو چه زه ورو کی وم او د نصرو میلې ته تلی وم په میله کښې زمونږ د کلی د خانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېرانګلو دخانانو جنګ وشو دجنګ نه پس هغوی خو دمېلې نه پښې سپکې کړې او ووتل، مونږ یې خبر نه کړو، په داسې موقع خلک تل خپل کلیوال خبروي او دمېلې نه یې وباسي. پړانګ کلي دمېلې ځای ته ډېر نږدې و او په یوه چغه مېلې ته راورسېدل درارسېدو سره یې په مونږ برید وکړ. زمونږ نوکرانو خو څه مقابله ورسره وکړه خو مونږ الوږ وو او هغوی لټول کلي وزه وړوکی وم په اسپه سور وم چه دا خلک مونږ ته رانږدې شو درځو وعبادت کاکا زر زر زه په غېږ کښې راواخیستم او داسپې نه یې راواچت کړم خو چه څنګه یې زه راواچت کړم دپړانګو یو سړي لوی ډانګ اسپې له راخلاص کړو او په زین ولګېد که دعبادت کاکا همت نه وی او زه یې نه وی راپورته کړي خدای زده که زه دهغې ګوزاره ژوندی پاتې شوی وی. په دې جنګ کښې ډېر کسان زخمیان شول او زمونږ په نوکرانو کښې خو روغ نه و پاتې. دامېله به دچارسدې تحصیل سره داختر په دریمه ورځ لګېده او دنصرو مېله به یې ورته ویله په دې مېله کښې به ډېره زوروره نېزه بازي کېدله. دلیري لیري ځایونو نه به شوقیان منبه ساتلي اسونه او نېزه بازان راتلل. لوبه به په ډېر جوش وخروش روانه شوه نېزه بازانو کښې یو تر بله دسیالۍ او رقابت مقابله وه او په تماشګیرو کښې هم جوش وخروش و. دداسې لوبو نه په خلکو کښېنې دمېړانې، شجاعت او ټینګار جذبات قوي کېدل.

دشوقدر (شعبان المعظم) میاشت چه به وخته خلکو به ډېرې خوشالۍ کولې خصوصاً هلکان چینکې به په کوڅو کښې اخوا دې خوا زغاستل خوشالۍ به یې کولې ددې میاشتې په ۱۵ به شوقدر و. دشوقدر په شپه به هم لوبې مېلې جوړېدې. وړه ښځو او جونو به په کورونو کښې توتکې، چوړچوړې، ماماڼې او پتاخې خلاصولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکانو او نارینه و به بهــر دوه ډلې جوړی کړې بفسونه اوښکروونه به یې ډک کړي
وو یو به بل ببیې خلاصول . کله به یې یوه ډله په مخه کړه او کله بله، کله به یې ښــتی او
او اوږدنلۍ اسمان ته ویشتی . کوم خلکو چه به ښکرونه خلاصول هغوی به د
څرمنو جامې اغوستی وی چه اودېږی تأثیر دېر نه کاوه . خندا به وه خوشالی به وه
مستی به وه او ځینو مذهبی خلکو به په دې شپه داکارونه نه کول په عبادت
یې شپه روڼوله اونورو ته به یې هم داویل چه په دی شپه عبادت ډېر ثواب لري
خو چا به ورته ډېر غوږ نه ایښوده . دا د پښتنو د قوت نښې نښانی وې چه خو مره
پرنګی دغلامی په وړی مضبوطېده هماغومره د پښتنو جذبې مړاوی کېدلې .

## د امامانو میاشت :

لکه څنګه چه مونږ دخوشالی اخترونه لول دغسی مونږ دغم او خپګان
ورځې شپې هم لرلې دامامانو میاشت یعنی محرم دمسلمانانو یوشمیر یک یا دکا
دی زمونږ مسلمانانو ته په دی کښې پولوی درس او سبق پروت دی . د اســلا
پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کښی دجمهوریت یوه روښانه ډیوه بله کړې
زه دا منم چه دغه جمهوریت یوازې دمدینی دښارو او دمسلمانانو و یعنــی
مسلمانانو مشر او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلفا او جانشینان به دصح
په رایه کیری منتخب کېدل .

په ټوله دنیا کښی تیاره وه مګر په مدینۀ منوره کښی د دموکراسۍ ډیوه بله
او دا ډیوه هم دحضرت عمر رضی الله عنه پورې بله وه او کله چه دهغه د مرګ
په مسلمانانو کښی دبیبی او اقتدار شوق پیدا شو دغه ډیوه مړه شوه اوتراوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مره ده . یورپ چه په تیاره کښې پروت و هلته هغوی بله کړه . هغوی پرې روښانه شو او مسلمانان چه هغه مره کړي ده تراوسه پورې بله نه کړې شوه اوس چه څومره د مسلمانانو ملکونه دي په هغې کښې دموکراسي (جمهوریت) نشته څه وخت چه اقتدار د بنی امیه خاندان ته په لاس ورغی معاویه راپاڅېد و د مسلمانانو هغه حالت یې هم ختم که . معاویه په خپل ژوند د اقتدار او پیسو په زور د خپل مرګ نه وروسته خپل زوی یزید ته د مسلمانانو نه بیعت واخیست چه د مسلمانانو امیر به وي . د اسلامي خلافت دموکراسي او قومي حکومت د تاسیس دپاره پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو ډېرې هلې ځلې جد و جهد کړی و ډېرې قربانۍ یې ورکړي وې . ډېر زحمتونه یې ګاللي وو او هغه بني امیه په دغسې چل ول له منځه یوړل نو ځکه که نور هر څوک چپ پاتې کېدی شو ، حضرت حسین چپ نه شو پاتې کېدی دا مونږ مسلمانانو ته د ظالم او مستبد حکمران د مقابلې درس درا کوي .

محرم ته پښتانه د امامانو میاشت وایي ، دا میاشت د غم او خپګان میاشت ده خصوصاً په اولسو ورځو کښې به چا بنا دی ، خوشالي ، خندا ، ټوکه ټکاله نه کوله . د حسینو په اروا او د خدای په نامه به خلکو شربتونه ویشل ، لوی لوی خیراتونه به یې کول ، ښځو به په کورونو کښې او نارینه وو به په حجرو کښې جنګنامې لوستې او خلکو به ورته ژړل او ښکې تویولې به یې د ډېر ثواب کڼل ، د شپې به ښځو په کورونو کښې ویر کاوه هلکانو او جینکو به په دې لسو ورځو کښې خیراتي داني غونډولې او په لسمه ورځ به یې د جمع شوې غلې نه خیرات کاوه . په لسمه ورځ به نر او ښځې هدیرو ته تللې په قبرونو به یې د امام حسین د تندي د یاد دلو په نسبت اوبه اچولې ، ما ښام به هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل حیثیت سره سم خیرات کاوه او دي ته به يې دحسنینو خیرات والیه او دشپي
په ویرونو کښې به يې داستاینې کولې دحسنه څوک به دي ژاړي وای، والی حسن
درزالی !» او بیا به يې سینې وهلې اوژړا انګولا به يې کوله.

مونږ پښتانه دحسین دېر قدر او عزت کوو او په مونږ دېر ګران دي ځکه
چه دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسي وو او په هغه دېر ګران وو نو ځکه به
مونږ هم دېر ګران دی بلکه داچه امام حسین هم دحق او جمهوریت دپاره راپا څېد
و او مونږ هم دخپل حق او جمهوریت دپاره راپاڅېدلی یو هغه هم مظلوم و مونږ هم
مظلومان یو، هغه هم دظلم سره دمقابلې دپاره را او چت شوی و او مونږ هم د ظلم
سره دمقابلې دپاره راپورته شوي یو. هغه هم مسلمانانو ته دجمهوریت حق ګڼلو او
مونږ هم مسلمانانو ته جمهوریت ګټو هغه هم دامن دپاره کار کاوه او مونږ هم
امن دپاره کار کوو.

## کلی کلوبغی:

دمونږ روغ رنځور، دمونږ غم ښادی او دمونږ مړی ژوندی دېر له خاصه
دک او مینې محبت مظهر و خو په رسمونو او جونو کښې دوب. چه څوک
رنځور شو خپلو خپلوانو او دوستانو به يې پوښتنه کوله یوازې خپلوانو او دوس
نه بلکه دکلي او ولس عامو خلکو به يې تپوس کاوه او که به مریض سخت شونو
خو به ورته نژدې کسان شپه او ورځ ناست وو دصحت دپاره به يې ورته
دعاګانې کولې، خیراتونه به يې کول. دعلاج دپاره څه خاص انتظام نه و ده
مرض دپاره بېل بېل باباو او دهر بابا دزیارت بېله بېله طریقه وه الا چه دبابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقبرو ونوخاورې به خوړ ده کښلې شوه او دمرضونو دپاره علاج کښل کېده. دباباګانو
او زیارتونو نه علاوه دملا صاحب، پاچا صاحب او میا صاحب دم دعا او تعویذ
دعلاج طریقه وه. دیونانی طب حکیمان هم وو تجربه کارو، سپین سرو ښځو به
نظر ساتو. سپین ږیرو به دمقامی بوټو او داروګانو په ذریعه علاج کوو. ناپانو به
ددانو او زخمونو علاج او مرهم پټی کوله خو ډېره مخه زیارتونو او باباګانو ته وه. او چه
څوک به مړه شونو په هغه ورځ به دکندې خلک خپل کار ته نه تلل او که مړی به مخور یز
سړی ونو نو ټول کلی به خپل کار و بار پرېښود او دمړی دګور او کفن، دخدمت او غم
دپاره به دمړی ځای ته راغونډ شول نارینه به په حجره یا جومات کښې ناست وو
او ښځې به په کور کښې غونډې شوې مړی ته به چه څومره ښځې راتلې ټولې به ویر او
ژړا کښې شریکېدلې او نارینه وکښې به یوازې دمړي نژدې کسان او دوستانو ژړل
مړی به کټ کښې پروت وچه څه وخت به یې لمباوه نارینه به ورغلل او کټ به یې واخست
په دې وخت کښې به د ښځو د ژړا انګولا شور زوږ پورته شو په زوره زوره به یې ویر
کاوه سخوړنه به یې وهل او په ویر کښې به یې مړي ستاینه چه مړي به یې په تخته واچاوه
نو خپلوانو او دوستانو به یې په تخته روپۍ اچولې، دغه روپۍ به دملا وې. دلمبولو نه
وروسته به یې کفن ورکړو په کټ کښې به یې ایښې وخپلوانو او دوستانو ته به یې مخ
ښودو. بیا به جنازه اوچته شوه خلک به جنازې پسې روان وو او خلکو به دجنازې
کټ په څلورو کسو په اوږه کړی و او وار په وار به خلکو یو دبل نه جنازه اخیسته
او دمړه به یې ورکوله هدیرې ته به یې ورساوه په اوار میدان کښې به جنازه کښېښودل
شوه او اذان به وشو چه جنازه تیاره ده دچا چه به اودس و او جنازه به یې کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفونه به یې جوړ کړل د جنازې مونځ به وشو دعا به وشوه خلک به را اتلل او د مړي مخ به یې کتلو. ملایانو به د سخات د پاره دوره جوړه کړه کښېناستل به

## سخات خیرات:

سخات به د مړي د حیثیت په اندازه وکه به موړ شتمن خان او مخور دیز سړی و سخات به یې ډېر و او صیله به یې ډېر جوړه وه ملایان به ډېر و که غریب سړی و سخات به یې کم و ملایان به هم کم وو او که به سخات نه و ملایان به هم نه وو. کوره، صابون، پټکي، قرآن شریفونه او روپۍ به په منځ کښې کښېښودل شوې مشر ملا صاحب به اول د مړي د وارث نه د مړي د ګناهونو د کفارې د پاره د اخیزونه د صدقې او سخات په توګه ځان ته قبول کړل بیا به یې بوتل ته په همدې طریقه بخښل او یو به د بل نه قبلول. ملایانو به دغه ټول مال یو ځل ځانته قبول کړ او بیا به یې خواکي ملا صاحب ته ورېخښه چه دوره به وشوه نو بیا به یې د سخات په وېشلو شروع وکړه مانه به د سخات کړ ځولو مراسم شا ډوله ښکاریده پر دې مال یو بل ته بخښي خدای او قام ته دوکه ورکوي. زه دعربو په ټولو ملکونو کښې ګرځېدلی یم ما هلته حتی په مکه معظمه مدینه منوره، نجف او کربلا کښې هم چېرې دا د سخات او خیرات طریقه نه ده لیدلې حال دا چه هلته دا طریقه ده، چه مړی اوشي، خلک خبر شي، بیا جنازه جومات ته راوړي هلته یې جنازه اوشي د دعا نه پس وارثان خپل مړی د ښخولو د پاره مقبرې ته یوسي او نور مسلمانان خواره شي. دا اسلام خو مونږ ته د عربستان نه راغلی دی خبره داده چه دا قسم عادتونه په مونږ کښې خودغرضو خلکو پیدا کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام کښې دا خیزونه نشته بلکه دا چه دا دومره مال بل ته ځرنګې بخښي او چه
سړی نا دا ره او محتاج هم وي . بلکه دا چه سړی مرشی دهغه علنامه خوبند پشي
داخیرات او سخات په ځنګه دهغه په حسناتو کښې لیکل کیږي . یو سړي حضرت
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی عرض کوي چه یا رسول الله زما پلار مړ
دی اوله هغه نه دوه کوټي له کجورونه ډکې پاتی دي هغه ورپسي خیرات وم رسول
الله صلی الله علیه وسلم ورته وایي که ستا پلار په ځپل ژوندانه ددي کجورونه دوه
دانی دخدای په رضا ورکړي وی ددی دوه کوټو نه بي ثواب زیات و . دګناه او
ثواب په حقیقت دبې عمله علماو په وجه څوک پوه نه شول . دخلکو په مغزو کښې
ملایانو داکینولې ده چه ګوندی خدای هم ددنیا د پادشاهانو په شان دی چه
هغه ته دټکس او دمالي ضرورت دی . دوی په دې فکرنه کوي چه خدای بی نیاز
ی هیڅ شي او هیچا ته محتاج نه دی . که خیراتونه دي که ذکات دی که
صدقات دی ، که لمونځ دی ، که روژه ده ، که حج دی داټول زمونږ دښیګڼې
پاره دي که ښه کوي هم دځان دپ دي او که بد کوي هم دځان دي دي .
ښه کوي دنیا به دي هم اباده وي او په اخرت کښې به دي هم په کار شي او که
کوي په دنیا کښې به ذلیل ، حقیر او خوارلي او په اخرت کښې به درته عذاب
ي .

زما د ملایانو سره دپر تعلق و ما ډېر لي ډېر قلم او عزت کاوه او همیشه
ي ورسره په دغسې خبر و بحث او تبادل خیال کاوه او دا به مې ورته ویل چه
یراتونو او سخاتونو دا طریقه په اسلام کښې ښه نه ده . اسلام چه خیراتونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکاتونه واجب کړي اولازم کړي دي په هغی کښی لوی راز دی داچه زمونږ خوږ
رسول (ص) وائي چه «صدقه بلاء دکوی» دابلا تاسو پیژنئ داخو دغریب او امیر
ترمینځ نفرت نه بلا ولاړیږي نو چه ښتمن خلک د بېوزلو لوښتنه وکړي د هغوی
سره د مصیبت په وخت کښی مرسته وکړی نود غریبانو د خپلو امیرانو سره
مینه محبت پیدا شی او د بلا مخه ونیول شی او چه امیر د غریب هیڅ پوښتنه
نه کوی غریب په مصیبت کښی وي او امیر په عشرت کښی وي نو د غریب په
زړه کښی تیریږي چه وطن خوخد ای زمونږ ټولو ته شریک راکړی دی
ځنګه زه په مصیبت کښی ژوند تیروم او د ابل چه زما وروږ عزیز دی زما
شان سړی دی، دی ولی په عیش عشرت کښی دی دده په زړه کښی غو
پیدا شی او ورو ورو یې زړه امیرانو ته پرسیږی تر څو چه بلا ورته جوړه شی
کوری د رسول الله (ص) په وخت کښی به د هر چا نه مخکښی دقرض دا
کولو غم خوړل کیده. رسول (ص) ترهغه وخته پوری د مړي جنازه نه کوله
تر څو پوری به د مړي په ذمه قرض خلاص شوی نه و او که د مړي وارثان به نا
او غریبان وُ او د مړي قرض به یې نشوادا کولی نو بیا به رسول الله (ص) نورو مسلمانا
ووئیل چه چنده ټوله کړئ او دده دا قرض خلاص کړئ نو چه قرض به خلاص ش
هله به یې جنازه کوله، بیا به نور تکفین تجهیز کیده او نن بالکل ا ولی خبر
د کوم مړی د وارثانو د مخه نه کیږی نو هغوی لی لاجایدادګانه کوی لا په سود رقم
خو مړی پسی سخات ضرور کوی او یوازی خو د مړي خیرات او سخات نه
د پیرانو پیر صاحب یو ولسمه ده ، د کا کا صاحب شکرانه ده ، د سیدانو ، میا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او صاحبزاده ګانو نذرانې او شکرانې دي که دا ټول خیراتونه په قومي بنسیګرو لګیږي نن به مونږ هم د دنیا د ترقي یافته قومونو په قطار کښې ولاړ وی. د سخات او خیرات د پاره مونږ په سود او ګانه ( ګروی ) ، قرض اخلو چه زمونږ دا رسم پوره شي. زه یو کال د اوړي د ګرمو تېرولو د پاره کوه مري ته تللې وم هلته را باندې یو څو کسه ملایان چه زما دوستان وو راپیښ شول ما ژیکرمې د سیل صفا د پاره له ځانه سره راوا ایستل ګرځېدو ګرځېدو یوې بنګلې ته ورسېدو ما ملایانو ته مخ را واړوه چه دا بنګله څنګه بنګله ده ؟ دوی وې ډېره ښکلې ده ماوې دا ښنه چمنونه او د ګلونو باغچه یې څنګه ده ؟ دوی وویل چه ډېر ښایسته چمن او ښایسته ګلونه دی او ډېر مزه داره باغچه ده ماوې هغه ماشومان چه پکښې لوبې کوي دا څنګه دي دوی وویل ډېر ښیمخي او ګلالي ماشومان دي ماورته وویل هغه موټر چه دیور یې صفا کوي دا وینئ ویل یې هو ډېر ښه موټر دی ماوې هغه چه په کرسي ورته ناست دی جامو ته یې وګورئ څنګه دی دوی وې ډېرې ډولې جامې یې اغوستې دي ماوې دا سړی پېژنئ چه څوک دی ؟ دوی وویل چه څوک دی ؟ ماورته وویل چه دا د پرنګیانو ملا دی ، چه قوم یې په بنګله کښې اوسي ملا یې هم په بنګله کښې اوسي ، چه قوم یې په ګېډه موړ وی ملا یې هم په ګېډه موړ وي چه قوم یې په جامه پټ دی ملا یې هم په جامه پټ دی ، چه قوم یې په موټر کښې ګرځي ملا یې هم په موټر کښې ګرځي او زمونږ چه قوم د هستوګنې کوډله نشته تا سو هم جوماتو کښې اوسېږئ او چه په ګېډه ماړه نه یو تاسو هم دروازه په دروازه ګرځئ چه « وظیفه داورئ خدای مو وبخښه » .

چه سخات به وویشل شو بیا به نو ملایانو پرې مسئلې کولې زمونږ په کلي کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړی شوی ؤ یو ملا صاحب مسئلوته ودرېد او دا مسئله يې وکړه چه یو سړی دېر بدعمله او بدچلند ؤ، سود خور ؤ، جوارګر ؤ، خونی ؤ، زانی ؤ، غل ؤ، ډاکه مار ؤ، او هیڅ ښه کارېې په عمر کښې نه وکړی صرف دهرې جمعې په شپه به يې اووه ډوډۍ دخدای په نامه جوماتته لېږلې داسړی مړ شو زامنو ښخ کړ او پس ماندګانو يې ورپسې ډېر ویر وکړ او دا به يې وویل چه دده به په قبر کښې څه حال وي اخر یوه شپه خپل یو زوی ته په خوب کښې راغلی دی او ورته يې ویلي دي چه تاسو زما غم مه کوئ زه ډېر په ارام او مزو چړچو کښې یم زوی ترې پوښتنه کړې ده چه پلاره تهخو ډېر بدعمله وې پلار يې ورته وویل چه ټیک ده خو مونږ ته مو معلومه ده چه ما به دهرې جمعې په شپه اووه ډوډۍ خیرات ورکولې هغه ډوډۍ مې دلته په کار شوې څه وخت مو چه زه ښخ کړم او تاسو دانه لاړئ نکیر منکر راغلل او زما نه يې پوښتنې شروع کړې چه: «من ربک وما دینک» جواب نه شو ورکولی نوګورزونه يې راپسې را اوچت کړل چه را خلاصول يې را باندې چه په دې کښې دوه ډوډۍ راپیدا شوې او ورته مخې ته شوې او زه يې بچ کړم چه نکیر منکر لاړل زما د قبر په خلورو کونجونو کښې سوری وشول او دهر سوری نه د دوزخ لمبه رانوته نو څلور ډوډۍ راغلې او هره یوه یو یو سوري ته ډال شوا او دا مخه يې ونیوه او دا یوه زما خدمت کوی. بیا يې ووې چه په خیرات کښې ډېر ډېر ثوابونه دي او ما ددې مسئلې ثواب ددې مړي په اروا بخښلی دی. ماته دا عجیبه ښکاره شوه ماوې ددې خو دا مطلب شو چه هره بدعملي کوه، زور ظلم کوه خو اووه ډوډۍ خیرات ورکوه نو مزې کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سخاوت نه پس به بیا نور خیراتونه شروع شو هغه بنام به د مړي په اروا خیرات کیده تر جمعي پورې به بیا هره جمعه خیرات کیده تر څلويښت ورځو پورې. په څلوېښتمه ورځ به بیالوی خیرات وشو او بیا وروسته د کال خیرات دی. په دغه طریقه به زمونږ د قام په کال کښې په لکونو روپۍ خرڅیدې که دا په یو بیت المال کښې جمع کیدې او په قامي کارونو او غریبو لګیدې قام ته به یې څومره فایده رسیدله؟

## یوه لطیفه:

یوه ورځ زه په حجره کښې ناست وم چه زمونږ د امام صاحب زوی راغی ما ته یې ووې چه زه واده کوم ما سره څه امداد وکړه ماورته ووې زه همیشه وینم چه د مړي په سخاوت کښې ته ډیر مال مالک شې که تا ته ضرورت وی نو بل ته یې ولې بخښې هغه را ته په جواب کښې ووې چه دومره مال هیڅوک د زړه نه نه بخښی مونږ یې له ویرې یو بل ته بخښو او بله دا چه زمونږ یقین وی چه مونږ ته یې څوک نه راکوي. راکول خو بیرته ده وبه مووهی. ماورته ووې چه وهل یکښې نه وي او مال هم ستا کیدی شی نو بیا؟ ده راته ووېل نو بیا خو به یې زه هیچا ته ورنه کړم ماوې رښتیا وایې ته تیار یې هغه ووې چه بالکل رښتیا وایم او بالکل تیار یم نو ما ورته ووېل چه نن زما د تره لور مړه ده ډیر سخاوت یې دی ستا واده پرې ښه کیږي په دایره کښې کښېنه چه ستا وارشي او سخاوت دې خان ته قبول کړه بل ته یې مه بخښه ووایه چه زما ضرورت دی بل ته یې نه شم بخښلې. ده ووې دا خو به زه وکړم ما ته به یې څوک راکړي؟ د شموزو خان دي هسې نه چه بې عزته می کړي ماورته ووې چه زه به دې شا ته ولاړ یم څوک دې بې عزته کولی نه شي وې چه ستا امداد را سره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا خوزه دچا پروا نه کوم . زما او دده په همدی فیصله وشوه چه روانیده ماورته
ووې چه پام کوه داخبره دی چاته له خولې نه ونه وځي چه جنازه وشوه او سخات نه
ملا یان په دایره کښی کښیناتل ده دې خوا آخوا وکتل چه زه یې ولیدم الا په دایره
کښی کښیناست کله چه دسخات بخښنه اخیسته شروع شوه زه ورو وغوندک
راغلم دده په شا و دریدم چه څه وخت ده ته سخات وبخښل شو او ده واخیست
دده رنګ تک زیړ شو او ماته یې وروسته وکتل او وې ویل چه ماته ددې مال
ضرورت دی زه یې بل چاته نه بخښم . دملا یانو دهلې کولې څه اراده وه خوزه و
مخکښی شوم او دهغوی نه می تپوس وکړو چه ملا یانو صاحبانو شریعت په دې
باره کښی څه وایی ؟ دوی وویل چه شریعت ده ته حق ورکوی چه بل ته یې نه بخښې
او که یې خپله یې اخلی نوما هغه ته اشاره وکړه چه «دمولانا او چتوه یې» دګوړو دلوج
دپاسه نغدې روپې پرتې وې هغه می راواخیستې او ودمې کړې او ماوې دا ګوړ
هم اوچته کړه . ګوړه یې هم اوچته کړه ، قرآن شریفونه او پټکې پاتې شو ، هغه
ملا یانو تالاکړل . ملا یان هک پک پاتې شو وروسته یې بیا دمړی خاوند
ویل چه دمړي سره احسان ونه شو . هغه ملا چه بله ورځ ګوړه منلې لې ته وړې
چه خرڅه یې کړي دشمو زو خان صاحب وریسې ورغلی دی او ګوړه یې په زوره
بیرته اخیستې ده .

دشریعت په وړاندی خودا پردي مال و دوی ته یې اخیستنه جا
نه وه خو دوی په شریعت څه کار وو . زمونږ کلی کښی بوسړی و هغه به و
اسلام اسلام نشته هسې ګونګوسی دی چه دملا یانو دا عمل وی دمقتدیانو به څ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو موده خو ملایان د سخات د دایرې نه لاس وا خیست بیا یې پخپلو کښې جرګه کړې ده که مونږ دا کار پرېږدو دا د ومره موده مو دا کار کړی دی نو د عوامو توجه به زمونږ دانه وګرځي وایي به چه داملایان نه پوهېدل او عبد الغفار پوهېږي نو بیا یې د سخات طریقه دېخوا په شان شروع او په کوم ملا چه به یې لږ غوندې شک راغی په دایره کښې به یې نه پرېښوده .

په دې کښې د ملایانو ، غریبانو څه قصور نشته مونږ تمام پخپله کوم یو . چا ته چه د دین او مذهب ټول واک او اختیار ور سپارو او د تعلیم او تربیې غم یې نه کوو د رواژه په درواژه « وظیفه راوړئ خدای مو وبخښه » وایي . د دومره لوی ذمه وارۍ دپاره په دی طریقه خیل دیني استاذ تربیه کوو . دا زمونږ خپله ګناه ده حقیقت دا دی چه کله مونږ ه مسلمانان شو ، نو بعضی هغه د هندوانو د وخت رسمونه ، رواجونه مونږ پرې نښودل او لکه څنګه چه هغوی د ژوند د مختلفو شعبو دپاره بېلې بېلې ډلې ټاکلې وی هغه هم په هغه شکل کښې مونږ جاری او ساتلی ، څکه چه دلته چه اسلام راغی نو هغه د مذهب (تبلیغ) په لاره راغی د سیاست ( توري ) په لار راغی ، نو مونږ د مذهب د حقیقت نه چا خبر نه کړو او لا تر او سه پورې خبر نه یو . دا د کاسټ سیستم روایتی ( عنعنوی ) اثرات دي چه یوه ډله به د مذهب د خدمت د پاره وی یوه ډله به حکومت کوی ، یوه ډله به تجارت کوي او یوه ډله به عام خدمتونه کوي . دا په اسلام کښې نشته بلکه په اسلام کښې علم په هر مسلمان او مسلمانې باندې فرض دی . زمونږ د ملایانو د « دنیایی علومو او سیاست خوانه توجه نشته او زمونږ د دولتمنو خلکو د دیني علومو خوانه توجه نشته نو څکه مونږ په دنیا هم خوار یو او اخرت به مو هم خوار وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې خودانه د داسې ملایانو دلاسه مونږ ته نور هم ډېر نقصانونه رسیدلي دي . په مونږ کښې چه دکار او خدمت سړي پیدا شوی دی دوی پری یا دوها فتوه لګولې ده یا دهند ویا دکافر او په دې نوموړي له خدمته پاتې کړي دی نه یې پخپله دخلکو خدمت کړی دی او نه یې بل ورته پرېښی دی . بې کاره او بې کسب لمونځ اداکوه او ډوډی خوره .

## واده ښادي :

زمونږ ښادی ډېری خوندورې دخوشالی نه ډکې وې چه هلک به ځلمی شو نو مور او پلار به یې ورته دخپلې خوښې چنغله لټوله دهلک او جنۍ نه به چې پوښتنه نه کوله او نه دهغوی خوښې ته چا کتل . خویندې میندې به وکړ خپلو کومه کورنۍ او جینۍ چه به یې خوښې شول ، دجینۍ دمور سره به خبرې وشوې دمور په ذریعه به پلار هم خبر شو چه دواړه به راضي شو نو دهلک له کوره به خ ښځې لاړې او کوټ به یې وکړ بیا به دکوژدې ترتیب ونیول شو . په دې وخت کې زمونږ خلکو که خانان که غریبانان وو ټولو دخور او لور په سر هر چا دخپل حیثیت انداره ولور اخسته . دنابالغو جنکو کول او ورکول هم رواج وو تردې چه تې پورې ماشومانو کوژدنی به کیدې . کله ناکله به داسې هم وشو چه نه به هلک پیدا شوی نه به جینۍ زېږیدلې وه چه میندو او پلرونو به یې سره وعده وکړه چه دیو مور زوی وشو او ددې بلې خوا لور وشوه هغه به یې یو له بله سره ورکولې . داقسم جینۍ به هیچا کولی نه شوه هلک جینۍ که به په وړوکوالی نامزد شوي وو چه کله به لوی شو هغوی به یو بل خوښ نه وو نو هم دیوه بل نه خلاصیدلی نه شو خو چه دواده بند وبـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شروع شونو د خپلو خپلوانو او کلي مالت جینکۍ به لا د وا ده نه خوشو ورځي مخکښي
هلک کالله ته راغونډ ېدل ېي ټنګ ټکور به يي کاوه . دشپې چه به دکاره وزګاره
وي نورا جمع به شوي د منګي او مجمې سره به يي ښکلي ښکلي مسرې ويلې زما د
ښکو دا ټنګ ټکور ډېر خوښېده و دوه به ده چا دخپل توان او طاقت سره سم
دخانانو یېړه دو نو کښې به ډنګ ډونګ او دوم دام زیات وو . ډېري ورځي به
ووه پخښیدل چلو خپلوانو او دوستانو به ډېري اچولې وې کوربه دښځونه دکو
ښوري به د سره ونه ډکې وې . ښځونه به وو ده چا جنج به بېل وتوپک او غږېنونه
لاصبدل د مې به هم پکښې کلې ېدې او خلکو به ورله روپۍ ورکولې اکثر به نیزه
هم کیدله . دنیزه بازۍ دپاره به خلکو ښه ښه اسونه ساتل او دنیزو پر کتس
کاوه دنیزه بازۍ په موکي به ورته روپۍ اېښودل کېدې چه چا به موکې يو -
و هغه روپۍ به دهغه شوې دواده ورځ به مقرره وه چه هغه ورځ به شوه
دسحر ډوډۍ به وخوړل شوه که دناوې کور به لیرې وخلک به د ډوډۍ
وسره سم روان شوا وکه دناوی کور به نږدې و نو خلک به ماز پښین وررواندل
ربه ځان ته بېل ټنګ ټکور جوړ کړی و ساز يانو به ورته په کوڅه کښې ساز غږ او
ل سورلۍ به يي ورته وهل او ښځې به دښه کور کې ورته کلې بدې چه سبا به يي
ه راوړله په دې شپه به ښځې په جمع روانې شوې نکریزې به يي په سر وې
ونه به ورسره وو شمع به پکښې بلېدې لوی لوی مشالونه به يي جوړ کړي دو
ین پرک سره وبه لاره به يي سنده ي ویلې د دوی دحفاظت دپاره به څو کسه
مخکښې او څو کسه ورو ستنه روان وو چه دناوې کور ته به ورسېدې . اول

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یې نکریزې وګړولې او بیا به یې هغه نکریزې هغه جینۍ ته په لاسو او پښو لو
کړې، ناوې به د ځوور ځونه په کوټ کښې ناسته وه همزولې به توې چاپېره
ښځې به تورې واپس کلي ته راغلې سباله به نو او ښځې په ورا او جنج لاړل ښځې
وو غلې او ناوینه به بهر په حجره کښې کښېناستل ملا به راغی نکاح به یې وتړله
به وشوه دم به ډول ووهه دم به ښادې والا وته آئینه ښودله او پیسې به یې ت
چا به کلان ورکول او پیسې به یې تولولې بل خواته به بات په غوږ ونو کښېنې ګوتې ای
ملح به یې ورلې چا به سپیلنی لوګی کول روپۍ به یې اخیستې که د چا به خوښه وه ک
د شهه به یې غوږ غوږ نه کاوه او روپۍ به یې ورکولې لنډه دا چه یو لوټ به و ملا ص
هم بې روپو نکاح نه تړله چه نکاح به وتړل شوه هلک به د خسر کور ته ننووت پ
به وخت جامې به یې بدلې کړې نوې ډولي جامې به یې واغوستې چپل چپلوا
دوستانو به پرې پتاسې، غوزان او پیسې نوستلې او ماشومانو به تولولې
به دواده دپاره د توان په اندازه ډېرې قیمتي جامې جوړېدې دا جامې ب
دواده په شپه اغوستې بیا به یې په ټول عمر کښې نه اغوستې ځکه
وې چه مړه به شوه اکثر به یې جامې ملا صاحب ته ورکول کېدې، ناوې
کښې کښېنوله ډولۍ به بهیاړانو په اوږه کړه ډولۍ به مخکښې وه دواده ز
ډولۍ سره و او نور خلک به ورپسې وو. بهر به هم دواده په ذلمی خپلو
دوستانو پیسې او شیرینۍ نوستې ډزې به کېدې، لویو، وړو به د خو
نه الا الا چیغې وهلې لویه میله به وه چه څه وخت به ډولۍ په کور د ښته
به رخصت شوه د کلي خلک به هم لاړل ناوې به چه کور ته ننوتله د ښځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستور سره برابر وشوه ناوې به په پالنګ کښېښولی شوه تر څو ورځو پورې به خلک
راتلل د ناوې د مخ نه به یې پلو پورته کاوه ناوې به یې کتله ، ناوې به سترګې نه
غړولې . د هلک خپلوانو به چه ناوې کتله روپۍ به یې ورکولې . په سبا له به هلک د خپلو
ملګرو لوسره د سخر کره ورغی ، دې ته به یې سلامي ویله سبا د ودې به ورکړه
شوه د ودې نه پس به هلک د سخر کور ته ننوت او د خواښې په پښو به پریوت
مخې به ورله روپۍ ورکړې د ښځې خپلو خپلوانو سره به پېژندګلوي وشوه بیا ته
خپل کالا ته ستون شو څو ورځې وروسته به د ښځې خپلواني راغلي دې ته به
اوومه ویله د هلک خپلواني به هم راټولې شوې د چینې د پلار له کوره به
بامي راوړل شوې وې هغه به یې د هلک په خپلوانو ویشلي چه پاتې به شوې
هغه به د ناوې وې . ناوې به د پلار کره لاړه او څو ورځې به یې تېرې کړې . نن
خلکو ته د هغې زماني و دوو نه څه عجیبه غوندې ښکاري چه چینی او هلک
بدلي نه وي د موږ او پلار په خوښه به و دونه کېدل . په کار خو دا وه چه هلک او
چینی سره خوښولي بیا و د ښه خوړنن زماني په نسبت د هغې زماني و دونه ډېر
کامیابه وو ځکه چه د هغوی اخلاق ډېر اوچت او سپېڅلي وو په هغوی کښي
ښتیني مینه او محبت و په یورپ او امریکا کښي چه هلک او چینی یو د بل په
د تو نو او خولو نو ښه خبر شي نو د خپلې خوښې واده کوي مګر د هغوی په مینځ
کښي دوه سره مینه او محبت نه وي لکه زمونږ د ملک د ښځو او مېړونو
مینځ چه وي . مونږ له د خپل ځینې دود او دستور اصلاح په کار ده .
بر خلک خپلي لونه د پیسو د پاره ورکوي په کار دی چه د سمیتوب په لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلوی وشي دا نه چه د دولت د پاره ځوانه جینۍ بوداته کښېنول شي .

## دیوې پېغلې قصه :

زه د سکول نه په چوتهی کلي ته تلم په تانګه کښې ناست وم ناګهان سـ

راورسېدم، ګرمی وه سېند موجونه وهل هغه وخت کښې به په سـ

باندې پلونه د بېړو وو . د تانګې نه کوز شوم په پله پورې ځم چه ناڅاپه

پېغلې جینۍ د پل نه د سېند مینځ ته ورو د نګل چغې شوې چه جینۍ لا

شوه ما ټکان ورپسې کشتۍ خوشې کړې د پله نه لې سنا یسته لیرې د

سره ونیوه غاړه ته یې راوښکله جینۍ مړه نه وه خو بې هوشه وه او به یې ت

شوې وې هلته یې واچوله مونږ راغونډ شو چه او به ترې لاړې جینۍ بـ

شوه چه په مونږ یې سترګې ولګېدې په ژړا شوه ویل یې چه وای خد

زه ژوندۍ یم ؟ مونږ چه تحقیق وکړ چه داکم بخته ولې پخپل ژوند پکو د

معلومه شوه چه پلار یې یو بوداته ورکوله او د دې خوښه نه وه پلار ته یې و

چه پلاره زه مېړه نه کوم او تول عمر ستا خدمت کوم خو دې بوداته مې

ورکوه . پلار یې سترګې روپوټې کړې وې د لور یې نه منله . چه جینۍ د

مایوسه شوه د خپل مرګ اراده یې وکړه . نو د دې داسې پېښو مخنیوی په کار

باید چه له جینۍ او هلک نه پوښتنه کېږي ځکه چه دا خو د دوی د ژوند

ملکو تیا سوال دی .

## فوج کښې کمیشن :

څه وخت چه زما ورور خانصاحب د ډاکټرۍ تعلیم د پاره بمبئي

عه نبی علیه السلام اجازت کړ ... چه هلک ... جینۍ او ... کړ

مدینه منوره کښې ... انصار ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ زه او مصاحب په بوره ډنګ کښې یوازې پاتې شو څو ورځې پس له بوره ډنګ
نه مبارک ته راغلو او په لوی بازار کښې مو یوه بالاخانه ونیوه دلته به او سیدو او
سبق له به سکول ته تللو خو سبق ته مو ډېره ډډه نه لګېده. زمونږ یو زوړ نوکر و
بارانی «نومېده» مونږ به ورته بارانی کاکا وېئ، هغه څه موده د مومن خان
ډېره د خانانو سره نوکری کړی وه دډېره زیات خانان په فوج کښې نوکران
دی ورسره هم په فوج کښې پاتې شوی و نو ده به ماته دفوج قصې کولې
چه دفوج ډېره ښه او دعزت نوکري ده سړی چه داسې غاړې ته کوچ اچولې
ی او دفوج مخکښې روان وي دېر خوند کوي. زما خو هسې هم سبق ته ډډه
لګېده د بارانی کاکا خبری به را باندی ښې لګېدلې او ورو ورو یې را باندی
زوشو او دفوج نوکری ته تیار شوم. دغه وخت زه په اتم جماعت کښې وم زه
وهلک وم نه پوهېدم چه بارانی کاکا به څه ویل هغسې به مې کول هغه راته
ل چه څوک تعلیمیافته وی او د لوی خاندانه وي هغه ته فوج کښې دایرکت
یشن ورکول کېدی شي او نیغ په سرداری اخیستل کېږی. دده او د
نکی په درجه کښې فرق نه وي ددې دپاره د هندوستان وایسرای ته درخواست
ږی د هغه په منظوری دایرکت کمیشن ورکول کېدی شي. نو ته یو درخواست
وایسرای ته ولیکه چه په ډاک کښې ولېږو. دخانصاحب یو اشنا وو چه فضل محمود
مېده مونږ دواړه ورغلو په هغې مو درخواست ولیکه او د کماندران چیف
نوم مو په ډاک کښې واستاوه. دا راز ما او بارانی کاکا ځان سره پټ وساته
ی پوې بیلا رخبر که او نه مو د هغه سره مصلحت وکړ. ډېره موده تېره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په لسم جماعت کښې وم زمانه دا خبره هېره وه چه د مرکز نه زموږ د پټ
کمشنر ته یو حکم راغی چه زما متعلق تحقیق وکړي چه زما څه حیثیت دی؟ ا
زما د خاندان څه حیثیت دی؟ د پټي کمشنر تحصیلدار ته حکم وکړي وا او تحصیل
پټواریان مقرر کړی وو چه زموږ جایداد معلوم کړی پټواریان چه زموږ کا
ته تللي دي یوه عجیبه توقع وشوه . په دې ورځو کښې زموږ په کلي کښې یو سر
چاوډلی وُ جرګې په هغې کښې زما د تره زوی د شا صاحب خان مشر و
شمروز خان زموږ د شپږ ونورو نوکرانو سره بې ګناه او خطا خوار لس کاله قی
کړی و . پرنګیانو جرګې د انصاف او امنیت برقرارولو د پاره نه وې جوړې کړ
بلکه پرنګیانو جرګې په پوره تدبیر د دې غرض د پاره جوړې کړې وې چه په ج
کښې انصاف نه کېږی ، پړی وی ، جمبې وی ، او اکثر چه به ګنهګار سړی په سف
یا په بله او رشوت خلاص شو ، نو مخالفې ډلې به د بدل اخیستلو کوښښ
کوو ، او په دا شان به دا دښمنۍ پېړو په پېړو چلېدلې او دا سلسله به روا
پښتانه به پخپلو کښې اړم وی او موږ پرنګیانو ته به یې توجه نه وی . ما دیوا استن
کمشنر سره د جرګو په باره کښې پخپله خبرې کړی وې چه په دې جرګو کښې انص
نه کېږي ، په جرګه کښې که د مجرم د ډلې سړی مقرر شی هغه که هر څو م
ګناهګار وی هغه بری شي او که د هغه د پړې سړی پکښې نه وی ، بلهی ود
څوک د رسوخ خاوندلي سفارش ونه کړی که هر څو بې ګناه وی هغه پکښې لا
نو د دې قسم جرګو نه د حق او عدالت څه امید کېدی شی؟ یوازې استنټ کم
نه هر پرنګی په دې خبره پوهېده او د همدې مطلب د پاره دوی د جرګو س

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړی. اوننګ کړی و. زمونږ ه قوله ګټه وته د دوی خوراک وه څه چه به مونږ ګټل

هغه به پولیس، وکیلانو، جرګه والا او بیا جیل والا وورانه واخیسته او زمونږ بچي به

په خالی میدان پاتی شو. تاسو فوا نتیر کرایم ریګولیشن ایکټ (د سرحد جرایمو قانون)

وګورئ هیڅ به داسی ظالمانه شرمناک قانون جوړ کړی نه وی لکه دا قانون چه

انګریزانو په مونږ چلاوه. په دغو ورځو کښی دا اوازه خوره شوې وه چه په دغه مرګ

کښی زمونږ جایداد هم ضبطیږی او داخو په سرحدی قانون کښی یوه معمولی خبره

وه نو چه څه وخت پښتواریان زمونږ د جایداد معلومولو د پاره راغلل نو زمونږ یقین

وشو چه دا اوازه رښتیا ده زمونږ په خاندان یو ویره جوړ شو چه هم موسره ي

بی ګناه قتیل شول او هم مو جایداد ضبطوی. مونږ ډیر کوښښ وکړو چه څنګه تول

جایداد پټواریانو ته ونه ښیو څه ناڅه جایداد مو ورنه پټ کړو خو هغوی پخپل رپوټ

کښی لیکلی وو چه دوی ډیر جایداد لری څو لږ مونږ ته ونه ښوده زمونږ په دې

از پټوار یا نو څکه پرده وانه چوله چه زمونږ د کورنۍ د مشرانو، د حاکمانو سره لکه

نورو خانانو په شان ناسته ولاړه نه وه کوم کسانو چه به د پولیس او حاکمانو سره

راتګ ساته ډو دی ډکانی به یې ورته کولې د دې د پاره چه قوم پرې وخوری او

خیله یې هم وخوری اکثر به د دوی د بلو دلالان وو. زمونږ پخپل جایداد قناعت

مونږ دا ښه ګول. دوی به هم ښه د جایداد خاوندان وو خو حرص په مخه

غیستی وو او د حاکمانو سره به یې راز باز ساته. بابا می پښور ښارته راغی مونږ

ښار کښی تعلیم ته ډیره وو، ډیر غمجن و دا قوله قصه یې راته وکړه مونږ هم

په شو چه سبا لمی بابا د پښتی کمشنر ته ورغی ورته یې ویلې چه زه یو عرض ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي يم چه ته تحقيق وکړه که په دې قتل کښې مونږ ګناهګار يو نو چه څه سزا راکوی
مونږ ته منظوره ده او که مونږ کښې ګناه نه وي نو دا خو انصاف نه دی چه هم مونږ
بې ګناه قيد شو او هم مو جايداد ضبط شي نو هغه ورته ويلي دی چه غوک وائي
ستاسو جايداد ضبطيږي ؟ بابا مي ورته ويلي چه پټواريان راغلي وو او زمونږ
متول جايداد ئې وليکه . نو هغه ورته ډېر خندلي دي او ورته ئې ويلي دي چه دا خو
زوی لاټ صاحب ته د دا يو کټ کميشن د پاره درخواست ورکړی دی اولا
صاحب مونږ ته حکم کړی دی چه د ده د جايداد او حيثيت تحقيق وکړئ او
ته ئې معلومات راکړئ . مونږ چه دسکول نه راغلو بابا مي بالاخانه کښې ناست
خوشاله وچه مونږ ئې وليد و په خندا شو ما ته ئې وويل چه شاه تو ديه (هغه به ما
مينی نه شاه توری وايه) دا خو ټولې ستا غوښې دي بيا ئې راته ټوله خبره وسپړه
بيا زما د اکټری معاينه وشوه زما صحت ډېر ښه او ښه ځوانی مې وه.
څه موده پس د برتي د پوځ نکي حکم پسې راغي چه په فلانی تاريخ حاضر شه په دې
کښې خانصاحب پس دد ه ی کالونه د بمبئي نه راغلی او د باقي تعليم د پاره لندن
وهغه هم راسره د برتي پوځ نکي له لاړ داپوځ نکی ښه سره و مونږ سره ئې ښه سلوک
زما ورور خانصاحب ته ئې د لندن د تللو په باره کښې ډېر معلومات ورکړل
ئې ورته وکړ د خپلو تجربو نه ئې خبر کړ ، د غه وخت د خانصاحب هم دا رايه
زه دې په فوج کښې داخل شم . خانصاحب خو ورځی وروسته لندن ته لاړ
د ميټرک امتحان شروع وو دوه مضمونه پاتې و ما د خوشالی نه امتحان پرېښود
برتي د پوځ نکي حکم راغي چه ته راشه چه زه ورغلم هغه را ته وويل چه ستا د ايرکټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظور شوزه ډیر خوشاله شوم په دې فکر کښې وم چه پلټن به ښه وی که رساله؟ زما د همزولو دا رایه وه چه تا د پاره پلټن ښه ده یو خو دې صحت ښه دی بلان دې مضبوط دی او قد دې هم ښه فوټه او درې انچه دی. په دې وخت کښې زمونږ د ډیری زرداد خانان چه په کومه رساله کښې وو هغه د جیکب اباد نه پېښور ته راپیلا شوه هغه خانان زمونږ دوستان وو زه او بارانی کاکا لید وته لاړو مافوجیان چېری لید لي نه وو کله چه به لوی افسر راغی او فوجونه به یې سلامی له ورتلل دامی لید لي وو چه ښې ښې وردی به یې اغوستی وې د کمپنی د دوراندی به یوازی یو ډیرنګی او یو دیسی سردار روان و، کومې چونه به یې اچولی وو.

بارانی کاکا خو ما ته ویلي وو چه د ډیرنګی او دیسی افسرانو فرق نه و خو چه ما د دیسی سردارانو کورونه ولید ل او د ډیرنګیانو بنګلی می ولیدی نو په هغو کښې د ځمکې او اسمان فرق و مونږ ولاړ وو چه یو لفټین راغی، زه د خان سره چه د رساله دار و ولاړ وم. دې خان خیل سره انګریزی جوړ کړی و نو انګریز دا برداشت نه کړی شو نو په سپکه لهجه یې ورته وویل چه خانصاحب تم بهی انګریز بتلچاهتا هے؟ یعنی ته هم انګریز جوړیدل غواړی دی غریب ورله جواب قدری ورکولی نه شو ما چه دا حال ولیده نو د دې نوکری نه می زړه تور شو او په زړه کښې می وویې چه زه خو به د ډیرنګی د دی قسم خبری برداشت نه کړی شم. څه موده پس حکم راغی چه ته په فلانی تاریخ مردان ته حاضر شه ما ته یې د کایډ په پلټن کښې کمیشن راکاوه. د کایډ یوه پلټن او یوه رساله وه کمانډو یې یو و. دا به همیشه په مردان کښې وه د نورو فوجونو په شان به بدلیده نه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوستان په فوجونو کښې ډېره ياده ده په دې کښې به د پنجاب اود
سرحد د لويو لويو خانانو او جاګير دارانو زامن په نايکې، لايسې او دفعه دارۍ
برتي کېدل او زه يې پکښې په سر دارۍ واخيستم خو زما زړه د فوج نه تور شوی
و د بابا مې خواهش وچه زه دا نوکري قبوله کړم ځکه چه په دغه وخت کښې
دا ډېره د عزت نوکري ګڼل کېده خو ما ونه منله. بابا مې خپه هم شو خو د مور ماسره
اتفاق و دهغې د پرنګيانو نوکري نه خوښېده

## بيا تعليم پسې:

ما د نوکرۍ په خوشالۍ کښې سبق ميټرک کښې د امتحان د دوران کښې
پرېښې و د اکال خو زما په دې کش مکش کښې ضايع شو بل کال مې بيا د تعليم
اراده وکړه. زمونږ د کلي د مولوي عبد العزيز صاحب د کشر ورور عبد الحليم
سره مې چه زما هم جماعتي ؤ سلا مشوره وکړه چه بيا تعليم شروع کوو مونږ
اورېدلي وو چه کيمل پور کښې چه کوم سکول دی په هغه کښې د تعليم ښه انتظام
دی د استاذانو هلکانو ته ډېره توجه وی او ښه کوشش ورسره کوی
او عربي پکښې ډېره ښه ويل کېږي. زما عربي لا ښه مې مضمون و مونږ دوا
په همدې خيال لاړو او په کيمل پور کښې په سکول کښې داخل شو. دل
زمونږ د پېښور نور هلکان هم وو خو د رځی مو درسونه د ويل خو خوندلي
نه کړ چا رانه د قاديان ډېره صفت وکړ نو د قاديان د تللو اراده مو وکړه
قاديان ته روان شو په دې وخت کښې چه مونږ قاديان ته ورغلو حکي
نورالدين صاحب خليفه و مونږ د هغه کتلو له ورغلو د هغه ساده بې تکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند او دینې محبت خبرو را باندې ډېر اثر وکړو، هغه ډېر لوی عالم او
با اخلاقه سړی وو موږ د هغه سره ناست وو چه د مرزا غلام احمد صاحب
ذکر وی چه دا اوس د دې جماعت امیر دی او هغه وخت یې په کالج کښې سبق
وایه راغی او موږ رخصت راواخیست. د سکول بورډنګ ته راغلو د لته چه
څو مره هلکان وو دا کثرو په خولو کښې دا خبره وه «ابن مریم کی بات کو چهوړو۔
اس سی بهتر غلام احمد هے» یعنی ابن مریم (عیسیٰ) مه یادوئ د هغه نه
غلام احمد غوره دی. دا آواز موږ ته ډېر نا اشنا و بیا موږ هغو هلکانو هغه
جنتي مقبرې ته بوتلو څومره چه د دې ځای د حالاتو نه خبر یو وهما غومره د موږ
تعجب زیاتېده فکر واخیستو چه پاتې شو که لاړ شو بله شپه خوب وینم چه یو
لوی ژور کوهی دی زه ور پرېوزم یو سپین ږیری سړی لاس را اوچوی او د کوهي
د غوړ ځیل ونه می بچ کړی او راته ووایی چه پام کوه! چه سحر شو زه او عبدالحلیم
ملا نځه ته پاڅېدو ما هغه ته خپل خوب ووایه هغه هم څه خوب لیدلی و لمونځ
مو وکړو او واپس خپل کلی ته را روان شو عبدالحلیم خو لاړ او بیا په پېښور کښې
په هغه خپل سکول کښې داخل شو او زه علیګړ ته لاړم.

په علیګړ کښې می په بورډنګ کښې ځای ونه موند او په منارکښې په یو
موټل کښې دېره شوم. په علیګړ کښې زموږ د ملک نور ډېر پښتانه هلکان
و او ټول په بورډنګ کښې اوسېدل. په دې ورځو کښې نواب وقار الملک د
علیګړ کالج سکرټری و ډېر ښه سړی و او ساده ژوند یې وی موږ مونږ د
مانځه نه پس له جماعت نه راتلو ما ورته پېټی سمی کړی هغه زر ما ته پېټی سمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او زما شکریه یې اداکړه او راته یې وویل چه دا مهکوه مونږ پښتنو کښې د
رواج وچه د مشرانو دادب د پاره به موږ ته پښې سمولې مونږ به کله نا کله د هغ
بنګلې ته ورتللو خبرې اترې به موږ سره کولې د هغه په بنګله کښې یو وړوکی غونډ
جماعت و په هغې کښې به مونږ ځای لمونځ کاوه ډیر خوش اخلاقه سړی و لوېي او
تکبر پکښې نه وه ، د مسلمانانو په مشرانو کښې ده په شان ساده ژوند ما د چا
ولیدلی ډیر په قوم مین سړی و مونږ سره به یې د دوستانو په شان مجلس
او خبرې کولې او همدی خبرو به یې په زړه کښې لار کوله ځکه چه ده د زړه
راوتلې وې .

په دغو ورځو کښې په علیګړ کښې کومې کومې جلسې کیدی او مسلمانانو
حکومت نه دا مطالبه کوله چه د علیګړ کالج دې د علیګړ مسلم یونیورسټي
نامه یونیورسټي شي ، په نورو هندوستان کښې دا رنګه جلسې روانې وې
چندې یې هم غونډلې . ماله به دې جلسو ډیر خوند راکاوه په هره جلسه کښ
به مې د شرکت کوښښ کاوه او د هر سړي تقریر به مې په ډیر غور اوریده . د ک
چوټې چه شروع شوې ما ته ویل شوی وو چه په بورډنګ کښې به د ده ځای
د ډکو وخو په بورډنګ کښې و نه شو . د علیګړ د بورډنګ او ښار په سوسایټی ک
ډیر فرق و د علیګړ بورډنګ سوسایټی مهذبه او عالمانه وه په ښار کښې هغ
ژوندانه و او ملېه دا چه برسات شروع شوی و د ښار نه کالج ته تګ راتګ ه
ګران و . په دې وخت کښې زما ورور خانصاحب چه د لندن حالات یې ل
وو ، ما ته یو خط راولیږه چه ته هم د لته انګلینډ ته د انجنیرۍ د تعلیم د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به ډاکټري وکړم او ته به انجنيري وکړې . نو زه د عليګړ د ګرمو په چټو کښې کلي ته راغلم او ابا ته مې د خپل ورور هغه خط وښوده خو د هغه د ورسره اتفاق نه ؤ آخر رضا شو . د دې زر دا روپۍ يې د خرڅ د پاره راکړې . پي ، اې ، او جهاز کښې يې راته ځای ونيولو خو زما د مور زما د تلو سره اتفاق نه ؤ . د هغې په غوږ کښې چا دا خبره کښېنولې وه چې يو ځل ولايت ته څوک لاړ شي نو هغه بيا د ملک څه کوي . يو زوی دې لاړ دی که دا بل هم لاړ شي او بهر ته راته شي نو ته خو به مېراته پاتې شې . ما چې هر څومره کوښښ وکړو د هغې د زړه نه مې دا خبره ونه ويستلې شوه . په هغه وخت کښې زمونږ د ملک په بل حالت ؤ . پرې جنبې او تربګنې کې بد امني وه د شپې به هر چا خپله څوکۍ کوله چې څوک مسلمان پښتون راته شي او مړ مې نه کړي او د ورځې به د ورسره ويره وه چې چا د ابا نه يې دعوه کړې نه وي ځکه چې اکثر دعوې به په پړې جنبې او دښمنو کېدلې او داسې به هم کېده چې په خپله به يو سړي قصه مصه جوړه کړه او پخپله د ښمنانو به يې دعوه وکړه . دا ټولې قصې مې مور ته وکړې چې ګوره موری ! يا به چا وژلی يم يا به يې د شمروز دادا په شان قيد کړی يم . د دې نه خو دا ښه ده چې د تعليم د پاره د تللو اجازه راکړې . هغې به ما ته هېڅ جواب نه راکاوه او پټ پټ به يې ژړل . نو ما د لندن د تللو اراده پرېښوده او فيصله مې وکړه چې نور سبقونه نه وايم او د قوم او ملک خدمت کوم .

دوباره سبق شروع کولو او مختلفو ښارونو او سکولونو ليدلو کتلو او د خلکو سره بادل خيالات ما ته ډېره فايده ورسوله او تجربه مې زياته شوه . زما پلار د کلي لوی خان و او زه د خان زوی وم خو زما تعلقات د خانانو سره ډېر نه و زما ډېر تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغریبانوسره وو زمانا سته اودوستی دشاخیلانو، ترکانانو اولوهارانو
جولاګانو او زمیندارانو سره وه دخانانو اوملکانو خویونه اوعادتونه
هم راکښې لږ و دهغه وخت دخان دا صفت وچه یره ډېر لوی
خان دی دخپلی مځکی پوله نه پېژنی دخپلی مځکی انتظام او
پخپله کارکول خود خانی دشان سره مناسب نه و مالهچه باباکومه
مځکه راکړې وه په هغې کښې ما پخپل لاس کارکاوه، زمایونوکر و
شاخیل و قدیر نومېده، مونږ دواړو به په غوایانو کښونته سرې
چلولې او دسرو بوری به می پخپل لاس ډکولې، قدیر زما ډېر دوکوالی
نوکرو ډېر وفا دار و خوچرسی و ماته به یې هم دچرسو صفتونه کول
خوزه پوه شوم چه دی ما ددې دپاره په چرسو را اړوي چه بیا زه وېته چرس
پیدا کوم دی به یې د تاوانه خلاص وی بیا می منع کړ چه ماته دچرسو صفتونه
مه کوه زمانو آشنایان اودوستان څوک په چیلم او څوک د نسوار و، څوک
سګرټ عادت و خوزه خدای ددی ټولو څیزونو نه ساتلی یم. زه چه په کلی کښې
پاتی شوم په ډېره بده سوسایټی راوړېدم هغوی وران کاری وو زه یې
په ورانو سرګرم هغوی جنګیان وو زه یې هم دخلکو سره وجنګولم، هغوی
بدعمله وو زه یې هم بدعمله کولم خو دخدای احسان وچه ډېر ژر لې ز
سوسایټی بدله کړه او ډېر وسبو خلکو سره می ناسته ولاړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی میدان، تازه افکار

روشنفکرو سره تعلق (مخفي صاحب، مولانا عبد العزیز، مولوي فضل ربي، مولوي تاج محمد).

مدرسې جوړول: دارالعلوم دیوبند سره تعلق

شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب

او مولانا عبید الله سندهي

قوم پرستي، ورومبی ولاده

اګره کښې د مسلم لیګ جلسه، کلي وطن کښې

تعلیم و تبلیغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعالمانوسره تعلق:

زما تعلق د فضل محمود مخفي صاحب، مولوي عبدالعزيز صاحب د يکي مولوي فضل ربي صاحب او مولوي تاج محمد صاحب د گډر، د دارالعلوم مهتمم سره پيدا شو. مولوي تاج محمد صاحب د بغدادي و، د بي. اي تعليم يې و. مذهبي تعليم يې د پاسه و. په اسلاميه هاي سکول پېښور کښې سکنډ ماسټر و. مولوي فضل ربي صاحب د يکي و د ديوبند سند يافته و. په رښتينو معنو کښې عالم او قام پرست سړى و. مولوي عبدالعزيز صاحب زما د آشنا او د سبق د ملگري عبدالحليم ورور و په بوړيال کښې يې تعليم کړى و. دا ټول زموږ د لوى ملا صاحب د خاندانه و. فضل محمود مخفي صاحب د چارسدې و ميټرک پاس او انقلابي شاعر و. څه وخت چه انگريزانو د فارس په خليج کښې ازاده بندرگاه جوړه کړه چه هلته به يې عربو باندې د ترکو په مقابله کښې ټوپک، تمانچې، کارتوس او نورې وسلې په ډېره ارزانه بيه خرڅولې پښتنو قبايلو د دې وسلو سراغ پيدا کړى و. تلل به او له هغه ځايه به يې وسلې راوړلې او د پښتنو قبايلو کښې يې به خرڅولې، انگريزانو چه د پښتنو قبايلو سره دا وسلې وليدې حيران شول چه دوى دا وسلې د کومه راوړى، چه تجسس يې وو نو ورته معلومه شوه چه دا د خليج فارس نه د ايران او بلوچو په لار افغانستان او پښتنو قبايلو ته راوړل کيږي. نو انگريز دې خواته د وسلو مخنيوي د پاره په خليج فارس او د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړو کښې د انګرکسن، په مشرۍ یوه جرګې مقرره کړه د دې جرګې یو داسې سړی په کار و چې هغه په انګریزي، پښتو، عربي او فارسي پوهېږي. د مخفي صاحب څلور واړه ژبې زده وې دی یې هلته د خان سره انټرپریټر (ترجمان) ټاکلی و. د دغې نوکرۍ په وجه په ده کښې سیاسي شعور او قامي جذبه پیدا شوې وه. د پښتو په شاعرۍ کښې انقلاب ده راوستی و. د زلفو او کاکل او خط و خال، ګل او بلبل په عوض یې قام او وطن غریب او بېچاره ته د شاعرۍ مخه ور واړوله. زه ده ته د پښتو شکسپیر وایم. د ده په پښتنو دومره حق دی خو افسوس چې پښتنو د ده قدر الکه خښکه چې په کار و ونه کړ. په دې ورځو کښې د ترنګزو د حاجي صاحب نوې نوې بزرګۍ شهرت پیدا شوی و. د وی ټولو د هغه سره د دین د خدمت د پاره ملا تړلې وه. حاجي صاحب د پښتنو د نورو بزرګانو په شان نه و. هغه د تعلیم مصلح ورتش په خوله نه بلکه په عمل او په ژبنتیا سره په کومو غلطو رسمونو او رواجونو کښې چې قام نښتی و او د دین او دنیا نقصان یې پکښې و هغه یې لیرې کول او خوښتل د جهالت تورې لیرې کړي چې په قام او وطن را خورې وې. د هغې د لیرې کولو د پاره یې ونښنس کاوه. د مخفي صاحب دوی په ذریعه زما هم د حاجي صاحب سره تعلق پیدا شو. حاجي صاحب اول په غیل کلي کښې او بیا ورپسې د عبدالاکبر خان یلا د ترنګزو او عمرزو په مینځ کښې یو ځای ورکړ هلته یې ابادي وکړه او د کلي نه دې خانه راغی چې په ورځ به دلته ډېر لوی جمع کېدل او د لیرې لیرې ځایونو نه خلک لمانځه ته دلته راتلل. زه به هم ورتللم.

## مدرسې جوړول:

زه په مشن سکول کښې دخیل هیډ ماسټر وګرځم او د هغه د ورور د اکتو وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ډېر متاثر شوی وم. د هغوی قربانیو را باندې ډېر اثر کړی و زما هم دا خیال
پیدا شوی و چه د دی قام او وطن خدمت مې وکړی . په دغو ورځو کښې زمونږ
د قام د جهالت په وجه ډېر بد حالت و . نه د حکومت له خوا څه انتظام و او نه د قا
له خوا . د تعلیم کولو هیڅ انتظام نه و او که په کوم کلي کښې به پرایمری سکول و
نو هم ملا یانو خوک نه پرېښودل نو ما غوښتل چه د پښتنو بچو د تعلیم د پاره
ملک کښې اسلامي مدرسې جوړې ولو کوشش اوکړم او خپل ژوند به په دې خد
کښې تېر وم . په ۱۹۱۰ع کښې ما او مولوی عبدالعزیز صاحب یوه مدرسه په اتمان
کښې جوړه کړه او د نورو مدرسو جوړولو د پاره مو په نورو علاقو کښې دوره شروع ک
د خلکو توجه مې د علم طرف ته کړه او د پښتنو په زړونو کښې مې د علم د ضرورت احس
پیدا کړو او د غه شان مو ورو ورو په مختلفو علاقو کښې د مدرسو جوړول شروع
او په لږ وخت کښې مو ډېرې مدرسې جوړې کړې . زمونږ کلي ته نژدې د مفتی
نه خلک را غلل چه ته راشه مونږ د لته یوه مدرسه جوړوو زه ولاړم خلک مې را
کړل د علم د ښېګڼو په باره کښې مې ورته خبرې کولې . په دې کښې یو ملا راغ
چترالی (چترال زمونږ د اتمانزو د کلي په میره کښې یوه بانډه وه) ملا به لي د
ویل دده سره ټوپک هم و او کتابونه هم ورسره وو . مونږ سلا مشوره کوله خبر
کولې ملا صاحب پاڅېد او ویې ویل چه زه دا تعلیم چه عبدالغفار خان شروع
دی نه منم او نه دا تعلیم دی او هغه ویل چه په دې مدرسو کښې چه کوم کتابونه
کېږي نو په هغه کښې دی چه : "ایک کتا بھونکتا ہے" یعنی یو سپی غاپي او بل ک
کښې لیکلی چه : (A big fig) یعنی یو غټ انځر . دا څه دی ؟ دا علم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زه راغلی یم د ده سره فیصله کول غواړم چه په کتاب راسره فیصله کوی که په ټوپک؟
ما ورته وویل چه ته سنه پوهیږی چه زه د ټوپک کار نه کوم او د غلته چه ته اتمانزو ته
ځې زمایو تربور دی چه محمد خان یې نوم دی هغه ته د ټوپک نوم واخله نو پخپل
خان به پیوه شي چه ته څومره سړی یې ملا صاحب علم خدای او رسول په موږ
مسلمانانو فرض کړی دی او چه تاسو خلک د دې انګریزی ملا سره منع کوئ نو
په کار دی چه هغوله پخپله خو د تعلیم انتظام وکړئ نو چه تاسو هم ورله څه انتظام نه کوئ
او موږ هم د دوی د خدمت نه منع کوئ نو د دی قام دې خدای مل شی.

پښتون یو ژوندی قوم دی د قومیت او قربانۍ ماده هم پکښې شته، خو
وښوول غواړي. قومونه خو تش په کُف وچُف نه رابیداریږي د قومونو ژوندی
لو او بیداولو د پاره داسی کسان په کار دی چه بی غرضه وي دیانت داروی
یمانداروی او د خدای د پاره د خپل قام خدمت ته تیار وي چه داسی کسان
په کوم قام کښې پیدا شي نو د هغوی په کوښښونو هغه قام کښې مینه، محبت، همدردی
دروری او عزیزولي پیدا شي هغه قام اباد شي موږ بې همتو او خود غرضو خانانو،
ملایانو او باباګانو تیاری ته کښېنولي یو ځکه خو زموږ د قام دا حال شو. که چیری دا
کارونه په تش کُف او چُف، وظیفو او دعاګانو کیدلی شوی نو زموږ د خپل رسول (ص)
به دومره ګواونه ولی کول دومره قربانۍ ورکولې، تکلیفونه او مصیبتونه به یې تېرول
خو د جماعت په کوټ کښې به ناست وای دعا به یې کوله د هغه په شان دعا د چا کیدی
شوه؟ کار به کیده، قام به آباد یده خو خبره داده چه بې عمله دعا د خدای په نزد
نه قبلیږی په دې کښې د پښتنو څه ګناه ده؟ دوی ته چه هر چا جونګه جاړه اچولې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي ورته راټول شوي دي شکرانې یې ورکړي دي د هغوی په مخ کښې یې منل
وهلي دي خدمتونه یې ورته کړي دي ملکانې او سیرۍ یې ورکړي دي تو دې ج
خرینډې لونه یې هم ورکړي دي خو هغوی دا بد بختان په هغه دین هم نه د
پوه کړي. هغوی دا ګمان کاوه دا زمونږ د دین او دنیا نجات دهنده دي خو
دوی سره نه د دین غم و او نه د قام هغوی سره ځېل غم وه ځکه یې ځپل خا
کړي دي تمام. وطن او دین ته یې هیڅ نه دي کړي.

زمونږ د سکولونو مخالفت ملایانو شروع کړو او دلیل به یې چه په د
کښې اردو ویل کیږي. اردو یوه بهانه وه. کښې د جماعتونو نه زمونږ په سکول
کښې دیني تعلیم هم زیات و او هم په ښه طریقه و او هم ورسره دیني تربیه وه.
دا لمونځ معنی چا ته ښودلې نه ده او مونږ به زړګونو ځوړنو ته د لمونځ معنی ورزده ک
ده. خبره دا وه چه دا زمونږ مخالفین چه دو د دوی خو به اسلام څه کار نه
که نه اسلام خو علم په نر او ښځه فرض کړی و او دا یې ویلي دي چه په علم
ان ته چینه لاړشئ چین کښې خو منیه. خلاصه او د عربي علم نه و د اسلا
د علم د حاصلولو غرض وکه د املا یان ریښتیا په علم مین وی نو دوی به زم
ملا ته کړي وای. دوی خو دا فکر کاوه که پښتنو کښې علم او پوهه راشي زم
دکان به سوړ شي او دې ته یې فکر نه کاوه که په پښتون قوم کښې علم راشي
به ترقي وکړي او چه تمام ترقي وکړي مونږ به هم ترقي وکړو. دوی خو د قوم نه
نه دي د دوی نه بیالاخانان ښه وو خلکه که په تمام کښې پوهه راغلله نو خانې
لي هم نقصان رسیږي خو خانانو مخالفت خو لا یو پېژ ده چه ولې نه کړ بلکه زم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر امداد یې هم کړی دی. مونږ به ملایانو ته ډېره تسله ورکوله چه که دا قام ترقي وکړي تاسو به هم ترقي وکړئ خو دغوی په دماغ کښې دا نه راتله چه ... ونډې پښتنو قام او ورسره مونږ ترقي کولی شو. دوی دومره د تیار خوړ... وبیکارۍ عادت شوي وو چه د جد وجهد ماده پکښې باقي شوې نه وه (زما ... یاد دی چه یوه ورځ په سیوا اکوام کښې د کانډهي جي سره د ډېر خلق راجمع ... شوي وو د پارټنې نه پس هغه خلکو ته داخبره وکړه دا ن چه مونږ غلامان ... او د ذلت ژوند تېروو دا ځکه چه مونږ ډېره لویه ناشکري کړې ده او د ... خدای په نزد ناشکري ډېر لوی جرم دی مونږ ځکه په مصیبت مبتلا ... چه خدای لاس او پښې راکړي دی او مونږ ورنه کار نه اخلو او ز مونږ ... هېي دله یعنی برهمنانان تیار خواره او بیکاره شوي دي د دې نعمت ... کفران په وجه د خدای له طرفه په مونږ د العنت نازل شوی دی په ګیتا ... کښې لیکلي راوړي دي چه څوک کار نه کوی او خوراک کوي هغه غل دی.)

په دغه وخت کښې قام د ملایانو او باباګانو په جال کښې کیر وو او د هغوی ... کنټرولاندې د بل چا اثر یې لا نه ومنلی او یو قام هله د چا اثر قبلوی چه اثر والا ... کښې پیدا شي. کله چه ملایانو ز مونږ د مدرسو مخالفت شروع کړو نو د ... د مدرسو د پاره مونږ د ترنګزو حاجي صاحب سرپرست وټاکه نو په دې ... وجه مونږ څه ناڅه د ملایانو د تخریب نه بچ شو. د حاجي صاحب په وجه ... مونږ ته په دې کار کښې ډېره کامیابي حاصله شوه. حاجي صاحب یو مصلح ... او د نورو باباګانو غوندې نه و دا یې لوی صفت و چه د نورو باباګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندي چاده ایرکټ یا ان دایرکټ په بیه نه شو اخیستلی، پوهنگي پ
کارکښې د پراستاذ و هغه د مسلمانانو د ډاکیو ولو د پاره مسلمانان سا
وو هیڅ ملا او بابا تری بچ کیدای نه شو دغه یو حاجی صاحب تری خدا ی
و . زمونږ د ملا رسو په مخالفت کښې هم د پوهنگیانو لاس و که خه هم د ملا
یکښې خپل غرضونه هم وو .

## دیوبند سره تعلق :

دحاجی صاحب او د هغه ملګرو، مخفي صاحب، مولوی فضل ربی او
تاج محمد دوی سره خو زما د اول نه تعلقات او تګ راتګ وخو د دې
د جوړولو په وجه زمونږ تعلقات نور هم مضبوط او زیات شو زه به کله کله
لیدو او تبادل خیال دپاره (ګلډر) ته ورتلم او دوي به هم چه کله د حا
صاحب لید وته راتلل زما لید وته به هم اتمانزو ته راتلل ،مولوی تاج م
د ګډ ر د دارالعلوم مهتمم و او د انتظام نه علاوه درس به یې هم ورک
نو د پر به لږ کډ ر نه بل چېرته نه تلو . مخفي صاحب او مولوی فضل ربی صا
به د پر راتلل او د مولوی فضل ربي صاحب په واسطه ورو ورو زمونږ تعلق
د دیوبند سره پیدا شو . په دې شپږ ورځو کښې د دیوبند دارالعلوم پرنس
حضرت مولانا محمود الحسن صاحب د پر نیک، پاک، خدای پرست
عالم و او تش کتابي عالم نه و د علم سره یې عمل هم لرلو او په دې فکر کښې وچه
به څرنګه دیوهنگي د غلامۍ نه ازاد کړی شو ؟ زمونږ هم دا فکر وا و د ملک
زمونږ مشترک مقصد و . مونږ چه به دیوبند ته لاړو نو د مولانا سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دیوبند کښې د پښتنو طالب العلمانو وو، مونږ د پښتنو طالبانو دلیدلو په بهانه دیوبند ته تللو، د مولانا یو شاګرد میاعُذیر ګل به زمونږ د خوب او خوراک انتظام کاوه. د مولانا صاحب په ذریعه ورو ورو د هغه مُلګرو سرهٔ یا نو سره زمونږ پیژند ګلوي پیدا شوه چه د هغوی نه مولوی عبیدالله سندهي او محمد میانو مونږ ته یاد دي او د نورو د پرانو اوس هیرشوي دي. دخوځي یو مولانا صاحب زما ډیر اشناو، ډیر محبتي سړی و زمانه چه به خبر شو دیوبند ته به راغی د ډېر خوراک خیزونو به يي د ځان سره مونږ ته راوړل دخوځي اچار او کولچې ډیری مشهوري دي افسوس چه زما د مولانا نوم هیر دی شاید زما په هغو ورکوشو ونوټ بکونو کښې وي. رښتیا خبره داده چه زمونږ په خپلو کښې ډېره مینه محبت و دچاچه مقصد او نصب العین یووي هغوی کښې همیشه مینه وي محبت وي هغوی کښې به رأی اختلاف هم وي خو دا اختلاف د هغې دلې دپاره رحمت وي: دا ځکه چه تاسو په د لو کښې په ې جنبې و ینۍ تاسو تحقیق وکړئ د هغوی مقصد او نصب العین یو نه وي ځکه خو ځای د رحمت په ځای د هغوی دپاره زحمت شي ځکه چه دوی دا کار د خدای او د خدای د مخلوق دپاره نه کوي دخپل ذاتي غرض دپاره يي کوي د نفس لاري ډيري وي او د خدای لاره یوه وي نو د خدای دپاره خدمت او پر ې جنبې دوه متضاد خیزونه دي.

زمونږ زیاتي خبري اترې، سلاکاني او مشوري به مولانا محمود الحسن صاحب او مولوی عبیدالله سندهي سره وي. په هغو ورځو کښې ډیر نګیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر رعب وداب و او دخلکو په زړونو کښې دهغوی ډېره ډېره ناسته و
او دهغوی دمخبرانو هم پوه زوره وره سلسله وه نوچه مونږ به هر کله دیوبند
ته تللو نو دهغوی د وېرې به مو د دیوبند نیغ ټکټ نه اخیسته مونږ به ټیس
دی خوا یا هغه خوا دکادي نه کوزېد و بیا به پیاده یا په بله ذریعه پټ دیوبند ته
ور تللو چه پرنګیان را باندې پوه نه شي. مولوی عبیدالله سندهي په ډیلي کښې
دفتحپوري لوئ حجومات سره یو ځای اخیستي و او هلته به یې هلکانو ته دقرآن
شریف درس ورکاوه او کوم هلکان چه به بي. ای پاس وهغوی له به یې
پنځوس روپۍ دمیاشتې وظیفه هم ورکوله او درس به یې هم مفت ورکا
او هغه وخت پنځوس روپۍ ډېر شي و. دهغه داخیال وچه دمسلمانانو
تعلیمیافته زلمو کښې به زه دقرآن شریف د درس په وجه دحریت او خد
جذبه پیدا کړم لیکن سندهي صاحب پخپل مقصد کښې کامیاب نه شو
سندهي صاحب لوی عالم و دهغه په شان په قرآن کوم غوک نه پوهید
او نه یې دده په شان درس ورکولی شو خو په مسلمانانو کښې دجد وجهد ما
پاتې شوې نه وه کښې همدغه د پرنګیانو په ملاسو کښې هندوانو هم تعلیم کړ
و. په هندوانو ددې تعلیم یو قسم اثر شوی و او په مسلمانانو بل قسم اثر شو
په هندوانو کښې یې دخپل قام مینه او دهغوی دخدمت جذبه پیدا کړې
او په مسلمانانو کښې خدمت او مینه خو پرېږده هغوی دقام او ملک نه خ
هم نه وو. دمولانا په شاګردانو کښې دهغه ډېر نزدې شاګرد چه دسندهي
پرې ډېر اعتماد و. بي. ای پاس وقرآن یې دمولانا په ترجمه ختم کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



باوجود «ددې تولو خبرو د پرنګیانو مخبر و خوت. د سندهي صاحب د دوستانو او شاګردانو او ټولو حالاتو د ایری به یې هره ورځ حکومت له ورکوله. د سندهي صاحب «د شاګرد رشید چه دغه حال وي د نورو به څه حال وي ؟ د قام مینه او خدمت او د حریت جذبه یوازې په تعلیم نه ده. مونږ چه د قام د خدمت او ازادی تحریک شروع کولو زه په ښارونو کښې تعلیمیافته وپسې ډیر وګرځېدم ما په معنوی کښې داسې خلک پیدا نه کړی شول چه د خدای د پاره د قام خدمت ته تیار شي، د باباګانو او بزرګانو مې د پرخاطر ساتلی دی او خدمت مې کړی دی. د دې طمع چه دده خوزرګونه مریدان دي که دی یو ځل زمونږ ملګری شي نو خلک به زمونږ ملګرتیا او ملاتړ وکړي. د ملایانو مې ډیره خوشامنده کړې او ډیرې منتې مې ورلپسې وهلی دی خو ډیر ولږ و د اسره ملګرتیا کړې وه لکه په اوړوکښې مالګه. او چه د دوی نه مایوسه شوم ښارونه مې پرېښود کلو بانډو ته ووتلم او عوامو ته ورغلم په غلورو میاشتو کښې دومره خلک د اسره پاڅېدل چه پرنګی ورته وویرېده. زه دولس کاله په تعلیمیافته وپسې ګرځېدلی خو د دوی نه مایوسه شوم او کلو ته ووتم نو په زرګونو خلک د اسره ملګری شول.

## شیخ الهند صاحب او سندهي صاحب:

مونږ چه به دیوبند ته لاړو نو شیخ الهند صاحب به سندهي صاحب ته خبر ورکړو اکثر به ذی دیوبند ته راغی او کله نا کله به زه دده لیلی وا و سلامشوری ته دیلی ته ورغلم. د سندهي صاحب ځای د فتحپوری جومات سره وه زه به نیغ د هغه ځای او درسګاه ته نه ورتللم ځکه چه دده په ځای کښې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



سی. آی. ډی. همیشه حاضرواو دا داسې وخت و چه چاته به زمونږ علاقه کېښې
مولانا ابوالکلام ازاد جاري کړی د رساله الهلال راتله نو پولیس به ور پسې و
حکومت به په تورلست کښې لیکه او چه حکومت به لږ په چا بدګمان شو چ
ده په زړه کښې دا ازادی اوقام او ملک مینه او خدمت جذبه ښشته نو
دې خدای مل شه. ځکه به زه دهغه درسګا ته نېغ نه تلم فتحپوری جو
ته به لاړم چه لمونځ به وشو په جومات کښې به مو سره ولیدل که خبرې به مو
وی په جومات کښې به تمامې شوې. سندهي صاحب به خپل ځای ته لاړ او
به خپل نور کار پسې لاړم او که خبرې به خلاصې نه شوې نو سندهي صاحب به ز
چای څکلو د پاره د ځان سره بوتلم چای به مو هم وڅکلې او خبرې به مو هم و
د سندهي صاحب د لیدلو نه پس به زه په ډیلي کښې نه پاتې کېدم او د ش
په ګاډي کښې به کلي ته راروان شوم خو کله چه به مې نور کار پاتې و نو پاتې به
زه چه به پاتې شوم د مولوی سیف الرحمن صاحب سره به پاتې کېدم، مولوی سیف
زمونږ د دواړو. ډېر عالم، پوه او سیاستدان سړی و. مولوی سیف الر
د نورو ملا یانو په شان د محدودو خیالاتو خاوند او تنګ نظره نه و، په ګوټ
کښې به نه ډوبېده د اوچتو خیالاتو خاوند او بلند نظره و، ډېر دمز واوز
دل سړی و. فتحپوری د ډهلي یو جامع مسجد و او په هغې کښې یو عربی
وه او مولوی سیف الرحمن د دې مدرسې صدر مدرس و.

## قوم پرستی:

کله چه زما سوسایټي بدله شوه او د قام پرستو سره مې مخه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د قام پرستی کومه ماده وه هغه را وپښه شوه. داخبره خو ما لا په وړوکوالي کښې په طالب العلمی کښې محسوسه کړې وه خو د مخفي صاحب، مولوی عبدالعزيز صاحب او مهتمم صاحب په مجلسونو کښې وده وکړه خصوصاً د مخفي صاحب د مجلس په ما ډېر اثر و. په دې وخت کښې زما دوه خيزونو سره ډېر شوق و، يو زميندار ای سره او بل د مطالعې سره. د زميندار ای د پاره خو ما ته بلا ډېر ما منل ناری (محمد ناری) کښې شپېته جر پېره حُمکه راکړې وه. په هغې کښې به ما خپله زميندار ی پخپله کوله او د مطالعې د پاره به مې د مولانا ابوالکلام از اد الهلال اخبار کتو، چه يو عالمانه اخبار و او هر مضمون به يې د علم نه ډک و او د ازادې او حريت علمبردار و او د اسلام په حقيقت به يې خلک پوهول او بل مې زميندار اخبار راغوښتل. زميندار اخبار د مولانا ظفرعلي خان اخبار او ډېر قام پرست اخبار و، د امې کنده نه وکه وروستـه چه د اخترعلي خان د هغه زوی په لاس ته ورغی. بل مې مدينه بجنور اخبار راغوښته چه ډېر قومي اخبار وٌ. يو مې انګريزي اخبار چه (د سول اينډ ميلټري ګيزټ) نوميده راغوښته ورسره به مې د ديني او نورو کتابونو مطالعه هم کوله. چه طالب العلم وم د مطالعې سره مې شوق نه و خو چه د ملي سو کارمې شروع کړ د مطالعې شوق راسره پيدا شو. الهلال او زميندار چه به هغه وخت چاله را تلل نو هغه به د حکومت دستر کو اغزی و او د هغه نوم به بليک لسټ کښې و. ولې چه دا دواړه اخبارونه قام پرست وو قام يې را ويښاوه او پوهاوه او قوميت او جرئت يې پکښې پيدا کاوه. بديشي حکومتونه خو پېدې ولاړ وي چه په خلکو کښې ويره پيدا کړي او د خلکو له زړونو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه وېره وړکه شي د بدلیشي (بهرني پردي) حکومتونو بنیاد و نړېږي او د بدلیشي حکومت مثال دغله وي چه د کور خاوند را ویښ شي نو باغل کله تېښتېږي شي نو ځکه د انګریزي حکومت د دې قسم اخبارونه خوښ نه وو. ځو ځله ما پسې پولیس راغلل چه ته دا اخبارونه مه راغواړه بندیې کړه، د حکومت نه خوښېږي ځکه چه دا اخبارونه لولي حکومت یې خپل دښمن ګڼي، تا ته به د ېر نقصان ورسېږي ما ورته لنډ جواب ورکړو چه د حکومت خوښ نه دي حکومت دې په خپله بندکړي هغوی به وویل چه حکومت خو یې نه بندوي ما به ورته وویل چه زه یې هم نه بندوم.

مخفي صاحب به هم چه چېرته ښه کتاب پیدا کړ هغه به د مطالعې د پاره ما ته راوړه. یوه ورځ یې را ته د عبدالحلیم شرر یو ناول چه د زیاد او حلاوه، نومېده راوړی و او را ته یې وویل چه دا کتاب په ښه شان مطالعه کړه هسې هم زما طبیعت داسې وچه مطالعه می د نورو په شان د ېره نه شوه کولی خو چه خدمې کولی شوه نو ځان به می پرې ښه پوهاوه او ښه غور به می پرې کاوه چه مطالب یې ښه هضم کړم. دا ناول د سپین (هسپانیه) په باره کښې لیکل شوی و او دا یې لیکلی و چه د سپین عیسائیانو د مسلمانانو د اتو سوو کالو تسلط ته څو نګې خاتمه ورکړه د دې ناول په لوستو ما ته په خپل کار کښې د ېره ګټه ورسېده. مخفي صاحب به چه په خپله نوي شعرونه جوړ کړل هغه به یې هم ما ته راوړل او را ته به یې اورول ما ته به د مخفي صاحب شعرونو د ېر خوند راکولو خوند څه چه په ما به یې د ېر اثر کولو. د هغه د ېر شعرونه ما ته اوس هم یاد دی ما د مخفي صاحب به الهلال یو ځای لوسته په مضمونونو به یې مونږ د ېر بحث کاوه او څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځله به مولوسته او چه خومره به وس کېده نوروته به موهم اورولو. د ښتیا خبره داده چه مونږ الهلال د اسلام په حقیقت پوه کړي یو او دې اخبار زمونږ مخه دې خواته کړه.

دا هغه وخت و چه د پرنګي د حکومت له وېرې به چاپټ په حجره کښې د پرنګي خلاف خبره نه شوه کولی مونږ به چه دا قسم خبرې کولې چرته پټ ځای ته به لاړو. زمونږ کلي د پېرکېن کلي دی هلته به مو پټې خبرې هم نه شوې کولی او د پېره لږه به د پټو خبرو موقع راته پیدا کېده کله به د حاجي صاحب ځای حاجي اباد ته لاړو کله بل خوا. یوه ورځ مولوي فضل ربي صاحب او مخفي صاحب او زه ماښام ناوخته ته چه په مېره کښې زمونږ یو کلی دی او د پېښو نهر پکښې بهېږي او د پېښکلي ځای دی لاړو د شپې د ډوډۍ انتظام راته وشو د ماښام د لمانځه نه وروسته په سړک کوځو او خبرې کوو چه شاته مو وکتل یو سړی راپسې دی په مونږ وارخطایي راغله زمونږ دا خیال شو چه دا سړی کوندی مونږ پسې لګېدلی دی د هغه ځایه مو ډوډه چېلي کړې او دوه پردۍ پاره ډوډۍ مو پرېښوده او د کور خاوند ته مو خبر قلدې هم ونه کړو به سلو مټو زمونږ یو بل کلي مړوندۍ ته ماسختن (ماز ختن) ورسېدو زمیندار او دهقان ډوډۍ دوخته خوري هغوی ډوډۍ خوړلې وه زمونږ پاره یې په شپه کښې نوره ډوډۍ پخه کړه ډوډۍ مو وخوړه او الحمدلله وده شوو. په داسې حالاتو، واقعاتو او مشکلاتو کښې مونږ کار شروع کړی وه سره له دې زمونږ کار ورځ په ورځ ترقي کوله ځکه چه زمونږ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخدای دمخلوق دپاره و زمونږ یکښې ذاتی غرض نه و بلکه ذاتی موږ یکښې
نقصان و .نقصان دا وو .چه ده نان اخته ده پاره تجارت زیب
مونښوه کووے .خرچونه به کیدل +
ورومبی واده:

د ۱۹۱۲ع کال په اخر کښې پلار ماله واده وکړ. زه لاهلک وم په سکول کښې
می سبق ویلو .زمونږ کلی ته نږدې دخوږ (دزړو) نومی کلی کښې دکنان خیل
خانانو په کورنۍ کښې لې راته کوژده کړې وه .زما په کمان چه زما سخر دخسر
یار محمد خان اولنی خان وچه په لور لې روپۍ وانه خیستې .هغه وخت ک
خان به وکه غریب دخور لور په سر به لې پیسې اخیستې .دا رواج خلکوته با
نه ښکاریدو نن هم پښتانه دخور او لور په سر روپۍ اخلی خوخلک ورته بل
په اسلام کښې دخور او لور په سر پیسې اخیستل لو یه گناه ده بلکه اسلا
خوخویندو او لونوته د پلار ،مور او ورور په میراث کښې برخه ورکوي .زما س
ډیر سخی او میلمه دوست سړی و ډیر دوستان او اشنایان لې لول د
کلی په غریبانو به لې خاص نظر ساته چه څه وخت مړ شو ما پخپله لید لی
مړو ،ښځو ،خپلو ،پردو ورلیسې په زار زار ژړل پخپله لې تعلیم نه وکړی خو
سره لې ډیر شوق و زما بابا ته به لې ویل چه هغه یوزوی دې تالندان ته تعلیم
لیږلی دی دا بل به زه ولیږم دامی اوریدلی وچه سخت مریض شو نو لې و
زه وصیت کوم او خپلو زنانه وارثانو ته دشرلعیت په مطابق حق او حصه ورک
خپلو خپلوانو پرې ښبوده .ډیر خانان لې دوستان وو خو دده له مرګه وروست
هم دده دماشومانو پوښتنه ونه کړه ځکه چه دهغه نه قول وار ۲ ماشومان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چار درویش په قصه کښې د یوسوداګر د زوی قصه کوي چه د پلار نه ورته ډېر مال او دولت پاتې شوی و او ده هغه ټول په یارانو، دوستانو وخوړلو کله چه د مال او دولت نه کنګال شو نو په ډېره بده ورځ په لاره روان دی یولاروی ورپېژانده ورنه یې پوښتنه وکړه چه ته هغه د سوداګر زوی نه یې؟ ده ورته وویل چه ولې نه یم هغه ورته وویل چه ته په دې مصیبت اخته شوی یې ستا خو ډېر یاران او دوستان وو ددوی نه به څاربېدل او قربانېدل هغوی دې هیڅ امداد ونه کړ هغه څه شو؟ ده ورته وویل چه نه هغه زما دوستان نه وو هغه د دسترخان مچان وو چه د دسترخان بې غوړېدلی دوی پرې ښېېدل او چه دسترخان ټول شو مچان والوتل.

ماسره د خپل قام د ښځو ډېر قدر او عزت و او ډېره همدردي ورسره وه ولې چه زمونږ په قام کښې هم لکه د نورو مشرقي قومونو په شان د ښځو قدر نه و دوی به د سړو نه ښکته کمزلي شوی حالانکه چه پستي او بلندي په عمل ده که د چا عمل پست وی هغه نروی که ښځه په کار دی چه پست وګڼل شي او د چا عمل چه وچت وی نروی که ښځه په کار دي چه په درانه نظر ورته وکتل شي، خدای خو نر او ښځه د دنیا د ابادي دوه ملګري پیدا کړي او د بشریت د ګاډي دا دوه پایې دي دا ګاډی په یوه پایه نه شي چلېدی او بیا زمونږ د پښتنو ښځې خو ډېرې پاک لمنې حیاناکې، مینه ناکې او وفادارې دي او ډېرې خدمتګارې دي، مونږ چه به کله ناکله د خپلو خپلوانو کره مېلمانه شو سره د دې چه نوکرانې به وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوزموږ. د خپلوانو ښځې به د انه چاپېره گرځېدې او د پر په اخلاص به دی
زموږ. خدمت پخپله کولو کوم ښه ښځه چه به یې پوخ کړې وهغه به یې زمو
مخی ته راوړاندې کولو او چه زموږ. نه به څه پاتی شو دوی به بیا هغې
کښېناستې او هغه به یې خوړلو. په ابتدا کښې به سره د دوی سره یو
دوډۍ نه خوړه او ښځو به هم د نارینه و سره په یو دسترخوان دوډۍ خو
عیب گڼل د قولونه اول د اخبره ما محسوسه کړه او چه کله به میلمانه نه
د دوی سره می په یو دسترخوان دوډۍ خوړه اول دا رسم مامات ک
او وروورو په تولو خلکو کښی دا د رواج اصلاح وشوه . ما چه وا ده وک
زما ښېرنه به ماسره یو ځای دوډۍ خوړل د یرعجیبه ښکار یدل اول
به یې په اسانه راسره دوډۍ نه خوره . یوخو به خکه ښځو دوډۍ ورو
خوره چه د میلمنو او نارینه و نه څه پاتی شو نو دوی به بیا پرې راغونډې ش
او که به کافی غذا پاتې نه وه هم دوی به پرې قناعت کولو او بله دا وه چه سپې
سړو ښځو به خوانو ښځو پسې خبرې کولې چه خو دې ته ددې زمانې ښځو ته د گ
خومره کلک سترگې دي د خپلو مېړونو سره یوځای دوډۍ خوري موږ. خدا
داسی زمانې ته پاتی کړو . خو اخر دوی هم ورسره بلدې شوې او دا کار بیا بد نه
کېدو . د میلمه وخت هم معلوم نه و هر وخت به چه میلمه راغی ښځې غریبانا
به مجبورې وې چه د دوډۍ غم ورته وکړي . که نیمه شپه به وه او
دا پر پښکال تکنده غرمه به وه چه میلمه به راغی نو هغه به هم ښه د ود
غوښته او کور به به هم ښه دوډۍ ورکوله . زموږ. تحریک کښی بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې هم اصلاح وشوه موږ خلکو ته وویل چه یا به ناوخته په چاپ مېلمانه کېږئ اوکه ناوخته په چاپېښ شوئ چه څه تیاروی هغه به خورئ اوکه څوک در باندې ناوخته راپېښ شو هم تیاره به ورته مخکښې ږدئ او په دې شان مو د ښځو تکلیف لږ څه کم کړ.

په هغه وخت کښې هلکان چا تعلیم ته نه پرېښودل د جونو تعلیم خو بالکل د کفر سره مترادف ګڼل کېده ملایانو به تعلیم ته څوک نه پرېښودل زما یاد دی ما چه لور به سکول کښې داخله کړه نو د خو پرېږده چه خپله سخر کښې هم را نه خپه شوه حالانکه دا سکول د یو خان په کور کښې وخاص د جینکو د پاره د یو قسم پرائیویټ (مخصوص) مدرسه وه. د خان تبر پخپله درس ورکولو. اوس هم ډېر خانان خپلې لوڼه په سکول کښې نه داخلوی ملایانو دې ته نه کتل چه اسلام خو علم په نرو او ښځو یو شان فرض کړی دی یوازې د مدرسو مخالفت یې نه کولو د اخبارونو یې هم سخت مخالفت کولو اول خو به یې ویل چه په دې کښې ټول دروغ دي په چل ول د خلکو نه پیسې اخلی بیا چه خلک لږ لږ پوه شول چه په اخبارونو کښې خو د خدای او رسول خبرې هم وي بیا به یې دا پروپیګنډه کوله چه په اخبارونو کښې د آیاتونو بې حرمتی کېږي په اخبار کښې آیاتونه لیکلی شی او بیا په لاروکوڅو او ډېرانو کښې پراته وی.

ماله چه به کوم اخبارونه راتلل ما به په حجره کښې خلکو ته لوستل خو چا به ورته ښه غوږ نه ایښودیو الهلال ته به یې لږ غوږ کښېښو ځکه چه یو خو پکښې د خدای او رسول خبرې وې او بل د ابو الکلام ازاد اخبار و..

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه اوس هم د اخبار لوستلو شوق نه لري په چټې خيزو تو به بې خا
رواجونو په زړ کونو روپۍ خرڅ کوي خو په اخبار يوه پيسه نه ورکوي او هغه وجه
ده چه د دومره بهادر او لوی قوم په خپله ژبه کښې يو قومي اخبار نشته - زمونږ يو
لوی خان و يوه ورځ يې په ښار کښې يو هلک ليدلی دی چه اخبارونه ورسره دي
او چغې وهي چه اخبار واخلئ ، خانصاحب ګمان کړی دی چه دا کوندی ورباندی
اخبار يي ورنه اخيستی دی خو چه هلک ورنه پيسې غوښتې دی ده اخبار بيرته
ورکړی دی او اخيستی يې نه دی ځکه زمونږ د اخبار سره مينه نشته نو څنګه
زمونږ په خپله ژبه کښې اخبار هم نه و . ځکه چه يې د اخبار سره مينه نه وه د غسې
يي د خپلې ژبې سره هم مينه نه وه د تعليميافته کسانو سره به مې چه د ژبې په باره کې
خبرې وکړې دا به يې ويل چه پښتو لا د څه ژبه ده ؟ په دې کښې علم نشته پښتو
کښې څه دی ؟ ما به ورته ويل چه هلکه دا نورې ژبې خو د اسمانه نه دي را کوزې
شوي دهری ژبې ويونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده . پښتنو چه خپلې ژبې ته
توجه نه ده کړې دې کښې د پښتو ژبې څه ګناه ده او دا خو زما او ستاګناه ده
ماچه وا ده وکړه کله چه به مې اخبار لوست تو به مې ورته ويل چه دا اخبار
څه لولې دا خو ټول دروغ دي ما به ورته ووې چه نه دا خو پر اپګنډه ده اخبار لوست
د پر ضروري څيز دی بيا به غلي شوه ويل به يې زه څه خبره يم خو خلک دا
وايي بيا به يې دا نه پوښتنه وکړه سبه ده نو څه په کښې دي ما هم پرې پوه کړه
به مې ورته ويل چه دې کښې د ټولې دنيا حالات دي ما به بيا ورته ځينې مطالب
د پښتو ښځې د ناربينه نه ذهينې دي د هغې هم د اخبار او تعليم سره ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلچسپي پیدا شوه د قرآن او دین او نورو ضروري خبرو معلومات به مې ورته ورکول. هغه به پلار د ډېر ګرانه وه په خپله پلار ګڼلی یې د ډېر اثرو دهغې په وجه زما د سخر ګڼلی په ښځو کښې هم ډېره تبدیلي راغله زما به همیشه دا کوښښ وُ چه د ښځو د مغزونه د کهتري احساس لیري کړم ځکه چه په دوی کښې دا احساس خودغرضو او نا پوهو سړو پیدا کړی دی زما به ځېل تېر سړه په دې خبره بحث کولو چه ښځه او نر دواړه د خدای په نزدیو شان دي د دروند والي او سپکوالي په عمل دی او دا به مې هم ورته ویل چه د دې احساس په پیدا کولو کښې تاسو ښځې پخپله هم ګرمې یئ ځکه چه زوی ته به یوه نظر کوئ او لور ته په بل نظر او د ورو کوالي نه د جینکو په مغزو کښې دا خبره کښېنوئ چه هلکان او نارینه خدای د جونو او ښځو نه بهتر اولوی پیدا کړی دی بیا به مې ورته دا هم ویل چه انسان د خدای په ټول مخلوق کښې اشرف ګڼلی شی نو بیا دې وجې لي د نور مخلوق نه ذمه واري زیاته ده خو زه چه دې ځېل قوم ته ګورم ما ته په دوی او ځناورو کښې فرق نه ښکاري د دوی سړه هم د خپلې ګېډې غم دی او د ځناورو سړه هم د خپلې ګېډې غم دی د دوی سړه هم د ځېل کور غم دی او ځناورو سړه هم د خپلې جالې غم دی دوی هم بچي راوړي او د خپلو بچو غم خوري او ځناور هم بچي زیږوي او لویوي یې نو دوی په څه اشرف المخلوقات وبللی شی؟ دوی هم لکه د ځناورو په شان یو بل وژنی دوی به هله اشرف المخلوقات وګڼل شی چه دوی کښې اجتماعیت، ورورولي، عزیزولي او مینه محبت پیدا شی. تش په دې چه نور ځناور په خلورو پښو ګرځي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان په دوه پښو ،اشرف کېدی نه شي . یوه ورځ مي په خبرو خبرو کښي ورته وویل
چه ناربینه مرشي ښځه کونډه تون کوي او چه ښځه مړه شي ناربینه سمدستي
بله ښځه وکړي . په کارخو دا دی چه ښځي ښحنېتن مرشي چه هغه هم بل مېړه وکړي
ماوې زما په خبره پوه شوې ؟ دې ویلي هو ! ماوې معلومه نه ده چه څوک به
دخلکښي مړی خو که زه مرشم او ته خوانه وې دبل مېړه به کولوکښي هیڅ شرم
ونه کړې دې راته وویل دادې غیرتې خبرې راته مه کوه .

## آګره کښي د مسلم لیګ جلسه :

په ۱۹۱۳ع کښي په آګره کښي د مسلم لیګ سالانه جلسه وه هغه وخت
به د مسلم لیګ جلسي په دسمبر کښي د برې دن په چوتیو کښي کېدې ماچه به
اخبارونو کښي ولوستل چه د آګرې په ښار کښي د مسلم لیګ جلسه ده نو
اراده مې وکړه چه ضرور به په دې جلسه کښي شرکت کوم ولې چه دا سیاسي
جلسه وه او زمونږ په ملک کښي سیاسي جلسي نه وې او نه ورسره خلک
بلد وو . که څوک پرې پوهېدل هم د پرنګیانو د وېرې چا د جلسي نوم قدرې
اخیستی نه شو د پر خلک خو ترې خبر هم نه وو زمونږ په علاقه کښي هغه وخت
د ملایانو به په داسي مسئلو بحثونه وو چه د تام او ملک او اسلام ته به ترې
هیڅ نایده نه وه مثلاً چا به ویل « ضالین » دې او چا به ویل « ظالین » د
چا به ویل د سابي تو به قبوله ده چا به ویل نه ده قبوله . دغه شان چا به ګوته اوچتول
سنت ګڼل چا به بدعت . په دغسي خبرو به د ملایانو بحثونه وو په خو
او او ښارونو به کتابونه بار یو ځای نه وړه او بل ځای ته وړه او بحثونه کوه او خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه فیصله کوه  په دی نو که به یي دخلکو توجه دژوندانه دمهمو مسایلونه بل پلو اړوله ماته په دې کښي دیر نکیا نولاس ښکاریږه ځکه چه کله کله به دا خبره هم پکښي اوچته شوه چه که دانګریز او روس جنګ شي مونږ له دچا امداد کول په کار دی د دې سوال په جواب کښي به بیا اختلاف نه وتولو به ویل چه انګریزان اهل کتاب دي او روس سود کافر دی مونږته دانګریز مرسته ضروری ده حال دا چه انګریزان هم عیسائیان دي او روسان هم عیسائیان وو .

یوه ورځ په مامند نارۍ کښي دجمعی دلمانځه نه وروسته ناست یو چه په دې خبره بحث شو چه دسابی توبه قبوله ده که نه ده ؟ یو ملا ناست و د دې ملا په نوم مشهور ؤ هغه ووې که څوک وایي چه قبوله ده زه یي ثابتوم چه قبوله نه ده او که څوک وایي چه قبوله نه ده زه یي ثابتوم چه قبوله ده مطلب یي دا و چه خلکو ته ښکاره شي چه زه دومره لوی ملا یم چه ناروا خبره روا ثابتولی شم او په خلکو یي هم اثر ؤ نا ستو خلکو یو بل ته وکتل او وي ویل چه ډیر لوی عالم دی خو ماته دده خبره عجیبه ښکاره شوه چه په مذهب کښي خو دوه خبرې نه وي یوه وی نو ما ورته وویل چه ملا صاحب که خدای او رسول وایي چه قبوله ده نو ته به یي څنګه نا قبوله کړې او که هغوی وایي چه نا قبوله ده نو ته به یي څنګه قبوله کړې د ملا صاحب زما خبره خوښه نه شوه او خبره یي په بله واړوله . دوی به خپله ملایی خلکو ته ښو ده او دقام یي ستړه ښکله . په خلکو کښي یي دومره نفرت پیدا کړی و چه اکثرو د یو بل مرې ژوندی پرېښي و دیوی دلی مشرمانکی ملا صاحب او دبلې دهلی ملا صاحب ؤ یو په بل به یي د کفر حکمونه کول حال دا چه دواړه یو خدای منلو

سه ده منتران نه معلوم شوي وه. چه د اشر شیخان جوړ کړي وو، د عنه
بېسه ئې د روخ و ډيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو رسول يې منلو، يو قرآن يې منلو او د يو حنفي مذهب پيروان وو حتی د يو
پير مريدان وو. د سوات صاحب مريدان وو.

زه او زما د سبق ملګري عبدالحليم د مسلم ليګ په جلسه کښې د ګډون
د پاره آګرې ښار ته روان شو. شپه مو نوښار ته پوره حلته د نوښار په تانه کښې
تاميل ار د دوه سرو غلام سرور خان و. د نوښار د تانې خوا و شا آبادي نږد
سپېره ډاک و. غلام سرور خان په خټه کلي کښې او سېده شپه مو د هغه
سره شوه د ډاک ګاډي د شپې په يوولسو بجو را روانېده او په پوره بجه نوښار
ته راورسېده مونږ په دې ګاډي کښې آګرې ته تللو چه د شپې دوه
په خټه کلي کښې وخوره د شپې په ۱۲ بجو د ګاډي په پټلۍ باندې نيم ستېشن
ته راروان شو په لاره کښې ځناور وغرار شو، د غرار يې اواز ورو ورو مونږ
ته رانږدې کېده مونږ په دې فکر کښې وو چه دا اواز به د څه شي وي چه
په دې کښې ځناور را باندې حمله وکړه. مونږ هيبت واخيستو شور موجو
کړو د خداى فضل و خوله يې را وانه چوله بچ شو معلومه شوه چه هغه شرمښ
وو غلام سرور خان پرې د تمانچې ډز هم وکړو. مونږ تيپس ته ورس
لو. ساعت پس ريل راغى او مونږ دواړه د غلام سرور خان نه رخصت شو
آګرې ته روان شو، چه آګرې ته ورسېدو په يو سراى کښې مو يوه کوټه ب
کرايه واخيسته په کښې ديره شو. سباله جلسه شروع کېدونکې وه مونږ
سهار وختي د جلسې ځاى ته لاړو د جلسې د پاره لوى پنډال جوړ شوى
ستيج د پاسه او لاندې کرسۍ لګېدلي وې مونږ ټکټونه واخيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوسو کښې ناستو. سرابراهیم رحمة الله ددې جلسې صدر او مولانا ابوالکلام ازاد، سر آغاخان او دهندوستان نور دېر غټان دستیج د پاسه په کرسو ناست وو. د صدارت دخطبې نه وروسته قسما قسم قرار دادونه وړاندې شو او مختلفو کسانو تقریرونه وکړل. سر آغاخان هم په فارسي ژبه کښې دېوښکلې تقریر په دېره فصیحه ژبه وکړو. د دری ورځو پورې جلسه وه، د جلسې دختمېدو نه پس مونږ د تاج محل شاهی جومات او منار سیل وکړو او بیا ډاکرې نه دیلي ته لاړو هلته د مولوی سیف الرحمان مېلمانه شو، دیلي کښې مو هم دکتلو قابل ځایونه ولیدل. یوه ورځ په شاهي مسجد کښې ناست وو یو سپین ږیري ووئیل چه دیلي هیڅ سره وفا نه ده کړې معلومېږي چه انګریزانو هم زوال په برخه شوی دی چه دارالحکومت یې دکلکتې نه دیلي ته رابدل کړو. په دغو ورځو کښې دارالحکومت رابدل شوی و، څلور دیرش کاله پس دهغې سپین ږیري پیشګوئي رښتیا شوه.

په دې ورځو کښې به کانګرس او مسلم لیګ دواړو ډلو دپېرنګیانو نه دعهد و مراعاتو نو سوال کولو او قرار دادونو به یې پاس کول چه مونږ. ته دا راکړئ او دا راکړئ. دهندوستان دمنوربنو (اینټیلیجنسیا) اکثریت په کانګرس کښې وو، څه وخت چه ګاندهي جي دافریقې نه راغی او به په کانګرس کښې شامل شو دکانګرس حالت بدل شو دتشو مطالبو او تشو خبرو به ځای دملک د حقوقو داخیستلو د پاره عمل او جد وجهد شروع شو. حقیقت دادی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه حق خوک چاله ورکوی نه بلکه حق اخیستل کېږي . کله چه د کانګرس پالیسي د
منتونو او زاریو په ځای عمل او جد وجهد وشو هغه کسان چه مصیبت کالل
وو لکه جناح صاحب ، ګنزرو ، جیکار او سپرو او نور د کانګرس نه ووتل ، جناح
صاحب مسلم لیګ ته لاړ او دې نور ولیبرل پارټي جوړه کړه . خبره داسې وه
څه وخت د رولیټ ایکټ مسئله پېښه شوه نو جناح صاحب او سپرو وغیره دا
قول مخالف وو نو سوال دا پیدا شو چه که حکومت زمونږ مطالبه ونه منی نو بیا
څه کوو ؟ دی ذکر شو کسانو وویل چه احتجاج به کوو ددی نه پس سوال داسې
پیدا شو چه که بیا حکومت هم مطالبه ونه منی نو بیا به څه کوو دی کسانو وویل « بیا
هم احتجاج کوو » کانګرس والو وویل که زمونږ خبره حکومت ونه منی نو جد وجهد
به کوو » په دې خبره دوی جدا شول .

## کلی وطن کښې تعلیم او تبلیغ :

څو ورځې پس له دهلی نه کلی ته راغلو چه کلي ته راغلو خبر شوم زما ز
غني پیدا شوی دی . زما د ټبر ورور نه ؤ نود زوی په پیدا کېد و د ډېره خوشالي
د جمعې په ورځ کښې به د حاجي صاحب په ځای کښې د ډېر خلک جمع کېدل ، د
د پاره به له لیرې لیرې ځایونو نه راتلل . زه به هم که په دوره نه وم خامخا ور تل
مهتمم صاحب ، مخفي صاحب او مولوی فضل ربي صاحب به هم د سلام شو
د پاره کله ناکله راتلل . د جمعې د لمانځه نه پس به ما خلکو ته وعظ او نصیحت
کاوه خو د ملا یانو نه خوښېده ځکه چه زمونږ ملا یان د برهمنانو غوندې ځا
د مذهب ټیکه داران ګڼي . ما د خپل قام د اصلاح دا کار د خدای د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی پروامی نه ساتله اخرپی رالیسی پیته پیته پراپیګنډه شروع کړه چه دوی خرپیلی ده او وعظونه کوي اول خودې خپل ځان په شریعت برابر کړی بیا دې نورو خلکو ته نصیحت کوی. ددوی خو په زیره او اسلام غرض نه و زمابه ذاتمول پی غرض و و قوم هم ناپوه او جاهل و چه ملا به ورته ووې چه دا مذهب دی ده هم منله. ملایانو زیري له دومره اهمیت ورکړی و چه ټول اسلام پی تش دزیري پوری تړلی و حال دا چه مذهب خو بنه عمل دی، مذهب خو په بنیادی ډول داخلاقو او عمل سره تعلق لري زیره پرېښودل او بریتو نه خرپیل دا دعربو تهذیب و. یوازې دصحابه (رض) نه بلکه د اسلام دد ښمنانو عربو بلکه ابوجهل، ابولهب وغیره وهم زیري وې. سره ددې هم ددې دپاره چه دملا یانو داعتراض نه خلاص شم زیره می پرېښوده له خو بیا هم د ملا یانو نه خلاص نه شوم بیا به پی ویل چه دموټی نه کمه ده. ددنیا تاریخ ګواه دی چه په کوم قوم کښې داسې اشخاص پیدا شوی دی چه هغوی دخپل قوم د اصلاح دپاره پاڅېدلي دي د اقتدار خاوندانو پی مخالفت کړی دی ولی چه هغوی خپل اقتدار په خطر کښې لیدلی دی تاسو دې خپل د خدائی خدمتګار و تحریک ته وګوري څومره چه قوم کښې پوهه راغلی ده هاغومره د اقتدار دخاوندانو قدرت کم شوی دی او دخپل پیغمبر (ص) ژوند مطالعه کړي چه خپلو ترونو، تربورانوپی مخالفت وکړه دڅه دپاره؟ د اقتدار دپاره. او د مدینې خلکوپی ملاتړ وکړو ولې چه دهغوی سره نه مذهبی اقتدار و نه سیاسی سو دو چه پی مخالفت وکړو وهم د اقتدار دپاره و.

زمونږ ملدرسې په ترقئ کښې وې پښتون ژوندی قوم دی خو چه د

ګښه زیره خرپیل ملا کار دے ځکه ٭ عمل نه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دڅوندی کولو خلک پکښې پیدا شي ترڅو چه په یو قام کښې دڅوندی کولو دپاره خلک
پیدا نه شي هغه قوم ژوندی کیدی نه شي . په لوړه موده کښې خلکو ځای په ځای
مدرسې جوړې کړې او په ډیر شوق یې په کښې خپل بچې داخل کړل . ځو مره چه
مدرسې زیاتیدې هما غومره زمونږ پیسوته ضرورت ډیریده ځکه چه بې پیسو په
دنیا کښې هیڅ کار نه شي کیدی . پښتون قام شوم نه و مهمان نواز و ، فیاض و
خیرو خیرات پکښې و . خو کومه طریقه چه ملایانو ورته دخیرات ښودلې وه هغه په
دې وخت کښې کټوره نه وه . قام په یوخ خیرات اموخته ؤ حال دا چه زمانه بدل
شوې وه دیوخ خیرات ضرورت نه و پاتې دنقد او خام خیرات ضرورت و . دز
دبدلون سره که قام بدل شي ترقي وکړي که نه وروسته پاتې شي . د ذکوة په بار
کښې هم ملایانو قوم ته ویل چه په مدرسو ذکوة نه کیږي . دملایانو سره په دی
خبرو ډیر بحثونه شوي وو خو ملایان دې ته تیار نه وو چه دقام د اباد ی او تعل
دپاره دیوې نمونې ورځ ونه نیول شي . قام په رسم او رواج تنګ شوی ؤ خو دا چه
پکښې نه ؤ چه پرې یې نړدی . رسم و رواج پرېښودل اسان کار نه دی ، په ز
ډیر ګران دی او اخلاقي جرئت غواړي . مونږ چه په دورو قوم ته تللو په هر ځا
کښې به قوم راته راغونډ شو چه دقوم سره به مو خبرې وکړې نو ځینې خلک به را
راچاپیره شول چا به ویل ما په شا دتپوه چا به کوره یا مالکه راوړه چه دا د
که چا به ویل چه دم را بانډې وا چاوه ما به خلکو ته ویل چه زه دکف او چیف
نه یم زه خو ستاسو خدمتګار یم . ستاسو خدمت له راغلی یم تاسو باید ب
او په هغه کف او چیف والا کښې فرق وکړئ هغوی خو درنه په دغه طریقه شک

سے نئی سمبا مدار سے زکوٰۃ اخلی ـ تعرض ہے غرائی منہالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نذرانه اوملکانه غواړي زه خوتاسونه څه غواړم نه. محمد اکبرخادم صاحب
به راته ویل چه ته ولې دې خلکوته داسې وایې دوی به تا عقیده لوي په دې چل به
زمونږ ملا دسوته ډیرې چندې راغونډې شي او ته بي له څانه شې ما به خادم صاحب
ته ویل زه ددوی اصلاح کول غواړم او د غلطو رسمونو، رواجونونه یې خلاصول غواړم
یو څل مونږ دسودم په دوره تللو نو دشاه بازګړي مولانا شاه رسول صاحب مونږ
سره ملګري شو مونږ ته د سودوم خانانو د سورلۍ دپاره اسونه راکړل، مونږ به
پوړې واد به وار سوریدلو.

د ترنګزو د حاجي صاحب هم د تعليم را غلي وو.
سره ډیر شوق و. د ملا سو
دامداد دپاره به مولا یې
کودرې لټولې. یوه ورځ
ورته ماوویل چه
حاجي صاحب ستا
په لنګرکښي
ستاسو
ډیر

شیخان او مریدان
بې کاره پراته وي که ورته ووایې
چه میاشت یوه ورځ زمونږ د ملا سوسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امداد د پاره مزدوري وکړي او ملګري سوته يي راکړي ددې نه به مونږ ته ډېره فايده راورسيږي . حاجي صاحب ډېر وخندل او وېي ويل : که دوی کارکولی نو دلته يي بيا څه کول دا تيار خواره دي دوي ته کارکول بد ښکاري حال دا چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : «الکاسب حبيب الله» يعنی کسبګر د خدای دوست دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشیخ الهند صاحب سره

جنوری ۱۹۱۴ع ، آزاده علاقه کښې دمرکز تلاش د دیر
باجوړ چمرکند . هډې ملاصاحب ، سالارزي
او مامونو . اولنۍ جنګ عظیم دشیخ الهند
صاحب پروګرام دترنګزو دحاجي

صاحب هجرت

زما په ټه تګ بنیر کښې د پرنګیانو سازش په مدرسې
بند شوې . دحاجي صاحب ترنګزو مومند و ته تګ ، د
سوات د پاچاهي کشاله . د پرنګیانو مظالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشیخ الهند صاحب خط :

مونږ به په کال کښې یو ځل دوه دیو بند ته تللو او د مولانا محمود الحسن صا
او مولانا عبید الله سندهي صاحب سره به مو لیدل کتل کیده او په دې به مو تبادل
خیال کولو چه څنګه به د پرنګیانو د غلامۍ نه خلاصیږو ؟
د جنورۍ ۱۹۱۴ع کال په سر کښې د حضرت مولانا شیخ الهند محمود الحسن
صاحب خط راغی چه دیو بند ته راشه ، نو زه مخفي صاحب او مولوي فضل ربي صاحب
دیو بند ته لاړو د ستېشن نه نیغ مدرسې ته لاړو . له هغه ځایه مولانا عُذیر ګل
د مولانا صاحب کور ته بوتلو . مونږ د سي . ای . ډی له وېرې بهر نه ګرځید
شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب د دیلي نه مولانا عبید الله سندهي
راوغوښت ، د ډېر بحث او غور نه وروسته مونږ په دې نتیجه ورسید
مونږ له دوه مرکزونه جوړول په کار دي یو په هندوستان کښې د ننه او بل
هندوستان نه بهر په ازادو قبایلو کښې هلته چه خلک یې د انګریزانو نه خواخو
نه وي او مجاهد قام وي چه هلته د هندوستان د ازادۍ د پاره یو فوځ تیار
ددوی دا خیال وچه دا مرکز دې په بنیر کښې جوړ شي کوم ځای کښې چه د هند
د مجاهدینو دله اوسېږي . دا هغه ټولي وچه د سید احمد بریلوي صا
او اسماعیل شهید صاحب په بالاکوټ کښې د شهادت نه پس د هغوی پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکري دهزارۍ نه بنېرته تللي وو او په بنېرکښې په سیستانه کښې میشته شوي
وو او تر دې وخته پورې به ورته دهندوستان نه دسېو او روپو امداد ورکول کېدۀ
خو په دوی کښې هغه جذبه او روح باقي نه وه په کوم روح چه سید صاحب او شهید
صاحب راپورته شوي وو دوی دومره بې کاره کسان وو چه خپل د شاوخوا علاقې
خلک يې په خپل خیال نه وو پوه کړي او نه يې په کښې هم خیال ملګري پیدا کړي وو. یوه
ورځ زمانه چې دمولانا ابوالکلام ازاد هم ددوی خلکو په باره کښې تبادل خیال شوی ومولانا
صاحب هم ددې خلکو په باره کښې خوش اعتقاده وو چه دا کار تیک دی خو ما ورته وویل چه دا
بیکار خلک دي. دهندوستان حساب ته ناست دی او خوري يې ددوی
داعقیده وه چه په توره او نیزه او لینده او غشي جنګ کول به کار دی ځکه چه د
رسول الله (ص) ملګرو په دې شیانو جنګ کړی دی او فتح يې کړې ده. داسنت ★
دی. دې ته يې نه کتلو چه د رسول الله (ص) ملګرو چه په توره. لینده او غشي جنګ
کولو هغه وخت دکفارو سره هم دا وسلې وې. نن خو دنیا ترقي کړې ده. د توپ او
ټوپک زمانه ده. توره. نیزه او لینده د توپ او ټوپک مقابله نشي کولی خو دهندوستان
خلک به دې حقایقو خبر نه وو او نه ورته ددې دلې ماهیت معلوم و. دافسوس
خبره دا وه چه دمسلمانانو لوی لوی لیډران او علما ددې حقیقته ناخبره و. مونږ ته
وددې تر ولې تول حالات معلوم وو. مخفي صاحب ددوی دحالاتو دتحقیق دپاره
ځیله بنېرته ورغلی و. په ستخو کښې يې ورسره ناشیی کړې وې مونږ ددیوبند ملګري به
ی خبره پوه کړل چه نه دا مجاهدین دکار خلک دي. او نه دا ځای د
مرکز دپاره مناسب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آزاده علاقه کښې دمرکز تلاش :

فیصله مو په دې وکړه چه زمونږ دیووفد تلل په کار دی
چه په ازاده علاقه کښې دمرکز د پاره یو ځای خوښ کړي . ددې کار د پاره زه او خفي
صاحب وتا کلی شو چه اول مونږ به قبایلی علاقه کښې وګرځو او ځای خوښ کړو بیا به
دوی ته خبر ورکړو سندهي صاحب به راشي او هغه ځای به وګوري چه دده هم پرې
اتفاق راشي نو کار به پکښې شروع کوو . د فیصلې نه ځکښې ددې کار د پاره زه ډېر
او جوش کښې وم خو چه فیصله وشوه او زه به وارې راباندې پرېوته غونې می خیږ شو
او ځان می دروند شو لکه غر چه راباندې پرېوتی وي . جرګه ختم شوه او خپله ځای
کو ته لاړو په تنهایي کښې می ډېر وژړل او به دې ژړا می لږ زړه سپک
او ده شوم سحر چه راپاڅېدم زړه ته می داد ورکړو رارخصت شو او کلي ته را
ژمي و سبه یخني وه کاڼي ګرځېدې ما او مخفي صاحب د تللو د پاره سلا مت
وکړه نېټه مو مقرره کړه چه د تخت بابي د کاله دې په ستېشن به یو ځای
کېږو . تخت بابي زمونږ د کلي نه دولس میله لیرې ده ما د تللو خبره ډېر
پټه وساتله یو د حکومت له وېرې بل له دې وېرې چه مور به اجازه رانکړي
ماهغې ته دا بهانه وکړه چه زه اجمیر شریف ته ځم چه تهېر می دا وادرېدې
زه اجمیر ته ځم ډېره خوشاله شوه ځکه چه زما سفر کښې د اجمیر شریف چمنې
وو او سفر به می کال په کال اجمیر شریف ته تلو او دده داعقیده وه چه
دا اولاد اجمیر شریف راکړی دی او دا د هغه چمنې دی . د اجمیر فقیرا ن
کال په کال راتلل او ډېرې روپۍ به یې وړنه وړلې غني چه وشو د اجمیر فقیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رزړو ته راغلي وو خبر شوي وو چه د خان لمسی شوی دی نو هلته راغلل په
دی خیال چه دا هم غوره اسامی ده کیږول یې په کار دی خو په مایې دم ونه چلیده
اوږدې اوږدې قصې یې راته راوا خیستې چه کوندې غنی د اجمیر شریف چمنی
دی ما ورته ووې چه دا زما چمنی دی د اجمیر شریف چمنی نه دی . د دې خبرې
په اوریدو ډیر حیران شول چه دا لاکوم قسم سړی دی مایوسه بیرته لاړل .
ما د خپل کلي نه شپه مامند ناډی ته راوړه سبا په اس سور تخت بایی ته
روان شوم . ما سپینبین ستیشن ته ورسیدم مخفی صاحب مخکښې رالیږلی
وه ما اس نوکر ته ورکړو او رخصت می کړ . ریل به ما زنګیر درګئ ته روانیده مونږ
ما بنام درګئ ته په کاډي کښې ورسیدو . د ستیشن نه بهر د کرایي ټانګې ولاړې
وې مونږ دواړه په ټانګه کښې بټ خیلې ته روان شو . د ملکنډ په غاښې د پولیسو
څوکۍ وه هره ټانګه به یې لټوله زمونږ ټانګه یې ولټوله او د ټانګې نه را چاپیر شو
ونښتنې یې لاندې کړې . زه ویریدم چه وې نه پیژنې او څه شک یې را باندې رانشي
لکه چه هغه وخت په ایجنسو کښې ډیره زیاته نګراني وه چه په چا به یې شک راغی
به یې نیوه او په کاټ کښې به یې واچولو . کاټ یو اوږد لرګی وه هغه کښې به سوري
دسې یې پښه به یې په هغه کښې اچوله او د پاسه به یې پرې پانه ټک وهله او هغه
به یې پرې کولې چه هلا کو خان به هم په چا کړی نه وی او د ملکنډ پولیټیکل
ایجنټ پرنګی د فرعون نه هم دوه ګوتي زیات و . خلک له خدایه د ومرګ نه ویریدل
دومره نه چه به ویریدل . تیاره وه په مونږ د چا څه شک رانغی او چه زمونږ تم تم
ته یې اجازه ورکړه نو ایله مولاډې تیری شوې ما سختن بټ خیلې ته ورسیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ په پټ خبله کښې څوک پېژندل وننه او سرای او هوټل نه وځو د پښتنو حجرې او جو
تو نه د میلمنو او مسافرو د پاره تل بېرته وي. مونږ حجرې ته لا نه ورو چه څوک مو
ونه پېژني او حکومت دا باندې خبر نه شي جوماتو ته لاړو ځکه چه مونږ سره د ځنو
ځه جامې نه وې خو جوماتو کې مو او ریکښې بلېدو په یو ځای د کښې مې شپه تېره
تېره کړه سهار وختي پاڅېدو، په ځلکه کښې په سیند پوخ پل دی په هغه پوري
وتو او نور تول پیاده منزل شروع شو ځکه چه هغه وخت په دې لارو د سودلی ځ
انتظام نه و تسپه مو املوک ددې ته ورسوله په یو جومات کښې مو تېره کړه ملا بانګ
د املوک ددې نه روان شو تولو له ورځ مو منزل وکړو مابنام تیاره د سیند غاړې
ورسېدو او به لوږې وې خو ځکه وي په چېر پورې وتو او ماسختن تېرا ایله په ځ
د مخفي صاحب دوې کلي ته ورسېدو ستړي ستومانه وو په ځو او بوکښې پوا
وتلي وو ځکه مو شوې وه، ښه وږي وو خو د مخفي صاحب د خپلو خپلوانو کور د
وو زر زر لي راته او ورونه بل کړل چه تاوده شو، د ودې لي راوړه ښه په م
کېله مو وخوړه کټونه یې راته جوړ کړل پکښې پرې وتو. په جوماتونو کښې خو
په ځمکه وې او حجرو کښې په کټونو کښې وي. دې علاقې ته سیند واله ځک
سیند پکښې بهېدلی دی د مخفي صاحب دوې په کلي کښې چه سرای د
په غره کښې ناست وې لاندې سیند ته ګوري لکه چه مادکوږ وو
دا کلي ډېر ښکلی و. د سیند علاقه اباده او ښکلې ده شولې پکښې کېږي
یې خوږې دي. د مخفي صاحب پلار په دې کلي کښې زېږېدلی و، خو په خپله
صاحب د هشنغر په چارسده کښې زېږېدلی و او پلار یې چارسد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشوی وو. دده پلار لوی عالم و واده یی په چارسده کښې کړی و نو هملته اوسېده
هغه وخت کښې د دینی علم د زده کړې د پاره مدرسې نه وې هر ملا چه به د ملا
یی وتو اله د خپل کلي یا د بل کلی جومات کښې به کښېناست خلکو ته به یی
ډ ای جاتی درس ورکولو. اکثر خلک به د غرونو د علاقو نه سمی ته د درس
ده د اتلل د مخفی صاحب پلار هم په دې سلسله کښې راغلی او بیا هلته
چارسده کښې پاتی شوی و د پرښه عالم او روشن فکره سړی وکه روشنفکره
وای نو هغه وخت به یی زوی علاوه په دینی، دنیایی علم څنګه کړی وای
زه د پیاده ګرځید وعادت نه وم ښه ستړی شوی وم، څو ورځې مو
ته ښه آرام وکړ. مخفی صاحب را نه بېرته هندوستان ته د مولانا عبیدالله
سندهی د راوستو لپاره لاړ زه او د مخفی صاحب یو د تره زوی چه نوم یی
هېر دی د مرکز خوښولو د پاره روان شو. مخفی صاحب پېښور ته او
چمرکنډ ته روان شوم، چه سره جدا شو ما د مخفی صاحب جدایی ډېره
محسوسه کړه، چمرکنډ د افغانستان په پوله د غره په سر یو وړوکی غونډی
ی دی د اډې ملا صاحب چه څه وخت په افغانستان کښې د بزرګۍ رواج
و او اثر رسوخ یی زیات شو او امیر عبدالرحمن خان له افغانستان نه
نی لو چمرکنډ ته راغلی و، د اډې ملا صاحب یو غازی سړی و د هغه په وجه
مرکنډ ډېر مشهور شوی و.

مونږ چه د مخفی صاحب له ځایه روان شو ما ښام د جار"، ته ورسېدو
ی یو وړوکی غونډی کلا بند کلی دی مونږ چه ورسېد و د کلا دروازه بنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه خواد شابل کلي نه واریان شو چه څه به کوو اخر مي خپل ملګوری ته وویل
دروازه وټکوه هغه چه دروازه وټکوله د ننه نه اواز وشو چه څوک یي مو
میلمانه یولو. شپه مو پس یي دروازه خلاصه کړه مونږ ته یي ښکته پورته
چه یقین یي راغی چه مونږ خطرناک کسان نه یو کلا ته یي ننه ایستو د ننه
جومات ته لاړو ډوډۍ یي راله راوړه شپه مو په جومات کښي تېره
سهار وختي روان شو شپه مو بابړی ملا صاحب ځای ته ورسول
لاړه به چه د هغې سیمي راسره څوک ملګوری شو ما به ورنه د بابړی د ملا
پوښتنې کولې چه څنګه سړی دی؟ دوي به وې چه: «غوله ډېر
زبرګ دی» ما به وې چه څنګه لوی زبرګ دی، دوی به راته وویل
«غوله لاړ به شي او خپله به یي ووینې چه هري پېښې ته څپل لاس یو
غوړی اړوي» د هغه قام دې خدای مل شي چه د هغوی د زبرګي دا
وي. بابړی ملا صاحب یو سپین ږیری او ښه سړی و همیش چه به یي
د قبایلو سره جنګ کاوه بابړی ملا صاحب به د قبایلو په مرسته په غزا کي
شامل و د پرنګي سخت مخالف و، غازی سړی و، په ناپېژندګلي کښي
ډېر دارو ملاړ وکړ د سهار چایو ته یي خپل خلوت خانې ته وبللم او خپله
چای یي ماته راکړه. د چایو نه پس ورنه مونږ رخصت شو چمرکنډ ته ر
شو چمرکنډ له دې ځایه نږدې و کله چه مونږ د غره لمنې ته ورس
په غره ختو نا څاپه د پاسه را باندې غوښو هلکانو مچوغنې راسمي کړی به
یي ویشتو ډېر وار خطا شو اخر دې خوا مو وکتل چه دا څوک دی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن چه کاته مو د غره په سر څو کسه هلکان دي په مونږ کافي وروي مونږ چغې
ری کړې هغوی چه زمونږ چغې او اشاری ولیدې په خندا شول هغوی ته دا
تماشا ښکاریده او که مونږ هیڅ شوی نه وای او په یو کافي لګیدلی وای فیصله به وو
نږ به یوه نوی کږه وږه لاره د غره سر ته ختلو. زه د غره د منزل نه یم زر زر به
وی کېدم او دمه به مو کوله په دمو دمو د غره سر ته وختو ما اوریدلی دی لکه
نه چه د سمې خلک د غره د منزل تکړه نه دي د غسې د غره خلک د سمې او اوارې
نزل تکړه نه دي.

## چمرکنډ:

چمرکنډ ډیر ښکلی او د منزو ځای دی د غره په سر کښې د پاکو، صافو اوبو
نه ده د ژمي ګرمه او د اوړي یخه وي د چینې د پاسه یو ښه چنار ولاړ دی
خوا کښې یې د ملا صاحب جومات دی د جومات خوا کښې لنګرخانه او
وتهنې ر دي خو کوتهنې تشې وې څوک پکښې نه و. اخوا یو کور و خوا کښې یې یو
میوه دار ونې وې د غنمو یو پټی هم و د کور مخکښې یو څو د ګلونو کیارۍ
کوټې پټی) هم وې. زمونږ په ګرځیدو راګرځیدو او خبرو د کور خاوند
دوت دادا دی ملا صاحب شیخ د یوازې دلته اوسیده. راغی مونږ ته
ستړی مه شئ وکړه په جومات کښې کښیناستو، شیخ صاحب مونږ ته د
ې ملا صاحب د زمانې ټولې قصې وکړې چه دا ځای هغه څرنګه اباد کړ
هغه په وخت کښې دلته څو مره ګرم مجوشی وه دلیری لیری ځایونو نه به خلک
ی لمانځه له راتلل. ملا صاحب یو غازی سړی و شیخان د خپلو پیرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه عجیبه کرامات بیانوی. ماخو پخپله علاقه کښې د مانګی صاحب
سوات صاحب د کراماتو قصې اورېدلې وې ماته مې خپل پلار چه د سوات
مریډ و قصه کوله چه ماته د سوات صاحب یو شیخ ویل چه یوه شپه را
سودا راپیدا شوه چه دا د لنګر خرڅ به له کومه ځایه پوره کېږي؟ سهار چه
پاڅېدم سوات صاحب پاڅېدلی و او دا سه ته یې ځان جوړ ولو چه او د س
ته روان شو زه هم ورسره روان شوم ماته یې وویل دا او دس وچولو د پا
لوټه راواخله ما چه لوټه راواخیسته هغه «سنګ پارس» وبله مې راواخ
هغه هم «سنګ پارس» وبله مې راواخیسته هغه هم سنګ پارس وا
شوم چه دا زما د بیګا نی خبرې جواب دی نو د صاحب به پښو پرېوتم او ع
ورته وغوښته زما د پلار هم په دې پوره باور و چه دا خبره ریښتیا ده ا
به یې ویل دا اولیا و کرامت حق دی. د غسې مې د پیرانو پیر کرامات هم اور
وو چه د د ولسو کالو ډوبه بېړۍ یې راوښکلې ده چه نه د خدای له قول سره
خوری او نه د رسول الله (ص) د قول سره او ملایانو کښې دومره جرئت نه و
خلک به دې پوه کړي چه دا هسې خبرې دي. زما دې قسم قصو سره الف
و خپل پلار ته به مې ویل سوات صاحب چه دومره کرامت، لوی بیا د خلکو
ولی اخلی او ملکانې ولې تولوي. د تړنګزو د حاجی صاحب به باره کښې به ې
شیخانو د غسې خبرې کولې او به دې طریقه یې غریب او ناپوهه پښتون
اولوټلو او خپل لوی والی به یې پرې منلو. زما به باره کښې به هم خلکو د غه رنګ
کولی، چابه ویل چه لاسونه یې اوږده دي، بزرګ دی، چابه ویل چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـه په موضوع کوګی محصل صوروي کښې ده سخت ګرمښ په موسم کښې ده ما حاجي
مرحوم چلی ... ده ... مشکلات مشهور شوه - چه د پنجاب ... 



او به ترخې وي چه ده پکښې یو منګی او به واړه ولي هغه خوږي شوي او دلیري لیرې ځاې په به خلک راتلل، ویل به یې چه دا دې کوهی او بو کښې شفاده، چه څوک یې او څښلی بیماران ۲۷ مرضونه یې لیري کېږي، او چه څوک یې کالی (جامې) وینځې صابن ته ضرورت نه پیښیږي، چا به ویل دده په ځاي کښې دلسو کسانو د پاره ډوډې پخه شوې وه سل میلمانه یې راغلل ټول یې ماړه شول او ډوډې خلاصه نه شوه، د غه شان قسما قسم عجیبه خبرې او قصې کېدلې، دا خو خلکو ویل، زما ملګری خدایې خدمتګار وو، شیخان نه وو، او ما به هم هغوی ته دا خبره کوله چه زه نه شیخان نیسم نه مریدان! زمونږ یو مقصد دی، زمونږ د هغې د پاره شریک جد وجهد کوو.

شیخ صاحب هم د آدې صاحب د پیر کرامات مونږ ته بیان کړل خو مونږ سره د هغې صاحب قدر او عزت د هغه د دار نکه کراماتو په وجه نه وبلکه هغه د پرنګی سره د مخالفت او غزاګانو په وجه مونږ منلې وُ. هغې صاحب د سوات صاحب مرید ولکه مخکښې می چه ویل امیر عبدالرحمن خان د هغې نه چرکنډه شوې ولي وخردلته یې ورسره د پرنګی خلاف په غزاګانو کښې پېټه مرسته کوله مونږ ته دې شیخ وویل چه د غزا په موقع به امیر عبدالرحمن خان توپک او کارتوس رالېږل. شیخ صاحب یوه او معقول سړی و هغه د خپلې ګذارې د پاره د شاتو مچې ساتلې وې او ویل یې چه زما د کور ټول خرڅ له دې مچیو تخه لاس ته راځي مونږ له یې چه ډوډۍ راوړه د غنمو ډوډې سره یې د خپلو مچیو شات راوړل هغه خوند چه ما په دې ډوډۍ کښې لیدلی دی ما په ښو ښو ډوډیو کښې نه وُ لیدلی یو خو مونږ وږي وو بل غرو، او د ابادۍ نه لیرې ځاې وُ هلته د ډوډۍ پیدا کېدلو امید

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه و. دا ځای خو زمونږ د پر خوبښ شو ځکه چه دا ځای دې خوا مومندو او
باجوړ ته نژدې و او هغه خواسره کانو او کونړ ونو ته لنډ و بله دا چه په جنګی لحاظ د پر
محفوظ ؤ. هغه وخت هوائي جهازونه نه وو خو هغه ځای د پر ورو کی واو زمونږ
پلان پکښی عملی کیدلی نه شو.

سالارزی، ماموند:

دشیخ صاحب سره مو شپه تیره کړه بیا سالارزو ته لاړو و هلته مو هم ډیر
کلي و کتل. د سالارزو نه بیا مونږ ماموند ته لاړو. سالارزي او ماموند د باجوړ
دوه لوي لوي قبیلې دي بالکل ازادې دي. د باجوړ په نوره علاقه کښې ورې
ورې خانۍ او نوابۍ شته د ماموند و علاقه ډیره اباده او ښیرازه ده او په پکښې
ډیرې دي خلک یې هم ښه خلک دي دا علاقه زما ډیر خوښه شوه کلي یې هم
لوی لوی دی. کټ کوټ او کبرې پکښې د نورو په نسبت ډیر لوی کلي دي جوماتونه
یې هم ښکلي او مضبوط جوړ کړي دي، روغ روغ غونډان یې پکښې لګولي دي او
زمونږ د کلو غونډې پکښې جوماتونو ډیرې دي په هر کلي کښې یو جومات دی
متول کلي هغه یو جومات له لمانځه له راځي. په هر جومات کښې دا او داسې د پاڼ
د روانو او ښو انتظام شوی دی خلک یې ډیر لمونځ ګذار دي، او ښه یې ډیرې
یخې دي او دس پکښې زمونږ غونډې خلکو ته ګران وي خو جوماتونه یې ګرم وي
د ژمی موسم ؤ او مونږ به په یو ځای کښې شپه تیرو له. کوښښ به مو کووچه
څوک مو ونه پیژني ځکه چه د دې ځای ډیر طالبان زمونږ علاقې ته د سبق د پلو
د پاره راځي په کټ کوټ او کبرې کښې خو دیو کس دوه و شک راغی خو مونږ ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانه کړل خو هغوی په دې خیال کښې چه دپنیر کوخان او دلته راتګ نو زړه ته به
راغلل چه مونږ غلط شوي یو یو خل ماته یو کس وویل چه ته دپنیر کوخان نه یې
ورته وویل چه نه . مونږ به په جوماتونو کښې شپې کولې چا سره مو خبره مبره نه
له . چا چه په خه راوړل هغه به مو وخوړل . یوه شپه په کټ کوټ کښې یو سپین
ږیري ملک میلمانه کړو هغوی میلمه کوټ ته بیایي مونږ یې خپل کوټ ته بوتللو، نو ښځې
ته لاس په نامه ولاړ وو دک شکور دوډۍ یې راته مخکښې کښېښوده د پرښه کورلي
او ډېر ښه کوربانه وو . مونږ د ماموند ونو د کلي هم وکتل په اخر کښې مو خبره ی خوښه
ده . دا علاقه زما د مرکز د پاره ډېره خوښه شوه یو خو د اخلک ډېر ستانه او درانه خلک
به داچه دا علاقه لکه د پښتنو د نورو علاقو په شان د انګریزانو نه متاثره نه وه او نه
انګریزانو ماجب خواره او نه یې په پیسو اخیستو اموخته کړي وو او د انګریزانو سخت مخالف
انګریزانو به د باجوړ قوم ته لکه د نورو قومونو په شان حساب نه ورکوه . دلته به یې ماجب *
انو ته ورکولو . نو قوم د پرنګی د اثر نه ازاد وو . مونږ دلته د مخفي صاحب او سندهي
حب د راتللو په انتظار پاتې شو ، دلته لکه زمونږ د علاقې پخوانی رواج په شان دا *
ده چه شل کاله پس قوم راټول شي او له سره د کلو او ځمکو ویش وکړي یا په هر
چه د چا خسنې و خېږي هغه کلي له به ځي . دا د پښتنو عامه زړه قاعده
خو کومې علاقې چه د حکومتونو د اثر لاندې راغلې هغوی کښې د ځمکو د ویش سلسله
شوه . د پښتنو کوم قومونه چه ازاد دي هغوی لا هغه شان شل کاله پس له سره
ویشي .

ما فکر وکړ که مونږ هسې هیڅ بې هیڅه دلته ناست یو نو د خلکو به راباندې شک

(c) ketabton.com: The Digital Library



واشي راځه يوه قصه جوړه کړه چه دمخفي صاحب دوی ترواتګه يوې وخت
په جومات کښي يوې کوټنې کښي چيله شوم تش لمانځه، اوداسه اوقضاى
نه به واوتلم هغه به مي هم مخ پټ ونوربه مي په کوټنې کښي وظيفه کوله .تزکيه
* به مي کوله .مادشيخ الهند محمودالحسن صاحب نه لاس نيوی هم کړی و
چيلی په دې خلکو ډېرلوی اثروشو دهغوی داخيال وچه زه ګوندې زبرګ
به دم، دعا اوتعويذونه به يې رانه غوښتل. يوه ورځې يوه ښځه راغله زوی
غبږ کښي وويل يې چه زمادې زوی ته دعاوکړه چه خدای يې دتي نه زرصبر
ددې کالوشو اوتی نه ډېرېږدي چه تي نه ورکوم ژاړی بلده ورځ جوړه کړی
ورته ووې چه سورمرچکی ښه ميده که او دتی په غوټيې پورې کړه اميد
چه زوی به دی تی پرېږدي .ښځه لاړه اوداچل يې کړی وسباله راغله
خوشاله وه دشاتونه ډک کنډول يې په لاس کښي ورته يې ووې چه ستا
خدای قبوله کړه .زوی مي تی پرېښوده زه اوس په زوره تی ورکوم دی يې نه
هلک به ځنګه تی اخيستی وای دتی پورې مرچکی ودهغه خوله يې ترخه کړی
دوی دازماکرامت ګڼلوحال داچه کرامت نه وخو ښيښتانه ډېرخوش اع
خلک دي اوخلکو ورته داخيزونه په ذهن کښېنولي دي .بس دخلکو تګ
ماته زيات شودغسی چه دوی ته هرڅه خلکه ياجونګه جاره په سراچولی
ورته راغونډشوي دي شکراني يې ورکړي دی خدمتونه يې ورته کړي دي
يې ورته وهلي دي خو باباکانوخپل مطلب په دوی کړی دی دوی له يې ځه
کړی ددوی غم يې نه دی خورلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچیلې نه وروسته هم مونږ دمخفي صاحب او مولانا عبیدالله سندهي صاحب انتظار وکړو خو هغوی رانغلل زما سودا شوه چه دوی ولې رانغلل هلته چه مونږ خبر شو چه دیورپ جنګ شروع شو مونږ هم واپس راروان شو دمخفي صاحب دتره زوی تر ملکنډه پورې راسره راغی له هغه ځایه مې رخصت کړ او زه په درګۍ کښې په ډېل کښې سور شوم په تخت بائي کښې کوز شوم او کلي ته لاړم څو ورځې پس مې مخفي صاحب ولیده پوښتنه مې ترې وکړه چه تاسو ولې رانه غلئ هغه راته وویل چه کوم ځای او کوم وخت چه ما د مولانا سندهي صاحب سره مقرر کړی و هغه تر اوسه هلته نه دی راغلی نه پوهېږم چه څه وجه ده ؟ مونږ به یې دې انتظار کښې وو چه یا به مولانا پخپله راشي یا به بل څوک راولیږي چه د مرکز ځای ور ته وښیو بیا هندوستان ته لاړ شو او د کار د شروع کولو بندوبست وکړو د هر وخت تیر شو او څوک رانغلل چه په دې کښې د دنیا اولنی لوی جنګ د ښبت او زمونږ دغه سکیم په ځای پاتې شو او مونږ ته بیا د یو ځای کېدو موقع پیدا نه رانغله.

## اولنی جنګ عظیم:

کله چه ترکیه په جنګ کښې شامله شوه نو د هندوستان د مسلمانانو په جنګ کښې دلچسپي زیاته شوه ځکه چه ترکیه اسلامي ملک و او د مسلمانانو خلیفه او پېشوا ګڼل کېده او بله دا چه دوی فکر کولو که ترکیه او جرمن انګریز ووهي نو زمونږ ملک به مونږ ته پاتې شي دوی دې ته نه کتل که انګریز د جرمن او ترک د لاسه ووهل شي خو دا ملک به هم جرمن یا ترک اخلي دا خنګه کېدی شي چه مړه کېږي به جرمنیان

سه امام صاحب ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوترکان او وطن به پرېږدي هندوستانیانو ته خو به کوم قوم کښې چه مېړانه
او د قربانۍ ماده پاتې نه شي هغه به تل د بل توري ته کوږي کله به د جرمن په تمه
وي او کله به د ترک په تمه وي او کله به د امام صاحب په تمه ناست وي، د هندوستان
د مسلمانانو بله کمزوري دا وه چه دوی به د خپل ملک اندروني معاملو سره دومره
دلچسپي نه اخیسته د نورو بهرنیو خلکو په غم کښې به وو، دوی په دې فکر کښې
وو چه مونږ ته د ترکیې سره امداد پکار دی دوی سره د خپل ملک دومره غم نه وی
لکه چه د بل ملک وي. سړی چه خپل ځان د غلامۍ نه نه شي خلاصولی هغه به د بل سره
څه مرسته وکړی شي که مونږ رښتیا د دنیا د نورو مسلمانانو سره مرسته کول غواړو
نو په کار دی چه د پرنګی نه هندوستان ازاد کړو ځکه چه د هندوستان په وجه
هغه طاقتور دی او د هندوستان په زور هغه نور اسلامي ملکونه وهل. د افغانستان
په جنګ کښې ټول سپاهیان هندوستانیان وو صرف افسران یې انګریزان وو او د ترک
هم ورته د هندوستان پلټنو وهل. د حضرت مولانا محمود الحسن شیخ الهند
صاحب او حضرت مولا عبید الله سندهي صاحب په سلا او مشوره مولوی
سیف الرحمن صاحب د دهلي د فتحپوري عربي مدرسې پرنسپل یې د ترنګزو
حاجي صاحب له راولیږه چه هغه دې ازاد قبایلو ته هجرت وکړي او قبایل دې
د انګریز په خلاف اوچت کړي د غسې دې د هندوستان په ټولو سرحدونو کښې
د بغاوت اور ونه بل کړی شي او افغانستان دې هم دې ته تیار کړی شي چه
د ترکو او جرمن په پوره کښې داخل شي او د پرنګي برخلاف غزا شروع کړي د
هغوی مقصد دا وه چه که انګریز خپل فوځ د جرمن او ترک مقابلې ته بیایي د دلته به زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابله کښې کمزوري پاتې شي مونږ به بې ووهو او له هندوستانه به بې وشړو او که خپل لوځونه زمونږ د مقابلې دپاره په هندوستان کښې پاتې کړي د ترکو او جرمن په مقابل کښې به کمزوری پاتې شي هغوی به بې ووهي او مونږ به له غلامۍ نه خلاص شو. د جنګ نه وړاندې هم مونږ سره دا فکر وچه یا به ازاد قبایلو کښې د پرنګیانو د مقابلې دپاره مرکز جوړ کړو یا د افغانستان سره تعلق پیدا کړو. چه جنګ د نښتو او جرمنیانو انګریزانو ته خای په خای ماتې ورکړه مونږ په دې فکر کښې شو چه مونږ له هم څه کول په کار دي باید ازاد و قبایلو یا افغانستان ته هجرت وکړو مونږ لا په څه فیصله رسېدلي نه وو چه مولوی سیف الرحمن صاحب راورسېد او د شیخ الهند صاحب او د هغه د ملګرو پیغام یې راووړ مونږ ټول هجرت ته تیار شو حاجي صاحب خوشپه شپه بونېر ته هجرت وکړو او وروسته مفتي صاحب، محتسم صاحب، مولوی عبدالعزیز صاحب او مولوی فضل ربي صاحب دوی هم ورسره لاړل او زه ددې دپاره پاتې شوم چه ددوی او هندوستان د ملګرو تعلقات وساتم او دهغوی امداد دوی ته ورسوم.

## دحاجي صاحب هجرت:

دحاجي صاحب په تللو چه حکومت خبر شو په ملک کښې یې لوی غوبل جوړ کړو ځکه چه په دې وخت کښې د حاجي صاحب تلل ددوی دپاره ډېر خطرناک و، حکومت دحاجي صاحب د تللو دعلت معلومولو دپاره لوی لوی افسران مقرر کړل. ما داخبره خوره کړه چه حاجي صاحب ته دحکومت یو لوی افسر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرداری ورکړه چه حکومت تا دخلافت په وجه ګرفتار وي زحاجی صاحب
د دې کبله شپه په شپه ووتلو. دحکومت خوربښتيا هم داسی اراده وه مایسی
هم سی. آی. دی راغلل داپوښتنه یې کوله چه دا افسر څوک وچه حاجی
صاحب یې دحکومت دارادی نه خبر کړی دی؟ ما به ورته خه ویلی وای ځکه چه
ماته څوک معلوم نه وو او نه چا افسر داخبره کړې وه. داخبره چه لږ ناسمه
شوه زه دحاجی صاحب دوی دخبر اخيستلو دپاره بونير ته لاړم زه خو
پټ لاړم خو په دې پوه نه شوم چه دحکومت نه پټ پاتی شوم که نه ځکه چه دانګریز
دحکومت نه دداسی خلکو پټ پاتی کېدل ګران کارؤ. زه چه بونیر ته ورسیدم
زحاجی صاحب دنورو ملګرو سره په دوبره وتلی وکوم ځای چه د بونیر پښتنو
حاجی صاحب ته دسیری په توګ داوسیدو دپاره ورکړی و ډېر مزه دار
ځای و، پوه لویه غونډۍ وه ورلاندې شنه آوی ځمکه وه. داغونډۍ دابادۍ
دپاره ډېره موزونه وه اوداځای دحاجی صاحب دپاره موزون واو دبونیر
خلکو دآبادی دپاره ډېر لرګی اوسامان هم راجمع کړي وو. زما داراده وه چه
همدا ځای دحاجی صاحب دپاره جوړشی

## زما بونیر ته تګ:

* حاجی صاحب په پاچاکلی کښی ؤ دپیر بابا زیارت هم په پاچاکلی کښی
دی، ډېر خلک زیارت ته روان وو مونږ هم ورسره روان شو چه پاچاکلی
ته ورسیدو حاجی صاحب مو ولید وچه ډېر خلک ورته راجمع شوي دي
هغه زمونږ ملګری او دحاجی صاحب مشر زوی باچاکل صاحب هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره و، خلکو کښې د جهاد او غزا خبرې کېدې. باچاګل هم خلکو کښې پیس پیسې
کولو چه د دوډۍ وخت شو، حاجي صاحب خود خلکو په هجوم کښې کېرو او زمونږ
ملګري باچاګل او زه سره بېل شو په دې خیال چه دوډۍ به هم وخورو او خبرې
به هم وکړو. په ټوله علاقه کښې د مېلمنو د پاره هر ځاې د خپلې وسې سره سمه دوډۍ
پخه کړې وه. مونږ ډېر دوډۍ خوړلو د پاره د خوړنه پوړې غاړه کوږونه وه هغو
ته وړ پوړې وتلو. هلته ځانله په یوه حجره کښې کښېناستو. هغو خلکو راله د غنمو
خمبیره پېر سپېلې دوډۍ او کالوخانې تالي کښې د چرګ د غوړو ډکه ښوروا
راوړه. ډېره مزه داره دوډۍ وه. ما پخپله سیمه کښې د بې تکلفۍ دعوتونه خوړلي
وو. خو داسې خوند مې پکښې نه و لیدلې. بل د دې ځاې اوبه او هوا هم ډېره ښه
وه. هر څو مره دوډۍ چه به مو وخوړه لږ ساعت پس به هضم شوې وه. ما
خو به دوه ځي درې ځلې دوډۍ خوړله بیا به هم وږې وم، د دوډۍ نه وروستو
د خلکو نه جدا شو او په حالاتو مو خبرې اترې شروع کړې. په خبرو کښې راته
معلومه شوه چه د دې علاقې مذهبي مشران، سیدان، ملایان، میاګان
او زبرګان بونیرته د حاجي صاحب په راتګ خوښ نه دي ځکه چه د حاجي صاحب
په راتللو د هغوی بازار سوړ شوې و، خلکو حاجي صاحب ته مخه کړې وه نو دوی
غوښتل چه داسې چل جوړ کړي چه حاجي صاحب نور دلته تېکاو نه شي نو د دې
د پاره هغوی یو طرف ته په خلکو کښې د جهاد او غزا تبلیغ شروع کړې وا او بل
طرف ته یې په خلکو کښې غلې غلې دا پروپیګنډه هم کوله چه دا خلک چه راغلي دي که
جهاد له راغلي وي نو په کار دی چه جهاد وکړي او که سوداګرۍ له راغلي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دسمې جايداد موهم شواو دا چاید اد به موهم شی نو دا بیله خبره ده . نو با
کل وویل چه په دې طريقه يې زمونږ پوزيشن ډېر دا خراب کړی دی او د با
جی هم د انظريه ده چه مونږ له جهاد کول په کار دي ولی چه تام نا پوهه دی
زمونږ په خلاف په داسی طريقه تبلیغ شوی دی چه د تام په زړه کښې يې دا
کښېنولی ده . که مونږ جهاد نه کوو د دې خلکو عقيدې له مونږ نه کوځی او د ک
مقصد د پاره چه مونږ داغلي يو دا خلک به سبا په هغه مونږ سره تعاون
ونه کړي نو مونږ به خپل مقصد ته ونه رسېږو . ليکن زما د دې خبرې سـ
اتفاق نه و او په موجوده حالاتو کښې د جهاد اعلان زمونږ د مقصد د پاره
ډېر زيات نقصان رسولو . ما د حاجی صاحب او نورو ملګرو په خدمت کښې عرض
وکړو چه د خلکو خبرو ته مه ځئ دا د خود غرضو خلکو خبرې دي د دوی په جها
څه کار نشته . د دوی دا خيال دی چه دلوبي ونی لاندې واړه نیالګی وده نه شو
کولی . نو تا په څه چل له دې ځايه ليرې کوی او ميدان ځان ته خالی کوي نو د
مقابله په کار ده او خلک باید پوه کړی شي او صاف صاف ورته وويل شي چه
انګریز مقابله يوازې تاسو کولی نه شئ او تا سو سره د انګريز د مقابلې سامان هم
نشته نو اول بايد په ټولو ازاد و قبايلو کړ خو هغوی ځان سره کړو او قول منظم کړ
او د انګریز په مقابله کښې دوی ته د سنه جنګی سامان بند و بست وکړو او دو
د جنګ د پاره تيار کړو . نو په دې طريقه به زمونږ طاقت پيدا شي او چه طاقت
مو پيدا شو بيا به د انګريز سره جهاد کوو او خصوصاً د بونیر پښتانه نه د نو
ازادو قبايلو غونډې سامان هم نه لري او هغسې تياري هم نه لري نو که يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی جنګ شروع کړو کامیاب به نه شو خو په حاجی صاحب د پراپیګنډې دومره
...و چه زما دی خبرو منلو ته تیار نه و.

## بنیر کښی د پرنګیانو سازش:

په دې پراپیګنډه کښی د پرنګیانو ډېر لوی لاس و. هغوی غوښتل چه اول
حاجی صاحب بېرته خپل ځای ته راشی او په دې غرض یې ورپسی د خانانو او
...مشرانو د دنې د رڼې جرګې ورلېږلی وې او بل طرف ته یې ورپسی داپراپیګنډه
چه حاجی صاحب مجبور شی چه بېرته وطن ته راشی او که نه راځی نو ددی نه
...ی چه نور قبایل د ځان ملګری کړی باید جنګ وشی. ما دوه درې ورځې
...تېرې کړې بیا واپس کلي ته راغلم لږې ورځې پس مې د حاجی صاحب د
...اعلان واورېدو. په دې قام کښی د پرنګی د مقابلې طاقت نه و یوه ورځ
...یې څه معمولی مقابله کړې وه نور طاقت پکښی نه و. حاجی صاحب پسی پرنګیانو
...خورې کړې وې چه ژوندی یې ونیسی. د دې کار د پاره یې خلک هم پیدا
...ی وو او نیوه یې چه حاجی صاحب خبر شو شپه په شپه سوات ته او له هغه ځایه
...رته واورېده او له هغه ځایه د مومندو (سره کمر) ته لاړ هلته دېره اواباد
. د حاجی صاحب خو زما د خبرې سره اتفاق و خو د هغه برخلاف د غلطی
...یګنډې په وجه داسې رأی عامه جوړه شوې وه چه زما خبره یې منلې نه شوه د
...عامه مقابله ډېره مشکله وې. د غلطی پراپیګنډې مقابله کول په کار وې چه
...ی پاخبېرې ملا وتړې او خلک په حقیقت پوه کړې او دا هله کېدی شی چه د
...ضو هم خیالو مضبوطه ډله وې چه د خلکو اعتماد یې حاصل کړې وی وچت شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ملک کښې وګرځي او خلکو ته غلط خبره او حقیقت سم ور ښکاره کړي . ولې
نه داسې دله وه اونه به دي طریقه کار شوی دی او نه د کار موقع په لاس
وه او داسې دله خود کار کولو نه پس پیل اکېدی شي . حاجي صاحب چه ځ
منډه بونیر ته تللی و به دی وجه هم داسې په منډه له بونیره وتښتېده . م
باباکان . میاګان او پرنګیان پخپله پالیسي کښې کامیاب شول .

## مدرسې بند شوي :

پرنګیانو ته ددې کشمکش په وجه دنقصان په ځای فایده ورسېد
خوپي په بونیر قبضه وکړه او بله دا چه بهانه په لاس ورغله زمونږ په ملک کښ
غو مره قومي اسلامي مدرسې وې تولې یې یودم بندې کړې ځکه چه دا مد
پرنګیانو د خپل حکومت په لاره کښې اغزي ګڼل . دهغې استاذان او کا
یې بندیان کړل . هغه کسان یې هم بندیان کړل چا چه به ددې مدرسو د
دخلکو نه چندې تولولې او د مدرسو پالنه خدمت او انتظام به یې کولو . حقی
خو دا وه چه دا مدرسې د حاجي صاحب نه وې دقام وې او دقام به پیسو
انتظام چلېدې خو ملا یانو د خولو بند ولو د پاره مونږ حاجي صاحب سرپرست مو
حکومت د مدرسو د استاذانو او چلوونکو سره ډېر زور . ظلم او بد
وکړ ، د ډېره اسماعیل خان جېل ته یې ولېږل . د صوبه سرحد په تولو جېلو
ډېره اسماعیل خان جېل د آب وهوا په لحاظ او د بد سلوکۍ په لحاظ ډېره
جېلخانه ده . ددې ددې خولنې یې ورته واچولې ، میچنې به یې پرې ګرځو
کولو کان « د تېلو کانړي » به یې پرې ګرځول او ولکه د سنډانو به یې په ارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـه دحوری لوی جیل کښی لونګ هم دا اجرچه کړلوه ونکښ تر اکی ری روی
بیالن بیشو ...
دقیوم قیدیان وو ـ او چه خان دقید ننګی قیدی وو ـ وو) عبدالقیوم خا



دبی اصوله سیاست په کرسید نه رسی وو ـ او س نه تم ... وخت پری واده لی ... ا

یږي لي ترې وخر پیلې، وي وهل، وي تکول، وي شړمول. هغه وخت به
جیلخانی کښی داسی ډوډی ورکول کېده چه انسان خو پرېږده چه څناور به هم
خوره او داسی جامې به یې ورکولې چه سړی به پکښی د سړی غوندی نه ښکار یده
بې دکلي پلار او زوی بندیان شوي وو چه د جیل جامې یې وراغوستې دی او
و دی نه یې را ایستلی دی، زوی یې چغې کړې چه بابا مې څه شو حال دا چه
وي خوا کښی ولاړ و خو داسی جامی یې وراغوستې وې چه خپل زوی نه پېژندلو
ی نه شپېږ. اوه کاله پس زه پخپله دخلافت په سیاسی تحریک کښی قید
وم ما نه یې چه کوم پرتوګ راکړی و هغه زما د زنګانه دسترګی نه پورته و او
ی کمیس یې راکړی و چه په سجده به پریوتم ملا به مې تو له ښکاریده .
ی به بندیانو له جامی په یو ناپ جوړولې دهغه قیدی دې خدای مل شي چه
یا قل به جګ او تن به یې غټ و او خوراک می داسی و چه سپی خو جیل کښی
مګر پیشوته می خپله ډوډی سره دانګولې اینبی ده پیشو خوړلی نه ده .
ددی نه علاوه یې دحاجی صاحب شیخان او تعلقداران هم ډیر ګرفتار
ـ. پولیس ته دا اختیار و چه دحاجی صاحب درشته دار او تعلقدار او
شیخ په نوم چه هر څوک ګرفتار ول وغواړی ګرفتار ولی یې شی. په خلکو کښی یې
ره وېره او بزدلي پیدا کړه او دومره هیبت یې پری راوستو چه چا ته به دې
ي شیخ صاحب هغه به درته ووې پلار به دې شیخ وي. دحاجی صاحب
لوی شیخان دحاجی صاحب دشیخی نه توبه کار شو او څینی خو پکښی داسی
ردان وو چه حاجی صاحب پسی یې سپکی سپوری خبری هم شروع کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې دپاره چه پرنګی به خبر شي ، وزه به د قید نه بچ شم . دا دېره دافسو
خبره وه چه دپرنګی زور او ظلم به دې خلکو کښې وره زیاتوله او د مقابلې
دجذ و جهل جذ به لې پکښې نه راوینبوله . دا تول مذهبي خلک وو او دد
په نزد بڼېره د مذهب لوی رکن و دوی کښې دېر خو پیلوهم غیرت را
نه کړ په جېلخانو کښې لې اذان نه شو ویلې د جمع لمونځ لې نه شو کولی . دا نه
اصلاح هغه وخت وشوه چه مونږ خدائي خدمتګار جېلونو له لاړو . بیا دچا
نه شوه کلېلې . اذانونه به کېدل ، د جمعې لمونځ به پنځه وخته باقاعده کېده
کېږی ، خوراک سنه شو میچینې ، کولوکان ، او تو نه کو خول بند شول جامې د
شوه دیوې چکې کورې او غوړو اجازت نه و به یوه چکې کوده به قیدی پېچ
کښې بند بېده دامونږ ازاد کړل . زه په دې حقیقت پوه شوم چه مذهبي
* سړی به چه ظلم زیاتی کېده دوی به وېرېدل او بې جرأته کېدل او د سیا س
بند یانو سره چه به څومره ظلم زیاتی کېده هاغومره به د دوی همت او جرأ
زیاتېده . دا تول کته د قام قیدیانو له خدائي خدمتګارو وکړه او د خدائي خد
په قربانو شوی ده . پاس ذکر شوي اصلاحات هغه وخت وشول چه د
خدمتګارو حکومت راغی . په دې ورځو کښې ما پسې هم ذکر شوي قیدي حکم
شوی وو خوزه خوش نصیبه وم چه څو ورځې مخکښې زمونږ دعلاقې پولیس
کپتان حافظ زین العابدین چه د امبرسر ( امرتسر ) ؤ زمونږ کلي ته را
ؤ اتفاقاً زما او دهغه زمونږ د ملدسې په باره کښې خبری شوې وې هغه
وویل چه مونږ هم په امبرسر کښې ستاسو غونډې قامي ملاسه جوړه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



* هغې مصارف مونږ دقربانیو دڅرمنونه پوره کووکه تا سوهم دې قام ته وویل
چه دقربانۍ څرمن درکړی دچندوتولولوله کړاوه به خلاص شئ. ماورته
ووې څه کوې په ملایانومې وژنې؟ دلته خو دقربانۍ په څرمنو دملایانو قبضه
ده ملا به څپلی څرمنی ایستلو ته تیارشی خو دقربانۍ څرمنی چاته نه ورکوي. هغه
ووې چه زه به په دې کښی ستاسو امداد وکړم ماورته ووې چه ستا په امداد
لیدی شی. که ته داخانان او ملکان پوه کړې چه دقربانۍ څرمنی دملایانو
په ځای قومی مدرسی ته ورکول دېر ثواب لري نو دوی به یې ومنی ځکه چه
مونږ چه خانانو، ملکانو او ملایانو دحاکمانو او پولیس افسرانو دېرزیات
ترډی. ددې خبرو به دوران کښی هغه ته داخبره هم معلومه شوه چه دا
مدرسی قامی مدرسی دي او دحاجی صاحب یکښی هیڅ نشته صرف د
ملایانو دخولو بندولو او دېرانګلیزی دمخنیوي به غرض پرې مونږ د حاجی
صاحب نوم ایښی دی نو ځکه هغه زه ګرفتار نه کړم خو مدرسه یې راته بنده
کړه او دمولوی عبدالعزیز صاحب نه علاوه چه دحاجی صاحب سره تللی
و. نوراستاذان یې هم قید کول. تقریباً یو کال پس پرنګیانو داکسان دها
کړل خو دوي غریبان دومره وېریدلي وو چه چا به ورته دشیخ، ملا صبی او
او حاجی صاحب نوم واخیسته دوی به ورسره جنګ کاوه.

څو موده پس چه بیا دحاجی صاحب او پرنګیانو نښته دمومند و به علاقه
کښی وشوه داکسان یې بیا ونیول او تقریباً شپږ میاشتی بند یان و. دغسی به
چه هرو خت دپرنګیانو او دحاجی صاحب کشمکش پیدا شو دوی به یې ونیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ننګیا نو به دا فکر کولو چه حاجی صاحب د دوی په ډاډ غواړي چه دا مک

ژمونږ د غلامی نه ازاد کړی او د دې نه خبر نه وو چه دوی غریبا نا

* ازادی پېژند له چه دا دخدای یو لوی نعمت او رحمت دی او نه یې غلا

محسوس له چه دا دخدای لوی لعنت او غضب دی ان که د مسلمان ور

* هم وی . دوی خو ثوابیان خلک وو او غوښتل یې چه دتسپو او ظ

په زور ځانته په هغه بل جهان کښې جنت وګټي او جنت ټنګه جنت

پکښې به حورې وي ، غلمان وی ، د شاتو ، شرابو او پیو و یالې به پکښې

بهیږي . قسما قسم میوې به وي چه د شو کولو تکلیف به یې هم نه وي

خوله وازوه پکښې به راپرېوزي . هغوی ته مذهبی لویو لویو پیشوا یانو

ممبر د پاسه داویلی وو چه دا دنیا د کافرو ده مسلمانان به دلته خوار وزا

وي ، تږي ، لوږ بربنډ او حقیر او ذلیل وی په هغه جهان کښې به بیا دو

مزې کوي د مسلمان خو هغه دنیا ده او خلکو هم دامنلی وه . په دې خبره هیڅ چا غو

او فکر نه کوی چه دین د دې دنیا د پاره دی که د هغه جهان د پاره او که د دوا

د پاره دی مونږ خو په لمانځه کښې اول د دی دنیا ښېګڼې له خدایه غوا

او بیا دا چه د هغه جهان نه خو څوک راغلی نه دی مګر د دې دنیا تاریخ خو زمو

په وړاندې پروت دی چا ته چه مذهب راغلی او هغوی منلی او عمل

پرې کړی دی په دی دنیا اباد شوی دی د عزت خاوندان شوي دي

د خپل حکومت خاوندان شوي دي دخوشالی او امن ژوند یې نصیب شوی

دی ، تاسو عربو ته وګورئ چه د اسلام نه مخکښې د هغوی څه حال و؟ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



م راغی او عمل یې پرې وکړو دهغوی څه حال شو؟ داسلام په وجه دوی
ومت ، دولت او عزت خاوندان شول . تاسو دهغه وخت دمسلمانانو ژوند
سرا ژخ نظر واچوئ غور او فکر پرې وکړئ او داسلام ددې تیکه دارانو په خبرو
اوسوچ وکړئ چه دا دوي چه کوم اسلام بیانوی دا هغه دخدای او رسول
م دی که دسرمایه دارو؟ او دوی چه څه وایي دخدای دپاره یې وایي که د
ایه دار دپاره وایي ؟

## مومند وته دحاجی صاحب هجرت :

دبونیر نه مومند وته دحاجی صاحب په تللو او ډیره کېدلو مونږ ته یوه فایده
چه مونږ ته رانږدې شو او دحاله یې زر زر خبریدلو ځکه چه مومند اکثر
وره دی یو کور یې پاس په غره کښې او بل یې دلته مونږ سره په هشتنغر
وي . روزانه خلک ځي راځي دهغه ځای دماتوکو ډونه مونږ خبروی او
دماتوکو ډونه هغوی خبروی . بونیر خو یو لیرې و او بل دخلکو تګ
ورته لږ و .

دحاجی صاحب دهجرت او د اول عالمی جنګ دشروع کېدو په وجه
ستان ته زمونږ تګ راتګ بند شو . زما تولو ملګرو دحاجی صاحب
هجرت کړی و زه یوازې پاتې وم . پرنګیانو هم په ملک کښې داسې حالات
ړی و وچه ما دهندوستان د تللو جرئت نه شو کولی . بله دا چه شیخ
مولانا محمود الحسن صاحب عربو ته هجرت کړی و دحج دفریضې
لو دپاره مکې معظمې ته تللی و . هلته شریف مکه دترکو په خلاف دپرنګیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سازش دکفر فتوا په ملا یانو لیکلی او دستخط کړی وه په شیخ ا
صاحب یې هم زور لګولی وچه ته یې هم دستخط کړه خو هغه انکار کړی
دی وجه شریف مکه شیخ الهند صاحب ګرفتار کړی او پرنګیانو ته سپ
پرنګیانو شیخ الهند صاحب دخپلو ملګرو سره دمالټا په جزیره کښې ب
کړی ؤ . مولانا عبیدالله سندهی صاحب هم له هندوستانه هجرت
او افغانستان ته رسیدلی ؤ . دده سره دهندوستان یو څو قوم پ
مسلمانانو او هندوانو هم هجرت کړي او په کابل کښې یې یو عارضی حک
راجامهندرا پرتاب په صدارت قایم کړی وڅو ک چه پاتی و ومعلوم
چه هغوی دپرنګیانو له وېرې مونږ سره رابطه نه شوه ساتلی صرف یو
دېرش پونډه چه څلور نیم سوه روپۍ کېدی دډاک په ذریعه زما په
دی چه هغه ما حاجی صاحب ته ولېږلی نو دلی دحاجی صاحب هیڅ ق
امداد ونکړ حال دا و چه حاجی صاحب سره دوی دمکمل امداد وعد
او حاجی صاحب ته د دوی دامداد ډېر ضرورت و . ما ته می بابا دجېب
دپاره په مامند نادی کښې شپیته جریبه ځمکه راکړې وه په هغې کښې
زمیندار ی کوله دهغې به چه څو مره امدان کېده هغه به می حاجی صاح
خپلو ملګرو دامداد دپاره لېږه خو هغه به دحاجی صاحب دمشرخوی با
لاس ورتلو زما ملګرو ته به یې نه ورکولو هغه غریبانان دخرڅ پوري ا
هیڅ کار یې نه و لکه دنورو شیخانو دلنګر پخی پوړی ته به ناست وو
تکلیف به یې ژوند تېرولو . په کار خو دا و چه حاجی صاحب هلته دوی ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړولو انتظام کوی وی. دوی به پکښې کار کولی او بچو به هم پکښې علم زده کولی
او د تبلیغ د پاره به یی پکښې خلک روزلی وی چه بیا به نو لو قبایلی علاقو کښې خوره
شوی وی هم خیال کسان یی پیدا کړی وی او قبایل یی به یو مزی کښې پیېلی
او منظم کړی وی. زمونږ ملګرو به رموز رموز کښې دا خبری کړی وی خو چا
پرې غور نه والیښې اخر معتصم تاج محمد صاحب د شیخانو به یوه غونډه کښې
پاڅېدلی او به ممبرو دربلی دی دوی ته یی ویلی دی. تاسو شپه او ورځ د
خپل لنګر به فکری د قام اصلاح او تعلیم خواته هم څه توجه به کارده. ده غریب هم
دومره خبره کړې ده شیخانو نورو خبرو ته پرینښې نه دی او له ممبره یی راکوز کړی
دی. دا کسان خود کار قابل او لایق کسان وو دوی چه خپل کور کلی پرینښی وو قربانئ
یی ورکړې وه او مومنډ ونه تللی وو. کار یې تللي وو د یو مقصد د پاره تللی وو.
د شیخانو به شان خوې د لنګر د ودې سود کړې نه وه او لکه د شیخانو د جنت
به تمه ناست نه وو. د دوی به جنت او د شیخانو به جنت کښې او د دوی د جنت
به لار کښې او د شیخانو د جنت به لار کښې ډېر فرق و. معلومیده داسې چه
باچاګل د پېرنګیانو سره سازش کړی وا و د حاجی صاحب او د هغه د کارکوونکو
ملګرو ته مینځ یی غلط فهمی پیدا کولې او د دوی به لار کښې یی خنډونه اچول او
زمونږ ملګرو یی دی کار ته نه پرېښول، زمونږ ملګرو د یی کاری ډونډ نه شو
تیرولی مایوسه شول او د انګریزانو هم دا کوښښ وچه دوی د دې ځایه لاړ
شی. مخفی صاحب خود خپلو خپلوانو ځای ته دیرته لاړ مولوی سیف الرحمن
صاحب افغانستان ته لاړ او مولوی فضل ربی صاحب هم ورپسی لاړو، مولوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبد العزیز صاحب سوات ته لاړ ، مولوی تاج محمد صاحب کمانګری ته لاړ او هلته ځان لره دیره شو بیا د هغه ځایه په هغه لښکر کښې چه د امیر امان الله خان په مرسته د پکتیا د منګلو قبیلې د کوډ ملا د شورش خلاف جوړ کړی و، منګلو ته لاړ او هلته بیا په خوست کښې وفات شو. مولوی عبد العزیز صاحب سوات ته راغی .

## د سوات د باچاهۍ کشاله:

په دې ورځو کښې د کوهستان ملا صاحب د دیر د نواب د زور ظلم نه د سواتیانو د بچ کولو د پاره سوات ته راغلی و ، د نواب ندې د سوات ډېره برخه نیولې وه او سیتانی یوسیدې چه عبد الجبار شاه نومیده په سوات کښې باچا کړی و . کوهستان ملا صاحب د تونګزو د حاجی صاحب ماذون و ده ته په کار و چه د سوات یوسفزی ې د سواتیانو مشر کړی وې ځکه چه سوات د سواتیانو او د سواتیانو وینې پرې تویې شوې وې او بله خبره به داوی چه کوهستان ملا صاحب د مدینې په طرز او طریقه د خلکو په رأیه یو جمهوری نظام قایم کړی وي خو معلومېږي داسې چه د پښتنو د کورنو جنګونو ، کوندیو ، تربګنیو او بې اتفاقیو او د بنمنی له کبله کوهستان ملا صاحب دا کار کولې نه شو . د پښتنو تاریخ د داسې واقعاتو نه ډک دی چه کله داسې موقع په لاس ورغلې ده ، دوی د خپل ورور عزیز په ځای میا ملا په ځان مسلط کړی دی عزت یې خپلو کښې په یو بل پېرزو شوی نه دی او په خپلو کښې بد نیته شوي دي او د غه شان چه څوک د وی د خپل ملک ، تمام او مذهب مشران په ځان منلي دي هغوی بیا بنه مېرزلې او خوړلی دي او دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم ورته سبق نه دی اخیستی او دغه وجه ده چه د جنت په شان وطن کښې په جرار و ماره نه دي ورېږي ، تږي ، خوار زار او جاهلان پاتې دي د قدرت د پټو خزانو نه چه د دوی په ملک کښې لي پیدا کړی محروم دی او تر هغې بد لي دا حالت وی تر څو چه دوی قبیلوی ژوند په ملي او قومی ژوند تبدیل کړی نه وي او یو ملت شوی نه وي او پخپلو کښې ورورۍ ، عزیز ولي او قامولي مینه ، محبت او پېرزوینه پیدا کړی نه وي . او تر څو چه لي د قام عزت ، خپل عزت او د قام بې عـزتي لي خپله بې عزتي ګڼلې نه وي . دا دنیا قومونه چه اباد شوي دي ترقي لي کړې ده او اسمانونو ته وختل او مونږ چه دهغوی د عزت ژوند او اسودګی ته ګورو ورته پسخېږو . دا زمونږ په شان خلک دي دا زمونږ نه بهتر او پیدا شوي نه دي خو په هغوی کښې ملیت ، قامولي او عـزت ولي ، علم او پوهه مینه او محبت پیدا شو ، ترقي لي وکړه او په مونږ کښې دا صفات نشته ، مونږ په خاورو کښې تو غږېږو و په هغوی کښې ملیت او قومولي راغلي ده ، دا په کف او جف په تسپو ، دېرو وظیفو او نفلونو او په بې عمله دعاګانو نه ده راغلي . په هغوی کښې ایماندار ، دیانتدار ، بې غرضه او بې الایشه کسان پیدا شوي دي ، د قام تباهي لي محسوسه کړې ده ، د ژوند خوابه لي په ځان حـرام کړې دي قام لي پسې کړ خپل کې ، قام لي پوه کړي او ویښ کړی دی ، قامولي لي پکښې پیدا کړې ده اباد شوي دي .

سـید عبدالجبار شاه څه موده حکومت وکړ ، خو ورځې وروسته ورسپي مشهوره شوه چه قادیاني دی . زه په دی خبره بحث نه کوم چه دی قادیاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه که دی قادیانی و نه روهبی نه به قادیانی و هغه وخت یې چه باچاګولو ولی
ددی خبرې تحقیق نه کولو . حقیقت دا و چه هیچا دا ګمان نه کولو . چه دسوات
دا ریاست به قایم پاتې شی او چه څه وخت خینو کسانو ته چه دې کار ته یې زړه
کېږه معلومه شوه چه دا خو قایم پاتې کېدی شی نو دسید عبد الجبار شاه
پسې یې دا پرلپیکنه شروع کړه . بله دا چه دسید عبد الجبار شاه حکومت
کمزوری حکومت و دسوال یا دی وه واک و اختیار ټول دکوهستان ملا
و او کوهستان ملا دېر نکیانو مخالف و نو پر نکیانو غوښتل دسید عبد الجبا
شاه په ځای دخپلې طبعې یو داسې سړی دلته کښېنوی چه دکوهستان ملا
واک اختیار ټول خپل کړي چه په دې علاقه کښې څوک دپر نکی برخلاف لاس
او پښې و نه خوزولی شی .

په خلکو کښې دسید عبد الجبار شاه دمخالفت دزیاتیدو په وجه
کوهستان ملا مجبور شو چه هغه لیرې کړی او بل څوک په دی ځای کښېنوی
نو د باچاګل صاحب دترنګزو دحاجی صاحب دمشر زوی دا خواهش او کو بنبو
و چه دسید عبد الجبار شاه په ځای دی دسوات باچا شوی وای او دده چانس
زیات و . کوهستان ملا صاحب دده دپلار معتقد و . نو ده ځان دې موقع ته د
و او و کوهستان ملا صاحب نه یې وعده اخیستې وه . دی بېرته مومند و ته به
غرض لاړو چه څلور پنځه سوه ملاتړ دمومند و نه ځان سره را ولي مولوی عبد
چه د باچاګل نه دېر خپه و او ښه ورته معلوم و او دهغه سلوک ورته یاد و دغ
وخت دکوهستان ملا صاحب سره مصاحب و او په کوهستان ملا صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر اثه و بلکه دهغه یو قسم سکر تر و او کوهستان ملا صاحب به په هر کار کښې
دهغه نه مشوره اخیستله نو مولوی عبدالعزیز صاحب کوهستان ملا صاحب
په دې خبره رضا کړو چه د باچا کل دراسېدو نه پې مخکښې د میانګل عبدالودود
د باچايي اعلان وکړو چه باچا کل راورسېد هر څه تالا والا د میانګل عبدالودود
باچاشوی و. په دې وخت کښې د ازادو قبایلو په باره کښې د پرنګیانو پالیسي بدله
شوې وه، هغوی غوښتل چه په هره قبیله یا علاقه کښې واړه واړه خانان او نوابان
جوړ کړي چه هغوی د اقوام په قبضه کښې وساتي او د قبایلو د شور شوبو، بغاوتونو
او جنګونو مخه د دې خانانو او نوابانو په ذریعه ونیسي ځکه چه د خانانو او نوابانو
قبضه کول پرنګیانو ته ډېر اسان و هر یو به د بل دوېرې د پرنګي خوشامنده کوله
د دې کار د پاره پرنګیانو د ښبار خان ته ډېرې روپۍ او وسلې ورکړې چه ناوه ګی
باندې حمله وکړي وې نیسي که ناوه ګی د ښبار خان ونیسي نو پرنګي به دی
د دې سیمې نواب تسلیم کړي او ډېر جاګیر به ورکړي. پرنګیان په دې پوهېدل
چه ناوه ګی د دې علاقې د دروازې حیثیت لري د هر چا په لاس کښې چه وي قام
ورته ریټ وهلی نه شي قام هم په دې خبره پوهېده نو ځکه د قام او د ښبار د خان
په ناوه ګی ډېر جنګونه وشول خو ښبار خان د ناوه ګی په اخیستو کامیابه نه شو
د غه شان پرنګیان په اپریدو کښې، وزیرو کښې، مسعودو کښې او بیټنیو کښې
ډېرې روپۍ خرڅې کړې خو د خانیو او نوابیو په جوړولو کامیاب نه شول.

میاګل ورو ورو ځان مضبوط کړو او کوهستان ملايي په مخه کړو مولوی
عبدالعزیز صاحب خو دده سره د ده په باچا کېدو کښې ډېر امداد او احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي و او اوس هم ورسره هغه قسم امداد ته تيار ونو دي دده سره پاتي شوي
زه به دغو ورځو کښي د مولوي عبدالعزيز صاحب ليدلو ته سيد وله ورغلم يو
دوه شپي مي مولوي صاحب سره وکړي د مياګل صاحب په مجلس کښي شريک شوم
د سوات يوه جرګه هم په دې وخت کښي مياګل صاحب ته راغلي وه دهغوی په
مجلس کښي هم شريک شوم په خبرو خبرو کښي را ته معلومه شوه چه دا خلک
له خدايه دومره نه ويريږي ل لکه څومره د پرنګي نه د پرنګي نوم به ما اخيسته ويره
به يې دوى راتلله د دوى په خداى هم داعقيده نه وه چه ګوندې مونږ به د پرنګي
دغلامي نه خلاص کړي شي. نن چه تاسو په سيد وکښي کومې ابادې ګورئ هغه
وخت دا ابادي نه وې يوه د ختو معمولي کلا ګی وه. مياګل صاحب، مولوي
صاحب او نور تول د دوى ملګري به پکښي او سيدل او داسي خاص ميلمانه
چه به راغلل هغه به هم ورسره پاتې کيدل. زه په هلکوالي کښي هم سيد وته
تللى وم او يوه شپه مي پکښي کړې وه هغه وخت زما علم کم ؤ او د اسلام
په حقيقت پوره نه پوهيدم ما به د اکمان کولو چه زيارتونه د سړي سوالونه
قبلوي. زمونږ په خلکو کښي داعقيده وه چه پير بابا د سړي يو سوال قبلوي
نوزه هم په دې خيال د خپلو ملګرو سره اول د پير بابا زيارت ته تللى وم او بيا له هغه ځايه
دجوارى په پکله و (غابني)، سوات ته را اوړيدلى وو. د سوات د باباجي زيارت
مو کړى و او شپه مو دلته تېره کړي وه.

## د پيرنګيانو مظالم :

دا د يو رته ملک حال ؤ د کوز ملک حال دا و چه پرنګي به خلکو دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویره او ترهه راوسستی وه چه چا ددوی له ویری حقه او رښتیا خبره نه شوه کولی او حکومت خبره خو پریږده چه دچا په خیال به پوره شو چه دده دخپل قام، وطن او اسلام سره مینه ده، نود باوونه به یې پوری شروع کړلو او چه په دې به کار ونه شو نو بیا به یې منصبونه، پیسې او لقبونه ور وړاندې کړل او چه په دې به هم کار ونه شو نو بیا به یې د جیلخانو تورو تمبوته واچولو مېچنې به یې پېږې او پولې کولو مکان به یې پری کړ خول داسې ظلمونه به یې پرې کول چه د یر وحشی قام به یې هم دیو حیوان سره ونه کړي یا تې خولا دتمدن ملاعی دیو انسان سره. دا پراپیګنډه شوې ده چه انګریز انصاف دارو. منم چه انصاف دارو خو په داسې مسئلو کښې چه کوم ځای کښې به دده خپل مفاد نه وو، کله چه به دده خپل سیاسي غرض وو نو بیا د انصاف سوال نه پیدا کېده. ولې په سیاسي معاملو کښې یې بیا انصاف نه پېژندو، او بیا هر ظالم چه تاسو پېژنئ د هغه نه زیات ظالم و. د پرنګیانو مخبران به ملک کښې خواره وو- دکور، کلی، حجرې، جوماتو وره، غټه خبره به یې پولیس ته رسوله او پولیس ته تول اختیار او پوره واک حاصل وچه په هر چا به یې چه کومه کښېښوده چه داغل دی هغه به غلو بیایی پو نه وه او پولیسان هم د جهان بلد یانه وو خصوصاً د پنجاب پولیس خو د پرنګی دخوشالولو د پاره دخدای په مخلوق او مسلمانانو داسې شندی کړی چه هیڅ بیبری به چاکړی نه وي.

خانانو، ملکانو او ملایانو به ځای په ځای جرګې کولې چا به له ویرې چا به د پیسو په تمه چا به د نوکری د پاره د پرنګیانو تعریفونه کول، ملا مکانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي ترلي وي برتې به يي ورته کولی او ويل به يي چه خدای پاک ويلي دي چه «د خدای اطاعت کوئ، د پيغمبر اطاعت کوئ او د اولوالامر اطاعت کوئ» او پرنګي خو زمونږ اولوالامر دی اطاعت يي واجب دی. حالانکه د قرآن ايات کښي د اولوالامر سره لفظ «مِنکُم» راغلی دی، يعني چه اولوالامر دې ستاسو نه وي. نو دا به دې ملايانو نه ويل، او په دې طريقه يي د پرنګي د اطاعت د پاره قرآني جواز پيدا کوو. خدای پاک په قرآن کښي د بني اسرائيلو د عالمانو ذکر کوي چه هغوی به د لږو پيسو د پاره او د خپلو خواهشاتو د پوره کېدو د پاره د تورات او زبور په اياتونو کښي تحريفونه او تاويلونه کول هر مذهب او مسلک چه د خود غرضو او چالاکو خلکو په لاس ورشي بيا په کښي هغه اولني انقلابيت او روح پاتې نه شي، بيا د سرمايه دارو مذهب ترې جوړ شي او تش کالبوت شي.

زمونږ په علاقه کښي په دې کار کښي زياته برخه د عمرزو سعدالله خان اخيستې وه. يو خو خان و او بل د پرنګيانو نوکر هم و. هغه به وخت په وخت ډوډۍ وکړه خانان، ملايان او شاعران به يي راغونډ کړل او د پرنګي د خوشالولو د پاره به يي جلسي جوړولې او د پرنګي تعريفونه به يي په کښي کول او خلک به يي د پرنګي سره د تعاون د پاره اماده کول يوه ورځ په حجره کښي ناست وم د مولانا ابوالکلام د «البلاغ» اخبار مي لوسته خبر شوم چه نن بيا په عمرزو کښي جلسه ده. مولانا پخپل اخبار کښي د دې جلسو متعلق د هر يو مضمون ليکلی و. نو په زړه کښي مي تېره شوه چه ورځم او په دې جلسه کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته دا مضمون او روم خو دا همت او جرئت مي ونه کړی شو. عجیبه خو لا داوه چه دا زا د سرحد ملایانو او زبرګانو به ویل چه د پرنګی خلاف جهاد فرض دی او دداخل ملایانو او زبرګانو به ویل د پرنګی مرسته او اطاعت فرض دی.

لکه د قسطنطنیی او مدینی د ملایانو به شان یوې ډلې به یو قسم فتوه ورکوله او هغې بلې به د هغې مخالفه فتوه ورکوله. دیوی موضوع په باره کښی په یوه مذهب کښی دوه قسمه خبرې نه وې خو حقیقت دا دی چه نن په مذهب هم سرمایه دارو دخپلی سرمایې په زور قبضه کړې ده هغه د خدای رښتینی مذهب پاتې نه دی. رښتینی خدائی مذهب خو د مخلوق خدمت دی، مینه ده، محبت دی، انصاف دی، عدالت دی، بردباری او ایمانداری ده. په هغې کښی د خدای د مخلوق ګټه او فایده ده. دا نن چه تاسو څه وینئ دا سرمایه دارو د خپلو غرضونو د پوره کولو د پاره د مذهب په نوم یوه لوبه جوړه کړې ده. دا ننني مذهب خو د خو کسو د عیش عشرت د پاره دی. د خدای د مخلوق د ارام د پاره نه دی چه مذهب د خود غرضو کسانو په لاس ورشی دا سی حال شی. حقیقت دا دی چه دا ټول اسمانی مذاهب حق دی

او قرآن خو دا وایی چه

د متقی او پرهیزګارو

خلکو

به به دې قرآن هم عقیده وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچه ددی نه مخکښې کوم کتابونه دخدای له طرفه راغلي دی په هغه
به یې هم عقیده وی نوموږ نه پوهیږ وچه په دنیا کښې دمذهب
په نامه داجګړې اوجنګونه ولی اوڅنګه پیدا شوي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولت ایکٹ او موږ

وبا (د ړومبی تېر وفات) دولت ایکټ . زموږ جلسی . زما
د ړومبیٔ گرفتاری . زما بابا او نور کلیوال جیلخانه
کښی . د جیلخانی حالت د قید نه خلاصون
بیا گرفتاری او دویم واده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوړپ جنګ چه ولنبت نوز ما په زړه کښې دا خیال پیدا شو چه سړی کا
نه لاړشي او د افغانستان دحکومت په امداد د پرنګیا نو خلاف جد وجه
شروع کړي دا دامیر حبیب الله خان زمانه وه او د افغانستان په باره کښ
زما هغه وخت دا عقیده وه چه دا یو ازاد او زورور حکومت دی که چېر
وغواړي نو د پرنګیانو خلاف زمونږ ډېره مرسته کولی شي ددې د پاره مې
فیصله وکړه چه د سوداګرۍ په بهانه افغانستان ته خم. ما دا تجویز خپ
پلار ته وړاندې کړه هغه راسره ومنلو خو مور مې مخالفت وکړو خو آخر مې ه
هم راضي کړه بابا راسره د روپو وعده هم وکړه. زمونږ د کلي زمایو اش
جمعدار عجب الله خان چه د پرهو بنیار او جهان دیده سړی و د پرنګیانو
انټیلیجنس د بیپارتمنت کښې هم پاتې شوی و او دغه ملګونه یې لیدلي وو می د
خان سره ملګری کړو او د راهداری د پاره مو حکومت ته درخواست وکړو خو حکو
راهداری رانکړه او دا کار پاتې شو.

جنګ خلور کاله پس ختم شو په دې دوران کښې به کله ناکله د پرنګیا
او ازادو قبایلو تر مینځ جنګونه کېدل خو د قولو قبایلو په یوه سلا او په منظمه طریق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو . نو ځکه پرنګی ته څه نقصان نه رسیده . چه مومند و به په پرنګی حمله وکړه
وزیر ، مسعود او اپریدي به په ځای ناست وو او که د اپریدو او انګریز جنګ
و مومند ، وزیر او مسعود به خبر نه وو او که د وزیرو به ورسره جنګ و مسعود
به چه د وزیرو سره په یوه علاقه کښی ژوند تېروی جنګ ته تیار نه و . مومند او
اپریدی خولا په ځای پرېږدو . ده هر یو به ویل چه دا د هغه جنګ دی مونږ یي څه کوو
په کار دا وو چه ټول قبایل په یو تحریک کښی تنظیم شوی وای ښه تربیه ورکړ شوی
وای او ټول یو ځل را پورته شوی وای . نو که پرنګیانو د دوی د مقابلې د پاره ډېر
طاقت دلته په کار اچولی وی د ترکو او جرمن مقابله ورته سختېده او که
ډېر طاقت يي د ترکو او جرمن مقابلې ته متوجه کولی نو دلته به دوی ډېر
کامیابي حاصله کړی وای خو جهانی جنګ د پرنګی په فتح او د ترکو او جرمن
په ماتی تمام شو .

## وبا ، د ړومبی تېر مرګ :

د جنګ په وجه په دنیا کښی سخته وبا راغله . په جنګ کښی دومره
کسان نه وو مړه شوي لکه په دې وبا کښی چه مړه شول . په هندوستان
کښی هم دې وبا ډېر خلک ووژل ، پښتانه هم ډېر پکښی مړه شول . دا
داسی عجیبه وبا وه چه اکثر به یي ځوانان ، جینکۍ او هلکان وهل او مړه
کول . او چه یو کور ته به یو ځل ننوته بیا به یي یو هم نه پرېښوده . داسی
پېښه شوې ده چه په کور کښی یو کس هم نه دی پاتی شوی او د کور دروازې
پورې شوي دي . په وړوکو وړوکو کلو کښی به مړي هم داسی پراته وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځولو ي ځوک نه وو. په دې مرض د تولونه اول زه په یو تی وم خو هسې خدای جوړ کړم ځکه چې په دې مرض هغه وخت ځوک پوهېدل نه او نه د حکومت طرف نه د ډاکټر، دوا او درمل انتظام ؤ . زما و دوستانو غنی چې د پنځو کالو نا روغه شو . غنی د پړښکلی ؤ د موری ور سره ډېره مینه وه ډېر به يي ورته د ما به منع کوله او د صبر تلقین به می ورته کولو خو د هغې زړه به نه صبرېدو . یو ورځ د غنی رنځوری سخته شوه مور يي ورته د کټ سر ته ناسته وه د ده يي په غېږ کښې ايښې ؤ ما د ماښام لمونځ کړی ؤ په مصلی ناست وم دعا کوله غنی ته می کتل چې بې هوشه پروت دی چې ناڅاپه یي مور پاڅېده د زوی سر يي د خپل ورانه نه په بالښت کښېښوده او د زوئی له کټه چا پېره وګرځېده ا سه ته يئ ودرېده او لاسونه يي په دعا پورته کړل په ژړا يي وویل چې ای خدا د ده مرض په ما کښېږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې . د خدای يو عجیب حکمت و . په سباله دا ناجوړه شوه د دې مرض ورځ په ورځ زیاتېده او د غنی مرض به ورځ په ورځ کمېده و غنی جوړ شو او مور يي ځوانیمرګه شوه ماشو ئې راته پاتې شو . د هغه وخت غنی د پېنځو کالو ، ولی د دریو کالو او خور يي د یو کال

په کلو کښې دومره مړي کېدل چې خلک يي ښخولو ته نه رسیدل . مونږ به د سهار نه د قبرونو په کنستلو لاس پورې کړ تر ماښامه به لګیا وو ، کله په مشکله پوره شوا و کله به يو نیم کم شو د ډېرو به د کفن درک هم نه و . د داسې مړو د پاره مونږ يو فنډ جوړ کړو بې کفنو مړو ته مو د دې فنډ نه کفن ورکولو او په دغسې حالت کښې به هم ځینې کسان راغلل په دروغو به يي رانه کفن یوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خینو چالاکو به وژرل او مونږ نه به یې دوکه راکوله : اخر مونږ داسې انتظام وکړ چه کفن به مودخپل سره یې په لاس لیږلوچه مړی به یې ولید ونو کفن به یې ورکولو کنه بېرته به یې راوړلو . د دارو درملو موهم خه انتظام کړی وپه اول کښې خو یې چا ته دارو معلوم نه و خو وروسته چه مرض اوږد شو ډاکټرانو او حکیمانو ورته دارو دا پیدا کړل هغه به موجود ول او مریضانو له مو ورکول . دا یو ډیر لویه افت وچه زمونږ په قام دا نازل شو او په داسې وخت کښې چه نه په قام کښې احساس او نه اتفاق وچه ددې مصیبت مخه یې په اتفاق سره نیولې وای او نه موکوم خواخوږی حکومت وو چه زمونږ غم یې خوړلې وای او ددې افت نه یې بچ کړی وای . په جنګ کښې هم زمونږ د ملک خلک د نورو ملکونو د خلکو نه زیات مړه شول او په مرض کښې هم . جنګ د چا او مړه پکښې څوک شول ؟ کته او بیلا د بل چا او جنګیدلو مونږ . زه خو وایم چه مونږ اجرتي قاتلان وو . د پیسو د پاره د خلکو مړګ پسې تللي وو د خپل ملک د ازادی او خپل عزت د پاره دا کښې دا احساس نه وچه د پرنګي سره جنګیدلی وای یا کم ازکم پخپل کور کښې ناست وای پرنګي مو یوازې ترکو او جرمن ته پریښې وای . مونږ جرمن خو پریږده د مسلمان ترک سره د پرنګي په دده او طرفدارۍ وجنګیدو او جنګ مو ورته وګټلو ددې ګټې په پاداش کښې مونږ ته پرنګیانو « رولټ بیل » چه یو ظالمانه او نارو قانون وو راکړو او دخدای د طرف نه دا مصیبت نازل شو .

## دولټ ایکټ :

ګاندهي جي چه د پرنګیانو ددې وعدې په مقابل کښې چه که پرنګیان جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګټې مونږ ته به یوسلف ګورنمنټ راکړي په جنګ کښې د پرنګیانو د پرامه د ا د
وکړو خو پرنګیانو چه فتح وکړه وعلې خوپرېږده د « رولټ اکټ »، ۱۹۱۹ ع د ناف
کولو اراده وکړه نومها تماکاندهي د پرمایوسه شو او د « رولټ اکټ »، خلاف یې
اواز وچت کړو . مهاتماګاندهي خولا پرېږده چه د پرنګیانو ملګرو هندوستانیانو
هم د دې قانون خلاف چغې پورته کړې . په ټول هندوستان کښې د دې تور قانون
په خلاف زبردست ایجی ټیشن ( تحریک ) شروع شو ، لویي لویي جلسې جلوسونه
به کېدل د دنی د دنی مظاهرې وشوې ، د پرستېشنونه او سرکاري ځایونه
پکښې وسوزېدل . پرنګیانو هم اسره ونه کړه خلک یې په ګولو وویشتل په جیلخانو
کښې یې واچول د پرسپک او ذلیل یې کړل . تر دې وخته زمونږ په علاقه کښې
سیاسي تحریکونه جلسې او جلوسونه نه وو او نه پرې څوک پوهېدل د تعلیم د پاره
د مدرسو جوړولو تحریک موجود و هغه هم د جنګ په وخت کښې پرنګیانو بند کړی و
یوه شپه کور ناست وم دو دې ه موخوړله چه د دول اواز مې تر غوږه
شو چه غوږ مو ورته کښېښود د نل ورچي ور سره د نل وره غږ ولږ چه سباله
به د « ر ولټ اکټ » بر خلاف د حاجي صاحب په جومات ( عیدګاه ) کښې جلسه
وي . په دې پوه نه شوم چه د جلسې انتظام چا کړی دی . چه سبا شو چا ی مو
څکلو ، حاجي صاحب جومات ته روان شو . د جلسې نوم د کلي خلکونه وا وریدلی
داور ته یو عجیبه څیز ښکاریده د پر خلک ور ته روان وو . د تحقیق نه دا ته
معلومه شوه چه د جلسې اعلان زمونږ د کلي یو خان چه نوم یې محمد اکرم خان د
کړی دی . دا را ته هم معلومه شوه چه د جلسې د اعلان په وخت کښې د پولیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو افسر راغلی و د خان او افسر په مینځ کښې څه ګفتګو او کشمکش شوی و، خان د هغه له ضده د جلسې اعلان کړی دی، د قدرت کاروونه هم د حکمت نه خالي نه وی، چیرته دا خان او چیرته د جلسې اعلان د جلسې په ورځ مونږ اول ليدل چه دغه اکرم خان پخپله جلسې له راغی. وروسته معلومه شوه چه د جلسې په وخت کښې هغه د مردان دا سسټنټ کمشنر کریفتهه صاحب سره وو. د کلی اکثر لوی خانان وغت غټ ملایان راغلی وو. زه پاڅیدم او خلکو ته مې وویل چه دغه شان جلسو کښې د صدارت ضرورت وي یو مشر سړی د دې جلسې صدر مقرر ول په کار دی خلکو ووې چه ته صدر شوې ما ووې چه یو مشر سړی به صدر کړو خو دوی ټینګ شو زه یې صدر کړم. عام خلک خو د صدر په معنی نه پوهیدل هغوی چه د جلسې نه ستانه شول دا یې خوره کړه چه ګوندې زه د پښتنو باچا شوم، مونږ خو دغه وخت په تقریرونو نه پوهیدلو خو چه د اخبارونو نه موځه لږ ودېر زده کړي و وهغه مو خلکو ته وویل اخو کښې یو بل خان تجویزو راندې کړو چه دا خو زمونږ د کلی جلسه ده، بلې هفته بیا د لته د دې تولې علاقې جلسه وي خلک خبر کړئ چه په کښې شمیر کښې راشي. د تقریرونو په لحاظ خو دا جلسه جلسه نه وه مګر د اثر په لحاظ یې په خلکو کښې د ېر جوش خروش مینه او جذبه پیدا کړه.

## زمونږ جلسې:

د راتلونکې جلسې د انتظام د پاره خلکو ملا وتړله، زه پخپله هم په اس سور شوم او د دوا دې او هشنغر کلی می وکتل د جلسې د جوړولو د پاره دولت زي له ورغلم. دا د دوا دې مشهور کلی دی، هغه کښې می د دغه کلی لوی خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدہ دہ وعدہ وکړہ چہ جلسی لہ بہ ذرخم پہ دولت پورہ کښی دہ راتہ یوہ ډېر
عجیبہ خبرہ وکړہ. وې چہ یوسړی کرہ سمسرہ عادت شوې وہ د دوی پہ بہ لي
خښبل. ښځی دہ تہ ووې چہ دې سمسری خو ډېر ورانی را اخیستی دی څہ ورسہ
وکړم ؟ دی پخپلہ سمسری ډیرولی وو ورتہ یې ووېل چہ ښځی دا خو زبرکہ دہ
ورتہ مہ وایہ. ښځہ پہ پیومینہ وې یوہ ورځ دې سمسرې پہ کتهوی کښی څښلا
د ښځی صبر نہ شو پہ سو بارې یې ووهلہ او مړہ شوہ دې ښځی فکر وکړو چہ دا خ
می د خاوند زبرکہ وہ اوس بہ ماسرہ څہ کوې چہ خاوند یې راغی نو ورتہ یې ووې ح
زما د لاسہ نن ډېرہ غلطی شوې دہ ستا نہ دهغی معافی غواړم، خاوند ورتہ ووې
چہ وواېہ. دې ورتہ ووې چہ هغہ زبرکہ زما د لاسہ مړہ شوې. دہ وې کومہ د
دې ورتہ وښودلہ دہ پړی را باندی کړہ ل. مړہ سمسرہ یې ټوټی ټوټی کړہ ا
ښځی تہ یې ووې چہ زبرکہ مړکہ نہ وہ خو زہ ترې پیړ یلم. دی وخت کښی پہ
چاکښی قومی جذبہ پیدا شوې وہ، دا سرکاری جرګہ نشین خان وخو ډېر لګ
څہ یې نفرت پیدا شوی و.

خانانو او غریبانو ټولو لہ مو پہ جلسہ کښی ډکلہ ون بلنہ ورکړہ، خلکو د
خوشالی ومنلہ. د جلسی پہ ورځ دیولک نہ زیات خلک راټول شوې وو.
زوکونو ښځو د جلسی د خلکو د پارہ پہ منګو کښی د سینډ نہ او بہ راچلولی. د جلس
پہ دوران کښی د حکومت لہ طرفہ میان اکبر شاہ کاکاخیل ماپسی راغی او ویل
چہ چیف کمشنروالي چہ پہ صوبہ سرحد کوم قانون حاوی دی دا خو د«دولت اکت
پلار دی، دا خو د «دولت اکټ» نہ زیات ظالمانہ دی دوی لہ پہ کار دی چہ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون په خلاف دحکومت غوږونو ته خپل آواز ورسوي. د «دولت اکټ» تا و
دوی ته نه رسي او بله دا چه هندوستان ددوی سره د دې قانون په لیری کولو کښې
کوم امداد کوی دی چه دوی یې ورسره کوی زه د دوی سره وعده کوم چه په دې
قانون له نوی سره غور وکړم او چه دوی څه وایي هغسې به وکړم ماورته ووې چه میا
صاحب زه منم چه هندوستان زمونږ مرسته نه ده کړې دا د هغوی انساني فرض
و خپل انساني فرض یې ادا نه کړل زمونږ هم دا انساني فرض دی چه د دولت اکټ
خلاف ورسره خپل اواز ملګری کړو. هر سړی په خپل عمل پړ دی. میا صاحب پوه
شو چه دی زما په دام کښې نه نښلي نو بیایي ووې که ته اجازه راکوې زه به هم دې
خلکو ته خوشخبرې وکړم. ماوې وکړه. د هغه په تقریر کښې دخولی نه دا وخته چه حکومت
زمونږ مور او پلار دی. دا په خلکو بده ولګېده چغې یې پورې جوړې کړې چه میا
کښېنه حکومت که ستا مور وی او که ستا پلار وی وی به زمونږ هیڅ هم نه دی. ما
چه خلکو ته وکتل په خلکو کښې پوره جذبه وه او میا صاحب ته په قهر وو. ما میا صاحب
کښېنولو او په خپله ورسره شوم د جلسې نه می بهر وښکو ځکه که زه نه وای یا ما د خلکو نه
مخکښې د علام تشدد وعده نه وای اخیستی خدای خبر چه د میا غریب به څه حال
شوی وای. زه یوه خوا د خلکو جذبې ته حیران وم او بله خوا د میا ګانو انګریز پرستی
ته. ددې جلسې صدارت هم خلکو ماته راکړو، مونږ د تقریرونو په چل نه پوهېدو
اکثر به مو تقریر ولیکه او د کاغذ له مخه به مو خلکو ته اورولو. عباس خان دې خدای
وبخښي زما ډېر دوست و هغه له مې لیکلی تقریر ورکړی وچه د هغه وار راغی او پاڅېده
تول ربړېدلو وی ویل دا تور قانون بیایي ووې دا تور قانون څوکه ته یې هم دا تور قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورقانون ووي ماورته دلاندې نه ووې چه وراندې ووايه دې تول رپېلده داته
يي وويل چه په ستر کومي تياره ده وراندې نه وينم ددې نه يي زيات څه ونه ويلي شواخر
کښيناست . دازمونږ دتقريرونو حال وخوسره ددې هم جلسه بالکل کامیابه وه
قرار دادونه موپاس کړل ، اخبارونو اوحکومت له مو وليږل .

په خلکو کښې يوه عجيبه مينه اوجوش وه بيا خاص زمونږ دکلي دنرو اوښځو
خولا بل حال و . په سوونو ښځې زمونږ دکلي راغلي وې کومې وه سپينه ته به
تللې اوخلکو ته به يې دځکلو اوبه راوړې . زمونږ دکلي دوه کسه دې جلسې ته نه
وو راغلي يو خان بها در محمد عمر خان اوبل هغه خان چاچه داولې جلسې
دپاره دنله وړې وه لې يعنې محمد اکرام خان هغه دجلسې په ځای مردان ته
ګوريفت پيرنګی ته تللي وو . ګوريفت دمردان استنټ کمشنرو ددوی اشنا
و . په دې ورځ يي هم داخيال وچه په حکومت به زمونږ مخ وشي خو نه يي په حکومت
مخ وشو اونه يي په قام کښې مخ پاتې شو . دوی په ګوريفت صاحب داده وو
خودقدرت کاربيل وې ګوريفت ددوی په سبه رانغی او ددوی هم مونږ سره ګوزاره
شول مونږ تراخره هم په دې پوه نه شو چه اکرام خان د دولت اکټ خلاف د
اعلان ولې کړی وخوخلکو به داويل چه ده غو ښتل چيل تربوران ، خانان ، دپيرنګيانو
په ضد راولی او پيرنګيان هغوی برباد کړي خودی يکښې پخپله ونښت .

داتمانزو دې جلسې په پښتنو کښې اور ولګولو او ښه جوش او خروش ئې
پيدا کړو . بله جلسه په تاکال کښې د ارباب رضا خان له طرفه مقرره شوه ، تول
علاقه يي خبر کړې وه مونږ ته يي هم بلنه راکړې وه . دجلسې په ورځ سهار وخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ور روان شو چه د سر دریاب دپله نه پورې وتلو. عاشق، د پېښور د بنارمیوه فروش په تانګه کښې سور مخې له راغی اشاره یې وکړه تانګې مو وودرولې راکوز شوزه عباس خان، بابې جان او احمد استاذمې بیل کړو او دا نه یې ووې چه د افغانستان او پرنګیانو جنګ شروع شو بلکه په ټول ملک کښې د مارشل لا اعلان شوی دی. د تا کال جلسه بنده شوه او د افغانستان له طرفه څه کاغذونه ما ته راوړې دې داوخلی او په ملک کښې یې وویشئ، کاغذونه یې زمونږ مُلګرو له ورکړل او دی بېرته بنار ته ستون شو او مونږ بېرته کلی ته راغلو.

په دې ورځو کښې قاضی ثناءالله د پرنګیانو له خوا مقرر شوی وه چه زمونږ د علاقې دوره وکړی او دا معلومه کړی چه څوک د پرنګیانو په خلاف او څوک یې په حق کښې دی نو دی به ګرځېده او ځېرو، جوماتونو کښې به یې د پرنګیانو په خلاف سخت سخت تقریرونه کول. یوه ورځ زمونږ په حجره کښې یې مونږ ته دا قصه کوله چه زه د جنګ په ورځو کښې پرنګیانو غوربوته د مخبرۍ د پاره لېږلی وم هلته یې په یو جنګی سمندری جهاز کښې د یو جرنیل سره ولګولم، د دریاب په غاړه د غوربو یو کلی و مونږ یو پرنګی د سفیر په توګه ور ولېږلو هغوی دا پرنګی مړ کړو چه د هغه د مړګ خبر راغی نو جهاز ته حکم وشو چه په کلی ګوله باری وکړي. نو چه هغه کلی یې په ګوله باری دخاوری سره خاوری کړو بیا فوځونو ته حکم وشو چه لاړ شئ وګورئ چه څوک مړ یا ښځه، څوژوندی پاتی شوی نه دی که پاتی وي مړه یې کړئ. زه هم ورسره لاړم چه کلی ته ورسیدم څه ګورم چه یوه ښځه شهیده شوې ده او ورو کی ماشوم یې په تی پوخت دی او روی یې. په ما ددی ماشوم او مورحالت ډېر اثر وکړو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خه وخت جهاز ته واپس راغلو نو ما دخپل افسره سره خبره کول غوښتل خو
هغه دومره په غصه وُ چه زما شکل لیدل یې هم نه لګیدل او داته یې ووې چه
دمخې نه می لیرې کیږه . نو هغه وخت ما په زړه کښی دا خبره محسوسه کړه چه
دیو پرنګی د پاره یې دا دومره مسلمانان دخدای مخلوق تباه تباه کړو او لاړه
یې سور نه دی نو دځان سره می فیصله وکړه چه نوره ددوی نوکری نه کوم اول
کافر وم ددی پېښی نه وروسته مسلمان شوم . دغه شان قاضی صاحب دتول
هشتنغر دوره وکړه . دهشتنغر خانان ، ملایان او عوام ټول دانګریز مخالف
وو . قاضی صاحب دټولو حالات معلوم کړل یو زمونږ دکلی د محمد عمرخان
په باره کښی سرکار ته لیکلي وو چه په ټوله علاقه کښی دده په شان ستاسو بل وفا
دار نشته . ددي رپوټ په وجه د محمد عمرخان د سرکار په کور کښی لویه
ترقي وشوه او ډیر اختیارات یې ورکړل او خان بهادر یې کړو .
دمارشل لا په وجه زمونږ په خلکو ډیره ویره او هیبت راغی ځکه چه داخبارونو
په ذریعه به د هندوستان او پنجاب دحالاتو نه خبر بدل چه پرنګیانو په خلکو څومره
ظلم او زور را اخیستی دی . په ټولو کښی مونږ ډیر ناکاره وو هره ورځ به اوازه
شوه چه بنګاله به فوځ راځي او دکلی نه به چاپیریږی . ددی کونګوسې په اوریدو
به زمونږ دکلی نر او ښځې په لړزان شوې او یوه هله ګوله به جوړه شوه خوک به په
کوټو کښی وینس نابست وو ، څوک به دکلی نه تښتیدل خوک به په حجرو کښی را
جمع شول . زه پخپله هم دګرفتاری په وجه به پخپل کور او حجره کښی کښیناستی
نه شوم په کلي کښی به ګرځیدم خلکوته به می دا ډاډګیرنه ورکوله . یوه شپه ډېره ګوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوازه وه چه نن به فوځونه خامخا راځي چه یو سړی خبر کوم چه ملک سلطان محمد خان سره د سرو په سرک کښې موږ چه نیولي ده او وایي چه د پرنګي نه مونږ هسې هم نه خلاصیږو ویو ځلې مرګ دی زه خو ور سره مقابله کوم . زه په منډه ورغلم چه ګوړم ملک صاحب ولاړ دی کوچ یې اچولی دی نوکران یې موږ چه کړي دي ، دی ورته شابسی ورکوي . ما پرې دلیرې نه اواز وکړو چه ملک صاحب څه کوې جواب یې راکړو چه نن ورسره معلومو ماتري پوښتنه وکړه چه توپک د سره دي ووې چه پنځه توپکه ماتري بیا پوښتنه وکړه چه څومره کارتوس د سره دي ده ووېل چه شل پنځه ویشت دانې به وي ما ورته ووې چه دا دومره کارتوس خو د څو به یو توپک کښې وي نو څرنګې به پنځو توپکو او شلو کارتوسو د پرنګي مقابله کوی ؟ د دې خبرې به او ر بلاو خو یوه شپه چپ شو بیا یې نوکرانو ته ووې چه د دوی سره نه کیږي زما اسپه زین کړئ ! په اس سور شو او شپه په شپه ازادی علاقی ته لاړو دغه شان زمونږ د کلی د ډیر کسانو ځانونه په ځنګ کړل .

## زما ګرفتاري :

زه میرې ته لاړم زمونږ زهید او رو عبید الله کاکایي نوم ؤ په بله شپه مې هغه د ځان سره کړو او کچې ،کوپر ته لاړو هلته مونږ پخوانی زمیندار او سیدل دا د ایجنسې علاقه وه زمونږ د کلي یو مفرور مرتضیٰ خان هم دلته او سیده . هغه موږ لیده راسره شو . سپینخړو ته روان شو ، هری چند د نهر په غاړه د باړه پولیس تهانه وه چه ورننزدې شو سپاهیانو دا باندې اواز وکړو چه ودریږي تاسو څوک یئ ؟ مونږ سره بې لایسنسه وسله هم وه په ماویره راغله خو مرتضیٰ خان ور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلله وو ورانډې شو ورته يي وويل چه خپل يو دغه د پېژند ګلوی په وجه يي مونږ د
دتللو اجازه راکړه . مونږ چه د سپينغرو لارې ته برابر شو او مرتضی خان دوی
دا نه بېرته ستانه شول او مونږ سپينغرو ته لاړو بابا جي خبر شو زمونږ ليدلو
داغی او زمونږ يي ډېر قدر او عزت وکړو . شپه مو په سپينغرو کښې تېره کړه س
دافغانستان په نيت روان شو خلکو دا رايه راکړه چه ستاسو د پاره ډېر انګ
غرلاره ښه ده د سپين غره په ځانګو پورې وځئ او د باجوړ په لاره به فيـ
جلال اباد ته لاړ شئ خوزه د ځانګو نه ويرېدم ولې چه زما بدن ډېر دروند وزه
سړی داو بوډا وه چه د ځانګو پرې را باندې ونه شلېږي او په سپين کښې ونه لوې
په دې لاره زما د تللو اراده نه وه خو ملګرو مجبور کړم او مونږ پرانګ غره ته روان
شو چه په غره مو د ختلو شروع وکړه د سمي خلک د غره د منزل نه دي او زه خو
نور و ملګرو نه زيات بې خونده وم چه څه لږ منزل مو وکړو نو ستړي شوم مونږ ته
يو سړی د بوچو لارهم ښودلی وه دالار لږه اوږده وه خو اواره وه او په سپينه
هم په ګودر پورې وتل و نو ما ملګرو ته په دې لارې د تللو تجويز پيش کړو بېره
دا ګوځېل وا او بوچو ته روان شو نا وخته بوچو ته ورسېدو د اکوم خان نومی
ملک حجرې ته لاړو اکوم خان ډېر ښه سړی وه زمونږ يي ډېر دار مدار وکړ
شپه مو په ارام تېره کړه سهار مو چه چای د څښلکه په روانېدو کښې وو چه ګو
بابا مې را ورسېد راته يي ووې چه بچيه بل ملک ته مه ځه زه د پېښې کشتو
تاپسې را الېږلی يم هغه وايي چه ده بې له جلسې نه بل څه نه دي کړي او جلس
خو څه جرم نه دی ، مونږ ورته هيڅ نه وايو ، ما ورته ووېل چه بابا ماړشل ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو خو پرنګیان هسی په معمولی معاملو کښی انصاف نه لری او بیا چه د هغوی
خلاف کار وشی او غار شل لا هم وی نو د دوی نه د انصاف څه تمه کیدی شی؟
نه يي په وعده باور کول په کار دی لیکن بابامی د تللو اجازت رانه کړو د هغه
رنګي په ژبه باور دی پخپله یو ژبی سړی و دی د پرنګی په فریب او چلول کله
هیله ه ما تری روی چه نه ما سره چه پرنګی کوم لوظ کړی دی هغه به هیڅری ماتولی
ری زه یی مجبور کړم او بېرته یی کلی ته راستون کړم. چه ما مند نارې ته داود سیلو
ي دلته پریښودم او دی اتمانزو ته لاړ زما په زړه کښی ویره وه او دا باور می
وچه کوندی پرنګیان به ما پرېږدي نو زه به تول ورځ په مقبره کښی پټیدم
مامند نارې سره نژدی یوه لویه مقبره وه او د شپی به کور ته راتلم. زه د پرنګیانو
یت نه وم او نه هغوی زما نه بی خبره وو بابامی پخپله زما د راتګ نه خبر کړی.
یوه ورځ زه دغر می د وډی له کور ته راغلی وم په حجره کښی ناست وم چه تانه دار
د دیولوی کار د راغی او زه یی ونیولم. زما د نیولو خبر د بجلی په شان تول علاقه
نی خور بشو څوک چه خبر بدل ما مند نارې ته به راتلل چیل چیلوان می مونږ کره
جمع شوی وو ژړا انګولا یی جوړه کړی وه د مور می ډیر حالت خراب و تانه دار
ر سړی و ما ته یی کورته د تللو اجازت راکړ و مور می با با ته ښیری کولې چه که تا دی نه
ی راستون کړی ولې به ګرفتا ر یده ما می مورته ډیره تسلی ورکړه خو هغی په چغو
و ژړل. د څینو کسانو دا نظر یه وه چه ته وتښته مونږ به د پولیس سره تر هغه
سته پوري مقابله کوو تر څو چه ته د دوی له علاقی نه نه یې وتلی. لیکن د وی څه خبر وو
غار شل لا ده او ما هم د خپل ځان د بچ کولو د پاره نور خلک په مصیبت کښی نه اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library



موردا توغاړه وته ښکل یې کړم او راته یې ووې بچیه په خدای مې سپارلی
زه د مور نه رخصت شوم بهر راته تانه دار منتظر و د خانمانۍ تاڼې ته یې بوتلم
هغه ځای یې مردان ته بوتللم د رسیدو سره یې پولیس کپتان ته مخکښې کړم
سره یو تانه دار او بل کمیدان و دواړه په وردۍ کښې وو او بوټان یې په پښو
څه وخت چې دوی زما سره پوښتنې ته ورننوتل بوټان یې وایستل ما ته دوی په
کار د ډېر سپک ښکاره شو دغې نه پس یې زه جېل ته بوتلم چې زولنې یې راته
زما په پښو کښې تنګې وې ځکه چې زما باډۍ ډېره مضبوطه وه پنډۍ مې غټې غ
وې. هر څومره زولنې چې یې راوړې زما په پښو کښې رانغلې اخر یې په زور ر
جوړه زما په پښو کښې واچولې ډېرې تنګې وې څرمن پورې کلکې ونښتې. لو
وروسته یې زه د جېلخانې نه راوایستم هتکړې یې هم راته ولګولې په مو
کښې کښېنولم دوه پوړنګیان یو د پولیس افسر او یو ملکي افسر راسره شول د
نه یې پېښبور ته روان کړم هغه وخت ما دا خبره محسوسه کړه چې د ما د شل لا
کښې چې حکومت څوک وغواړي نو هغه ته ځان ورکول په کار نه دي ځان سپ
غلطي ده زه پخپل راتګ پښېمانه او ستومانه وم خو څه فایده ؟ چې ښار ته ورس
نیغ یې د پولیس کپتان بنګلې ته بوتللم د موټر نه یې کوز کړم او کښې یې نولم پولیس د
چاپېر وو لږ ساعت وروسته زمونږ د کلي یو هلک چې د ټیلفون تار یې پرې کړی
دوه کاله قید و هغه یې د کپتان بنګلې ته دننه کړو بهر ته یې راووېست او واپس
بوتللو بیا یې زه بنګلې ته ننه ایستم چې ګورم لس، دولس پوړنګیان راغونډ شوي
زه یې هغوی ته مخکښې کړم د دوړ مخکښې کېښ وسره را باندې یو پوښتنې سوال وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا د سرکار برخلاف بغاوت کړی دی ما ورته ووې چه نه ما هیڅ بغاوت نه دی کړی بل راته ووې چه ولې تا د سرکار برخلاف جلسې کړې نه دي؟ ما ورته ووې چه په جلسو کښې مونږ د بغاوت هیڅ قسم خبرې نه دي کړي بلکه مونږ سرکار ته خواست کړی دی چه دا قانون دې په مونږ نه جاری کېږي بل ووې چه ولې ته د سرکار برخلاف په خلکو کښې کوځېدلی نه یې؟ او خلک دې د سرکار برخلاف اوچت کړي نه دي څه؟ ما ورته ووې چه زه خو اکثر په خانانو کوځېدلی یم او خانان خو د سرکار خیرخواه دي. بل راته ووې چه ولې تا خان باچا کړی نه و؟ ما ووې نه ده وې ولې خلکو به د ده ته باچا نه وې ما ورته ووی چه کوم و خلکو ما ته باچا وایه هغوی بې علمه او ناپوهه خلک دي هغوی غریبانانو د صلحه او باچا فرق نه شو کولی. زه د جلسې صلحه وم د هغوی د اګمان وچه صلحه به باچا وي. د دی نه پس زه یې بهر راوایستم. بهر راته پولیس تیار ولاړ وو راته چاپېره شول پیاده یې روان کړم د تنګو زولنو په وجه مې پښې زخمې شوې وینې پرې روانې وې په داسې حال کښې یې د چونې کوتوالی ته بوتلم او په حوالات کښې یې بند کړم هلته مې زیرب تا نه دار ولیده چه دوه پرې ما ته را نږدې کېدې نه شو په دده دده به را ته تېرېده. دده ماسره په مشن سکول کښې یو ځای سبق ویلی و او یو ځای په بورډنګ کښې اوسېدلی وو او لکه د ورو نو مو ډېر تعلقات وو.

په سباله یې زه بیا د پولیس دفتر ته بوتلم سید اکبر نومې یو اپریدی انسپکټر و د دی کوتوالی انچارج و هغه راته ووې چه ستا نن پېښې ده پاسه څه ما ورته ووې زما پښې ټوبلې دي زه کچېرۍ ته پیاده نه شم تللی، ده راته ووې چه جلسې کولی شې او پیاده تللی نه شې زه ستا د پاره د سورلۍ انتظام کولی نه شم ما ورته ووې چه دا شه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پښې وکوړه زه د پیاده تللو یم ؟ ده راته وویل چه زه دې پښې نه کوم پاڅېږه ـ روانېږه چه ځو . ما ورته ووې چه زه پیاده نه ځم او که ته مې بیولی شې بو می ځه چه زه ورته کلک شوم نوانسپکټر راته نوم شو . دانګرېزانو عجیبه حکومت او عجیبه نوکران دي چه ما ورته نومه وی ده راته ګومه وې او چه ما ورته ګرمه ووې دی راته نوم شو سپاهي ته یې اواز وکړو چه ورشه هلکه تانګه راوله په تانګه کښې یې کښېنولم پېښې ته یې بوتللم یو ساعت بهر ناست وم هیچا ته یې مخکښې نه کړم او له هغه ځایه یې جېلخانې ته بوتللم په جېل کښې یې یو بارک ته ور وستم یو زوړ کمبل او یو زوړ تړېږي یې راکړل یوه کټه ی خالي وه ما تړپړی په کټه ئ واچولو ، ما جېلخانې چېرې لیدلې نه وه او د جېل نه ډېر وېرېدم زه څه چه تول پېښتانه د جېل نه وېرېدل ، جېلخانه چه چالیدلې نه وی ورته یو بلا ښکاري خو زمونږ د خدای خدمتګارو تحریک په وجه تري اوس څوک نه وېرېږي ، زمونږ د قبایلو پښتانه اوس هم د جېل نه ډېر ډیات وېرېږي ماسره چه بارک کښې نور قیدیان وو د هغوی جامې ډېرې ښې وې او تعلیمیافته ښکارېدل خو په ما تیاره وه د ځان فکر راسره و . په هندوستان کښې پرنګیانو د ډېر خلک پاڼسي او چار ماري کړي و . زما هم بخپله باره کښې داخیال و شپه او ورځې به مې لمونځونه او وظیفې کولې خدای ته به په سجده پروت وم زاري به مې کوله که عمري قید شم خو خیر دی چه پاڼسي نه شم ، څو ورځې چه تېرې شوې د جېلخانې د ملګو سره بلد شوم پو ښتنه مې تري وکړه معلومه شوه چه ټول د افغانستان خلک وو او پرنګیانو د جنګ له کبله بندیان کړي وو .

لس ، دولس ورځې به تېرې وې چه یو سپاهي راغی راته یې وویل چه بهر ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دوسنت راغلی دی وایي که دده څخه سوال وجواب وی چه زه یې کلی ته ورسوم زما
خواول په زړه کښې دا راغلل چه بابا ته سوال وجواب ورکړم چه فضلو لوهار دی
کره زما څخه کاغذونه دي هغه واخلئ او وې سېزئ ځکه چه هغه کاغذونه په
ازادو قبایلو کښې د دوړې کولو او یو مرکز جوړولو په باره کښې وو که هغه حکومت ته
په لاس ورشی کافی ثبوت دی خو د لږ فکر نه پس زړه ته دا راغله چه دا دی سپاهی
تا سره کوم تعلق او کومه همدردی ده چه ستا له غمه خوب نه ورځي په دې چل دوی
ستا راز معلوموي. د جېلخانو ملا زمان اکثر د سی. آی. ډی مخبران وي او
د سیاسی قیدیانو سره خود ډېر داسلوک کېږي د هغوی تجربه نه وي دوی ورته خوله
پسته کړي راز ترې واخلي زما ډېر خطونه یې په دې طریقه سی. آی. ډی له
ورکړی دی. دا تمانزو هغه هلک چه د ټیلفون د تار په پرېکولو دوه کاله قید شوی وو
په جېلخانه کښې په لنګر کښې وو او په قیدیانو به یې ډوډۍ وېشله هغه نه ما پوښتنه
وکړه چه ته یې زما د راوستلو په ورځ د څه دپاره د کپتان بنګلې ته راوستی وې
هغه راته ووې چه په ما جېل والا او پولیس والا د پروس کړې وکه تا نه پوښتنه
وشی چه دا تار تا د چا په لمسه شلولی ونو ته ورته ووایه چه د عبد الغفار خان په لمسه مو
دا دوه کاله قید به دې معاف شی نو ځکه لې زه هغه پرنګیانو ته پېش کړم هغوی
را نه پوښتنې کولې چه دا تار دې خو به تا د بل چا په وینا پرې کړی وی؟ ما ورته ووې چه
نه صاحب د هیچا په لمسه مې نه دی غوڅ کړی اخري راته ښکاره ووې چه کوره
دا کار به تا د عبد الغفار په وینا کړی وي ما ووې نه دا کار ما پخپله
سلا کړی دی زه دروغ نه شم ویلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما د بابا او نورو کلیوالو گرفتاری:

زما د نیولو به شپاړس ، اووه لس ورځې شوې وې لوړ ماز یگر و چه یو ملاز
داغی را ننوتی و وی چه د اتمانزو اته نهه شلي قید یان یې را وستل زه لا په دې فکر
کښې وم چه دا به څوک وی چه لو یه ډله یې زمونږ په بارک را ننه ایستل چه کاته می بابا می
و ، عطاء الله دادا ، شمروز دادا ، حیدرخان کاکا ، عباس خان ، فیض محمد خان
عبد الغفار خان بړنی ، د شموز و مشر ملا صاحب ، برهان دادا ، لنډه دا چه یوازی
زمونږ د کلي یکښې اووه نیم شلي تنه وو . زمونږ خو تول خاندان وو د اتمانزو تول
خانان وو اکثر لوی ملایان ، پیران او معززین وو د دغو یو خو خانان چه زمونږ
خپلوان وو هغه وو . برهان خان ، قلندر خان ، د بابړي باچا صاحب او څه کسان
یکښې د چارسدې وو د اخلک یې د هغه قاضي شاکر الله په ډاپړکی نیولی وو . بابا
می چه زه ولیدم ډیر خوشحاله شو وی خندل او وي ویل چه د خدای شکر دی
چه تا سره یو ځای شوم زما په باره کښې دا خبره خوره شوې وه چه پهانسی شوی
دی ځکه می بابا په لید و خوشحاله شو زه هم خوشحاله شوم ځکه چه یوازی تنگ
شوی وم . دوی راته د خپلې گرفتاری قصه داسې بیان کړه چه ملایانو لا د سهار
بانگونه نه وو ویلي تیاره وه چه فوځ زمونږ د کلي نه چاپېره شو او د ملدرسې سره
په دې لوی میدان کښې یې توپې و دروله گوره سپایان پرې ناست وو چه څوک
به د کوره راووت هغه به یې ونیو او ډاک ته به یې راوست چه لږه رڼا شوه پولیس
په لاره ، کو څو کښې خواره شول او خلک به یې له کورونو نه راویستل ورته به یې ویل چه
هر چا کوره وسله وی هغه دی راوړي سرکار ته دې تسلیم کړی که چا تسلیم نه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسله ورکړه وخته چار ماری کېږي به خلکو دوېږي نه وسلې راوړي په ډاک
ښي یې انبار کړي او خلک یې هم راوستل په ډاک کښې یې د توپو خولو ته مخامخ
ښېنول چه ډاک د خلکو نه ډک شو او وسلې له کورونو نه راټولې شوې ښځې د کوټو
ته ختلې وې ژړا انګولا وه په ټول کلي وېره او ماتم وو چه په دې کښې ګوره کان
ړ ته وختل او د توپو چړق چړوق شو د ټولو دا یقین شو چه وژل کېږو و د قرآن
سود تولو ویلو مو شروع وکړه او هلته په کوټو ښځو وېرته زودورکړو چه په دې
ت کښې د پېټهی کمشنر او څو فوځي افسران راغلل او زمونږ مخکښې ودرېدل
راټرې وویل چه ای داتمانزو خلکو پوه شئ چه د سرکار د ېرلوی لاس دی یو
س یې افغانستان کښې دی او بل دلته تاسو ته دی. ما ستاسو کلی د ېرش
زره روپۍ جرم کړو او یوسل وپنځوس کسه می ستاسو نیول پنځوس کسان په
ی کښې چه هغوی د سرکار برخلاف جلسې کړي دي او سل کسان به تر هغه وخته
ړي قید وی چه تاسو دېرش زره روپۍ جرمانه ادا کړې نه وي. بیا یې
ږ د چا د سلاې تانې ته راوستو او له هغه ځایه یې په ټمټمو کښې کښېنولو
یل ته یې راوستو. بله ورځ می کا ته چه محمد اکرام خان هم چه زمونږ په
ونه یې مخبری کولی لاس تړلی راوسته. ده سره یو نکیا نو عجیبه
قه وکړه نه ددین شو نه دسادین. اکرام خان مونږ سره په بادک
ځای وزما دا خیال وچه پخپلو کړو به پښېمانه وي او لوږ شرم به محسوسوي
هغه دومره کلک سترګی وچه مونږ ترې په او د کښې ولاړوو چاپوړی به یې
مخبری کولی چا سره به یې بحث کاوه او چا سره به ښتی وجنګ به یې کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به يې ننګنځل کول ويل به يې چه خدای ويلي چه ذوی به دی ويلي چه ذوی به دمسلما
ځ قسم دوستان نه شي خو چه يوه ورځ ورته زوی ليکلي وو چه ته زوی ليکلي وو چه زمو
نت مستور ويلي خا نمايي ته په دوره راغلی و . ستا تصوير ته حلی و . ستا تصوير ته چه په حجب
و ډېر ډېر کتل . په دې دومره خبره دده نه د پرنګيانو هغه تو ده نه د پرنګيانو هغه تول بل
زوی ته يې وليکل چه دا لې ورکول په کار دی . دا تول د غلامادی . دا تول د غلامانه ذهن
په غلامی کښې د انسان نه انسانيت هېر شي او انساني خوبله رشي او انساني خوبله پکښې پا

.

زمونږ سره يو کابلي بندی وچه کله به ئې تو پونو د رزهار شو او داسو د رزهار شو او داسې به معا
غانستان او د انګريز جنګ دی په جوش او جذ به کښې پاڅي او جذ به کښې پاڅېده پېړ
شو لاس به يې د توری غوندی څنله او په زوره زوره به يې او په زوره زوره به يې ويل ح
، کش کو . زمونږ څو مره کسان يې چه د جلسو کولو په تورنيولی وو د سو کولو په تورنيولی وو د حکومت
ر چه ګونډی زمونږ د افغانستان سره څه راز باز دی او کوم اخبار راز باز دی او کوم اخبار ونه چ
ستان نه راغلی دی هغه دوی په ملک کښې تقسيم کړی دی او دوی نسيم کړی دی او دوی د افغا
ط او کتابت هم لوی . حکومت لګيا و ددی تحقيق يې کولو بابا مې راحقيق يې کولو بابا مې راته وويل
الله، خان د عمر زو به چل ول زمانه د امعلومات اخيستل چه نلومات اخيستل چه زمونږ يا
ستان سره راز و باز شته يا د افغانستان اخبا رونه د رته راځي ن اخبا رونه د رته راځي . بابا
ه په ما باندې ډېر زور نګولی وکه د غسې اخبا رونه تا سره وي يا خبا رونه تا سره وي يا د رته م
مانه يې راوړه چه زه يې لولم . ده غو ښتل چه دغه راز معلوم کړی ا دغه راز معلوم کړی او پرنګې
ی وکړي او خپل مخ پېری وکړي خو حقيقت دا وچه د افغانست دا وچه د افغانستان س

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ هیڅ راز و بازنه و نږ هیڅ راز و بازنه و نه موخط وکتابت وه نه موهغه اخبارونه تف
عاشق میوه فروش چه کوم ل میوه فروش چه کوم اخبارونه راوړي وو په هغه کښی ما یوهم نه وو
بابي جان ، اکبر او احمد ابجان ، اکبر او احمد استاذ اخیستی وو . د بابي جان د اخبارونو
د اخلاص شوم مورمی را ته قوص شوم مورمی را ته قصه کوله چه بابي جان خو مونږ په لوی مصیب
خو خدای بچ کړو . خبره لدای بچ کړو . خبره داسی وه چه بابي جان د عاشق میوه فر
اخیستی دی پچپل صند دستی دی پچپل صندوق کښی بی ایښی دي او صندوق یی مونږ
دی او دی داکبر دوی سره دی داکبر دوی سره ازادی علاقی ته تښتیدلی و مونږ ته یی
زما په صندوق کښی دافغانانه صندوق کښی دافغانستان اخبارونه دي . کله چه پولیس زمونږ
له راغلی دی دا صندوق قبلی دی دا صندوق قبلی خواته کوټه کښی پروت وچه پولیس دې کوټ
ماله هسی فکر راغی ورته می وسی فکر راغی ورته می وویل چه دا کوټه خو زما د ډاکټر زوی ده او
کښی کپتان دی ددې کوټه کپتان دی ددې کوټی تالاشی ولی اخلئ زما ددې زوی کوټه
نو د خدای بنه و پولیسو ددنداى بنه و پولیسو ددی کوټی تالاشی وانه خیستله بلی کوټی ته و
چه مونږ د بابي جان ملا صنبږ د بابي جان ملا صندوق پرانیستنه دا اخبارونه ورنه راووتل
یی دلته صوندلی وای زمونږ نه صوندلی وای زمونږ د جرم د اثبات د پاره کافی وبیا چا دا ثابتولی
چه دا صندوق د بابي جان صندوق د بابي جان دی . په دی ورځو کښی په هندوستان کښی
شوی و ولی مونږ خپل قوم ته و ولی مونږ خپل قوم ته په جلسو کښی هر وخت ویلی وو چه تشدد
قوم هیڅ قسم تشدد و نه کیږي هیڅ قسم تشدد و نه کړو .

په مونږ نور هیڅ ثبوت په مونږ نور هیڅ ثبوت نه و صرف جلسی مو کړې دې او جلسی
جلسو کښی هم مونږ داسی کار لبنی هم مونږ داسی کار یا خبره نه وه کړې چه د قانون په وړاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی درې میاشتې کوښښ وکړ و خوڅه دلیل یې لاس ورنغی نو بیا یې په مونږ کښې کوښښ شروع کړ و احمد استاذ یې دې ته تیار کړ و چه ته سرکاری ګواه شه مونږ د سره د معافولو وعده کوو. احمد استاذ پسې به جمعدار راغی دفتر ته به یې بوتلو مونږ به شکمن شو تحقیق مو ورپسې شروع کړ و معلومه شوه چه دا معامله ده. د فیض محمد خان ډېر اشنا و هغه ته مو ووې چه خبره داسې ده ستا دوست دی ته یې پوه کړه چه دا مناسب نه دی چه دی یوازې د ځان بچ کولو د پاره تول ملګری او رته وغورځوی هغه ورته ډېر منت اوزاری وکړه مونږ هم ورته منتونه وکړل خو دهغه زړه غورځېدلی و په جیل کښې ډېر تنګ شوی و زمونږ خبره یې ونه منله پولیس دده نه بیانونه لا یخوا اخیستی وو اولېږلی وو د مارشل لا انچارج پخپله سرجارج روس کیپل و دی زمونږ چیف کمشنر هم و د هغه پښتنو سره مینه وه او د پښتنو خیر خواو، هغه دویل چه زه په دوی مقدمه نه چلوم د مقدمې چلولو اجازت یې ورنکړو ځکه ډېر وخت پکښې تېر شوی و او حالات بدل شوی وو. یو خان راته قصه کوله چه مونږ جرګه ورغلې وو چه دا سپین بږیری کسان پرېږدۍ ده هغه راته ووې چه ځۍ ستاسو هغه باچا می هم پرېښبوده او نور می هم تول کسان پرېښبودل.

## دجېلخانې حالت:

دهغه وخت جېلخانې ډېرې سختې وې او خلک به له قیده ډېر زیات وېرېدل خوراک یې د خوراک په شان نه و، جامې یې د جامو په شان نه وې او ژوند یې د انسان غوندې نه و، د قیدی نه د سپی ژوند بهتر وو، هیڅ بې هیڅه وهل ټکول، شر وو، او د قیدی دومره قدرت نه وو چه پوښتنه یې کړې وی چه دا په څه؟ د ټنګرو کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ي کول چکنې ړیړی اوړه کول (مچین ړیړی ګرځوی) او ارت ړیړي ګرځول.
سیاسي قیدیان وو مونږ له به يې چه کوم ساګ راکولو هغه ته به يې سور ساګ ویلو.
ورځ مې جمعدار صاحب ته په توقوکښې وویل چه جمعدار صاحب دا خو په ښه ساګ
ددې تخم به راله پیدا نه کړې چه زه (هاشم ځان) ته يې بیا کرم هغه راته وویل
ساګ په ښه والي کښې څه شک نشته تاسو يې لا د پوره خوند خبر شوي نه یئ دا
د جیلخانې غوا یانو ته واچوي چه د هغوی نه پاتې شي بیا يې تاسوله درکوي او
په پېښور غونډې سر سبزه علاقه کښې نه پیدا کیږی. دا دپوره اسماعیل خان
هلته هر ځنګلي بوټي له ساګ وايي په کو مولوښو کښې به چه دا پخیدل که هغه چا
وای سړو د ډېرې لوږې به يې هم دا ساګ نه ؤ خوړلی د ډوډۍ داحال و چه
هم نه خوړه. د دانو پاکول خو پریږده کوم قیدي چه چکې اوړه کوي هغه وړې د
غلې میده کولو په وخت کښې اومه اوړه خوري او د وزن پوره کولو د پاره پکښې
انداز خاوره ګډوي چه څومره اوړه ده خوړلي وي. بلکه دا چه جیل والا پوره
نه ورکوي نو د ډوډۍ د تول برابرساتلو د پاره ډوډۍ ښه نه پخوی. مونږ
د جیل ډوډۍ خوړه بیا راته د خپلې ډوډۍ اجازت وشو خو ډوډۍ به مونږ
وازه کښې خوړه په بارک کښې اجازت نه و ځکه چه په دروازه کښې لي رانه پیسې
شوی. جیل والا و مونږ ته دالو به بې شرمي جوړه کړې وه چه څه وخت به مونږ
کښې ډوډۍ وخوړه چه جیل ته به يې را دننه کولو تالاشي به يې اخیستله
هم صرف زمونږ د سپکولو د پاره او په دې طریقه به يې رانه رشوت اخیستله
اروغه امیرچند وهغه بلهای خورنه و ډیپټي داروغه ګنګارام وهغه بلکی خوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسونږ ده ته په حواله وو . زه پخپله د بلو و ورکولو خلاف وم او زما نور ملګری
نه وو خصوصاً حاجی محمد اکرم خان او هغه کسان چه هغوی به پیان ، نسوار
ګزاری کول . اخر کښی د حاجی محمد اکرم خان او جیل والا و په کشمکش زمونږ د
بنده شوه کشمکش یوازی هغه وکړو او دوه دی په کښی د ټولو بنده شوه . مو
په هفته کښی یو ځل د ملاقات کولو اجازه وه ملاقات هم عجیبه وو او لو
به وه هر څو مره ملاقاتیان ، قیدیان چه به وو راټول به یې کړو ، دروازی ته
راوستلو دروازی نه به یې لږ شاته قت په قت و درولو ، زمونږ ملاقات له
څوک راغلی وو هغه به یې د دروازی نه بهر لږ بهرته و درول یو بل سره به مو په چ
کولی ځکه چه ورو بډا ورپل کیده مونږ له به هغوی د با هر حال راوړ ، ویل
چه په خلکو ډیر ظلم او زیاتی دی خلک تنګ شوي دي تاسو په جیل کښی باچایا
دا د جیل ژوند د بهر له ژوند نه ډیر غوره دی د جرمانی نه کونډی او یتیما
دي خو عمر خان او پولیس یو شوی دی ، هیڅوک یې په حیا کښی پری ن
دوی د کونډو او یتیمانو نه جرمانی اخیستلی د الا څه کوې چه نمبردارانو
ځله د خلکو نه د جرمانی پیسی وصول کړې او چه څوک لږ څه و وایي پولیس
وی د خلکو په کورونو ورو خېږی وهي یې ، تکوی او شرموي یې ، نو خلک د
هر څو ځله چه تړی جرمانه غواړی ورکوی یې . چه څه وخت د ډیر شوز رو
یو لک جرمانه وصول شوه نو هغه سل کسان یې پرې ښود ل نور مونږ پا
یې هم چار سده ته بوتللو . د چارسدې د تللو نه مونږ خبر نه وو . جیل
خپله دوه دی بنده کړې وه او هاغه د جیل سور ساګ او د جوارو تر څه دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولہ دچا زړوته کېده اوکه نه کېده . که چاخوړه اوکه نه خوړه ، چه په دی کښی خبر
نی چه لات صاحب حکم کړی دی چه داخلک می دهغوی دباچا سره تول پرېښودل
ینږ دېر خوشالېشو . بله ورځ حکم راغی چه تیار شئ ستا سو چار سدی ته چالان
) دی . مونږ یې دوه په یوځنځیرو تړلو او یو سپاهی ته به یې حواله کړو د ځنځیر یو
ی به دپولیس سپاهی سره و په ټم ټمونوکښی یې کښېنولو سپاهی مخکښی او مونږ
ورو سته ناست وو چارسدی ته یې بوتللو هلته یې په حوالات کښی واچولو . په دی
ل کښی ما ته دتولونه زیات تکلیف زما دپښو و . ولې چه د تنګو بېړیو په وجه مې
ې زخمی شوې وې جامی بدلول راته تکلیف ولمبل راته تکلیف وګرځېدل
ی په تکلیف و ملاسته می په تکلیف وه ، په دده اوړیدل داوریدل او نمونځ
ل راته په تکلیف و په ګرمی کښی به ګرمې شوې او په یخنی کښی بېخي شوی سره
ی دوه دره تکلیفونو یې زما دپښو نه دا بېړۍ ونه ایستلی ، زمونږ ډاکټر یا انګریز
او سنه سړی وخو معلومېده داچه دحکومت نه مجبور وځکه یې زما دپښو نه
یر یو ایستلو جرئت نه کولو . بی له مانه ، چه د « دولت اکټ » په ایجی ټیشن
رکت ، کښی خومره کسان بندیان وو هغوی ته یې بېړی نه وې لګولې او لکه
نورو سیاسی قید یانو سره کوم سلوک کېده و مونږ سره یې هغه نه کولو بلکه د
لاقی مجرمانو هسی یې سلوک راسره کولو .

کوم کسان چه یې زما سره نیولی وو دهغې نېمی میاشتی پس یې دهغه
ل یوازی زه یې پرې نه ښودم . بابا می زما په پاتی کېدو دېر خپه و زما نیولې
اکېدل نه غوښتل خو مجبور و دبل واک و . دخدایی په وخت کښی راته غا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او په ستړو کښې یې او ښکې راغلې مور مې چه خبره شوه د پړه خپه شوې
خو دې خپګان او مخکښې خپګان کښې ډېر فرق و مخکښې خو د پاڼسی او
وېره وه او دا ځل خو که قید وم خو د خلاصېدو امید مې هم و. د ورو
مور را لېږله. ما سره به دا د ورو د سپاهیانو او حوالاتیانو هم کېده خو
شوم چه دا د ورو په بله ورانه د سیپڼ ی اول خو مې جېل والا او پولیس والا
وویل چه ماخو څه داکه کړې نه ده زه خو سیاسي قیدی یم د قام او ملک په خ
کښې بندی شوی یم ما ته د دې د ورو سرکاري طور اجازت دی پېښور ح
کښې یې راکوله تا سو ته په کار دی زما د ورو ماته بې قینه او شرطه پرېږ د
قام، وطن او سیاست څه کولو اخر زه مجبور شوم او مورته مې جواب ولېږ
له د ورو مه را لېږه ځکه چه په بله ورکولو د د ورو خوراک ما ته ګناه د
ښې زما خبره و منله او د ورو یې بنده کړه ما به هماغه د جېلخانې د ورو
خوړ ځې پس یې پېښور جېلخانې ته بدل کړم د تللو په وخت کښې ما سره په ج
کښې نور اخلاقي قیدیان هم وو چالان خو پېښور ته په خپلو پښو ځې ما پولیس
وویل که چېرې ستاسو خوښه وي په تمتمو نو کښې به لاړ شو ستاسو او د
قیدیانو کرایه به هم زه ورکړم هغوی ونه منله دوی د کرایې د پاسه نغد ر
هم غوښته ما وې ښه ده په خپلو پښو ځو. زما خپلوانو او دوستانو ډېر راته
چه ولې پیاده ځې دا خلک به څه وایي؟ مونږ د خلکو د پېغورونو له کبله ډېر غ
کارونه کوو. ما ورته وویل چه زه د خلکو خبرو ته نه ګورم کار ته ګورم که کار د
وی خلک چه هر څه وایي زه به یې کوم او که کار غلط وي نو که خلک هر څه وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوم. لنډه دا چه په ډېرو خوارو می رضا کړل او رخصت می کړل چه د سپاهیانو
باور راغی چه زه پیاده تللو ته تیار یم پخپله خبره پښېمان وو خو بیا کله کېده. مور
خوېندې او خپلوانو چه زما د تللو نه خبرې شوې وې قاضی خېلو ته راغلې وی او د سمک
په غاړه په یو کور کښې زما د لیدلو د پاره ناستې وې. د لیدلو، کتلو په دوران کښې زه
پوه شوم چه دوی پولیس والا و ته بلهې ورکړی دي. که زه مخکښې خبر وای ما به
د دی لیدلو نه انکار کړی وای. د میان گوجرو لاره لنډه وه په دې روان شو چه
اګوې ته ورسېږو میرقادر خان چه ورو سته بیا خلکو نواب صاحب بللو او د هغه
بلار راغلل او مونږ یې خپلې حجری ته بوتللو د ډوډۍ انتظام یې راله وکړو ما ډېر انکار
وکړو خو هغوی پرې نه ښودم او مونږ ټولو ته یې ښه ډوډۍ راکړه بیا یې رخصت کړو.
کوز میا زیکر پېښور ته ورسېږو د چارسدې ته پېښورا ته لس میله دی دا ټوله
لاره مونږ پخپلو پښو وهله. سعدالله دوی په دی ورځو کښې په ښار کښې سبق ویلو
زمونږ نه خبر شوي وو مخې له راغلي وو او ماله یې ډوډۍ را ډېرې وه شاهی باغ سره
مو ډوډۍ وخوړه وخت ناوخته و جیلخانې په داسې وخت کښې قید یان نه اخلي
زه یې کوتوالۍ ته بوتلم او یو ډېر ګنده ځای کښې مې شپه تېره کړه سباله یې جیل ته
بوتلم او ور داخل یې کړم جیل والا و زه د نورو قید یانو سره په یو بارک کښې بند کړم
ډوډۍ به یې هم د جیلخانې راکوله په دې ورځو کښې انس صاحب د پېټۍ کمشنر و
زما د بابا سره ښه بلد و بابا مې ور ته ورغی او ور ته یې وویل نو زما د خپل خوراک او
څښاک اجازه یې راکړه چه د خپلې ډوډۍ اجازه یې راکړه زه یې د دې بارک نه د
جیلخانې د دروازې د خولې سره هغه بخوانی حوالات ته بدل کړم ایکې یوازې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو بارک کښې بند کړم ځانله وم خو ډوډۍ مې خپله خوړه ډوډۍ به يې د حوالات
د دروازې خولې ته راوړه کښېښوده ما ته به يې اواز وکړو زه به راغلم او هماغلته
به مې خوړه زه په بارک څه چه په دې ټول حوالات کښې يوازې وم خو ډوډۍ به يې
هلته نه راپورېښوده . په دې ورځو کښې د لوند خوړ ريډۍ خان هم قيد و بروس
صاحب قيد کړې و . دې يو پړنګي وچه د خانانو او پوليس برخلاف واو د دوی په
ايمان د پړسنه پوهېده . د جېلخانې داروغه هم د بلې ي خوارو خانانو تاکوو بلکې
خورنه او رشوت ورکوونکو پيسې به کړځېدو او په کار به يې لګولو . د ريډۍ خان هم
حال بد و د حوالات په ختو يې لګولې و ټول به په ختو لړلي و د خوراک حال يې هم
ښه نه و . ورځ يې ډېره بده وه ترڅو چه زه هلته وم ما د خپلې ډوډۍ نه په ډېره
يوه څه برخه ورکوله . شپږ مياشتې پس زه د ډېرش زرو روپو په ضمانت ره
کړې شوم .

## د قيد نه خلاصېدل :

چه کلې ته راغلم خلک زما ليدو او په خير راغلې ته راتلل او په ډېره مينه
محبت به راسره يو ځاې کېدل . د دولت اکټ ايجي ټېشن د خلکو نه ډېره ته
واخيسته او د ډېرځانې او مالي نقصانو نه يې خلکو ته ورواړول خو د ومر
وشو چه په خلکو کښې يې څه احساس راپيدا کړو په پښتنو کښې د سياسي
شعور آغاز وشو زه چه د کلې د حالاتو نه خبر شوم زه په جېلخانه کښې دوه
نه وم ربړول شوې څو مره چه زمونږ د کلي خلک ربړول شوي وو . مو
راته قصه کوله چه ته ونيول شوې ربړا ورځ را باندې تيا ره شوه په ځان نه پو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاواته ووې چه هر څه خدای کوی هغه کېږی او ورپسې پولیسی کپتان صاحب چه څه کوی هغه کېږي کورکښې نغدی روپۍ نه وې کالی (زیورات) ډېر وه ستاکالي وو، د ډاکټر صاحب کالی وو، زما کالي وو، دا ټول مې راغونډ کړل خدمتګاره مې د ځان سره واخیسته، چارسدې ته د پولیس کپتان صاحب کورته لاړمه او پخپل لاس مې هغه ټول کالی ورکړه ما ورته د ډېر ټینګولو خونه ټینګښت وژړل مې. پولیسی کپتان ښه سړی و ماله یې ډېره تسلی راکړه راته یې ووې چه موږ خپه کېږه مه زړی به دې خدای راخلاص کړی.

## د دوهم واده تیاری او بیا ګرفتاری:

ماله مور او پلار هماغه د ځوانۍ تېر په کلی او هماغه خاندان کښې کوژده کړې وه او له ښځه مې د مشرخان خورزه وه او دا یې لور وه مور او پلار مې د واده په بند و بست کښې وو د واده نېټه یې ایښې وه. زما او عباس خان په ذمه جوړه اخیستل وو عباس خان زما د ورکوټوالي دوست او زما ډېر نږدې و. موږ اول نوښار ته لاړو هلته زموږ د کلي هلکانو تعلیم کولو او بابو سلطان محمد سره مو ولیدو. بابو سلطان محمد یو پنجابی و ډېر ښه سړی و او ډېر قوم پرست و زما ډېر اشنا و. زما د هغه اشنائی په دې وه چه هغه هم د پښتنو بچو له په ډېره مینه تعلیم ورکولو. زه هم د دې عقیدې سړی وم چه د پښتنو بچي تعلیمیافته شي د پرنګیانو نوکری و. استعفائی ورکړې وه او په نوښار کښې یې یوه یتیم خانه او یو سکول جوړ کړی و. زه او بابو صاحب ناست وو خبرې مو کولې یو سړی راغی موږ سره نږدې په لمانځه ودرېدو ما سمدستي بابو صاحب ته مې ووې چه دا سړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوک دی په ده خو زما شک پیدا شو هغه ډېر خوش اعتقاده سړی وو ویل یې دا خو ډېر ښه سړی دی لمونځونه کوی زمونږ خپل سړی دی ما ورته وویل چه هلته خو دوه کمرې خالی پرتې دي. دی دا لمونځ هلته ولې نه کوی چه دلته مونږ ته نژدی ولاړ دی بیا زه په جېلخانه کښې وم چه خبر شوم چه بابو صاحب گرفتار شو. هغه سړی د سی. آی. ډي انسپکټر و ده پسی د پنجاب نه رالېږل شوی و. د حکومت په بابو صاحب دا شک و چه دی لوټونه جوړوی. چه د دی تحقیق لی وکړو بابو صاحب یې سره د سانچې گرفتار کړو.

مونږ د هغه ځایه پېښور ته لاړو چېرته مو واخیسته کلی ته راروان شو چه سر دریاب ته راورسېدو او له پله نه پورې وتو چه تم تم ته ختلو د پولیس تانړه دار مو د سپاهیانو سره ولیده چه په تم تم کښې ناست او د پله خوا ته راروان دی. چه مونږ ورته نېږدې شو دوی هم راپسی راوګرځېدل مونږ مخکښې دوی راپسی دي په دې مونږ شکمن شو چه څه چل خو دی چه تانړې ته راورسېدو مونږ ته یې اشاره وکړه مونږ ودرېدو تانړه د سړک په غاړه وه مونږ یې تانړې ته بوتللو هلته نور افسران زمونږ په انتظار کښې ناست وو چه مونږ یې ولیدو پخپلو کښې بېل شو او څه پس پسی یې سره وکړو بیا مونږ ته راغلل راته یې وویل چه تاسو پسی د پورته نه حکم راغلی دی مونږ تاسو بېرته ښار ته بیایو، مونږ ورته وویل چه د څه حکم دی مونږ خو پوه کړئ هغوی جواب راکړو چه مونږ هم خبر نه یو. مونږ سره چه کوم سامان وو هغه مو هغوی ته حواله کړو او مونږ د پولیس سره واپس ښار ته روان شو ماښام تیا د ښار ته ورسېدو نیغ یې د ښارت صاحب بنګلې ته بوتلو.

مصیبه دغه زمانه کښې نور هم [illegible] شیدول خان صاحب [illegible] راغی [illegible]
کپتان [illegible] د موضع [illegible] گرفتار [illegible] [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی د پېښور د ضلعې د سي . آی . ډي لوی کپتان و ښکلې یې مشن کالج ته مخامخ
وو د مونږ یې په سړک و درولي وو د پوما میاشت وه د پېرساړه وو ماخوستن شو
په ولاړه نورستړي شو نه زمونږ د پاره د ناستې څه انتظام و او نه د پولیس د پاره.
مونږ پولیسانو نه د پېرو وې مونږ به تر کومې پورې په دې یخنۍ کښې په سړک د لته
ولاړ یو لاړ شي څه تلوار پېړې وکړئ چه زر پېش شو . د پولیس افسرانو کښې دا جرأت
چېرته و هغوی مونږ ته بهادران وو پرنګي ته یې ایمان نه و . د مسلمانانو لوی افسر
د و مره د خدای نه نه وېرېده څومره چه به د پېرنګي نه وېرېده . د خدای د و مره تابعدار
او وفادار نه و څومره چه د پېرنګي و . مونږ دا خبرې کولې چه د بنګلې نه یو پولیس افسر
راووت او د دوی سره و پسپېد و بیا یې زه او عباس خان یو د بله بېل کړو د جدا کېدلو
په وخت کښې ما ته عباس خان ووې چه څه به وایو . ماوې چه رښتیا به وایو
معلومېږه و چه دغه پولیس افسر دا حکم راوړی و چه ما او عباس خان بېل کړي هغه
مشن کالج طرف ته روان کړو او زه یې د ې خوا ستېشن ته چه کوم سړک تللی
هغه ته راوستلم . زه په ولاړه د پېرستړی شوی وم یخنۍ مې هم کېده . یو پل و د
هغه د پاسه کښېناستم د عباس خان نه خبر نه شوم خو زه یې ما سخوتن تېر شارټ
صاحب ته مخکښې کړم . شارټ صاحب په یوه کوټه کښې د انګیټهۍ خوا ته ناست وو
انګیټهۍ کښې ښې د ېرې پرتې وې کوټه ښه توده وه . زما د یخنۍ نه ژامې کړزېدې
هم تود شوم طبیعت مې ښه شو انګیټهۍ سره بله کوسۍ وه شارټ صاحب را ته اشاره
وه په هغه کوسۍ کښېناستم . شارټ د پېر قارجن سړی و په پوښتنې یې را نه ته وې
چې ما ورته چه څه رښتیا او حقیقت و بیان کړل . ما چه څه وخت خبرې ته وې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ده راته ووې چه ورو ورو وایه بیامې چه ورو ورو خبرې کولې هغه راته ویل په زوره
وایه ماورته ووې چه ورو وایم نو والې په زوره وایه. چه په زوره وایم نوته وایې چه
ورو ورو وایه، ته راته یوه طریقه وښیه چه زه هغسې ووایم. زما په خبره خوقار د
ودغې خوسرې چپ شو. چه بیان مې ختم شو دکوټې نه راووتم پولیس راته منتظر ولاړ
زه یا هغه زوړ اشنا زوړ ځای د حملات کوتوالۍ ته بوتللم. په حوالات یې ورد ننه کړ
یوغوزرې د سپنږو د ډکې شړې په پرتې وې هغه مې واغوستې او د سیمټو په یخ فرش
خملاستم په بله شپه سید اکبرخان زاړه اشنا د ډیټی کمشنر بنګلې ته بوتللم هغ
ته یې وړاندې کړم، ډیټی کمشنر انسن صاحب و د ډېر ښه سړی و. ماورته د خپل
بې ګناهۍ خبره وکړه هغه ډېره تسلي راکړه او سید اکبرخان ته یې ووې چه د
ښه سلوک کوئ او ښه ډوډۍ ورکوئ د صاحب حکم و چه بېرته راغلو هغه د سپ
شړې یې راته بدلې کړې او ډوډۍ یې هم راته ښه شروع کړه. اته نهه شپې زه
دې حوالات کښې بندی وم چه یوه ورځ پولیس راغی او زه یې د پولیس لوی افسر
ورو ستم. شارټ صاحب ته یې بیامخکښې کولم. د هغه د دفتر سره یو وړوکی غو
ځای و زه یې هلته کښېنولم زه خپل فکر کښې ډوب تللې وم چه یو سړی مې تر نظره ش
چه کوټه ندی راغی او د دفتر چک یې وچت کړو په منځ ورننووت ماخو ښه ونه ل
ولې شک مې پرې راغی چه قاضي شاکرالله و. او د لې نه مې پوښتنه وکړه چه دا سړی
خوک و؟ هغه راته وویل چه زه یې نه پېژنم دوی که خوک پېژني هم په اسانۍ یې نه ښ
ماورته ووې چه ولې قاضي شاکرالله نه و؟ ده راته وویل چه و. مانو د تول فکر ونه
بس د دفتر دروازې ته مې سترګې ونیولې چه قاضي صاحب به کله راوځي چه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام علیک وکوم چه بلـه ورځ بیا منکر نه شي . شارټ د صوبي د مخبرانو لوی مشر و او د ټولو مخبرانو تعلق د ه سره ؤ . زه په دې وېرېدم هسې نه چه په بلـه لار د انه لار نه شي ځکه چه دوي هم احتیاط کوي په یوه لار چه لاړ شي بیا په هغې نه راځي . خدای ته زاري کوم چه خدا یه قاضي صاحب په همدې لاره واپس راولې چه سترګې موسره مخامخ شي ده خو عوام پرېږده چه ملایان هم د وکه کول ماوې چه حقیقت یې خلکو ته ښکاره کوم . قاضي صاحب دېر ساعت وروسته راووت چه ماله نږدې راغی زه ور پاڅېدم سلام مې ورواچاوه چه زه یې ولیدم رنګ یې تک زېړ شو او ورته مې وویل چه قاضي صاحب ته خو مسلمان شوی وې دا یا کله کا پر شوې سترګې یې ښکته کړې هیڅ یې ونه ویل چابک را نه لاړ .

## رهایی او دوهم واده :

لږ ساعت وروسته زه پولیس د مخبرانو کشر کپتان ته چه د جهانګیری کلي و مخکښې کوم هغه راته ووې چه ته ازاد یې . ما ورته ووې چه زه تا سو نیولی په څه وم او اوس مې پرېږدې ولې ؟ هغه راته ووېل چه مونږ نوکران یو ، مونږ څه ویلی نه شو زمونږ واکدار د ننه ناست دی ته دا پوښتنه د هغه نه کولی شې په دې وخت کښې دېر ټکیانو دېر رعب داب وا و بیا د شارټ صاحب چه ځمرجن هم و . چا ورته خبره نه شوه کولی خو چه څوک په اخلاقي جرم کښې نه بلکه په سیاسي جرم کښې جېلخانه ووینی وېره یې د زړه لېرې شي . زه نېغ شارټ صاحب ته ورغلم هغه ماته ووې چه څه وایې ماوې چه دا زه دې په څه نیولی وم او اوس مې ولې پرېږدې ؟ هغه راته ووېل چه په نوښار کښې چا بم غورځولی و زمونږ دا شک وچه دا کار تا کړی دی خو د تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نتیجه کښې معلومه شوه چه ته بې گناه یې نو ځکه مو اوس پرېښودې. نو ما ورته ووې چه دا تحقیق خو زما د نیولو نه مخکښې هم کېدی شو زه خو د دې ملک سړی یم که مجرم وای نو زما نیول خو څه گران کار نه و نه گوره دا لس دولس ورځې موږ ه وکړولم زه انسان یم. حیثیت لرم، هر څه مو راته پایمال کړل. ده راته ووېل چه تاسو د څه حیثیت لرئ دا زموږ خوښه ده که مو نیسو، که مو پرېږدو ما وې ښه چه داسې ده. نو د خدای پامان. زه ترې راووتم ورو رسته یې راپسې د پېړې چغې وهلې خو زه ورو نه گرځېدم. له هغه ځایه پیاده ښار ته راغلم. زما د خلاصېدو څوک نه و خبر. د چیني حکیم صاحب دکان ته ورغلم چه گورم قاضي شاکرالله کرم تقریر شروع کړی دی چه خدای داسې ویلي او رسول الله (ص)، داسې فرمایلي چه زه یې ولیدم سپک پاڅېده او هغه ځای یې پرېښوده. زه له هغه ځایه کلي ته راغلم د عباس خان پوښتنه مې چه وکړه هغه زما نه مخکښې رها شوی و او کلي ته تللی و.

زه دا منم چه بدېښې حکومتونه بغیر تشدد او د خلکو د وېرولو نه چلېدی نه شي خو دا څیزونه په حاکم او محکوم کښې نفرت هم پیدا کوي. که په دغه وخت کښې پرنگی د زور او ظلم په ځای موږ سره نرمي کړې وای د دوی په ضد به دومره تحریکونه نه شروع کېدل او نه به د هغوی رعب او داب دومره زر کم او ختم شوی وای ځکه چه هغوی به د خپل رعب د ساتلو د پاره په پښتنو څومره ظلم کولو هماغومره به د خلکو د مقاومت په وجه د دوی رعب او داب ته نقصان رسېدو.

لکه چه ما وړاندې ذکر کړی دی زما لومړنی ټبر د غني او ولی دوی مور په وبا کښې مړه شوې وه په دې ورځو کښې زما د ابل واده تیار و. په ۱۹۱۹ ع کال کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي واده وشو، د لیښتنو د دوبنه له رواجونو ډک وو ما دغو اصلاح غوښتله نو ځکه مې دځان نه شروع وکړه او دشریعت مطابق مې اول ډولۍ راوړه په سباله مې ولیمه وکړه او یو وخت مې شپه ډوډۍ د کلي خلکو، دوستانو او خپلوانو ته ورکړه. خلکو راته دتندۍ پر دود روږه راچولې خو ما ونه منلې کرڅه هم په ډېرو زمونږ پورې دي. په ډوډۍ کښې مو د رسم و رواج د اصلاح کولو په باره کښې تبادل خیال دخلکو سره وکړو. په هغه وخت کښې دا دود چه په واده کښې به تولو کسبګروته واده ته راغلو میلمنو پیسې ورکولې چابه آئینه ښوده چابه سپیلنی لوګی کولو، چابه ډول واهه چابه کلونه راوړی وو، چابه رباب کښې چاربیته ویله، په میلمنو به یولوټ مارۀ که دچا زړه به و او که به نه وخو دخپله شرمه به یې دا حساب کسبګروته اداکولو. زما په واده کښې د اول ځل د پاره دا کاروونه مابند کړل او کسبګروته مې دا وویل چه تاسو به میلمنوله تکلیف نه ورکوئ ستاسو د تولو حق به زه ورکوم ولی چه تاسو زما کسبګرۍ

دغه شان د مي به ګډېدې میلمنو به که دچا زړه و

او که نه و پیسې ورکولې.

سازیان به وو.

جنجونه به وو

تو پکې او غـر بینوـنه

به خلاصیدل

لښلوه داچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر فضول خرڅونه به وو . زما په واده کښې دا ټول ما بند کړل او دا مې ودې دپاره وکړل چه دقام او ملک د پاره ډېر نقص دی او دا خلک تر ډېر تنګ وخوارکی ودې دېر سبب ودو اخلاقي جرئت نه و . ما ددې شیانو د مخنیوی ابتدا دخپل واده نه وکړه او خلکو ته مې هم دوییل چه تاسو هم دا بې ځایه رواجونه پرېږدئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلافت تحریک او هجرت

دخلافت کمیټی ، جلسه په دهلي کښې

هجرت، مونږ ه په کابل کښې

باجوړته واپسي ، دیرکښې او دخالونو

مدرسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ورځو کښې د ترکانو په ټول وطن د اتحاد یانو قبضه وه ، مطصفی کما
د هغه ملګرو د دوی برخلاف جنګ شروع کړی و . په هندوستان کښې د خلا
د پاره مسلمانانو یو لوی ایجی ټیشن (تحریک) شروع کړی و ځای په ځای به
جوړې کړې وې . جلسې او جلوسونه به کېدل ، د هندوستان مسلمانان
خلک وو . په جنګ کښې د ټولو نه زیات د پرنګیانو امداد دوی کړی و . د دوی
مشرانو ورله برتی ، ورکړې وې ، ملایانو ، زبرګانو او مذهبی پیشوایانو د پرن
په طرفداری او د ترکو برخلاف فتوی ورکړې وې . خلافت دوی تباه کړ
که دوی دافکر مخکښې کړی وای د پره فایده به یې رسولی وه ، خو ندشت نه دا
سنه و .

## د هلی کښې د خلافت کمیټي جلسه :

د ۱۹۲۰ ع کال په نیمائی د خلافت کمیټي له طرفه په د هلی کښې د یوې لوی
اعلان وشو او ورسره د دې خبرې اعلان هم وشو چه هغه خلک به په دې جلس
شریکېږي چه کفن به یې په سر تړلی وي . زه هم په دې جلسه کښې شریک شو
د پره لویه جلسه وه د هندوستان د هرې برخې مسلمانان ورله راغلي وو .
هندی یو جذباتي نوجوان هلک وهغه په جلسه کښې د هجرت ګولو تجویز وړا

غالباً دا لفظ آفندی دی ( عزیز هندی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ول غوښتل د اکثرو مشرانو دا رایه نه وه . هغوی د پر پوه کړو چه اوس د دی تجویز
وړاندی کېد وموقع نه ده خو هغه منع نه شوا وخپل تجویز یی وړاندی کړو . مسلمانان
ویو جذباتی قام دی . دې ته یی ونه کتل چه د دې نتیجه به څه وي د وړاندی کېد
یی تجویز پاس کړو . د هجرت خبر چه په ملک کښې خور شو ، پېښور ته ورو ورو
ی وړی قافلی راروانی شوې په پېښور کښې د دوی د امداد او آرام د پاره د
جرت کمیټی جوړه شوه ، دا قافلی چه به له هندوستانه راتللې په سټیشنو به یی خلکو
ر تا وده استقبالونه کول او په پېښور کښې به یی جلوسونه وتل . پرنګیانو خو اول د
رت سخت مخالفت وکړو ځکه چه هغه خان د پاره دا یو خطرناک کار ګڼلو ولی چه پوه
و چه خلک په هیڅ شان نه منع کېږی نو بیا یی دا کو ښښ وچه څومره کېدی شی
ږو سوه د پر خلک په هجرت لاړ شی . پښتانه خو د نورو خلکو په شان نه وو هغوی
د تماشا لیده د پرا ترلی پرې وکړو . ملایانو به هم وعظونه کول چه هجرت فرض دی
چا هجرت ونه کړو ښځه یی طلاقیږی . دا سی حالت په ملک کښې پیدا شو چه بی له
ورته بلی خبری اوریدو ته څوک تیار نه وو . د حکومت له خوا به هم قسم قسم اوازی خوریدلی
ښځی هجرت ته تیار شول .

## هجرت :

چه چا به هجرت نه کولو خلکو به ورته په بد نظر کتل . نو ما دیوی جلسی انتظام وکړو
ز به کلی کښې لویه جلسه جوړه شوه . د پر خلک پکښې راجمع شوی وو . په جلسه کښې می
ی چه تاسو لږ صبر وکړی . زه به یو څو کسان کابل ته ولیږم چه هغوی مونږ ته ځیل
د یل حالات راوړی او مونږ به حالاتو خبرا و پوه شو نو بیا به د هجرت په باره کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصله کوو . ماچه دا تجویز پیش کړو زمونږ د کلی عادلشاه پیر نومی یو پیر د هغه سخت
مخالفت وکړو وې ویل چه مونږ خپلی ښځې کوږه کا نو ته نه شو پرېښودلی که ت
هجرت ته تیا د نه یې مه ځه خونو دمه منع کوه مونږ که خدای ته منظوره وی سبا د
روانیږو . اوږ په هندوستان کښی ونکېږ او . وسوځېږ له پکښی پښتونځوا که
وه که کوزه تالا ولاشوه او کوږ روپه روپۍ نقصان وشو . خصوصاً چه د سنده د خا
قافله چه د جونیجو صاحب په مشری کښی پېښوړته راورسېده په پښتنو کښی اوږد
نو ، ښځې په هجرت روان شول . دې خلکو کښی پرنګیانو هم خپل ډیر مخبران ولېږل
هلته په مهاجرو کښی پراګنده وکړی چه دا خلک هلته پاتی نه شی او بیرته خپل ملک
واشی . هجرت هجرت نه ؤ . یوه هنګامه وه ، تش جذبات وو ، هیڅ سوچ فکر نه
هجرت په اصل مطلب څوک پوه نه ؤ ، دا خو محمد علی او شوکت علی امان الله خان ته د
لیږلی ؤ چه ته د هجرت د منلو اعلان وکړه چه په پرنګیانو باندی د دې خبرې اثر پریوځ
زمونږ د خلافت تحریک ته پکښی فایده ورسیږی .

اخوزه هم مجبور شوم د قوم په ملګرتیا د یوی وړوکی قافلی سره چه تول څ
وو د شوقدر او مومند و په لار پیاده افغانستان ته روان شو . اوله شپه مونږ
راغله مونږ چه روان شو او د ول غوږ ېدونو ډیر خلک راسره وو ، خو چه د شو
د کړپې په لار روانېدو او د ول سرنا رانه پاتی شو نو بیا ډیر کم خلک مونږ سره
ته ورسېدل او چه په کړپه کښی په مونږ په کانو لو تو شپه راغله نو بیخی
پاتی شو . خیر په کړپه کښی په تیږ وکښی مو شپه تیره کړه ، سحر چه پاڅېدو
یو څو ملګرو سره د ترنګزو د حاجی صاحب لید لو ته د هغه ځای ته روان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



قافله د ماسل خان ځای ته روانه شوه . د حاجی صاحب دلیل لونه پس مونږ هم
د ماسل خان ځای کو د اخیلو ته راغلو او په بله ورځ له هغه ځایه دا روان شو د کامې
کر داو ته راغلو سردار خان د مومند وخان دخپل قام سره زمونږ مخې ته راغلی
و زمونږ یې ډیر ښه استقبال اوکړو کلی ته یې بوتلو ، زمونږ یې ډیر دادمداروکړو
سبا له جلال آباد ته روانیدو سردار خان مونږ ته ډیر وویل چه هلته پاتی شئ تاسو
مهاجر او مونږ انصار یو ، مونږ به د اخپل جایداد و نه تاسو سره نیم کړو . د کابل خلک ستاسو
د و مره امداد نه کوي ، دا زمونږ خبره درته ښه ده . د هغه مو ډیره شکریه وکړه ، مونږ
ورته ویل چه مونږ خو ځمکو پسې نه وو راغلي نو د هغه نه دا رخصت شو ، جلال آباد ته راغلو
په جلال اباد کښې سردار هاشم خان گورنر و هغه سره مو ولیدل ، خبری اتری مو سره
وشوې هغه زه د ځان سره په جلال اباد کښې پاتی کړم او نوره قافله رخصت شوه .
هاشم خان سره د مهاجرینو د دې لویو لویو قافلو ډیره سودا وه ، ډیر پریشانه و او
په دې کوښښ کښې و چه څه تدبیر وشی چه دا هجرت نور بند شی ځکه چه په افغانستان
کښې د ومره خلک کله ځائیدای شی . ډیر نکیانو هم د ډیرو خلکو په هجرت کولو کښې
هم دا مطلب وچه په افغانستان کښې به هم دوی ته دا ستونکني مشکلات پیدا شی او
هم افغانستان ته خو ورځی وروسته هاشم خان کابل ته زما د تللو بند وبست وکړ د
مونږ د جلال اباد نه کابل ته د خوکیانو د ټملي په لاره روان شو ، په گندمک کښې
عادلشاه پیر د خپلو ښځو ، نرو ملګرو سره په مخه راغلل چه واپس وطن ته دا روان وو
ما ورته ووې چه پیر صاحب دا ښځې مو بیرته کوره کانو ته روانی کړی ؟ ده راته وویل چه
نه وکړه هلته هم د ښځو له لاسه تنگ وو چه ځو ، هجرت وکړو او دلته هم ښځو تنگ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په دې ملک کښې کوزاره کوانه ده بیرته يې روان کړی یو.

## مونږ کابل کښې:

مونږ چه کابل ته راورسېدو د لاهوري دروازې سره ډېرې ونې ولاړې وې

مهاجرينو دلته اړولي وو، مونږ هم د دوی سره يو ځای واړول زمونږ د پاره حکو

بیل انتظام کړی و، خو زه د عامو مهاجرينو نه بېليدم. په کابل کښې د ټول هندو

د مهاجرينو يوه شپاړس کسیزه کمیټي وه چه زه او رضا خان ارباب هم د هغې ممبرا

وو. د دې کمیټۍ په ذریعه به د مهاجرينو ارتباط د افغانستان د حکومت سره و

څه وخت چه د مهاجرينو د قافلو تعداد ښه ډېرېشو زروته ورسېدو نو حکومت کمیټ

ویل چه افغانستان خو يو وړوکی ملک دی دا دومره خلک پکښې ځايېدې نشي

مهرباني وکړئ - دا هجرت بند کړئ. نو مونږ عباس خان ولېږو چه دا خبره هلته

پېښور ته ورسوي. هغه ترجلال اباده پورې لاړ او دا خبر يې پېښور ته ورسولو.

امان الله خان مونږ ته وويل چه زه د پرنګي د جنګ زور نه لوم که تاسو د

په کومه طریقه جنګ کولای شئ او خپل ملک ازاده ولی شئ زه ستاسو مرسته ضرور

ځکه پرنګي تورمار دی، هیڅ اعتبار یې نشته چه زما خوا کښې پروت وي زه تر

پېداده زره خوب نه شم کولی. دا وېره راسره وی چه اوس به مې خوري. هغه مونږ

دوه لارې مخکښې کړې ویل که نوکري کوئ مونږ به ستاسو ځوانان بهرتي کړو بیل

پلټني به درته جوړې کړو تربیت به درکړو که بیا مو د انګریز سره جنګ کولی شو وېا

کوئ که ځمکې غواړئ نو په کندز او مزار شریف کښې مونږ ځمکې لرو هغه به درک

تاسو خپله يوه کالوني جوړه کړئ او خپل انتظام پخپله ځان له وکړئ په کومه سیمه کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ یې تاسو ته درکوو په هغې کښې به ټول واک اختیار ستاسو خپل وی او
د بیرون حکومتونو سره تعلقات ساتئ هم ته ساتلی شئ. مهاجرینو ته یې وویل
که تاسو نوکری غواړئ هم او که ځمکې غواړئ هم او که تجارت غواړئ هم در سره
ادکوم. مونږ به راغلو خپلو ملګرو سره به موسلا مشوره وکړه د ټولو مهاجرینو
اتفاق به مو دا خبره غوره کړه چه لبس مونږ ته دې عسکري ټرېننګ راکړل شی
مونږ برتی کېږو، مونږ به د پلټنو تشکیل هم جوړ کړو، مونږ به دا پاڅېد وچه د حکومت
خبره فیصله کړو چه زمونږ د پاره انتظام وکړی، نو د پرنګیانو مخبرانو ته چه
هجرت کښې راغلی وو، موقع په لاس ورغله، یو مخبر به پکښې پاڅېد و او ویل به
چه مونږ خو په ځمکو پسې نه وو راغلی، نه نوکرو پسې راغلی وو، مونږ په جهاد پسې
لی وو چه زمونږ د هجرت غرض نه تر سره کېږی او افغانستان د پرنګی سره
نه کوی نو نور مونږ دلته څه کوو زه خو بېرته ځم. هغه پسې به یو بل مخبر پاڅېد
به ووې چه بالکل ټیک خبره ده زه هم ځم چه دی به پاڅېد و یوه ډله به ور
پاڅېده، دغسی به په ډله کښې ماتې کړه شوه، یو کس به ماپسې رامنډه کړه
د حکومت سره خبرې مه کوه یو ځل راشه چه بېرته به راغلم، ټول به تللی وو.
دوی ته دا خبره وړاندې کړه چه راځئ چه دا ځمکی واخلو، او زه هم در سره ځم
دوی دې ته هم تیار نه شول.

څه رنګه چه لېښتانه په راتلو کښې ګوندې وو، دغسې په واپس تلو کښې هم ګوندې
دغه شان ورو ورو مهاجرین بېرته ستنېدل د هرلږ کسان پاتې شوه هغوی
افغانستان کښې استوګنه غوره کړه چا نوکرې واخیستې، چا ځمکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان هجرت ناکام شو د هندوستان مسلمانانو خصوصاً پښتن
ددې هجرت ډېر تاوان ورسېده، افغانستان ته یې هم نقصان وشو.
امان الله خان په ورکولو پسې پونګیانو له هندې وخت نه ملا وتړله فاید
یوازې انګریزانو ته ورسېده.

زما څه ملګري تاشکند ته لاړل چه روس به مونږ سره د هند په ازاد
مرسته وکړي. زه په کابل کښې د یو څو ملګرو سره پاتې شوم. یوه ورځ زه د امان
خان ملاقات ته تللی وم ډېرې خبرې مې ورسره وشوې، په خبرو خبرو کښې مې ور
ووې، تاله ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپله ژبه نه درځ
خبرې په هغه باندې ډېر اثر وکړو او وعده یې را سره وکړه چه زه ده کوم به یې. کله
افغانستانه والېستل شو زه بمبئي ته د ده لید لوته ورغلم نو هلته یې ما سره پښتو
خبرې وکړې.

په کابل کښې زمونږ تعلقات د نادر خان او د ده د کورنۍ سره ډېر وو دې
وزیر دفاع و او ورور یې سردار عبدالعزیز خان د معارف وزیر و. یوه ورځ یې
څه ورشه د حبیبیې کالج وکوره. چه کالج ته ورغلم نو د یو جماعت له هلکانو نه مې
وکړو چه: «شما کیستید؟» دوی به راته و ویل چه «افغان هستم» بیا به مې ورته ووې
ملک شما؟ دوی به ووې: افغانستان. بیا مې ورته ووې: «د افغانی میدانی که افغان هست
به شو غږ به یې نه کاوه. نو ما به ورته او وئیل چه څنګه افغان یئ او څنګه د افغانستان
یئ چه خپله ژبه نه درځي. دغه شان مې محمود طرزي صاحب سره چه د افغانست
وزیر خارجه او ډېر لایق او عالم سړي و په یوه لویه میلمستیا چه د مهاجرینو د یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبې بحث داغې یو سړي ورنه پوښتنه وکړه داڅنګه افغانستان دی چه افغاني پکښې ...سته. طرزي صاحب وریل چه پارسي هم زمونږ د ملک ژبه ده. نوماورته ورېل چه ...زي صاحب پښتو خو د افغانستان ملي ژبه ده او د اکثریت ژبه ده، پښتوله دنیاکښې د ...ریت ژبه هم سرکاري وی، هم دفتري، هم تعلیمي دی.

## باجوړته واپسي:

د مهاجرینو د تللو نه وروسته مونږ په یو سرای کښې یوه کوټه په کرایه ونیوله ...ته به او سیدو خوړو څو پس زه نادرخان ته ورغلم ورته می ووې د هجرت معامله ...ل وه شوه دلته خو نور زمونږ د مقصد د پاره څه نه کیږی زما اراده ده چه د باجوړ ...د و قبایلو ته لاړ شم او هلته د تعلیم کار شروع کړم او د پښتنو د بچو د روزلو د پاره ...ی مدرسې جوړې کړم، ستا سلا و مشوره څه ده؟ هغه زما دا رأیه خوښه کړه ما ...ي په دې خبره اتفاق وکړو. زه د یو څو پاتې ملګرو سره د کابل نه جلال اباد ته راغلم ...جلال اباد کښې می د هاشم خان سره هم سلا او مشوره وکړه، هغه هم زما د دې کار ...ځ په ډېر خوشحالی اتفاق وکړو او باجوړ ته یې زمونږ د تګ انتظام هم وکړ یو اس ...الکو. مونږ اوله شپه د جلال اباد نه سلام پور ته ورسوله هلته مو د سلام پور د باچا ...سره شپه تېره کړه، د سلام پور نه مو بله شپه د مومند و په علاقه کښې کا بړه پاڼ ته ...سوله. د کا بړه پاڼ ملا صاحب ځای ته چه زمونږ یخوانی تعلقدار و لاړو له هغه ...د چمرکنډ ته لاړو په چمرکنډ کښې د هندوستان د مجاهدینو هغه ډله ډېره وه ...سید احمد بریلوی صاحب او اسماعیل شهید صاحب د شهادت نه وروسته ...رته تللی وو هلته یې مرکز نیولی و. دوی په بونیر کښې په دې خبره پوه شوي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د دوی امیر نعمت الله د پرنګیانو سره راز و باز لری نو خپل امیري وژلی و
دوه د لی شو، یوه د پنجابیانو او بله د بنګالیانو. د پنجابیانو د له چمرکنډ ته راغلی
په چمرکنډ کښې دوی بیکاره پراته وو او د هندوستان امل اد تړلي ستړګی نیولې و
د دوی ډېر لې وار په وار څولاو دې ته دوي مساوات وي همدا د هندوستان امل
د دوی د تباهۍ باعث شو. قصه ډېر لې وروسته په خپل ځای کښې راشي ما وړته وو
چه تاسو دوه کچري لری او د مومنډ په دې علاقه میوه دانه نشته د دې کنډ و
کوټه دی، هلته میوې ډېرې دي که تاسو په دې کچرو میوه راوړئ او د لته یې خ
ستاسو خرڅ به تری وځي او د هندوستان د امداد له احتیاجه به خلاص ش
د چمرکنډ نه کوټکي ته لاړو، د کوټکي خانان «یوځکو ورخان او بل زړه ور خان»
ډېر ښه سړي وو، او ښه لیښتانه وو، چیرته چه به د پرنګي خلاف غزاوه دوی به پکښ
شریکېدل، د دوی سره موخبرې وشوې. له دې ځایه بیا شینګرکل ته لاړو
شینګرکل مولانا امیرالدین زمونږ مهربان او قوم پرست سړی و. هلته
خلکو سره ولیدل بیا په سالارزو او ماموندو وګوځېدو.

## دیر کښې د خالونو مدرسه:

د هغې نه پس د دیر علاقې ته لاړو خالونو می کلي ته راغلو، د خالونو په کلي
اخونزادګان او پراچګان اباد دي دادواړه کورنۍ ډېر روښنفکره او ښه خ
دي، دواړه قوم پرست او دولتمند وو، د دوی په مرسته مونږ دلته
مدرسه جوړه کړه او دوی ته مو وویل چه د دې مدرسې د انتظام د پاره
صاحب راوغواړئ او مونږ تري دیر ته لاړو. د دې مدرسې ډېر زد ترقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و په لږ موده کښې یې شاګردان څلور سوو ته ورسېدل د ملکنی پولټیکل اېجنټ
لیسنتنو د بیدارئ سخت مخالف و هغه د دیر نواب وغوښت ورته یې وویل چه
ې ملا سوا او تعلیم مونږ ته څو منره مشکلات پیدا کړل ته ځان ته دا مشکلات
ه پیدا کوه دا ملا سره ورانه کړه . د دیر نواب راغی ملا سره یې ورانه کسره
ور یې ورته کړو .

مونږ چه دیرته ورسېدو نو دشاهو بابا د زوی سره چه د ترنګزو د حاجی
صاحب ماذون و او په ترنګزو کښې مونږ سره اشنا شوی و دیره مشوهلته موځو
سپی وکوی یوه شپه د نواب صاحب استازی صفدرخان راغی راته یې وویل چه نواب
صاحب غوښتی یې ماوی اوس شپه ده ناوخته دی سبا به لاړ شو ، هغه ووې چه
ملا د شپې یې غوښتی یې ، زه ورسره روان شوم چه ورغلو نواب صاحب زما په
نتظار کښې یوازی ناست ؤ هیڅوک ورسره نه و په خبرو کښې یې راته وویل چه پټ په
وه کښې می انګریز ډېر بدلیښی ته چه څه غواړی زما هم دغه اراده ده خو زه څه وکړم
یا ګلی ( د سوات باچا ) یې راته کښېنولی دی چه ایله حرکت وکړم دا باندې را چوی
له سبا د قام او خلکو په مخکښې ما ستا د خبرو مخالفت وکړو چه ته خپه نه شې .
ملاذره مینه او پته مرسته به تا سره وي . سبا له چه خلک راغونډ شو خبرې وشوې
نواب صاحب د ناستې ځای ته نږدې په یوه بالاخانه کښې عبدالمتین خان او د تورو
ان می له ورایه ولیدل او له لیرې مو سلام علیک وکړل . دوي نواب بندیان کوي وو .
نواب د ځای مونږ د شپې برول بانډې ته لاړو هغه وخت دلته د دیر د نواب ولیعهد
او سېدل و مونږ غوښتل چه هغه وګورو خو مونه لید له هغه ځایه بار وی ته لاړو هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مود « تاتهی » خان ولید. دی زمونږ دکلی دغلام حیدرخان کلی ته ورتلو
اشنا وهلته زما هم ورسره تعلق پیدا شوی ؤ. هغه ته مو ووې چه مونږ د نواب کښتر
لیده غواړو هغه راته دا خبره وکړه چه هغه خواوس ویده دی ځکه چه د شپې وینس
او خوب کوي. زمونږ د هغه سره هم لیدل ونه شو او بیا « تور » ته لاړو. د هغې نه پس
« جار » ته دا غلو د « جار » خان ډیر ښه سړی و ښځیله په کور کښې نه و د کلا دروازه
وتکوله ورپې راته ښیرته کړو بي بي راته د ډوډې انتظام وکړو. د جار خان زما د تو
د زوی سربلند خان سره ډیر تعلق و هغه به همیشه ما منډ نا ته ته راتلو او هغه سره
يې ډیرې ورځې تیرولې. سماړخار ته لاړو. د خار خان ډیر پوه، بهادر او ښه ښه
سړی ؤ. د هغه سره مو خو شپې وکړې. یوه ورځ زه بهر وتلی وم چه بیرته راغلم دخ
خان ته مې ووېل چه خان تا سو خو لا بیا هم زمونږ نه ښه يئ چه د قرآن نه خو څه فایده
هغه وې څنګه ؟ ما وې که عمل پرې نه کوئ بو سارې خو پرې ساتئ. په هره بوساره قرا
شریف پروت وي چه څوک ورنه بوس پټ نه کړي تا سې خو پرې څوکیدارې کوئ مونږ خ
پرې نه عمل وکړو او نه څوکی. له خاره مونږ « ناوه ګی » ته لاړو، د ناوه ګی خان ډیر ښه سړ
و، خو ساده و، له هغه ځایه « غازی اباد » ته لاړو، د ترنګزو حاجی صاحب سره مو ولید
دلته ما سره یو ملګری چه فقیر نومیده او اصلاً ترکان ؤ ما دلته غازی اباد کښې پرینښې
نور تول ملګری راته په لاره کښې یو یو څپلو کورونو ته تللي وو مونږ دوا ړه يې یوازې پرې
ایښې وو. زه خو د افغانستان نه په دې اراده راغلی وم چه دلته په ازادو قبایلو کښې
مدرسې جوړې کړم او د قوم تربیت وکړو. دا کار و نه څو یو سړی نشي کولی په دې کې
او زمونږ هغه ډله خوره شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهني انقلاب

تعليمي او اصلاحي جد وجهد

دا تمانز وازادهای سکول او انجمن اصلاح

الا فاغنه

دخلافت کميټی صدارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان او ازادو قبایلو حالت چه مې ولید واو نیمګلس کاله مې په هند
او قبایلو او افغانستان کښې غورزې پرزې وکړې نو په دې نتیجه ورسیدم چه انق
د ملنهای کار او د دومره اسان ځیز نه دی . انقلاب د سرې مینې کار دی . انقلا
علم او پوهه غواړی ، انقلاب عالمان او پوهان غواړی ، چه د پوهې س
قام ورروزی او انقلاب ته یې اماده کړی د انقلاب د پاره د اشخاص
دی . نه کوره چه زمونږ جذباتی ملګری په خومره جوش را وتلي وو مګر لار
خوار شول نو کښېناستم د ځان سره مې ښه فکر وکړه په دې نتیجه ورسی
چه زمونږ د قام نه د تجارت خواته توجه شته نه د صنعت خواته نه د زراع
خواته او نه د تعلیم خواته . د بلې خوانه په رسمونو ، رواجونو کښې تر غوږه ډوب دی
دي . په خانه جنګیو اخته دي داسې قام انقلاب نه شي کولی او دا قام د دې بلا
خلاصولو په کار دي چه سیاسي شعور پکښې پیدا شي او دا کار ډیره پر امنه ف
غواړی . تر دغه وخته پورې زه په دې عقیده وم چه د اتول کار د ونه انقلاب غو
تشدد د راته د انقلاب نژدې او د کامیابۍ لار ښکاریده خود تجربې نه ورو
راته معلومه شوه چه د جنګ په وخت کښې اسونه نه تیارېږی نو ځکه مې ارا
وکړه چه خیل کلی ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انقلابي اشخاصو د تعلیم او تربیت د پاره قومي مدرسې جوړوم نو څکه اتمانزو
ته راغلم. زه چه له هجرته بېرته راغلم د هغوی مدرسو د بېرته جاري کولو کوښښ مې
ولو چه پرنګیانو د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې.

د ۱۹۲۰ع کال اخري میاشتې وې چه په علیګړ کښې په مسلم یونیورسټۍ
کښې څه تقریب وو. زه او زما دوست قاضي عطاؤالله خان يې هم بللي وو. مونږ
واړه علیګړ ته لاړو، په دې وختونو کښې به کانګرس او خلافت یو ځای جلسې کولې
مونږ خیال وچه د علیګړ نه وروسته به مونږ د خلافت په جلسه کښې شریکېږو
ود مصروفیت له کبله د خلافت جلسې نه پاتې شو واپس کلي ته راغلو. په علیګړ
کښې زمونږ د صوبې ډېرو هلکانو تعلیم کولو د هغوی سره مو تبادل خیالات وشو
د دوي کښې ډېر داسې کسان وو چه د ترک موالات او حکومت سره د عدم
تعاون د پروګرام لاندې يې کالج پرېښې و. په دې ورځو کښې زما مشر ورور ډاکټر
خانصاحب تقریباً پنځلس کاله پس د انګلینډ نه واپس راغی ده چه څه وخت
ډاکټري پاس کړې وه جنګ نښتې و، په هماغه وخت کښې په فوځ کښې برتی
شوی و او اوس کپتان و او د مردان په کائیډ کښې لګېدلی و.

## د اتمانزو آزاد سکول ۱۹۲۱ع او انجمن:

مونږ په ۱۹۲۱ع کال کښې د دوستانو په امداد په اتمانزو کښې د ازاد سکول
بنیاد کېښېښوده چه په دې سکول کښې قاضي عطاؤالله، میا احمد شاه، حاجي
عبدالغفار خان، محمد عباس خان، عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان
عبدالله شاه او خادم محمد اکبر زما ملګري وو. د مدرسې تر څنګه مونږ ډېښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو د تشدد نه دمنع کولو او یکینبي دقامولي دمينه
او محبت د پیدا کولو په غرض د اصلاح الافاغنه په نامه یو انجمن جوړ کړو، ددې انجم
ممبران دا کسان وو : ۱- محمد عباس خان - ۲- صلی عبد الغفار خان (د دواړه داتمان
۳- حاجي محمد اکرم خان دخان ماڼی - ۴- جمعدار نور محمد خان د تنګزو - ۵- محمد
خان د تنګزو - ۶- عبد الاکبر خان دعمرزو - ۷- غلام محی الدین خان د تنګی - ۸- فقير
میا صاحب - ۹- میا جعفر شاه د زیارت - ۱۰- فضل اکرم د نوئ کلا - ۱۱- فضل ربي دبډ
۱۲- میان احمد شاه د قاضي خیلو - ۱۳- میا عبد الله شاه - ۱۴- خادم محمد اکبر د چارس
۱۵- تاج محمد خان د چارسدې - ۱۶- مولانا شا رسول دامازو ګړئ - ۱۷- شاد محمد
دمیرزو - ۱۸- شیر بهادر خان د کوترپان - ۱۹- جلیل خان د جلیل - ۲۰- خوشحال خا
د باریکاب - ۲۱- شاپسند خان د چارغلی - ۲۲- امیر ممتاز خان - ۲۳- بیور محمد
دبنو - ۲۴- محمد رمضان د ډیرو - ۲۵- حکیم عبد السلام د هری پور - ۲۶- میا
دیکلئ ۲۷- قاضي عطاؤالله دمردان - ۲۸- ثمین جانخان د محب بانډي - ۲۹- علي
خان وکیل دهزارې - ۳۰- افندی صاحب د ملاکنډ - ۳۱- یو ملګرې د ګډ حمزه خان
زمونږ په سکول کښې استاذان کم وو، نو ما به پخپله هم هلکانو ته درس ورکو
بله داوه چه مونږ دوه وه روپۍ نه لولې چه استاذانو ته مو د بلې تنخوا کانۍ ورکړې
په لاهور کښې دخلافت کانفرنس و. مونږ ورغلي وو دبنو دمیرا خیل کلی امیر خ
هم دې کانفرنس ته راغلی و. دهغه سره مو ملاقات وشو، هغه ځیل دوه زامن
اسلامیه کالج کښې پې په بی. ای کښې تعلیم کولو او د ترک موالات په وجه یې پرېښي
زمونږ سکول ته دا ستاذئ د پاره راوبخبل دمشر نوم امیر ممتاز خان و او ک

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم مقصودجان و . مقصودجان زمونږ دسکول اول هیډ ماسټر و او کله چه دی دوباره تعلیم دپاره کالج ته لاړ امیرممتاز دده په ځای هیډ ماسټر شو . ډیرنکیانو زمونږ ملګرسره نه خوښېدهٔ چه کوم استاذ به ورله راته نو اول به یې وویرولو که په ویره به اونشو نو بیا به یې د ډېری تنخوا لالچ ورکړو او د غسې مونږ ته یې استاذان نه پېیدول. مقصودجان چه اتمانزو ته راتلو نو پولیس ډېرکړولی ؤ په دې وختو کښې مونږ دخلکو د پوهولو او یکښې دمینې محبت ، ورورې او قامولۍ دپیدا کولو دتعلیم دشوق دپیدا کولو او دقام نه دغلطو رسمونو اوږدوا جونو د ورکولو او دقامي ملګرو دپاره دمرستې حاصلولو په غرض کلي په کلي ، کور په کور دوری شروع کړې او په خلکو کښې مونږ ژوندا او احساس را پیدا کړو . زما د دوروونه پونګې سره ویره پیدا شوه . سرهملتن ګرانت زمونږ دصوبی چیف کمشنر و ، هغه زما باباخان ته وغوښت ورته یې وویل چه دا زوی دې څه کاروونه کوی ؟ تول خلک غلي ناست دي او دی لګیا دی ملګرې جوړوي او دوره کوی زمونږ نو خلاف خلک لمسوی منع یې کړه ! دده سکوتر سعدالله خان دعمرزیو خان و . هغه مې بابا ته ویلي وو چه ته کوره چیف کمشنر ستا خومره احترام کوی ؟ خومره چه ستا مننی هغومره دچانه منی ته دده دخوشالۍ دپاره خپل زوی منع کولی قلری نه شې ؟ بابا مې راغی زه یې کښېنولم راته یې وویل چه زویه ددې کاروونو نه لاس واخله ځان دې په مصیبت اخته کړې دی ؟ سرکار هم خپه کېږی چه نور خوک یې نه کوی ته یې څه کوی ؟ ما ورته وویل چه ښه ده بابا چه ته وایې مه یې کوه نه به یې کوم د هر دخلکو خرلمونځ پرلښې دی ، زه به یې هم پرېږدم خو ته به بیا ماته نه وایې چه لمونځ ولې نه کوې ؟ بابا مې راته وویل لمونځ خو فرض دی ما ووی بابا داعلم خو هم فرض دی . بابا مې وویل ښه نو څه کوه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیف کمشنر ته ودغې ورته یې وویل چه صاحب مونږ ستاسو د خوشالۍ دپاره خپل دین نه شو پرېښودلی .

## دخلافت کمیټی صدارت :

په پېښبور کښې دخلافت په کارکنانو کښې اختلاف پیدا شوی و، دوه ډلې جوړې شوې وې یوه ورځ به دحاجي جانمحمد صاحب ملکرو په شاهي باغ کښې عام جلسه جوړه کړه، په جلسه کښې به یې تجویز وړاندې کړ چه حاجي جانمحمد صاحب دخلافت کمیټی دصدارت دپاره ډېر موزون دی تاسو ته منظور دی خلکو به چغې کړې چه منظور دی. حاجي صاحب دقام او ملک دپاره ډېر خدمتونه کړي او قیدونه یې هم تېر کړي وو. دپېښبور پوسید وو سبا له به دهغه ملکرو جلسه جوړه کړه او تجویز به یې مخکښې کړو چه سید صاحب اهل رسول دی او ډېر خدمتونه یې کړي دي دخلافت کمیټی دصدارت دپاره دده نه مناسب سړی نشته تاسو ته منظور دی؟ خلکو به چغې کړې چه هو! منظور دی.

دغه شان دا قصه روانه وه یوه ورځ به یو صدر و بله ورځ به بل صدر او دورځ په ورځ دا کشمکش زیاتېده په مینځ کښې هیڅ قسم جوړه نه کېده او دخلافت تحریک ته نقصان رسېده په یو سړي یې اتفاق نه برابرېده دپېښبور خلک دکار ډېر تکړه خلک وو خو دی اختلاف دکاره ایستلي وو او هله رنګه چه په ډلو کښې اختلاف پیدا شي که ډېر ښه او زور ور خلک وي هم بې کاره شي او دهغوی طاقت د بل په غور ځولو کښې صرف شي. په خدمت کښې اختلاف نه راځي، اختلاف دخودغرضۍ نه پیدا کېږي. زه چه به کله نا کله پېښبور ته دخلافت دفتر ته ورغلم نو دواړو ډلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ته قصې کولې. د دوارو دلوز ماسره مینه وه ما ته به یې ویل چه زمونږ د دوارو دلو اتفاق په تا دائل شی راشه ته زمونږ دا صدارت واخله. زما په صدارت کښې څه د لچسپي نه وه د صدارتونو او عهد و شوقی نه وم د دی شیانو نه به لیرې تښتېدم اخر هغوی مجبور کړم او ما دهغوی صدارت په دی شرط ومنلو چه په صوبه سرحد کښې خو مره چنده تولیږی نو هغه به هم لته د دی ځای د خلکو په تعلیم لګیږی. پنجاب ته به یې نه لیږی. ځکه په هغه وخت کښې به زمونږ په صوبه کښې به زرګونو روپۍ تولیدې او پنجاب ته به تلې د پنجاب لیډرانو به پرې مزې کولې. هغوی دا شرط ومنلو او زه د خلافت کمیټی صدر شوم. عبدالقیوم خان سواتی یې سکرتر شو. مونږ چه د سکول نه کاره فارغ شونو ما او میا احمد شاه په ملک کښې دوری شروع کړې. پښتنو ته زراعت سپک کار ښکاریده و تجارت هم ورته سپک کار ښکاریده او ویل به یې دا د بنیا. بقال او هندو کار دی. د خان تعریف به دا و چه پیره فلانی د پېرلوی خان دی د خیل ببتی بوله ورته معلومه نه ده ما به وې هلکو تاسی فکر وکړئ دا خان دی که دا خردی چه خپل ببتی نه پیژنی مونږ دیوی خوانه په دوره کوخېد و او د پښتنو د ذهنیت اصلاح موکوله، د بلی خوانه موخپلې متهی را ونغښتی په خپل ببتی کښې به مو پخپله کار کوو. زما د تعلیم ملګری عبدالحلیم د غه وخت د زراعت په محکمه کښې مقرر شوی و. دهغه په کمک ما یو د میوی باغ جوړ که. تو د غه وخته پوری سبزی او ترکاری له ښاره کلوته راتلله ما چه باغ جوړ کړو سبزی او ترکاری به می هم کرله او خلکو ته به می ښودله چه ګورئ د خپل لاس کار څومره برکتی وي او تاسو خولږ ورته خیر شئ د پښتنو په خاوره کښې هر قسم میوه، ترکاری او غله کیږی. چه زراعت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخلکو مخه شوه ما په اتمانزو کښې دګوړې منډه یې پرانستنه نورو خانانو او ترېور
به داپوړی ملنډی وهلې چه ته ګوره د بنیا کانو کاریې شروع کړ. زمونږ تجارت دغه
وخت تول دهندوانو او پراچکانو په لاس کښې وه مسلمانان به په تجارت شرمېدل
زمونږ کتنه وته به تول هندوانو او پراچکانو وره مادچا د پیغورونو پروا نه کوله هر
میاشت به می یو ځل خانانو ته چای ورکوی راجمع به می کړل او ورته به می وویل چه
دځمکې چه څومره قیمت دې مادهغې په لسمه برخه سرمایه په منډه یې کښې بنده کړې
ده تاته چه هغومره سرمایه په کال کښې ګټه کوی ماته یې په میاشت کښې کوی بیا به
دمنډه یې حساب کتاب ورو ښودلو دا به می هم ورته ووی چه مونږ سره په منډه یې کښې
منشیان، دروا یان او پانډیان هم کارکوی او ځان ته نفقه ګټې او دا به می هم ورته
چه وګوره دا تجارت څومره د ارام کار دې او څومره پکښې فایده هم ده، زمینداری
کښې څومره نا ارامی ده، دپټواری احتیاج دی، دتحصیلدار متاذی ده، تول
عمر مو اسمان ته سترګې نیولی دی، کله وایو چه خدا یه باران وکړی او کله وایو چه
خدایه شین یې کړی. دوی به می دغه شان دتجارت په ګټه پوه کول په لوږه مود
دپښتنو تجارت ته میلان پیدا شو او زمونږ تجارت زمونږ په لاس راغی. پښتان
دپرښنه قام دی. دوی په افسانو او قصو دېر نه پوهیږی که هر ښه کار چه په دوی کوی نو ځان ورته
کوږه چه ته روان شوی دوی هم د هغه په پسې روانیږی. په دې طریقه زمونږ په ملک کښې زراعتی او تجارتی ترقی
دا کو ښښونو او عملی نمونو کیدلو په نتیجه کښې په خلکو کښې د زراعت او تجارت شوق زیات شو او د دواړو انقلا
راغی چه نن زمونږ علاقه کښې زراعت دومره مخکښې ده او تجارت دومره ترقی کړې ده چه د
دېر معمولی کسان او سرلوی کسان دي او لوی لوی زراعتی فارمونه، تجارتخانې او کارخانې یې جوړې کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جېل او د جېلخانې قصه

## دريم کاله قيد

دفعه چاليسن کښې ګرفتارى ۱۹۲۱ع، د چمرکنډ مجاهدين، ډيره اسماعيل خان-

جېل ته بدلي، د جېل بد معاشي، زما مشقت، جېل کښې پرې-

جنبې، جېل کښې زما ګناه، ډيره غازي خان-

جېل ته، د جېل ژوند، د پښتنو

په هکله غلط پراپيګنډه، زما د غاښونو مرض، سياسي قيديان-

واحتجاج لاهور جېل ته د علاج د پاره، د جېل سلوک، ډيره غازي خان ته واپسي،

د کورنه خط، مذهبي تعصب، بيا د علاج د پاره لاهور جېل ته، مطالعه

ډيره غازي خان جېل ته واپسي، د يو پير صاحب قصه

د مور مرګ، د سياسي قيديانو جنګونه، مياں والي-

جېل ته بدلي، رهايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دفعه ۴م کېنې گرفتاري:

د ۱۹۲۱ع کال د دسمبر په اوولسم تاریخ مونږ لګیا وو، په مدرسه کېنې مو دفت
میدان جوړولو چه پولیس راغی او زه یې په دفعه ۴۰ (اف - سي - آر) کېنې ونیولم او د
جېل ته یې بوتلم. د حوالات په ځای یې جیلخانه کېنې واچولم، زما د نیولو نه د دوستو
زما نور ملګري هم نیولي وو. زه یې په هغه چکۍ کېنې بند کړم، چه هلته به یې د جیل
بد معاشان اچول، چه چکۍ ته ورننوتم سخا او ګنده بوی مې تر سپیږ، مو شو
چه کتل مې د بولو ډک ښانک پکېنې پروت وو. زه بېرته راووتم، د جیلخانې افسر
مې ووې چه دا چکۍ ډېره ګنده ده. پاکه یې کړئ. هغه راته وویل چه دا جیلخ
ده ننو ځه چکۍ ته. چکۍ ته ننوتم ورپسې یې راپسې بند کړو. شپه او ورځ به د
چکۍ کېنې وم ډوډۍ به یې هم په جنګله کېنې راکوله. صرف د جیلخانې بنګ
د چوړی، به د صفایۍ د پاره راغی نو مونږ ته به ورلوږي شو، او چه صفا
به یې وکړه نو ور به یې راپسې بند کړو. د صفائۍ په وخت کېنې به هم سپاهي
د چوړی په سر ولاړ و. په سبا راته معلومه شوه چه زمونږ نور ملګري هم
دی چکو کېنې بند دي په ... ی چکو کېنې مونږ لس کسان قیدیان وو. زه عبدالاکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر ، عبدالقیوم خان سواتي مونږ نه غیرنودا ووه واره پېښوریان وو. عبدالاکبر خان
اکبر لي په دې تور نیولی وچه ته ملېشو یک یي او د باقي نور مونږ خلافتیان وو. په
جېل کښې ظالمانه رویه په وجه زمونږ ملګرو ضمانتونه ورکړل او د ها شول. عبدالاکبر
خان اکبر ته ما اجازه ورکړه چه ته خو خلافتي نه یې ته هم ضمانت ورکړه ، یوازې ما او
عبدالقیوم خان سواتي د ضمانت ورکولو نه انکار وکړو او پاتې شو. چه دوی پوه
شو چه مونږ ضمانت نه ورکوو نو لس ورځې پس یې نه دې چکلې ته واپس تللو
او د ډپټي کمشنر ته یې مخکښې کړو. د ډپټي کمشنر هم عجیبه سړی ؤ او زما مقدمه
هم عجیبه غوندې وه. د ډپټي کمشنر چه زما د جرم پوښتنه وکړه پولیس ورته
وویل چه ده خو یو هجرت کړې و او بل اوس ازادي ملنګ جوړ دې
د ډپټي کمشنر ورته وویل چه یو ځل یې هجرت کړې دې نو بیا مو ولې پرېښوده؟
ما ورته ووې چه د افسوس ځای دې چه ملک خو مو را نه واخیسته اوس
مو پخپل ملک کښې استوګنې ته نه پرېږدئ ، په دې بانډې (صاحب بهادر)
نور هم غصه شو پولیس ته یې وویل وی باسئ جېلخانې ته یې بوځئ. درې کاله
مې قید کړو. پولیس راوستم او جېل والا ته یې حواله کړم ، عبدالقیوم سواتي یې هم
زما غوندې درې کاله بامشقته قید کړی و. د جېل د خوراک قصه خو بې د رته
کړې ده. د جېلخانې داروغه امیرچند هندو و. بلې خورنه و دیانتدار و او
قام پرستو سره یې مینه وه ، په چکۍ کښې خو یې واچولم خو میچن یې را باندې
اوړه نه کړه او نه یې راته په پښو کښې بېړۍ واچولې ، د جېلخانې ډوډۍ خو یې
داکوله خولې بې پاکه وه. زمونږ د چکۍ مخه قطب (شمال) ته وه نمر کښې بالکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لګېدو ، ډېره سره چکی وه ، مالېږي ددې ذرې کمبلې او یو تړپړی راکړی او چه پکښې ګوزاره ډېره ګرانه وه . ډېر سخت ساړه وو . یوه یو ماه او بل باد انونه وو . او شپه ، ورځ به په چکی کښې بند وو . خو زما خوش قسمتی داوه چه زما په چکی کښې یو اخوږ به هغې کښې پلاله پرته وه . ما به تړپړی پکښې واچولو او په هغې به څملاستم که څه هم یو بنه جمعدار راغی نو د ورځی به یې دیوی ګنټې نیمې د پاره نمر ته ایستلو . د شپې به مونږ په ارام ویده کېدلی نه شو ولې چه ذرې ذرې ګنټې ورو ستنه به پېره بدلېده نو پېره دار به راغی جند ده به یې وکړنګوله بیا به یې چغه کړه چه بول بهالي (وایه ورور ره !) تر څو چه به دې اواز نه و ورکړی نه به تلو او که اواز به دې لږ ورو ورکړو نو سبا له به یې سزا در کوله . د جېل د جامو قصه مې هم درته کړی ده چه ما ته یې کومې جامې راکړې وې کمیس مې د بلهې پوری نه رسېده او په مانځه کښې چه به په سجده پریوتم نو کمیس به مې پښتیو ته راورسېده او د پرتوګ پېنڅې به مې ایله د زنګانه ستوګې ته را رسېدې . د جېل والاوو دا به په خود عذاب د ملایکو نه کم نه وې یو نیم پکښې چپړته سم سړی پیدا شی .

په هغو ورځو کښې په جېلخانه کښې د خوراک څیز هم جرم و زمونږ . د کلی یو نمبر دار یوه ورځ ما ته یوه چکی ګوړه راکوله ، ما د هغه نه نه اخیستله ، هغه را ته په چکی کښې یوه چکی ګوړه کېښوده دی لاړلو . ساعت پس را ته پېره دار ووې چه جېلر صاحب راروان دی ، ددې خبر په اوریدو ما سره د ګوړې فکر شو چه په دې څه وکړم ؟ کله به مې وې چه د شړی لاندې یې پټه کړه کله به مې وې چه د تړپړی لاندې یې کړه بیا به سودا واخیستم چه بنه که دا تړپړی پور ته کړي ؟ خیر خو هغه ګوړه ما په ډېر شوا خون پټه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داروغه صاحب راته تالاشي يي و نه کړه بېرته لاړ . هغو وختونو کښې به د قيد يانو روزانه تالاشي کېده چې داروغه لاړ ما هغه کوړه بهر گوزاره کړه او اراده مي وکړه چې جېلخانه کښې به د جېلخانې د اصولو پابندي کوم چې کوم کار پکښې منع وي هغه به نه کوم ځکه چې دا خيز د سړي په زړه کښې وېره راولي . ماخيل سياسي قيديان ورورنه لبلي چې دا کار ونه به لي کول نو د جېل والاوو به لي ډېرې خوشامند ي کولې ، او بايي به يي هم ورکولې .

## د چمرکنه مجاهدين :

ډاکټر صاحب او خپلې نور کسان زما ملاقات ته راغلي وو هغوي د حکومت پيغام راوړې و چې ملا رسه دي چلوي خود ورېږ دي نه کوي که د دوو ونه اس اخلي مونږ يي پرېږدو خو ما د حکومت دا شرط ونه منلو . په چکو کښې ما سره نور قيديان هم وو چې په هغو کښې د چمرکنه مجاهدين هم وو . زه چې د کابل نه راتللم ما هغوي ته ډېر نصيحت کړې و دا مي هم ورته ويلي وو چې سرحد او پنجاب ته به نه ننوځئ . هغوي زما نصيحت ونه مانه د غه يې حال و زما د بندي کېدو نه مخکښې يي ډېر وهل او تکول چې زه ور سره بندي شوم نو د وهلو ، تکولو نه خلاص شو . دا مجاهدين چې په بونير کښې وو هلته يې پکښې اکثريت د بنگاليانو و د غه بنگاليان ډېر شريف او مينه ناک خلک وو ډېره ښه گوزاره يي کوله او چې پکښې پنجابيان وو هغوي ډېر دله باز خلک وو . دوي چې ورننوتل پېرې او جنبې يي پکښې جوړې کړې . اخر يي خپل امير نعمت الله و واژه . د بونير خلکو له هغه ځايه را وشړل او چمرکنه ته راغلل ، د دوي يو مشر مولوي فضل الهي ډېر پياوړي باز او خطرناک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی و ماپه کابل کښې لیدلی و ، ډېر نصیحت می ورته وکړ خو هغه د خپل
طبیعت نه مجبوره و او د دې پروجنبو په وجه یې یو ډېر ښه کارکن ، نیک او مخلص
سړی مولوی بشیر وژلی و . بیا وروسته چه پاکستان جوړ شو فضل الهی پنجاب ته
راغی زه هغه وخت په جیلخانې کښې وم . مولوی فضل الهی د حکومت په لمسه د حکومت
د خوشحالولو د پاره ماپسې سختی پروپاګنډی وکړې او ډېر دروغ یې ودیل
پولیسو دی له ځانه سره ملګری کړی و او چه مجاهدینو کښې به کوم د کار سړی
و پولیسو به ورته ووېل هغه راوله . د دوی یو ملګری چه د قرآن شریف حافظ
هم و پولیس په لاس کښې اخیستی و . پولیسو به چه د کوم سړی د نیولو اراده کړه
ده ته به یې وښودہ دی به ودلپسی لاړ هغه به یې د چندی په بهانه سرحد ته راګوز
کړو او د پولیس په حواله به یې کړو . ماته دې قیدیانو مجاهدینو ویل چه دی یې
اوس بیا زموږ د یو ډېر لوی کارکن پسې لېږلی که د هغوی د خبر ولو څه بندوبست
و نشي . دایي هم راته وویل چه په جیلخانه کښې یو مونډ دی او سبا بل سبا رها کېږي
که ته یوه چټی ورکړې دده کور ځمو کنډه ته لنډ دی هغوی ته به یې ورسوي او زموږ
نور ملګری به د دې مصیبت نه بچ شي . ما اول خو دی کار ته غاړه نه اېښوده
ځکه چه دا خو په جیلخانه کښې جرم دی خو چه فکر می وکړ چه د الخو د دې خلکو ته لوی
مصیبت دی نو بیا می خط ولیکه او چه په سبا له به هغه مومند رها کېده په ټو
ښتپه می ورکړو . هغه چه رها کېده نو هغه کاغذ یې د خپل ډېر یو ډی سره دوېرې غوږ ز ول
دی بیا هغه کاغذ اتفاقاً زموږ د کلی نمبردار مومند لی دی هغه بیا به راوړ . ماهغه ته ادو
چه دا کاغذ چېرته وو هغه اووئیل چه زما ټهره وه او ډیو ډی سره می بیا موند

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا کاغذ حکومت ته په لاس ورغلی وی نو لس کاله قید و . زمونږ دهزاری یو ملکوی یې دغه شال په یو کاغذ لس کاله قید کړی وو .

زه په جیلخانه کښی وم چه دکوهات څو تنه یې جیل ته راوستل یو یې تره او نور یې وریرونه وو دیرښکلی او ښایسته ځلمیان وو هغه یې هم زمونږ سره په دې چکوکښی بند کړل . دجیلخانی دا قاعده ده چه سهار وختی ملازم راشی قید یانو پسې ورلیږی کړی راوي باسی جارو کانې په لاس کښی ورکړي ځای جارو کوی . دوی به یې وختی سهار د یوما په میاشت کښی راوښکل ، دوی چه به جارو وهلو ته تیت شو یو پنجابی سپاهی وهغه به په کونه لته وکړه بوک به یې راوارول او کنځل به یې ورته کول نوما تری یوه ورځ پوښتنه وکړه چه تاسو په څه کښی بندیان یئ دوی چه صاحب څه وو ایو ما ویې هر څه چه وی ووایه راته وویل چه په « غول مه خوره » مو جنګ کړی دی اوس دغه دی بندیان یو دشیطان لمسه ده اوپښتو وه . ما ورته ووې چه هغه پښتو او شیطان مو ځان سره جیلخانی ته راوستی دی او که موخپل ورور عـزیز دپاره هلته پرینبی ؟ کوری داتورمخی سپاهی درسره څه سلوک کوي ؟ ده ته موهغه پښتو او شیطان نه لمسوی دخپل ورور عزیز هغه خبره زعمل به به وواو که دا ستومول ؟

نورسـیاسی قید یان د دیره اسماعیل خان جیل نه په چالان کښی راغلل ، یو ملک خدا بخش وو او بل رمضان خان وو ، نور ورسره یو څو ملکوی وو . نورسـیاسی قید یان په بادک کښی وو اوزه یې په چکی کښی بند ای کړی وم دهغوی سره یې یو ځای کید و ته پرینبودم . عام قید یان هم ترڅوی هفتی پورې په چکی کښی بند وی ، بیایې ترونه راوباسی خوزه یې پکښی دوه میاشتی وساتلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره دا ده فیرنګیانو زمانه وه - ده قیوم وزارت وو. او پاکستان جوړ شو
ده موسو ...
ورسره ګډ شو نو دوه دا دیره د وخت به سخا وه. د هغه بوڅي ده د ډرنو
زیاته نښه خوځه ++



## ډیره اسماعیل خان جیل ته بدلي:

دوه میاشتی پسی یې زه ډیره اسماعیل خان ته چه د دوبار یا نو جیلخانه ده بدلی کړم. د تللو په وخت کښ راته بیګی (زولانی) ولګولی چه د ډیره جیل ته ورسیدم بیا یې هم رانه ونه ایستلې، هلته یې چکی کښې بندکړم او لږې وړ الش سپیږه دانی راوړې چه ډا اوړه کړه، خو دا نه وه چه هغه چنجو وهلي وي. نو او په ولو کښې یې تکلیف نه وو

## د جیلخانی قصه:

تاسو ته به یاد وی چه په «پښتون» کښی د جیلخانی په باره کښی یو مضمون «د شلمی پیړی تهذیب او زه په جیلخانه کښی» تر عنوان لاندی شایع کیده لیکن زما د بیا بیا ګوفتارولو او ناوړ کاری په وجه هغه مضمون سرته ورسیدلی نه و په مینځ کښی پاتی شوی و. چونکه زه اوس د هزاری باغ په جیلخانه کښی یم او ما سره څه کتاب د لوستلو د پاره نشته ځکه د کوم کتاب چه زه نوم اخلم نو حکومت دا جواب راکوی چه د دی اجازت د لوستو تاته نشته. نو ما خیال وکه چه د دی وخت نه څه فایده اخیستل په کار دی. نو په دی وجه زه بیا هغه قصه هغی پسی د پوره کولو او سرته د رسولو د پاره شروع کوم او ورسره دا تجویز هم کوم چه د دی نوم به اینده د پاره «د جیلخانی قصه» کی. (۱۵-اکتوبر ۱۹۳۳ع)

د دې جیلخانی حالت د ېر زیات خراب و قیدیان، غریبان پکښی د ېر په کړاو اخته وو. د بلې و بازار پکښی ګرم و چا به چه پیسی لرلی د هغه بر پکښی څه ګوزاره کیده د بی پیسو بند یانو حال بد و. عجیبه خبره داوه چه د دې جیلخانی یوازی دارو غه مشر نه و بلکه هر یو ملازم د لته کل اختیار و او هر چا به خپل حکم چلوو د دار وغه هیڅ رعب نه وُ د هغه حکم چا نه مانه د دې وجه داوه چه دار وغه یو بوډا وُ په پنشن روان و پیسی به یې اخیستی چه د نوکری په اخر عمر کښی پینځه پیسی پیدا کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله داوه چه دی په انګریزی نه پوهېده، دی دسپاهی ګوری نه داروغه شوی و
وسپرنټنډنټ دانګریزی نه بغیر په بله ژبه نه پوهېده نو دجېلخانې کاروبار ورته نائب
داروغه ګنګارام مخکښې کاوه نو دنائب داروغه رعب په جېلخانه کښې ددداروغه نه
زیات ونو په دې وجوهاتو دجېلخانې انتظام ګډ وډ و. زه چه یې په حکلې کښې بند
کړم نو یو څو تنه پېښوریان قیدیان ماته دا غلل را ته یې وویل چه مونږ به داروغه ته پیسې
ورکړو چه تا دچکو نه راوباسی خو ما ورته وویل چه زه بلهای نه ورکوم، چه بلهای ورکوم
ضمانت ولی نه ورکوم. زه خو قیدی نه یم، زه ضمانت کښې قید یم.

ددې جېلخانې خوراک هم خراب و. هسې خو ټولو جېلخانو خوراک خراب وی ځکه
په حکومت دښې غلې دا خیستلو اجازه نه ورکوی خو دلته یکښې داروغه هم وهنه کوله
نائب داروغه او نورو هم پکښې کانه وانه کوله. ما به خپله حکې اوړه کوله. کومې چنې چه به
دمیده کولو د پاره ماته راوړې هغه به ټولې چینجو خوړلې وې. دقسم د پاره به پکښې
وغه دانه موندی کېدی نه شوه پاکولی به یې نه هم ځکه چه پاکېدی نه شوې که پاکولی
پلش بخوکې پاتې کېدل دا دچنو ددی قسم اوړو دوډی به یې پخوله هم نه ځکه چه وزن
کمېده په دې کښې به هم دقیدی غریب نه غلا کېده. داړ دوډی به په یولاس کښې
ول کېده نه ځکه چه ټوکرې ټوکرې کېده او په یو ته نو په دواړو لاسونو کښې به ذې اخیسته
چرې دچنو دوډی خوړلې نه وه په خوب کښې می لا لیدلې نه وه بیا داسې دوډی چه
یمی نه زیاته پکښې خاورې وې شخوند پری نشی وهلی. ما به په ډېر کوښښ ایله
ټوکره وخوړه آخر پرې ناجوړه شوم، ددال او ساګ به یې څه ذکر کوم. په جېلخانه کښې
څوک ناجوړه شی هسپتال ته یې بیایې خو زه سیاسی قیدی وم، زما د پاره هسپتال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندو، زما په نصیب دا یوه توره کوټنۍ رسېدلې وه چه شپه او ورځ به پکښې یوازې ...
وم. ډاکټر به راله دارو دلته راوړل او سپرنټنډنټ به مې په ورځ کښې یو ځل خبر اخیسته، ...
ورځې پس جوړ شوم. زه په دې جېلخانه کښې یوه نیمه میاشت پاتې شوم په دې یوه نیمه ...
کښې زما څلوېښت پونډه وزن کم شو. غاښونه مې خراب شو، وریځې مې وتښتېدې، ...
به تورې جاړې وې. د خراب خوراک او د سبزۍ د نشتوالي په وجه مې په وریو پایوریا ...
ولګېده. د خراب خوراک په وجه په ټولو قیدیانو یو قسم مرض لګېدلی و چه هره ورځ به ...
پنځه مړه کېدل چا یې پوښتنه هم نه کوله ځکه چه قیدي د پرنګیانو په حکومت کښې انسان نه ګڼ...
کېږي او د دې ګڼو غوندې سلوک ورسره کوي که د سړي سپی مړ شي څه نه څه همدرد دي ...
ورسره ښکاره کړي لیکن د قیدي خوار مړه د هېچا همدرد دي نه وي. چه مرض زور شو نو ...
سپرنټنډنټ سره فکر پیدا شو او د مرض د مخنیوي د پاره به یې کله ناکله دوه، درې ...
پرنګیان هم مشوره له راغوښتل، لیکن مرض به مشوره نه کمېده او نه به چېرې کم شي، ...
ټول د خوراک د خرابوالي نه پیدا شوی ؤ او هغې خواته چا توجه نه کوله. توجه ورته چا کو...
وای. "جېل والاو" کار خو ټول د دوی د بې دیانتۍ نه خراب و. سرکار چه کوم مع...
خوراک د دوی د پاره منظور کړی و هغه به یې هم دې غریبانانو له نه ورکوله سپرنټنډ...
هم عجیبه دي او بیا چه انګریز وي هغه خو بېخي ناخبره وي چه کوم طرف ته یې "جېل...
بیا یې په پټو سترګو روان وي او بیا داسې سپرنټنډنټ لکه دا چه و. د قیدیانو ا...
خاص د پښتنو قیدیانو د سر تاکو. سپرنټنډنټ ته پښتو ټکې نه ورتله حتی اردو هم ...
تش به یوه انګریزي پوهېده او پښتنو غریبانانو له اردو نه ورتله پاتې خو انګریزي. ...
ورځ عجیبه قصه وشوه څوک چه جېلخانې ته تللي دي هغوی ته معلومه ده او چه څ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي تللی هغوی ته به معلومه بنتی چه دهر کال ( دوشنبی ) په ورځ سهار وختی قیدیان پچلو بارکونو کښی په لین کښېنوي سپرنتنډنټ او نور جیل والا یې کره‌ځی صحت، جامې، صفایي او نور حالت یې گوری که دچا عرض وي هغه هم اوری. په دغسی یوه موقع یو قیدی پاڅېدلی دی او دجېل والاو دلاسه شکایت کړی دی چه وهي مې ټکوی مې شرموی مې، کنځی می رشوت رانه غواړي زه غریب سړی یم زه روپۍ له کومه راوړم چه دوي ته یې ورکړم؟ نو سپرنتنډنټ خپلی عملی ته وکتل چه څه وایي؟ هغوی ورته وویل چه صاحب دی دغمنو دوه‌ دی، غواړی اوگوره غواړی نو سپرنتنډنټ قیدی ته ووې «نونو» قیدی غریب بیا ورته خپله قصه تېره کړه هغه بیا دخپلی عملی نه پوښتنه وکړه دوی بیا ورته ووې چه صاحب گوره او غوري غواړي نو سپرنتنډنټ قیدی ته لبنته خوځوی او ورته «نونو» وایي. قیدی دېر کوښښ وکړو چه سپرنتنډنټ پخپل مطلب پوه کړي خو هغه پوه نه شو نو اخر یې حکم وکړو چه دا بد معاش دی، بوځئ په چکی کښی یې بند کړئ هوسی ښکرگانه غوږ یې بایلود.

د سپرنتنډنټ د راتلو په ورځ سپرنتنډنټ په خصوصیت سره د تقیو معاینه کوي نو په دغه ورځ د قیدیانو ورځ ډېره بده وي دچا چه معده کمزوری وی هغوی ته ډېر کړاو وي ځکه چه یوځل د تقیو صفایي وشی تر څو چه یې معاینه شوی نه وي ځوک پکښی نه پرېږدي چه پکښی کښېني نو که په دغسی وخت کښی قیدی ته حاجت پېښ شی که جرئت ولری خود چا نه پوښتنه نه کوی منډه کړی تقیی ته ننوځی خو دی لا ناست نه وي چه نمبر داري په ځټ سور وي او که بې جرأته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوځل دوه خواجازه وغواړی خوعلاوه پر دی چه اجازه نه ورکوی سنه یې سپک هم کړی. ماپخپله د پرغسر بیانان لیدلي وی چه هرڅه تری پرتوک کښتی تللی دي ویل، سسکځل اوراښکل خوپرېږده دا هغه د بې شرمۍ ساعت وي چه خدای دی چاته نه ښيي. انګریزانوچه مونږ له کوم قانون خوجوړکړی دی دتظاهرداری د پاره یې جوړکړی دی او دنیاته د دوکې د پاره. په دې قوانینو نه پخپله پرنګیان پابند دی اونه یې ملازمین.

زه چه څه وخت ناجوړه وم نومالره یې پې او وریجې دخوراک له پاره راکولی یوه هفته پس چه زه جوړشوم او دهسپتال نه دس چارج شوم (ووتم)، نوبیا زه وم او دجېلخانې هغه پخوانی خوراک خو داکټرچه زماحالت اوکمزوړتیاته کتلي و دهسپتال نمبردارته یې حکم کړی وچه ده له هرمابنام لږ قلدې دهسپتال دپیو ورکوه. زه دمابنام دلمانځه وروسته وظیفه کوم په وظیفه ناست وم چه یوسړي راته اواز وکړو چه وروسته مې وکتل نو دکوټکی د جنګلی سره نمبردار ولاړ دی راته یې ووې چه بالتهی دې راکړه چه پې مې درته راوړی دي زه دخپلې کاړی نه راپاڅېدم او پوښتنه مې ترې وکړه چه داپې دې له کومه راوړی؟ هغه جواب راکړو چه بابوصاحب حکم کړی چه هرمابنام څه قلدې پې تاته راوړم ځکه چه ته کمزوری یې ما ورته ووې چه دا سرکاری مقرری شوي دي که داکټرصاحب له خپله طرفه مهربانی کړې ده هغه ووې چه دا د بابوصاحب مهربانی ده ماوې داکټرصاحب له خپله کوره راليږلی دی که دهسپتال نه یې رالیږلی دی؟ وې ویل چه دهسپتال نه ماورته ووې چه ته خپه کېږه مه، داکټرصاحب ته مې هم ډېر ډېر سلام وایه او ورته وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د دې مینې، محبت او مهربانۍ زه ډېر مشکور یم خو زه دا چه اخیستلی
نه شم. د دې خبرې په اورېدو نمبردار ډېر حیران شو او وې وې چه ولې؟ ما ورته
وویل ځکه چه دا زما حق نه دی پردی حق دی او پردی حق خوړل خو حرام دي
هغه وویل چه دا څنګه پردی حق دی؟ ما ورته وویل چه دا چې په هسپتال کښې د
کمزورو او مریضانو د پاره مقرر شوی دی، د هر مریض برخه مقرره ده، زما
د پاره مقرره برخه نشته نو ته به یاد دې په ځای د نورو مریضانو په پیو کښې اوبه
لوی چه د دې یو اندازه پوره کړې یا به د هر مریض نه یو یو کوټ کموې دا د اداره
طریقې ښې نه دي. نمبردار چه دا واورېدل غلی شو او لاړ. یوه ورځ دا ن... صاحب
راغی او ما ته یې وویل چه ورځ په ورځ کمزوری کېږې پس د دې ستا د ډوډۍ
انتظام زه کوم زما له طرفه به زما له کوره تا ته ډوډۍ راځي، ما د هغه ډېره شکریه
اداکړه او د ... اخبره مې ورسره ونه منله ما هغه ته وویل ستا ډوډۍ زما خپله ډوډۍ
ده خو که سبا ته د دې جېل نه بدل شي یا زه بدل شم نو بیا به څوک د ښې ډوډۍ
انتظام راته کوي؟ خو زه یم او دا د جېل ډوډۍ به وي او س خو لا ښه دی ورسره
ولېږ اموخته شوی یم او بله دا چه هغه کار چه سړی یې په ښکاره نه شي کولی او
... یې کوي، سړی کمزوری کوي او د خپلو اصولو نه یې باسي او په سړي کښې وېره
... دلی پیدا کوي نو ما ورته وویل چه زه ستا د مهربانۍ قدر کوم خو دا څیزونه زما
عملی مقصد ته نقصان رسوي. نو معافي غواړم په جیلخانه کښې په دغسې کارونو
سړی ډېر کمزوری کېږي خو مونږ چه یو سړی خپل خواهشات او ضروریات کم ولي
ی هغومره به آرام او خوشحاله وي هیچا ته به محتاج نه وي، د غه شان یو ځل دا غر

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب راغی او ماچکئ او ویل نو هغه ما ته او وئیل چه دا چکئ مه او روه په دی جیلخا
کښې دوه ویشت سوه قیدیان دی، زه به خدای له څه جواب ورکوم چه دا یو سیاسی
قیدی چه زما په لاره روان وو په هغه دې هم چکئ (مېچن) او روله، ما ورته او وئیل چ
د غه مخانخ چکئ کښې د غه قیدی ته ورکوره، دی دقتل د اکو مجرم دی. په دې کښې
جیل ته راغلی دی او دلته د داسی ناپاک مقصد د پاره چکئ او روی، او زه چه په دوه
نیک مقصد راغلی یم نوزه دې نه اوروم. چه داروغه صاحب پوه شو چه دی خو چکئ او
وی نو بله ورځ یې ماله اوره را ولیږل او لوږی غونډی دانې هم ورسره وی، او دیې ویل
چه صیب (سپرنټنډنټ) راځی نو دا اوره وه، ما ورته وویل چه زه داسی نه کوم که صیب
زما نه تپوس وکړی چه تا له څه درکوی نوزه دروغ نه وایم نوزه به وایم اوره. ددی
جواب کښې را ته جمعدار وویل چه بیا خو به زه مات شم. ما ورته وویل چه ځکه خودر ته
وایم چه دا مه راکوه او بله دا چه دا د سړی زړه کښې وېره پیدا کوی.

## د جیل بد معاشی:

ددې جیلخانې اخلاقی حالت د هیڅ پوتی و نه د هلک، نه د ځوان، او نه د بو
عزت پکښې ساتلی و. هر سړی به په وېره کښې وځکه چا چه به کنکارام او د چکئ جمعا
راضی کړل په هر چا چه به یې هر څه زړه غوښتل هغه به یې پرې کول. زما په مخک
ځینو کسانو پوری په دوه روپۍ خیل د ښمنان شړهولی دی په دوه روپۍ یې هلکان
مشیې تېرولو د پاره خپلو کوټو ته بیولي دی حال دا چه د جیل په قانون کښې د هلکانو
سړ و سره یو ځای بندول منع دی. ما یوه ورځ داروغه صیب ته اووئیل چه ته خو سړ
یې. د هیڅ نیک سړی یې، بانګونه وایې او امامت هم کوی، لیکن ستا په جیلخانه کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بچو عزت محفوظ نه دی، او زه چه په پېښور جیل کښې وم، هلته دارو غه هندو وو لیکن هلته د پښتنو د بچو عزت محفوظ و. په دې جیلخانه کښې ما پخپلو سترګو داسې واقعات لیدلي دي چه لیکل يې شرم ښکاري. شراب وکباب به پکښې عام وو، د پېسو والاو پکښې مزې چرچې وې او څه چه به يې غوښتل هغه به يې کول چا سره چه به پېسې نه وې د مغوی د حاله خبر مه شئ، د و هلو ټکولو او شرمولو نه علاوه چېرته به چه سخت کار و هغه به يې په دوی کولو جیل والاو د پېسو حصولو د پاره عجیبه عجیبه طریقې جوړې کړې وې یوه ورځ یو ښوځې راغی ما ته يې وې چه زه کلي ته چېټي لېږم راته ولیکه زما ورته ووې چه چېټۍ د څه د پاره لېږې ترڅه غونې شوې دیل چه پلار ته چېټي لیکم، ما ته معلومه ده چه زما پلار غریب دی هغه سره څه نشته خو زما ښځه والا هغه دې خرڅه کړی ما ته دې روپۍ رالېږي. زه ورته په قار شوم ما وې ته شرمېږې نه چه داخبره کوې هغه راته ووې چه خانه ته څه خبر يې زه چه جیل ته راغلم او په چکۍ کښې يې بند کړم شل سیره دانې يې راکړې چه دا اوړه کړه هغه ما ښې اوړه کړې چه جمعدار راغی ویل يې دا خو دل دي را ایسار يې کړم او تر هغه يې و هلم چه دی را باندې ستړی شو هره ورځ راته وايي چه پېسې راوړه که نه تول عمر به دې داحال وي زه دومره نامرده نه یم چه مشقت نه شم کولی هر کار چه راو سپاري په ډېره ښه طریقه يې کوم خو دوی د پېسو د پاره څه نه څه بهانه کړي په وهلو وهلوي راته سزګنجی کړو د جیلخانې تول سخت کارونه زما په نصیب دي سره د دې هره ورځ وهل خورم اوس راته وايي چه صاحب ته دی پیش کوو او په بېټتونو دې وهو داد بېټتونو وهل راته شرم ښکاري ځکه ما ته راغلم چه پلار ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خط ولیکه که څه واشی او ددې بلانه خلاص شم. دېر کسان جېل والا وو دپیسو دپاره په دی طریقه مره کړی دی داکوم کسان چه له جېلخانو نه تښتی یا بدمعاش شی ددې وجه هم اد جېل والا وو سلوک دی چه دې کارونو ته تیار شی. په جېل کښی د دوه دولو مزې وي یو دپیسه دار او بل د بدمعاشانو. بله داچه دقیدی دخوراک حال هغه وی چه مخکښی می درته بیان کړو او کار یې دغوایانو په شان کوي کولوکان (دتیلو کانړی) اړت، هیڅ اونور دېر داسی سخت کارونه چه دانسان دتوان او شان مناسب نه وی پری کوي. څومره ذلت او سپکاوی چه ما په جېلخانو کښی لیدلی دی زه په دعوه سره ویلی شم چه داسی سلوک به په دنیا کښی هیڅ وحشی نه وحشی قوم د خدای دمخلوق سره کړی نه وي.

قانون. قانون نشته د هر چا ټنګی او حاکم چه څه زړه وی هغه کوی او دې ته قانون وایی، نور ملکونه یو قانون لري. زمونږ په ملک کښی دېر ټنګی دپاره بیل قانون و او دډیری دپاره بیل د سرکاری ملازم دپاره بیل قانون و او درعیت دپاره بیل د مالدار دپاره بیل قانون و او دغریب دپاره بیل. دانګریزانو قانون داسی دی لکه دموموپوزه چه په کومه خوا یې اړوی، هغه خوا اوړی.

په یوه وړوکی کوټنی کښی دشپې ورځی دتنهایي قید په وجه زما وزن ورو ورو کمېدو او صحت می خرابېدو چه اخر جېل والا مجبور شول چه ددی پردې نشینی نه له ژوندۀ می راوباسی. یوه ورځ سپرنتنډنټ صاحب راغی او راته یې وویل چه اینده ته به کارخانه کښی دورځی کار کوه او دشپې دې خپلی کوټنی کښی اوده کېږه امید دی چه ددانه دویستلو دپاره به دی هم دېر ژر انتظام وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما مشقت :

د دې پرده نشینۍ (کوټه قلفۍ) نه چه راووتم کارخانې ته یې بوتلم دا یوه لويه کارخانه وه په سوونو قیدیانو به پکښې کار کولو او قسم قسم څیزونه پکښې جوړیدل زما کار لفافې (پاکټونه) جوړول وو خو ما به ورسره دکنډې کار هم کولو ځکه چه زما ورسره شوق وو او دا مې خیال وو چه سړی ته یو کسب زده کول په کار دي چه ځان ته پرې معمولي نفقه کټلې شي او د احتیاجه خلاص وي زما استاذ د بنو یو ملک و د پیر شریف او ښه سړی وو، ښه خوي یې نه او شرافت پرې ختم وو او پخپل کار کښې هم ډیر ماهر ؤ ما سره یې ډیر زیات رالیسته، په څو ورځو کښې خامتا او د بورډار ټوليي (رومالونه) او دل زده کول که چیرې زه د دې جیلخانې نه بدل شوی نه وای او پکښې پاتې شوی وای نو ما به په دې کار کښې مهارت حاصل کړی وای. زه چه څه وخت د دې جیل نه بدل شوم نو زما په زړه کښې لس دا یو ارمان پاتې شو چه دا کسب را نه نیمګړی پاتې شو او کمال ته مې ونه رسولو.

زما بل استاذ د بهادر کلي یو ملا صاحب وو چه د لفافو سکښتلو او جوړولو چل یې راته ښودلی ؤ، دی هم ډیر ښه سړی وو. کله کله به یې په کارخانه کښې کوپې پخولو یوه ورځ یې کوپې باندې کړې وې سپرنټنډنټ راغی، په کارخانه کښې بوی وو، ډیر یې اخوا دې خوا وکتل خو بالتهی یې پیدا نه کړو چه سپرنټنډنټ لاړو کوپې تول سوزیدلي وې استاذ مې ډیر خپه شو خو څه یې کولی شول؟

ورو ورو د جیلخانې د خلکو تلل راتلل راسره پیدا شو او په لږو ورځو کښې راسره ډیر کسان بلد شول. په جیلخانه کښې هر قسم خلک موندلی شي که بلد کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې وی نو د پرښه کسان هم پکښې وي بلکه اکثر يي ښه خلک وي، که جېل والا يي
خراب نه کړي. زه د خپلې تنهايي قيد په وجه هم پوه شوم، جېل والا تل دا کوښښ
کوی چه سياسي قيديان د اخلاقي قيديانو نه بېل وساتي ځکه چه د دوی سره دا ويره
وي چه سياسي قيديان زموږ د بد عملۍ نه خبر نه شي او بله دا چه اخلاقي قيديان پوه
نه کړي ځکه که دوی پوه شي بيا خو د جېل والا وو د کان سړېږي. په دې جېلخانه کښې د
رشوت بازار ډېر تود و او په رشوت هر شی کېدی شو د ساده او خوش باوره پښتنو
د حصولي يوه ذريعه نه وه، دی چالاکو جېل والا وو د روپو راټولولو د پاره قسم قسم ذريعې
او طريقې راايستلي وې په ټولو کښې ذليله او مکروه طريقه ديو شريف او عزتمند سړي
بې عزته کول وو لس روپۍ به دی چه کنګارام له ورکړي چه څوک به دې خوښ و هغه به
يې پرې شرمولی شو. يو سړي به کنګارام له ورغی لس روپۍ به يې کنګارام ته په کوټو کښېښودې
او ورته به يې ووېل چه فلانی شرمول غواړم هغه به روپۍ په جيب کښې واچولې او د
يو څو نمبردارو سره به راروان شو هغه سړي ته به يې څه بهانه جوړه کړه او نمبردارا نو
ته به يې حکم وکړو چه پر ټوکو ئې نه وباسه، د غه شان به يې هغه خوار بې عزته کړو
د دوی پوکټلو دا طريقه ډېره کامیابه وه ځکه چه نن به تاته په کنګارام بې عزته کړه
سبا به ما کوره ته چيتې لېږله او روپۍ به مې راغوښتې يا به مې ملاقات غوښتنه
بيا به ما کنګارام ته روپۍ ورکړې او د خپل بدل اخيستو په غرض به مې ته
پرې بې عزته کړې. کله کله به په دې د پښتنو په مينځ کښې جنګونه هم کېدل.

## جېل کښې پرې جنبې:

د بد قسمتۍ نه په دې جېل کښې د پښتنو په مينځ کښې پرې او جنبې وکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د وه ډلې وویوه ډله د پېښور او بله د کوهاټ، بنو او ډېره والو وه، د دې ډل بازیو نه به هم جېل والا وو هم ناجایزه فایده اخیسته او په معمولي خبره به یې دوار وته اشتعال ورکولو او په کور کښې به یې جنګول، د جنګ نه پس به یوه عجیبه تماشه جوړه شوه، هغه کسان چه څه بود به پرې کېده هغه به یې په چکو کښې بند کړل پېرې به یې پرې وې، د دې ولې چه یو د بل له حاله خبر نه شي او تنګ د اتنګ به یې پرې بند کړو هسې نه چه څوک یې له حاله باهر خبرونه لېږي. دلالان به یې ور پېسې کړل په ورځ کښې به یو ځل دوه ور تلل او قسم قسم خبرې به یې ورته کولې او هر یو یې ویرولو چه بس مقدمه په تاجوړه ده یا به پهانسي کېږي او که نه عمري خوشوې. د هر قیدیان د ر باندې دلیل لو شهادت ورکوي فلاني مړ شو د فلاني هم حالت ښه نه دې مرکوني دي که څه کوې شي دادې وخت دی که نه لاړې غرق او ډوب شوې. په قیدی غریب به هیبت راغی کور ته به یې خپلو خپلوانو ته تار ورکړو چه هلې روپۍ راوړئ د چا خپلوان چه به زر راغلل او روپۍ به یې راوړې که هر څو مره به ګنهګار و هغه به خلاص شو لیکن خواره خواری د هغه چا وه چه پیسې به یې نه لرلې، اکثر به د پیسو ګنهګار خلاص شو او بې ګناه، بې پیسو کسان به چالان شول. څومره به چه زه د جېلخانې د حاله خبر بلم هومره به مې د پښتنو مظلومانو په حال زړه بلېدو. ما به شپه او ورځ دا فکر کولو چه د دوی د بچ کولو د پاره کومه لاره او طریقه اختیار کړم اخر مې د ځان سره دا فیصله وکړه چه د دې دوار و ډلو مشران لیډل په کار دي او د اکو ښښ په کار دی چه د هغوی سره خبرې وکړم او هغوی د دې بدو کارونو او د هغو د نتایجو نه خبر دار کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دا ابتدائنه داعقیده وه چه پښتون ډېر ښه قام دی ډېر زر یې اصلاح
کېدای شي په شرط د دی چه څوک یې پوه کړي. دا ئن چه دی په داسې بد حال کښې
دی د دی وجه دا ده چه څوک یې غم نه خوري او نه یې پوهوي. په دی جېلخانه کښې
د رانېزو یو بوډا کاکا و نوم یې نصیر و. هغه زه یوه ورځ چایو ته وبللم زه د دی
قسم دعوتونو طرفدار نه یم ځکه چه سړی کمزوری کوي لیکن د هغه د سپینې ږیری
له خاطره ما دده بلنه ومنله دی هم په دې کارخانه کښې و. د دریواړو نوارو په کار
ښه پوهېده زه یې پخپله کارخانه کښې وګرځولم او خپل کسب او هنر یې راته ونښوده
چه په لیدو یې زه حیران شوم ما ورته وویل چه کاکا افسوس دی چه موږ پښتانه
د بل د پاره تخنګه ښه ښه کارونه کوو خو ځان له هېڅ نه کوو دا کوم کسب او هنر چه
تازه کوي دی که چېری یې بهر هم جاری وساتی نو ډېره فایده به تا ته او قام ته
ورسوی هغه ماسره وعده وکړه چه بهر به یې هم جاری وساتم اخو کله چه ۱۹۲۹ ع
کال کښې زه د رانېزو په دوره تللی وم کاکا می ولید و چه کار یې لا شروع کړی نه و
په دې کښې چای راغله چای مو وڅښله. زه د دوی بی باکۍ ته حیران وم ورو غوږ نیولی
می نصیر کاکا ته وویل تاسو چه ښکاره دا کارونه کوئ د جېل والاو نه و نه ډېرېږئ نه
نو هغه په خندا اشو راته یې وویل چه خانه ته لا نوی یې د جېلخانې په حالت خبر دار
نه یې په جېلخانه کښې چه پیسې ورکوې څه چه دې زړه غواړي هغه کولی شې زه
خو غریب سړی یم چا ته پیسې ورکولی نه شم دا ته چه څه وینې دا د جېل والاو مهربانی
ده چه سږ کال یې ما ته د نسوارو او تماکو ټیکه راکړې ده زما ګوزاره هم پرې کېږي
دوی ته هم څه ورکوم او زما د دې ورونو هم راسره وخت تېرېږي. زه د دې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوریدو حیران شوم او ورته مې وویل چه کاکا ! جیلخانه او ټهیکه داری ؟
ـه راته وویل چه دلته د هر څیز ټهیکه داری وی او دا ټیکې هر کال باقاعده
لیږی او لیلام پرې کیږي . دلته د ګوړو ، غوړو ، وریجو ، تماکو ، نګزارو ، پیو ، غوښو
وروشیانو د پاره بیله بیله ټهیکه ده . د چای څکلونه وروسته ما هغوی سره د
ستنو په بی اتفاقی خبری وکړې ، د پرو جنبو او جنګو نو نقصان مې وروښوده .
وی پوه شول چه بې شکه دا ډېر خراب کارونه دي ما ورته ووې چه خراب دي
سوله په کار دي چه خپل نور پښتانه وروڼه پرې پوه کړئ او ددې کارونه لې
کړئ . زه چه تری راوخصتیدم ما ته یې د ګزارو او تماکو ستور وښوده ماته
یو ډوډی ته یو ځای وښوده چه دلته څه شی شته که نه ؟ هلته هیڅ نه معلومیده
ره ځمکه وه هغه ځای یې لږ وکنستلو یو بر غولی راڅرګند شو لاندې ترې لویه چاټی
په چاټی کښې د ګزارو قسم قسم پوړی وې د دوه انونه تر اتو انو پورې به یې
غولې . ما ورو وزو یخپله کارخانه کښې کار شروع کړو او هر پښتون سره چه به مې
ات کید و ضرور به مې د پرو جنبو ذکر ور سره کولو . د څو مره کسانو سره چه ما دا خبره
ده په هغوی کښې یو هم داسې نه و چه ددې خبری اثر ور باندې نه کید و هغوی
ورو دا خبری محسوسولې او پکښې خوریدلې . یوه ورځ د بنو یو خان چه ما سره
ې کارخانه کښې وزه یې مېلمه کړم او یو لوی بنانک شیره یې راله پخه کړه په جیلخانه
ـ د بنو والو شیره ډېره خوښه وه او ګران مېلمه ته به یې پخوله ما سره یې څو کسان
مېلمانه کړي وو ، دا کسان راته اکثر د رسوخ خاوندان او د ډلې د سرېمري
ـبدل ، د ډوډی خوړلو نه پس ما هغوی ته وویل چه زه تاسو سره یو ضروری

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره کول غواړم په ښه شان یې واورئ او چه څه در ته مناسب ښکاري هغه جواب
به راکوئ ماورته وویل زه چه له کوم وخته دې جبلځانې ته راغلی یم اوما ته کوم حالات
معلوم شوي دي نوزه په دې نتیجه رسیدلی یم چه دلته د پښتنو ډېر بد حال دی د
قسم ظلمونو او رشوت نه علاوه د پښتون عزت محفوظ نه دی، ما اوریدلي دي چه
پښتون د بل د شهولو د پاره جېل والا وله بډې ورکوي او خپل ورور پښتون پری شهید
لیکن دا هم اوړم چه سبا هغه پښتون بیا د بدل اخیستلو د پاره همدا کار کوی او دا سلسله
د ډېرې مودې دلته جاري ده تاسو ورته لږ ښه غور شئ په دې کار کښې زمونږ د د
او اخرت څومره زیان دی؟ که جېل والا دا کار ونه کوی خود خپلو بلبو او پیسو د پاره کو
او که نه یې پکښې ده او زمونږ خو پکښې سراسر زیان دی، مالونه را نه لاړل، عزت را
لاړ نن ته زما په بې عزتی مال ورکوې سبا زه ستا په بې عزتی مال ورکوم، په دې طر
په یو پښتون یو دی هم حیا پاتې نه شوه . بله خبره چه ما ته معلومه شوې ده دلته پښت
په دوه ډلو تقسیم شوي دي، یوه ډله د پېښور یانو او مردان والا وو ده او بله ډله د
تهیانو، بنو والو او ډیره والو ده، او اکثر په وړه وړه خبرو پخپلو کښې جنګونه کوی او
جنګونه یې په هلکانو وي. زه به تاسو ته یوه خبره وکړم که فکر مو ورته وکړو او زده ت
پر یو ته مونږ او تاسو به د دې ذلت نه خلاص شو مونږ ټول پښتانه یو قام او یو
یو د یو بابا اولاد یو، زمونږ عزت او ذلت یو دی. که چیرې مونږ د رسول الله ص
علیه وسلم په دې حدیث عمل وکړو: « چه په ځان دې څه پېرزو نه وی په بل یې هم
پېرزو کوه ». نو ډېر زر به کامیاب شو. مونږ چه د خپل پښتون ورور سره د هر
اراده وکړو په کار دی چه د لږ ساعت د پاره په هغې غور وکړو او خپل ګریوان کښې وک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ی داکار بل څوک ماسره وکړي نو زه به پوري خوشحاله شم که څنه؟ که چیري زه پوهی
شحالیږم نو هغه کارکول په کار دی او که زه پوی خپه کیږم نو په کار دی چه دغه کار
نې ونه کړو . بله دا چه مونږ پښتنو کښې که یو سړی بد کار وکړي نو په دې وجه د هغه
رتیا په کار نه ده چه دی پښتون سړی دی یا بنووال دی، یا کوهاټی دی، یا ډیره وال
، او زما د علاقې دی . د بد کارو او بد چلند و خلکو ملګرتیا نه ده په کار که په ځان
ونږ وروره هم وی ځکه چه د دی د لاسه قوم او سوسایټی ته نقصان رسیږی او
خلک قام تباه کوی .

مونږ ته په کار دی چه همیشه د حق او ښو خلکو ملګرتیا وکړو که په مونږ کښې یو سړی
کار وکړي مونږ ټولوله په کار دی چه د خپلې ورودې او عزیز ولې نه یې و باسو که هغه
وال وی، که پښتون سړی وی، که کوهاټی وی، که ډیره وال وی، که مونږ په رښتیا په
لاره روان شو نو زر به هغه کسان چه په بد ولار روان دي او د چا له لاسه چه پښتانه
ی مصیبت اخته دی د خپلو بد وکارونو نه به واوړي . دا نن چه پښتانه په بد ولاړو
ن دی د دې وجه دا ده چه مونږ د ښو او بد و فرق نه کوو او نه څوک شته چه د ښو
بدو په فرق موپوه کړي . یو بد عمله سړی چه وینی چه زما په بد عملی کښې ملاتړ کیږی
غه به ولې د خپلې بد عملی نه لاس اخلی او که مونږ د ښو بد و فرق وکړو او لکه چه
ماخوستن په لمانځه کښې د خدای سره د عده کوو چه : «وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ»
څوک چه ستا نافرمانی کوی مونږ به هغوی پرېږدو کور کلی به ورسره نه کوو . که دا وعده
ای کړو پښتون به یکلم بدل شی . نو مونږ ته په کار دي چه په دې خبره هر پښتون
رو او دا خبرې د هر پښتون غوږ ته ورسوو . په دې مو دعا د خیر وکړه او دیوبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه رخصت شو.

په دی مینځ کښی بنو ځیو د مردان د یو هلک په سر ګنګارام ته ییلپی ورکړی

او هغه یی بی عزته کړی و، په دې خبره پښتوریان ډېر خپه شول او جرګه یی وکړه چه

خپینه بدل اخلو او د جنګ د پاره یی ورځ مقرره کړه چه خبر شوم ور غلم منت زا

می ورته وکړی چه مونږ ته دا کار کول نه دی په کار. په ډېرو خواردمی هغوی له

منع کړل هغه هلک له می هم ډېر تسلی ورکړه او په کور کښی مو دا فیصله وکړه چه په د

جیل کښی خو پوښتنه نشته او سپینږیتوب ددې خبرې پوښتنه نه کوی، ښه به د

چه په انګریزی کښی یو درخواست ولیکلی شی او د ګنګارام په سر ډیپټی کمشنر ته شکا

وشی. درخواست تیاره او ډیپټی کمشنر ته ورکړی شو، لیکن د پرنګی په حکومت کښی

مظلوم د پاره انصاف نشته، بلکه داچه داسی واقعات پیدا شی نو بیا پرنګیان پر

دخپلی محکمی د بدنامی له خاطره پرده اچوی د انصاف فکر لا نه شی او په اتفاق س

دخپلی محکمی د صفایي کوښښونه او تجویزونه شروع کړی او س هم دا حال د

حقیقت دا دی چه پرنګیان خو دلته په دې ملک کښی د اصلاح ترقی او انصاف

د پاره نه دي راغلی د وی خو دلوټ، تباهی او بربادی د پاره راغلی دی ولې

په ټولو محکمو کښی د وړو کی نه ترلوی پورې ټول افسران غله او بلوی خواره د

بې د بلو او ډالی نه پرې څه کار کیدی نه شی. دا ټولې خبرې پرنګیانو ته ښې معا

وی. معلومی څه پخپله یکښی شریک وو نو اصلاح به یې څنګه کیدی شي؟

ګنګارام ته چه څه وخت دا معلومه شوه چه دی خوښتانه په سمه لار ه

روانوي او زما د کاندارۍ کښی فرق راولي نو فوراً یی زما په سر سپینږیتوب نت

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکایت وکړو او زما بر خلاف یې لویه قصه له ځانه جوړه کړه او زه یې بیا په سپږنتینځ نټ په هغه توره او تنګه کوټه کښې واچولم. د ما شوله لاسه مې خوب لا نه شو داسې ځه ځیز راسره نه وچه ځان پکښې د ماشو نه پټ کړم کمبل راسره خو کمبل په ګرمۍ کښې اغوستل ګران کار وي. د شپې به هیشه تیاره کښې کښیناستم خپل دلوم دچیچلو وېره به راسره وه د شپې به مې د روند په شان په راتیسته دې خوا اخوا به مې وهله سحر چه به را پاځیدم یو دوه لومان به موږ ته وو. قیدیان غږ بیانان خدای پاک پچیل فضل له دې بلا کانو نه ساتی.

## جیل کښې زما ګناه:

سبا وختي سپږنتینځ نټ دا روغه او ګنګا رام د ننه زما چکۍ ته راننوتل سپږنتینځ نټ سترګی بدلې وې او د خبرې نه یې داسې معلومیده چه سړی دېر په دی په لاس کښې یې یوه لویه پرېره وه هغه یې ما ته واوروله بیا یې را ته وویل د جیلخانې په قانون کښې داسخت جو مونه دې زه ستا بر خلاف مقدمه چلول دارم، زما بر خلاف یې دا الزامونه لګولي وو.

ته یو سخت باغي یې او په جیلخانه کښې بغاوت کوې، ته د جیل ملازمانو ته تبلیغ کوې چه سرکاری ملازمت کفر دی، ستا د دې تبلیغ په وجه د دې څلور جمعدار ستعفاء ورکړې ده، ته په قید یانو کښې پراپګینډه کوې او په جیلخانه کښې د بغاوت تو کو بنبسنې کوې.

د دې خبرو په اوریدو ما هغه له جواب ورکړو چه د مقدمې په باره کښې هیڅ نه وایم تا ته چه څه مناسب او انصاف ښکاری هغه وکړه لیکن دا خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه چاتاته رسولي دي رښتيا نه دی بلکه بالکل غلطی دی. زه دا خبره منم
یو جمعدار زما په وینا استعفا ورکړې ده ، لیکن دا معامله داسی نه ده تخنګه
در رسول شوې ده . درسته خبره داده چه یوه شپه د دغه جمعدار په ما
پیره وه هغه ماسره په خبرو خبرو کښی داوویل چه زه بال بچ دار یم او
تنخوا لږه ده ګوزاره می پوره نه کیږی ، کله ناکله قیدیان پخپله خوښه بی زما
نه څه نه څه راکوی ، زور زیاتی پوری نه کوم د اسلام په موجب ددی پیسو اخی
څنګه دي ؟ ما ورته ووې چه دا پیسی روا نه دي ځکه چه هغوی تا ته حاجتمند
رضا او رغبت خو به هله وی چه بهروي او تا ته یې حاجت نه وي بیایې تا له د
ښه به دا وی چه په دی خپله تنخوا ګوزاره ورکړې : ده راته ووی چه په تشه تن
می ګوزاره نه کیږي نو ما ورته بیا ووې چه د نوکرې په ځای څه دوز ګار شروع
شاید چه په هغی کښی دی ګوزاره روانه شی که زما اوس هم څوک دغه شان پوښت
وکړي ، زه به دغه جواب ورکوم پاتی شول نور الزامونه بالکل بی بنیاده دي بی ش
ما قیدیانو ته تبلیغ کړې دی لیکن ددې د پاره نه چه د جیل د قانون خلاف د
وکړې یا دې بغاوت وکړي بلکه ما هغوی تل مجبوره کړي دی چه جګړه او فساد
مه کوئ خپل مشقت کوئ او چاله رشوت مه ورکوئ هر کله چه دا خبرې س
جیل د افسرانو په جیبو کښی فرق او امدنی کښی کموالی راولی نو زه باغی یم او
سړی نه یم بیا می ورته ووېل دا جیلخانه په یوه پر خراب حالت کښی ده ته د هیڅ
نه یې او نه خبریدې شې که خبر هم شې ته یې اصلاح نه شی کولی ته په هغه بله ش
په ګشت راغلی وې په یو بارک کښی مشور شو ته ورغلې ، ته پوه شوې چه دا شور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چه دوی هرڅه ویلې وی ویلې به یې وی خوهغه شو د په شرابو او کبابو. په دې جېلخانه کښې د غریبانو بله ورځ ده د دولتمند ومزې دي. په دې جېل کښې د هیڅ عزت محفوظ نه دی کوم رشوت خواره او بد چلنده افسران چه زه ستاپه جېلخانه کښې وینم ما په بله جېلخانه کښې لیدلي نه دي. زما په دی خبرو سرې لږ غوندې یخ شو سترګې یې پرانستې شوې او ماته یې ووې ښه به داوی چه ماته لیکلې جواب راکړې او بیا باهر ته روان شو ما لیکلې بیان ورولېږ وبیا وروسته معلومه شوه چه ګنګارام دغیره یې خپلې بنګلې ته غوښتی وو او ښه یې د باوکړې وو، چه تاسو په ما باندې یو بې ګناه سړې په چکي کښې بند کړو لیکن باوجود د دې علم نه یې زه د چکې نه ونه ښکلم ځکه چه هغوی په ده د باوکړې ووچه که دی له چکې نه بهر کړو نو به پرې ستېنېژ کښې به فرق راشي د دې جېلخانې نظام به ګډوډ شي. د پرستېنېژ په نوم چه دې څه زره غوارې هغه به پرې نکیا نو کولې شي ځکه چه په داسې وخت کښې دوی په ظلم او انصاف کښې هیڅ تمیز نه کوی.

زما په چکې کښې د بندېدو نه چه څه وخت نورقید یان خبر شول نو یو اشتعال پکښې پېدا شو. په مایې سخته پېره لګولې وه خوما به قید یانو له جواب ورلېږلو چه پام وکړئ ځکه چه ماته خو معلومه وه چه هیڅ بې هېڅه به قید یانو خومره ظلمونه کېږي هسې نه چه څه بانه یې هم کوتوله ورشي نو بیا دې یې خدای مل شي. په دې جېلخانه کښې یو خو هندوستانې فوجي افسران او سپایان وو چه د خپلو ښو خیالاتو په وجه قید شوی وو یو په څه چل ماته ځان راورسولو او راته یې وویل چه مونږ فیصله کړې ده چه د دوی د نه خوړلو هرتال وکړو لیکن ستا نه اجازت غوارو ما د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکریه اداکړه او ددې کار نه مې منع کړل ځکه چه زه د جیلخانې دا یچې تېښتن برخلا
وم . په دې ورځو کښې د نوښار بابو سلطان محمد زما پوښتنې ته راغلی و او زما د ما
درخواست یې ورکړی و خو دغه درخواست منظور نه شو او ما سره یې ملاقات ته پر
نه ښودو . ملاقات زما حق و خو جیل والاوو د واقعاتو د پټ ساتلو په غرض د ملاقات ا
نه وه ورکړې . چه سیاسی قید یا نو سره دا سلوک کېږي د نورو دې خدای ما
شي . د سیاسی قید ی له حاله بهر څوک نه شي خبریدلی ، د اخلاقی قید ی
حاله به څه خبر شي ؟ هر څه چه ورسره کولی شي په اورکښې د سوز ولو
خوزه پخپله خبریم د انګریز انصاف او تهذیب که څوک کوری نو جیلخانو
دې لاړ شي خونکه زما صحت خراب و بله ورځ سپرنتنډنټ ما ته راغی ز
یې وکتلم او زما په ټکټ یې ولیکل چه یوه ګېنټه یې سهار او یوه ګېنټه یې ما
له چکې نه و باسئ او د تازه هوا اخیستلو د پاره یې بهر کړئ . د تسپې
ورځې تنهایي قید نه به مې کله کله زړه ډېر تنګ شو او چه خپله بې ګناهي به را ګن
شوه نو به ډېر په قار شوم لیکن بیا به مې زړه له تسلي ورکړه ، د قام او ملک د
خدمت د پاره خلکو قسم قسم تکلیفونه وچت کړي دي او د ا د خدای یوامت
او ته یننګ دی د خدای کار و نه تول د خیر دي ما له صبر کول په کار دی ځکه
چه خدای د صبرناکو ملګری دی اخر به یې نتیجه په خیر وي تول عمر به دا کړاو
نه وی اخر به راحت را شي .

## ډېره غازي خان جیل :

یوه ورځ سهار وختی سپرنتنډنټ په تادۍ زما چکې ته راننوت را ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي ووې چه ته ما ددې جیل نه بدل کړې بهر پولیس ستا د بیولو د پاره ولاړ دی
ځان سمبال کړه. زما څه سمبالی وه یو قرآن شریف وهغه می غاړی کښی واچولو او
روان شوم. چه د جیلخانی دروازی ته ورسیدم پولیس راته په لاسونو کښی اتکړی
واچولې په پښو کښی خومی بېړی او په غاړه کښی می د اوسپنی کړیکه اوله پخوانه موجودی
ی بهر موټر د سنګین چراو سپاهیانو په منځ کښی ولاړ و. پولیس کپتان زه یو
ښتون تانه دار ته په حواله کړم او پخپله رانه پاتی شو. تانه دار زه په تانګه کښی سور
ام په تانګه کښی د ننه چه څو مره پولیس ځائیدی شول، هغه یې د ننه کښېنول او چه
ننه نه ځائیدل هغه یې بهر ودرول او موټر روان شو، موټر چه څه وخت د دریاخان
ورسید و ریل رانه تللی و ستیشن ماسټر ووی چه نیمه ګینټه می ریل ستاسو
پاره لیټ کړو خو تاسو راونه رسیدئ مانور نه شو لیټ کولی ددی په وجه یه
نه دار صاحب ډیره ډیره او هیبت راغی خو څه یې کولی شول، زمونږ د ننه ! سیف
چه داده چه دا باسینه اوبه ډګرمه له کبله ډیرې ښوې وې پل یې شلولی
هغه په جوړیدو ډیر ساعت تیر شوی و. زمونږ په ستیشن کښی شپه شوه
نه چه په دې لاین په شواو روز کښی یو ګاډی ځی او راځی.

تانه دار صاحب فوراً په ویټنګ روم (انتظار خانه) کښی بند کړم او پولیس
ړه یې را باندی ولګوله حال دادی که چا د دریاخان ستیشن لیدلی وی
به ورته معلومه وی چه په یوه د ښتنه بیابان کښی پروت دی هلته خلک
ته وو چه ماته راغلی وای بله دا چه زه چا پیژندم؟ خو پولیس خپل احتیاط
و. د دې ځای نه چه په څه فاصله یو پیر صاحب اوسیدو زمانه خبر شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسره یې یو ځل په ډیره اسماعیل خان کښې ملاقات شوی ؤ. دی زما لید وا
واغی شاید چه د ده لیده کاته هم ماسره شوی نه وای خو ده یو ډېر ډهونبیا
کار کړی وچه ځان سره یې یوه ډکه توکری راوړې وه چه پکښې قسم قسم او رمز
میتهیانې وې چه زړه تهینګول ورته ګران و. چه سپاهیانو دا میتهیانې ولید لې نو
سره دهغه ملاقات وشو او سره سنه مشغول شو. د تللو په وخت کښې پیر صاح
ماته د ډوډی ست وکړو لیکن ما ورته ووې چه ستا شکریه دا وخت ستا س
د ډوډی د پاره موزون نه دی زه سرکاری میلمه یم پیر صاحب په خندا شو
خوشالی سره رخصت شو. ماښام شو لیکن زه پولیس والا وود کوتهی نه بهو نه کو
او نه یې زما د لاسونو اتکړی وشکلې. ماته د دې نه په جیلخانه کښې ارام
ولې چه هلته خو می لاسونه خلاص وو د لته می لاسونه تړلي وو. تانه دار صاحب
خبرو د پرتکره وخو د عمل نه د په خبرو خبرو کښې به یې ځان قومی سړی ښو
لیکن ویل به یې چه زه څه وکړم کپتان صاحب راسره خپل منشی رالیږلی د
چه زه ستا سره څه مهربانی ونه کړم خو منشی د تللو نه پس هم د ده په ر
کښې ما څه فرق ونه لیدو.

تانه دار صاحب ما په رموز رموز کښې ډېر پوه کړ چه اوس تیاره ش
هیڅوک بنشته لږ به بهر وکرځو تا زه هوا به واخلو تو له ورځ په ناسته تنګ ش
یم لیکن دهغه غور په دې خبرو نه کوځیده، زه مجبور شوم چه پوه یې کړم چه د
په وجه زما صحت خراب شوی دی د ډاکټر داهدایت دی چه زه یوه کښې
سهار او یوه کښېنه ماز یګر په تازه هوا کښې وګرځم او ته اوس ما د دی کو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بصورته و باسې که زما صحت ته څه نقصان ورسېږي و دهغه ذمه وار به ته یې . ددې خبرې پېره تاته دا و صاحب څه اثر ونشو او سپاهیا نو له یې حکم ورکړو چه بهرې و باسئ او په پلیټ فارم یې وکرځوئ .

د پرنګیانو او دهغوی د نوکرانو دا خصلت دی چه ترکومې دې ورته نېغه خبره نه ده کړې په غوږ یې نه لګي . دخوب وخت شوویده شوم په خوب کښې هم پولیس والا و زما د لاس نه اتکړۍ ونه ویستې خود و مره یې وکړل چه د دواړو لاسونو نه یې یو لاس ته کړی او ځنځیر یې کټ پورې وتړلو . خوب مې ارام ونه کړی شو چه رېل راغی څو کسه پولیسان مخکښې ورغلي وو او یوه کوټه یې زمونږ د پاره خالي کړې وه زمونږ یکښې سواره شو او رېل روان شو . زه نه پوهېدم چه کومې جېلخانې ته مې بیایي پولیس والا و دا خبره زما نه ډېره پټه ساتله نه پوهېږم چه ولې ؟ ما هم ډېر پېړ وا نه کوله ما وې ځکه چه نن نه وی نو سبا به معلومه شي چه ما چېرته بیایي . زمونږ کاډی چه به هر سټیشن ته ورسېده و پولیسانو به زما د کوټې ور او کړکۍ بندی کړې او دوه کسه توپک والا به بهر دوره خولې ته و دریدل څوک به یې نږدې نه راپرېښودل . دا دوی ددې د پیاره کول چه ما څوک ونه ویني او را نه خبر نه شي چه زه یې چېرته بوتلم خود دوی دا طریقه غلط وه ځکه خلکو به د پولیسو سنګینونه او توپک ولیدل که فکر به یې نه وهم به یې فکر شو او سودا به یې شوه راتلل به چه وګوري چه څه چل دی او په دغه شان به په هر سټیشن کښې د پېر خلک زما د کوټې نه کېرچاپېر راجمع کېدل ما چه کوم ه پوا پیکنله هیچېری نه شوه کولی حکومت پخپله نا پوهي را ته پخپله وکړه . زمونږ کاډی اخر دغازی ګاټ پسټیشن و دریده و د رېل پټلۍ د دی نه مخکښې نه ده تللې مونږ د رېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوز شو . په سټیشن راته یو جمعدار او دوه پولیس سپاهیان ولاړ وو چه مونږ یې ولیدلو راغلل او د پولیس والاؤ نه یې زما پوښتنه وکړه معلومه داشوه چه هغوی زما د اخیستو (تسلیمۍ) د پاره راغلي وو . سپاهیانو ته یې وویل چه اتکړۍ ورته لیرې کړئ هغوی زما د لاسونو نه اتکړۍ وښکلې او دوی ته یې په حواله کړم. زمونږ مسلمان پښتون تانه دار صاحب ته چه نادرخان یې نوم و او په د بیکایت مشهور و زمونږ نه په څه وجه وروسته پاتې شوی و چه راغی او ویې لیدل چه زما په لاسونو کښې اتکړۍ نشته نو وار خطایي پرې راغله او ویې وې چه دده نه اتکړۍ چې ویستلي دي هغه جمعدار چه یو هندو و ورته یې وویل چه زه د ډیره غازي خان د سرکار له طرفه دده د پاره مقرر شوی یم دی اوس زما ذمه واري کښې دی دا زما باور دی چه داسې خلک تښتي نه دوی خو پخپله خوښه او رضا جیل ته راغلي دي څه د اکو خونه دی د دې دومره پولیسو ، تومکو او سنګینو څه ضرورت وماورته وویل چه داسې حد کي حکومت د خپل رعب او داب قایمولو د پاره راسره کړي دي. تانه دار صاحب لږ غوندې کچه شو لیکن د سرکار عجیبه نوکران دي دهغوی غوږ په دې خبرو نه کوینږی مونږ لا دا خبرې کولې چه په دې کښې یو هندو وراغی په لاس کښې د پیو ډک ګیلاس وراسیله و سره یې ماته ونیوه . زما د څکلو اراده نه وه خو د هغه سړي مینی او اخلاص زه دهغو سیو په څکلو مجبور کړم : ربښتیا خبره داده چه د هندو او مسلمان سوال خو پر ټکی او غرضیانو خلکو راپیدا کړي دي که هندو سره په ښتیا د هندو او مسلمان سره د مسلمان غم وی نو بیا زمونږ د ملک او قام دا حالت نه وای . زما چه څومره یاد دی او تجربه می ده نو ما سره یو هندو ملازم دی یو مسلما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملازم نه تل ښه سلوک کړی دی. دغه وخت زه پوه شوم چه زه یې د ډیره غازي خان جیل ته رابدل کړی یم.. مونږ د سټیشن نه را روان شو او د ډیره غازي خان د تللونیت موټر وکړو، ډیره غازي خان د اباسیند نه دولس میله لیرې دی، د لته یکې چلیږي، هغه قسم یکې چه پخوا به زمونږ ملک کښې چلیدې، مونږ یوه یکه کرا یه کړه او په ډېر کو ښمښ ایله په ددې ګنټو کښې جیلخانې ته ورسیدو. چه څه وخت مونږ ته د جیلخانې دروازه ښکاره شوه نو جمعدار صاحب ماته داووې که چیرې ته خفه کیږې نه نو اوس به مونږ تاته انګړی واچوو. ولې چه جیلخانه راغله ماوې ستا د امهربانی او شریفانه سلوک به زما هیر نه شي او لاسونه مې ورته ونیول انګړې یې راته واچولې. زمونږ یکه (ګاډیه) د دروازې سره ودریده مونږ کوز شو د کوزیدو سره د جیلخانې د دروازې کړکه لیرې شوه مونږ ورننوتو او د ورننوتو سره د دروازه راپسې بنده شوه.

د دروازه د خلکونه دکه وه هغوی ټول زما په ننداره شول شایدچه زه ورته عجیبه غوندې ښکاریدم. هغوی ګرم نه وو زما حالت ډېر عجیبه و ماچه پخپله خپلې د نکې وني لنډ کمیس اولنډ پرتوګ د غوږ ونوټوپۍ د غاړې غاړکه په پښو کښې بیړۍ او په لاسونو کښې انګړو ته کتل خان به راته تماشا ښکاریده، د جیلخانې خوراک، پوښاک قانون او قاعدې به داسې طریقه جوړ شوې دي چه په یو قیدی کښې خودداری پاتې نه شي.

په دې ورځو کښې د سیاسي قید یانو ملاقاتونه وو او خپل خپلوان یې د لیدلو دپاره راغلي وو او په دې وجه د دروازه دکه وه پولیس زه د دفتر ته بوتللم او جیل والاو ته یې حواله کړم او هغوی رانه رخصت شو څه وخت چه جیل والاو زما تلکت او وارنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتلو او ورته معلومه شوه چه زه سیاسي قیدي یم نو هلته دی لی راسره پیلد اشوه او
داد کیږنه یی راکړه چه دلته ډېر سیاسي قیدیان دي ورسره خوشحاله شه یی امید
دی چه هیڅ تکلیف به درته نه وی . زما نوم یی دجیل په کتاب کښې ولیکلو نو دارو غه
صاحب حکم وکړو چه دی فلانی بارک ته بوځئ او دا اتکړی او بیړی وغیره تري لیرې
کړئ . څه وخت یی چه زه جیلخانی ته د ننه کړم نو زما د راتللو نه سیاسي قیدیان خبر
شوي وو اکثر زما لیدلو له راغلل او ډېره مینه او محبت یی راسره ښکاره کړو . زما د
بیړو په ماتولو کښې هم ډېر کوشش وکړو . د بیړو په لیری کېدو ما ته ځان بلښان معلوم
شو . اول بندی وم او س ازاد شوم .

د بدلیدو په وخت کښې د خپلی صوبې نه د وتو په وجه خپه وم ځکه چه زما دې خپلی
صوبې او پښتنو سره د ومره مینه ده چه زه یې بیان نه شم کولی خپل ملک کښې . خپل قام
سره ورېی . تربی او په تکلیف کښې خوښ یم نه په بل ملک کښې په عیش او عشرت
کښې لیکن زما واک او اختیار خپل نه و زه په هغه چا او بدلی وم چه زما ارام یې غرض
و بلکه زما تکلیف یی مطلب وخو د بیړو په تللو بیا هم زما څه نه څه سود و شو ځکه چه د بیړو
سره می کرځیدل په تکلیف و لمبل می په تکلیف و ، په دده او بدل می په تکلیف
په کومی کښې به را باندی کرمې او په یخنی کښې به را باندې یخې لګیدې .

دجیل په ډیوډی کښې په ملاقاتیانو کښې لاله دوی چند او دخاتون امة
السلام وردوچه بیرستو وهم موجود و دوی بیا ما ته خبره کوله چه څه وخت مونږ
بیړی په پښو کښې او اتکړۍ په دواړو لاسو کښې د پولیس سره ولیدې نو مونږ دیر
ګښید و چه دا به زور ور ډاکوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته په اخلاقي قید یانو کښې هم نه بېرې، وی نه غاړکی او نه یې کښې دلرګی تختې
وی . سیاسي قیدیان به پرېږدو . د اخلاقي قیدیانو سره هغسې سلوک نه کېده چه کوم
مونږ سره د سرحد په جیلخانو کښې شوی و ، ددې نه پس مې ولمبل او د ډوډۍ تیاره
وه . ومې خوړه او د خدای شکر مې اداکړ چه له هغې جیلخانې نه یې په خیر را وویستلم . که
چېرې په هغه جیلخانه کښې وی نو ژوندی ترې را وتی نه شوم . ددې ځای ډوډۍ کښې
او د سرحد د جیلونو په ډوډۍ کښې فرق و . د سرحد د جیلونو خوراک د خوراک په تعریف
کښې نه راځي او ددې ځای ډوډۍ خو کم نه کم د خوراک په تعریف کښې راځي . یو تړ پوړی
او یوه کمبله یې راکړله چیل بارک ته لاهم بستره مې وغوړوله او ویده شوم .

## دجیل ژوند :

دا یوه وړوکې د مزي او ډېره صفا جیلخانه وه په دې کښې ټول ټال درې
بارکه وو او په مینځ کښې یو وړوکی هسپتال و . د ټولو نه لوی بارک کښې هغه سیاسي قیدیان
وو چه سپشل کلاس ورکړ شوی و ، ور پسې هسپتال و او بیا زمونږ بارک و . په دې کښې
مونږ هغه سیاسي قیدیان او سېل وچه کوم ( C ) کلاس کښې وو او هغه دریم بارک کښې
اخلاقي قیدیان وچه بهر په باغ کښې به یې هم کار کولو او دننه به یې هم صفائي کوله ، ولې چه
سیاسي قیدیانو ته بهر د کار کولو اجازت نه و . په دې جیلخانه کښې د سیاسي قیدیانو
د پاره یو قسم مشقت ، څرخه کول او منج غښتل وو . څرخه د سپشل کلاس د قیدیانو د پاره
وه او منج او مېچنې د ( C ) کلاس قیدیانو د پاره وو . سباله چه سپرنټنډنټ صاحب
راغی او زه یې ورته پېش کړم نو چونکه زه په ( C ) کلاس کښې وم نو زما د پاره هم د منجو غښتلو
مشقت ولیکه . ما چېرې دا کار کړی نه وو او نه د منجو غښتلو چل را تلو زما هغه نو د ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکره وو هغوی به ما سره ډېر ناکام او کوشش کولو او د غبنتلو چل به یې راته ښودلو
ما به هم ورته ډېر فکر کولو او د زده کولو کوشش به می کاوه خو زده کولی می نه شو. ما د
خبره ډېره محسوسوله لیکن مجبور وم بله ورځ می سپږنتهل ته ووې چه د اکار خو
زه کولی نه شم دا به ښه وي چه تاسو ماله د میچین کار راکړئ ځکه چه دا ما ته بل ښکاري
چه زه خپل مشقت پوره کولی نه شم. بله دا چه سپږنتهل نت او دار وغه د واړه ښه سړي
وو، ما سره به دوی ډېره مهرباني کوله او زما په مشقت نه پوره کولو یې خه نوتس نه
اخیستلو. لیکن ما ته به دا خبره بده ښکارېده او ځان به راته ښه نه ښکارېده و بیا یې
له د خرخي مشقت راکړو. جیل والا مونږ د (C) کلاس قید یانو له بېل د پخلي د پاره لنګر
(باورچي خانه) راکړې و او د هغه تول واک اختیار زمونږ په لاس کښې و او د پخلي د پاره
به یې هر څیز چه راکولو پوره صاف او ښه او زمونږ د خوښې به یې راکولو. بل د پخلي وغیره
انتظام به زمونږه سیاسي ورونو پخپله کولو. په دې وجه زمونږ خوراک ښه و او مونږ
ته ارام و او کله ناکله به د سپیشل کلاس والو هم د خپل خوراک نه څه حصه موتږه له رالېږله
لیکن د دی سره د (C) کلاس او سپیشل کلاس قید یانو تعلقات پخپلو کښې ښه نه وو او
د دی قوله وجه د غه امتیاز او فرق وُ چه کوم پرنګیانو قایم کړی وُ. زه یو پردیسی سړی
وم د هغوی د اندرونی حالاتو نه خبر نه وم لیکن زه د هغوی په بې اتفاقی ډېر
خپه وم ما به همیشه دا کوښښ کاوه چه د دوی د زړونو نه دا خفګان وباسم.
لیکن زما خبرو به چا ډېر اثر نه کاوه بلکه دا بې اتفاقي او نفرت ورځ په ورځ
زیاتېدو. اخر دی حد ته ورسیده چه (C) کلاس والو د سپیشل کلاس والو
د تولو څیزونو د اخیستو نه انکار وکړو او اصولاً خو زه د دی خبری نه خلاف وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



و زمام دارأ یه وه چه په سیاسي قید یانو کښې دې فرق نه وي او د ټولو سره
دي یو شان سلوک کیږي. ما چه کوم وخت سپرنټنډنټ صاحب ته ووې چه زه د
منجو کار نه شم کولی، مهرباني وکړه زما دا مشقت بدل کړه او داسي مشقت راکړه
چه زه خپل مشقت پوره کولی شم نو ده نه پس یې د څرخي هغه مشقت راکړه چه
سپیشل کلاس والو ته کولو او جامي یې هم راله زما په کچ جوړې کړې او سپیشل
کلاس ته يې بدل کړم. پرنګیانو چه کوم امتیاز قایم کړي دي دا په نیک نیتي نه دي
ایي په دې غرض قایم کړي دي چه په مونږ کښې هم داسي بې اتفاقي او کوږې وي
نو زه ددې په حق کښې هم نه یم چه دې خبرو له دې مونږ دومره اهمیت ورکړو چه
مونږه تعلقاتو او تحریک ته پوره نقصان ورسي، ځکه مونږ چه څه کوو نو د ځان د پاره
بلکه د خپل قام او خپل ملک د پاره یې کوو د بل د پاره خو یې نه کوو او بله دا چه تاسو ته
معلومه وي چه دانن مونږ حکومت سره په جنګ یو دا خو ددې د پاره دي چه مونږه
امتیاز لیرې کول غواړو او ددې په ځای مساوات قایمول غواړو او تر هغه وخته
پوري دا امتیاز لیرې کیدی نه شي چه تر کومه پوري مونږه کامیابه شوي نه یو
و واک اختیار زمونږ په لاس کښې راغلی نه وي. [ مونږه له چه کله د معمولي اختیار اتعق
وزارت په کوټو راغلي نو قانون موجود که چه ټولو سیاسي قیدیانو سره دې یو شان او به
سلوک کیږي. امتیاز مو ختم کړي و خو د هغې نه پس چه د مسلم لیګ حکومت جوړ شو
و مونږ جیلخانه کښې راغلي شو نو هغه مساوات ختم شو هغه قانون یې مات کړي او
ونږ سره یې هغه بد سلوکي وکړه چه پرنګي راسره کړې نه وه حالانکه مسلم لیګیان
په کوم وخت زمونږ په حکومت کښې جیل له راغلي وو نو مونږ ورسره د هغه قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق سلوک کړي و ] .

مونږ په دې د ( ج ) کلاس بارک کښې تقریباً شل کسان وو، په دې کښې یو
دوه هندوان او نور ټول سکهان وو ما سره د ټولو تعلقات ښه وو او اکثرو باندې هم
مهربان وو. زه د دوی سره ډېر خوشحال وم، زه د دوی منځګړی وم، د دوی په
کور کښې چه به د څه قسم جګړه پېښه شوه نو په ما به یې فیصله کوله لیکن ما ته یو تکلیف
و او هغه د خوب وچه ما د شپې پوره خوب کولی نه شو او د دې وجه دا وه چه زمونږ
اکثر سکهان ورونه به غوټه نیمه شپه پاڅېدل او په بارک کښې به یې د ننه لمبل او
بیا به یې خپل پوجا پاټ (عبادت او وظیفه) کوله یوازې لمبل نه و بلکه هغې سره به یې
په زوره زوره د خپلې عقیدې مطابق ذکر هم کولو چه مونږ ټول به یې د خوب نه راوښول
کړو. افسوس چه مونږ خلک د بل د ارام او تکلیف خیال نه ساتو کټی همدغه
ذکر مونږ ورو او پټ هم کولی شو لیکن د دې خبرې کمی هم زمونږ په عامو مسلمانا
او هندوانو کښې موجود دی. مونږ همیشه په خپل خیال پسې ځو او د بل فکر نه کوو دا یو
لوی کمی دی. مونږ له په کار دی چه همیشه د خدای د مخلوق د تکلیف او ارا
فکر او خیال وساتو او څه چه کوو نو چه اول یې په ځان وګورو که چیرې ځان له یې خو
ښبوو بیا په کار دی چه بل له یې هم خوښ کړو او که چیرې ځان له یې نه خوښېدو نو چه
بل ورور له یې هم خوښ نه کړو.

جیل والا په دې خبره راضي وو چه ما هغه بارک ته بدل کړي لیکن د دې و
یې بدلولی نه شوم چه هسې نه دا نور سیاسي قیدیان څه اعتراض پورته نه کړي، دا
دوني چند امبالوی او د بعضې نورو ملګرو دا رایه وه چه ما هغه بارک ته بدل کړي. ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوی سره یو ځای بند شم. د هغوی د کوششونو او وینا په وجه سپینتهل نن زه هغه
پارک ته تبدیل کړم او زما په ورتلو سره ټولو ورونو خوشحالي ظاهره کړه. په دې پارک
کښې مونږ شپږ شپیته کسان وو چه په دې کښې شپږ مسلمانان او باقي نیم په
نیمه هندوان او سیکهان وو. دا پارک د بېرلوی ولو په درې خانو باندې تقسیم و په یوه
خانه کښې تقریباً هندوان او مسلمانان وو او په دوهمه کښې سکهان وو او د دریمې حصه
کښې زمونږ باورچي خانه وه او د سامان ایښودلو ځای و. لنګر زمونږ د ټولو یو و
هندوانو، سکهانو او مسلمانانو به په یو ځای او په یو دسترخوان ډوډۍ خوړه ولې
چه دا خلک پوه او اکثر تعلیمیافته وو. دلته ما خوب په ښه شان سره کولی شو او ما ته
هیڅ قسم شکایت نه و ځکه چه دې خلکو به د ملګرو د آرام خیال ساتلو صرف دا خبره
وه چه هغه د خلاصتو کلبا ی به مالنه ې وې نو د ده کړې یې ځای کړې وې چه ده ته
تکلیف نه وي او که چیرې یو کس نیم به د شپې د لمبلو قصه هم کوله نو هغه دومره لوی
پارک وچه چا ته به تکلیف نه رسېده او اکثرو کسانو به سهر لمبل او ښه کار خو دا وشو
چه دلته زه د مونجو غښتلو نه خلاص شوم. دلته زما کار ورېښل و او هغه ما په ښه شان
سره کولی شو. اول خو پرې ښه نه پوهېدم لیکن بیا خو پرې داسې پوه شوم چه خپل مشقت
به می په د دیو ګنټو کښې ختم کړو. جېل والاوو را ته وویل چه مونږ غواړو چه تا نمبردار کړو نو
د رېښلو نه به خلاص شې او معافي به هم درته ډېره میلاوېږي او باهر به هم ګرځې ما
ورته وې چه زه دا کار نه کوم او بیا ټوله ورځ به مطالعې ته وزګار روم. د کتابونو نه علاوه
دلته به درې روزانه اخبارونه د اردو او انګریزي هم راتلل او د هغه په لوستو سره به مونږ
د ملک د حال نه خبر یو ولیکن د دې ټولو خبرونو نه زیاتي خوشحالي، آرام او راحت ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وجه يوه ډېره ښه سوسايټي ماموندلې وه چه په دې کښې د هر خيال او عقيدې خلک موجود وو او دهغوی د تبادله خيال په وجه ماته ډېره فايده وه يوخو مې د هر قسم معلومات زيا تېدل او بل مې وخت په ښه شان سره تېريده دا موقع او وخت ما ځان د پاره پولوی غنيمت ګڼه او ما نه چه څومره کېدی شوه ضايع کومې نه بلکه د دې ملګرو د علم او تجربونه مې فايده اخيسته بله دا چه الله تعالی ماله دا موقع راکړه چه د پښتنو خلاف چه څومره غلطې خبرې پرنګيانو خورې کړې وې او څومره غلطه د دې وغو پراپيګنډه يې کړې وه دهغې نه خبرشوم او څومره چه زمانه کېدی شوه ، د خلکو د زړونو نه مې د هغو غلطو خبرو د ليرې کولو کوښښ وکړو .

## د پښتنو په هکله غلط پراپيګنډه :

خود غرضو خلکو زمونږ په خلاف د ومره پراپيګنډه کړې وه او داسې خبرې يې په خلکو کښې خورې کړې وې چه هغه د يو سړي په خوب او خيال کښې هم راتلې نه شې . د هندوستان خلکو ته د پښتنو متعلق هيڅ قسم معلومات نه وو دا عاجزان د پښتنو متعلق په پوليو په تياره کښې پراته وو او زه شايد چه الله تعالی د پېره غازی خان جېل نه د دې خبرې د پاره راليږلی وم ځکه په دې جېلخانه کښې اکثر د هندوانو او سکهانو لوی ليډران او ذمه دار خلک قيد وو چه زه د وی د حقيقت نه خبر کړم چه د هغوی د زړونو نه ويره او وهم ليرې کړم او د پښتنو په حقيقت يې خبردار کړم د نفرت او نفاق په ځای محبت او اتفاق پيدا کړم ، د دې خلکو په ذهن کښې پښتون په بل رنګ کښې معرفې شوی و څه عجيبه مخلوق و . لا له دوئی چند چه څه وخت ما سره ښه اشنا شو نو وېل چه څه وخت ته ما په دروازه کښې په اول ځل وليدې نو ستا د جوسې نه راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومه شوه چه پښتون دی نو زما دا یقین و چه قتل یا ډاکه کښې راغلی دی او شاید چه دداسې نورو خلکو به هم د پیژند ګلونه ړومبی زما متعلق خو دا خیال و سره ددی چه لاله دونی چند د پنجاب د ډېرلوی لیډر اولوی وکیل او ډېر عالم او باخبره سړی و د دوی په ذهن کښې دانه راتله چه چېرته پښتانه او چېرته ښه کارونه او بیا د خدای د پاره دقام او ملک خدمت د دوی په خیال کښې خو دا خبره ناسته وه چه د پښتون بی د قتل او لوټ او ډاکې نه بل کار نشته زما د یو ځای اوسېدو په وجه زما د خیال او عمل نه واقف شوا و ټولو به ما سره ډېره مینه او محبت کولو خو سره چه زمونږ تعلقات زیاتېدل هغو مره د ذرونو پېټې خبرې راښکاره کېدې په ابتدا کښې به ما سره د دوی خبرې همیشه د پښتنو متعلق وې د ماز یګر په وخت کښې به مونږ د جېل بارک نه راووتو او ګرځېدو به چونکه زمونږ د ګرځېدو د پاره بل ځای اجازت نه و نو مونږ به د هغه جېل بارک نه چاپېره ګرځېدو. د ګرځېدو په وخت کښې به اکثر داسې وشو، چه مونږ به سره ملګرو کښې به یو تن د خپلې هوا خارجه کړه، زمونږ په معاشره کښې چونکه دا شی ډېر معیوب ګڼلی شو، نو ماله به وزېږوری ډېره خندا راتلله، په څه با نه به می ځان یو ډډې ته کړو او ښه د زړه د اخلاصه به می وخندل او دوستو به بیا خپلو ملګرو له ګرځېدو له راغلم. زما ملګری چونکه نه وو خبر چه زه دوی پوری خاندم نو هغوی کښې به یو تن نیم بیا هوا خارجه کړه او په ما به بیا د خندا چپه راغله، اخر دا واقعات دومره ځله اوشو چه زه ورسره مجبوراً بلد شوم، او بیا به خندا نه راتلله، ورستو چې ما په دی فکر وکړو نو دا مانته دومره معیوبه خبره نه ښکاریده بلکه که په غور ورته سړی وګوری نو ددی هوا بندول په صحت مضر اثر پری باسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسره چه به چیرته څوک ملګري شو نو اکثر به يي مانه د سرحد او د پښتنو تپوس
کول او داسي پوښتني به يي کولي چه په اوریدلو به يي زه حیران کرم . زمونږ بحث
مباحثه به ډېر عجیبه وه مابه همیشه داکوښښ کولو چه دوی په حقیقت پوه کړم او
دوی د زړونو څه داوهم او وېره لیری کړم لیکن د عمرونو وهم وېره لیری کول اسا
کار نه و ، یوه ورځ را باندي يو ليکل په خبرو خبرو کښي دا سوال وکړو چه مونږ ه او د و چه پښت
د بنیادم ويني څکلي ماورته ودې چه هو ! هغه تپوس وکړو چه داولې څکلي ؟ ما ځواب ورکړ
چه د بنیادم وينه ډېره مزیداره وي او د هغي څکل هغوی له خوند ورکوي ، سړی حیران شو
او پوره يقين يي وشو چه دا رښتیا دی . ماتري پوښتنه وکړه چه تا تر اوسه پوري د بنیاد
وينه نه ده څکلي ، هغه ووې چه : « بابري بابري » لږ ساعت پس تری ما تپوس وکړو چ
تا سرحد یا پښتانه لیدلي دي ؟ د هغوی د حالت نه څه خبر داري ؟ د هغو خلکو سر
دي پېژندګلوی یا معامله شوې ده ؟ د هغوی د تهذیب او تمدن نه واقف يي ؟ زه
دد ې قسم وینا په اوریدو سړی لږ غلي شو بیا یي دروغوندی ، ځواب راکړو چه ما ت
د هغه ملک هیڅ قسم حالات معلوم نه دي نو بیا ما ورته ووې چه شاید تا ته د غیبو علم
حاصل دی او یا د پښتنو متعلق د د ته څه الهام شوی دی ، هغه ووې چه نه ماخود خلک
د خولي دا خبرې اورېدلي دي او اکثر خلک همدا اسي خبري کوي ما ورته ووې چه د
خبرې ټولي غلطي دي پښتانه هم د غسي خلک دي لکه څنګه چه تاسو يئ . څنګه چه تاس
کښي ښه او بد خلک شته د غه شان په پښتنو کښي هم شته . دا ټولي خبرې د پښتنو د ښم
جوړې کړې او د هغوی پراپیګنډه ده د دې خبرو مطلب يي ستاسو تېر ایستل او زمونږ
بد نامول دی ځکه چه تاسو ونه وېروي او مونږ بد نام نه کړی نو بیا به په دې ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پا دشاهي څنګه کوي. په اولو درځو کښې خو به هره ورځ زمونږ په بارک کښې د پښتنو
متعلق نوي نوي قصې کېدلې دا خبرې زمونږ په حق کښې ښې وې ځکه ماله به پکښې
د خبرو موقع په لاس راغله. یوه ورځې زمونږه د بارک هندوان، سکهان او بعضې
د جېلخانې افسران راجمع شوي وو زه هم راغلم او د دوی په جمع کښې شریک شوم زما
په راتلو سره د مجلس رنګ بدل شو او د پښتنو به باره کښې بحث شروع شو ما ورته
ووې چه د هندوستان خلکو ته د پښتنو په باره کښې د هیڅ قسم علم نشته او د دوی
په غوږونو کښې ډېرې غلطې خبرې زمونږ متعلق کښېنولې شوي دي. حقیقت دا
دی چه پښتانه دغسې نه دي لکه څنګه چه ستاسو خیال دی. په دې کښې سردار کرم
سنګه چه د سکهانو یو لوی لیډر و ووېل په دې کښې خو شک نشته چه پښتانه ډېر
جګړه مار دي ما ورته ووې چه سردار صاحب بې شکه پښتانه به جګړه مار وي لیکن
سکه بعضې به هم د هغوی نه کم نه وي. زمونږ په خلکو کښې دا یو لوی کمی او نقص دی
چه مونږ همیشه د بل د کمزوریو او عیبونو د راښکلو او لټولو په فکر او غم کښې یو او
خپلو کمزوریو او عیبونو ته فکر نه کوو او په دې وجه خو مونږ نن په دنیا کښې برباد او
بېستمندیو په ځای د دې چه مونږ بل ته ګوته ونیسو ځان ته ګوته نیول په کار دی
او د نورو د اصلاح نه ړومبې د ځان اصلاح فرض ده اول ځان دی بیا جهان
دی. زما د تولونه زیات تعلقات لاله دوني چند سره و او د بد قسمتۍ نه د تولونه
زیات شک د پښتنو متعلق د هغه په زړه کښې ناست و او همیشه به یې ما سره د
پښتنو په معاملو بحث کولو او د پښتنو متعلق د هغه عجیبه عجیبه خیالات وو. ما به
د هغه د بدلولو او اصلاح کولو او د هغه د زړه نه د دې شکونو شبهاتو د لیرې کولو کوښښونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول لیکن هغه داسی د هغه په زړه کښې مضبوط شوي وو چه د هغه الیسټل یا د
اصلاح کول څه اسان کار نه و . زه چه یې به هر څه ستړی کړم نو اخر یوه ورځ می
ورته ووي چه لالاجي تاسو په هندوستان کښې څو مره یې خواب یې راکړو چه د
ویشت کروړه او موږ پښتانه سرحد کښې دوه ویشت لکه یو باوجود د دي د
زیاتوالي که چېرې تاسو بیا هم د پښتنو نه ویرېږئ . نو خدای دې په تاسو رحم وک
او داوېره دې ستاسو د زړه نه وباسي لیکن د اخبره یاده ولره چه داسې یو قو
د دې قابل نه دی چه ژوندی پاتی شي . دا دنیا د بزدلانو د پاره نه ده خو دا خب
زما یاده ولره چه تر څو پورې تاسو پښتانه خپل ورونه کړي نه وي او په دوی
اعتماد کړې نه وي او ځان سره مو په لاین کښې او دره په او دره و دروې نه وي
د ملک ازادېږي شي او نه ابادېږي شي په دنیا کښې د هیڅ یو بزدل قوم هست
پاتې کېدی نه شي . ددی وینا په اورېدو د لالاجي څه ناڅه تسلي وشوه او زه یې د
پختونو نه خلاص شوم .

## زما د غاښونو مرض :

دلته د راتلو سره ما څه قدری ورزش کول شروع کړل ولی چه زه د بیس
ځنځیرونو نه ازاد شوم او په سرحد جیل کښې ما ته د ورزش کولو موقع هم نه ده ځک
چه هلته به زما په پښو کښې بېړۍ وې ورزش می نه شو کولی . دلته خو ما ته د ورزش
کولو موقع حاصله وه زما دا خیال و چه په ورزش کولو به زما صحت ته فایده ور
زه به تکړه شم او وزن به می هم زیات شي ځکه چه د سرحد په جیلخانو کښې خو ز
صحت او وزن ډېر کمزوری شوی و هلته خو به همیشه چکۍ کښې بند وم خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځناورنه هم بل تر واو زما د مزاج مطابق سیاسي سوسایټي هم نه وه که چیرته
به سیاسي قیدیان وو هم زه به یې تری بېل په چکې کښې بند ساتلم او مشقت به مې هم
هغه کولو چه په ډاکوانو او قاتلانو به کېدلو بلکه قاتلان او ډاکوان به د هغه مشقت نه د
رشوت په وجه بچ کېدی شول ما خو رشوت هم نه ورکولو او مشقت که به هر څو مره
سخت وهغه به مې پوره کولو او د خپلو ورونو پښتنو د جنګونو، پروجنبو او ترګنوغم به
هم راسره و او چه په هغوی به د جیل افسرانو څه لوبی کولې هغه ما په خپلو سترګو لیدلې
دامې هم برداشت کولی نه شو دا ځای خو د خدای فضل ؤ هغسی نه و دلته سیاسي
عالمانه ماحول کښې شپې ورځې تېرېدلې متول یکښې قومي مشران راغونډ شوي وو خوراک
هم ښه ؤ. دا ماحول ما د خدای له طرفه یولوی انعام ګڼلو او د دی انعام نه مې پوره پوره
فایده اخیستل غوښتل، رښتیا خو داده چه د غلته زما په نظر کښې ډېر وسعت پیدا
شو او ډېره تجربه مې وشوه او ډېره مطالعه مې وکړه. با وجود د دی هر څه زما صحت
به ورځ په ورځ خرابېدو د ورزش کولو نه پس زما صحت ته څه فایده ونه رسېده
ونه مې تول زیات شو بلکه څنګه چه د کمېدو طرف ته روان ؤ هم هغه شان کمېده
حالانکه دلته ماته د هر قسم ارام حاصل و او د هیڅ قسم تکلیف راته نه و زمونږ
جیل سپرنټنډنټ میاں صاحب یو ډېر نیک او شریف سړی و د هغه دا خیال ؤ چه
شاید د جیل دا خوراک د ده د پاره کافي نه دی او دی په دې مړېدلی نه شي په دې
وجه د دی کمزوری کېږي او وزن یې کمېږي نو هغه زما د پاره نیم سیر پېه د خوراک
زیاتی مقرر کړې لیکن د دې نه هم ماته څه فایده ونه رسېده او همیشه به زما وزن
تول په وخت کښې کمېدو. یوه وجه یې زما په خیال کښې دا هم وه چه زما د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې سره ډېر محبت وو او هغه به ماهره ښځه کښې په خوب کښې لیده او بل د
سرحد د جېلخانو ګنده خوراک په وجه زما د غاښونو په اورو کښې پیپ (زوه)
شوی وچه د ډاکټر وکتلي نو ما ته یې ووې چه ستا صحت د دې نه خراب دی او اوری
مې د غاښونو نه جدا شوې وې. په غاښونو مې پایوریا مرض حمله کړې وه او د خوراک په
وخت کښې به مې د ورېو نه وینه هم تله څه وینه زما خوراک سره تېر بله او معدې له به
تلله. غالباً چه هم په دې وجه زما صحت ورځ په ورځ خرابېدو د پرېډ په ورځ ما او
زما ملګرو دا خبره سپرنټنډنټ صاحب ته وکړه او هغه مو خبردار کړو هغه فوراً زما
اوری وکتلی او مونږ سره یې اتفاق وکړو دې منله چه ستا د صحت د خراب والي وجه
همدا ده لیکن د دې د کتو او مناسب علاج د پاره د غاښونو د یو لایق ډاکټر ضرورت
دی او هغه په دې ښار کښې نشته چه دا وګوری او مناسب علاج یې وکړي نو سپر
نټنډنټ صاحب د جېلخانو جرنیل ته ولیکل چه دی دې لاهور ته بدل شي ځکه چه
ده اوری او غاښونه خراب دي صحت ته یې نقصان رسېدلی دی چونکه دلته د د
کتو او علاج د پاره پېنتل سرجن نشته په دې وجه دې دی د لاهور جېلخانې
بدل کړې شي چه هلته یې یو لایق ډاکټر وګوري او علاج یې وکړي. دا لیکل زما د پا
په جېلخانه کښې څه وړه خبره نه وه دا د سپرنټنډنټ صاحب شرافت او مهربا
وه ځکه چه قید یانو ته څوک د پیرنګیانو په حکومت کښې د سپي نظر هم نه کوي. د علا
د پاره بل ځای ته لېږل خو پرېږده څوک د وېرې نه د ناجوړتیا نوم قلمه ای په خو
اخیستی نه شي او باوجود د ناجوړتیا د او قلدری نه ور کوی ځکه چه جېل والا قی
اډو د خدای مخلوق نه ګڼی او کوم سلوک چه هغه سره کوی شاید چه په دنیا کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ځنا وروسره هم نه کوی. ما ډېر قیدیان لیدلی دی چه ځپل قید ونه په ناجوړ تیا کښی په ولاړه ولاړه تېر کړي او اخر یوه ورځ سر ونکوی او مړ شی. جیلخانه کښی چه څنګه دیو قیدی مریض د پاره لیکل او سفارش کول یولوی بخت غواړی دغسی یولوی بخت دهغه د منظور ېدو د پاره هم په کار وي ځکه چه ډېر ځله داسی وشی چه حکم راځی نو د مریض فیصله شوی وی یا د علاج کولو نه وتلی وي د دی قسمه ډېر واقعات ما پخپلو سترګو لیدلی دي. پرنګی چه د خدای د مخلوق د ذلت او تکلیف د پاره کوم فریبی حکومت جوړ کړی دی هغه ته دفتری یا کاغذی حکومت ویلی شی یعنی صرف کاغذ ونه د دستخطونو د پاره دیو دفتره بل ته او د بل نه بل ته لېږل او بیاپېری دومره وخت تېروی چه اکثر هغه اصلی مطلب فوت شی. دا تکلیف یوازی په جیلخانو کښی نه دی د پرنګیانو د هرې محکمی دا حال دی.

یو کال د دواوې دا هیزو کلی ته د سیند مخه شوه د کلی خلکو غریبانانو ډېر درخواستونه وکړل چه دهغی په سبب د پټی کمشنر او نور د ېر افسران د موقع کتو له راغلل او دا هر څه یې پخپلو سترګو ولیدل لیکن چه دفتری کاروایی پوره کېدله او حکم راتللو او بو کلی وړی وه او د کلی د شلو کالو د کښو ډېره اعلی ځمکه یې هم سیند په مخه وړې وه. لېن دا یاد ولوئ چه د دی قسم تول تکلیفونه صرف د خوار رعیت د پاره وي او څه وخت چه د پېرنګیانو داسی کار پېښ شی چه په هغه کښی د دوی خپل سود وزیان وی نو دهغی فیصلی اکثر په ټیلفون باندی کېږی. دا ولی؟ دا ځکه چه دا حکومت خو هغوی د خلکو د فایدی د پاره نه دی جوړ کړی بلکه د خپلی فایدی د پاره یې جوړ کړی دی.

د ډیره غازی خان په جیل کښی سیاسی قیدیانو سره ښه سلوک کېدلو او زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسی کلاس هم دېرې ښې ورځې تېرېدلې. داروغه ډېر ښه سړی و اودنورو ځیزونو
علاوه روزانه انګرېزي او اردو اخبارونه یې هم راکول هیڅ چاته دهیڅ قسم تکلیف نه
که چاپه دبهرنه څه میوه یانوردا سې ضروری شیان راغوښتل نوهم ورته اجازه وه. څ
موده پس یو مولوی صاحب اسماعیل چې هغه دغزنوی خاندان نه و راغی اوڅه ورځې
پس یې هیڅ په هیڅه داروغه سره خبری وارولې او نوبت یې بد ورد و ته ورسېد
زمونږ ه تولو ملګرو ته دمولانا صاحب دا حرکت ښه ښکاره نه شو او داروغه صاحب
ډېره محسوسه کړه ځکه چې دهغه مونږ ه سره ددې قسم سلوک نه وکه ځنګه چې جیلخانه
کښې قید یانوسره وي دهغې ورځې نه یې مونږ سره تلل پوړېښودل او تول دعایتونه یې
رابندی بند کړل او زمونږ دپاره یې څلور پښتانه نمبرداران راوغوښتل او دهغوی
پېره یې په مونږ وه دوله لیل راتو به اخبارونه په پټه راغوښتل او په پټه به یې لوستل
یوه ورځې یو پښتون نمبردار دغه اخبارونه ولیدل او ورغې او د دوی دلاسه یې
واخیستل دوی ورته ډېر منت وکه خو د دوی خبره یې ونه منله نمبردار د دروازې
روان شو چې اخبار داروغه ته وښیي یوکس په منډه منډه ماپسې راغی او ماته
ووې چې لاړ شه هغه نمبردار مونږ نه اخبار واخیست داروغه ته یې وروړی هغه
نه منع کړه او اخبار ترې واخله زه ورغلم هغه نمبردار ته مې اواز وکه هغه راغی ما د
دا اخبار راکړه هغه راته ووې که داروغه صاحب ددې نه خبرشي نوما به مات کړي ما
ووې چې ته دې خلکو ته وګوره دوی دی جیلخانې ته په څه کښې راغلي دي؟ اخبار یې
راکړو او ما هغوی له ورکړو. خبر راغی چې د جیلخانو جرنیل ډېره غازي خان ته په دوره
راجونیل ډېر سخت طبیعته سړی و او د کانګرس او قومي کارکنانو ډېر سخت مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده حکم کړی وچه جېلخانه کښې به څوک نه کاندی کیپ او نه تورپټکی په سروي په دی
جېلخانه کښې چه څه سکهان وو د هغوی تورپټکی وو او چه هندوان او مسلمانان وو نو
د هغوی کاندی کیپ ؤ داددی سپرنټنډنټ شرافت وچه نه یې سکهانو ته ویلي وو چه
تورپټکی په سرول منع دی او نه یې مسلمانانو او هندوانو ته ویلي وو چه کاندی کیپ مه
په سروئ . چه جرنیل راتللونو مونږ ته سپرنټنډنټ صاحب سوال ځواب وکړو چه دا
څیزونه په جېلخانه کښې منع دي که دیوساعت د پاره تاسو دا په سرنه کړئ نو ښه به
ي مونږ د سپرنټنډنټ صاحب دا خبره ونه منله چه جرنیل راغی زمونږ د دی سیاسی
ملګرو په سر یې تورپټکی او کاندی کیپ (د کاندی جی د ټوپۍ غوندې ټوپۍ) ولیدلو غصه
شو او داروغه ته یې وویل چه د دوی نه دې دا پټکی او ټوپۍ ولی نه دی اخیستی ؟ سپرن
ټنډنټ جرنیل ته ووې چه داروغه زه د دی نه خبر کړی وم خو ما ورله د دی اجازه ورکړی
جرنیل حکم وکړو چه دا پټکی او ټوپۍ تری واخلئ نو بیا د اسیاسی قیدیان څلو کښې کښینا ستل
فیصله یې وکړه چه دا خو زمونږ قانونی حق دی چه څه اغوند و هغه به اغوند و که چیری زمونږ
د دوی پټکی او ټوپۍ اخلی نو بیا به مونږ دانوری جامی هم ورکړو د لته ورته ما وویل چه
خو بخپله پټکی په سر وم دا ټوپۍ خومی ستاسو له خاطره په سر کړی وه او س زه څه کړم ؟
دار کړک سنګه ماته وویل چه ته مونږ سره دې ایجی ټیشن کښې مه شریکیږه په
ورځ سپرنټنډنټ خیل دفتر کښې کښیناستو یو یو یې ځان ته غوښتلو چه د چا به
ټوپۍ په سر وه هغه ته به یې ویل ټوپۍ کوزه کړه او چه د چا به پټکی په سر و هغه ته
یې ویل چه پټکی کوز کړه دغه شان یې د دوی نه ټوپۍ او پټکی کوز کړل او د دوی
فیصلی مطابق ورپسی خپلی جامی هم واپستلی . څو ورځی پس د دی حال معلوم لو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره دپیتی کمشنر راغی سپرنټنډنټ او داروغه ورسره وو، زمونږ بارکته راغلل
سیاسی قیدیان ورته راغونډ شول بحث شروع شو په بحث کښې ددی ودان
شول سردار کرک سنګه پیرنګی دپیتی کمشنر ته ووې چه مونږ ه خومره ستاسو
خدمتونه کړي دي مونږ لیدل چه ستاسو مخونه سپین دی نوستا سوزرونه په
سپین وی په دی دوران کښې یوسکه چغه وایسته «جو بولی سونهال» نورو تولو
حاضرو سکهانو ورلسپی په چغه وویل: «دست سری اکال» ددې نه پیرنګی ګبهراو
او په منډه زمونږ بارک نه ووتلو، سپرنټنډنټ ته دهر په قارشو او دایې وویل چه
صاحب په جیلخانه کښې اسونه ساتلی دي او هغه لې ددهرخوراک اوارام په وجه
کړي دی او بیایې هغه ته حکم ورکړو چه په دوی مقدمه وچلوه سباله داروغه راغی
او وې ویل چه زمونږ دجیل داقانون دی چه څوک داقانون مات کړي نو تر یوکال
پورې سزا ورکیدی شی نواوس زه تاسوله حکم درکوم چه جامې واغوندئ او که
جامی نه اغوندئ نوسبا به درباندی مقدمه چلیږی. چه داخبره دی سیاسی
قیدیانو واوریدله نو په مسلمانانو کښې یو مولوی محمد اسماعیل او هندوانو کښې
یو هندو چه زما اشنا وخو نوم یې رانه هیر دی دوی جامی وانه غوستلی او باقی
هندوان وو که مسلمانان تولو جامی واغوستلی او سکهانو کښې یوکس هم جامې وانه
سباله مجستریټ راغی یو یو به یې ورته پیش کړو او هغه به څه څه میاشتی نور قید
زیاتولو او زمونږ دجیل هغه سپرنټنډنټ میا صاحب چه د پرینه سری وهغه یې
کړی او یو دهجه یې ورته کمه کړه یعنی اسسټنټ سرجن یې کړو او ددې جیل نه یې
کړو دهغه په ځای کپتان هیز راغی دمیا صاحب ګناه صرف داوه چه دی نیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف انسان و او په سیاسي قید یا نوبي زورزیاتي نه کولو او د خدای مخلوق سره
یې د سره پتوب سلوک کولو او قید یان یې هم د خدای مخلوق گڼلو زمونږ نوی سپین تهلنت
یو انګریز مقرر شو چه هغه هم د ګزاری سړی وا او قید یانو سره یې سبه کف اره کوله او د فوځ
نه سول ته د ابدل شوی و دوموره خراب سړی نه و لکه چه دا نور سول والا وي او نه
مغوی په شان چالاک او دوکه باز و یو سم سړی و غریب د هیڅ نه خبر نه و خه چه به ورته
داروغه وې هغه به یې کول مونږ سره یې سلوک شریفانه و لیکن لږ شان ایغ نیغ و ځکه
چه فوجي و په اوله ورځ چه زمونږ ه بارک ته راغی او د اګلي و دیي ولید و چه څوک د ننه
دي څوک بهر څوک لا مبی او څوک کرځي په دی ورځ خولي غبږ و نه کړه لیکن چه څه د خت
و باره راغی نو دا معامله یي نوره برداشت نه کړه شوه زمونږ د بارک په مینځ کښی
دریدو او پښه یي ځمکی له را خلاصه کړه او وي ویل چه زه دا نه غوارم زه دیو څو
منتو د پاره دی له راغم هرچاله په کار دی چه په هغه وخت کښی خپل ځای کښی
ست وي او زما د تلو نه پس چه څه کوی هغه دې کوی زمونږ د سیاسي ورونو
ده متعلق به هم شاید دا خیال وچه دی بدهم لکه د میا صاحب په شان چشم پوشي
وي ، ما زیکر داروغه راغی او زمونږ تولو سیاسي ورونو تیي د صاحب حکم ورا و رولو هر سړي
صاحب د خیال نه خبر شو . د پریلو په ورځ چه سپرنتهلنت زمونږ بارک ته راغی
یتول خلک د بارک د ننه پخپلو کټو ناست وو د دی په لیدو زه ډیر حیران شوم څه
خت چه سپرنتنډنت و د تلو نو ما د دی د رونو نه پوښتنه وکړه او ورته می دوي
راسي معلومیږی چه تاسو هم او س زما په شان خوشامد ګر شوئ ځکه چه د اول سپر-
نټنډنت په وخت کښی نه کښیناستئ او که ما به د رته ووې نو تاسو به راته وې چه مونږ ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په شان خوشامد گر نه یو لیکن نن خو تاسو هم د ننه کښېناستئ او کوم کار چه در ته
پروت بل ښکاري او نن څنګه ښه شو . بل پریږدئ باندې چه بیا سپرنټنډنټ راغی نو
بعضي خلکو کتابونه مخ ته نیولي وو دایي هم پرې بند کړل او حکم یې وکړو چه زه کوم خت
دا ځم هغه وخت کښې کتابونه مه ګورئ ، ددې نه پس د پرېږدې په وخت کښې کتابونه کتل
هم بند شو شاید چه که د اکار زمونږه مخکښې سپرنټنډنټ کړی وای نو چه زمونږ ورته
به ورسره څه کول چونکه دا یو انګریز و او بیا ورسره زور هم دی په دې وجه په چا کښې
جرئت نه وُچه هغه برخلاف یې قدم پورته کړی وای افسوس په دې دی چه مونږ سره
ښه سلوک کوي هغه ته نیغ یو او چه ښوک موسره په د نلاه وهي نو هغه ته تېتېږو
او دا د پرځراب عادت دی او مونږ ته د اسې عادتونه پرېښوول په کار دي لږ
ګورځې پس یې داروغه هم بدل کړو خو دده په ځای چه بل داروغه راغی هغه هم ښه سړی
و او مونږ سره یې شریفانه سلوک کولو .
په دې کشمکش کښې زما د علاج د پاره د لاهور ته تللو حکم راغلی و لیکن چیل والا
زمونږ نه پټ ساتلی و او مونږ یې پرې خبر کړي نه وو زه په بارک کښې ناست وم
وختي سحر یو نمبردار راغی او ما ته یې ووې چه داروغه صاحب د ما ته ناري وهي زه
د لاسه هغه سره روان شوم ولې چه زه خبر نه وم چه زما د بهر تللو حکم راغلی دی
دفتر ته ورسېد و پولیس ولاړو زما شک راغی چه شاید زما د بدلۍ حکم راغلی
او ما د علاج د پاره لاهور ته بیایي د ورسېدو سره داروغه صاحب هم را ته داو
چه ستا د بدلۍ حکم راغلی دی او ته به د سپاهیانو سره لاهور ته ځې ما ورته ووې چه
از کم ماله خو دومره اجازت راکړه چه د غه خپل ملګرې خبر کړم او رخصت ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خکه چه زه دا تلم خبر نه وم ماتری رخصت اخیستی نه دی لیکن داروغه صاحب
زما ددی خبری نه انکار وکړو اوما ته یې ووی چه زه ستا تلل مناسب نه گڼم او که چیری
ستا هلته څه سامان دي نوسبا به ولیږم چه هغه تاله راوړي ما ورته ووی چه زه
خو دسی کلاس قیدی یم زما به دڅه سامان وی، زه خو صرف د رخصت اخیستلو
دپاره ورځم خوده اجازه را نه کړه او چه څه وخت زما سیاسی ورو نه زما د بدلیدو
او په دی طریقه زما د بوتللو نه خبر شوي دي نو هغوی بیا نا نوم د بیرکو شستونه وکړل
چه یو بل سره مولیده کاته وشی لیکن افسوس چه په هیڅ شان مو دیو بل سره لیده کاته
ونه شو. جیل والو دومره مهربانی ضرور ما سره وکړه چه ماته یې په ښو کښی بیری وانه
چولې او یا به په پنجاب کښی سیاسی قیدی ته زمونږ د صوبې په شان د بیړو نکو لو حکم
نه وی ځکه چه زمونږ په صوبه کښی د سیاسی قیدی د پاره څه کلاس هم نشته او ددی
سره هم د اخلاقی قید یانو په شان سلوک کیږی او چه ځنګه یو اخلاقی قیدی په سی کلاس
کښی دی چه کوم خوراک یا کومه جامه هغه له ورکیدی شی هم هغه خوراک او هم هغه شان
جامه سیاسی له ورکیدی شی او هغه سره چه څه سلوک وی د سیاسی قیدی سره
هم کیږی او دلته خو په پنجاب کښی سپشل کلاس دی او دلته د سی کلاس قیدی
په جامه او خوراک او په سلوک کښی د بېر فرق دی. پولیس زما په دواړو لاسو کښی
اتکړی واچولې د دروازی نه بهر تانګه ولاړه وه زه یې په هغه کښی کښینولم او
ستیشن ته یې روان کړم چه څه وخت د ابا سین غاړی ته ورسید و نو جهازتیا
و مونږ هم پکښی سواره شو او په خیریت سره پوری وتو د سین غاړی ته نژدی
د ریل ستیشن دی. چه ستیشن ته ورسید و نو ټکټونه مو واخیستل، په ریل کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاهیانو یو سیټ خالي کړو او زه یې پکښې کښېنولم او س په خلکو کښې هغه جوش او خروش
نه و کوم چه په ابتدا کښې و د خلکو د رویې نه معلومېده چه تحریک بالکل سړ شوی دی
په دې وجه مونږ ډېر په ارام خپل سفر وکړو او په سباله مونږ لاهور ته ورسېدو زه
یې د سټېشن نه پیاده جېلخانې ته بوتلم د لته هم قلاره قلاري وه په خلکو کښې د تحریک
متعلق هیڅ قسم جوش او جذبه نه وه جېلخانې ته ورسېدو او پولیس زه
جېلوالاو ته په حواله کړم او هغوی رخصت شو د دې پولیس والو ما سره ډېر ښه
سلوک و او د هیڅ قسم تکلیف یې ما ته را کړې نه ؤ بلکه زما د ارام د پاره یې کوشش
کړې و. جېل والا زه یو نمبردار ته په حواله کړم د ټولونه اول هغه زه ګودام ته بوتلم
او زما چه کومې اغوستې جامې وې او ما له په ډېره غازي خان کښې زما د قد
مطابق جوړې شوې وې نو هغه یې را نه واخیستې او د سرحد په نشان نوې
د تماشې جامې را کړې چه د هغې په اغوستو زه مانه یو عجیبه څیز جوړ شو. په دې
جامو کښې او د سرحد د جېلخانو په جامو کښې څه فرق نه و زه چه د دوته د دې
جامو نور څه ذکر وکړم ما ته پکښې ځان یوه تماشا ښکاریده نو معلومه نه ده چه
خلکو ته به پکښې څنګه ښکاریدم او بیا یې بوتلم او اخلاقي قیدیانو سره یې په یوه
چکۍ کښې بند کړم او ورته یې را پسې جرنده کړو دا د زړې زمانې لګېده او د ختمو
جوړې چکۍ وې ځای په ځای پکښې چاودونه وو. او چرته پکښې د رڼا او هوا
د پاره روښندانونه نه وو زه د علاج د پاره دغې جېلخانې ته لیږلی شوی وم
بله دا چه په دغه جېلخانه کښې ډېر سیاسي قیدیان وو او د هغوی بېله احاطه
وه په ځای ددې چه زه یې د هغوی سره بند کړې وای زه یې د لته د اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیدیانو سره به یوه ځای کښې بند کړم ما به په زړه کښې وې چه زه خو یې د
علاج د پاره د لته وا یو لی یم او په دې کرمی کښې په داسې چکې کښې د اخلاقیانو سره
بند ول دا به زما د صحت د پاره ښه فایده ورسوي ؟ چه ما ژیکړ شو نو ما پښې یې ور
پرانیستو او زه یې صرف دومره بهوکوم چه بنګی زما د چکې نه د بولو کمله را وایسته
او صافه یې اکړه او دشپې د پاره د او بو منګوټې یې ډک کړو او کښېښوده او لاړ ماله
یې په یو تور بالښتی کښې نکولی او ډوډۍ راکړه او په تنده سره یې بیا په چکی کښې بند
کړم جو ړنده یې راپسې واچوله او دوی رانه لاړل هغه ډوډۍ د چا زړه ته کېدل ه ؟
هغه انسانی خوراک خو نه و بلکه دا چه زه تو له ورځ په چکی کښې بند وم ډوډۍ مې څنګه
زړه ته شوې وای لیکن بیا هم څه نه څه په زور زور مې تېره کړه اخر دا چه شپه راغله
او زه اوده شوم د هغې چا د نو و نه کیږي ماشی او مېږی راخواره شو او په چیچلو
یې په ما کوتلی پودې کړې بل طرف ته دومره کرمی وه چه خوب ترې چا کولی نه شو که
څه ته لږ ی ستر ګی به مې پورغلی نو د بدلی پیره دار به راغی او هغه به راویښ کړم .
په جیلخانه کښې د هر دری ګهنټی پس پیره بدلیږی . نو چه نوی پیره دار راشی
نو نو به اواز کوی او ترهغه وخته پورې به لګیا وی چه تا ورله اواز ورکړی نه وی او د هغه
تسلی و نه شی چه سړیا په چکی کښې موجود دی چیرته تللی نه دی په جیلخانه کښې د
قیدی غریب د هیڅ قسمه د ارام خیال او فکر څوک نه کوی . په دې طریقه شپه تېره شوه
سبا شو سحر وختی یو نمبردار راغی زه یې د چکې نه بهر کړم او چکر ته یې بوتلم هغلته
نور قیدیان جوړه جوړه ناست وو او زه یې هم هغوی سره کښېښولم زه یې هم بل قیدی
سره جوړه کړم او مونږ ته د خوځېدو یا ودرېدو قدرې اجازت نه و د اځای د پېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزید اړ او ګیر چاپیر تری د ډیری ونی ولاړی وې او هغوی یوې ونې سره یوځای کلک یله
تړلی وه او یو بل سره ورته بینت په لاس ولاړ و او په ډیر زور سره به یې هغه کلک یله وهله
ددې په لیدو زه حیران شوم ولې چه ما دا قصه چیرته په نورو جیلخانو کښې لیدلې نه وه د
ملکو قیدیانو نه راته معلومه شوه چه دا قیدیان دي او د بینتو نو وهلو جل زده کوي چه د
ضرورت په وخت کښې قیدیان په ښه شان په بینتو نو و وهلی شي په دې کښې ګوډ و نو ګوډه
قیدی یې دې ځای ته راوست د هغه د جامو نه دا نه معلومیده چه کښې دی قیدی دی
ښه پتلون، ښه کوټ او ښه توپۍ (Hat) په سر وه هغه لې نه زمونږ په شان جوړه کړو
او نه یې کښېنولو هغه خپله تیلایي کوله چه په دې کښې داروغه راغی لیکن دې ګوډه د داروغه
هیڅ پروا ونه کړه داروغه صاحب د ټولو نه اول د هغه په ټکټ دستخط وکړو د هغه
د رخصت کیدو نه پس معلومه شوه چه دا ګوډه دی او په زبر زنا کښې قید شوی
دی لیکن باوجود د دې قسم ذلیل او ظالمانه جرم د هغه د سه ایتوب جامې د سه ایتوب
خوراک او د سه ایتوب سلوک وا و مونږ چه د خپل قوم ملک او د اسلام په خدمت کښې
بې ګناه قید یو او هیڅ جرم مو کړی نه و نو مونږ سره د دې قسم سلوک و چه انسان خو
پریږده شاید چه ځناور و سره به هم چاکړی نه وي څه وخت چه داروغه زما ټکټ و کتو
او دستخط یې کړو او ورته دا هم معلومه شوه چه زه سیاسي قیدی یم او د علاج دپاره
راغلی یم د دې د پاسه بیا یې زه واپس هغې چکۍ ته ولیږلم او په هغه چکۍ کښې یې بندی
کړم دا داروغه مسلمان و او خیر الدین خان یې نوم و ما په ټولو جیلخانو کښې لیدلي
دی چه مسلمانان د پیرنګیانو ډیر وفادار دی او د پیرنګیانو د خوشالۍ دپاره
سیاسي قیدیانو سره هر قسم بد سلوک کوي، زما د راتلو نه چه سیاسي قیدیان یا خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دي چه هغه راغلی دی او په جیل کښي بند دی د دی په اوریدو سره هغوی کوشش وکړی او داروغه ته ورغلی دی او هغه ته یې ویلی دی چه دی خو سیاسی قیدی دی ته د اخلاقی قیدیانو سره ځنګه بند کړی دی دی خو موږ سیاسیانو سره بند وال په کار دی په دی سیاسیانو کښي د پنجاب لوی لوی لیډران مسلمانان او هند وال وو داروغه صاحب د هغوی نه یریده نو په دی وجه زه یې د سیاسیانو هغې احاطې نه بدل کړم دا ځای ډیر ښه و یو خو ډیر لوی و بل پکښي ډیری ونې او سوری و چې او بارکونه یې پاخه او هوا دار و او هوا به پکښي هم لګیدی شوه زما د راتلو نه چه به خوک سیاسی ورو نه خبریدل هغوی به زما کټو ته راتلل او ما سره به یې ګړه بړه کوله دلته د هر خیال د هر مذاق او هری عقیدی خلک وو او ددوی محبت زما د پاره یو لوی غنیمت و ما به هر چا سره تبادله خیالات کول او د هغوی د علمی خبرو او تجربو نه ما ته ډیره فایده ورسیده زما مثال د ملا یوه دي یو طالب علم و او ډیر ښه وخت می ددوی سره تیریده او د دوی د صحبت نه ما ډیره حاصل او زده کړل او تجربه او معلومات می زیات شول په دې جیلخانه کښي موږ دری کسه د خلافت قیدیان وو چه یو آغا صفدر و، بل ملک لال خان و او دریم یو رضا کار و چه غلام محمد یې نوم و، او څلورم زه وم او د کانګرس ډیر قیدیان او لیډران وو ما نه د نورو نومونه هیر دی یو د لاله لاجپت رای نوم راته یاد دی، په کانګرس کښي چه څومره خلک قید وو هغه ټول هند وال وو، ډیر ښه خلک وو او ما سره یې ډیره مینه او محبت و څلور ورځې پس زه یې د فتر ته و بللم او سپرنټنډنټ ته یې پیش کړم هغه زما غا ښونه او اوریدو وکتل هغه هم ډاکټر و او و یې ویل چه زه به دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزید اروا وکیر چا پیر ترې ډېرې وني ولاړې وې او هري يوې وني سره يوه ګډ بله
ترلې وه اوپه يو سړي وړته بينت پهلاس ولاړ و او په ډېر زور سره به يې هغه ګډ بله وهله
ددې په ليدوزه حيران شوم ولې چه ما دا قصه چېرته په نورو جېلخانو کښې ليدلې نه وه د
ملګرو قيديانو نه راته معلومه شوه چه دا قيديان دي او د بېنتو نو وهلو چل زده کوي چه د
ضرورت په وخت کښې قيديان په ښه شان په بېنتونو ووهلي شي په دې کښې ګوردو ګورد
قيدي يې دې ځاى ته را وست د هغه د جامو نه دا نه معلوميده چه کښې دې قيدي دې
ښه پتلون، ښه کوټ او ښه توپۍ (Hat) په سر وه هغه يې نه زمونږ په شان جوړه کړو
او نه يې کښېنولو هغه خپله تيلاني کوله چه په دې کښې داروغه راغې ليکن دې ګورد د داروغه
هيڅ پروا ونکړه داروغه صاحب د تولونه اول د هغه په تکټ د ستخط وکړو د هغه
د رخصت کېدونه پس معلومه شوه چه دا ګورد دې او په زبر زنا کښې قيد شوې
دې ليکن با وجود ددې قسم ذليل او ظالمانه جرم د هغه د سړيتوب جامې د سړيتوب
خوراک او د سړيتوب سلوک و او مونږ چه د خپل قوم ملک او د اسلام په خدمت کښې
بې ګناه قيديو او هيڅ جرم موکړې نه و نو مونږ سره ددې قسم سلوک وچه انسان خو
پريږده شايد چه ځناور و سره به هم چاکړې نه وي خو وخت چه داروغه زما تکټ وکتو
او د ستخط يې کړو او ورته دا هم معلومه شوه چه زه سياسي قيدې يم او د علاج د پاره
راغلي يم د دې د پاسه بيا يې زه واپس هغې چکۍ ته ولېږلم او په هغه چکۍ کښې يې بند
کړم دا داروغه مسلمان و او خيرالدين خان يې نوم و ما په تولو جېلخانو کښې ليدلې
دې چه مسلمانان د پيرنګيانو ډېر وفادار دې او د پيرنګيانو د خوشالۍ د پاره
سياسي قيديانو سره هر قسم بد سلوک کوي، زما د راتلو نه چه سياسي قيديان خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتوی دي چه هغه راغلی دی او په جیل کښی بند دی د دی په اوریدو سره هغوی
کوشش کړی او داروغه ته ورغلی دی او هغه ته یی ویلی دی چه دی خو سیاسی
قیدی دی تا د اخلاقی قیدیانو سره څنګه بند کړی دی دی خو موږ سیاسیانو
سره بند ول په کار دی په دی سیاسیانو کښی د پنجاب لوی لوی لیډران مسلمانان
او هندوان وو داروغه صاحب د هغوی نه یریده نو په دی وجه زه یی د سیاسیانو
هغی احاطی ته بدل کړم دا ځای د ډیر ښه و یو خو ډیر لوی و بل په کښی ډیری ونی او
سوری وچکی او بارکونه یی پاخه او هوا دار و او هوا به په کښی هم لګیدی شوه زما د
راتلو نه چه به څوک سیاسی ورونه خبریدل هغوی به زما کتو ته راتلل او ما سره به یی
ګړه بره کوله دلته د هر خیال د هر مذاق او هری عقیدی خلک وو او د دوی د صحبت
زما د پاره یو لوی غنیمت و ما به هر چا سره تبادله خیالات کوو او د هغوی د علمی
خبرو او تجربو نه ما ته ډیره فایده ورسیده زما مثال د ملاهی د یو طالب علم و
او ډیر ښه وخت می د دوی سره تیریده او د دوی د صحبت نه ما ډیر څه حاصل
او زده کړل او تجربه او معلومات می زیات شول په دي جیلخانه کښی موږ دره څلور
کسه د خلافت قیدیان وو چه یو آغا صفدر و، بل ملک لال خان و او دریم یو رضا
کار و چه غلام محمد یی نوم و، او څلورم زه وم او د کانګرس ډیر قیدیان او لیډران
وو مانه د نورو نوموړو هیر دی یو د لاله لاجپت رای نوم را ته یاد دی، په کانګرس
کښی چه څومره خلک قید وو هغه ټول هندوان وو، ډیر ښه خلک وو او ما سره یی
ډیره مینه او محبت و څلور ورځی پس زه یی د دفتر ته وبللم او سپرنټنډنټ ته یی
پیش کړم هغه زما غاښونه او اوری وکتلی هغه هم ډاکټر و او ویل چه زه په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی نه پوهیږم ، په دې باندې یو د غاښونو ډاکټر (Dental Surgeon) پوهې
شي دا د هغه کار دی مانه ئې ووې چه ته خپل خرڅ باندې ډنټل سرجن راغوښتی شې
ما له ئې د علاج کولو اجازت راکړو چه ته پخپل خرڅ باندې ډنټل سرجن رغواړه چه ستا
علاج وکړي زه چه واپس خپل بارک ته راغلم دا قصه مې سیاسي قیدیانو ته وکړه
هغوی زما د پاره د ډاکټر د غوښتو انتظام وکړو او د ډاکټر پریم نات ډنټل سرجن
د رابللو فیصله ئې وکړه سبا له جیل والو د ټیلفون په ذریعه هغه له خبر ورکړو او د
خبر بد و سره هغه جیلخانې ته زما د کتو د پاره راغی زه ئې چکر ته بوتلم او د دارو
په موجودګۍ ئې زما د غاښونو او ورو ملاحظه وکړه هغه زما په حالت ډیر افسوس
ظاهر کړو چه حکومت د خراب خوراک په وجه ستا صحت بالکل خراب کړی دی
او برباد کړی دی په ډیری مینې او محبت سره زما غاښونه او اوری ئې په ښه شان
سره صاف کړل او کوم غاښونه چه خراب شوی وو هغه ئې وایستل او د مخکښې د پاره
د هغې دارو او د استعمال طریقه ئې راته وښودله او ډیر تحقیق ئې را باندې وکړو
چه باقاعده دې خپله خوله صفا کوه که نه تول غاښونه به دې برباد شي او بل ئې زما
د پاره د خوراک تجویز وکړو چه همیشه سبزی او هر قسم تازه میوه وخوره بلکه دا ئې
په ټکټ درج هم کړل او داروغه صاحب ته ئې ووې چه دا رو د دې مرض د پاره د
فایده مند نه دی لکه دا خوراک چه فایده مند دی . د ډاکټر ښه همت ، همدردی ، شرافت
او محبت چه کوم اثر زما په زړه کړی دی هغه تر او سه پورې زما د زړه نه وتلی نه دی
او نه زما نه هیر دی د رخصتیدو په وخت ما ورته ووې چه زه غریب نه یم جیلخانې
کښې مې روپۍ جمع دی د فیس بو د را باندې کیږی دا به ستا مهربانی وی چه ست

(c) ketabton.com: The Digital Library



خومره فیس کېږی هغه ته مانه واخلی : هغه ددی خبری نه انکار وکړو او چه څه
وخت دا خبره ما ورته دوباره وکړه هغه ماله دا جواب راکړو :« ماله به ستړم نه راځی
چه زه دااسی خلکو نه فیس واخلم چه هغوی د قوم او د ملک د ازادی ترقی او
بهبودی د پاره جیلخانو ته راغلی دی او زمونږ د پاره ددی قسم تکلیفونه او -
مصیبتونه برداشت کوی نو که چیری مونږ دومره قربانی نه شو ورکولی چه جیلخانو
ته لاړ شو دا خو کولی شو چه د خدای د پاره د هغوی خدمت وکړو . » ددی په
اوریدو زه هم چپ شوم او ما بیا خبره ونه کړه هغه رانه رخصت شو او زه واپس
جیل بارک ته راغلم او دا تول قصه می خپلو ملګرو ته وکړه . ددی جیل داروغه چه د هغه
نوم خیرالدین خان و ډیر چالاک ، هوښیار ، تجربه کار او ډیر رشوت خور و
او سپرنټنډنټ پی داسی په لاس کښی وچه دده به خبره زیره غوښتل هغه به یی کول
او چه سپرنټنډنټ به یی کوم خوارو انولو هغی خواله به هغه روانیده او چه چاته
به یی زیره غوښتل . پی ، ماسته ، د بله دوی ، او غوښه یی ورته تلوله حالانکه دا
کار د سپرنټنډنټ دی او اکثر دا خیزونه د هغو خلکو د پاره وی چه خوک نا جوړه
وی لیکن دا به سپرنټنډنټ باندی دا خیزونه د روغو خلکو د پاره تلول په سیاسی
قید یانو کښی چه خومره د سرخلک وو او د چا به لږ و ډیر رسوخ وا و خپل او از به یی
اخبار اتو ته رسولی شو د هغو تولو نه یی بیاده هغه تولو له یی څه نه څه ورکول او ددی نه
علاوه به ملاقاتونو کښی او خطونو او کتابونو کښی به هم ورسره رعایت کولو او دخان یی
ملګری کړی وو لیکن کوم سیاسی قید یان چه بی اسره وو او چا یی او از اوریدی نه
شو نو د هغوی د پاره باوجود د نا جوړتیا نه هم څه نه وو . او چه به د داروغه صاحب څه شامندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی او د خپلو ورونو خبري يي افسرانو ته رسولي شوي ، هغه به که غټ کټ ؤ داروغه صا
به د هغه تکټ واخيست او چه څه به يي زړه غوښتل هغه به يي سپرنټنډنټ صاحب باندي
دستخط کړو به دي چل يي ټول خلک ځانته محتاجه کړي وو او هغه سړي به د داروغه
صاحب رضا کولو او خوشحالولو کوشش کولو داماته د سياسي قيديانو د پاره هم د ذلت
او د شرم خبره ښکاريده ، سپرنټنډنټ بالکل نوکوګو بغير د داروغه نه به يي څه نه کول
اکثر سپرنټنډنټان هم داسي وي ما چه څومره د جيلخانو سپرنټنډنټان ليدلي دي د ټولو د غه
يوشان حال وی ، زه خو په دي نتيجه رسيدلی يم چه سپرنټنډنټانو ته بالکل ادو ضرورت نشته
دی دا خو په جيلخانو باندي بوج دی ځکه په جيلخانه کښي هم هغه کيږي چه څه داروغه کوی
دالولي لوي عهدي پيرنګيانو د خپل قوم د پاره ساتلي دي. د جيلخانو دا سپرنټنډنټان به
اکثر سول سرجنان ؤ او سپرنټنډنټ چري داکټر مقرر دول يکار نه دي. داکټر جدا سړي
په کار دی ، چه د هغه د قيديانو او د جيلخانی انتظام سره څه غرض نه وی ، او په ولايت
کښي انګريزانو د خپل ملک کښي د جيلخانو د پاره هغه طريقه اختيار کړي ده ولي چه داکټر
سپرنټنډنټ وی نو هغه اکثر د جيلخاني انتظامي معاملاتو په وجه د ناجوړه او کمزوره قيديانو
حق تلفي کوی او مريض ته د مريض په سترګه نه ګوري .

زمونږ په احاطه کښي به چه څه وخت داروغه صاحب رادننه شو نو هر چا به د
کوشش کوو چه ځان ورته د لوړو نه لوميي ور او رسوم او سلام ورته کوو خوک چه به
خبريدل هغه به د داروغه صاحب په خدمت کښي حاضريدل ، او د داروغه صاحب نه به
چه پيره جمع شول چه سړی ته به ميله او تماشه معلوميده چونکه ما ته دا کار ښه نه ښکاريده
زه د خپل ضمير مجبوره وم ما به په دي کښي څه حصه نه اخيسته دا نه چه کني داروغه صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خفه وم، یا می د هغه سلام نه کوو، داسی نه وه ماله چه به نزدی راغی، نو سلام
به می ورته کوو او د سلام د پاره به ور پسی ورتلم نه نو پوهه دي خبره شاید دا هغه صاحب
زما نه خفه وُ او باوجود زما د کمزوریتیا او نا جوړتیا زما په تکټ چه کوم پی دیره غاړی-
خان کښی لګیدلی وُ هغه یې هم بند کړی او ډیپټل سرجن چه زما د پاره کوم خوراک
اجازت کړی و، هغه یې هم ما ته نه راکوه، زما ملګرو به دا خبره محسوسه کوله لیکن د
رعایتونو په چیبلې څه نوټس پراخیستی نه شو، اخر یوه ورځ زما ملګرو دومره جرئت
وکړو چه داروغه صاحب ته یی ووی چه کوم خوراک د ده د پاره ډاکټر صاحب تجویز
کړی دی، مهربانی وکړئ هغه د ده د پاره جاری کړه، هغه ورله جواب ورکړه چه د
سپرنټنډنټ صاحب ته ووایی، زه پوه شوم چه د ده زړه نه دی. ولی چه ما ته معلوم
وه چه سپرنټنډنټ صاحب خود ده په لاس کښی دی او بغیر د ده د وینا نه څه نه کوی، لیکن
زه دی خپلو ملګرو مجبور کړم چه ته ضرور هغه ته اُوایه بله ورځ چه زه سپرنټنډنټ صاحب
دفتر ته او غوښتم ما ورته ووی چه تا ته به معلومه وی چه ډیپټل سرجن زما په تکټ
زما د پاره د مرض د غامبونو د علاج په طور خوراک لیکلی دی او دا ته یی ویلی دی چه دا
ستا د مرض دارو دی. دا خوره، دا به ستا مهربانی وی. چه دا خوراک زما له پاره مقرر
کړی او یا ما ته اجازه راکړی چه په خپلو پیسو دا خوراک ما ته راکیدی شی، یعنی زه یی
په خپلو پیسو راغوارم، هغه د دی د واړو خبرو نه انکار وکړو او ما ته یی ووی چه زه یی مناسب
نه ګڼم چه تا له یی درکړم، ما ورته اووی چه تا ته به یاد دی چه تا ما ته ویلی وو، چه زه
دی مرض ډاکټر نه یم او نه پوهیږم نو چه ته بیا په دی پوهیږی نه، نو ته بیا څنګه یو خوراک
مناسب او بل خوراک نامناسب ګڼی، نو بیا یی دا ځواب وو چه د خوراک په معامله پوهیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ما ته د دې هیڅ ضرورت نه ښکاري، ما په زړه کښې دا خیال وکړو چه کوم ځای انصاف
نه وي او نه څه قاعده او قانون وي، د یو سړي رضا او ونیا قانون وي، هغه سړي زیا
بحث کول څه فایده مند نه وي، په دې وجه زه چپ شوم او بېرته راووتم او خپل بار
لازم په دې جېلخانه کښې ډېر پښتانه وو، لیکن زمونږه احاطې ته به راتللې نه شو، کله نا کله
به یې په مونږه د شپې پېره لګېده، هغوی ته به ما سړي د خبرو اترو د پېره کمه موقع
وه، د دلته یو پښتون ملازم هم وو چه د دواوې د سوکړو ذکلي وو، د هغه پېره به د
زمونږه په بارک لګېده، ډېر ښه سړي وو ما سړي لي ډېره مینه وه با وجود د دینه
ما به منع کولو لیکن بیا هم هغه به دا ته کله نا کله څه خیز راوړه زه په جېلخانه کښې د پته
خیزونو سخت مخالف یم ولې چه په دې باندې په سړي کښې کمزوري تیا او بزدلي پید
کېږي ما به ډېر پوهه کولو او منع کولو هغه نه منع کېده هغه سړي به زما سره ګپ شپ
لګېدو هغه تازه د ملک نه راغلی و او ما ته به یې د ملک قصې کولې د هاړ پټکال د
دې ګومې ښه په زور کښې وه د ورځې خو به لا څه ډېر تکلیف نه وو، ولې چه ډېری
دی او سوړلي وو ولې د شپې تېرول ګران وو ځکه چه بارک کښې به بند وو اکثر به د د
بچو پوری د ګرمی دلاسه چاته خوب نه ورتللو خو چه تسپه به لوږه بچه شوه نو بیا به ما شو
غذا بولو ځکه چه لاس، پښې په موو د ته برښدې وې د یتولو څه شی نه وو چه
ماشونه مو ځان پټ کړي وي. ولې چه د قیدي اوړې، ژمی اغوستن کمبل دي
پهکړي کښې څوک ځان ته کمبل نژدې کولی نه شي، زه د یوې میاشتې پوری په د
جېلخانه کښې وم او د ی خلکو سره می ډېر ښې شپې ورځې تېرې کړې چه په دې کښ
واپس ډېره غازي خان ته بدل کړم چه څه وخت زه د ډېره غازي خان جېل ته ورسې

نو ما ته معلومه شوه چه د جیل والا او سیاسیانو په مینځ کښې جوړه شوې وه. جیل والا او هغه د سیاسیانو بارک ته راوليږلم. ټول راته راغونډ شول او زما په ليدو سره هغوی د پیر خوشحاله شول راته ترغاړه وتل او په ډیره مینه یې راسره ستړي مشي وکړل زما مهربان لاله دوني چند چه د هغه د جیل نه وتلو کښې لږې ورځې پاتې وې راته یې وویل شکر دی چه ته راغلې او مې لیدې. ګوندې ستا په دې طریقه جدایي او د نه ليدو ارمان به ذره پاتې شوی ؤ. سبا لا چه سپرنټنډنټ راغی نو تپوس اول ورسره لاله دوني چند زما د خراب جامو ذکر وکړو او ورته یې وویل چه کم از کم ده له دی د ده د قد مطابق جامې ورکړې شي ابیایي ورته زما د خوراک لپاره تکټ بندکاره کړو، هغه زر دا دوغه ته حکم ورکړو چه ډله ده د میچ مطابق جامې فوراً ورکړې او که چرته کودام کښې نه وي نو ورته یې جوړې کړه او زما په تکټ یې نیم سیر شوده او یوه چیتاکۍ کوچ زما د خوراک د پاره ولیکل زما د راتلو نه څو ورځې ورستو روژه راغله څه وخت چه روژه رانژدې شوه نو زمونږه هند وانو ملګرو سپرنټنډنټ سره ولیدل او هغه ته یې د روژه دارو لپاره د هر قسم ارام رسولو او باقاعده انتظام کولو عرض وکړو، سبا له چه څه وخت سپرنټنډنټ راغی نو هغه تپوس وکړو چه څوک به روژې نیسي او دا حکم یې وکړو چه څوک روژې نیسي هغوی ته به د جیل خوراک نه یو سیر شوده او یوه چیتاکۍ غوړي زیات ورکیدی شي او د پیشمني لپاره به د تازه خوراک انتظام هم وکړې شي مونږه د ده د دې مهربانۍ نه شکریه ادا کړه او هغه زمونږه د بارک نه رخصت شو مونږه ټول شپږ مسلمانان وو په دې کښې دوه کسانو د روژې نیولو نه معذرت ښکاره کړو چه په هغې کښې یو بیرسټر و وا دبل طالب العلم وو، مونږه څلورو کسانو په روژو نیولو باندې لاس پورې کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیره غازي خان د هاړ او پشکال ګرمي اسان کار نه و لیکن د خدای په فضل مونږ د هیڅ تکلیف و نه شو او په آرام او خوشحالي ختمه شوه او اختر راغی. د قیدیانو غږیبانانو څه اختر وی. د اختر نه پس لاله دوني چند انبالوی او خان عبدالرشید خان خلاصیدل مونږ تولو سیاسي قیدیانو ورله په خپل بارک کښې ډیوی پارټی او ادرس ورکولو انتظام وکړو. په پارټی کښې هغې کسانو تقریرونه هم وکړو او د هغوی خدمات او قربانۍ خلکو اوستایلې. په اخر کښې لاله دونی چند او خان عبدالرشید خان د ټولو رونو شکریه ادا کړه او وعده یې وکړه چه مونږ به د قوم او ملک هر قسم خدمت کولو ته تیار یو. او بیا په مینه او محبت سره رخصت شول.

ډیره غازي خان د آب و هوا په لحاظ ډیر خراب ځای دی ګرمي پکښې ډیره زیاته وی، بارانونه پکښې نه کیږی، کال کښې یو وار یا په دوه کال به باران وشوا داو بو د باران په ځای د خاورو بارانونه ډیروی او کله کله به داسې سیلۍ راغلې چه دوه، دوه، دری، دری شپې به خاورې وریدلې، د صحت لپاره د دخاورو باران ډیر خطرناک وو، داسې یوه تورې او باریکه دوړه به د آسمان را ورېده چه لید ی نه شوه لیکن چه کیرچاپیره به دی هر څه ته کتل نو هر څه د د دوړو نه ډک وو. څه وخت چه به دا دوړه شروع شوه نو مونږ به یې پټ کړوا دوریځو په شان به رنه ورځ تیاره شوه د دی زول نه ځان ساتل ناممکن وو ځا خوړین ده چه خوراک هیڅ کول ناممکن وو چه څه به دی خوړل هغې کښې خاورې وی چه لاړی به دی توکلی هغه به د خاورو نه ډکی وی چه پوزه به دی سونوا هغې کښې به خاورې وی نه تری د چاجامې هیڅ کیدی شوی او نه تری نه بستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکه پاتی کیدی شوه چه سحر به دخوبه راپاڅیدل وچه په بستره به څنګه اوده شوی
ده هم هغه شان چاپ به پری پاتی وو هرچا به خړ مخ ، خړ غوږونه نیولی وو هر
سړی به تماشه وو، چه یو بل ته به موکتل نو خندا به راتله او بیا ما ته ډیر تکلیف
به دی ؤ وچه ماسره دنورو په شان ډیری جامی نه وی ماسره یوه جوړه جامی وی
ځکه چه دسی کلاس قیدی لپاره په شپږو میاشتو کښی دیوی جوړی د ورکولو حکم
و او دا هر وخت وینځل او وچول او بیا د دوړونه بچ کول ناممکن وو ددینه
علاوه د دوړونه ډکی سیلیٔ به هم کله نه کله راتللی لیکن ددی ټولونه زیات د
تکلیفونه ډک یو بل ګرم باد وو چه ټوله ګرمی کښی به باقاعده چلیده، د سحر
اوو بجو نه به شروع کیده او د څلورو بجو پوری به وو. دابه دومره ګرم وو چه مخ
به دی ولګیده نو تا به ویل چه اور دی او د وجود هره څرګنده حصه به یی سوزوله
دی دلاسه به اخلاقی قیدیانو ته ډیر زیات تکلیف وو او بیا خاص چه کوم قیدیانو
نمو یا په باغ کښی کار کولو، هره ورځ به څلور پنځه کسان بیهوشه کیدل ګرمی به ډهل
زیا کله به د ګرمی دلاسه یو دوه مړه کیدل، مونږ به ټولی دروازی دخپل بارک
ندی کړی وی ، د څلورو بجو نه به مخکښی د بارک نه راوتلی نشو، په بارک کښی به
ننه هم دومره ګرمی وه چه څوک به د ګرمی نه اوده کیدی نه شو او د هر سړی نه به خولی
سی بهیدلی چه تا به ویل چه اوس د سین نه راوتلی وی ، د شپی به هم ډیره ګرمی
وه لیکن ګرمی سره به ګذاره کیده ، د دغه سیلیٔ نه بچ کیدل ګران وو او ماسره خو
ځان د پټولو هم څه نه وو ، کمبل خو وو ، هغه مو د ګرمی په وجه ځان ته رانژدی کولی نه
شو، نو زه خو به ورته د خدای په تکیه پروت وم ، د پنجاب په جیلخانو کښی د دی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرابه جېلخانه بله نشته ځکه یې سیاسي قیدیانو ته داخوښه کړې وه او دی ته قیدیانو د پنجاب تورې او به ډیلي د کوموملا زمانو نه به چه څه قصور وشو نو هغه یې دې جېلخانې ته رالیږلي وو د ۱۹۲۲ع کال د اګست د میاشتې اخرې ورځې ما ږنګېرې وو زه په خپل بارک کښې ناست یم او ما ته یې یو لفافه راکړه ، لفافه کښې د یو خط وو، چه هغه مې پرانست نو هغه مې د مور خط وو چه کلي نه یې ما ته رالیږلی وو په لیدو یې د ډېر زیات خوشحاله شوم ولې چه زما خپلې مور سره د ډېره مینه وه او هغې هم زه ډېر خوښ وم په هغې خط کښې د دعا او خیریت نه پس لې ما ته لیکلي و چه الله تعالی په تا باندې ډېره مهرباني کړې ده ، تا له یې زوی درکړې دی، د خط ما تا ته د دې لپاره لیکلی دی چه اول تا ته مبارکي درکوم او بیا ستا رائې معل کوم چه هغه له څه نوم کېږدو ځکه چه مونږ دا فیصله کړې ده چه هلک ته به نوم کېږدې .

زه د دې په لوستو نو دهم خوشحاله شوم او د خدای تمامې دوېله او د خدای درکښې مې دا زارې وکړه چه ای الله تعالی زما دا بچی سره د دې نورو بچو نیک او صا لوی کړې ، ښه اخلاق او علم ورکړې او د خپل مخلوق خادم یې وګرزوې ته یې نا حافظ او مل دګار شې او د ظالمانو د هر قسم ظلم نه یې وساتې . نوم مې د ده د پار عبد العلی تجویز کړو او په سباله مې مور ته خط ولیکه او دا نوم مې پکښې ورولېږه ، پرنګیانو حکومت یونا پرسانه حکومت دی ، هر انګریز فرعون او د فرعون په شا خود مختاره دی ، هر حاکم چه هر څه پخپل رعیت باندې وکړل ورسیي پرسان تپوس نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ ملکونو کښې د پرداسې کسانو وچه دهغوی نه دومره تعلیم واو نه یې
دومره مالي حیثیت ؤ لیکن مجسټریټ ورله سپیشل کلاس ورکړي واو دهغوی سره
دغه سلوک واوزه یې په (ج) کلاس کښې قید کړی وم او کال تیرشو ماسره هماغه د (ج)
کلاس سلوک واو چا دی طرف ته فکرهم نه کولو، حالانکه د پرخلک به زمونږه دکتو
پاره د حکومت له خوا اټلل چه د قید یانو حال معلوم کړي او مناسب انتظام ورله وکړي
زمانه د چا فکر نه واو یا یې قصداً نه کولو. په کرمی کښې به غیر زمانه ټولو قیدیانو ته
بصرخملا ستو اجازت و خوزه به یوازی په بارک کښې بند وم یوه ورځ جیلوالوزه دفترته
بللم او وانه یې ووې چه مونږ ستا د پاره دا تجویز کړي دی چه تا د تود ې ورد ی نمبر
ارکړو په دی کښې به تاته دوه فایدې وي یوه دا چه د پله معافي به درکیږ ی شي او
به زر رهاشي و بله دا چه تاته به د بهرخملا ستو اجازت وي ستا کار به نور هیڅ نه
ی صرف د دې سیاسي قیدیانو مشقت ورل او را وړل وی لیکن ما د دې خبرې
انکار وکړو ځکه چه دا زمونږ د اصولونه خلاف و. زمونږ اصول د حکومت سره عدم
تعاون واو دا خو یو قسم تعاون واو دا دیو سیاسي قیدی د پاره لویه د کمزورتیا
خبره وه چه بهر خو به یې حکومت سره امداد نه کوو لیکن چه څه وخت جیلخانې له
راغی نو بیا هم دغه حکومت خوشامند ګر او امدادی شی.

دا یوه لویه ګناه او بد اخلاقي وه. دلاله دوني چند د رهاکیږ و نه څه موده پس
به په ملک کښې انتخابات شروع شو او هغه د پنجاب اسمبلي ممبرمنتخب شو نو هغه
اسمبلي کښې زما متعلق یوه لویه واویلا او شور جوړ کړ او حکومت یې ملامته کړ چه
ماسره ترا و سه پورې د (ج) کلاس د قیدی سلوک کیږی. حکومت جواب ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هغه خو د سرحد قید ی دی ، پنجاب سره یې څه تعلق نشته نو ده ورته په جواب
کښې وویل چه نن ورځ خو هغه په پنجاب کښې دی چه په پنجاب کښې سیاسی قیدیا
سره څه سلوک کیږی هغه دې د ده سره هم وشی . نو په دې پوهه جګړه ولی د پنجاب حکو
مجبور کړو چه یو حکم جاری کړی او زمونږ سپرنټنډنټ ته یې ولیکل چه زما متعلق
سرحد حکومت سره خط وکتابت وکړی ، سپرنټنډنټ صاحب د پرسنبه سړی
سره یې د دېره حملې دی وه هغه فوراً سرحد ی حکومت ته ولیکل ، لیکن هغوی جواب
ورنه کړو او چه ده پری زور ولګولو او یاد ګیرنی به یې ولیږلې نو د وخت تېرولو
د پاره به هغوی څه ګول مول ځواب ورکړو . ولی چه د هغوی مطلب ماله تکلیف راکول
او زما صحت بربادول وو په دې طریقه په خط کتابت کښې ډېره موده تېره شوه
لیکن لاله دونی چند ډېر زور ور سړی ؤ هغه دوی کله په قلاره پرېښوول او د هغه
وخته پورې به یې یادګیرنی ولیږلې چه اخری ځه پری په سپشل کلاس کښې کړم .
دې وخت کښې جیلخانه کښې خبر شوم چه زما د ګرفتاری نه پس زمونږه د اتمانزو ا
سکول طالب العلمانو په ټوله علاقه کښې یو لوی مهم شروع کړی وی کلی په کلی به یې مولود شریف
کولو د پېر خلک به ورته راغونډېدل ، زما ځوی عبدالولی به اول د قرآن شریف تلاوت
وکړو بیا به ده او ماسټر عبدالکریم قومی نظمونه وویل او د هغه نه پس به زما مشر
عبدالغنی د پرسنبه زړه نرمونکی تقریر وکړو بیا به یې خلکو ته وویل چه پښتنو تاسو لږ
فکر وکړئ چه زما بابا دې پیرنګیانو ولې قید کړی دی ؟ د هغه څه ګناه ده ؟ هغه خو نه قتل
کړی دی نه یې ډاکه کړی ده ، نه یې بل څه اخلاقی جرم کړی دی . زما د پلار جرم دا و
ستاسو بچو له یې تعلیم ورکولو او په تاسو کښې د اتفاق او ورورولۍ ، عزیز ولی خواهش

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسوکښې هغه رسمونه ، رواجونه چه پښتانه یې تباه کېدل ، ورک کول غوښتل تاسو پې
د دنیا د مصلحو او قومونو سره اوږه په اوږه ودروئ . دغه گناه وه چه پېرنګیانو هغه قید
کړو اود ( c ) کلاس سخت قید یې پرې ونګولو . اوس مونږه او تاسو ته کار دی چه
هغه کوم کار چه زمونږ دقوم د فایدې دپاره کولوجاری وساتو بلکه ترقی ورکړو . نو
پېرنګیان به پوه شی چه پښتانه رابیدار شوي دي ، وینې شوی دی ، مونږه اوس
په دوی خپل مطلب نه شو کولی اونه یې دباوولی شو .

ددوی ددې خبرو په قوم ډېراثروشو اود سکول سره هرچا امداد ورنه شروع
کړې او سکول ډېره ترقی وکړه ، ما چه داخبری واورېدې نو ډېر خوشحاله شوم
خدای شکر می اداکړو چه زما قربانی بې ځایه او بې فایده نه شوه او ټول قوم محسوسه
کړه چه باچاخان زمونږه دپښتنو دپاره قید ونه تېروي . هرچا په دی خبره
ډېرفکر او غوږ وکړو ، ځکه زمونږ اصلاحی اوتعلیمی پروګرام ته تقویت ورسېدو .

## مذهبی تعصب :

مونږ په دی جیلخانه کښې پنځه مسلمانان وو ، مونږ ډېره موده دجیلو
ملګرو هندوانو او سکهانو له خاطره غوښه نه خوړلې نه وه او نه زمونږه یاده وه لیکن
سیالکوټ نه یو حکیم صاحب په دی تحریک کښې قید راغی نو هغه به غوښه خوړله او
مونږ هم شوق پیدا شو او مونږ هم دغوښې دخوړلو د شروع کولو فیصله وکړه
حکیم صاحب موجیلوالاو له ورولیږه او هغه ورسره تولې خبرې صافی کړې . د
جیلوالا وودا راُ پیروه چه غوښه دی هم په دغه باورچی خانه کښې پخیږی حالانکه
اوو دغه هندو و ، لیکن مونږه داخبره خوښه نه کړه ځکه چه بعضې خلکو د دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت پرهېز کولو د هغوی د خاطره به مونږ په هسپتال کښې خپله کښتوئ پخول
او خوراک به مو هم دلته په بارک کښې نه کولو هسپتال کښې به مو خوړله . مونږ د خپلو
ملګرو خوشحالولو د پاره دا قصه کوله . بل هله خوشحالولی شي چه په ځان تکلیف
تېر کړي لیکن زمونږه بعضی ورونو ددې دومره نا کام او وخته قلارونه کړو او
څه وخت چه مونږ په اوله ورځ هسپتال له لاړو نو هغوی زمونږ برخلاف
پروپیګنډه شروع کړه او ټول سیاسي ورونه یې راته وپېژنول حالانکه دوی کښې
اکثرو غوښه هم خوړه . مونږ چه واپس راغلو نو مونږ ته د سیاسي ورونو د
او خبرونه معلومه شوه چه دوی زمونږ نه ډېر خفه او په غصه کښې دي .
د دوی دا حرکت ډېر ناجایزه منکاره شو . زمونږ د هندوستان په خلکو کښې
دا یو لوی کمی دی چه یو څیز زمونږه په خیال او عقیده کښې خراب وی نو د هغه هم زغ
او برداشت کولی نه شو ، د هرې عقیدی د خلکو نه هم په هغه شان توقع او ارزو
لګه زمونږ چه وي او دې ته فکر نه کوو که چیری دا څیز منع وی نو زما د پاره منع
دی د بل د پاره چه هغه زما د عقیدی نه دی څرنګه منع کېدی شي ؟ د ایشیا د خلک
دا دعوه ده چه مونږه مذهبي خلک یو او صرف په دنیا کښې دلته مذهب پاتې دی لیکن با هر دنیا
خو مره چه زما تجربه ده نو ما ته معلومه شوې ده چه بې شکه د ایشیا په خلکو کښې ما
شته خو هغه مذهب په نوم مذهب دی او د خدای او رسول د س ، هغه ریښتینی
مذهب نه دی ، د ریښتینی مذهب نه دوی ناخبره دي . هر مذهب کښې ازاد
ده ، رواداری ده او لوی نظری ده لیکن دوی تری خبر نه دی او نه چا خبر کړي دي
حقیقت دا دی چه دا ټول اسماني مذهبونه د خدای مذهبونه دي او دنیا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتفاق مینی او محبت او د خدای د مخلوق د آرام او خدمت د پاره راغلي دي. د هر مذهب د پیرو دا فرض دی چه د خدای د مخلوق له منځ نه کرکه او نفرت لیری کړي او مینه او محبت پکښې پیدا کړي او د یو بل سره امداد وکړي خو موږ د دی حقیقت نه چا خبر کړي نه یو – او نه مو ځان پخپله کوشش کړی دی.

ماد تالستای یو کتاب کښې چه شپږ ویشت قصې یې پکښې لیکلې دی دا قصه وستې ده چه یوه چینه ده د هغې نه هر یو محلت له نلکه راغلې ده خو د هر یو محلت خلک په دی نښتي دی چه زموږ د نلکي اوبه پاکی او خوږې دی او د دی نورو نلکو اوبه ناپاکی او ترخې دي. دی ته هیڅوک فکر نه کوي چه دا ټولې نلکي دیوې چینې نه راغلی دی نو ځنګه یوه پاکه او خوږه شوه او نورې ناپاکې او ترخې شوې او اسلام خو دا تعلیم ورکوی چه د مسلمان به په دې کتاب کښې هم ایمان او عقیده وی او په وړاندینیو مذهبونو او کتابونو هم. «والذین یومنون بما انزل الیک وما انزل من قبلک» دا د دی ثبوت دی چه اسلام ټولو مذهبونو سره رواداری غوره کړي ده.

چه کوم ځای زموږ سیاسی ورونه تمول غوښتل ولاړو نوزه ورو ورو ور نژدی شوم او ورته می داوویلي چه دا سوراج خو ماته د بزرګانو ښکاره شو او سوراج به د خه سوراج وی چه هغه کښې هر چا ته د خپلې عقیدې او خیال ازادی نه وي ستاسو په دی نظریه ماله افسوس راځي. که څیری د غوښې خوراک د چا په عقیده منع وی هغه دې خوری او که د چا په عقیده هغه منع نه وی نو د هغه نه خفګان مناسب نه دی. موږ ستاسو د عقیدې دومره مراعات کړي دی چه موږ ته حکومت ویل چه تاسو به په هندی کیه باودچی خانه کښې پخلی کوئ مګر موږ حکومت ته وویل چه موږ غوښه په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باورچي خانه کښې نه پخوو، په بل ځای کښې لي پخوونو زمونږ دغونښې په خوراک ستاسو
خفګان او اعتراض ناجايزه دی. ستاسو دا خيال دهندوستان دسوراج او اتفاق
دپاره موزون نه دی ځکه چه په هندوستان کښې دمختلفو عقيدو او خيالاتو خلک موجود
دي نو که چيرې هر يو قوم خپلې عقيدې او خيال بانلدې نور مجبور وي نو دا به ګران نه شي
بلکه نتيجه به يې ډېره خرابه راوځي او دهندوستان خلک هله د ترقۍ او ازادۍ
معراج ته رسيدی شي چه هر چاله دخپلې عقيدې او خيال ازادي ورکړو او د هيڅ
قسمه ظلم او جبر په چا ونه کړو. زما دی خبرو په اوريدو دوی قهر او خفګان
کم شو او بيا دهغوی هغه اعتراض او خفګان پاتې نه شو.

زمونږ ډېر هندوان او سکهان سياسي ورونه وو چه هغوی دغونښو په خوراک
اموخته وو او ډېر زړه به يې غونښې ته کيدلو، ليکن نور ورونه مجبور وو. زما د سيالکوټ
يو بنلهاری نومی هندو اشناو، ډېر ښه سړی وا او دغونښې ډېر شوقي وچه څه وخت
به مونږه هسپتال ته روان شو نو هغه به پټ ماله چيل کتوری راکړو چه په د
کښې ماله لږه غونډی غونښه راوړه ما به هميشه هغه له هغه کتوری ډک راوړلو او
به په پټه په بارک کښې خوړله. هغه چه به کله نا کله په قار شو نو چلوهستل وا نوته به
ډېر ګنځل کول چه وګوری دوی دخوراک په څيزونو کښې مونږ ته مذهب راوړاند
کړی دی.

مونږ د ټولو سياسي قيديانو شريکه يوه باورچي خانه وه او دا ډېر ښه کار
چه مونږ مسلمانانو هندوانو او سکهانو به يوی کښې ډوډۍ خوړله. تحريک مونږ
سره ورونه کړي وو دا دکانګرس او خلافت برکت و او د هيڅ قسم نه مود يو ب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت نه کوله . یوه ورځ یکښې اتفاقاً د خدمتګار سوال را پیدا شو مولانا محمد اسماعیل غزنوی دا سوال اوچت کړو چه په باورچي خانه کښې یو مسلمان خدمتګار هم په کار دی او د باورچي خانې په خدمتګارو کښې دې یو مسلمان هم وي لیکن هندوان او سکهان په دې کار راضي نه وو او د مولانا برخلاف به یې دا خبرې کولې چه کوډې دې په مونږ کښې بې اتفاقي پیدا کوي ما ورته وویل چه په دې خو به اتفاق او محبت لا زیات شي ځکه چه مسلمان به هم د باورچي خانې په کار کښې شریک شي او ټول کار به په شریکه وکړي . زما دې خبرو ته چا د پر فکر ونه کړو او زما کوششونه څه مفید ثابت نه شول چه څرنګې هندوان او سکهان پخپلو خبرو ټینګ ولاړ وو . هغسې مولانا صاحب هم خپله خبره نه پرېښوه او ورځ په ورځ دا جګړه په زیاتېدو وه زمونږ یو ماسټر صاحب وچه هندو وو هغه خو به ویلې هندوان پاک دی او مسلمانان ناولي دي ، لیکن چه کوم هندوان پوه او هوښیار وو نو هغوی به داوې چه دا د صفایي سوال دی او چونکه مسلمانان صفایي خیال دېر نه ساتي نو په دې وجه مونږ نه غواړو چه مسلمان دې په کیچن کښې کار وکړي . دا قصه جاري وه او ورځ په ورځ زیاتېده او سختېده ، دا خو یو قسم اني وې په اصلیت کښې هندوانو مسلمان خدمتي په کیچن کښې نه پرېښو . یوه ورځ ما خپل ډاکټر ته چه هغه یو هندو وو دوه مشقتیان د خپل بارک چه یو هندو او بل مسلمان د کتو او معاینې د پاره پیش کړل چه ته دا دواړه وګوره چه په دوی کښې کوم صاف او پاک دی ، هندو په باورچي خانه کښې کار کولو او مسلمان زمونږ د بارک جاړو مارو . ډاکټر صاحب په ښه شان هغوی وکتل او د کتو نه پس د مسلمان په حق کښې فیصله وکړه چه دا مسلمان د دې هندو په نسبت پاک او صاف دی او په هندو کښې د ناپاکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وجه سپېرې شوي دي نو ما خپلو هندوانو ورونو ته ووې چه د ډاکټر صاحب په فیصله کښې څه وایئ ستاسو د صفائي د پاره خو هم پاتې نه شوه. لنډه دا چه د ډېر کشمکش نه پس اخر په دې فیصله وشوه چه یو مسلمان دې هم په باورچي خانه کښې کار کوي او د هغه به صرف دا کار وي چه مونږ په کومو لوښو کښې ډوډۍ وخورو هغه به اوچتوي او وینځي به یې او په دې طریقه دا مسئله ختمه شوه.

د هندوانو د دې قسم خبرو او رویې په ما هم اثر وکړو او زما زړه چه په هغه کښې د خدای د ټول مخلوق سره یو شان مینه محبت وه نا څه فرق پکښې پیدا شو. یوه ورځ ما خپلو ورونو سره خندل چه زه دلته صاف زړه راغلی وم او هغه هر څه کړي. او نفرت نه پاک و او هیڅ قسم داغ پکښې نه و لیکن ستاسو په صحبت چه نن زه ورته گورم داغدار شو. مذهب خو دنیا ته د دې د پاره نه دی راغلی چه خلکو په منځ کښې نفرت پیدا کړي. بلکه مذهب خو د مینې محبت علمبردار دی بله عجیبه خبره مې دلته دا ولیده چه په گرمي کښې به تقریباً ټولو هندوانو زما د منګي یخې اوبه څکلی او هیڅ باک به یې نه کولو لیکن یخني کښې به یې ترې پرهیز کولو او زما منګي ته به نه رانږدې کېدل حقیقت دا و چه په گرمي کښې به ما د دې خپل منګي نه کپړه چاپېره کړې وه او ساعت په ساعت به مې هغه لمدوله باد به لګېده تو هغه اوبه به یخې وې ما خو به دا خوارې کوله او دوی نه دومره خوارې کېدلی نه شوه.

مونږ په جیل کښې وو چه بهر چېرته یو هندو د پیغمبر اسلام (ص) په شان گستاخي کړې وه نو یو مسلمان راپاڅېد و هغه یې قتل کړو. هندوان د هغه هندو ملګري شول او مسلمانان د هغه مسلمان او په دې بانډې ټول ملک کښې یوه هنګا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه شوه او دازادی اوقومي تحریک نه دخلکو توجه فرقه داریت ته وګرځېده تردی
وخته پورې چه دقومي تحریک د وحدت دپاره خوموږ کوشش نه شوي وو، هغه په پېښ
هو شول . په کارخو داوو چه څوک غلط کاروکړي نو ټول هغه ته غلط ووايي نه سړی توب
مذهب نه انسانیت، نه شرافت، نه اخلاق داوايي چه موږ د غلط کار او غلط
سړي ملګري شو د هرچا خپل مذهب دی او خپله عقیده ده، یوسړی داسی کار ولی
کوي چه دبل مذهب اوبلې عقیدې خاوندپرې خفه اوغصه شي حالانکه هیڅ
مذهب ددې اجازت نه ورکوي . دانن چه دهندوستان اوپاکستان هندو او
مسلمان دنفرت په لوی عذاب کښې ګیر دی نو ددې هم دا وجه ده . تاسو دی خبرې
ته هم فکروکړئ چه هندوستان کښې دغوا اوجماعت په سرفرقه دارانه فسادونه پېږ
ېږي او زموږ شریک دښمن دا حربه زموږ دقومي اتحاد خلاف استعمالوي
په سړي دی ته وګوری نو حیران شي چه یو ښه وینې او بینا بنیادم دغوا په حلاله بل ګڼي
بل بنیادم ووژني یعنې د بنیادم حیثیت او حقیقت دیوې غوا لاځنا ورنه هم لاندې
او غیرضروري دی او دې بل اړخ ته دخدای دکور په خوا کښې دتبریل ونکی جلوس
د ولکی او سرنا اوازدومره لوی جرم دی چه هم د دغه درحمان او رحیم خدای په پاک
نه دهغه دمخلوق انسان په مری چاړه رابنکل کېږي . ددی واقعاتو نه فسادونه
ورشي، کوروونه تالاشي، ماشومان یکښې وسېزلی شي او دا هرڅه په دې جذبه
کېږي چه دخدای پاک د دالېږلی دین خدمت کېږي . په دی سلسله کښې ماته
یوقصه رایاده شوه زموږ دکلي دخپلی کورنۍ یومشر دخپل ورارهٔ دلاسه دخپل
کلي په جومات کښې دلمانځه دپاسه په سجده قتل کړی شوی وُ تفتیش له پولیس راغی
او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس کپتان پیرنګي و هغه جومات ته بوتلانوسره ننوتو هلته ولاړ بوسري دوته وویل
« صاحب ! بوټان وباسه جومات دی » پیرنګي ورته ووې چه ستاسو په زړه کښې
دخدای دکور هم صرف دومره احترام دی چه پیزار سره پکښې نه ګرځئ او دهغه خدا
پیدا کړي مخلوق پکښې هم دهغه دوراندې په سجده کښې پروت وزنئ ؟ دا ستاسو
عجیبه مذهب دی او عجیبه تعلیم دی .

دهندوستان دپر عجیبه مخلوق دی دوی پیرنګیانو دخپل تکبر او فرعونیت
په وجه دځان نه خفه کړي دي او بخپله مقابله کښې ودرولي دي خکه چه زمونږ بادرګ
چه به کله یو پیرنګي دمعاینې دپاره راغی نو یوه عجیبه تماشه به وه مونږ کښې به دهر
کس داکوشش وچه په خه چل او خه طریقه به دی خپل ځان طرفته مایل کړم او چه ا
به هغه مونږ طرف ته خپل رغبت بنکاره کړو او خه لږ . ې خبری به یې راسره ښې وکړې
نوچه دوباره به راتلو نو لا بارک ته به رادننه شوی نه و چه مونږ به ورته لاس په نامه و
وو لاس به موورته جوړه کړي وو سلام به موورته کول او مسکی مسکی به ورته کیدو
او داعادت خاص زمونږ په انتیلیجنشیا یعنی زمونږ په تعلیم یافته خلګو کښې لا ډیر
و . زما یو مهربان چه دلایلپور وو زما دجیلخانې استاد ؤ او یولوی وکیل و
ماسټر کوردت مل نومیده او هر وخت به یې سیاسی کتابونه لوستل د پرعالم او
سړی ولیکن چه یو ځل به کوم پیرنګي ورسره ښې خبرې وکړې نو بیا به یې دی پتنګ
و . هغه یوه ورځ ماته دخپل قید دلایلپور دجیلخانې قصه کوله چه زه به یې په او
باندې حیران شوم مابه په زړه کښې وې چه دهندوستان څومره ښه خلک دي
دوی دپیرنګیانو سره څومره ښه محبت دی دهغوی زور او ظلم او بد سلوکی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړومخې ته وړ دېږي نه او نه یې محسوسوي . هغه غریب ، بې ګناه دپیټي کمشنر دوه کاله قید کړی وليکن بیاهم دی د هغه نه خوشحاله و د هغه برخلاف یې په زړه کښې څه نه وو بلکه همیشه به یې ماته د هغه صفت کولو چه هغه بېچاره د پښه سړی دی او دده ښه سړیتوب وجه داوه چه څه وخت یې دی قید کړو نو هغه یوه ورځ جیلخانې له راغلی و او دده پوښتنه یې کړې وه او دده په مخکښې دومره ویلي وو چه دوکیل صاحب چکی موسپینه کړې ولې نه ده ؟ په دی دومره خبره دی خوشحاله و بلکه د هغه احسانمند و او چه څومره ده سره ظلم او زیاتي شوی و هغه ټول هېر و . هغه به کله ناکله په فخر دا قصه ماته کوله چه د پیټي کمشنر جیلخانې له راغی نوزما پوښتنه یې وکړه چه هغه کوم ځای دی بیامالره راغی جیلوالو ته یې وویلي چه دده چکی موسپینه کړی . نه ده داسپینه کړې . ما به ورته ویلي چه ماسټر صاحب ته یې بې ګناه دوه کاله قید کړې یې او د ډیره غازی خان غوندې ګنده جیل ته دالېږلی یې او مالي نقصان پرې علاوه دې ته فکر نه کوې او چکی سپینول در ته یاد دی .

ما به همېشه خپلو سیاسیانو وروڼو سره خندل چه ستاسو مطلب سوراج نه دی بلکه ستاسو مطلب دادی چه پېرنګیان دې مونږ هم ځان سره په حکومت کښې شریک کړي او څه لږه غوندې حصه دې یکښې راکړي .

## لاهور جیل ته دوباره تګ :

زما دغښتو نو مرض ورو ورو بیا په زیاتیدو شو ما ته یوه ورځ داروغه صاحب د سپرنټنډنټ په مخکښې داخبره وکړه چه نن سبا جرنیل صاحب بیا په دوره باندې دلته راځي ته د خپل مرض حال هغه ته ووایه او عرض ورته وکړه چه تا د علاج د پاره بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلاهور جیلخانې ته ولیږي لیکن ما ورله دا جواب ورکړو چه جرنیل صاحب ته د هیڅ
قسم عرض معروض نه کوم ځکه چه زما اصلي ذمه دار سپرنټنډنټ صاحب دی او که
چیرې زه څه وایم نو ده ته به وایم. سپرنټنډنټ صاحب هم زما د خبرې تائید وکړو
او په جواب کښې یې دا ته وویل چه د جرنیل صاحب د دورې پس به زه تا لاهور ته ولیږم
هغه زما د پاره ولیکل چه زه دې د علاج د پاره لاهور ته بدل شم او زر تر زره حکم راغی
او زه لاهور ته روان شوم. داخل زما تلل په پته نه وزه تولو سیاسي ورونو سره یو
ځای شوم او په خندا خوشحالي سره ترې رخصت شوم او په خیریت لاهور ته ورسیدم
د ور رسیدو سره یې زه خپل زوړ اشنا داروغه خیرالدین خان ته پیش کړم ولې چه مخکښې
علاج د پاره راغلی وم ده سره مې کیده کاته شوی وو. هغه زما نه پوښتنه وکړه چه ته د
علاج د پاره د ډیره غازي خان جیلخانې نه راغلی یې او پس د هغه نه یې زما صندوق
او بستره ایساره کړه او خپل اردلي یې ما سره کړه چه ما هغې احاطې ته بوځي چه کومه ځای
د سیاسي قیدیانو د پاره مقرره وه لږ چه مونږ وړاندې شو نو زما خیال دا و چه ما به
هغه ځای له بیایي چه مونږه مخکښې وړاندې وو چه مونږ لاړو نو ما یو وړوکې غونډې
دروازه ولیده د هغې په خوا کښې یو قیدي نمبردار ولاړ و نو چه څه وخت مونږ دغې دروازې
غونډې دروازې ته نزدې شو نو د داروغه صاحب اردلي هغه ته اشاره وکړه او هغه
فوراً ور پرانیسته او زه هغه ځای ته ور دننه شوم هغه ځای ډېر وړوکی او تنګ و زما
لا په دې فکر کښې وم چه دننه کوټه کښې مې اغا صفدر او ملک لال خان په نظر شو د هغې
په لیدو وانه هر څه هیر شو او زه ډیر خوشحاله شوم چه ښکلوی د ګپ شپ د پاره هم
ملګري بیا مونده. لاله لاجپت راې او د هغه سره یو بل هندو لیډر هم په دې بارک کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست وچه څه وخت ورد ننه شوم هغه ټول را پاڅېدل او په مینه محبت یې ما سره ستړي مه شې وکړل. د دوی په ملاقات زه نو ډېر خوشحاله شوم، زمونږ داځای دومره تنګ وچه مونږ پکښې ګرځېدلی قلارې نه شو او نه مو پکښې د څه قسم ورزش کولی شو. او بله داچه د ورځې خو به مو څه نه څه ګذاره کېدی شوه لیکن د شپې به مونږ ته ډېر زیات تکلیف و ځکه چه هوا پکښې بالکل نه لګېده د ګرمۍ د لاسه به پکښې مونږ پوره خوب کولی نه شو. ټوله ورځ تېره شوه او ماښام شو لیکن زما بستره او صندوق را نغلل او د شپې چه څه وخت ماله یې ډوډۍ راوړه نو هغه د سپیشل کلاس نه وه بلکه د ( c ) کلاس خوراک و. ما خپلو ملګرو سره د دې خبرې ذکر وکړه چه زه خو د سپیشل کلاس قیدی یم ما سره ولې د ( c ) کلاس سلوک کېږي لیکن هغوی زما په دې خبرو کښې څه دلچسپي وانه خیسته او په هغه د غم کښې یې تېره کړه زه هم چپ شوم لیکن داخبره زما په زړه کښې نه ځائېده چه بغیر د څه قصور نه جېلوالا ما سره ولې د دې قسم سلوک کوی. ما څه کولی نه شو او نه ورته زه خپلو ملګرو پرېښودم هغوی هم زما د پاره قدم اخیستو ته تیار نه وو. زما بستره او صندوق راغلل بیا هم چه زما په صندوق کښې د خوراک څیزونه وو هغه را نغلل د هغه په باره کښې دا خبر راغی چه هغه به په دفتر کښې ... وت وي او د ضرورت په مطابق به تاله درکېدی شي. د دې مطلب دا وچه د نیمې نه ... ات به جېل والا خوري. جېلخانه ډېر یو عجیبه ځای دی، د ښو دوله پاره یې یو قانون ... جوړ کړی دی، لیکن په حقیقت کښې قانون نشته د داروغه او سپرنټنډنټ خوله قانون ... ی او هر څه چه غریب قیدی سره هغوی کوی هغه کېږي. د ډېره غازي خان جېل کښې ... وراک څیزونه ځان سره کېښودل جایز و او دلته ناجایز شو او دا خبرې څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبښتیا وو له وروستی هم نه شي خلکه چه دکمزوری او د زورور معامله ده ګکړي
او شو مبنې قصه ده . بلیه ورځ خیرالدین خان زمونږ . باړک ته راغی ما ورته ووې
چه زه افسوس کوم چه دا دومره ورځي تا ماله به غیر د څه وجهې تکلیف راکړو هغه دا ته بې
جواب کبنی داووې چه ستا وارنټ سره دمجسټریټ دسپشل کلاس د تصدیق چینه
نه وه نو مونږ . څنګه دا یقین کړې وای چه ته په رښتیا په سپشل کلاس کښیې ی ماورته
چه اخر زما په تکټ دسپشل کلاس تصدیق دغازی خان دسپرنټنډنټ دطرف
شوی دی هغه جواب راکړو چه دا زمونږ . دتسلی دپاره کافی نه وماورته ووې چه دلته
اول خوهم راغلی وم او تا لیدلی وم هغه وخت خو ماسره صندوق او بستره نه وه او نه
خپلی جامي اغوستي وې نو بیا دا شیزونه ما څنګه راپیدا کړل ؟ هغه جواب راکړ
زمونږ . خیال وچه هسی دا ورته چا په لاره کښی ورکړی دی . زه پوه شوم چه ده
بحثی شروع کړې نو ما دا خبره پرېښوده . مقصد دادی چه دچل والا ویو عجیب
قسم عادتونه وي هغوی هیشه په دی فکر او کوښښ کښی وي چه په څه طریقه به
خدای مخلوق ته تکلیف ورسوو . داتولې خبری زما دملګرو په مخکښی وشو
لیکن هغوی بالکل خاموشه وو .

هر کله چه زمونږ . دادعوه ده چه مونږ . به حکومت سره تعاون نه کوونو
دامناسب دی چه په جیلخانو کښی هم هغه حکومت سره تعاون او ملګرتیا و
دحکومت سره تعاون او ملګرتیا خو په هیڅ شان زمونږ . دشان سره جایز
ده او بیا دخپلو ملګرو برخلاف او داسی ملګری چه دخدای دپاره ېلي مونږ .
دقوم او ملک . دخدمت دپاره ملا تړلي ده . ځو ورځي پس زما دغامنونو دکتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم هغه د ینتل سرجن راغی زما د غاښونو او اورو په لیدو خوشحاله شو او ماته یې مبارکي راکړه چه غاښونه دې بېچ شو. زما د ژامې یو غاښ یې وایستلو او نور غاښونه یې راله په ښه شان صفا کړل او نوی دارو یې د پوړې کولو د پاره راته ورکل د تلو په وخت کښې یې دا روغه صاحب ته وویل چه شلور ورځې پس به بیا زه د غاښونو کوم او زمونږ نه رخصت شو.

## مطالعه:

مونږ په جېلخانه کښې د قرآن مجید درس شروع کړي وو او د سحر د لمونځ نه پس به تقریباً دوه، درې گېنټې د قرآن په تلاوت کښې مشغوله وو. شلور کسان وو او مونږ سره څلور قسمه تفسیرونه وو، د شلورو وارو ترجمه به مونږ په ښه شان اوویله او بیا به مونږ ې ښه غور او فکر کولو لو کله نا کله به مو خپلې خپلې رأیې هم ورکولې چه څه وخت به مونږ د قرآن درس شروع کولونو دا مو فیصله کړې وه چه هغه ټولې خبرې او قصې چه دوره کوالي نه مونږ اورېدلي دي او زمونږ په زړونو کښې ناستې دي هغه بالکل د زړه نه اویستل په کار دي او په یو صاف زړه د قرآن شریف په مطالبو او تعلیم باندې غور او فکر کول په کار دي او د هغو په اصلي معنو او مفهوم ځان پوهول په کار دي او د اعله کېدې شي چه مونږ د خپل زړه نه هغه ټولې خبرې او قصې لرې کړو او که چېرې داونه کړونو بیا د قرآن په حقیقت رسېدلې نه شو ځکه چه مونږ ځکښې د هغه متعلق یوه رأیه قایمه کړې ده. دې خبرې مونږ ته ډېره فایده ورسوله او په دې طریقه مونږ د اسلام د خوبو او ښېگړونه په ښه شان سره واقف شو. ورځ په ورځ زمونږ شوق زیاتېدو ولیکن ملک لال خان غریب چه هغه د خپل زړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دهمونه لیری نه کړی شو، زمونږ سره ونه چلیدی شو او بوخو ورځی پس هغه په
درس کښی شرکت پرینښود . مونږ یوځل قرآن کریم ختم کړو او بیا دوباره مو بیا شروع کړه
کومه مزه لطف او علم او پوهه چه ددی درس نه ماته حاصله شوه زه د هغی بیان کولی
نه شم . زه د قرآن په خوبو سنه پوه شوم ، د اسلام د تعلیم نه خبردار شوم او د مذهبی
په حقیقت ورسیدم ، د درس نه علاوه اغا صفدر صاحب به مختلفو مضمونو باند
خه نوټونه لیکل هغه به هم ماکتل او بیا به می پخپل نوټ بک کښی ځان سره نقل کول او
د مولونه زیاته د فایدی خبره زمونږ د شپی تبادلهٔ خیالات و . ورځ به په خه طریقه
تیره شوه لیکن په دی ځای کښی شپه تیرول ډیره گرانه وه ، و بیه دی طریقه به موځیل
وخت تیرولو . خه ورځی پس ولی او محمود زما د ملاقات د پاره راغلل د ملاقات په
وخت کښی راته دویل چه هغوی عبدالولی موکاته بیا لي چه د سترګی اپریشن لي دکړی
ماچه د هغه سترګی ته وکاته نو د هغی هغه داغ د اول نه ډیر زیات شوی و او په دی
می زړه ډیر خفه شو او د دې ماشوم په حالت می ډیر افسوس وکړو لیکن بغیر د افسو
نه ما بل خه کولی شو؟ زه چه خه وخت قید شوم نو ما ډیر خطونه کلی ته واليکل چه د ولی
د سترګي غور وکړئ او موکاته لی ولیږئ لیکن د ولی غریب په حالت چا غور ونه کړو او ن
چا د هغه سترګی ته فکر وکړو او په دې کښی یو نیم کال تیر شو او خه وخت چه د هغه مرض
په زیاتی شو نو بیا بي هغه موکاته را ولیږه لیکن دې تلو هغه ته خه فایده ونه رسوله
غفلت په سبب د هغه یوه سترګه بی کاره شوه او دا داغ زما د زړه نه لیری نشوی
هر وخت چه ماته د ولی سترګه رایاده شی نو زړه می ډیر زیات خفه شی.
ولی د وی سره چه ما خه وخت ملاقات ختم کړو او هغوی رخصت شو او زه بېرته را

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هغه نایب داروغه چه چا زمونږ ملاقات کړی و د لاسه ونیولم او یو سړی له بوتلم چه هغه
له هم خپل خپلوان ملاقات له راغلی وو. داروغه راته ووې چه هغه هم ستاسو د ډلې دی او
ستاسو د علام تعاون ورور دی او دی دیوکال د پاره په ضمانت کښې جېلخانې ته راغلی
دی او دهٔ د سرجان لارنس بُت چه په یو لاس کښې یې توره ده او بل لاس کښې قلم دے
د ماتولو د پاره تلی ولیکن کامیاب نه شو او گرفتار شو ځکه چه د ده دا خیال و د ابت د هند
ستانیانو د پاره یو لوی د بې غیرتۍ څیز دی او په دی وجه د هر هندوستانی فرض دی چه
دا مات کړي. ما ورته ووې چه دا خو ډېر غیرتی سړی دی او دا خو یې یو لوی د غیرت کار
کړی دی هغه ووې چه بې شکه کار خو یې د غیرت کړی دی لیکن اوس بې غیرته شوی
دی یوه هفته یې لا په جیل کښې پوره شوې نه ده لیکن بیا دې حالت ته رسېدلی دی
چه شپه او ورځ ژاړی او چغې وهی چه په هره طریقه چه کېدی شی ما د دې قید او بند نه
باسئ. نن ورله مونږ خپل خپلوان د ملاقات له پاره راغوښتی دی دا ځه وا وره چه
ورته څه وایې. دی قیدی غریب هغوی ته لاس ونه جوړه کړی دی او ډېر په عاجزۍ هغوی
ته لګیا و چه په هره طریقه چه وې زما ضمانت وکړئ او ما د دې بلا نه وباسئ. په دې
کښې پړی دی داروغه آواز وکړو چه اوس یوازی په ضمانت وتی نه شی بلکه معافی
ورسره هم غواړې نو بر ډېر غریبی یې جواب ورکړو چه معافی ورسره وغواړم نو بیا
مې پرېږدئ هغه ووې چه هو. ده وی ښه ده معافی به هم وغواړم نو ما پړی آواز
وکړو چه پوزه به هم راکړې نو وې چه ښه هغه به هم راکاږم نو بیا می ورته ووې
چه یوازی پوزه را ښکلوبه کار و نه شی دې سره به د اوبښ پل هم جوړوې وې چه هغه
څنګه وی؟ نو ما ورته ووې چه ذاسی خاودې به راغونډې کړې نو بیا به داسی داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروبه نور هم وکړي نو هغې غریب وي چه منبه ده دا به هم وکړم خو چه د دې جیل نه بهر شم
د دې په اوږدېدو ما د پېروخندل اوزه ترې روان شوم . ما په زړه کښې روکې چه داسې
جنډ باتیان ځوانان وي او د اېي همت وي نو مشکله ده چه هندوستان ازادشي یا د پیرنګیانو
نه څه نه څه حصه په حکومت کښې واخلي . دا قصه مې لاله لاجپت راى او اغا صفدرته هم
وکړه او لاله جي سره مې وخندل چه په پنجاب کښې د دې قسم ځوانان شته دې نو امید د
چه تاسو د پېرزر سوراج حاصل کړئ او مونږ ټولو به دې خبره افسوس او کړو چه سره
یو کار کولی نه شي نو هغه ته دې ملا نه ترې ، او د داسې کولو نه نه کول بهتر وي . زمونږ
ځوانانو له به کار دی چه هر یو کار شروع کوي چه په هغه د پېر فکر کوي د هغه په ټولو تکلیفو
باندې په منبه شان غور کوي که چیرې هغو ټولو تکلیفونو ته تیار دي نو هله دې هغه کار
ملا و ترې او که چیرې دا تکلیفونه تېرولی نه شي نو منبه به داوي چه په ارام کور کښېنې
او دعا کوي ځکه چه د ده بزدلي قومي مقصد ته نقصان ورکوي . اګر چه زه دا وخت
کانګرس کښې نه وم ، په خلافت کښې قید شوی وم ، صرف زه او لاله جي په سپیشل کلاس کې
وو لیکن هغه ته د ورزش د پاره په ټوله جیلخانه کښې د سحرا وماښام ذکر ځېل وا
وا و ماته نه و . هغه به په کټ کښې څملاسته او زه په ځمکه . نور هم هغه ته د پېر رعایتو
حاصل وو . جیل والا به یې د پېرې خوشامندی کولې . په هفته کښې به یې یو ځل ملاقات
کولو خلکو به ورله قسم قسم میوې راالېږلې په جیلخانه کښې ورته د هر قسم ارام و . مونږ
یو داسې تنګ او ځان له ځای کښې قید وو چه مونږ هیڅ د دنیا له حاله خبر نه وو نه
مونږ ته څوک راپرېښودل او نه مونږ ته د دې ځای نه د وتو اجازت و . په دې
مونږ د نورو قیدیانو د حاله نه خبر یو چه هغو غریبانانو سره د څه قسمه سلوک ک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن زموږ د احاطې په دروازه کښې یو سوری وچه د هغه نه بهٔ موږ ته د قیدیانو
یوه تنتنه ښکار یله سحر به تری په سوونو قیدیان چاپېره وو. دا یوه ډېره عجیبه
نظاره وه چه ددې په لیدو به هر سړی غمجن او حیران وچه دې خوارانو سره د دې
قسمه ذلیل سلوک کیږي لیکن موږ هیڅ دهغوی څه مدد کولی نه شو. ما به کله کله
لالاجي ته وې چه که خیر وی او هر کله بهر ته ووتې نو ددې خوارانو د پاره په اخبارانو
او په اسمبلی کښې څه نه څه ایجی ټیشن وکړې ولې چه دوی ډېر مظلومان او بې اسرې
دي یوه تنتنه وه چه په هغې کښې شاید د ناستې د پاره پنځه یا شپږ ځایونه وو او
ددې د پاره دری د لې قیدیان وو د هر یو سړي په سر به ډېر ،څلور کسان ولاړ
و چه کله به دی پاڅې چه زه کښېنم، بل طرف ته سپاهیانو او نمبردارانو هم زور
کولی وچه شاید نه شي ! او که چیرې یو قیدی به لږ زیات وخت تیر کړو نو بیا به د
هغه خیر نه و دیو طرف نه به پرې سپاهی راغی او د بل طرف نه به پرې نمبردار او هر څه
یې پری او د سکور کړل. لنډه دا چه یو ډېر د شرمند کی حالت و موږ تولو به دا خبره
محسوسوله او د قیدیانو دی قابل د رحم حالت سره زموږ د ټولو همدردی وه
لیکن افسوس دی چه موږ دهغوی هیڅ قسم امداد کولی نه شو زموږ یو پښتون
مشقتی و هغه ډېر یوه عجیبه قسم سړی و تقریباً اووه کاله قید یې تیر کړی وا و ډېره
معافی یې اخیستی وه اکثر د قید حصه یې په ډېرو تکلیفونو او مصیبتونو کښې
تېره شوې وه لیکن ددی نه یې هیڅ قسم عبرت اخیستی نه و سړی دومره خراب
نه و لیکن هغه نه چه دا هر څومره تکلیف رسید لی و د ژبې دلاسه یې و. ژبه یې
په واک کښې نه وه. ما چه به ورسره هر څومره سرخوږی کړو او هر څومره به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه کړو لیکن په هغه یې د هیڅ قسمه اثر ونه کړ او چه څنګه نا پوهه وهم هغه شان
نا پوهه پاتې شو . د دې ټولو خبرو د پاسه یوه ورځ ماله راغی او ما ته یې ووې یوه چیټی
کلی ته لیږم ، مهربانی وکړه په تابانده یې لیکم ما په ډېره خوشحالی قلم ، مشواڼی
او کاغذ راواخیسته . د سرنامې نه پس مې ورته ووی چه وایه څه ولیکم ؟ راته یې
ووې چه ولیکه ، زما دښمنان خبر کړه ، خوشحالی دې نه کوی لږ ی ورځې راپاتې
دي او که خیر وی زه یو ځل د ږ ورسیږم او د بند نه خلاص شم نو تا سو سره به یو ځای
شم نو د به راته په کلی کښې ونه کړ ځئ . د دې په اوریدو زه ډېر زیات حیران شوم چه
زما د کوششونو او نصیحتونو ایله دا نتیجه شوه . څه ساعت پورې خوچپ وو بیا مې
ورته ووې چه زما ټولې خبرې تا هېرې کړې ، او په یوه دی هم عمل ونه کړو ! ده راته
ووې چه عمل مې پرې کړی دی خو د دوی پلان میدان کړی د وی زما په قید خوشحاله
کوی . ما ورته بیا خپل بیم وغوږ ولو او دا مې ورته ووې چه اوس دنیا بدله شوه مونږ
له هم بدلیدل په کار دي د دی خبرو زمانه تېره شوه ته نه ګوری چه هندوان ، سکهان
او مسلمانان په کور کښې ورو نه مشو او دلته که په سوونو داخلک قید دی تا ته معلومه
ده چه دا په څه کښې قید شوی دی ؟ ته خولې وینی او د دی نه هم څه سبق نه زده کوی
هندوا و مسلمان خو په کور کښې ورونه کیږی او مونږ پښتانه دیو بابا زامن ، یو قوم
یو وینیو ، زمونږ دې دا حال وي ؟ سړی مې د دو دوو داخنی کړې او راته یې د
ددو سره خو ځو او وې وې چه ښه دا خبری به زه نه لیکم . هغه غریب ته زه ډېر
نه کوم ولی چه په دی ماحول او په دی خبرو کښې هغه لوی شوی دی ، سپین ږیری
شوی دی او دا ټولی خبری د هغه یو قسم عادت ګرځیدلی دی نو عادت پرېښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سان کار نه دی د دی خبرو د اصلاح د پاره د بهرکار کول په کار دی او پښتنو غریبانانو
ښی نه داسی خلک پیدا شوی دی او نه یکښی چا داسی کار کړی دی او نه دوی چا
سی پوه کړی . دی چه مونږ د دوی نه گیله وکړو . ما روژه دلته تیره کړه او د روژی نه
ن پی بیا د دی جیلخانی نه واپس د ډیره غازی خان جیلخانی ته بدل کړم .

## دلاهور جیل نه بیا ډیرهٔ غازیخان ته :

باوجود د دی دومره تکلیف او پریشانی نه چه دلته ماته وبیا هم زه پخپلو بدلیدو
دی د بیرخفه وم ، ولی چه دلته ماته د لاله لاجپت رای پرشان او د هغه د یو ملگری
اغا صفدر او لال خان په شان سوسایتی او ملگرتیا حاصله وه او هغوی سره زه
پرخوشحاله وم او د هغوی سره د تبادله خیال نه ماته ډیره فایده حاصله شوی وه
بل د قرآن درس او بل د اغا صفدر په شان یو عالم او روشن خیاله سیاستدان
ملگری هم زما په جدایی ډیر غمجن وُ لیکن څه کیدی نه شو ، زمونږ واک خو د بل و
خرهغه وخت راغی چه دیو بل نه جدا شو . پولیس به ډیو دی کښی زما انتظار
ر . زه چه ډیوډی ته راورسیدم نو جیل والو زه پولیس ته حواله کړم او زه د پولیس
ع د ډیرهٔ غازی خان جیل ته روان شوم . دوی پیاده اول پولیس لائین ته او
ستیشن ته بوتلم . د ډیرهٔ غازیخان د جیل د اقانون وچه دا روغه پولیس ته وی
ده ته انگریزانو حکم نشته او پولیس لری دلاهور ستیشن نه دلاهور جیلخانی
ی کوا یه هم ورکړی وه او دلته د خیرالدین خان حکم وچه انگریزهم ورته ونکوی
مسلمان وا و د ډیرهٔ غازیخان داروغه هند و وه وخت چه مونږ ستیشن ته
سید و نو ما بنام وکا دی تیار رو او په کا ډی کښی سواره شو او سبا په تکنه د تکنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه زمونږ ګاډی د شیرشاه سټیشن ته ورسیدو. د اپولوی جنکشن د
او د لته د پېرهٔ غازی خان د پاره ګاډی بدلول غوارډی. مونږ چه د ګاډی نه کوز
د پرګنهی وه پولیس والو زما اسباب اوچت کړو او ویټنګ روم ته روان شو، ما ت
هم اواز وکړو ته یې هم ویټنګ روم ته د ننه کړم. یوه ارام کرسی پرته وه هغې ما
سمه کړه او زه په هغې کښېناستم. زه به د دی پولیس د سپاهیانو د خل مت
شرافت څه ذکر وکړم. په ګاډی کښې تول شپه په ارام و بیده وم او هیڅو ک
یې نژدی راته را پرینبې نه دی. د هر قسم زما د ارام فکر به یې کولو ویټنګ رو
ته چه ننوتلو نو په دغه وخت کښې د اواز مو تر غوږ ته شو چه د ننه پیر صاح
اوده دی چه څه وخت مونږ ور د ننه شو نو پیر صاحب ته یو شیخ باد پکې را ښکه
هغه د لاندی دوه کټونه پراته وو په یو کښې پیر صاحب او په بل کښې د هغه ور
څوی اوده وه څوک په کرسو او څوک په فرش پراته وو نو زه ورو غوندی
هغه ارام کرسی کښېناستم ما باندی هم ښه باد لګیدو، د لږ ساعت د پاره
سترګی پټی شوې چه ما سپینبین شو او مونږ تول د لمونځ له پاره راوینبر
نو پیر صاحب وکتل چه پولیس والا ماته لاس په نامه ولاړ دی د هغه په ما
شک راغی چه دا څوک پولیس لوی افسر دی په دی وجه یې زما طرف ته څ
او محبت ظاهر ولو او ورو ورو یې ما سره خبری هم شروع کړې د هغه د زو
زوی ما سره د پېره مینه پیدا شوه ما نه به نه جدا کیدو. په خبرو خبرو کښې
زمانه پوښتنه وکړه چه ته سرکاری نوکر یې، ما ورته وویل چه نه! ده راته و
چه نوکر نه یې نو بیا د اسپاهیان تا سره څه کوي؟ ما ورته وویل چه زه قیلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ېر دی وجه داسپاهیان ماسره دی . نوده راته ووې ددوی سلوک خوتاسره د
قیل یانو په شان نه دی ماورته ووې چه هغه شان قیلدی نه یم ، زه سیاسی قیلدی
یم او په خلافت کښې قید شوی یم . ددې په اورېدو سره پیرصاحب فوراً بدل شو
وماطرف ته یې رغبت کم شو . د تحقیق نه راته معلومه شوه چه دا د تونسې یو ډېر
وی پیر دی او په ټول هندوستان کښې په لکونو مریدان لري او په زرگونو روپۍ په
شکرانه کښې ورله راځی مونږ چه لمونځ وکړو او بهرته راووتلو ، د پیرصاحب زوی
چه د ډېر ماشوم وخوزما په مینه محبت داسی مبتلا شوی وچه هغه هم مونږ سره راووتلو
د تیسن خلک خبر شو چه دا خو د خلافت مشران راغلي دي نو ټول خلک مونږ ته
راجمع شول اوزمونږه د زنده باد چغې شوې . پیرصاحب چه وکتل دده هغه ماشوم
زوی زماسره دی یو مرید یې ورپسې راولېږلو هغه ماشوم ته یې د ډېر وویل خو ماشوم
زماخواته رانژدې شو او دده سره د تلو نه یې انکار وکړو . شیخ لاړو او پیرصاحب ته
یې داقصه وکړه پیرصاحب ورته ووی چه ورشه او په زوره یې راوله شیخ راغی او هغه
ماشوم یې زما د غیږې نه وشوکاو او په زور یې په ژړا بوتلو . د کاډې تلو ته لا وخت ؤخو
پیرصاحب د خپل زوی سره راپاڅېدو لاړ او په ریل کښې کښېناستل . اخر داچه ماز یگر
شو ریل راغی او مونږ پکښې سواره شو ماسختن غازی کاټ ته ورسېدو . په غازی
کاټ کښې مو دسین په غاړه شپه شوه په سباله داتوار ورځ وه او داتوار په ورځ
جهاز بند وي او خوک پورې وتی نه شي . لیکن یو موټر بوټ چه په هغه کښې ضروری
ډاک پورې باسی زه یې هم په هغې کښې پورې ویستم . داباسین هغه زور ودې چپې
چپاوس هم را یادی شي نو زړه می وبو گنیږی خو د خدای فضل و پورې وتو د ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی خان پولیس راغلی و دوی هغوی ته په حواله کړم هغوی په بګکښې د بزه غا...
خان جیلخانی ته ورسولم، تقریباً لس بجې جیلخانی ته ورسیدو. د سرواړي ورلیږی
شو او زه ور د ننه شوم او بالو کانو، سپایانو او قیل یانو چغې کړې او تول رانه چاپیر...
شو او هر کلی یې راته ووې. د جیلخانی د ننه ورلیږي شو او زه جیل بارک ته ورروان...
شوم. زما سیاسیان ورونه هم خبر شوی وو، بعضی کسان راته لاده کښې ولاړ
وو. زما په لید و تول ډېر خوشحاله شو. بارک کښې چغې شوې او تول رانه چاپیره
شو خوک راته غاړې وتل او د خیر خیریت پوښتنې یې رانه وکړې. ماورته دلاهور د
جیل تولې قصې وکړې چې په دې کښې د دوی د وخت شو او مونږه د دوی خوراو
له روان شو. د سردار کهرک سنګه په ضعیف والی او بوښد والی مې ډېر افسوس
وکړو چې هغه سره د نورو ملګرو لا هغه شان بوښد او خه فیصله یې نه وه شوې.

## دمور مرګ:

په دغو ورځو کښې مې د مور یو خط د کلی نه راغی. په کښې یې لیکلی وو چې ډېره
موده وشوه چې ته مې لید لی نه یې. زما ډېر یاد ډېږی. زما زړه غواړی چې درشم او تا
وویږم نوته ماله اجازت راکړه چې زه ملاقات له درشم. ما چې په دی خط غور
او فکر وکړو نو زما زړه خو هم غوښتل چې خپلې مور سره ملاقات وکړم ولې چې ددی
ځای د راتلو لاروته به مې فکر شو نو په کښې ډېر تکلیف و او بل طرف ته هغه بوډی هم
وه او زړه مې هم غوښتل چې دا وویږم، لیکن حکومت مونږه قصداً داسې لیرې جیلخا...
کښې بند کړې وو چې ملاقاتیانو ته ګرانه وه او نو ما مناسب و نه ګڼل چې هغې له ددی ځای
د راتلو تکلیف ورکړم او ورته مې ولیکل چې که خیروی ما ته او س لوږه موده پاتی ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



امید دی چه ډیر ژر ستا او زما ملاقات خپل کور کښې وشي داځای ډیر لیرې دی ځای په ځای ریلونه بدلیږي او بیا د اباسین نه پورې وتل دي، نو ماوې چه تنه به داوي چه ته دا تکلیف ونه کړې. لیکن زه د الله تعالی کارونو نه خبر وم چه ته او مونږ به مې دیر ل نه داسې جدا شو چه تر قیامته پورې به یو بل ونه وینو اوکه زه د دې نه خبروای نو ما به مونږه ضرور ملاقات کړی وای انسان د تقدیر نه خبر نه وي.

خو موږ پس د ماز ګر وخت و زه په کمره ناست وم چه زما یو ملګرې په هغه راغی او اخبار یې په لاس کښې و چه په هغه کښې یې لیکلي وچه زما مور مړه شوه ما انا لله وانا الیه راجعون وویل. د دې خبر په لوستو را باندې عجیبه کیفیت طاری شو او په دې بې ډیر افسوس وکړو چه ما ولې د ملاقات منع کړه خدایه زمونږ د دې اخرې ملاقات نصیب هم نه و. ما به خپل زړه له ډیر تسلي ورکوله لیکن زړه می ژړا کوله ولې چه زما خپلې مور سره ډیره زیاته مینه او محبت و او هر وخت به ډیر پریشانه وم او ډیر خفه به ډې وم چه زه د خپلې مور بې بی د اخرې خدمت او دیدن نه محروم شوم او ما د هغې په ناجوړتیا کښې او د وفات په وخت کښې هیڅ خدمت ونه کړې شو. د دې خبرې به هر وخت ژړولم که نه وی نو مرګ خوحق دی هیڅوک ترې خلاصیدی هم نه شي نو د چا په مرګ ژړا او واویلا نه ده په کار خو مینه او محبت داسې څیز دی چه د چا زړه صبر پدې نه شي. زه چه بیا د قید راخلاص شوم نو خوړې بیا را ته دا خبره کوله چه مور به دې په ځنګدن کښې هم ډیر ډیر یادولې. چه غفاری راغی او که رانغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سیاسي قیل یا نو جنګونه :

زمونږ سیاسي ورونه به همیشه په معمولي معمولي خبرو باندې پخپل منځ کښې په جنګ وو او کله کله به نوبت کنځلو ته ورسید او بعضې وخت به مونږ لرې کې هم یو بل پسې را واخیسته لیکن نور ورونه به تر منځه شول او معامله به یې رفع دفع کړه. جیلخانه داسې یو ځای دی چه د سړي زړه پکښې تنګ وي. « د کوجرو ګرهي د مردان ضلعې شاکر الله باچا به خپلو ملګرو ته دا خبره کوله که تاسو یو بل سره ایرې وهئ نو مونږ خو تول خپل ورونه یو ستاسو نقصان نه دی دا تول نقصان ددې قلا دی چه مونږ نه تاوده په کور کښې د مور او لور د پره خوږه رشته وي خو چه دیوال ترې چاپیره وي نو مور او لور هم هر وخت یوې بلې پورې نښتې وي او په جنګ وي. » زه هم انسان وم زما چه څومره معلومات او تجربه ده نو زه دا وایم چه زمونږ د دې جنګونو تول بنیا د بحث او مباحثه وه. اکثر ما لیدلي دي چه مونږ به په یوه معمولي خبره بحث شروع کړو نو چونکه زمونږ هغه بحث به په دې خیال نه وو چه مونږ به د یو بل د معلوماتو نه څه فایده حاصله کړو. د هر یو دا خیال وو چه زه به په هیڅ شي پوهېږم او دا بل نه پوهیږي چه زه وړ او دا بل بډ دی. د دې قسم بحثونو نتیجه همیشه کج بحثي وي او بیا بد رد جنګ و جدال او خفګان. په دې وجه که څوک چرې د دې خبرونه بهر که د نن هیڅ کېدل غواړي هغوي له په کار دي چه د داسې مباحثو نه ځان وساتي او همیشه خپل ځان، ترب، او خوله واک کښې ولري او که چیرې په یوې ضروري مسئلې د بحث کولو ضرورت پېښ شي نو چه ده ته څه معلوم وي یا چه څه د ده رأیه وي هغه دې ښکاره کړي او زیاتی بحث دې پرې نه کړي نو بیا به ورته خدای خیر کړي، بله دا چه زمونږ په سیاسي ورونو کښې یو بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د عیب خبره وه او هغه دا وه چه مونږ خو به په خوله ویل چه مونږ یو ورونه یو او
...کار هم داسی وه چه مونږ یو ورونه وای ولی چه مونږ دیو نیک مقصد دپاره جیلخانی
...دا غلي یو لیکن حقیقت داسی نه و او نه زمونږ په دې عمل و. په معمولي معمولي خبرو کښی
په مونږ کښی د سکهه، مسلمان او هند و سوالونه پیدا کیدل. ما خو مخکښی هم
ذکر کړی دی چه جنګ د ملتان په ښار کښی وشو او تعلقات دلته په جیلخانه کښی د
...ند وانو او مسلمانانو خراب شو. مونږ دومره فکر هم نه کوو چه هلکه بهر به خلک هر څه
...ی لیکن زمونږ په دا له دې دغې اثر ولې وشی او که چیری په مونږ هم ددې قسم اثر
...ږي نو بیا په مونږ او په هغو خلکو کښی څه فرق شو چه څوک د دښمن په پالیسی دا
...رونه کوي او خپل قوم او ملک ته نقصان رسوي. زمونږ دعوی خو دا ده چه مونږ
...ند وستان په ټولو قومونو کښی ورورولی پیدا کوو او ملک ازادوو. کومی پورې چه
...رنګیانو حکومت وي تر هغې پورې خو ناممکنه ده چه د هند و مسلمان جګړې ختم شی.
...و به کیږی لیکن که مونږ کانګرس او خلافت والا هم په دې کښی حصه وا خلو نو بیا دې
...ند وستان خدای پاک مل شی. نو د خلک خو پرېږدئ زمونږ یعنی خلافت او کانګرس
...کښی ترا وسه پورې د رښتینې ورورولي خیال پیدا شوی نه دی او زمونږ زړونه یو
ته صاف نه دي. زمونږ په زړونو کښی خیری دی په دې وجه په معمولي معمولي خبرو
...ی مونږ په کور کښی جنګ د نګې او فساد کولو ته تیار یو. یوه ورځ داچل وشو چه زمونږ
...نقشتی چه هغه زمونږ لوښی پاکول او هند ووهغه په پښو سکهانو دا مشهوره کړه
...ی مونږ سکو کړی ددی په اوریدو سره هندوان ډیر په غصه شو هند وانو هغه ته
...ی چه ته سړی وخوا یه سکهانو پوری زور داوړه چه پام کوه چه سړی نه خرپی دا کشمکش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو ورو زیات شو او د سکهانو او د هندوانو تعلقات د یر زیات خراب شول ا
داچه معامله چیل والوته ورسیده او هغوی هغه سړي زمونږ د بارک نه بدل کړو . د
خو بدل شو لیکن بیا هم زمونږ د ورونو زړونه یو بل ته صاف نه شو . د لا اکراه في الدین
الله تعالی وایی چه په دین کښی زور نشته ځکه چه د دي تعلق زړه سره دی . د چیل د
هر مذهب والا ته دا حق حاصل دی چه د تبلیغ په ذریعه فایده او خوبه ښکا
کړي لیکن یو مذهب هم دا نه وایي چه تاسو په زور او زیاتی او الچ خلک پخپل م
کښی داخل کړئ ځکه چه مذهب معامله خو د زړه او د ماغ سره ده چه زړه او د
او عقیده ی کوم مذهب نه وی قبول کړی په هغه عمل کولی نه شی او چه عمل پری
کړي نو هیڅ فایده تري حاصلولی نه شی . بله ورځ مونږ مقتول په بارک کښی ح
ناست وو او خبری اتری موکولې په خبرو خبرو کښی د لاله اچیت رای ذ
راغی یو موهن لال نومی وکیل و چه هغه صرف دومره خبره وکړه چه لاله جی ش
پنجاب دی . یو سکه پری اواز وکړو چه د شیر پنجاب لقب خو د سردار ر
سنګه دی او ورو ورو دا خبره زیاتیده او دي حد ته ورسیده چه یو ح
سکهان او بل خوا هندوان جنګ کولو ته تیار شو او یو بل پسې د نلهای واخی
او په د یرو خوارو مونږ دا معامله رفع دفع کړه نوبت کوتک بازی ته ونه رسید
مونږ په دی جیلخانه کښی هندوان ، سکهان او مسلمانان وو ه
به پخپله خپله طریقه خپل خپل عبادت کولو . مسلمانانو کښی اکثر و کسانو لمونځ نه
صرف مونږ دوه کسان مولانا اسماعیل غزنوی صاحب او ما به کولو او هغه
ځان ځان له . د غه حال د هندوانو هم و چه هغوی هم اکثر و به عبادت نه کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا به کولو نو ځان ځان له بري کولو. زمایو مهربان دوست چه نوم يي ماسټر کرت مل
و اويو دېر ښه سړی وه ډېر عبادت به کولو او دعبادت په اخر کښې دېر شانتي شانتي
به يي ويل خو دی پخپله شانت نه و مابه ورسره خندل چه ماسټر صاحب تهٔ خو شانتي
انتي دېر وايي خو شانت نه يي. يو سکهان وو چه دوی به خپل عبادت په جمع
لولو او خومره چه په هغو کښې مذهبي جذبه او جوش و دومره نه په هندوانو کښې
و او نه په مونږ مسلمانانو کښې و زمونږ په نسبت په سکهانو کښې مينه محبت
تفاق او ورورولي زياته وه. په دې خبره چه ما خومره غور او فکر کړی دی زه په
دې نتيجه رسيدلی يم چه دهغوی مذهب په خپله ژبه کښې دی هغوی دهغه په
مطلب او مقصد بانندی پوهيږی. دهندوانو او مسلمانانو مذهب په بله ژبه کښې
دی. دهندوانو مذهب په سنسکريت کښې دی. هندوان په هغه نه پوهيږی او
زمونږ مذهب په عربي کښې دی او مونږ په عربي نه پوهيږو. سکهان چه په خپل
عبادت ته کښيناستل نو په هغه کښې دايوه جمله زمانه هيريږی او يادهمی ده چه
دې به يې ورسره جاوی تو جاوی ميری پيا ری سکهيا نه جاوی». داسې خبری
به جذبه او جوش زياتوی دهندوانو په مذهب کښې هم نشته او زمونږ دمسلمانانو
مذهب کښې هم نشته. خو مونږ او هغوی په مطلب نه پوهيږو. هم دا وجه ده چه د
سکهانو په شان مذهبي جوش او جذبه نه په مونږ کښې پيدا شوه او نه په هندوانو
کښې.

زمونږ اکثر ملګري خلاص شو او مونږ پنځه کسان باتي شو ولي چه تول شپږ
بږ مياشتې ياکال قيد وو. دوی به هم اوس رها شوي وای خو هغوی په جيلخانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې هغه دایجي ټیشن په وجه خپل قیلونه زیات کړي وو زمونږ دپنځو وادو مجلس
سره برابر وو او د مطالعې د پاره راسره قسما قسم کتابونه هم وو او د خپل قیل ورځې شپې
مو په ډېر ارام او خوشحالۍ سره اړولې او بغیر زمانه دوی ته الوږ نیل پاتې و. په ک
پنځو کسانو کښې مونږ دوه مسلمانان او دوه سکهان او یو هندو وو. یوزه او بل
مولانا محمد اسماعیل غزنوی او سکهانو کښې سردار کهرک سنګه ، جسونت سنګ
او دهغوی یو بل ملګری و. د جیلوا لوسلوک مونږ سره ډېر ښه و. کپتان هیرز
زمونږ سپرنټنډنټ و چه په دښتیا ډاکټر و او ډېر هلمند او ښه سړی و. لیکن په ک
ځای کښې یو لوی نقص دا و چه د شپې وميا شتو نه زیات یو انګریز سپرنټنډنټ
پاتې کېدی نه شو. په شپږ وميا شتو کښې به ایله مونږ د هغه سره اشنا شوی و
خو چه به اشنا شو نو هغه به دا نه بدل شوی و. د دې وجه دا وه چه په ډېره غازی
کښې به ډېره زیاته ګرمي وه او په ګرمي کښې به انګریز زیات پاتې کېدی نه شو. په د
وجه به په یخنۍ کښې زمونږ انګریز سپرنټنډنټ و او په ګرمي کښې به هندوستا
و بیا د جرنیل د دورې اواز شو چه جرنیل صاحب په دوره راځي هر څوک په دې فک
کښې و چه بیا به څه کېږي ځکه چه دا جرنیل ډېر بد نیته راشي او بغضي سړی وا و
بیا سیاسي قیدیانو سره خو به ډېر په ترخ چلېد و. جرنیل صاحب څو ورځې پس
راورسېد او د راتلو سره اول د سردار کهرک سنګه کټوله راغی او په یو قسم غ
او تکبر کښې يې سردار صاحب ته ووې ( Well Kharak singh والیه کنه کهرک سن
نو هغه ورله ډېر په بې پروایي سره دا جواب ورکړه ( واډ Yes , Well واډه ! ) ښ
ددې په اوریدو سره په جرنیل اور بل شو او بله يې هیڅ خبره ونه کړه او فوراً د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بهرته ووت او جېلوالو ته يې ووې چه د ده نه تر اوسه باد ووتی نه دي او دهغه
تکټ يې وغوښتو او د کمزورۍ په وجه چه هغه له ډاکټر کوم پېی ليکلی و هغه يې کټ
کړی او حکم يې ورکړو چه ده له هيڅ بغير د (c) کلاس د قيد يا نور د خوراک نه مه ورکوئ
او بل يې دا حکم ورکړو چه په دوی بله مقدمه وچلوئ دا هم د اکټو. د جرنيل دوره
چه ختم شوه او دی واپس لاړ نو داروغه صاحب مونږ له راغی او دا ټول بيان يې راته
وکړو او د خپل طرف نه يې ډېره همدردی ظاهره کړه او دې وې چه زه خو يو ماتحت
سړی يم زياتی څه کولی نه شم تاسو خپل کور کښې صلاح او مصلحت وکړئ او سبا چه
تاسو ته څه مناسب ښکاری ماله جواب راکړئ ددی په اورېدو سره زمونږ ملګری
ډير غمجن او فکرمند شو ولې چه دهغوی رهايي نه دوه، څلور مياشتی پاتې وې.
مولانا غريب ته خو قوله تا له يوه نيمه مياشت پاتی وه، ليکن سردار کهړک سنګه ؤ
دهغه ځان له ډير ښه ښودل د دوی د پاره ډير مشکل و چه اخر ډير خلک به څه وايي
چه بوډا سردار موېوازی پرېښود او تاسو ځوانان تری راوتښتېدئ داخوا ران
ډېر په کشمکش کښې وو اخر د ډير بحث مباحثې نه پس په دې فيصله وشوه چه اهر
کانګرس ته خبر ورکول په کار دی چه ددې په باره کښې هغوی يو قرار داد پاس
کړي او مونږ ته يې راولېږي چه ايجی ټيشن جاری وساتئ يا يې پرېږدئ او چه
کانګرس څه فيصله وکړله مونږ به يې منو. انسان هم يو عجيبه څيز دی څه خت
چه دی کمزوری شي او همت بايلي نو بيا د خپلې کمزوری او بې همتۍ د پټولو د پاره
قسما قسم حيلې او حوالې لټوي. څه وخت چه دوی ايجی ټيشن شروع کولو نو
زمونږ په ډله کښې اکثرو خلکو ورته دا خبره ياده کړې وه چه کانګرس دا قسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې په جېلخانو کښې منع کړې دي او دغه رنګه کانګرس والو ورله هم جوابونه را
لېږلي وو چه په جېلخانو کښې ایجی ټیشن د کانګرس د اصولونه خلاف دی پرې
وجه مونږ تاسو له حکم درکوو چه ایجی ټیشن شروع نه کړئ لیکن هغه وخت دوی
په جوش کښې وو چه کانګرس په دې نه پوهېږي چه دا زمونږ د حقوقو او خودداری
سوال دی لیکن هم هغه خلک وو چه د کانګرس حکم ته لیواله دی ځکه چه نور تکلیف
تېرولو ته تیار نه دي. د دې قولو خبرونه مونږ له سبق اخیستل په کار دی او هم دا
چه کوو نو محض په جوش او جذباتو یې ونه کړو بلکه د هغې په هر پهلو باندې به
ښه شان سوچ او غور وکړو او که چېرې د هغې د پاره د هر قسم قربانۍ او تکلیفونو
ته تیار نه یو نو شروع یې نه کړو. کانګرس والا و یو قرارداد راولېږه د دوی هغه
کهړک سنګه له یو وړ هغه ته یې وښودل چه د کانګرس دا حکم دی ته په دې کښې څه
وایې هغه ورله جواب ورکړو چه د کانګرس حکم څه نوی حکم نه دی بلکه ترور حکم دی
او کوم قدم چه ما اوچت کړی دی زه د هغه نه د وروسته کېدو د پاره تیار نه یم
چه تر څو حکومت زما مطالبات منلي نه وي په دې لاره کښې چه هر څومره
تکلیفونه او مصیبتونه چه راځي د هغو د پاره زه تیار یم. دوی په ځای د دې
چه د هغه د عزم او ارادې تعریف کړې وای او خپله کمزوري یې ختمه کړې
وای د هغه خلاف یې د اپراپېګنډه شروع کړه چه دی خپل ځان د کانګرس
نه لوی ګڼي او په دې وجه د کانګرس حکم منلو ته تیار نه دی دا څومره لویه د
افسوس خبره ده او بله خبره ده چه مونږ د خپلو کمزورو د پټولو د پاره
او د بل د غورځولو د پاره د دې د ول ناپاکې پراپېګنډې کوو او د خپل جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقوم کښې اختلافات پیدا کوو او دا په هر جماعت کښې چه څومره اختلافات وي
دې وجه هم اکثر د دې قسم ذاتیات وی. که ته وایې چه زه لغیر د څه غرض نه
قوم او ملک خدمت کوم او زه هم وایم نو بیا اختلاف په څه؟ په خدمت کښې
اختلاف نه دا تلې شي او نه کېدی شي اختلاف هیڅه په ذاتیاتو کښې وي او هر سړی
نه په ایماندارۍ په دې نظر وکړي او خپل زړه ولټوی نو دا به ورته معلومه شي
چه دا اختلاف زما د ذاتیاتو په وجه پیدا شوی دی. مونږ خو به خپلی کمزوری
خلکو نه پټې کړو لیکن د خدای نه خو یې پټولی نه شو نو هغه له به څه جواب ورکوو؟
چه هر کله مونږ خپلی کمزوری د خدای نه پټولی نه شو نو په کار دی چه خلکو
یې هم پټی نه کړو او چه کوم کار کولی شو په جار وو وایو چه دا کولی شم او چه کوم
کار نه شو کولی په جار وو وایو چه دا نه شم کولی او دا و نه کړو چه یو بله کاری
په زما یو بل ورور ګیا دی کوی یې او هغه کار زه کولی نه شم. نو مونږ له د هغه امداد په کار
ی مخالفت یې په کار نه دی او پخپله د له او قوم کښې اختلاف پیدا نه کړو او په ځای
دا و ورکولو په هغه قسما قسم الزام و نه لګوو او هغه ته مشکلات پیدا نه کړو.

مولانا اسماعیل صاحب او سردار جسونت سنګه او د هغوی ملګری جامی
غوستی، کار یې شروع او د هر قسم ایجی ټیشن یې ترک کړو، سردار کهړک سنګه
دار یوازې په میدان کښې پاتې شو جېلونو له پرې مقدمه وچلوله او شپږ میاشتی
ید یې نور زیات شو لیکن د هغه په همت جرئت او خندا کښې د هیڅ قسم فرق
ې انه شو. لکه د غه په شان د حکومت په مقابله کښې خپل ځای ولاړ و او په صبر یې
قسم تکلیفونه تېر ول او کوم قدم یې چه یو ځل مخکښې کړی و هغه یې روستونه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تر اخره پورې په هغه باندې تېنګ ولاړ و او ټينګ پرې پاتې شو او ډېر ښه د
و . د دې نورو ورونو ګډ وډان ډېر سخت شو هسې به پخپل ځان کښې کچه کچه کېدل ا
دوی د دې خبرې کوښښ شروع کړو چه په هره طريقه چه کېدای شي چه مونږ د
جېلخانې نه بدل شو . د جېلوالو هم دوی سره ډېره همدردي وه هغوی هم د دوی
د پاره کوښښ وکړو او ويې ليکل ، د مولانا خولږې ورځې پاتې دي هغه تېرې شي
رهاشو او د دې نورو منظوری راغله . دوی رانه بدل شو او په دې د ومره لوی باغ
کښې صرف زه او سردار کهړک سنګه صاحب پاتې شو . هغه يې هم زمانه جدا کړه او په
هسپتال کښې چه کوم ساليټری سل ؤ (تنهاکوټه ) هلته يې بوته او په چکی کښې يې بند
زه يوازې په دې بارک کښې پاتې شوم ، زما بارک ته يوه وړوکی عونډۍ د دروازه هسپت
لورې ته لګېدلې وه چه هغه به هميشه بنده وه او چه کله به ډاکټر راتلو نو هغه به يې ورته
لېږي کوله نو په هغې کښې يوسودی ؤ سحر ، ماښام به زما او سردار صاحب په هغه سو
کښې ملاقات کېده . سردار صاحب باندې د حکومت له طرف نه قسما قسم جرمونه
تکليفونه راغلل او ډېر کمزوری شو په رنګ کښې يې هم فرق پيدا شو ، خبرې او خندا
يې هم هغه شان وه . ما چه به سردار صاحب ته کاته ما له به د هغه په حالت د ډېر
افسوس راغی : زه هم د هغه په شان قيدی وم ما د هغه د پاره څه کولی نه شو صرف
دومره به مې کول چه ما سره به څه د خوراک د پاره ميوه دانه وه هغه به مې څه نه څه
ورکوله هغه به هم هغه نه اخيسته په ډېر زور او منت او جګړو به مې پې ځايوله
هغه به ويل که د دې ځايه بدل نشوې نو بيا به ميوه چېرته دې نږدې له پاره ما
له داعادت پيدا کول په کار نه دی ما به ورسره خندل چه په جېلخانه کښې څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ی هغه هغوښتان يي تېرول په کار دی. ممکنه ده چه زما د تلو نه پس څه بل
خداى پيدا کړي. جېلوالاؤ ته زما د بارک د بدلولو ضرورت و ولي چه دلته د ډېږ
رو او په دى ددې واړه بارکونو کښې زما بارک د بدلوی و په دې کښې زيات
راتلل او په دی جېلخانه کښې بل داسې ځای نه و چه زه يي يوازې پکښې ساتلى
دهغوی د بدليات کونښښ وچه زه ددې ځای نه بدل شم او دا بارک د
د پاره وزکارشي ددی د پاره هغوی جرنيل ته وليکل چه دی دې ددې
ک کړي شي ولې چه د نوشلو قيديانو ځای يوازې ده نيولی دی او مونږ ته
ی د بدليات ضرورت دی، څه موده پس حکم راغی او زه يي ددې ځايه
جېلخانې ته بدل کړم.

## يانوالي جېل ته:

ل ددی نه چه زه د ميانوالي جېل حالات شروع کړم زه دا ضروری کنم چه
حکومت هغه حقوق منکار ه کړم چه کوم يي سپيشل کلاس قيديانو له ورکړي
قوق په داسې فريب او چالاکي جوړ کړي شوی دی چه ددې ټول انحصار
په سپرنټنډنټ منحصر دی. که چيرې يو سپرنټنډنټ شريف و او
د قيديانو د تنګولو او رنځولو نه ونو د قيديانو هر قسم حقوق شته او قيدي ته
م وي او که چيرې يو سپرنټنډنټ بدنيته او بد ديانته وی او د انې خيال
يانو له تکليف ورکوم نو بيا د قيدی غريب هيڅ قسم حقوق نشته او هغه
تکليف وي زمونږ د د بره غازيخان په جېل کښې د هر قسم سپرنټنډنټانو
شوی ده زمونږ اول سپرنټنډنټ مسلمان و، دوهم انګريز و، دريم هندو و

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوځاورم یا انګریز و. د اول سپرنټنډنټ په وخت کښي زمونږ د بر حقوق
سپرنټنډنټ په وخت کښي باوجود د د بر وجګړو او کشمکش نه یا هم زمونږ
وو لیکن چه څه وخت یو هند و سپرنټنډنټ راڼي صاحب داغي او چارج
او زمونږ. سپرنټنډنټ شو زمونږ حقوق کم شو چه چا به ډیل چه زه میوه
هغه به وې چه دا (...) یعنی عیاشی ده او که چا به جای یا مصری
نو دا هم د هغه په خیال عیش وُ اجازت به يي نه ورکولو، لهذا دا چه د خو
قلمري چا ته اجازت نه وُ د هغه په خیال کښي دا هم ګڼړزي (عیش)
هره ورځ به زمونږ تالاشي وې اولږ غوندې شیز چه به يي چا سره
کړه نو بیا به د هغه پیشي روي او سزا امکاني به وي صرف ماته زما د غا
په وجه د يوام دراغوښتلو اجازت وا و د هغه د پاره هم د هغه د احکم
معلومه شوه چه قابل چاله ورکړي دي بیا به په تا هم بند شي او هغه اجازت
چه زما غاښونو او اورو کښي نقصان و او د ډینټل سرجن لیکلي و و چه
روزانه څه ناڅه میوه خوړل ضروري دي دا خو زمونږ حال وچه په سپټ
وو نو تاسو اندازه ولګوئ چه دعا مو قید یانو چه په (c) کلاس کښي وو
به څه حال و او د هغوی د حقونو به څه حال وي؟ حقیقت دا دی چه
خپل رعیت ته د بر بدنیته دي او هر قسم قانون چه د دوی د پاره جو
په منبه نیت نه جوړ وي تاسو وګورئ چه د دوی شپه او ورځ نوي نو
جوړوي په دې بهانه چه په ملک کښي جومونه کم شي او امن شي او
شي لیکن ورځ په ورځ جومونه په زیاتید ووي ، بدامني وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ی خه وجه کیږی شي. ددی عمل وجه ده چه داټول قانونونه په ښه نیت نه جوړیږی
بد نیتئ سره جوړیږي او په بد نیتئ سره استعمالیږی او عمل پری کیږی او که
قانون جوړشي خو چه نیت بد وی نو بد استعمالیږی. پیرنګیان په ملک کښی
ښتیا سره نه امن قایمول غواړی او نه جوړونه او جګړی او نه ضدا دونه کمول غواړی
منلو خبره ده چه که یو حکومت په رښتیا سره دیو ملک اصلاح او امن غواړی او هغه
نه شی؟ تاسو خولږ دي ته وګوری چه هندوستان کښی هم دانګریزانو حکومت دی
انګلستان کښی هم د پیرنګیانو حکومت دی هلته داټول خیزونه قایم دي نو دلته
ایمیل لی نه شی؟ یوه ورځ زما د سرحد د پولیس د جرنیل سره د پولیس په دیانت
ه او ایماندارۍ باندی بحث شو نو ما ورته داخبره وکړله چه زه په دي نه پوهیږم
سو په انګلستان کښی یو دیانت دار او ایماندار پولیس په رښتیا معنو کښی د
خدمتګار پیدا کولی شئ نو دلته یي ځنګه نه شئ پیدا کولی خو تاسو یي نه پیدا کوئ.
زه چه هلک وم نو زه په زبرګانو او ملایانو پسی ډیر ګرځیدلم ډیر لمونځونه
یفی به مي کولی او لاس نیوی می هم کړی ؤ. ما به ډیری وظیفی کولي خو چه ځان
ی کتل نو په ما کښی هیڅ تغیر او تبدل نه راتلو دهغه زبرګانو او ملایانو نه می هم
ونه کول چه زه خو ډیری وظیفی کوم ولي چه ځنګه وم هغسی یم هغوی به زما د
د ډیر کوشش وکړو خو زما تسلی به و نه شوه اخر چه زه ډیره غانړی ځان
ٔ وم هلته زما یو ډیر مهربان دوست ؤ ما مستر ګوردت مل نوم یي و چه د هغه
تعلق پیدا اشو، هغه ډیر عالم او ښه سړی و او ما سره ډیره مینه او محبت
سره یو کتاب وچه یو پادری لیکلی و د هغه کتاب نوم
(Your Forces and How to use Them) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



(یعنی ستاسو قوتونه او دهغونه د کار اخیستلو لاری چاری) هغه کتاب چه می په
ولوستلو نو زه د وظیفی کولو په حقیقت پوه شوم هغه کښی لیکلی وو چه د اتا سو وظ
او د خدای پاک نوم او صفاتی نومونه یادوئ نو تاسو له ښایی چه هغه صفات
پیدا کړئ مثلاً د خدای یو صفت دا دی چه هغه رحمن رحیم دی یعنی بخښونکی
دی نو تاسو هم ځان کښی د بخښنی او رحم عادت پیدا کړئ او همداسی نور.
زه چه څه وخت خبر شوم چه زما د دی جیلخانی نه بدلی وشوه نو زه
سوری له ورغلم او سردار کهرک سنګه صاحب هم هغه سوری له راغی او په ډېره
خوشحالی سره یو د بل نه رخصت شو. دروازه کښی زما د بوتلو د پاره سپا
تیار ولاړ وو. جیلوالو هم ما سره په مخه ښه وکړله او زه سپاهیانو سره د میانو
روان شوم داخل مونږ ته دا پاسین په پوری وتلو کښی څه تکلیف و نه شو ولی
واو په یخنی کښی او به لوږی وی او په اباسین باندی د کښتو پل وی. چه ستیش
زمونږ ریل تیار و مونږ پکښی کښېناستو او سبا وختی میانوالی ته ورسیدو. ست
نږ دی جیلخانه ده زه یې جیلخانی ته بوتلم جیلوالو ته یې په حواله کړم. دارو
ما سره ډېره کړه وړه وکړه او په ډېری مینی محبت یې جیل ته بوتلم. په د
کښی کافی سیاسی قیدیان وو زیاته حصه پکښی د سکهانو وه او یو څو کسان
هندوان او مسلمانان وو، په سکهانو کښی یو څو کسان زمونږ د سرحد هم و
کسان خو خاص د پېښور وو دهغوی په لیدو می زړه ډېر خوشحاله شو
صرف دری کسان مسلمانان وو یو د مولانا ظفرعلیخان زوی مولانا اخ
صاحب و او نور دوه کسان د پانی پت ملایان وو. په دوی کښی دیو کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بال صاحب وچه ډېر خوش مزاجه او مجلس اداسړی وا او زمونږ د خوړو، څکلو
طام هم دغه په لاس کښی وو. په پخلی هم ډېر ښه پوهېده، پخلی به یې همیشه پخپله کوو
روغه صاحب زه دوی ته په حواله کړم، معلومېده چه د داروغه صاحب دوی سره خاص
ق وا او چه څه وخت داروغه صاحب تلونو ماسره یې ډېر اخلاص ښکاره کړی او ما ته
دوی چه زه ستا هر قسم خدمت ته تیار یم تا ته چه د څه قسم تکلیف یا د څه قسم ضرورت
نو ما ته به اېله دا شاری کولو ضرورت وی لیکن روستو ما ته د تجربی نه معلومه شوه چه
غه صاحب دومره ښه سړی نه و ویل به یې یو څه او کول به یې بل څه خبری به یې لوی لوی
لیکن عمل یې پوری ډېر کم و بل نقص یکښی دا و چه د سړی به یې ډېری خوشامندی
لیکن و د سړی به زړه تو زره دغه بی عزتی کولو ته هم تیار شو. په دې جېلخانه کښی
ود ی پخولو د پاره دوه باورچی خانې وې. یوه د هندوانو او سکهانو او بله د مسلمانانو
ي بېلتون مقوله ذمه واری د هندوانو او سکهانو په سر وه ځکه چه هغوی به د مسلمانانو
کوله او دوی به یې خپلی باورچی خانی ته د ننه نه پرېښودل او په دی کښی لاد
خلکو دا هم خیال و چه د مسلمانانو به ورتلو سره چوکه پلیتېږي په دی وجه مسلمانانو
ی نه خپله باورچی خانه بېله کړی وه او په دی کښی هغوی غریبانانو ته څه قصور نه و.
متعلق ما ډېری قصی اورېدلی وې لیکن زه یې مناسب نه گڼم چه د لته یې ولیکم او
کښی زه ځوک ډېر کرموم هم نه ولې چه د تول عمر عادتونه په څو ورځو کښی بدلېدی
زه امید کوم چه ورو ورو به په خلکو کښی علم او پوهه راځی، د هندوانو او مسلمانانو
به لیری شی لیکن رفته رفته د دې د پاره وخت په کار دی او کار په کار د بیا
دې ته لویه کامیابی وایم چه د لته اکثر هندوان او سکهان د دی خیال نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثر خو به مسلمانانو سره یوځای خوړل او څکل کول . که زموږ تبه پر کیږي کښي چه
خه پاخه شو د هغه خوراک کښي به بي هم باک نه کوو اود ذوړو خیالاتو خلک هم دي
لیکن بیاهم ددې اثر بنه نه او دهندوا و مسلمانانو مینه محبت او اتفاق کښي ي
نقصان غورځولی و .

دلته دا قاعده مقرره وه چه چا به د مسلمانانو د لاسه د خوړلو باک نه کو
مسلمانانو به هم دهغوی د لاسه هر څیز قبلولو او خوړلو او چا چه به د مسلمان د لا
څیز نه خوړو او دهغوی نه به بي کرکه کوله نو مسلمانانو به هم دهغوی د لاسه څه څیز
اخیسته او نه به بي دهغوی دعوت قبلولو . سردار سردول سنګه سره دلته ز
اول ځل ملاقات وشو داهم د سیکهانو یو لوی لیډر ؤ او ډېر لوی عالم سړی و
دده د صحبت نه هم ماډېره فایده حاصله کړه ، موږ نه دتبادله خیالات د پاره یو
مقرر کړی و او هیشه به مو په مذهبی او سیاسی معاملو باندې دیو بل خیالات
سردار صاحب ډېر یو ازاد خیال سړی و ، دنورو سیکهانو په شان نه و . څومره س
وروښو سره چه زما ملاقات او تبادله خیالات شوی و په هره معامله کښي دده رای
او معقوله به وه او ماسره به بي ډېره مینه او محبت کولو . دلته ډېر سیکهان ووا
د پېښور سردار راجه سنګه صاحب هم و ، چه څه وخت اصلاحات د Reforms راغلل نو دی
د صوبې اولنی ایډ وکیټ جنرال ؤ او ده سره د پېښور یو بل سکه هم وچه ما نه بي
دی د چا یو سوداګر و او د چین نه به بي چای راغوښتله او ما له به بي د ښو
کلو نه چه ډېر قیمتی او خوند ناک وی سوغاتی ملاو راکول به بي ماسره بي ډېره مینه
کولو ، ډېر محبتی سړی ؤ . صوفی صاحب دهدوی د یخلی نه ماهرؤ هر څیز به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ین مرچکي به‌يې ډېر زيات خوړو او مرچکي سره زه بلد نه وم، په دې وجه به
ېر زيات په تکليف وم، يوه ورځ صوفي صاحب قيمه پخه کړه او پکښې دومره مرچکي
وو چه نوري اخيستو سره زما خوله وسوزېده، ما ډوډۍ پرېښوده او سپوره
مې خوراک شروع کړه، صوفي صاحب راته ووې چه دې کښې خو ما ستا دوجې نه
چکي اچولي دي کوندي ددې قاعده خو داده چه سير قيمه کښې سير مرچکي
ستا دوجې نه مې پکښې صرف سل مرچکي اچولي دي ما ورته ووې چه خدای دې
ښه شي چه زما دې دومره خاطره کړې دې خو زه د مرچکي سره بالکل عادت
نه يم داوي چه ماله بېله کتهوئ پخوې ولې چه په دې طريقه تاسو ته هم تکليف
ماله هم تکليف وي بيا دپاره ځان له دخپل خواهش کتهوي پخوئ او ماله زما
پخلي کوئ نو دواړو ته به ارام وي. صوفي صاحب لوی عالم و، ډېر ښه سړي
ی و ليکن زيات خوراک به يې کاوه پخپله يې هم زيات غوښه خوړه او اختر علي
به يې هم زيات غوښه ورکوله او ددې له پاره به يې اختر علي خان ډېرې
ندې کولې. ما خو چېرې په دې خبرو نوټس نه اخيستو ولې چه ما به خيال
دی دومره تکليف او مهرباني کوي او مونږ له ډوډۍ پخوي لو کړلې ډېر
ي نو دومره باک يې نشته ولې زما هغه بل ملګری مولانا صاحب به ور
شته په جنګ ؤ او ورته به يې ويل چه ستا دا عادت ښه نه دی چه ځان له
خودي او چه څوک دې خوښ وي هغه له هم ډېره ورکوې ليکن صوفي
باندې ددې قسم خبرو اثر نه کېدو، هغه به هميشه په زړه طريقه روان و.
ميانوالي جېل هم دغازي خان دجېل نه په ګرمۍ کښې او په بادونو کښې څه کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وکه چیری هغه یو دښت و نو دا یو ریګستان دا وکه هلته به د خاورو سیا
نو دلته د ښکو سیلۍ الوځي هلته خو مونږ ته دا فایده وه چه مونږ لوی بارک کښ
دلته بارک او دوښته نه تول سلونه (چکی) دی . د دې په نسبت زمونږ هغه
د پرښنه اویخ ؤ او باد به یکښې هم لګید و ، بله دا چه هلته د بارک نه بهر د
ملاستی د پاره کټ ی دی چه په ګرمۍ کښې به مونږ پری څملاستو او دلته
ځمکه څملی . مونږ سیاسی قید یانو کښې یو بل نقص دا و چه سیاسی قید یا
کوښښ سره جیل والا د ځانه سره ملګری کولی شی او د خپلو فایدو د پاره
قید یانو برخلاف استعمالوی چه یو سیاسی قید ی سره جیل والا لږ غوندی
شروع کړي او خه ناخه رعایت ورکړي نو بیا دې خدای خیر کړي او د امتحا
خدای په چانه راولي مونږ فوراً د هغوی ملګری شو او د جیل والا و طرفدار
کړو او په زړه کښې وایو چه دوی زمونږ د پر دوستان دي او په دی نه پوهیږ
دوی زمونږ نه فایده حاصله کړې ده او زمونږ حقوقو ته یې ډیر نقصان رس
زما د دی نه دا مطلب نه دی چه څوک دې د حکومت د نوکرانو نه نفرت وک
له د چانه نفرت کول په کار نه دی ، په کار دی چه هر چا سره ښه سلوک وکړ
کوئ چه د خپل جماعت خلاف د بل چا ملګری او راز دار او مل د کار شی مو
دی چه په هر حالت کښې د خپل جماعت د خلکو راز دار او مل د کار یو . د د
همیشه د جیل والو د خوشحالولو د پاره د خپلو ملګرو د هر قسم مخالفت کولو ته
دا کوښښ کوی چه څوک د هغوی برخلاف ایجی تیشن شروع نه کړي او که
دی قسم څه خبره پیښه شی نو دوی همیشه د هغه مخالفت کوی او پخپل جما

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفاق پیدا کوي حکومت چه څومره مونږ ته یا زمونږ حقوقو ته نقصان رسولی دی دا ټول د دوی د لاسه او د دوی د برکته که چیرې مونږ یوه خوله او یو موټی وای نو حکومت به مونږ ددې قسم زیاتی نه شو کولی او زمونږ حقوقو ته یې نقصان رسولی نه شو. دا زمونږ د شان سره مناسب نه دي چه د خپلې ذاتي معمولي فایدې د پاره د هغه حکومتي پرزو سره تعاون کوو چه د چا برخلاف مونږ د عدم تعاون اعلان کړی دی او که د دې د پاسه چیرې څوک بیا هم د دوی سره تعاون کوي نو په جایزو خبرو کښې دی ورسره تعاون وکړي او په ناجایزو خبرو کښې خو تعاون یوه لویه ګناه او جرم دی .

جیل الا سره دا د دوستي مرض په میانوالي جیل کښې د ډېره غازي خان جیل نه زیات و او بیا زمونږ مسلمانان ورونه په داروغه صاحب باندې هسې پتنګان وو او تر دې حده پورې رسیدلي وو چه د خپلو ملګرو سره د جیل په باره کښې بحث کول خو پرېږده بلکه اوریدلو ته یې هم تیار نه وو او څومره خوشامندي او تابعداري یې چه د داروغه صاحب کوله د هغې بیانول مناسب نه ګڼم ، د دې دوستي چه څومره حقیقت ما ته معلوم دی هغه دا و چه دوی له به یې پیسه کارډ ، لفافه او خط د خپل حق نه زیاتي ورکول او چه څه وخت به جرنیل په دوره راغی نو دوه میاشتي معافي به یې هم ترې د دوی د پاره اخیستله . بل دا چه به هر وخت د دفتر ته تلی شو او د ماښام به وخت کښې په چکر کښې د کرجیل وهم اجازت و خو د دې سره دا خبره هم وه چه داروغه صاحب به همیشه چه څومره د دې خپلو دوستانو بې عزتي کوله هغه هومره چیرې د بل چا کړې نه وه . د داروغه صاحب په دې جیلخانه کښې په پولوي اشنا د ظفر علي خان زوی اختر علي خان و چه داروغه صاحب به څه وخت ماښام د کنټرې د بندولو د پاره چکر ته راغی نو دوی به هم ورغلل او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به په کوم سو ناست ؤ. یوه ورځ د ډاکټر صاحب د هسپتال نه چکر ته راغی ځکه
په چکر کښې نوری کرسی نه وې لیس دغه دوه کرسی وې چه په یوی داروغه صاحب
او په بلی اختر علی خان ناست و. اختر علی خان د داروغه د دوستی په وجه یا د دلیلی د پاره
خیال د ډاکټر صاحب ته اوچت نه شو او کرسی یې ورته هم خالی نه کړه. داروغه صاحب
ته د اختر علی خان دا رویه سبه ښکاره نه شوه او هغه ته په قهر شو. بې عزتی یې کړه او
د کرسی نه یې پاڅولو او په یوه سپکه طریقه یې ورته ووې چه ته ځان و پیژنه ته قیدی
یې شاید تا نه ځان هېر شوی دی، ته نه پوهیږې چه ډاکټر صاحب د جیلخانی یو
لوی افسر دی هغه ولاړ دی او ته په کرسی ناست یې. د چکر نه یې په بې عزتی وشړلو
او آینده د پاره یې په چکر بند کړو خو چه مازیګر به شو او داروغه صاحب به چکر ته
راغی نو دی به ورغی نمبر دار ته به یې وویل چه داروغه صاحب ته ووایه چه اختر علی
خان چکر ته اجازه غواړی، هغه به ویل چه نه، نه دې راځی، یوه ورځ ما ورته ووېل
چه اختر علیخان ته سیاسی قید دی یې او ظفر علیخان زوی یې دا ته چه څه کوې دا
زمونږ د ټولو سیاسی قید یا نو بې عزتی کوې. چکر به څه وی؟ او ته ولې دا خپل ځان
د داروغه په مخکښې داسی وړوکی کوې ته ګوری نه چه داروغه هره ورځ ما ته منت
کوی چه دا څه چکر ته راشه خوزه نه ورځم. چکر د بڼه ځای وو او د بې کلو نه وو. اختر
علیخان تر هغه وخته پورې په چکر بند و چه تر څو چه یې د داروغه صاحب نه معافی
و نه غوښته او رضایی نه کړو. د دې نه تا سو څنګه نتیجه و باسئ چه دی ته به څوک
دوستی و ویلی شی؟ دا خلک په دې دوستی نیازبله ه او د ېر فخرولې پرې کولو.
میانوالی جیلخانی کښې همیشه تنګی الوزی او تنګی او سیلی د پری ګرمی وی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یز کښې ښکلې زې او هر څیز د ښکلو ډک وی او داسی هیڅ څیز به دې په نظر
نه شی چه په هغې کښې به ښکلې نه وی سره د دې احتیاطه بیاهم په هر څیز کښې
نه ناخه ښکلې وي او معلومیږی داچه داسی قسم خاص جیلونه پېرنګیانو دیله د انسته
سیاسی قیدیانو د ازادولو او صحت خرابولو د پاره خوښ کړې دی. زما صحت
لته د دېرهٔ غازیخان په نسبت زیات خراب شو، وزن می هم ډیر کم شو، ما څو ځله
پېرنټنډنټ ته دا خبره وکړه چه ما د دې جیلخانی نه بلی جیلخانی ته بدل کړې زه هغه
وي چه زه څه کوی نه شم ولی چه حکومت د سیاسی قیدیانو د پاره دا جیلخانه مقرره
کړې ده. د قیدی خبری ته څوک غوږ نه نږدي د پېرنګیانو په راج کښې قیدیان هم و
کړې نه دی په سپیی به بی رحم داشی لیکن په قیدی بی رحم نه راځی. چه ګرمی ډیر
ود وکړو نو په جیلخانه کښې د ننه یو کوهی وچه د هغه او به ډیری یخې وې د کومو خلکو
به داروغه صاحب سره تعلق وهغوی ته کوهی له د تلو اجازت وا وهغوی به همیشه
ما زیګر لمبلوله تله هغوی به د اوبو د یخوالي ډیر صفتونه کول چه هر چاته به د هغه ځای
مبا شوق پیدا شو لیکن افسوس چه هر سړی به هلته تلی نه شو، دا رعایت صرف د داروغه
شنا یانو ته وُ او کله ناکله به بغیر د څه وجهی نه داروغه صاحب خلک بند کړل او نمبردارانو
به یې حکم وکړو چه هیچاته ورلیری نه کړې نو د غه وخت به د داروغه صاحب د اشنا-
یو عجیبه حال وُ ولی چه هغوی د کوهی د پاسه په یخو اوبو د لمبوا موخته وچه مازیګر
شو او د لمبو وخت به راغی نو په دوی به میږی لګیا شو ورونه به یې د ز ول نمبردارانو
به یې چیغی وهلی او منتونه زاری به یې ورته کولي چه په دې کښې به ما بنام شو جیلخانه
بنده شوه نو اخر به د دی خوارانو زړه صبر شو. داروغه صاحب به کله ناکله ما ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې نوهې ديخو او بوصفت كولو او راته به يې منت هم كوو او راته به دې چه كه چيرې
هميشه نه څې نو كم از كم يو ځل خو لا پرته او د هغه ځاى د لمبلو مزه خو را خله ليكن ما په
څيز و نو ځان نه اموخته كولو ځكه چه ما خو د خلكو دا بې قرارى او بې عزتي هره ورځ ليده او
داروغه صاحب به ماته ډېر منت كولو چه ته نه چكرله راځې او نه لمبلوله ځې د خپلې احاطې
بهو نه وځې ما به خپل زړه كښې خيال كوو چه او س خو داروغه صاحب ستا منت كوى ليكن
چه يو ځل يې د دې نو رو په شان اموخته كړې نو بيا به تا سو سره هم دغه شان سلوک كوي
نه ولې بل له داسې موقع ور كوې؟ د هر سړي خپل عزت په خپل لاس كښې دى او كه هر څوک
خپل خواهشات او ضروريات قابو كړي نو هميشه به ارام خوشحاله او عزتمند وي.

## رهايي:

دلته هم زمونږ مشقت خرخه او تاروته (سپينسي) ديثل وو. زه به اكثر د خپ
مشقت (كار) نه صرف په دوو گينټو كښې فارغه شوم او بيا به مې مطالعه كوله.
اخر زما د سزا كاله قيد په ختميدو شو او رهايي مې را نژدې شوه، د رهايي تاريخ
په تكت وختو. زه نه پوهيږم چه د دې نه څنګه زمونږ جماعت انجمن اصلاح الافاغنه
خبر شو ځكه چه ما چيرې هم د دې قسم خبرې چا ته نه وې ليكلې او دا به مې هم نه خوښ
چه چا له تكليف وركړم. دا تمامو نه به كوم كوم خطونه راتلل چه مونږ د خپلې رهايي نه
نه خبر كړې ولې ما دا خبره نه خوښوله او چا له مې دلته د راتلو تكليف نه وركولو په دې
ما دا خبره هميشه د خپلو خپلوانو او د دوستانو نه پټه ساتلې ده او زه د دې خبرې نه
نه وم چه انجمن زما استقبال كول غواړي، د انجمن زما استقبال خو ښ و او زه
يې كولو ليكن د حكومت خوښه نه وه ځكه چه خلک به د ده د رهايي نه خبر شي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې به ډېره لېه پراګنده وشي په دې وجه د حکومت سره فکر پيدا شو او ما ته
لا څه ورځې وې چه پر دې کښې جمعدار راغی او ما ته یې ووې چه دا روغه صاحب دې
غواړي زه به دفتر ونوله نه تلم نوماورته ووې چه د څه د پاره مې غواړي ؟ هغه راته
ووې چه ستا رهايي شوې ده . نوماورته ووېل چه زما لا څو ورځې پاتې دي زه د وخت
نه مخکښې رهايي نه غواړم نو هغه لاړ او بيا راغی چه ستا رهايي نه بلکه د پېښور جېل ته دې
تبديلي شوې ده . حقيقت دا دی چه د معافۍ نه مې انکار ځکه کړی ؤ چه جېلوالو به د
معافۍ په طمع زمونږ سياسي ورونه د پرسپکول او د دې څلور و ورځو په معافۍ به یې
پېرې د پر احسانونه کول ما خپل سامان واخيستو د ټولو ورونو نه که هندوان وو که
سکهان وو که مسلمانان په خندا او خوشحالۍ رخصت شوم او ټولو ته ور ته غاړه
وتم . ما سره که سکهان وو که هندوان او که مسلمانان د ټولو ډېر محبت ؤ . چه دفتر ته
ورسيدم او به دفتر کښې مې سپاهيان وليدل نو تسلي مې وشوه ، زه یې هغوی ته
په حواله کړم ، مونږ د جېل والو نه رخصت شو او د سټيشن په طرف روان شو ځکه
د ګاډې د راتلو وخت لا نه و او د ګاډې راتلو ته څه وخت پاتې و څه وخت چه مونږ
سټيشن ته نږدې شو هغوی زه د سټيشن نه بهر ايسار کړم او سټيشن ته یې په
دې وجه بو نه تلم چه خلک به مې ووينې او بله دا د ميانوالي خلک ټول پښتانه دي مشرانو
له پښتو ژبه ورځې او د کشرانو نه یې هېره شوې ده زمونږ د ميانوالي د جېل ډاکټر چه
ؤ هغه له پښتونه ورتله او يوه ورځ یې پلار زما ملاقات له راغلی و نو هغه ما سره پښتو
وبله ، پښتنو کښې دا ډېره لويه کمزوري تيا ده چه چېرته لاړ شي او چا سره واده وکړي
نو هغه خپله ژبه ترې پاتې شي . مونږ سره په سرحد کښې په زرګونو هندوان او سې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپله ژبه هېره کړې نه ده، پنجابي يې هم زده ده او زموږ ژبه يې هم زده کړې د
دا کمزوري صرف په موږ پښتنو کښې ده.

ماښام تياره کا دې داغې موږ پکښې سواره شو، په دې رېل کښې ډېرې
نه وې اکثر کوټې ډکې، پکښې خالي وې موږ پکښې کافي ځای بيا موند او پک
آرام کښيناستو او رېل پېښور ته روان شو توله شپه د خوشحالۍ نه خوب را نغی سا
په ساعت به را وېښېدم او د سپاهيانو نه مې تپوس کولو چه دا تک نه پورې ډې وتوا وک
اخر سحر وختي چه مې سترګې پرانيستې نو زموږ رېل د خيرآباد په سټېشن ولاړ
زما خپل ملک او خپل قوم سره ډېر محبت دی د خپل ملک په داخلېدو او د پښتن
په ليدو مې زړه ډېر خوشحاله شو زه په خپل ځای بې غمه پروت وم او په دې خيال کښ
وم چه پېښور ته به څه وخت ورسو ليکن رېل روانېږي نه، په دې کښې زه راپورته ش
دروازه مې ليرې کړه تماشا کوم چه رېل ولې نه روانېږي کوم چه پوليس واله پلي
ولاړ منډې وهي کله يوه کوټه، کله بله کوټه د رېل ليرې کوي چه په دې کښې يې زه و ليد
زما په ليدو هغوی ډېر خوشحال شو، تا نه دا د ماله واغی او ما ته يې وويل چه موږ
تالټوو ته کوم ځای وې زموږ زاره دې په لټولو ستړی کړه رېل هم ليټ شو ما ورته
چه زه خو همدې کوټه کښې وم ليکن تاسو څکه ليدلی نه يم چه زه ملاست وم ما ورته و
چه ماسره موخه کار دی؟ هغه را ته وويل چه راځه ستا د پاره مو چای تياره کړی د
زما اسباب يې د کاډی نه راکوز کړو زه ورسره روان شوم چای يې تيار وه انسپک
صاحب هم هلته ناست و موږ چای څکله چه په دې کښې رېل روان شو ما ورته و
چه کاډی خو رانه لاړ هغوی وخندل او په خندا کښې يې را ته وويل چه موږ به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر کښې یو ورسوو چای موځکله زما چارج یې د پنجاب د پولیس والونه واخیستو هغوی ماسره ګوره پره وکړه اورخصت شو. خلک د پنجاب د پولیس نه د پرشکایت کوی لیکن دی پولیسو ماسره چه ښه سلوک او د هر قسم ارام رسولو کوشش کړې دی زه یې شکور یم او هیچری به د هغوی ښه سلوک را نه هیر نه شی. دستیبش نه چه بهر شو موټر تیار و لاړ وزه یې په موټر کښې سور کړم یو تانه دار او دوه تنه سپاهیان د ا سره یکښې سواره شول انسپکټر صاحب پاتې شو چه نوښار ته نزدې شو نو زه یې بهر یه بهر د مردان په سړک چارسدې ته روان کړم اوس زه پوه شوم چه د پیښور په ځای مې چارسدې ته بیایی په لاره راته یو ځای دوه ځله موټر پنکچر شو. اتفاق دا و چه هر ځای به راته پنکچر کیدو هغه ځای به د پره ابادي نه وه، دا بادی نه به لیرې وو. اخر دا چه سر د پرو ته دا ورسیدو د دا دسیپ وسره راته بیا موټر پنکچر شو په تانه دار صاحب د بر هیبت داغی فوراً د موټرو نه کوز شو، موټر ته یې صبر ونه کړو یوه تانګه ولاړه وه په هغې کښې سونو. سواره شو و چارسدې ته روان شو چه چارسدې ته ورسیدو، دلاورخان زمونږ استنت کمشنر و د سیند په غاړه یې قچری کوله په قچری کښې د بر خلک ولاړ وو چه زه یې ولیدم نو خلکو ماله راښدلم کړې او زما نه چا پیره شو زه یې دلاور- خان ته پیش کړم هغه ماسره د پره راښه د رښه وکړه ځان سره یې د یکلی لاندی کښېنولم د پری خبری اترې یې راسره وکړې بیا یې تانه دار له حکم ورکړو چه دې اتمانزو ته ورسوه. د ټلو په وخت کښې دلاورخان هم ماسره را روان شو چه د بونډی نه بهر شو نو ماورته ووې چه بس مهربانی زیاتی تکلیف مه کوئ زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلب بس و نو هغه را ته په خندا کښې ووې چه خلک خو په دې لوی فخر کوي او لوی عزت یې گڼی که چیری یو اسسټنټ کمشنر یو څوک مه ورسره جلب وکړي ما ورته په جواب کښې ووې چه دا تکلیف دی اوزه دا ځیزونه نه خوښوم چه څه وخت مونږ بهر را ووتو په دې لږ ساعت کښې په سوونو خلک جمع شوي وو . ما ټولو سره گړه بړه وکړه او دهغوی هغه جذبه او محبت می ډېر محسوس کړل او تم تم کښتی زه سره د تانه دار او پولیس اتمانزو ته روان شوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیاسي سرګرمۍ او پښتون اخبار

کلي کور کښې، دا تمانزو جلسه، فخر افغان، انجمن او مدرسې

هشتنغر، دواوه، صوابي، بالاګهي، ساول ډیره سیم

کاټلنګ، کلپاره، اسمیلا، پېښور، کوهاټ، هنګو

تل، بنوں، لکۍ)

د حج سفر (شام، بیروت، عراق، موصل، بغداد، نجف، کوفه، کراچي،) پښتون اخبار

سنه ۱۹۲۸ع

د امان الله خان خلاف

شورش او مونږ، نادرخان باچا کیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلي کور کښې:

تکنه غرمه وه مونږ کلي ته ورسیدو، زه چه ازاد سکول ته نژدې شوم، هلته د سکول یو هلک و پیژندم؛ هغه په منډه لاړ چغې یې کړې چه باچاخان راغی، ددې په اوریدو ټول هلکان سره د استاذانو سړک ته راووزغلیدل. په سړک باندې یوځای شو نو هلکانو چغې کړې او یو شور جوړ شو یو ساعت کښې ټول راجمع شول او زه یې دغه شان پخپل منځ کښې کیر ملرسې ته بوتلم او دا بېلې په شریکه وې چه «د فخر افغانه! په خیره راغلې د ژوندانه، مرحبا مرحبا» استاذان هم راغلل مونږ ټول یو بل ته ورته غاړه وتو او ډېرې خوشحالي مو وکړې، هلکانو ماته دخپل طرف نه سپاسنامه (Address) راکړه، چه دکلي خلک خبر شو هغوی هم په منډه منډه ملرسې ته راغلل ډېر دخوشحالي وخت وچونکه د روژې او دارام کولو وخت وما د دوی نه اجازت راخیست چه ځه وخت کور ته لاړم نو هلته دکلي خپلې پردې ډېرې زنانه راجمع شوې وې او دومره قلاړې لا رنه وه چه زه د ننه تلې وای هغوی کښې ډېره مینه وه ډېر محبت و، ډېر احساس وا او ډېره جذبه وه. دراشه درشه نه وروسته هغوی رخصت شوې او یو څو کسانې ذموږ نژدې رشته دارې پاتې شوې. د ټولو نه اول مې ولمبل غسلخانې ته لاړم او جامې مې بدلې کړې؛ لږه غونډې روژه مې وخوړه ډېر ستړې شوی وم بیا ډېر زر اوده شوم ماسپښین راپاځیدم جماعت ته لاړم هلته هم ډېر خلک جمع وو لمونځ مو وکړو او پس د لمونځ نه حجرې ته راغلو او د خلکو سره مې کپې شپې شروع کړې؛ څوک به چه خبریدل زما لیدو له به راتلل ما چه د خلکو دا جوش او خروش ولید نو زه ورته حیران پاتې شوم ما ته معلومه شوه چه یو خوا زما قید او بله خوا د «انجمن،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارګزاری په ملکو بنه اثر کړی دی او قوم کښې یې یوه زبردسته جذبه او احساس
پیدا کړی دی. یو څو ورځو کښې د پېښور، مردان، کوهاټ، بنو او ډېرو ټول دوستان
او ملګری زما ستړی مه شې له راغلل. اخر دا څو ورځې پس دا سلسله ختمه شوه. زه چه کلی ته
راغلم، نو زمونږ مرخه چه وو هغه لوټ شوي وو چه زه یې قید ولم نو زمونږ ډېره کوره ډېر
جواړ، ډېر غنم زمونږ کور کښې وو چه هغه وخت کښې به تقریباً دیولک روپو وو زه درې
کاله قید وم، ماواړی په پېښور کو کلی کښې د پنځو کانو کښې خپل کړې. وو چه واپس راغلم نو زما
خورۍ سلطان خان راته وویل چه په تاسو درې زره روپۍ مالیه بقایا ده دغه شان
ماته معلومه شوه چه زما د ښځې ټول کالی (زیورات) کانه وو. زمونږ په پښتنو کښې
دا قاعده ده چه په غم، خوشحالۍ خپل خپلوان او دوستان ورله ډوډۍ کوي او ډېری
پیسې پرې لګوي ماته هم ډېرو دوستانو او خپلو خپلوانو د ډوډۍ ستونه وکړه ما د
هغوی په خدمت کښې دا تجویز پیش کړو چه دیځی ډوډۍ په ځای ماله (او م خرچ)
او مه ډوډۍ راکړئ ماله یې نغدي راکړئ څومره چه ستاسو په ډوډۍ خرچ کیږی.
د هغې نیمه نغدۍ ماله راکړئ ولې چه زمونږ قوم ډېر ورو سته پاتې شوی دی او د دومره
لوی قوم دی و ده د خپلې ژبې یو اخبار قدری نشته او نه یې د بچو د تعلیم د پاره
مدرسه شته. د پښتنو خپله ژبه کښې داسې هیڅ څیز نشته چه زمونږ قوم تری څه
فایده اوچته کړي، مدرسه جوړه کړي او پښتون څه نه څه د دنیا د حالاتو نه خبر کړي.
لیکن زما دی خبری په دوی څه اثر ونه کړو. هر پښتون ډوډۍ ورکولو ته تیار دی
لیکن نغد حساب ورکولو ته تیار نه دی. صرف درې کسان وو چه هغوی زما د خبری
سره اتفاق وکړ او کافی نغد حساب یې راکړو چه یوه می چاچی (د تره ښځه) بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباس خان و او دریم عبدالله شاه میا و اونورو ما سره اتفاق ونه کړ پخه دودی
ماقبوله نه کړه او نغده دودی هغوی رانه کړه داز مونږ دپښتنو یوه لویه بد قسمتی
او ناپوهی ده چه مونږ بی ځایه خرڅونو ، رسمونو او رواجونو باندی په زرګونو روپی
خرڅوو (لګوو) او دقام ، وطن او اجتماعی ښیګړو د پاره دیوی پیسی خرڅ کولو ته تیار
نه یو . نور ژوندی قومونه په هر څه کښی د قوم حصه کوی . یوه هندوه وه زمونږ کلی کښی
اوسیده ، بودی ښځه وه چاوی چه هر وخت دا اوره اغوندی نو یو موټی اوره بیل بیل
کټوی کښی اچوي چاتری تپوس وکړو چه دا څه کوی هغی وی دا په قومی فنډ کښی وډکوم
او زمونږ لپښتانه ورونه په رواجی دودی زرګونه روپی لګوی خو دنام بنیادی فنډ
کښی یوه پیسه نه ورکوی . دغه وجه ده چه مونږ ددنیا دټولو قومونو نه وروستو پاتی یو .

## دفخرافغان لقب :

انجمن اصلاح الافاغنه زما د راتلو په خوشحالی دیوی لویی جلسی انتظام
وکړو او د ټولی صوبی خلکوته یی دشرکت د پاره دعوت نامی ولیږلی . دجلسی په ورځ
په زرګونو خلک په ډیر شوق او مینه محبت شریک شو ، په اتمانزو کښی د ټول قوم یوه
(عظیم الشانه) لویه جلسه وشوه چه په هغی کښی ماله دقوم دطرف نه یوه سپاسنامه (Address)
راکړی شوه ، یوه تمغه او جوبه هم دقوم دطرف نه راکړی شوه او بله دا چه دټول قوم لطرف نه
یی ماله دفخرافغان خطاب راکړو . چه زما دتقریر کولو وخت راغی نو اول ما د ټول قوم او د
جلسی دکارکنانو ډیره ډیری شکریی نه پس یو مختصر تقریر وکړو او د قوم د دا په
او حوصلی زیاتولو د پاره می ورته یوه قصه وکړه چه ما په مدرسه کښی په یو کتاب کښی لوستی
وه ما ورته ووی چه ای پښتنو ورونو ! تاسو باندی دهغه زمری تو نه شوی ده چه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلې وکښې لوی شوی و او د کلي وعادتونه يې اخيستي وو. په هغه کتاب کښې ليکلي وو
چه يو زمري د مور په ګېډه وه چه مور يې د کلي و په يو کلي حمله وکړه د ورتوپ کولو سره
بچي پيدا شو او مور يې مړه شوه او بچي تري پاتې شو دا بچي کلي وسره لوی شو او څه وخت
چه لوی شو نو ده کښې اکثر عادتونه د کلي وو او د هغوی سره به ګرځېده او د هغوی په شان
بين بين اوازونه هم کول يوه ورځې يو زمري په دې کلي ورا پيښ شو دده په ليد وکلي
دې خيل زمري کتي سره تس نس شوې او يو خوا بل خوا وتښتېدې د ځنګلي زمري په دې زمري
لوشو چه دده په ليد ولکه څنګه چه دا کلې ی تښتي او بين بين کوی د هغه شان د دې زمري
بين بين کول او تښتېدل ورته ډېر عجيبه ښکاره شو ده کلې ی پرېښودې او ځان يې د هغه
زمري ته ورسولو او هغه يې را ونيو او ځان سره يې هلته يو نږدې د اوبو تالاب ته راوستو
تالاب په غاړه يې و درود چه په هغه کښې خپل شکل ووينې او خپل ځان وپېژنې چه ته هم
ما په شان زمري يې بين بين مه کوه او وغړمبېږه! زمري چه خپل شکل ولېد و نو ورته
معلومه شوه چه زه خو زمري يم او هغه وخت يې د بين بين په ځای غړمبېدل شروع کړل
زما دې پښتنو ته ووې ای پښتنو ورونو! تاسو هم زمري يئ نو بين بين مه کوئ
غړمبېږئ، د غلامۍ دا زنځير وشلوئ، پاڅئ، ملا وتړئ او خپل ملک او قوم د غير
غلامۍ نه ازاد کړئ! زما دې تقرير په خلکو ډېر اثر وکړو او جلسه په ډېرې کاميابۍ سره
ختمه شوه.

زما صحت په جيلخانه کښې ډېر خراب شوی و او وزن مې هم پنځه پنځوس پونډه
کم شوی و، کمزوری شوی وم او په ملا کښې مې هم درد دونه پيدا شوی وو. په دې وجه د
... عطاءالله خان په مشوره او د هغه په ملګرتيا زه د يو څو ورځو د پاره د ارام او هوا بدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غرض کوه موږ ته لاړم قاضي صاحب هم راسره لاړ او دهغه ځای آب وهوا راته ډېره فا
ورښوله بیا دهغه ځایه دکلیا تو په لاره ایبټ اباد ته لاړو او ما خپه ورځي په ایبټ اباد کښي
او زما او ښي امیر رحمان خان سره تېرې کړې او ددې هوا په بدلولو زما صحت ته کا
ورسېده . زه چه څه وخت واپس راغلم نو اتفاقاً دلاور خان مي ولیدو ، هغه زمونږ
کمشنر و ډېرې خبرې یې راسره وکړې په اخر کښې یې بیل کړم او راته یې ووې چه کوفت
هم ستا تقریر ډېر خوښ کړې دی او ډېر خوشحاله شوی دی صرف دا یوه خبره پکښې
نه وه ما ورته وې چه کومه ؟ نو ده راته ووی دا د زمري غم بهار ځکه چه خلک
دي او ددی نه څه غلطی نتیجی ونه باسی او غلط مطلب تری وانخلی ، کوفت صا
د پېښې کمشنر و ما ورته ووې چه ما دا تقریر د کوفت صاحب د خوشحالولو په خیا
کړې نه ددی پروا کوم چه هغه ددې په اورېدو خفه یا خوشحاله شي هغه مي د قوم
د پاره کړې دی او دهغوی دا وچتولو په خیال مي کړې دی . دلاور خان چارسد
د پېښې کمشنر په دې خیال اسسټنټ کمشنر مقرر کړې وچه زمونږ انجمن او ازاد
ته نقصان ورسوي او هغه چه دلته راغی نو اول یې په انجمن کښې د بې اتفاقی پیدا
وکړه خو هغه په دې کښې کامیاب نه شو او ملا ښې ته یې هم د هیڅ قسم نقصان ور
شو . نو بیا یې په حکومت باندې زمونږ د ملا ښی په مقابله کښې په چارسده کښې
انګریزي سکول جاری کړو او ځای په ځای به یې زمونږ د ملا ښی په خلاف
کوله + د برټش حکومت بعض کتابونو ... چه څو ...
ده پاره مدرسه جوړه کړه ...
په بنو کښې د خلافت تحریک په خلکو باندې ډېر زیات ښه اثر کړې و
د بنو د ضلعې ټول ملایان په دې تحریک کښې داخل شوی وو بلکه د بنو د ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمبردارانو استعفاګانې ورکړې وې او په تحریک کښې شامل شوي وو. د پیرنګیانو
سره د ډېره ویره پیدا شوه او د ډېر هیبت پرې راغی زمونږ د چارسدې اکبرخان.
هلته چې وُ. د بنو ډپټي کمشنر هغه راوغوښتو او ورته یې ووې چه د دې خبرې څخنیوی
په کار دی نو هغه ورته ووې چه دا زما کار نه دی، زما کار خو دا دی چه تاسو یې
ونیسئ او ما ته یې راچالان کړې. زه به د مقدمې سماعت وکړم. د ډپټي کمشنر
چه د ده نه مایوسه شو نو بیا یې د لاورخان راوغوښتو، د لاورخان په بنو کښې
مجسټریټ وو او یوه د رشوت مقدمه پرې هم وه او هغه ته یې چه ووې نو هغه ورته
سینه وټپوله هغه ملایان یې په چلول د غلول او نمبرداران یې هم دوکه کړل او هلته
د خلافت هغه تحریک فیل شو. چونکه ده په بنو کښې یوه لویه فتح کړې وه دې یې زمونږ
دې تعلیمي تحریک او اصلاحي تحریک پسې چارسدې ته راولیږه چارسده یو د ډېر
اهم ځای دی دلته به همیشه اسسټنټ کمشنر انګریز د دیسي سړي به نه و. د لاورخان
په مشن سکول کښې او د مشن سکول په بورډنګ کښې ما سره د ډېره موده یو ځای پاتې
شوی و زمونږ دوه دواړو په شان یو د بل سره مینه او محبت وُ او زمانه یو یادوه جماعته
روستو و. ساده خلکو ته به یې وې او اکثر به یې په دې دوکه کول چه په اتمانزو کښې چه تاسو
پخپلو بچو سبقونه وایئ نو سند به ورله څوک ورکوي او نوکري کېږي به څنګه شي او مونږ
به چه چپړ ته په علاقه کښې غم ښادي له لاړو نو چه ذی به خبر شو دې به هم راپسې
راغی اکثر به د تعلیم متعلق د خلکو په مخکښې بحثونه شروع کړل قوم کښې لږ د ډېر
شعور (پیدا شوی وُ) د خدای فضل وچه په هر ځای کښې به یې شکست خوړ. د
ده د غلطی پراپیګنډې با وجود په خلکو کښې د غلط فهمي پیدا کولو په ځای د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به زموږ انجمن او مدرسې سره نوره هم زیاته همدردي پیدا شوه دده غلطه پروپیګنډه موږ ته د پاره ډېره مفیده ثابته شوه او تر اخره پورې الله تعالی دې پخپلو حیلو او حربو کښې کامیاب نه کړي او چا رسید پي نه ارماني لاړو او زموږ انجمن او مدرسې ته یې د هیڅ قسم نقصان ونه رسولی شو. دلاور خان عجیبه سړی و. دی د پیرنګیانو د پاره هر قسم قرباني ته تیار ؤ. یوه ورځ زموږ حجرې ته راغی او په حجره کښې نو د هم ډېر میلمانه وو، ده ډاکټر صاحب ته مخ کړو او ورته یې ووې چه وګوره دې افغانستان ته څومره ظلمونه یې په قبیلیانو شروع کړي دي که چرې پیرنګیانو په افغانستان کښې حمله وکړه نو زه به د ټولونه مخکښې یم توره به راسره وي د پښتنو سره ونه به وهم. ډاکټر صاحب ورته په جواب کښې ووې شاید زه به ستا په مخالفه ډله کښې یم ولې چه زه پښتون یم زه به څنګه د پیرنګیانو د پاره پښتانه ووهم! ددې په اوریدو غریب په هغه مجلس کښې کچه شو او بیا یې بل بحث شروع کړو.

## انجمن او مدرسې:

د انجمن په کوشش زموږ د مدرسې په ملک کښې ډېر شاخونه قایم شوي وو او ډېر لوی شوق په پښتنو کښې د خپلو بچو د تعلیم پیدا شوی وو ما او خادم صاحب د هغو معاینه شروع کړه. موږ چه به کله دا د ورې کولی، نو د ازاد سکول هلکان به هم موږ سره تلل، ولې او سعادت خان د ترنګزو به زموږ دې جلسو کښې نظمونه وئیل، دوی ډېر خوش اوازه وو. ولې به ډېر ښکلی قرائت وئیلو او ددې به په خلکو ډېر ښه اثر کېدو او د خپلو بچو د هر قسم تعلیم ورکولو سره به یې شوق پیدا شو.

زموږ د یوسف زو مدرسې په ډېر ښه حالت کښې وې او د هغې تولنه د صاحبزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورشید خان صاحب، دادینه او نصرالله جان محنت قربانی اوکوششونه وو. دشنغو
و دداوې نه پس مونږ دیوسف زو دوره شروع کړه او د تحصیل مردان او د تحصیل
صوابئ ټولې ملدرسې مو وکتلې، خادم محمد اکبر صاحب به امتحانونه اخیستل او ما به خپل
ټوخت دخلکو سره په لیدلو، کتلو او تبادلهٔ خیالات کولو کښې تیرولو مونږ اول شروع
مولانا شاه رسول صاحب د بالاکرۍ د مدرسې نه وکړه بیاساول دیر، کاټلنګ او
رستم مدرسې موو کتلې او په دې ځایونو کښې مولوي لوی جلسې هم وکړلې، او خلکو ته
د اتفاق د ورورولۍ، قامولۍ او دعلم فایدې بیان کړې. په دې دوره کښې
صاحب زاده خورشید صاحب او نصرالله جان هم راسره وو. څه وخت چه د ساول
یره، رستم ته رانغلو نو خادم صاحب او مولانا شاه رسول صاحب مونږ رستم ته
ضصت کړل او ما او نصرالله جان فیصله وکړه چه د سودم هر یو کلي کښې چه زمونږ
اره راځي څه نه څه ساعت به پکښې تیرو او خلک به د خپلو اغراضو او مقاصدو نه
زو. مونږ پیاده روان شو او مونږ سره چه یواس وهغه باندې مو مولانا صاحب سود
. ولې چه هغه ډیر ضعیف ؤ، دا زما د سودم اوله دوره وه، په دې دوره کښې زما
ر بهادر خان دکوټر پاڼ او شا پسند خان د چارغولي سره ملاقات وشو، دوی سره
ډیرې خبرې رشوې او بعضې نور خانان مې هم ولیدل، زه د سودم د خانانو په لیدو
خوشحاله شوم او دوی د ساده ژوند زما ډیر خوښ و. رستم ته مونږ ما بنام
سید و زمونږ خیال وچه دلته د شپې جلسه وکړو خو مونږ د مدرسې سرپرست
ن په کلي کښې موجود نه و او بل خوګ د خلکو د خبرولو د پاره تیار نه و ما او نصرالله جان
یو وخت دودۍ وخوړه نو زه د کلي په یو سړي او هغه د کلي په بل سر شروع شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې جرګې او هر جماعت له ورغلو او خلکو ته مو ووې چه په فلانی جماعت کښې د ماسختن
د لمونځ نه پس جلسه ده تاسو چه څه وخت لمونځونه خلاص کړئ تو د خدای د پاره
راشئ چه خلک په جماعت کښې جمع شو نو مونږ ورته خپل مقصد او غرض بیان کړو . سبا
د هغه ځای د ملاهی امتحانونه واخیستل او شیبې له کلیاړی ته لاړو دلته د مونږ
یوه ډیره ښکلې ملدسه وه . د کلیاړی نه قوی کلی ته لاړو او دغوی کلی نه اسمیل
لاړو هغه ملاهی موهم وکتې او په اسمیلا کښې نصرالله جان او صاحبزاده صاحب
یوه لویې جلسې انتظام کړې و او د ټولې علاقې خلک یې راجمع کړې وو جلسه په
کامیابی سره وشوه . نصرالله جان زمونږ ډیر قابل ، لایق ملګری او ده په وجه
د تحریک کار پښتان مخکښې روان و ، د پیرنګیانو دا خوښه نه وه او دغه شان به د
دا کوشش وچه زمونږ ددې قسم مخلصان ، کارکنان زمونږ نه جدا کړي ، د هغه ماما
پیرنګیانو نوکر و هغه لي مجبوره که چه نصرالله جان د ښیرسترۍ د پاره لندن ته و
او هغه لندن ته لاړ .

اصل کښې دا ځای د ټول یوسف زی د تحریک مرکز ؤ بیا مونږ د پښې
د علاقې دوره شروع کړه او چه د پیښور د علاقې له دورې نه فارغه شو نو بیا زه
او بنو په دوره لاړم . په کوهاټ کښې زمونږ دوه ملاهی وې ، دا ملاهی د
کارکنانو د اخلاص او کوششونو په وجه ډیرې په ښه حالت کښې وې ، په هنګو
ملدسه تمیک ارصاحب علی بادشاه جوړه کړې وه هلته مو یوه لویه جلسه وکړه
هغې کښې تقریباً د کوهاټ د هرې علاقې خلک شریک شوي وو . په هنګو کښې
دي ، دلته بعضې خودغرضو او سرکاری خلکو د شیعه او سني تعقاتو ته ډیر نقص

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دمینځی محبت په ځای پکښی ډېر نفرت پیدا کړی دی. په جلسه کښی ما یو لوی تقریر وکړو او په شیعه او سنی مسئله می ډېره روښنائي واچوله. او له جنبره می ورته دا وکړه چه مونږ خو ټول پښتانه یو که شیعه دی نو هم پښتون دی او که سنی دی نو هم پښتون دی، یو قوم یو او یو مو ملک دی، یو مو خدای دی، یو مو رسول دی یو مو قرآن دی، او حضرت علی تاسو هم منئ، مونږ یې هم منو، نو بیا دا اختلاف په څه؟ دهر چا لاره بیله بیله ده، خو دا ملک خو مو شریک دی، د دې ملک خدمت په شریکه په مونږ ټولو فرض دی او باید چه مونږ ټول د دې ملک خدمت وکړو. مونږ باید دا فکر وکړو چه دا ملک زمونږ دی او خدمت یې هم باید په ګډه وکړو، دا نفرت خو خود غرضو خلکو په شیعه او سنی کښی پیدا کړی دی. زما دې تقریر په خلکو ډېر ښه اثر وکړو که شیعه وو او که سنی و او څه نه څه د نفرت هغه اور چه خود غرضو خلکو لګولی و کم شو، زما په دې تقریر د هنګو خانان ډېر خپه شو او ما ته یې وویل چه زمونږ د شلو کلونو خواری دی، په سیند لاهو کړه. ما ورته وویل چه په دې بې اتفاقی کښی خو نه ستاسو خیر شته او نه د قام، او ملک ته ترې ډېر نقصان رسیږي که دې کښی فایده ده نو هغه خو دا انګریزانو ده، هغوی په دې خبری لیښی کړې ځی او د بې اتفاقی اور ته په هر ځای کښی پکی وهی.

د هنګو نه بیا تل ته لاړو د لته زمونږ ډېر ښه ملګری وو، د هغه ځای ملګریسره مو هم وکتله وکوهاټ ته واپس راغلو، د کوهاټ په ټوله ضلع کښی چه د دې ملګریسی د پاره څومره قربانی او فداکاری د تل خلکو کړې ده، دومره هیچا نه ده کړې، دوی په تعلیمی او بیا په سیاسی سرګرمو کښی هم ډېره برخه اخیستی ده او زما سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیر امداد او کار کړی دی. د کوهاټ نه بیا بنوں ته لاړم، بنوں کښې می امیر مختار صاحب
چه زمونږ د ازادی ملګری دی د هیډ ماسټر پلار دی او یو ډیر مخلص کارکن دی د هغه
په وساطت می د علاقی دوره وکړه او دوه مکتبونه مو د ملایانو په برکت پرانیستل او
د ډیرو خلکو سره مو لیدل کتل وشو او تبادله خیالات مو ورسره وکړل. د بنوں په ښار کښې
ملک خدا بخش صاحب وکیل د پیښور د جیلخانی په کوارټرینو کښې څو ورځې ما سره
پاتی شوی و او یو بل سره مو پیژندګلوی شوی وه د هغه په ذریعه حکیم عبدالرحیم
صاحب محمد جان بیرسټر، او محمد نواز خان وکیل سره می لیدل کتل او واقفیت
پیدا شو. زه چه څه وخت د لاهور په جیلخانه کښې وم هلته مو یو څو قیدیان د بنوں
د ککی کلی لیدلي وو د هغوی سره ما ددی خبری فیصله کړې وه چه هر کله زه رها
(خلاص) شم او بنوں ته د راشم نو ککی ته به ضرور د راځم. په هغه خیال زه او هیډ ماسټر
صاحب او د هغه پلار ککی ته لاړو په یو جماعت کښې مو لمونځ وکړو او بیا مو د خلکو
د راجمع کولو کوشش وکړو. په هغه ورځ د دوی چیرته څه لوبه (ابلہ ؟) وه د دوی
ملول هغې لوبې له روان وو. ما ورته یو څو خبری وکړې چه: ای پښتنو ورونو یو کافر
خیل کافر ورور نه وژنی تاسو چه ځان ته مسلمان وایئ بیا ولې یو پښتون بل پښتون وژنی؟
او نه چری یو پیرنګی پخپل قوم مخبری نه کوی او نه ستاسو ملکو تیا کوی بیا ولې تاسو د خپل
ورور په سر هغوی له مخبری کوئ او د هغوی ملکو تیا کوئ او نه چری یو هندو د خپل
هندو ورور خلاف ناحقه او د دروغو شاهدی کوي او نه د خپل هندو ورور د شرمولو
او د بی عزتی کوشش کوی. خو ای پښتنو ورونو بیا تاسو ولې په ناخوښاهدو د یو بل
بی عزتی او شرمولو پسی روان یئ، لږ خو د خدای نه ویریږئ او شرم وکړئ. یو کافر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوچيل کافر وو نه وژني، مخبري يې نه کوي او شر موي يې نه او موږ چه خان ته مسلمانان وايو او پښتانه يو موږ دې خپل پښتون مسلمان ورور وژنو، شر موو او مخبري ده پرې کوو. ماورته ووې چه دعا وکړئ چه موږ له خدای پاک پوهه او علم راکړي. از موږ په زړونو کښې الله تعالی مينه او محبت ورودولی، عزيزداری فامولی او اتفاق پيدا کړي. څه وخت چه موږ دجماعت نه ووتونو څو کسان را نه چاپيره شو او زه يې دا سې تينګ ونيولم چه نن دې پرې نږدو نه موږ سره به ضرور شپه کوې ماورته وې چه زموږ په سر دېر زيات کار دونه دي او موږ پاتی کيدای نه شو هغوی هم راته کلک شو چه دا خبره شونی نه ده ماورته وې چه اخر دا تاسو ونږ ولی دومره مجبور وئ هغوی راته ووې چه خدای کو دا دومره ژوند وتېر شو نږ يره کښې موسپين ولګيږه ليکن دچا ميا ملانه مو داقسم خبري او ريدلي دي چه تاسو پښتانه هم پخپل کورکښې ورونه يئ او که چرې يو کافر بل کافر نه ژني نو تاسو هم خپل ورور مسلمان مه وژنئ خلک وايي پښتون ترقي ونه کړه په انولارو روال شوی دی ليکن حقيقت دا دی چه پښتنو ته چاسمه لار ښودلې ؟ چا دو را نوږ منع کړي دي او دوی منع شوی نه دی هی افسوس دنورو قوم نو په شان ددوی غمخور نشته ! ددوی شپون نشته ځکه خوری شرمنبان دي او هاتوی.

څه وخت چه زما دوره ختم شوه او زه کلي ته راغلم يوه ورځ زه عباس خان اکرم او ما ته يې ووې چه دا کاخيل ميا معروف ډېر خطرناک سړی دی ورځ دهغه دا کوښش دی چه ما او تا کښې بی اتفاقي پيدا کړي. او دهغه يو خو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي ماته وکړه چه زه دهغې بیا نول نه غوارم . هغه خبری په دښتیاسره ډیری خرابي
وې ماته نورو خلکو هم دمیاں معروف صاحب ډیری قصی کړی دی او که دعباس خان
او مقصود جان په منځ کښې چه زمونږ دهای سکول هیډماسټرو چه دا ځه قسم ناچاقي
پیدا شوې وه هغه هم دده کارګذاری وه . ماته دا هم معلومه شوه چه دی زمونږ دانجمن
په ممبرانو کښې پری جنبې پیدا کول غواړی او اول چه کوم دمینې محبت او اتفاق مظاهره
دانجمن په ممبرانو کښې وه نن هغه نشته بلکه دانجمن ممبرانو دیو بل نه ګیلی مانی او
شکایتونه شروع کړي دي . میا صاحب زمونږ دانجمن دیو ډیر فعال رکن ؤ دکله
کار ده ته په حواله و دا خبره ورو ورو وګوښېده او د میا معروف غوږ و ته هم
ورسېده او څه ورځې پس هغه دانجمن دانسپکټری نه استعفا وکړه محمد
عباس خان زمونږ دانجمن صدر و دهغه دا خیال وچه زه دده استعفا فوراً
منظوروم لیکن ما ورته ووی چه ته لږ صبر وکړه او دا به ښه وي چه دده استعفا
انتظامیې ته پیش کړه شی بله ورځې ما مولانا محمد اسرائیل صاحب ولیدو
ماته دمیا معروف دا استعفا ذکر وکړه ده باندې هم دمیا صاحب تعلیم اثر کړی
و ده ماته ووې چه دمیا صاحب خوله سوری ده هغه بله ورځ هم دلته خلکو
لګیا و او دا نجمن خلاف یې خلکو ته خبری کولې هغه چه په هوښان وی رضا کول
په کار دی او که چېری هغه مستعفي شی نو زمونږ انجمن ته به ډیر نقصان ورسېږي
زمونږ بر خلاف به پراپیګنډه شروع کړي . ما ورته ووی چه دا خو ته منی چه د
خوله سوری ده دهغه پخپله خوله قبضه نشته بیا دا ممکن شی چه زمونږ انجمن کښې و
زیات خطرناک دی چه زمونږ دانجمن بر خلاف پراپیګنډه کوي په ځای ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي نه بهودی او زمونږ برخلاف پروپیګنډه کوی نو په خلکو به یې دومره اثر نه وي
وخلک به وایي چه دی خو په انجمن کښې نه دی نو بیا خلک دده په خولې دومره اعتبار
نه کوی او دی به مونږ ته د دومره نقصان رسولو قابل هم نه وي لکه چه نن دی. بله ورځ
مونږ خبر شو چه عباس خان د هغه استعفا منظوره کړه لیکن کوم کړ چه زمونږ په انجمن کښې
یا صاحب کړی وُو او کومې جوړې چه زمونږ په انجمن کښې خوری شوې وې هغه ورنه وتلې
و زمونږ د انجمن د بعضې اراکینو دا عادت شوی و چه څه وخت به یو ځای شو نو
یو بل خلاف خبرې به یې کولې او بیا وړو وړو زمونږ خادم صاحب او عبدالاکبر خان
و دې درجې ته ورسیده چه د مدرسې د هلکانو مخکښې به یې داسې فضول خبرې
ولې چه سړی به ورنه حیرانیده ویوه ورځ ماته هیډ ماسټر صاحب ووې چه ناظم صاحب
وسکو توری صاحب د هلکانو په مخکښې داسې خبرې کوی، او د دې قسم خبرې کول په
کار نه دي ځکه چه دا خو د انجمن یو ذمه وار خلک دي او د دوی په داسې خبرو به خلکو
واب اثر کیږی او زمونږ انجمن او مدرسې ته ترې سخت نقصان رسیږی ماورته
وی چه هغوی څه خبرې کړې وې هغه راته ووی چه نور دې خبرې خو پریږده هغه
ورځ د هلکانو په مخکښې لګیا و چه ستا دوست قاضي عطاء الله خان د پېرنګیانو
خبر دی او ده پیسې یې لګولې دی او دی چه په کار کښې هغه د غه کوی دا د قاضي تعلیم
ی چه په ده یې اثر کړې دی. زه د دې په اوریدو ډیر خفه شوم چه دوی په ما او
قاضي صاحب شکونه او الزامات لګوي لیکن ما څه کولې نه شو د دوی خولې بادې شوې
ی. ډیر ځله ما دوی ځان له پوه کړل چه ستاسو د دې قسم خبرو نتیجه به څه وی؟
دوی نه پوهیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۲۵-۲۶ع وخت ؤ چه په پېښور کښې د جمعية العلماء هند جلسه وه مونږ ا
يي هم دعوت راکړی و زه مقصود جان د اتمانزو د ازاد سکول هيډ ماسټر او دد
ازاد سکول يو څو هلکان دغه کنفرانس کښې شريک شوي وو په دې کنفرانس کښې غنی
چه دغه وخت د ديار لسو کالو و تقرير کړې و چه دهغه تقرير په ټوله جلسه او د جمعية العل
هند په ليډرانو ډېر زيات اثر وشو. مولانا کفايت الله چه د جمعية صدر وو او پاڅېد
او غني يي ډېر ښکل کړو. په دې کنفرانس کښې صاحبزاده عبدالقيوم صاحب هم موجو
و، چه جلسه خوره شوه نو صاحبزاده ماته و ويل چه زمونږ د اسلاميه کالج جلسه د
که ته هغې له راشې نو ډېره ښه به وي ماورته دا وويل چه مونږ سره يو تعليمي نظم دی ک
ته مونږ له اجازه راکوې چه هغه نظم زمونږ د مدرسې هلکان هلته ووايي نوزه به د
مونږ. به تا ته دا نظم وښيو ته يي وګوره هغه يو تعليمي نظم دی هيڅ سياست پکښې نشته
صاحبزاده صاحب ته مو هغه نظم ولېږلو او دکتلو نه پس يي مونږ له اجازه راکړه او مو
دی جلسه کښې شريک شو هلته زمونږ د مدرسې دوه هلکان پاڅېدل او هغه جلسه کښې
يي هغه نظم وويلو هغه نظم د جلسې په خلکو دومره اثر وکړو چه د اسلاميه کالج هلکان په ژړا
او په جلسه کښې د شريکو ډېرو پښتنو د سترګو نه اوښکې توي شوې او د اېنګليان چه وو
کرهو کښې دا سې نيغ شوا و وي ويل چه دا هلکان څوک دي ؟ Who are these boys?
ماورته و ويل چه دا د اتمانزو د ازاد هائي سکول طالب علمان دي نو دوی و ويل چه ښه
ازاد سکول ؟

## دحج سفر :

زه په ۱۹۲۶ع کښې د حج په سفر روان شوم ، په دې سفر کښې بوزه وم ، يوه مې خ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل می اوښی، زما د تره زوی عطاؤالله خان و او بله می ښځه وه ، پېښور ته ولاړو
او ډاکټر صاحب راته د سیکنډ کلاس ډېر ریزرف کړه او کراچۍ ته ورسېدو . مونږ
په کراچۍ کښې د حاجیانو په کیمپ کښې وو چه د عبدالله هارون صاحب . بی بی راغله مونږ
یې کور ته بوتلو ، د هغوی یو ښه مناسب کور و هلته یې ډېره کړو . د حاجیانو جهاز راغی
مونږ د پاره عبدالله هارون صاحب ډېر کوشش وکړو چه مونږ له د سیکنډ
و فسټ کلاس ټکټونه واخلی مګر هغه ټول ډک شوی وو د روانیدو په وخت کښې
هغه مونږ سره لاړ او د جهاز کپتان ته یې ووې چه دوی ته سیکنډ او فسټ میلاو
نه شو ، هغه ته یې ووې چه زمونږ خیال وساتی په دې تهرډ کلاس کښې یې خلک ډکلو
او په شان اچولی وو چه جهاز روان شو ، سمندر په څپو کښې وو چه لږ غوندې د سمندر
ټخ ته شو نو د خلقو قی شروع شو مونږ ټول په تکلیف کښې وو ولې د خور حالت می ډېر
خراب و مونږ د جهاز د پاس نه کوز ځای ته ورکوز شو خو هلته هم زمونږ تکلیف کم
نه شو بلکه زیات شو نو زه بیا د جهاز هغه کپتان له ورغلم او ورته می ووې چه مونږ
ډېر تکلیف کښې یو ته چه زمونږ نه څو مره کرایه اخلی نو مونږ به یې درکړو ته مهربانی
او مونږ له یو ځای راکړه چه مونږ پکښې آرام وکړې شو او روپۍ می ورکړې په
جهاز کښې یوه کمره وه چه سامان پکښې پروت و هغه یې خالی کړه او مونږ هغې کمرې
ته ورو داخو ښه وشو چه مونږ ځان له شو ولې تکلیف موکم نه شو . دوی درې واره
ورباتی شو او زه د فسټ کلاس نه بهر لوی بر نډه وه هلته لاړم ، مونږ خو کپتان
صاحب له حساب ورکړې و نو ما ته چا څه نه وې ، او ه ما ته ورځې پس علان ته ورسېدو .
دلته جهاز یو شو اودرولې وي . دلته شپه یخه وه زه یخنې وهلم او انفلوینزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



می شوه زه د فست کلاس نه بهر په هغې بونډه کښې پروت وم چه یو عرب زه ولیدلم
هغه راغی او زه یې ځان سره د ننه فست کلاس ته بوتلم، زما یې ډیر خدمت وکړ چې
زه به یې ټول عمر یاد لرم. چه جدې ته ورسیدو نو زه لوږه بند شوی وم. د جهاز نه راکوز
شوم زما د ملګری هم راکوز شو، یو ځای شو خو ټول سامان چه د دوی سره وو هغه ټول
په جهاز کښې پاتې شو، عطاءالله خان خو ډیر ساده سړی و هغه به څه نه پوهیدو او
دا قدر دی هم ونه کړی شو چه هغه خپل سامان یې د جهاز نه راکوز کړی وای مونږ
سره ډیر سامان اخیستی وو، زما هغه ټول سامان او زما د تبرجامې چه پکښې
سره وزرو تنهی وی هغه هم لاړ. ما هغه وخت زمونږ (معلم) ته ووې چه په جهاز کښ
زمونږ سامان پاتې شوی دی هغه لاړ ویل یې سامان می بیانه مونډ. د دغه ځای نه ج
مونږ مکې معظمې ته راورسیدو نو مونږ رپوټ وکړ، د غوور خو کښې د سعودیانو حکوم
نوی جوړ شوی و شریف مکه یې په مخه کړی و. د شریف مکه په وخت کښې به چه ج
حاجیانو راکه وکړه یا غلا وکړه نو په هغې کښې به ورسره دی هم شریک و. دی عیاش
و ولې سعودیان داسې نه وو هغوی به د حاجی چه څه نقصان وشو د هغه ذمه دار به
معلم ګرځولو او د هغه تاوان به یې ترې اخیستو، د دوی په وخت کښې داسې په مل
کښې امن وچه بیان یې د ړه ته کوی نه شم. حکومت زمونږ د رپوټ په وجه هغه زم
معلم راوغوښت او ورته یې ووې چه د مال پیدا کړه او که دی پیدا نه کړو نو تا و
ورکوه! » هغه معلم زمونږ د پیښور حاجی جان محمد له ورغی او ورته یې وو
دوی ته ووایه چه ما معاف کړي. او چه حاجی او ورسره هغه معلم د جرګې په طر
مونږ له راغلل نو مونږ معاف کړو.

مونږ د حج مراسم د دیني احکامو سره مطابق په خپل خپل وخت تر سره کول چه د
مشغوله تفصیلي ذکر نه تېرېږو، صرف دا يوه پېښه یادوم چه د حج په دوران کښې د سعودي
حکومت له خوا «موتمر عالم اسلام» په نامه یوه لویه جرګه جوړه شوه هغې ته د حاجیانو
نه د دنیا د هر ملک د مسلمانانو مشران راوغوښتل شو. د هندوستان نه مولانا
محمد علي، مولانا شوکت علي، مولانا ظفر علي خان او مولانا اسماعیل غزنوي او ځینې نور
په دې موتمر کښې شامل وو زه هم پکښې شامل شوم. مولانا محمد علي او شوکت علي
وی دا خبره پیش کړه چه تاسو د دې مزارونو او قبرونو نه ګنبد و نه جبي اوقبې
لي وړانې کړې دي او اوار کړې مو دي هغوی ورته وویل دا اسلامي شریعت
خلاف دی دوی وویل چه دا خو «آثار قدیم» وو هغوی ځواب ورکړه چه آثار قدیم
خو تاسو ګوری چه د دې نه مسلمانانو ته فایده رسیدلې ده که نقصان؟
دوی یو بل تجویز هم وړاندې کړ هغه دا چه باید د مکې معظمې د متولي توب د پاره
د تولی د دنیا د مسلمانانو په خوښه یو سړې مقرر شي نو هغوی ورته ووې چه فرض
چه د دنیا مسلمانانو د هندوستان یو مسلمان دې کار د پاره خوښ کړو نو آیا هغه
لي معظمې حفاظت کولی شي؟ ځکه چه اوس دا دی مونږ او لیدل چه کله کافر پېرنګې
راغی نو د هندوستان مسلمانانو هم د هغه په فوځ کښې هغه سره راغلل او زمونږ په
مقدسو مقاماتو هغوی د ګولو چلولو نه انکار ونکړو، ګولې یې او چلولې. د دې نتیجه
شوه چه موتمر ته د فایدې په ځای نقصان ورسید او د هغه موتمر ختم شو.
کله چه د حج نه فارغ شو زه خو ناجوړه وم، زه او زما ټبر طایف ته لاړو زما خور
کښې تا دی وه هغوی مدینې منورې ته لاړل. طایف ته چه تلو مونږ سره په لاره کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پښتون ملګری شو، د پېښې سړی و، چه طایف ته ورسېد هغه مونږ خپل کور ته بوتلو. د ده هلته ډېر ښکلی کور و. طایف ډېر ښکلی او اباد ځای دی، ښه آب وهوا لري، مونږ څو ورځې هلته تېرې کړې. په دې ورځو کښې چه هلته وو به ورځ یو سړی مونږ ته غږ وکړو چه: «د تعال تعال» یعنی «د دلته راشئ!» مونږ ورغلو هغه ووېل دا د حضور صلی الله علیه وسلم وېښته دی او دا بل په کته کښې د هغه د پښې د پل نښه ده، دا وګورئ!!» ما ورته ووې چه مونږ خو طایف ته د دې د پاره راغلي یو چه دل
د حضور صلی الله علیه وسلم هغه عزم اراده عفو وګورو. چه هغه دلته د تبلیغ د پاره راغ
ؤ او خلکو په کاڼو کتو ووېشت، زخمي يې کړ، خو هغه په خپل عزم ټینګ ولاړ و او بیا
هغو خلکو ته دعا وکړه چه خدایه ته دوی ته هدایت د نیکۍ وکړې. په طایف کښې ن
صحت ښه شو نو بیا واپس مکې ته راغلو په هغه وخت کښې موټر نه و مونږ د ټانګ را
ډاو ښانو په سورلۍ کاوه. په مکه کښې مې مولوی محمد اسماعیل غزنوی صاحب ولید ه
خو زما د جېلخانې ملګری و. د جېلخانې دوستان ډېر خواږه وي په خبرو خبرو کښ
ما ورته ووې چه مونږ مدینې منورې ته ځو، راته یې ووې چه راځه ما سره جدې ته لا
د جدې نه هم مدینې ته لاره تللې ده ما ورته ووې زه په بله لار د مدینې ته ځم لیک
هغه مجبور کړم او ورسره جدې ته لاړو. چه جدې ته ورسېدو هلته یو لوی ا
سړی د ده اشنا و هغه کره دېره شو. په دې ورځو کښې د سعودي بادشاه جدې ته
او جدې کور ته راغی او مونږ سره یو ځای په هغه کور کښې دېرا شو، هغه ډېر
سړی و مونږ سره به یې یو ځای ډوډۍ خوړله، یو ځای به ناست پاست وو لو
به مو سره مجلس کوو. ما په ده کښې یو ملک او خان هومره غرور ونه لید بلکه یو فقیر او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېږی و. حالانکه چه دی بادشاه و، څوورځی پس مونږ مدینې منورې ته روان
شو د سعودی باچا سکرتر مونږ ته لاری د موټرو او نورو په نامه یو خط راکړ چه د دوی دارام
خیال وسائی. زمونږ تولو قافله پنځه اوښان وو، څلور یا پنځه ښځی، دری یا څلور ماشومان
و. کوم اوښ چه زما د پاره و زه یوه کجاوه کې زما د ټبر او بله کې زما وه ؟ کجاوې لنډی
ی او زه پکښې تنګېدم، د شپې به اکثراً دا اوښ نه کوزېدو او د عربستان په هغو ږېږو
کو مو پیاده مزل کاوه. دې مزل ډېر خوند کاوه. په دی قافله کښې چه دا نور عرب
ونږ سره وو. دا هغه کسان وو چه د پېرنګی د راتګ په وخت کښې د شریف مکه په دور
نی د مدینې نه ترکو ته هجرت کړی وو او اوس واپس راغلی وو او مدینې ته تله. چه مونږ مدینې
و د مسجد و نو په دوی کښې دیو کره دېره شو، زه په مسجد نبوی کښې د لسو ورځو د پاره
تکاف شوم، هغه جماعت کښې یوه ستن وه د هغې سره به ناست وم. یوه ورځ په دې
جد کښې می حاجی محمد امین ولید، رو غبر مو وکړ، ما ترې تپوس وکړو هغه دا ته
ل چه دلته به دې مسجد نبوی کښې ما یوه کوټنۍ ‌پیدا کړې ده او اراده لرم چه دلته
کال (چله) وباسم. ما ورته ووې چه د څه د پاره ؟ وې چه د رسول الله صلی الله علیه
لم د خوشحالئ د پاره. نو ما ورته ووېل چه رسول (ص) په دی نه خوشحالېږی
رته ووی چه داسی وکړه چه ته بېګا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیارت کښې د
ن شریف تلاوت وکړه او دعا او بیا استخاره وکړه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم
ی خوشحالېږی چه ته دلته هغه سره په کوټنۍ کښې ناست یې او که په دې خوشحاله
ی چه ته لاړ شی او د هغه پیغام خلکو ته ورسوې. چه د شپې ویده شوی دی نو
ر وختی ماله راغی چه ستا خبره سمه ده سبا وطن ته ځم او خلعت به کوم او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیروی ته چه په خیر راغلی نو بیا به تاسره یو ځای کار کوم، ما ورته څه حساب هم ورکو

خو ولاړ مونږ شو ورځی دلته تېری کړې بیا بیت المقدس ته روان شو، د حجاز دیوا

بندر (بورت) د (رابغ) نه مصر ته ولاړو کله چه زمونږ جهاز د سویز په بندرګاه کې ودر

او مونږ تری کوز شو نو زما اراده وه چه د قاهری او اسکندریې ښارونه هم وګورو

اراده زه وروغوندی یو مصری افسر ته ورښکاره شوم او د اخبره می ورته وکړه او دا

هم ورته ووې چه مونږ ستاد اسلام ورونه یو امیل دی چه ته به مونږ سره په دې کښی

امداد وکړې. د مسلمان د ټکی دا ورېله و سره هغه موسکی شو او ماته یې ووې چه نو

ستاحضورت دی، نو زما مسلمان ورور یې او چه سبا پېرنګیان په مونږ حمله کوي بیا

مسلمانی او ورور ولی چیرته لاړه شی؟ تاسو د هندوستان خلک مسلمانی څه پېژ

ستاصو اسلام خو پیسه ده. تاسو داسی قوم یې چه د پېرنګی دیوه آنیز د پاره موتو

دنیا د پېرنګی غلامه کړه او دا مونږ هم چه د پېرنګی غلامان یو دا هم ستاسو د لاسه کېږ

اختیار وی نو دا ستاسی ناپاک او منحوس قدم به په دی خاوره بری نه ږدو، د

او د ېلو زه چپ شوم. دلته مونږ لس ورځی په کورانتین (قرنطین) کښی تېری کړ

دهغی نه پس فلسطین بیت المقدس او شام ته لاړو. په بیت المقدس کښی مونږ

دردناکه حادثه را پېښه شوه، دلته زما تبر د بیت المقدس د جماعت د پاوړو

نه را پرېوته زخمی شوه او څو ورځی پس مړه شوه (اناالله واناالیه راجعون) ۱۰

هلته دفن کړې شوه.

په فلسطین کښی یهودیانو ښکلی ښکلی نوی کلی، ښارونه او باغونه جوړ کړ

او ګلیادي جوړ وي یې لیکن مسلمانان یې لا هغه شان په غفلت کښی پراته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مهدی صاحب تر په انتظار کښې ناست دی چه مونږ به پخپله څه نه کوو هغه به راشي
او هغه به دا اله هر څه وکړي . دوی دومره بې علمه او بې خبره دي چه امام خو پرېږده چه
پیغمبر راغلی دی او خپل قوم ورسره ملا تړلې نه ده نو پیغمبر کامیاب شوی نه دی .
په بیت المقدس کښې زما د مسلمانانو ورونو عربو سره په دې باندې ډېرې خبرې
شوې وې زه چه به د بیت المقدس نه بهر ووتم کومه ځمکه چه به مې ولیده چه شاړه
او ریګ دی نو چه تحقیق به مې وکړو نو معلومه به شوه چه د عرب ده او کومه ځمکه چه به
آباده وه په هغې کښې به یو وړوکی غونډی بنګله او باغ و نو چه تپوس به مې وکړو وې
دا یهود دی دا او دغه شان د کلو حال و . یهودیانو ښکلي ښکلي آباد او پاک کلي او ښکلي
ژوند واو د عربو به درته څه ذکر کوم او بله دا چه سحر به ووتم یهودیان به ښځې ، نر
ټکیا وو کارونه به یې کول او په بیت المقدس کښې چه به سحر هوټل له لاړم څوک به پکښې
نه و چه غرمه به لاړم څوک به پکښې نه و چه ماښام به لاړم نو هوټل به ډک و ښکلي ښکلي
میزونه به لګیدلي وو ، خلکو به ښکلي ښکلي پاکې ، صافې جامې اغوستې وې چا به
چای څښله ، چا کافي ، او چا د انګورو او به او چه د عربو هوټل له به لاړم نو که سحر و
هم به خلک پکښې ناست وو که غرمه وه هم د خلکو نه ډک و او که ماښام و هم به خلک پکښې
و غټ غټ چلمونه به پراته وو ، چیلم به هلته او ریلي وس به یې یو ځای پروت
د دوی په هوټل کښې هغه صفایي نه وه کومه چه د یهودانو په هوټل کښې وه او ټکیا
وو لوبې به یې کړلې زه پرې نه پوهیدم چه څه لوبې یې کولې یوه ورځ مې دې عربو
ورونو ته ووې چه دا تاسو په کومه دنیا کښې یې لګیدلي ستړګي خو وغړوئ زه چه
ستاسو په دې ملک ګرځم چه چیرته شاړه ځمکه وي او ریګ وي نو چه تپوس وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دچاځمکه ده ؟ نووایي چه دعرب ده اوچه ښکلی آباده ځمکه او باغ او بنگله وونیم
نوچه تپوس وکړم چه دادچا ده ؟ نووایي چه دا دیهودی ده . تاسو دي خپل ژوند
نه وکوډئ او دهغوی ژوند نه وګوری که علم مونشته نو ستړګی خو مونشته . نو
هغوی کښی یو کس جواب راکړو چه مونږ داشادی ځمکي په یهود یانو باندی خرڅ
چه ابادي یي کړي او اوس اخري صلاح ده امام صاحب به راشی او دا هر څه
به زمونږ شی . زما خیال وچه ملا صاحب کښی یو اذی مونږ پښتانه امام صاحب
نه کښینولی یو لیکن عرب غریبانان یي هم ورته کښینولی دي . اوس می کله ناکله خیال
پیدا شی چه فلسطین نه لاړلی او دعربونه می تپوس وکړای چه هغه ځمکي ستاسو
شوی اوکه دیهود یانو شوي ؟ خوادلسمه صلای خلاصه شوه .

یوه ورځی زه د بیت المقدس نه باهر سیل ته ووتم یو ځوان عرب را سره
ملګری شو ماله لږه لږه عربی راتله هغه سره می خبری شروع کړي ورته می ووی چه
بیت المقدس خو ډیره ترقی کړي ده نوی نوی سړکونه پکښی پیرنګیانو جوړ کړل او نو
نوی ابادی یي پکښی وکړي هغه ماته وکتل څه یي ویل لیکن چپ شو او ماله یي هیڅ
جواب رانه کړو ماورته ووې چه ولې چپ شوی نو هغه رانه پوښتنه وکړه چه ته
یي ؟ خو ماورته ووې چه اخر ستا مطلب څه دی ؟ هغه راته ووې چه هندیان د
خراب خلک دي دهغوی کار بغیر د مخبری نه نور هیڅ نشته په دې قول ملک
کښی خلک هندوستانی ته په ډیر نفرت سره ګوري دوی ته ډیره ګناه نه وه
د دنیا په لوی جنګ کښی دی خلکو سره هندوستانیانو او دهندوستان فوج
کړي دي ، دهغې سزا دې دوی له خدای ورکړي . د دی هندوستانی فوج

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو و. ماورته ووې چه زه تاته لږ ازکم دومره ویلی شم چه زه مخبر نه یم هغه راته ووی چه مونږ به سرکونه اوآبادی خه کړو مونږه او زمونږ ملک ورځ پر ورځ په پریوتو اودغربت طرف ته روان دی ځکه چه ترکو به د قسطنطنیې دخزانی نه روپی دلته لګوې اوپیرنګیان لکه دجورو په مونږ لګیا شوی دی، زمونږ مال خوری او ولایت ته یی لیږی اوبیا یی یو سور اسویلی وکړو چه مونږ خه ترکو سره وکړه او س الله تعالی مونږ ته دهغی ناشکرګذاری سزا راکوی اوس مونږ ترکو پسی ډیر ارمانونه کوو لیکن وخت تیر دی الله ج دې مونږ ته عفو وکړي. او ددی ظالمانو د پنجی نه دې مونږ خلاص کړي. دغه حال د شام هم دی.

د شام ملک په دوو حصو تقسیم دی، دیوې حصی چه (اوس ورته لبنان وایی) دارالخلافت بیروت دی. دا دسمندر په غاړه یو مزیدار ښار دی دلته دعلومو وفنونو دزده کولو د پاره امریکی یولوبی دارالعلوم قایم کړی دی د شام په دې حصه کښی داوبو کمی دی غرونه هم پکښی ډیر دي لیکن خلک پکښی دومره تکړه دي چه غرونه یې ټول ه اباد ه کړي ده او اکثر غرونه یې د انګورو باغونه کړي دي، کلی او باغونه ډیر اعلی طریقه باندی جوړ دي خلک یي ډیر ښه اواسوده دي په کومه علاقه کښی چه د مسلمانانو ابادی زیاته ده، دهغی دارالخلافه دمشق ښهر دی. دمشق هم یو ډیر مزیدار ښهر دی، کور په کور او کوڅه په کوڅه او به بهیږی او به پکښی ډیری زیاتی دي ځمکی یی ډیری ښی دی لیکن خلک یي هغه شان محنت کش او آباد کار نه دی اونه یې خلک هغه شان ترقی یافته دي اونه یې هغه شان پاخه کلی دی. په دې ملک کښی دفرانس حکومت دی، دلته په دی خلکو کښی دا دصفت یوه خبره ولیده چه په عیسایانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مسلمانانو کښې مینه او محبت دی او په دوی کښې هغه بې اتفاقي او نفرت نشته
لکه چه څنګه د فلسطین په مسلمانانو او یهودیانو کښې مالیدلی دی. زما په خیال په فرانسیانو
کښې لکه د پیرنګیانو په شان دا بد عادت نشته دی چه د خپل مطلب د پاره په خپلو رعایاوو
کښې نفاق او نفرت پیدا کوی. د پیرنګیانو پالیسی خو د (Divide and rule) خلک بې اتفاقه
کړي او بیا پری په مزه حکومت کوی.

د بیروت په یو هوټل کښې می د یو مسلمان عرب سره خبری شوې هغه دا نه
وې چه زه دلته دیوی کمیټۍ د پاره راغلی یم چه هغه کمیټۍ د فرانس حکومت د
دې د پاره مقرر کړې ده چه په دی خبره غور وکړي چه تش تعلیم د رعایا د پاره مفید
نه دی. دی سره صنعت او حرفت هم په کار دی. زه حیران شوم چه د فرانس په دې
ملک لس کاله لا د حکومت شوی نه دی او بیا د دوی د صنعت او حرفت د وسره فکر
او خیال دی او په هندوستان د انګریزانو د پاچایی تقریباً دوه سوه کاله وشو
غریب رعایا هره ورځ د صنعت او حرفت چغی وهی لیکن څوک پری غوږ قلاری
نه بږدي. د شام نه زه عراق ته لاړم، په موصل کښې مو دوه ورځې تېرې کړې. دا یو
ورو کی مزید ار ښار دی او سیند پکښې بهیږلی دی، خلکو کښې شراب خوری
او عیاشی زیاته شوې وه که څه هم د پیرنګیانو حکومت په دی خلکو ډیر مو د
پاتی شو نو زما په خیال دا خلک به بالکل تباه او برباد شی. د موصل نه بغداد
لاړلم بغداد کښې می کافی ورځې تېرې کړې. په دی ښار کښې هم بې شماره شرا
وې، د ښار ابو اکثر دکانونه د هندوستانیانو دي چه د پیرنګیانو قبضه کېدو سـ
هلته تللی دي. د دې ښار اخلاقی حالت ښه نه و او پیرنګیانو ډېر ارمینین هم دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آباد کړي دي. بغداد یو ډېر مزیدار ښار دی او د ښار په منځ کښې یو لوی سیند بهېدلی دی. د بغداد نه کربلا ته او نجف ته لاړم، دا دواړه ډېر متبرک ځایونه دي. او د لیرې لیرې ملکونو نه مسلمانان خصوصاً شیعه ګان د حضرت علی (رض) او د امامانو زیارتونو له ورځي. دا زیارتونه په یوه لویه پیمانه باندې ډېر مزیدار جوړ دي په لیدو یې د سړي زړه خوشحاله شي. شیعه ګان غریبانان تر اوسه پورې هغه شان هلته ځانونه ټکوي او جنګل سره د غمرې وهي او په زاد زاد ژاړي. د دې په لیدو سړي ته هغه پخوانی حالت را په مخکښې شي. د نجف نه بیا زه کوفې ته لاړم. کوفه نجف ته نزدې ده کوفه یو وړوکی غوندې ښار دی او د سیند په غاړه آباد دی د نه ترقی وجه یې خلک دا بیانوي چه د دې ښار د هغه وخت اوسېدونکو حضرت امام حسین صاحب او د هغه اولاد سره غداري کړې وه نو الله تعالی د دې ښار اوسېدونکو ته دا سزا ورکړه. که چیرې دې خلکو حضرت امام حسین سره وفاداري کړې وای او هغوی کامیابه شوي وای نو د دې ښار به دا حالت نه و او دا ښار به د بغداد په ځای د عراق دارالخلافه وای په دې ملک کښې پیرنګیانو ډېر نهرونه جاري کړي دي او جرګو موځمکو ته د نهرونو په ذریعه اوبه نشي رسېدلی نو هلته یې په سیند باندې ماشینونه لګولي دي د هغې په ذریعه اوبو خور کېږي. یو ځوان عرب ما سره په ریل کښې سفر کوو هغه ته مې ووې چه د پیرنګیانو په راتلو خو ستاسو ملک ښه اباد شو او تاسو ته ډېرې فایدې ورسېدې هغه زما دې خبرې پورې وخندل او ویلې وې چه بې شکه دا یو قوم د غافلولو د پاره ډېر ښه ترتیب دی دا ته چه ترقي وایې، دا د یو قوم او ملک د پاره اصلي ترقي نه ده او نه دا پیرنګیانو زمونږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ترقی دپاره کړې دی ، ددې نه مطلب دهغوی زمونږه اوده کول اوغافل کول دی چه مونږ په دی مشغوله شو اوهغوی په مزه زمونږ په ملک حکومت کوي داخو په حقیقت کښې دغلامی یوجال دی چه زمونږ دغلامی دپاره هغوی خور کړې دی په عراق کښې یهودیان اوعیسایان خونشته خوهلته پیرنګیا نو شیعه اوسنی په جنګ کړي دی . چه په کوموښارونوکښې سنیان زیات دی او شیعه ګان یکښې لږ دی نوهلته دوی دشیعه ګانو ملګري دي اوچه په کوم ښارونوکښې شیعه ګان زیات دي اوسنیان کم دی نوهلته دسنیانو ملګری دی لیکن ددوی داپالیسی کامیابه کېدی نه شی ولی چه په عراق کښې دشیعه ګانو ابادی ډېره کمه ده .

بیا زه بصرې نه راغلم اودخوودخو قیام نه پس په جهاز کښې سور شوم په کراچې کښې کوز شوم .

په عربو کښې چه څه وخت د پیرنګیانو حکومت قایم شتوېدلی نود نورو څیزونو نه علاوه دوه څیزونوله دوی ډېره ترقی ورکړې ده یو شراب خوری اوبله دوم بازونو په هرښهر کښې دشرابو دکانونه دي اودډمو بازارونه دي جاجی دی ، عیشونو اوسړودونه دي او دخلکو اخلاقی حالت یې ډېر خراب کړی دی ، یوه ورځې دبصرې په بازار کښې ګرځېدم چه څوک نه ورسېدم نوپه څوک کښې مې پهانسی لګه ولیده دتحقیق نه راته معلومه شوه چه په دې پیرنګیانو ډېر قوم پرست عرب پهانسی کړې دی اوډېر ظلمونه یې عربو سره کړې دي ، دهندوستان په اخبارا تو کښې مو دشام دظلمونو قصې لوستې چه فرانس په عربو باندې کړې وو ، لیکن په عراق

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې چه پیرنګیانو په عربو کومې لوبې کړې وې ، د دې متعلق مونږ چیرې د هندوستان
په اخبار اتو کښې څه لیدلي نه وو. معلومیږي دا چه د هندوستان ځینې اخبارات
څه خپل ضمیر نه لري او چه پیرنګیان ورته څه وایي هم هغه لیکي. دلته هم د هندوستانیانو
نه ډیر نفرت دی ولې چه دوی د اسلامي اخوت په جامه کښې پیرنګیانو ته ډیرې مخبرۍ
کړې دي او ډیر عرب یې په پهانسۍ کړې دي. په کار دی چه د داسې قوم نه نفرت
وکړې او که لږ قدر دې د عراق اختیار خپل شو د هغوی اول کار به دا وي چه د لخلک
خپل ملک نه وباسي.

څه وخت چه کراچي ته ورسیدم نو په بندر کښې زمونږ د نوښار د یو پښتون تانه دار
هغه چه څه وخت په جهاز کښې ولیدم نو راتر غاړه وتو او په زور لي خپل ځای ته بوتلم.
مونږ د طورو نواب زاده امین الله خان هم په کراچي کښې و دی په ریل کښې د پیرلوی
سره چه هغه خبر شو هغه راغی نو بیا هغه زه خپل ځای ته بوتلم ، یو دوه ورځې مې دېرې
مینه او محبت سره هغه سره تېرې کړې بیا وطن ته را روان شوم او کلي ته په خیریت
را ورسیدم.

پښتون (اخبار - مجله):

په جیلخانو کښې ما د خپل قوم په حالاتو باندې په ښه شان سره غور کړې وو زه
په نتیجه ورسیدم چه په دنیا کښې هیڅ قوم بغیر د خپلې ژبې نه ترقي کولی نه شي
هغوی کښې علوم او فنون پیدا کیدای نه شي. ما دا اراده کړې وه چه ضرور به یوه
له په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو ، د دنیا د حالاتو نه خبرولو او د خپلې ژبې طرف
مایل کولو (مخ کولو) د پاره جاري کوم او د دې کوشش به هم کوم چه انجمن بخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه کښې د بچو د پاره د ابتدائي تعليم انتظام وکړي. حقيقت دا دی چه دغه وخت
په پښتو ژبه کښې هيڅ نه وو او نه پښتو د چا ياده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نا
وچه دا خپله ژبه ورته سپکه ښکاريده او چه کوم قوم ته خپله ژبه سپکه ښي نو هغه سپک
شي، او چه خپله ژبه تری ورکه شي نو ورک شي. ذرا ټلو سره ما دا د اداره خبری انجمن ته
پيش کړې، انجمن دی خبرو سره خو اتفاق وکړو، ليکن د مالی مشکلاتو په وجه پری ک
عملی قدم فوراً اخيستلی نه شو. د رسالې ذمه واری ما خپل سر و اخيستله او عبدالا
خان او عبدالله شاه ته دا خبره حواله شوه چه د رسالې د جاری کولو د پاره اجازت نا
دې د حکومت نه واخلی ليکن په مينځ کښې د دې کاله تېر شو او هغوی دا اجازت نامې
يو درخواست قدرې هم ونه کړې شو. زه پوه شوم چه بغير زمانه دا کار نه شي کيدې
د ۱۹۲۷ع په اخر کښې ما دې کار ته پخپله ملا وتړله او دا کار مې پخپل لاس کښې واخيست
د اجازت نامې د پاره مې حکومت ته درخواست ورکړو، اجازت نامې حاصله کړه او
۱۹۲۸ع کښې مې د پښتون په نوم يوه رساله د پښتو په ژبه کښې دا تمانزو نه جاری کړه ا
خو په دې دی چه پښتون دومره لوی قوم او خدای ورله د نعمتونو او دولتونو ډک ملک
دی، نه دده پخپله ژبه کښې يوه رساله او نه يو اخبار شته دا د پښتو ژبې او لنۍ ر
ده چه د پښتنو په ملک کښې جاری شوه. پښتون قوم د پېر خراج دی ليکن دی قس
خيزونو باندې پيسې نه لګوی او په دې قسم خيزونو خرچ کولو سره نا اشنا او نابلد و
د پرې پيسې ما د خپل جيب نه پرې خرچ کړې دی رسالې د پښتنو په ښځو او نرو کښ
نوې زندګی پيدا کړه او دا رساله په پښتنو کښې د پېره هر دلعزيزه شوه دا خپل ملک خو پرېږ
پښتانه په يورپ، امريکه او استريليا کښې د دی نه خبر شو نو هغوی به غوښتنه او ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورسره کوو د پښتنو یې پښتو طرف ته شوق پیدا کړی او په افغانستان کښې هم سنبه وستل کیده . عبد الهادی خان داوی ما ته قصه کوله چه پښتون اخبار به کابل ته راغی قومیت (ملیت) چه به کوم مضمونونه لیکل شوي و وهغه به یې مونږ لوستل او د افغانستان خلکو کښې هم پښتو طرف ته رغبت زیات شو او په امان الله خان خولې دوموه اثر وشو هغه اعلان وکړو چه خلکوله په کار دی چه پښتو ژبه زده کړي ، د دې کاله پس به په ملک کښې پښتو تعلیمي او سرکاري ژبه وي او عبد الهادی خان دا راته هم ووې چه مونږ هم دیوې رسالې بنا وکړه او د هغې نوم موهم پښتون کېښوده نو امان الله خان راته ووې چه د پښتنو به لبس دغه یو پښتون وی نوما بیا هغې خپلې رسالې له د پښتون ږغ » کېښود . لیکن افسوس چه پیرنګیانو دا خبره برداشت نه کړه شوه او هغه ووې چه دې رسالې یو څو نمبره وتې وو چه افغانستان کښې بغاوت وشو ، امان الله خان لاړو د هغه په ځای « بچه سقه » د څه وخت د پاره د افغانستان په تخت کېښناست .

زمونږ انجمن د پښتو د ترقی د پاره او د شاعرانو د خیالاتو بدلولو د پاره د مشاعرو نظام وکړو او د ښو ښو نظمونو او بیتونو له پاره یې انعامونه مقرر کړل او په کال کښې یو ځل د مدرسې کالیزه جلسه به کېده و ورسره د مشاعرې د پاره هم انتظام کېدو . د دې په به په پښتنو شاعرانو کښې یو عظیم الشان انقلاب راغی او د خال وخط په ځای د اتفاق وری ، او قومي ترقی دور شروع شو ، په قوم او ملک کښې یې د انقلاب د پاره یوه نوې جذبه راکړه او په ښځو ، نرو کښې یې داسې جوش پیدا کړو چه د جلسې په ورځ به د جلسې په ځای ځای مونډل ګران شو او د ملک د هرې علاقې او تپې خلک که خان وکه غریب و د انجمن جلسه کښې یې شرکت خپل فرض ګڼلو ، د ښځو د پاره خاص د پردې انتظام و او په سوونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبنځې به هم په دې جلسه کښې شریکیدې لیکن افسوس چه د انجمن ذمه دارو خلکو
خپله اصلاح ونه کړه شوه او زمونږ د کور اختلافات دومره زیات شوی وو چه زمونږ
نه د بهر کار پاتی نشو که چیری مونږ د انجمن هغه تبلیغ او اشاعت او په ملک کښې
د دورو هغه کار جاری ساتلی وای نو مونږ به د دې نه هم زیاته ترقی کړې وه او زمونږ
قوم او زمونږ ملک ته به زیاته فایده رسیدلې وه لیکن دا زمونږ او زمونږ د قوم بد
قسمتی وه چه انجمن ته د خپلو جګړو نه دومره فرصت نه و چه پخپل قوم او ملک کښې کار کړې وای
وای او بی خبره او ده پښتون ورورلی خبر کړی او بیدار کړی وای. اخر دا چه خادم
صاحب، عباس خان او عبدالاکبر خان خپلو کښې او جنګول. نو دې انجمن ته نور هم
زیات نقصان ورسولو بیا خادم صاحب زما او د عباس خان د جنګولو کوشش ونه
شروع کړل لیکن تر ډیری مودې پورې کامیاب نه شو په یوه کړمې کښې زه کوه مری
ته لاړم خادم صاحب ته میدان خالی شو او د عباس خان او زمونږ بعضی نور و د
انجمن و رونو په د ماغو کښې یې دا خیال پیدا کړو چه د لوئی و نی د لاندې وره
و نه و ده کولی نه شی او د هر قسم قربانی او خدمت چه تاسو کوئ تو نوم پری د
هغه کیږي. څه وخت چه زه د مری نه واپس راغلم او د انجمن د بعضی ذمه دارو
خلکو رویی ته می کتل. زه ډیر پریشانه شوم، هر ځای زما بر خلاف پراپیګنډه کیده
ما حاجی عبدالغفار خان سره مشوره وکړه، دا خلک می د هغه په ذریعه راجمع
کړل او په ډیر منت سره می دوی تږ ووي چه دا کار ښه نه دی او د دې نتیجه
به زمونږ د انجمن بربادی وي، او خدای د پاره په دې خپل قوم رحم وکړی
دی خو ډیر برباد شوی دی او په کار خو نه دی چه مونږ یې نور هم برباد کړو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل باندې ددې وغوالزامونه مه لګوئ او دیو بل غیبت مه کوئ او هرڅه چه
وایئ خو دهغه سړي په مخکښې وایئ چه دچا نه ستاسو شکایت وي یا مو په هغه
دڅه قسم شک وي او یا ستاسو په خیال هغه څه غلط کار کړی وی په ځای ددی
چه تاسو پس شا خلکو پسې خبری شروع کړې دی نو دا دفایدې کار نه دنقصان دی نو عبد ـ
الاکبر خان او میا عبدالله شاه به وخندل او خادم صاحب ته به مخاطب شو او ورته
ویل به یې چه خادم صاحب مونږ به پسې ښا دچا نوم اخیستی شو که نه ؟ خیر دا خبری
دوی په خندا به تو قو کښې تېرې کړې . دشپې چه څه وخت دحاجی عبدالغفار خان
په ځای کښې ددې وخوړی شوه نو زمونږ بعضې ممبران دعباس خان سره دځملا ستو
د پاره تلل نو ما هم ځان ددوی سره ملګری کړ هلته هم ما دا بحث شروع کړو چه تاسو
سره دپوهې ځانونه ولی داسې نادانه کړي دی ؟ نو عباس خان را ته صاف جواب راکړو
چه یوه ونه چه ډېره لویه او کوره شي نو دهغې دلاندې نورې ونې وده کولی نه شي کومې
بوټی چه دهغې ونی شاخ تراشي ونه شي نو مونږ داغوارو چه ستا لږه شاخ تراشي وشي
ما ورته په خندا خندا کښې دوې چه هسې نه چه هغه تو قه درباندې وشي چه دیوی ونی
خو څه نه څه سوری پیدا شوی دی او دپښتنو بچي دهغې سوری دلاندې نا ست دي
او که دهغې ونی شاخ تراشي وکړئ او هغه بله ونه کښې دومره طاقت نه وی چه هغه
ستاسو دبچو دپاسه سوری شي نو نتیجه به یې داوي چه ستاسو بچي به په نور ( لمر ) شي
ددې دپاسه ما بیا هم ځیل کوشش جاری وساته چه اخر به ددې اصلاح وشي لیکن
اصلاح ونه شوه . اخر د عبدالاکبر خان دکلی په جلسه کښې عباس خان لې ماسره و
جنګولو . چه زه کلی ته واپس راغلم نو زه په دې نتیجه ورسیدلم چه دموجوده جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاح مشکله ده په دی وجه ما دا فیصله وکړه چه د انجمن د «د انتظامیه» نه استعفا
وکړم هم په استعفا کښې مې دا ولیکل چه ما ځکه اول چنده درکوله په هغې کښې به کمی نه راولم
بلکه د هغه نه به زیاته درکوم او زه به د انجمن د نورو ممبرانو په شان یو عام ممبر یم او
د انجمن د هر قسم خدمت د پاره به تیار یم لیکن د نن نه پس به زه د انجمن په انتظامیه
جماعت کښې نه یم او نه به د انجمن په انتظامیه جلسو کښې شاملیږم. حکومت نه چه څو مره
کوششونه کیدی شو هغه لګیا و زمونږ د انجمن د برباد لو د پاره یی کول لیکن د دی دومره
زورور حکومت هیڅ قسم نقصان زمونږ انجمن ته رسولی نه شو بلکه زمونږ انجمن ورځ
په ورځ مخ په ترقی وو لیکن زمونږ د کور په بی اتفاقی زمونږ د لاسه چه څومره نقصان
زمونږ انجمن ته ورسیده هغه هومره نقصان ورته پیرنګیانو رسولی نه شو انجمن
هسې په نوم پاتی شو او ځای په ځای شاخونه یی په بند بند شو او د انجمن سالانه
جلسې هم پاتی شوې، زما د استعفا نه پس عباس خان هم څه د پرې ورځې په انجمن
کښې پاتی نه شو، هغه هم د انجمن نه مستعفی شو او خپل مالی امداد یی پرې هم بند کړو او
د خپل ورور فیض محمد خان امداد یی په زور په هغه بند کړو حالانکه چه فیض محمد خان
په دې ډیر زیات ناراضه وو او څو ځله یی ما ته خپله ناراضی ښودلی وه لیکن د مشر
ورور مخې له ورتلی نه شو. عباس خان د انجمن او زما بر خلاف پراپیګنډه شروع کړه
لیکن په هغې کښې کامیاب نه شو.

چه څه وخت د انجمن حالت په ابتری شو نو خادم صاحب له هله هوش ورغی او بیا ما سره یې
تګ ودو او ټله راتله شروع کړه هره ورځ به یی راته څه نوی قومی راک غږ و ولیکن د هغه راکونو
په ما اثر کولی نه شو، ولې چه د ټوله تباهی د هغه د لاسه په انجمن راغلې وه. چه سړی خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شان کوی اعمل یې بل شان وي نو د هغه خبری په خلکو ښه اثر نه کوي اخر چه به کله ناکله ده زه ډېر تنګ کړم نو سپینه خبره می ورته وکړه چه خادم صاحب داقوله تباهي په انجمن تاداوستی ده او ددی قولی تباهي به خدای او قوم ته جواب ده او ذمه وار یې. یوه ورځ یې راته وویل چه انجمن ښه او د انجمن په شان ځان کښې طاقت پیدا کړه او داقولی کوټې ځان پسې راکاږه ما ورته وې چه خادم صاحب انجمن هغه کوټې را ښکلی شي چه کومو کوڼو ته بریکونه لګیدلی نه وی او چه په کومو کوڅو ته بریکونه لګیدلي وي یا اګلی نو بیا ممکنه نه ده چه انجمن هغه کوټې راکاږي کله ناکله به یې راته په علاقه کښې ذکر ځینې او قصه رامخکښې کړه لیکن زما ورته هم هغه یو جواب وچه تاسره دوری کولی نه شم او که چیری انجمن ماله حکم راکړی نو زه هر وخت حکم منلو ته تیار یم. هغه د پښتو خبره چه خادم صاحب ته می ډکړ ښه "راښکله نوایله هغه څه ناڅه پخپلی غلطی پوه شوا و محسوسه یې کړه.

سره امان الله خان د افغانستان نوجوان پادشاه ورو [illegible]

## امان الله خان:

[illegible]

څه وخت چه افغانستان کښې شورش شروع شو د اانقلاب نه و، شورش و امان الله خان قندهار ته لاړو، په کابل بچه سقا قبضه وکړه، انګریزی اخبارات و د افغانستان برخلاف قصې، طعنې او خوشحالی شروع کړې! نو زه پوه شوم چه پېرنګیان چه په افغانستان کښې د پښتنو ترقی ته کتی نه شی نو مونږ به تری دلته په سرحد کښې څه ترقی وکړای شو! او فوراً می د اراده وکړه چه په دی راز پښتانه پوهول په کار دی او دوره می شروع کړه کلی په کلی، ښار په ښار او علاقه په علاقه وګرځیدم، جلسې می وکړې. د خدای په فضل تول پښتون یکدم د خوبه رابیدار شو پوه شو او د خپل قوم تباهي او بربادي یې محسوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه او دافغانستان دخدمت د پاره یي ملا وتړله. په بعضی علاقو کښی ملایانو چه څه نه څه مخالفت شروع کړو لیکن چه دقوم په جذبه پوه شو نو مخالفت یي پرېښود. که بعضی ملایان دخپلو ذاتی فایدو په وجه قلار نه شو نو قوم په زور او بی غرتئ دهغوی خولی بندی کړې، مونږ سره په دی معامله کښی دقوم شاعرانو هم ډېر زیات امداد او اخلاص وکړو او دقاموله یوه نوی جذبه یي په قوم کښی پیدا کړې وه او په دی معامله کښی تورسم خان دد وېښو زمونږ سره ډېر مدد کړې و. ده به اشعار جوړول او مونږ به په پښتون اخبار کښی شایع کول چه دهغی نه یو بیت دادی:

«لا ماوې داسړي زمونږ قوم کښی خلل دی اوس دی ولید چه ډېری خاوندان غل دی»

دابیت دومره مشهور شو چه د ډېری والا به چه خلکو لیدو چغه به یي کړه، ډېری والا غل، او په دې ورځو کښی دقصه خوانی په بازار کښی د ډېری خاوندان کرځیدلی نه شو. او خانمیر هلالی خو زما سره په ټولو دورو کښی شریک و او داسی نظمونه یي جوړ کړي وو او د افغانستان یي پکښی داسی خاکه راښکلی وه چه دهغی په اوریدو تقریباً هر پښتون پوه شو او ما ته هم په تقریر کښی دهغوی دپوهولو ضرورت پاتی نه شو او په دی کښی زمونږ دمددګارو ډېره حصه اخیستی وه، زمونږ انجمن هم هر قسم مالی او جانی خدمت ته تیار شو، د افغانستان دپښتنو بربادی او غم د سرحد پښتنو خپل غم او خپله بربادی ګڼله ځکه چه مونږ یو ورونه او یو قوم یو. او د سرحد په پښتنو کښی د افغانستان د ورونو د امداد او همدردی یوه داسی جذبه پیدا شوه چه زه دهغی بیان کولی نه شم که امیر و او که غریب ؤ، که تعلیمیافته و او که بی علمه و، ټول پښتنځي وې او که نر وو د افغانستان په مصیبت زهیر وو. او د امان الله خان دوباره

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت قایمولو د پاره هر خدمت ته تیار وو او خلکو به دعاگانې کولې چه ای الله ته زمونږ غمخور پادشاه امان الله خان ته کامیابي ورکړې. په پښتنو کښې ډېر پادشاهان تېر شوي دي لیکن د پښتنو ښځو، نرو چه څومره مینه او محبت د امان الله خان سره ؤ هغه بل پادشاه سره نه و. امان الله خان به وې چه زه د پښتنو انقلابي پادشاه یم او د هغه دا خبره بالکل رښتیا وه چه هغه په پښتنو کښې یو عجیبه انقلاب پیدا کړو او زه چه نن پښتنو ته گورم نو حیرانیږم چه په پښتنو کښې دا دومره زر دا تبدیلي د قومولۍ او وروروولۍ احساس پیدا شو او سیاسي شعور یکښې راغی. انقلاب یو سیلاب وي چه راشي نو او ده خلک یوسي او ویښ نوي فایدې او چتی کړي. د افغانستان انقلاب کښې د افغانستان پښتانه لا هوښ شو مونږ کوز و پښتنو ترې فایدې او چتی کړې، ولې چه مونږ ه ویښ وېدل او وو د کوز و پښتنو زړه چېرته په تشو دعاگانو او جلسو باندې قرار یږ هغوي د افغانستان بر دې غم او مصیبت کښې عملي شرکت غوښتو او ددې خبرې خواهش یې لرلو چه افغانستان ته لاړ شو او خپلو ورونو سره په دې غم کښې شریک شو او د خپلو زخمیانو ورونو دارو درمل هم وکړو او د هغوي پس ماندگانو سره امداد وکړو چه څوک مړه دي او بچي او ښځې یې پاتې شوي دي ددې د پاره مونږ یوه کمیټه جوړه کړه چه د هغې نوم «د افغان هلال احمر» و او ددې کمیټې کار د افغانستان پښتنو طبي او مالي خدمت ؤ کلي په کلي، علاقه په علاقه خلکو ددې کمیټې د پاره د چندې جمع کولو انتظام وکړو او په پیولږ وخت کښې یو طبي وفد تیار شو چه هغه زما د ورور ډاکټر خانصاحب په سر پرستۍ کښې تلو ته تیار شو. د افغانستان په امداد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې يو پښتون هم څه کمی کړی نه دی لیکن د بنو خلک د ډېره اسماعیل خان کونډ
خاندان د سودم خانان د بائیزو خانان ، قاضی عطاء الله خان ، علی اصغر خان
علی گل خان او میا احمد شاه صاحب د ډېر تعریف ور دي . لیکن پیرنګیا نو دا خبره چیرته
خو بنوله ، د هغوی په زړه دا چیرته ځائید ی شوه چه د افغانستان د امداد د پاره
دی د سرحد پښتانه لاړ شی ولې چه په دی طریقه خو زمونږ ورورولی او قومولی
قائمیده او هغوی چیرته دا غوښتل .

مونږ له پی اجازه رانه کړه . ما خو ډېر دا کوشش وکړه چه د دوی د اجازی
بغیر مونږ له افغانستان ته تلل په کار دی مونږ ته د پیرنګیانو د اجازی او د پاسپورټ
څه ضرورت نشته ، ولی زما دا خبره کمیتی ونه منله او ما دا هم کمیتی ته وویل چه څوک
امان الله خان په افغانستان کښی وی مونږ له انګریزان د تلو اجازت افغانستان
ته نه راکوي ، خو کمیتی به وویل چه مونږ خو که بغیر د انګریزانو د اجازت نه لاړ شو نو بیا
به په مونږه دارو او درمل بند کړی . پیرنګیانو خو اول دا اعتراض او چت کړه چه
تاسو خو د امان الله خان امداد د پاره ځئ ، لیکن که هغه هم ستاسو د امداد خواهش
وکړی . که چیری تاسو د هغه اجازت نامه راوړه بیا مونږ تاسو له د تلو اجازه درکوو
زه او میاں جعفر شاه د دی کار د پاره مقرر شو چه امان الله خان نه لاړ شو او اجازت نامه
تری راوړو ولی ما کمیتی ته وویل چه مونږ خو د قوم او خپلو ورونو د امداد د پاره
ځو ، په دی کښی د امان الله خان د اجازی څه ضرورت دی او مونږ خو د پښتنو د امداد
د پاره تلو .

مونږ اول د پېښور د وکیل تجارت له لاړو چه هغه زمونږ د پاره اجازه راوغواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن چه خو ورځې تیرې شوې او هغه اجازه را ونه رسیده نو مونږ کند هار ته د تلو اراده
وکړه چه د امان الله خان نه اجازتنامه راوړو. په شاهي باغ کښې د پیښنور یوه عظیم الشان
جلسه وشوه، ما او جعفر شاه د خپلو تلونه خبر کړل لیکن دا مې ورته هم ووې چه دا تولې
د پیرنگیانو باني دي هغوي نه پټیل وس زمونږ وفد له د تلو اجازت نه راکوي او دا به -
تاسو ته د پېر نز معلومه شي، مونږ شپې له نو ښار ته لاړو، شپه مو هلته تیره کړه
د شپې یوه لویه جلسه وشوه او سباله مونږ نو ښار د ستیشن نه ریل کښې سواره شو
د راولپنډې ستیشن ته ورسید و، مولانا اسحاق صاحب هزار وي او د ښار
د بېر مسلمانان زمونږ د لید و د پاره ستیشن ته راغلي وو او څه وخت چه زمونږ گاډي
لاهور ته راورسیدو نو مولانا ظفر علیخان او د مسلمانانو او هندوانو ډېر لیډران
زمونږ لید وله راغلي وو، مونږ پې د گاډي نه راکوز کړو او د لاهور ښار ته یې بوتلو او یو لوی
جلوس یې اوبکلو حالانکه زه د دې نه مخالف وم. په سباله په لاهور کښې د هندوانو
او مسلمانانو یوه لویه جلسه وشوه چه په هغې کښې د حکومت د ملامتیا او مونږ سره د
امداد او همدردي تقویرونه وشو او قرارداد ونه پاس شو. بله ورځ مونږ د کراچي
په میل کښې د لاهور نه کوټې ته روان شو چه سکهر ته ورسیدو، د سنده حضرت
مولانا او بعضې د سندھ مسلمانان زمونږ لید وله راغلي وو، هغوي سره مو ډېرې خبرې
وشوې، دلته زمونږ گاډي بدل شو او مونږ کو ټې ته روان شو. سحر وختي زمونږ
گاډي سیبي ته ورسید و. زمونږ گاډي ولاړ دي او مونږ په دې فکر کښې یو چه چاې
په ځنګه وڅکو چه په دې کښې نهونږ ته بې تکپتان صاحبزاده خورشید چه د بلوچستان
پولټیکل ایجنټ او بل ورسره د پیر بو خان چه پولیس کپتان ورانو تل زما په زره کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شک پیدا شو کنې دوی مونږ پسې راغلي دي، هغوی مونږ سره کښې شپ شروع
کړو او بیا یې مونږ ته ووې چه راځئ دلته مونږ سره به آرام چای وڅکئ نو بیا به
کاډی کښې کښینئ کوټه ته به لاړ شئ مونږ اصرار وکړ او ورته مو ووېل چه ستاسو
مهرباني ده کاډی به رانه لاړ شي هغه وی چه دلته کاډی ډېر ساعت ولاړه دی نو مونږ
هغوی سره روان شو، دکپتان خورشید بنګلې ته لاړو چای مو وڅکله، مونږ تا دی
کوله چه کاډی رانه لاړ نه شي مونږ ته معلومه نه وه چه حکومت مونږ نه کښې تلو ته نه
پرېږدي، کاډی لاړ او مونږ پاتې شو، زمونږ او د دوی په مېنځ کښې ډېرې خبرې
وشوې، د ډوډۍ وخت راغی، ډوډۍ مو وخوړه. حکومت صاحبزاده صاحب
او د پېبو خان د دی دپاره راپسې لېږلي وچه مونږ په دې رضا کړي چه په خوښه
سره واپس پېښور ته لاړ شو د هغوی او زمونږ په مېنځ کښې ډېرې خبرې وشوې
ولې مونږ په واپس تلو رضا نه شو او چه مونږ رضا نه شو نو ما ذکر چه کوم کاډی راغی
په زور یې په هغه کاډی کښې کښېنولو. پولیس ته یې په حواله کړو چه مونږ د بلوچستان
د علاقې نه بهر وباسي او چه جیکب اباد ته راورسېږو نو هلته پولیس مونږ په سټېشن
د کاډی نه کوز کړو هغوی رانه لاړل او مونږ پاتې شو مونږ جیکب اباد ته لاړو او یو
وړوکی غونډی ځای مو په کرایه واخیستو او پېښور ته مو اطلاع ورکړه چه مونږ حکومت
کوټې ته پرې نه ښودو او د سیوی د سټېشن نه یې راواپس کړو او مونږ کندهار ته
نه پرېږدي او مونږ اراده کړې ده چه د حکومت دا ناجایزه حکم ونه منو او سبا به یاد
کندهار په طرف روانېږو. په سباله مونږ د بلوچستان رزډنټ له یو تار ورکړو چه
مونږ ستا د دې قسم ناجایز حکم منلو ته تیار نه یو او مونږ نا خبر وو چه سباله به بیا مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کویټې ته رسېدو . د شپې په ګاډي کښې مونږ بیا روان شو او چه سحر بیا زمونږ ګاډی د پېښور سټېشن ته ورسېد و نو څه ګورو چه مسلح سپاهیان سره د یو پېرنګي والا ډېر دي ګاډي ته ودرېدو هغه پېرنګي زمونږ ډبي له راغی او مونږ یې د ډبي نه کوز کړو داخل صاحبزاده صاحب او ډېوخان د دوی سره نه وو زمونږ خو دا خیال و چه جېلخانې ته مو بیایي لیکن هغه پېرنګي مونږ په ویټنګ روم کښې کښېنولو او په ویټنګ روم یې یوه ډبله پېره ودروله دا پېریو شریف پېرنګي و ماته یې په خبرو خبرو کښې ووې چه زه د دې حکومت په پالیسي نه پوهېږم یو طرف ته خو وایي چه مونږ غیر جانبدار یو او تاسو ته وایي چه لاړ شئ مونږ له د امان الله خان نه اجازتنامه راوړئ نو تاسو به پرېږدو او بل طرف ته ماله حکم راکوي چه پام کوه چه دا سړي د رنه مخکښې لاړ نه شي او بیا تاسو د دا سې کار نه منع کوي وستاسو طبي وفد نه پرېږدي چه په دې کښې د خدای د مخلوق د خیر نه بل هیڅ شی نشته . ماز یګر چه بیا هغه ریل ګاډی واپس راغی نو مونږ یې پکښې کښېنولو او د جیکب آباد پېسټېشن یې بیا کوز کړو مونږ ته معلومه شوله چه مونږ حکومت په هیڅ قسم کنډ هارډلو ته نه پرېږدي نو هسې تلل راتلل مو مناسب ونه ګڼل او اراده مو وکړه چه دهلي ته به لاړ شو او د افغانستان کونسل جنرل سره به ووینو که هغه زمونږ د پاره څه د اجازه نامې انتظام وکړای شي دهلي ته روان شو ، دهلي ته ورسېدو او کونسل جنرل صاحب مو ولید و او خبرې اترې مو وشوې ، مونږ سره یې ډېره همدردي ظاهره کړه او امان الله خان ته یې تار ورکړو او د تار په ذریعه یې مونږ له اجازتنامه راوغوښته په دغه ورځې مونږ به په دهلي کښې معلومه شوله چه پېرنګیانو د شور بازار د حضرت ورور چه په هندوستان کښې په کاټهیاواړ کې اوسي راغوښتی دی او هغه پاوندوبیې چه د هغه مریدان دي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله خان بر خلاف افغانستان ته لیږی ځکه چه پیرنګیانو ته معلومه شوې وه چه د خلکو څه نه څه همله دی د امان الله خان سره پیدا شوی ده او هسی نه چه هغه چیرته کامیاب شی. مونږ د کونسل جنرل صاحب نه رخصت واخست او سرحد ته را روان شو څه وخت چه مونږ پیښور ته را ورسیدو نو مونږ ته معلومه شوه چه د افغانستان وکیل تجار له هم د کندهار نه زمونږ د پاره د امان الله خان پخپل دستخط فرمان رالیږلی شوی دی. د دی د پاسه به بیا هم حکومت چل ول کووا و به مونږ به یي وخت اړوه څه وخت چه زما بالکل دا یقین راغی چه حکومت په هیڅ طریقه زمونږ وفد له اجازت نه ورکوي نو ما خپلو د جماعت ملګرو ته ووې چه د حکومت دا ټولې اني باني زمونږ د پاتې کیدو د پاره دی او که چیری تاسو د حکومت اجازت ته ناست یئ نو هلته غه شان به ناست پاتی شئ او هیڅ قسم د افغانستان امداد د به نه کړی شئ او بله دا چه ایا افغانستان کښی د دوی سفارت نشته؟ نو بیا د پاسپورټ ضرورت څه دی؟ مونږ خو افغانستان ته د پیرنګیانو په ذمه واری نه ځو، مونږ که افغانستان ته ځو نو پخپله ذمه واری ځونو بیا د پیرنګیانو د راه داری مونږ ته څه حاجت دی؟ لیکن زما د اکثرو ورونو دا خیال و زمونږ ټلل او راتلل به بند شی او زمونږ د دی وفد په لاره کښی به د دار و راغوښتلو په سلسله کښی مشکلات پیدا شی او نه به مونږ د افغانستان ور ذوسره مالی امداد وکړی شو. ما ورته ووې چه په دی صورت کښی به مونږ دغه شان په انتظار کښی پاتی شو، د افغانستان به اړه د هیڅ قسم امداد و نه کړی شو او امان الله خان چه ترکومی پوری په افغانستان کښی وی نو دوی مونږ له اجازه نه راکوی او چه هغه د افغانستان نه لاړ نو بیا به مونږ له اجازه راکړی.

ما او زما یو څو ملګرو دا اراده وکړه چه مونږ بغیر د پیرنګیانو د اجازت نه د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامله اد د پاره روانیږ. او په دې غرض مو په پېښور کښې یوه جلسه وکړه او قوم ته مو دا حقیقت ښکاره کړه چه پیرنګیان مونږ له راهداری نه راکوي او مونږ د دوی راهداری ضرورت هم نه لرو ځکه مونږ افغانستان ورور دی او مونږ خپلو ورونو له پخپله ذمه واری باندې ځو چه څوک تلل غواړی او تلو ته تیار دی چه فوراً افغانستان ته روان شو. خلکو وې چه مونږ تیار یو څه وخت چه د دې جلسې رپورټ حکومت ته رسیدلی دی چه مونږ بغیر د اجازت تلو ته تیار شو نو فوراً یې ما له تار راکړو چه څوک څوک چه افغانستان ته په طبی وفد کښې ځی نو فوراً دې مونږ له د راهداری له پاره درخواست راکوی او خپل تصویرونه دې ور سره راولیږی. زه د حکومت په دې خیال پوه شوم لیکن د جماعت اکثر خلکو را ته ووې چه ستاسې د دې حکومت نه نفرت دی او د دوی څېره درته د چل او دروغ ښکاری. زه چپ شوم او د راهداری نه بغیر تلو خیال مې پرېښوده او د راهداری د پاره مو تصویرونه او درخواستونه ورکړل.

## نادرخان:

د دېرو ورځو نه په دې ملک کښې داګونګوسې وې چه نادرخان د خپلو ورونو سره د فرانس نه را روان شوی دی، بلکه ورځې را ته معلومه شوه چه نادرخان سره د خپلو ورونو پېښور ته راورسیدلی دی او د وکیل تجار په کور کښې دی. زه او ډاکټر صاحب یې هم د لیدو د پاره لاړو. نادرخان او هاشم خان ما د اول نه پېژندل په ښه شان سره مو ملاقات وکړو، دېرو خلکو پرې زور ولګو و چه قندهار ته لاړ شه او امان الله خان ورپسې دېرا ستاقی راولیږل لیکن نادرخان د قندهار د تلو د پاره تیار نه شو. یوه ورځې زه او نادرخان یوازې یوه کمره کښې ناست وو، د افغانستان په مستقبل مو خبرې کولې چه ده ما ته ووې زه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه کوم نو د امان الله خان د پاره یې کوم ما ورته ووې چه خلک وایي چه د حبیب الله
خان هغه زوی چه ستا خور یې دی تاسو د هغه په حکومت باندې د کښېنولو د پاره کوشش
کوئ ده راته ووې چه ته به هم ژوندی یې او زه به هم ژوندی یم که چیرې ما هغه بادشاه
کړو نیا څنګه بادشاه شوم نو ته راشه او مخ راله تور کړه او راته ووایه چه نادر خپله وعده
دې پوره نه کړه. څه ورځې پس هاشم خان جلال اباد ته او نادر خان او شاه ولي خان
څاځیو ته روان شو، زه یې په دې خبره مجبوره کړم او وعده یې راته واخستله چه سبا
به مونږ تل کښې یو. نه سبا له هلته راشه او ما ضرور ووینه. زه سبا له تل ته لاړم لیکن نادر
خان په مخه تللی ؤ او تل کښې ایسار شوی نه و، د را روانېدو په وخت کښې حکیم مې په مونږ کښې
ولید وچه د نادر خان د لیدو د پاره څاځو ته روان و، هغه له مې یو خط ورکړ او په هغې کښې
مې نادر خان ته ولیکل چه اوله وعده خو دې پوره نه کړه شوه نو چه د بلې وعدې به دې څه
حال وي، بغیر زمانه د قولو خلکو داخیال و چه پیرنګیان به د افغانستان د ملو او امداد د پاره
مونږ له اجازت راکړي لیکن زما داخیال نه و ولې چه دوی د امان الله خان غونډې د
پښتنو خیر خواه بادشاه په افغانستان کښې نه غوښتو او زمونږ خوش اعتقاده ورونه په
دې امید کښې پراته وو چه نن دې که سبا دې اجازت به راشي د فصل وخت ؤ مونږ د
افغانستان د پاره چنده جمع کولو په خیال د باغیزو په دوره وو خلکو راسره ډېر په اخلاص
او خوشحالۍ د قول زکوة د راکولو وعدې وکړې، پښتانه د افغانستان د ورونو هر قسم
امداد کولو ته تیار وو. زه او خوشحال خان د بادې کاؤ د سخاکوټ په لاره مردان ته را
روان شو، چه مردان ته راورسېدو نو خبر شو چه امان الله خان د جنګ خیال پرېښودی
دی او کوېټې ته راغلی دی، ددې خبرې په اورېدو په ما ډېر غم او خفګان راغی خوشحال خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلی ته رخصت شو او زه د قاضی عطاء الله خان ځای ته لاړم او په یو کټ کښې ویده شوم. ډیر وروسته دتم غوږ ودرځی پس څه وخت چه امان الله خان بمبیئ ته ورسید و زه د ډاکټر صاحب او نورو دوستانو مجبوره کړم چه بمبیئ ته لاړ شم. امان الله خان ووینم او د افغانستان متعلق مشوره ورسره وکړم او دا خبره معلومه کړم چه که مونږ د افغانستان سره د څه قسم امداد کول غواړو نو دچا سره وکړو او دا هم معلوم کړم چه د نادرخان او دهغوی دورورو متعلق دهغه څه خیال دی زه بمبیئ ته لاړم. عبدالهادی خان داوی هم هغه سره وا او دهغه په ذریعه می دهغه سره ملاقات وشو خبری موو شوې. ما افغانستان ته د واپس دتلو خبره وکړه لیکن هغه د افغانستان نه مایوسه شوی و او د افغانستان خیال یی پریښی و د پښتونو دپرمود معلومه زما چه ده سره ملاقات وشو نو ما سره یی په پښتو کښې خبری وکړې، دګفتګو په دوران کښې دنادرخان د وی ذکر هم راغی او ما ورته داوویل چه مونږ سره چه د افغانستان دپاره کوم حساب جمع دی هغه چاله ورکړو؟ نو په جواب کښې ده راته ووی چه تاسو یی نادرخان ته ورکړئ او دنادرخان امداد وکړئ ملاقات ختم شو په ډیر خفګان سره مونږ دیوبل نه جدا شو په هغه هوټل کښې هغه سره نور هم ډیر سرداران وو هغوی سره می هم لیدل کتل وشو او دشپی عبدالهادی خان دبمبیئ دکونسل په کور کښې زه میلمه کړم او دوی په وخت کښې می نورو ډیرو سردارانو سره خبری اتری وشوې. ددی خلکو دا خیال وچه امان الله خان به ضرور واپس افغانستان ته راځی ځکه چه په موجوده جنګ کښې کوم کوم جرنیلان دبچه سقه دلیری کولو کوشش نه کوی هغوی په کور کښې بې اتفاقه دی او په یو او بل اتفاق کولی نه شی او دټولو اتفاق په امان الله خان راتلی شی دغه جرنیلان نو نادرخان وچه دځاځو په مرسته یی کابل اخیستو او بل غلام نبی خان وچه دترکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طرف نه په کابل د حملې کولو د پاره را روان و. زه د بمبئي نه واپس د اغلم دا تو لی
خبری می انجمن هلال احمر ته ورسولی او د امان الله خان خیال او رأی او د نادر خان
متعلق خبری می هم هغوی ته ظاهر کړې او دا تجویز می پیش کړو چه دا څرمره روپۍ هلال
احمر سره جمع دی او کوم سامان چه د طبی وفد د پاره مونږ ته خلکو ورکړي دي دا تو لی
نادر خان له لیږل په کار دي لیکن په دې کښی بعضی وکیلانو چه د هغوی سره غنه ابراهیم
خان د چینی د مخالفت وکړو زما په خیال د هغوی د خپلو چندو و پس اخستو د پاره
دا بهانه وه اخر فیصله په دې وشوه چه څوک خپلی روپۍ نادر خان ته لیږل نه غواړی نو
هغوی ته دا حق حاصل دی چه خپلی روپۍ واپس واخلی حالانکه د هلال احمر د قانون
نه دا خبره خلاف وه او تقریباً اکثرو وکیلانو چه مونږ له څه نه څه چنده راکړې وه دا پس
ي واخیسته بیا هم مونږ نادر خان له پنځوس زره نغدې روپۍ او هغه قول سامان
چه مونږ له خلکو راکړی وُ ولیږه او په علاقه کښی مو د چندی د پاره انتظام هم وکړو
په دې ورځو کښی هر سړي په جوش کښی و، زمونږ د اسلامیه کالج په هلکانو کښی هم
یو زبردسته جذبه را وچته شوې وه، د افغانستان د پاره چنده می هم راجمع
کړې وه، د دسمبر میاشت وه کالجونه بند وو زما دیو طالب علم دوست میا اکبر شاه
د بد رشو دا خیال وُ چه د پښتنو د ځوانانو یو انجمن قایمول په کار دی. هغه یوه ورځ
د میا احمد شاه صاحب په ځای کښی ما سره دا ذکر وکړو چه مونږ د صوبه سرحد ځوانان
راجمع کړو او که چیری ته د میلمنو د پاره انتظام وکړې نو دا به په مونږ یولوی احسا
وی ما ورته ووی زه هر وخت ستا سو خدمت ته تیار یم لیکن که د پښتنو په ځای ب
اتمانزو کښی راجمع کړو ئې نو دا به بهتر وی. هغه زما دی خبری سره اتفاق وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اتمانزوکښې راجمع شو زما دانجمن بعضې ممبران هم د وی سره د تبادلهٔ خیالاتو د پاره ما دا غونډښتي وو بحث شروع شو چه په صوبهٔ سرحد کښې يو تو لیگ (Youth league) جوړول په کار دی. د بعضې خلکو دا خیال وچه دیو ته لیګ په ځای دی د هغې نوم د صوبه سرحد د ځوانانو جرګه وی لیکن زمونږ دانجمن صدر، عبد الاکبر خان او سکرټری خادم محمد اکبر دی مخالفت وکړو چه د پښتنو یو جماعت خو قایم دی چه ستاسو او د هغه په اغراضو مقاصدو کښې فرق نشته په دی وجه د نوی جماعت د قایمولو ضرورت نشته، د غه جماعت له ترقی ورکول په کار دی، لیکن ځوانان ډیر په جوش کښې وو هغوی دی خبری سره اتفاق ونه کړو. زمونږ د خلکو دا خیال وی چه کنی ترقی دیو نوی انجمن قایمولو سره لګیږی د نادر خان تار ماله راغی چه کابل فتح شو او چه خلک خبر شو چه کابل فتح شو نو یو قسم خوشحالی په خلکو راغله چه بیان يي کولی نه شم. بلبه دا چه د قوم حوصلی زیاتی شوي او د ملک د بو سرا او د کوز سره جلوسونه او جنجونه را روان شو په جلوسونو کښې خلک که بدل ځکه چه ډیر خوشحاله وو د غو بینونو ډ ذی وی تو بکې هم خلاصیدی.

دا ټول جلوسونه په اتمانزو کښې یو ځای شول او یوه لویه جلسه وشوه په جلسه کښې نور و زموږ ملکرو هم تقریرونه وکړل او ما هم په اخر کښې تقریر وکړو، د تقریر په دوران کښې می پښتنو ځوانانو ته ووی د کابل د فتحی نه سبق واخلئ د افغانستان د فتحی په سلسله کښې ډیره حصه ستاسو د کوششونو ده. په دنیا کښې داسی هیڅ کار نشته چه هغه کیدلی نه شي خو چه څوک يي کول وپسي ملا وتړی، نپولین به وې چه زما په دایری کښې د ناممکن لفظ نشته تاسو او ده یئ د دنیا نه بی خبره يئ زه موخبر دم.

کابل د ۱۹۲۹ع کال په اکتوبر کښې فتح شو او نادر خان د خپلی بادشاهئ اعلان وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خبره باندې مونږ ډېر حیران شو. ولې چه داسې کار یې وکړ چه زمونږ په خواب او خیال کښې نه ؤ ځکه چه هغه خو مونږ سره وعده کړې وه چه زه به نه باچا کیږم. مونږ خو پوهیږو ده چه خپلو خلکو سره یې کومې وعدې کړې وې هغه یې هم ماتې کړې. په دغو ورځو کښې عبدالهادي خان چه کابل ته روان وو مې لید و زما په لید وسره یې وخندل او وې ویل چه کم بخت په یوه وعده هم ټینګ نه شو که بادشاهي یې خوښه وې نو کم از کم کانستي ټیوشنل مانرکي اعلان به یې کړې وای. دنا درخان بې وفایي زمونږ په خلکو ډېر خراب اثر کړې و، لیکن مونږ څه کولې شو، موتږ دا خبره خدای ته پرېښوده چه خدای دې سزا ورکړي. چه بیا څوک قوم سره داسې قصه نه کوي. دافغانستان دفیصلې نه پس مونږ وزګار شو

میا احمد شاه صاحب مې هم راضي کړو اومونږ دخپلې

صوبې ددورې اراده وکړه. زه او عبدالاکبرخان

او احمد شاه دکوهاټ، بنو، ډیره اسمٰعیل خان

په دوره ووتو، ددوی تقریرونه

به په جرګه یعنې یوته لیګ (youth league) باندې وو او ما به خلکو سره دقوم او وطن خبرې کولې او په هر ځای کښې زمونږ دا دوره ډېره کامیابه ثابته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منظم سیاسي، جد وجهد
# خدايي خدمتګاري

لاهور کښې د آل انډيا کانګرس، جلسه سنه ۱۹۲۹ع

خدايي خدمتګاري، دوړۍ او سرۍ جامې

د مردان، بابي زي، سودم، اکبرپوره، نوښار

خيشکي، نستته، سالاران

مرغز کښې لويه جلسه او يوه قامي پريکړه، اتمانزو

کښې لويه جلسه او مشاعره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاهور کښې د کانګرس جلسه ۱۹۲۹ع :

په دسمبر ۱۹۲۹ع کښې په لاهور کښې د کانګرس سالانه جلسه وه او چونکه لاهور
صوبه سرحد ته ډېر نزدې ؤ په دې وجه د صوبه سرحد ډېر خلک د کانګرس د جلسې
لیدو له پاره لاړل. ما او امیر ممتاز خان زمونږ د ازاد سکول هیډ ماسټر د تللو اراده
وکړه. مونږ کانګرس کښې نه وو مونږ خو خلافت کښې وو او مونږ تماشې له تللي وو، د کانګرس
جلسې زمونږ په ځوانانو باندې ډېر ښه اثر وکړو او بیا دې خبرې پورې ډېر اثر وکړو چې
ځوانان خو پرېږده د هندوانو جینکو هم د ملک د ازادۍ او د خدمت د پاره ملا تړلې
ولاړې دې. مونږ هم د کانګرس په پنډال کښې ځای په ځای ګرځېدو. مونږ چې
د جینکو والنټیرو (رضا کارانو) د اقومي جذبه ولیدله نو ددې نه ډېر متاثر شو
مونږ د صوبه سرحد نه تللي تول ملګري هلته راجمع شو ما ورته ووې چې سړي خو
د هندوانو ښځې هم بیدارې شوې دي او د ملک د ابادۍ د پاره یې ملا تړلې ده
پښتون د ښځو ډېر اثر کېږي، د دې خبرې په هر یو ډېر اثر وشو او هر سړي چې
لاهور ته تللي ونو په زړه کښې یې د قام او وطن احساس پیدا شوی ؤ. جلسه ختمه شو

## خدایي خدمتګاري :

مونږ چې د لاهور نه واپس شونو په اتمانزو کښې مولویه جلسه وکړه، زه په جلسه کښې
پاڅېدم او خلکو ته مې ووې چې تاسو خوا وده یئ او سړي یاخه کوئ چې د هندوانو ښځې هم
بیدارې شوي او هغوی سړو سړه یو ځای د ملک د ازادۍ د پاره ملا تړلې ده
جد وجهد کوي. تاسو خو لږ دې لمر خاته ته وګورئ څومره لوی سیلاب را روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسیلا بونه همیشه اوده قومونه وریې پاڅئ، وینښ شئ او ملا وتړئ، تاسو خو وګورئ، پیرنګیان وایي چه هندوستان مونږ په توره فتح کړی دی دا زمونږ دی او مونږ به پری حکومت کوو او کټه وټه یې زمونږ ده، هندوان پیرنګي ته وایي چه تاسی مونږ په زوره نیولي یو، اوس چه مونږ پوه شو او متفق شو خپل وطن د هنه اخلو دا زمونږ وطن دی اوس به پری مونږ حکومت کوو. تاسی ددې نه خبریږئ که نه؟ زه مو خبروم چه خبر شئ دهندوانو او پیرنګیانو په دې جنګ دی چه پیرنګي وایي چه هندوستان کښی به بادشاهي مونږ کوو او هندوان وایي چه دلته به بادشاهي مونږ کوو او مسلمانان دغفلت په خوب اوده دي، نو ای پښتنو ورونو زه ستاسو نه پوښتنه کوم چه تاسو به څه کوئ، ناست به یئ دواړو ته به دعاګوئ او دغلامۍ او پیتهتي توب ژوند به تیروئ. (مونږ چه هلکان وو، غوزان به مو کول. لویه دایره به مو راښکله او په هغې کښی به مو غوزان کښېښودل. کټه بایلات به د دوو لوبغاړو وی یو دریم سړی به دواړو له غوزان راټول هغه سړي ته به یې پیتهتي ویلو چه چا به غوزان وګټل نو هغه ته به یې دوه غوزان ډکتي ورکول.) نو ای پښتنو تاسي ته وایم دا د پیتهتي توب ژوند خوښوئ او که تاسو هم ځان ددې وطن مالکان ګڼئ؟ نو پاڅئ او ملا وتړئ او دا خپل ملک خپل کړئ. جلسه په ډېر جوش وخروش ختمه شوه او په پښتنو زما دتقریر ډېر ښه اثر وشو. د شپې زمونږ د کلي محمد اکبر خان، سرفراز خان او حجاب ګل او یو څو نور هلکان زما دلیدو د پاره زمونږ حجرې ته راغلل او ما سره یې د یو جماعت د جوړولو مشوره وکړه ما هغوی په ښه شان پوه کړل چه دا لوبې ټوکې نه دی دا ډېر مشکل کار دی، د دې په لار کښی ډېر اغزي دي په تاسو به زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریر د پر اثر شوی وی، خو لار شئ. په دی معامله سنه غور او فکر وکړئ، هغوی
می رخصت کړل، بلهٔ شپه بیا راغلل. ما ورته وویل چه ستاسو په ذهن کښی زما
هغه تقریر لا اوس هم ناست دی. تاسو د دنیا تاریخ وګورئ په دنیا کښی چه څوک
د خدای د مخلوق د خدمت د پاره پاڅېدلی دي نو په هغه مصیبتونه او تکلیفونه
راغلي دي تاسو بیا په دریم ځل په دی سنه غور او فکر وکړئ. بله شپه بیا راغلل او راته
یې وویل چه مونږ په دی کار د پر غور او فکر وکړ، مونږ د قوم او ملک د خدمت د پاره
د هر قسم تکلیفونو، مصیبتونو او قربانیو ته تیار یو، بیا مونږ کښېناستو او په دې خبره
مو غور وکړلو چه د دی نوی جماعت نوم دې څه وي. زما دا خیال و چه په دی پښتون
کښی د خدمت خیال نشته، په دی جماعت مونږ یو داسی نوم کښېږدو چه د پښتنو
په دماغ کښی د خدای د پاره د خدمت خیال پیدا شي. قسم قسم نومونه پیش شول خو
زمونږ خوښ نه شول، د شپې زما په زړه کښی د خدایي خدمتګار نوم راغی. چه سبا
له دوی راغلل نو ما ورته دا نوم وړاندی کړ، د دوی هم خوښ شو او دعا ډېر یې وشوه
دی نوم زمونږ په زړونو کښی یو قسم اطمینان پیدا کړ، مونږ پښتانه خدایي کار او خدمت
هغه کار او خدمت ته وایو چه بی د کومې طمعې، غرض او اجرت نه د خدای د پاره کړو او
خدای خو خدمت ته ضرورت نه لري، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

زمونږ په علاقه کښی ملایانو، د ولکی او سرنا بند کړي وو د دی ملاتو یو ستر و هغه
خپلو کشرانو ته ویلی وو چه بچو دا د ول د بلې د کوتې په تیر کښی کښېږد. دی اخر په خدای
مسلمانی راولي، نو د ملاتو ته مو وویل چه هغه خپل د ول د بلی را واخلي هغوی ډېر
خوشحاله شو هغوی هم مونږ سره خدایي خدمتګار شول او مونږ د هغوی او بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واوې په دوره روان شو او چه يو کلي ته به نژدې شو نو د ډول به مو وواهه. چه خلکو به د ډول او سرنا اواز واورېد نو حيران به شو ولې چه د ډول او سرنا خو ملايانو بند کړي وو نو چه چا به اورېده منځي، نر، ښځې به را غونډې ېدل او مونږ به پسې را روان وو مونږ چه به د کلي مېنځ ته ورسېدو نو د ډول او سرنا به مو بند کړل. د کلي اکثر خلک به راغونډ شوي وو او دې کار مونږ سره ډېر مدد وکړ نو ما به ورته يو مختصر غونډ ی تقرير وکړو چه پښتنو وروڼو! مونږ ستاسو ورونه يو، ستاسو خدمتګار يو، ستاسو خدمت له راغلي يو راځئ چه دا خپل وران کور جوړ کړو، تاسو لږ دې دنيا ته وګورئ که علم مونږ ته نو ستر کې خو مو شته. د دنيا خلک او قومونه اسمانو نو ته وختل او مونږ په مځکه پاتې شو. هغوی چه زمونږ په شان بنيادم دي، مونږ ورته لاس نيولی دی چانه دانې غواړو وچانه پيسې غواړو، مونږ له خدای د جنت په شان ملک راکړی دی، د دولتونو او نعمتونو ډک دی او زمونږ يکښې څه حال دی؟ د جوارو ډوډۍ نشته چه په مړه ګېډه يې وخورو هغوی ولې اباد شو؟ او مونږ ولې پاتې شو؟ هغوی کښې ورور ولی ده، قامولي ده، او اتفاق دی، په مونږ کښې پرې دي جنبې دي او بغض دی، کينه ده، نفاق دی. دا نن دنيا د قامولئ دنيا ده که قوم شوئ نو ستاسو دنيا به هم اباده شي او ستاسو اخرت به هم اباد شي.

زمونږ دې خبرو به خلکو ډېر اثر وکړو او مونږ چه به هر چېرته لاړو نو ښځې نر، واړه، زاړه به قول راسره روان شو، نو ملايانو دا فتوه وکړه چه باچاخان دجال دی. د دجال په هکله دا مشهوره وه چه د ی راشي نو ښځې، نر، او ماشومان به ور پسې وي، ملايانو به خلکو ته ويل چه تاسو نه ګورئ چه نر، ښځې، زاړه، واړه ورپسې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځوان چه به زمونږ جماعت کښې داخليږ ونو هغه به عمل کوو مونږ به ورته ويلي چه دالاره ډيره ګرانه ده او په دې لاره کښې ډيراغزي مصيبتونه او تکليفونه او قربانۍ دي که دې ته تيار يي نو هله خدايي خدمتګار کيږه، ښه غور او فکر پکښې وکړه بيا به مو ورته ويلي چه خداى ته خو دخدمت ضرورت نشته، دخداى خدمت دا دى چه دهغه دمخلوق خدمت دهغه درضا دپاره وکړې بيا به مو ورته داخبره وکړه چه پرې، جنبې، ترګکښې به پريږدې ولې چه ددې دلاسه زمونږ کور وران دى او که څوک درباندې زياتي وکړي نو ته به ترې بدل نه اخلې، صبر به کوې بيا به مو ورته ووې چه تشدد به نه کوې ولې چه تاسو وګورئ دپښتون خپل کور د تشدد په وجه وران دى او دده تشدد دخو خپل وروور سره دى بل ته يې ايمان نشته. خدايي خدمتګار به دخپل قوم او ملک خدمت دخداى دپاره کوي بل غرض به يې نه وي رسم او رواج به پريږدي او هره ورځ به پخپل لاس دوه ګينټې کار کوي. داوعده چه به يې وکړه نو هله به مونږ دهغه نوم دخدايي خدمتګارو په فهرست کښې وليکلو.

دعدم تشدد په هکله خلکو کښې عجيبه عجيبه خيالات دي ددې په هکله ډيرې پراپيګنډې کيږي او په خلکو کښې غلط فهمي پيدا کوي. څوک وايي چه که څوک په يو مخ څپيړه درکړي نو ته ورته دابل مخ هم ونيسه چاپه وې چه ته ورته پروت اوسه او بل به درباندې ګرځي چاپه وې چه ته به ورته پروت يې او هغه به دې وهي ته به لاس پښه نه خوځوې چاپه وې چه پښتون يو بهادر او زبردست قوم دى، غفارخان يې بزدله کوي، لنډه دا چه قسم قسم خبرې وې. دد اصل عدم تشدد ديو طاقت دى څرنګه چه تشدد ديو طاقت دى دعدم تشدد هم دغه شان فوج دى لکه څرنګه چه دتشدد دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د علام تشدد وسله تبلیغ دی او د تشدد وسله تو پک دی ، علام تشدد په خلکو
محبت پیدا کوی ، همت پیدا کوی او جرئت پیدا کوی او تشدد په خلکو کښی نفرت پیدا
کوی او ویره پیدا کوی او بزدلی پیدا کوی . بعضی خلک وایی چه د دیفنس ( دفاع )
د پاره خو تشدد ډیر کار دی ، دوی دی ته فکر نه کوی چه تشدد دی وکړو نو د علام تشدد
اره دي پر بیبنوه حالانکه علام تشدد کښی خپله دفاع شته ، علام تشدد کښی شکست
شته او تشدد کښی شکست شته ، ځکه چه د تشدد یو نظام دی ، دغه شان د علام
تشدد هم مکمل نظام دی ، تشدد اسان دی او په دي لاره تلل هم اسان دی او علام
تشدد ډیر گران دی او په دې لاره تلل هم ډیر گران دی . یو سړی له د پرق جواب
کښی پرق ورکول اسان کار دی ، خو پرق زغمل گران کار دی .

دوری :

د هشنغر او دواوی نه پس زه او میا احمد شاه صاحب د صوابئ په دوره
لاړو کلی په کلی وگرځید و او ډیر خلک په خدایی خدمتگارئ کښی داخل شو کلی په
کلی موجرگی جوړولې . مونږ د هغه ځای نه بیا پبنور ، خالصه او دداود زو کلی د کتل
د مردان او بیا د باڼیزو دوره مو وکړله او سودم او رستم له لاړو صاحبزاده خورشید
دادینا او مولوی شاه محمد صاحب د تولاندی ما پسی راغلل بیا ماهغوی سره د
مازو کړی نه ترناریخی پوری دوره وکړه ، په دی دوره کښی د صاحبزاده صاحب سایکل
مونږ سره ډیر مدد کړی و ، زمونږ داتولې دوری به پیاده وې . صاحبزاده صاحب
به په سایکل سور شو او زمونږ نه به یې مخکښی یو کلی ته ځان ورسولو ، مونږ چه به ورتلو
وهغه به دکلی خلک یو ځای ته راجمع کړی وو ، مونږ چه به ورته تقریر شروع کړی نو صاحبزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب به دخپل بایسکل سره دبل کلي دخبرولو دپاره روان شو او به دی طریقه مونږ
به په ورځ کښې نهه لس جلسې کولې، په دې دوره کښې مونږ ډېر کار وکړو او ډېرې جلسې مو
وکړې؛ دهغې لویه وجه دا وه چه روژه وه او خوراک څکل پکښې نه وو، هغه وخت چه په ځوړلو
څکلو، ضایع کېدلو بچ شو. اختر له مونږ ټول خپلو خپلو کلو ته لاړو او د اختر په دریمه
ورځ چه په چارسده کښې به یوه لویه میله لګېدله چه دنسرو میله به یې (رتره وې) مونږ
خپل خدایي خدمتګار د ډول سرنا سره دیوجلوس په طریقه میلې له لاړو. په دغه وخت
کښې زمونږ دخدایي خدمتګارو وردی، دسپینې خامتا وه. هغه به زر خیرنه شوه
او چه دوره کښې به هغه خیرنه شوه نو شنه به نه ښکاریده. په میله کښې دلیرې لیرې علاقو
خلک راغلي وو هلته مونږ یوه لویه جلسه وکړه په زرګونو خلک راجمع شول خلکو کښې ډېره
مینه وه، محبت و، جذبه وه او په خلکو ډېر اثر وشو، ما خو هره جلسه کښې هغه یو تقریر کولو
بیا مونږ خالصې ته روان شو ولې چه هلته هم په اکبرپوره کښې یوه لویه میله دي هغلته
هم مونږ ته ډېر خلک راجمع شول او خپل اغراض او مقاصد مو ورته بیان کړل او په خلکو
یې ډېر اثر وشو په لاره کښې خدایي خدمتګارو دیو سړي نه دلارې تپوس وکړو
هغه چه ورسره ډول سرنا ولیدل ورته ویل یې ماته دا ساز وغږوئ نو بیا به درته
لاره وښیم هغوی ورته وویل چه دلته وروسته یو سړی وا روان دی هغه نه پوښتنه
وکړه که هغه راته ووې نو بیا به درته ساز وغږو وو چه زه وروسته ومه نو هغه سړي
چه زه ولیدم نو وشرمېده او لاره یې راته وښودله. د اکبرپورې نه تاروته لاړو
او د تارو نه په ریل کښې نوښار ته لاړو، د نوښار په صدر بازار کښې مو جلسه وکړه
او دخدایي خدمتګارۍ په مطلب مو خلک پوه کړل. شپې له پورې نوښار ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړو دشپی د ډیوی انتظام معزالله خان کړی و. بګل احمد اویونس خان بره په
د نوښار په ډاک کښی دجلسی انتظام کړی و. په سباله په جلسه کښی خانان اوغړ
بیانان په لوی تعداد کښی شریک شول. سربلند خان، سرفراز خان اوامین خو
الله خان اوحضرت بادشاه میا صاحب سره دخپلوزامنو فیروزشاه اوسرور شاه چیره
اوعبدالله یاسین جلسه په ډیره کامیابی سره وکړه. په نوښار کښی ډیر جوش وخروش ښکاره
پیدا شو اوحضرت شاه بادشاه په جلسه کښی اعلان وکړو چه ماخپل دوه زامن او صفا
فیروزشاه اوسرورشاه دخدایی خدمتګاری دخدمت د پاره باچاخان ته هم ګرا
ببښلی دی

په نوښار کښی چه ډیر خدایی خدمتګار او ممبران جوړ شو نو دلته مونږ د
جرګه جوړه کړه او دخدایی خدمتګارو جرنیل سرورشاه مقرر شو. ماخو وړاندی
ددی خبری ذکر کړی دی چه خدایی خدمتګارو وردی دسپینی خامتا وه
خدایی خدمتګارو ماته شکایت وکړو چه داسپینه وردی په دوره کښی زر
خیر نه شی او وینځلو هم نه. انتظام نه وي نو سبه به داوی چه مونږ وردله څه رنګ
ورکړو. نوماورته ووی چه ورکړی. نوهغوی اتفاقاً سور رنګ ورکړو خدایی خدمتګارو
خان له سری وردی جوړی کړی. هر خدایی خدمتګار به خان له خپله خپله وردی
جوړوله. دی رنګ دخلکو په زړونو ډیر زیات اثر وکړو ځکه چه ښکلی وردی وي
او زلمی به پکښی ښکلی ښکاریدل او ټولو خدایی خدمتګارو پوشان رنګ ورکړو.
دغه د سره جامو وجه وه چه پیرنګیانو بیا زمونږ برخلاف پراپیګنډه شروع کړه چه
دا دبلشویکو تحریک دی مونږ خو هغه وخت دی نه خبر هم نه وو چه دبلشویکو هم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردی ده داخو یوه اتفاقي خبره وه . ما ترد غه وخته پورې نه د مارکس . نه د لینن او نه د کاندهي چې کوم کتاب لوستی وه او نه تری خبروم . موتږ د نوښاد نه خپلسکو له راغلو او جلسه مو وکړه او ډیر خلک مونږ سره په خدایي خدمتګاری کښې شریک شو او سیف الملوک او تاج الملوک د سرخپو شومشران مقرر شول او بیا تیستی له راغلو دلته هم جلسه وشوه او ډیر خلک په خدایي خدمتګاری کښې شامل شول د خدایی ئ شانو چه پښتنو کښې داسې یوه جذبه پیدا شوې وه چه مونږ به کوم کلي ته ورغلو او خلک به زمونږ نه خبر شو نو په یوه منټ به مونږ له راتلل او د تقریر نه پس چه به ما اپیل وکه چه تاسو کښې څوک شته چه د خدای د پاره د ملک او قام خدمت وکړي نو یو به پاڅید وچه زه مانوم ولیکه د هغه پسې بل او بل به پاڅیدل چه زما نوم ولیکه او خدایي خدمتګارئ کښې شریکیدل او دغه شان ډیر کسان په خدایي خدمتګاری کښې شامل شول.

زمونږ د جرګو د ممبرانو او خدایي خدمتګارو تعداد چه زیات شو نو مونږ د دوی ، تنظیم جوړ کړو ، او د اتمانزو سرفراز خان د باوردی خدایي خدمتګار د سالار اعظم مقرر شو ، د هغوی د منډائی د ډیوډی د پاسه یوه بالاخانه وه هغه د خدایي خدمتګارانو دفتر شو ، د امرکزی دفتر وو . د سرفراز خان نه پس د ب نواز خان سالار شو ، او د هغه نه پس بیا امین جان خان سالار اعظم شو . دغه شان د ضلع پېښور سالار اینزر ګل ، د مردان سالار منیر خان ، د کوهاټ سالار اسلم ختک ، د بنو سالار یعقوب خان ، د ډیرو سالار مولا داد او د هزاری سالار داؤد خان او یو سالار د کنو د بهان نادر نګ مقرر شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه برخو کښې قلي خان چه د مومند د پولټيکل وو زمونږ مومند درو نه
ي را او غوښتل او ورته يې اوويل چه په تاريخ کښې ليکلي دي چه د دې ملک خلک به
وتاڼ ته ځي او دا ملک به توري پاتې کيږي. که تاسو د دوی ملګرتيا او نکړئ او دوی سره
په تحريک (خدايي خدمتګاري) کښې شامل نشئ نو دا مزکې به سرکار تاسو له درکړي، زمونږ
و مومند خدايي خدمتګار وو چه د وتيکي وو. وتيکي د تخت بائ سره يو ورو کي بالله
ده هغه راغي او مونږ ته يې دا قصه اوکړه، په دغه وخت کښې زمونږ سره ډېر ښه مومندان
په دې تحريک کښې شريک وو، هغه چه ما ته دا خبره وکړه نو ما ورته اوويل چه ته د دې
علاقې بارسوخه مومندان را وغواړه او ما ته هم خبر وکړه چه زه هم درشم او دوی سره د
ورورولۍ او عزيزولۍ يو څو خبرې وکړم او دا څه چه ورته قلي خان ويلي دي د دې په
حقيقت يې پوه کړم. نو هغه ډېر عزيزان مومندان را وغوښتل او زه يې هم خبر کړم، زه
ورغلم، ما دې ډيلو ورونو مومندانو ته اوويل چه د پښتنو د ورورولۍ ولش شتويلي ی
او هر چا له خپله خپله حصه ورکړې شوې ده، اوس چه تاسو ته دا قلي خان څه خبرې کوي دا
مونږ کښې صرف د نفاق او جګړې پيدا کولو د پاره کوي او زمونږ ورورولي کمزوره کوي،
زه تاسو ته دا خبره کوم چه زمونږ لکه چه ما ورته اوويل د ورورولۍ ولش شتويلي ی، زمونږ
دا ملک او ځمکې نه پېرنګيان تاسو ته درکوي او نه يې درکولې شي، دا که درکوو نو مونږ به يې
درکوو، راځئ مونږ سره د ملک د آزادۍ د پاره ملا اوتړئ او چه مونږ دا ملک ازاد
کړو نو تاسو سره زه د علاوه کوم چه هرې کورنۍ له به نسل نسل جريبه ځمکه ورکوم، زمونږ د
د پښتنو ډېرې مزکې دي، د هر چا په کښې برخه رسيدې شي، خو دا نه چه ته به وايې
چه زه دا يا د دې سړي مزکه اخلم، ځکه چه زمونږ خو قومي ولش شتويلي ی. په دې زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوډکښي نفاق او جګړه پيدا کېږي. زه افسوس کوم چه دی ورونو ما سره اتفاق ونک
دکله چه دقيوم حکومت داغي نوهغه بيا دا قصه را وسپرده او چه بهتو داغي نو هغه دا قص
لاګرمه کړه او په دی صورت يي زمونږ په پره تباهي او بربادي اوکړه اومونږ ته يي د
سياسي او اقتصادی نقصان را ورسولو.)

دخدايي خدمتګاری اثر په ورو ورو زيرو، بنځو، نرو او ماشومانو داسی شوی و
زه به ورته د پر حيرانيدم چه دا قوم څومره ښه قوم دی، او څنګه په يو مخ را بيدار شو
دماشومانو داحال وو چه زه به يو کلی ته لاړم، نو دوی به ټول ما ته داجمع شول او په
کښي به وو دربيدل او زمانه به داخواهش کولو چه زه هر يو چپ (ښکل) کړم. زما
سره د پر محبت وو، زما به هم داخواهش وو چه هر يو چپ کړم. زه خو دوني د پر
ووم او دوی ماشومان وو نو چپ کيدو وخت کښي به زه هر يو ته راتيتيدم نوما
د پر تکليف وو او د پر به ستړی کيدم، خو بيا به هم ما ټول چپ کړل او هغوی به
د پر خوشحال شول، دی ماشومانو به کلو او بانډو کښي ښيل تنظيم جوړ کړی وو. جل
او جلوسونه به يي کول. يو کلي او بل کلي ته به تلل، اوزمونږ جلسو او جلوسو کښي
شريکيدل. دغه شان جينکو هم سره جامي جوړی کړی وی. نظمونه يي ياد کړی و
هغه به يي نورو ښځو ته اورول، دپښتون رساله (مجله) يي په شوق لوستله، چه پښتن
مجله به راغله نوجينکۍ به را جمع شوی، يو جينۍ به لوستله او نورو به اوريدله، په د
دول داخبار لوستلو شوق هم خدايي خدمتګارو پيدا کړو.

دحکومت پوليس به هر وخت مونږ پسی وُو او دساعت ساعت خبر به يي حکو
ته ورکولو. حکومت ته چه معلومه شوه چه خدايي خدمتګاری په پښتنو کښي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور اوشور سره خوریږی او په خلکو کښې جوش او خروش زیاتیږی او دا تحریک
ښتنو کښې ډیر کامیاب او هر د لعـزیزشو نو مینږی پری لګیا شو چه دا په پښتنو خه
ل وشو او زه هم د خدای پاک دې قدرت ته حیران وم چه پښتنو کښې دا دو مره
ینه محبت ، ورورولی ، عزیزداری او ژوندون زمونږ په لږ کړاو څنګه را پیدا شو حکومت
دې فکر کښې شو چه په څه چل به دا تحریک ختم کړو ، زمونږ ډپټی کمشنر له چه زمونږ
لاقی څو خانان به ملاقات له لاړل نو هغه به ور سره هم دا قصې کولې چه دا عبدالغفار خان
څه تماشه جوړه کړې؟ ده ولی په قلارنه کښېنی او کلی په کلی ګرځي اخر مطلب یې څه دی ؟
وی به دا غلل او دا متوله قصه به یې ماته بیان کړه ما به ورته وې چه تاسو ډپټی کمشنر
ووایئ چه زما مطلب صرف د پښتنو کور جوړول دی چه دا پړی ، جنبې د ښمنی تر-
ی پریږدي او د تخریب په ځای تعمیر ته یې فکر شي ، بلکه ورځې د سود دم د باریکاب
ن خوشحال خان زما لید وله راغی او ما ته یې ووې چه لاټ صاحب وایې چه دا ده څه
ه شروع کړې؟ ده ما ورته ووې چه زما مطلب د حکومت مخالفت نه دی زه خو د پښتنو
ح کول غوارم چه د دوی دا بد دسمونه ، رواجونه ، پړې ، جنبې لیری شی او که چری
وان او سکهان لګیا دي پخپل قوم کښې مینه او محبت او ورور ولی پیدا کوی نو په
ښې څه ګناه ده چه پښتون هم خپله اصلاح وکړي؟ دا ستاسو رعیت نه دی څه؟ نو
حال خان راته ووې چه هغوی وایې چه یو ځل په پښتون کښې اتفاق راغی او دده
ح وشوه نو د دې څه ضمانت دی چه هغه دې زمونږ برخلاف استعمال نه شي؟
ورته ووې چه ز لاټ صاحب ته ووایه چه د قومونو ضمانت په یو بل اعتماد او اعتبار
دوی دې په مونږ اعتباد وکړي . بیا حکومت ما پسې خواب راولیږلو او راته یې ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دا ته څه کوي ؟ ما ورته ووې چه زه خو هغه کوم چه دیوبنه حکومت کاردی . دا خو
سنا سو کاردی زه یې درله کوم او په تفصیل سره می قولي خبرې ورته بیان کړې لیکن
هغوی تسلي په دې خبرو چرته کیدله خو ددې خبرو نه زه په دې نتیجه ورسیدم
چه دحکومت نیت دې تحریک ته ښه نه دی .

## مرغز کښي جلسه او یوه قامي پریکړه :

مونږ خو چه په یو ځل دوره شروع کړه نو په ټولو ضلعو کښي په مو یو شان دوره
او چه دصوبې دیو سر نه به مو دوره شروع کړه نو دبل سره پورې به مو کوله لیکن چه په کو
علاقو کښي به ښه دکار خلک پیدا شو نو هغه علاقه کښي به تحریک ترقي وکړه نو زمونږ تحر
په یوسف زو کښي ډیره ترقي کړې وه او په یوسفزو کښي خصوصاً په صوابۍ تحصیل کښي
یو کلی نه ؤ چه په هغه کښي به زمونږ جرګه نه وه یا به خدایي خدمتګار نه وو . په یوسف
زمونږ سالار منیر خان د مانیرۍ او جرنیل د مرغز خلیل الرحمان ؤ او بیا د مرغز کلي
خدمتګار ډیر دکار خلک وو او دوی به لګیا وو چه خپله علاقه کښي به یې کار کولو زمونږ به
خدمتګارو کښي دا یو لوی صفت وو چه څوک به خدایي خدمتګار شو او یا به جرګه کښي
نو هغوی به د شپې او دورځې خپله علاقه کښي کار کولو او به نه کښېناستل . په ما
کښي دوی په ماپسې راغلل چه مونږ خپله علاقه کښي ډیر کار کړې دی او ډیر خلک
سره ملګری شوي دي ، نو مونږ غواړو چه دا خلک قول راجمع کړو او په مرغز کښي ج
وکړو او دا د خدایي خدمتګارۍ اوله جلسه وه او میا احمدشاه صاحب او زمونږ د
عبدالغفور چه په خوش آوازۍ به یې نظم ویل او د ماستر عبدالکریم صاحب منت
ؤ ، دوی سره د باور دی یو څو خدایي خدمتګار لا ړو او د مرغز په جلسه کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو . دتولی علاقی خلک داجمع شوي وو میا صاحب پکښی تقریر وکړو او نورو خلکو هم تقریرونه او ښکلی ښکلی نظمونه وویل، ماچه وکتل نوحیران شوم چه زمونږ د پښتنو په شاعرانوکښی دقومی جذبی دا تحریک څنګه راپیدا شو؟ خکه چه د دوی په نظمونو به قوم کښی ډېر جوش او طاقت پیدا کېدلو او دا د ومره لویه تبدیلی پکښی څنګه راغله ؟

محمد عمرخان د مانیری ئې پکښی د موجوده او د پخوانی زمانی حاکمانو بادشاهانو فرق خلکو ته په ډېره ښه طریقه بیان کړو چه پخوانی حاکمان او بادشاهان چه به په دوره راغلل نو هغوی به خلکوله د دوی د کانۍ انعامونه اکرامونه ورکول او د موجوده زمانی حاکمان چه به په دورو راشی نو هغه انعام اکرام خو پرېږده هرڅه د مظلوم رعیت نه خوری . نورو تقریر خلکو ډېر خوښ کړو زه د دغه جلسی صدر وم اخری تقریر زما و زه پاڅېدم او تقریر موشروع کړو ما خلکو ته ووې چه زه تقریر نه کوم تاسو ته یو تجویز پیش کوم تقریرونه خو ډېر وشو خو داخبره زما یاده ولرئ چه په دنیا کښی کوم قومونه چه خبری لږی کوی او عمل ډېر نو هغه قامونه همیشه خپل منزل ته رسېدلی دي ، زه تقریر نه کوم زما په تجویز غور وکړی . په دی پښتنو باندې د دی رسم و رواج ډېر بوجونه دي او زمونږ د تحریک یو داغرض هم دی چه په دوی باندې دا بوجونه کم شی خوزه یو بوجه هسی نه دا جسی په پښتنو باندی یو بل بوج شی نو زه دا تجویز ستاسو په خدمت کښی پیش کوم چه په کوم کلی کښی زمونږ جلسه وی په هغه کښی به خلک نه چای څکی او نه د دوی ډوډی خوری او نه به څوک پاتی کېږی او نه به څوک شپه کوی . خلک به خپلو کلو ته ځی او که څوک خپلو کلو ته رسېدای نه شی نو په یو کلی به هم ډېر کسان نه ورځی او که هغه کلی کښی چه د دوی شپه شی نو په یو خدایی خدمتګار به هم نه ډېره کېږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچه په هغه کلی کښې څومره خدايي خدمتګاروي هغوي به وروله خپله خپله ډوډۍ
راوړې. دوی به يې په شريکه خوړي اوڅوک به زياتي تکليف نه کوي، اوکه د چايو وخت
وي نو چه د دوو پيالو نه زيات چای ونه څکلی دا تجويز په اتفاق سره پاس شو او جلسه
ختمه شوه. د مرغزمشران ماله داغله، هغوي ماته د ډوډۍ ذکروکړو ماورته ووې
چه دا تکليف دی، د مرغز ډېر ښه خلک دي که خانان دي که غريبانان دي که کسبګر
دی هغوی کښې ډېر اتفاق او جذبه ده. هغوي راته ووې چه موږ ته خو هيڅ تکليف
نشته. زموږ د ټول کلي خلکو د جلسي د خلکو د پاره چاغوړي، چاچرګ اوچا اوړه
راوړي دي. ماورته ووې چه ستاسو خو اتفاق دی او تکليف درته نشته خو يو کلی د
چه هلته ستاسو په شان اتفاق نشته که موږ هلته جلسه وکړو بيا به هغوي ته څومره
تکليف وي؟ اوتاسو که اوس دا ډوډۍ وکړه دا به رسم شي. پښتانه خو داسي قوم
دی که يو کلي څه وکړي نو بل کلي د هغوي د سيالۍ نه ضرور کوي، دوی زما هغه خبره
ومنله. ما ذکری چه جلسه ختمه شوه په مرغز کښې زموږ ماماګان وو. زموږ نيا د دي
کلي وه. هغوي راته ووې چه موږ خو تاله ډوډۍ پخه کړې ده او موږ سره به شپه کوې
ماورته ووې: چه تاسو په جلسه کښې نه وې څه؟ په جلسه کښې خو دا تجويز پاس شو چه د جلسي په کلي کښې به ميلما
نه شپه کوي او نه به ډوډۍ خوري او دا خو ډېر بدکاری چه سړی وايي يو څه او کوي بل څه. هغوي مي په ډېر
خوار ورضا کړل اوزه بام خيلو ته لاړم او د علته مي باچا صاحب سره شپه وکړه چه هغه زمانه وعلاقه ځيستي
چه د ي علاقي له راشي نو شپه به ماسره کوي.

## اتمانزو کښې لويه جلسه او مشاعره:

موږ خو چه تر او سه پوري کومې جلسې کولي نو د ضلع او تحصيل په سطح وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اراده وکړه چه اوس به موږ دټولی صوبې په سطح باندی یوه لویه جلسه وکړو څکه ماچه کتل دخدایي خدمتګارو دی تحریک په پښتنوکښی یوه نوی جذبه پیدا کړی وه . نو ددې د پاره مادامناسب وګڼل چه اول باید دجلسی انتظام وکړو . د سرحد ټولو پښتنو له مود شرکت دعوت ورکړو او داجلسه موږ په شلم او یوویشتم اپریل ۱۹۳۰ع په اتمانزو کښی مقرر کړه او دیوی مشاعری بندوبست موهم وکړو او ددی مشاعرې طرح داوه :

«جنګ د آزادۍ له همیشه ځلمی وتلی دي.»

چه دجلسی اعلان وشو نوزموږ دجلسی داعلان سره حکومت ډیر په فکر او تشویش کښی پریوتو او د اتمانزو په خانانو یې حکمونه جاری شو ، حکومت غوښتل چه داجلسه بیخي چیل بنده شی چه موږ په دی بل نام نه شو او دکلی خانان او خلک د دی څه مخالفت وکړی . او موږ له ځانه په لاس راشي ، لیکن حکومت په دی مکر او فریب کښی کامیاب نه شو ځکه چه زموږ دکلی خانان خو په خدایي خدمتګارۍ کښی شریک شوی وو صرف برنی محمدعمرخان زموږ په خدایي خدمتګاری کښی شریک نه و نوره کورنۍ یې ټول خدایي خدمتګار وو . حکومت په بعضی سیندونو پلونه هم خلکو ته وران کړل خو په دی کښی کامیاب نه شو او په زرګونو نر او ښځی په جلسه کښی شریک شول جلسه ډیره کامیابه وشوه او بیاخاص دخدایي خدمتګارو پریډ جلوس او سلامی په خلکو ډیر اثر وکړو . د پیرنګی خو دمخکښی نه اراده نه وه چه موږ دی کار پریږدي خو دخدای فضل وچه دری دری نیمی میاشتی موږ کار وکړو . موږ چه د کانګرس دجلسی نه راغلو نو په جنوری ۱۹۳۰ع کښی موکار شروع کړو او په اپریل کښی پیرنګیانو ګرفتار کړم . دومره وشوه چه زموږ اواز دپښتنو غوږ وته ورسیدو په ۲۲ اپریل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایله د جلسی میلمانه رخصت شول د بر تهکال ارباب جمعه خان چه تر څه رخت رخصتیدو نو، چونکه دی زما ډیر مهربان و ماورته ووې چه ستا خو ډیر زامن دي د خدای فضل دی نو دا یو ارباب عبد الغفور یکښې ماله د خدائي خدمتګارئ دپاره راکړه نو ده وې چه ما په نامه د خدای در ښبلی دی او دې جلسې له د پیښور نه علی ګل خان . لعل باچا او د کانګرس نور ډیر کارکنان راغلي وو چه دوی د جلسې نه رخصتیدل نو ما ته یې ووېل چه مونږ سباله سول نافرمانی کوو او په پیښور کښې به ما لکه جوړوو ته هم د غلته زمونږ تماشی له راشه کوره مونږ خو خدائي خدمتګار نه یو تا سو سره په دی جلسه کښې شریک شوي یو که ته کانګرس کښې نه یې نو تماشی له خو راشه !

---

فیرنګي د هو د ساو او د عوامو په کور کښې د جنګول سند یا ځینه وکړو په ما لکه
یکښو او الګو دے شو د هندوستان عوامو د ایکسټ ظالمانه کردار ګټل
د عوامو د ا ظریه وه چه هر څوک په در خبیر دوی کښې ځه بر ابر یک
ی - هوا ، اوبه ، په د اشیاء ټیکس لګول هیڅ حد از نشته
سمندر په کناره به عوامو د اوبو نه مالګه جوړول او هغه حکومت پیده مقرر کړه
په ټیکس د ادا کیدو نه بغیر به مالګه څوک هم نشي خرید کولے ځکه دا مالګه
بغیر د ټیکس د ادا کیدو نه پیدا کیدل منع شوه د کانګرس حکومت کړه
د سیاسي او اقتصادي جنګ وو . او عوامو دا جنګ فتح کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګجرات جېل او کانګرس سره تړون

زما ګرفتاري ۱۹۳۰ع ګجرات جېل، د قصه خاني واقعه، د پېرنګي جبر

او نشه د اوپښتانه (اتمانزو، پړانګ، کوجړو ګړهي، تنګي، شېر-

ګړه، لوندخوړ، مېنئ، رستم، کوهاټ، بنول، آزاد-

قبايل، حبيب نور، دا پړيډ وحمله

د ايپي فقير صاحب)

کانګرس او مونږ، د پټيل کميټي رپورټ

د ګجرات جېل ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## گرفتاری سنه ۱۹۳۰ع:

زه په ۲۳ - اپریل د دوی د دعوت په سلسله کښې په لاری کښې پېښور ته روان
شوم او چه د ناقې تانې ته ورسېدم نو پولیس والا ولاړ و ولاړی یې و دروله او ما ته
یې و وې چه مونږ ته ستا د گرفتارۍ حکم دی، ما ورته ووې چه زما هیڅ عذر نشته
خو ما ته زما د گرفتارۍ وارنټ وښیئ. دوی سره وارنټ نه و خو لاړی والا ته یې
ووې چه لاری مه روانوه ودرېږه! لاری والا غریب لاری و دروله وه چه په
دې کښې د چارسدې نه پولیس والا په لاری کښې راغلل او ما ته یې د گرفتارۍ وارنټ
وښودلو او زه یې گرفتار کړم او واپس یې چارسدې له راوستم او د چارسدې
د حوالات قبلې ته د زنانه وو په حوالات کښې ځانله بند کړم، زمونږ د دې جلسې
خرڅ ماکړې و او انتظام ټول زمونږ. حاجي صاحب شهنواز خان کړې او د پېښې
انتظام یې کړې و. جلسه کښې به یې د خاموش او از کولو صرف په دې او از سره دا
غریب هم مونږ سره گرفتار شو. چه زه یې د زنانه وو حوالات ته د ننه کړم نو میاں
احمد شاه یکښې ناست و بیا یې حاجي شهنواز خان او سرفراز خان او عبدالاکبر
خان هم راوستل او حوالات ته یې را د ننه کړل. زمونږ د گرفتارۍ خبر په لږ ساعت
کښې په ټوله علاقه کښې خور شو او په زرګونو خلک هلته راجمع شول او راجمع کېدل
چه د خدای فضل و، ډاکټر خان صاحب چه زما مشر ورور و را ورسېد، دا ټول
خلک خو خدایي خدمتګار نه وو، د دې خلکو اراده وه چه قلي خان چه د غنم
وخت د چارسدې اسسټنټ کمشنر وو ژنی، خو چه ډاکټر صاحب د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر شو نو خلکو ته یې وویل چه ای ورونو زمونږ دا تحریک خو د عدم تشدد
تحریک دی مونږ خو خدای سره وعده کړې ده چه تشدد به نه کوو او ډېر کوشش
یې وکړو چه د اکادو نه شي او خلکو له یې ترغیب ورکړو چه خلک خپلو خپلو کلو ته لاړ
شي خو خلک ناست وو او که چیرې ډاکټر صاحب نه وای نو لویه خونریزي به شوې
وه چه حکومت بوه شو چه دا خلک نه خوریږي، نو دلته هم کافي پولیس وو خو د مردان
نه یې د فوج رساله راوغوښته او زمونږ د حوالات خولې له یې راوستل او لاړې
یې مونږ ته د حوالات په خوله کښې ودروله، ډېر پولیس او رساله تري چاپېره وو
مونږ یې دې لارې کښې کښېنولو او د لاړې نه څه رساله وړاندې او څه وروستو مردان
ته روان شو، بې زرګونو خلک مونږ ته ولاړ وو او مونږ، به اشارت په هول چه تشدد
به نه کوئ. چه څه وخت سره ډېر وته ورسېدو د شیخو د ټیپې زرګونه خدائي خدمتګار
د فتح محمد جرنیل په حکم په سړک ولاړ وو سړک یې بند کړې و ما دا لاړې نه دوی
ته ووې چه تشدد مه کوئ او چه په مونږ خفه یئ نو وکړئ او خدائي خدمتګارۍ له
ترقي ورکړئ هغوی لاره پریښوده او مونږ مردان ته ورسېدو و شپه مو د مردان
په جیلخانه کښې وکړه وختي سحر یې د مردان نه روان کړو. د مردان خلک چه زمونږ
د نیوونه خبر شوی وو نو چه مونږ د جیلخانې نه راووتو بهر به سړکونو ډېر خلک
ولاړ وو بیا یې مونږ د رسالپور چاونۍ ته بوتلو او حوالات کښې بند کړو. د نوښار
هندوان او مسلمانان چه څوک خبر بدل هغه ټول زمونږ د لیدو د پاره رسالپور ته
راغلل او سرکار خپله زمونږ د ګرفتارۍ پراپیګنډه په لویه پیمانه وکړه. لږ ساعت پس
علي خان زمونږ د چارسدې اسسټنټ کمشنر سره د خپلې علې دلته راورسېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ مقدمه ورته پیش شوه. مقدمه دڅه وه خو مقدمه هم د سرکار وه او فیصله هم سرکار کوله ما ته معلومه وه چه مونږ قید وي ما ته خولي د ضمانت ونه وي ځو زما ملګرو ته یي د پېر ووي چه باچا خان پرېږدی او تاسو ضمانتونه ورکړی او چل کوو ورته ځی هغوی ورته ویل چه اخر ضمانت د څه ورکړو د مونږ څه جرم کړی دی. مونږ ټولو د ضمانت نه انکار وکړو، نو ټول یي په دفعه چالیس (څلویښتمه ماده) کښي د ری د دري کاله سخت قید کړو. ما زیګري مونږ د دي ځای نه روان کړو چونکه خلک زمونږ نه خبر شوي وو. د نوښار په ټیسن د پېر خلک جمع شوي وو. نو حکومت مونږ د ریل د سودلي دپاره د نوښار نه د جانګیری ټیسن له بوتلو ریل زمونږ په انتظار کښي ولاړه، مونږ یي پکښي کښېنولو او ریل روان شو.

## ګجرات جیل:

سحر وختي ګجرات ته ورسېدو مونږ یي د ریل نه کوز کړو او ګجرات جیلخانې له یي بوتلو او ورد ننه یي کړو، سحر وختي وه چه د جیلخانې دفتر ته ورسېدو داروغه صاحب لا ویښ شوی نه و بېدي وه چه مونږ د پېر ساعت د دفتر کښي د هغه په انتظار کښي ناست وو چه هغه راغی نو زمونږ چارج یي د پولیس نه واخیستو، زمونږ نومونه یي په کتاب کښي ولیکل. مونږ چه څه وخت جیلخانې ته ورننوتو نو ښه ډېر وه نو د (لمر) ختلو نه زمونږ نه مخکښي یو څو سیاسي قیدیان ورونه راغلي وو، مونږ نه چه خبر شو نو د جیلخانې د دروازې سره زمونږ په انتظار کښي ولاړ وو، مونږ ته راتر غاړه شو بارک له یي بوتلو او زمونږ دپاره یي د چایو انتظام وکړو، دا جیلخانه د سرحد، پنجاب او ډهلي د هغو سیاسي قیدیانو دپاره وه چه څوک به اې او بي کلاس کښي وو. هره ورځ به لیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



انه سیاسي قیدیان راتلل تول ورځ زمونږ په دې مشغولا تېره شوه ، بله ورځ علی ـ
گلخان ، لعل باچا ، لاله پیراخان سره د شپږ و ، انو رضا کار انو هم د پېښور نه د لته
دې جیل ته را بدل شول . زمونږ تعداد ورځ په ورځ زیاتېدو خو څه وخت چه زمونږ تعداد
زیات شو نو زمونږ سیاسي ورونو دا تجویز پېش کړو چه اوس زمونږ د پاره یو کمیټي
جوړول په کار دي چه زمونږ د حقوقو حفاظت کوي او د ټولو په اتفاق یوه کمیټي جوړه
شوه ، ورپسې د صدارت سوال راغی چه صدر به څوک وي ټولو په اتفاق ووې چه ته
زمونږ صدارت قبول کړه ، خو دا خیزونه زما دا ښه نه خوښ نه دي او ما به د عهدونه
اکثر پرهېز کولو نو په دې موقع هم ما د خپل طرف نه معذوري ظاهره کړه او بل څوک یې
مقرر کړو . سکرټري هم منتخب شو هره یوه خبره به زمونږ له طرفه ده ورا ندې کوله زمونږ
کار به دې اندې ښه شو یوه ورځ زمونږ جیلخانې ته د پنجاب د جیلخانو جرنیل
او زمونږ سپرنټنډنټ راغلل ، د ټولو نه په سر کښې زما چکې روه نو د ټولو نه اول یې
زما نه شروع وکړه زه د ننه په کټ ناست وم دوی راغلل زما د چکی ور کښې ودرېدل
دوی د ننه راغلل او زه ورله جنگلي ته ورنه رغلم دا طریقه وه چه اخلاقي قیدیان به جنگلي
له ورتلل زه خو سیاسي قیدي وم زما چکی په سر کښې وه او د مولانا ظفر علي خان
اخر کښې وه چه د هغه چکی ته ورسېدل نو هغه ورته ووې چه زه د سیاسي قیدیانو متعلق
تاسره خبرې کول غواړم لیکن هغه په ترشی سره دا جواب ورکړو چه د پنجاب په جیلخانو
کښې شل زره قیدیان دي ، زه د هغوی په غم کښې یم ما سره د یو څو کسانو سیاسي
قیدیانو د پاره وخت نشته چه تاسره پرې خبرې وکړم . دا خبره چه سیاسي قیدیانو
ته ورسېده نو چه څه وخت دی د هغوی لید وله ورغی نو څوک ناست وو ، څوک او ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو چاورته پښې وغځولې چه ده داحالت ولیدلو نو معاینه یې پرېښوده او د دفتر نه لاړو او په ډېر قهر او غصه د دفتر نه رخصت شو.

## د قصه خانې واقعه:

دلته مانه د پېښور ملګرو وویل چه په ۲۳-اپریل ۱۹۳۰ چه تر یې نیولی نو په دغه شپه د پېښور ښاد کښې مونږ نول هم ګرفتار کړو. الله بخش برقي صاحب چه د کانګرس کمیټې سکرټري و په دغه شپه دی په دفتر کښې و پولیس ده پسې کور ته تللی و، دی کور نه نو د شپې د ګرفتارۍ نه پاتې شو سحر پولیس دی هم دفتر کښې ونیولو چه دی څه وخت ګرفتار شو او خلک خبر شو، نو ډېر خلک راغونډ شول، دی یې د پولیسو موټر کښې کښېنول غوښتل خو خلکو نه پرېښودو، نو پولیس پیاده کابلي تانې ته روان کړو او د خلکو جلوس ورپسې شو چه تانې ته رسېدل نو ډېر مخلوق راجمع شوی وو چه دی یې تانې ته دننه کړو، نو دروازه یې بند کړه او خلکو ته یې وویل چه خواره شئ خو خلک نه خوربدل کشمکش زیات شو نو فوځ یې راوغوښتو، دا فوځ هندوستاني و او ګوره والیان وو هغوی ته یې حکم ورکړو چه په دی خلکو ګولۍ وچلوئ خو هغوی انکار وکړو خلک چه هغوی وویل چه دا خو د تش لاس خلک دي نه جنګ کوي نه فساد نو مونږ پرې ګولۍ ولې وچلوو؟ هغه یې لیرې کړل او ګوره فوځ یې راوغوښتو هغوی د راتلو سره په خلکو ګولۍ وچلولې او ډېر خلک مړه او زخمیان شول.

## ګجرات جیل کښې:

بله ورځ مونږ نول د سرحد سیاسي قید یان یو ځای ناست وو چه خبر راغی چه د بنو نه د سیاسي قید یانو چالان را روان دی، مونږ وې چه ښوګ به وي خو خبر شو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فترته راورسېدل، مونږ په منډو ورغلو یوسردار رام سنګه او بل حکیم عبدالرحیم
صاحب او ددیم سیوک رام وا وخه وخت یې چه هغوی جیلخانې ته رادننه کړل نو
مونږ ورته غاړه وتو، د ملک ټول حال یې راته ووې او ویې ویل چه باوجود د ډیر سخت
ظلم او جبر کار په ښه شان سره روان دی. د دې په اوریدلو زه ډیر خوشحاله شوم
ځکه چه ما سره د خپل ځان هیڅ فکر نه و ما سره به د پښتنو د تحریک فکر وچه دا حکومت
د باو کړي نه وي. مونږ له به هم د ملک نه خطونه راتلل چه تحریک ښه په زور کښې دی اود
خدائي خدمتګارو تعداد د سوونو نه زرګونو ته ورسېدلو او څومره چه حکومت د دې
تحریک د د باو کولو کوششونه کوی هغومره دا تحریک خوربږي.
د لاهور د محمود علی قصوری صاحب پلار مولانا عبدالقادر صاحب هم د ګجرات
جیل ته راغی، دده ځای نه وو، نو ما خپل ملګری سرفراز خان خپلې چکې ته راوستو او
د هغه چکی می مولانا قصوری صاحب ته ورکړه. د غه شان د جمعیة العلماء هند
مولانا کفایت الله صاحب او ناظم مولانا احمد سعید صاحب هم د دې جیلخانه کښې وو، د دې
به زه کله کله میلمه کولم. ناظم صاحب ډیره خوند ناکه ټیټې او حلوا پخوله.
مونږ په دې جیلخانه کښې دوه قسمه قیدیان وو یو اې کلاس او بل بي کلاس
مونږ د خوراک وغیره ټول حقوق یوشان وو خو یو دا فرق وچه د اې کلاس قیدیانو ته
به صرف خملا ستو اجازت و او ورته بي ورته نه بندولو او بي کلاس به دننه خملاستل او
ورته بي ورلیبي بندولو او بل فرق دا وچه اې کلاس به دڅان دپاره د بهرنه
خوراک، څښاک څیز راغوښتي شو او بي کلاس نه شو راغوښتي، دلته صرف
زه او اغاالعل باچا، میا احمد شاه او عبدالاکبر خان به اې کلاس کښې وو، باقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورتول بې کلاس کښې وو، څوورځې پس لې اغا لعل باچا او عبدالاکبر خان د
اېې کلاس نه بې کلاس ته کړل، مونږ به بهر څملاستو او زمونږ د انور ملکرې
د ننه څملاستل د پېره کړمې وه، علی ګلخان ناجوړه و او دګومې نه به پرې چپې راتلې
ماته دا خبره د پېره بده ښکارېده چه مونږ دې بهر یو او حاجي شهنواز خان، سرفراز
خان، عبدالاکبر خان، رام سنګه، حکیم عبدالرحیم او علی ګلخان دې د ننه څملي مونږ
دا خبره خپلې کمیټې ته پیش کړه سپرنټنډنټ سره یې هم پرې خبرې وکړې، حکومت ته
ته موهم د پېر درخواستونه لیږلي وو لیکن چاپرې غوږ نه ایښوده، جرنیل د جیلخانو
هم راغلی و او هغه زمونږ نه خفه تلی و هغه هم زمونږ د پاره څه نه کول او حکومت هم
د څه کولو د پاره تیار نه و اخر چه مونږ مایوسه شو او به دې خبره پوه شو چه په منت
او درخواستونو څه کېدې نه شي نو مونږ اراده وکړه چه قدم اخیستل به کار دې. زم
سپرنټنډنټ راجا صاحب و او په رښتیا راجاؤ او د پیر شریف سړې ؤ مونږ تری و
چه تاسو بیا داخپل شکایتونه ولیکئ او ماله یې راکړئ چه زه یې جرنیل صاحب له ولیږم
د هغه خبرې سره اتفاق وکړو توله خبرې مو بیا ولیکلې او هغه له مو ورکړې هغه ه
پرې د پېر ښه ریوټ ولیکه لیکن د پېرې ورځې تېرې شوې څه ځواب رانغې چه په انتظار ستړې شونو
مونږ فیصله وکړه چه اوس قدم اخیستل به کار دی لیکن زمونږ د پنجاب ورونه څوک چه به اې کلاس کښې
هغوی به د دې مخالفت کولو او ویل به یې چه جیلخانه کښې ایجی ټیشن به کار نه دی، د هغوی دا خبره څو درسته ده ولې چه
ته د ایجی ټیشن ضرورت نه و هغوی خو به ارام وو تکلیف که و بې کلاس ته و کومې چه به د
ورو زیاتېده نو د علی ګلخان طبیعت به هم ورو ورو خرابېده او خولې به پرې هم راتلې آخر
فیصله مو وکړه چه مونږ پرې قدم اخلو او که څوک په خوشحالی سره زمونږ به دې ایجی ټیشن که

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریکیږي نو هم ښه ده او که نه کیږي نو هم بي کوړلي اباد. مونږ له د خپلو بي کلاس
ورونو د پاره ایجي ټیشن شروع کول په کار دی. مونږ ایجي ټیشن شروع کړو او د فیصله
مو وکړه چه بیګا له به نه بندیږو او که جیلوالا مونږ په زور بند وی نو یو بل له به لاسونه
ورکوو. هر کله چه ماښام شو او د ډوډی مو وخوړه او د بندیدو وخت شو نو مونږ ټول
ګینټری ته دا غوتلهشو او په چمن کښې غونډ کښیناستو او لاسونه مو یو بل له ورکړل او
جیلوالو ته مو ووې چه مونږ په رضا نه بندیږو وکه په زور ده مو بند وئ نو ستاسو
اختیار دی. اکثره اې کلاس والا مونږه سره په دی ایجي ټیشن کښې شریک
نه شول نو دخو پیږي ده چه زمونږ د خدائي خدمتګارو صدر، صاحب او سکرټري
صاحب عبدالاکبرخان او میا احمد شاه هم را نه لیرې لیرې کړي شول او ماته بي ووې
چه تاخو به مونږ ته دې چه جیلخانه کښې ایجي ټیشن و نه کړې او اوس دې پخپله
شروع وکړه ماورته وې چه زه د دې برداشت نه شم کولی چه زه دې په ارام یم
او زما د کار ورور ملګري دې په تکلیف کښې وي په دې وجه مجبوره یم چه ایجي ټیشن
وکړم. جیلوالا فوراً سپرنټنډنټ صاحب له اطلاع ورکړه هغه راغی او په دفتر کښې
کښیناستو خبرې شروع شوې هغه ووې چه دی کښې زما څه قصور دی. زه خو
ستاسو د پاره هر څه ته تیار یم نو تاسو زما برخلاف ولې دا ایجي ټیشن کوئ ما ورته
ووې چه مونږ د اقدام ستا برخلاف اخیستی نه دی، د حکومت برخلاف مو
اخیستی او تر به دی خفه کیږه مه اخر فیصله به دې وشوه چه تاسو نن بند شئ او
سباله به زه تار په ذریعه خبر راوغوارم مونږ ورته ووې چه ته زمونږ نه مه خفه
کیږه، مونږ دا فیصله کړې ده چه پخپله خو بسه نه بندیږو ولیکن دا ده چه بندید وکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خه جګړه او کشمکش نه کوو د جېلخانې سپاهيان دی مونږ وچتوی او بارک ته دی مونږ رسوي هغه هم په دې راضي شو چه سپاهيانو د بې کلاس قيديان په دنګه دولی بارک کښې قيد کړل سباله وختی خبر راغی چه په زنانه احاطه کښې د دې بند کړې او د بهر ورور پيسې پوډې کوی او دننه د دوی خوښه ده چه که بهر ځملی او که دننه. لنډه دا چه د بې کلاس د پاره هم مونږ هغه تول حقوق حاصل کړل کوم چه د اې کلاس د پاره مقرر وو.

## د پيرنګي جبر او د پښتنو عزم:

د اخو د جېلخانې واقعات وو اوس د بهر د حال نه مو خبر دم چه مونږ بې وښيلو نو فوجونه او رسالې اتمانزو له راغلی اول د خدايي خدمتګار و په دفترو د غلل کوره کالو په دفترا ور ونګولو او په دفتر کښې چه څومره خدايي خدمتګار وو هغه تول بې بنګنته پوپو په پوځ سرک راوغورځول. زمازوی ولی چه هغه وخت د ډيا د لسو خوار لسو کالو هلک و د خدايي خدمتګارو د دفتر کښې و په ده باندې يو کوره ټينګين ګذاره وکړه وخوږو د يی افسر ورته لاس ونيو هغه ګذار دې په لاس واخيست او دی بې پچ کړو بيا يې د مټ نه ونيو، په پوړوی بې بنګنته د بالا خانې نه راوغورځولو فوجونه د کلی نه چاپير شول، تول خدايي خدمتګار دې ګرفتار کړل او رسالې به په لاره او کوڅو کښې ګرځېدې، په هر کور به ور ننوتل توپکې او که بل څيز به يې خوښ شو هغه به يې يوړل چه تول خدايي خدمتګار ګرفتار شول، نو د ډپټی کمشنر ملګرو سره د ګلکو په مينځ کښې وو دربدوا و په اوچت اواز يې ووی چه د سره جامو څوک شته؟ په دې هجوم کښې زمونږ د کلی خان محمد عباس خان هم ورا ډ و خپلو توکره الوته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز وکړې چه راځئ د ده حجره د غلته نژدې وه په منلو لاړل. په دیګ کښې یې سوړ
رنګ واچوو چیلې او د نوکرانو جامې یې سرې کړې او وایې غوښتې او اوبه تورې بهېدې
چه راغی او د ډپټي کمشنر په مخکښې ودرېدو چه دا دې د سرو جامو خلک ډپټي کمشنر
خو دوی ګرفتار کړل خو دا داسې اواز و چه پښتنو کښې یې ننګ او غیرت پیدا کړو او پېرنګیانو
چه څومره کوشش وکړو نو سرې جامې یې ورکې نه کړې. شوې محمد عباس خان په خدایي
خدمتګارو کښې نه وو او د انجمن نه یې هم استعفا ورکړې وه موږ. نه خفه هم و خو د پښتو ننګ
او ناموس یې لګېدلو. انګرېزانو زموږ د کلي محاصره وکړه. د کلي خلک یې بهر ته نه پرېښودل
او د بهر خلک یې کلي ته نه پرېښودل. بنیادم خو به د فوجیانو په وینا بند شو. ولې څاروو ته
خو دا تکلیف پېښ شو چه هغوی مړه او شوګیروته وتل. کورونو کښې د ننه د ګیاه څه انتظام
نه وو. کله چه به څاروی د کورونو نه را او وتل، پټو ته به تلل، نو کوډه ګانو به په اسونو
زغلول چه کله به هغه څاروی په سیند خېته ودوا چوله نو بیا به یې په ټوپکو نو ولیشتل
او په دې طریقه د ډېرو زمیندارو غریبانانو ډېر څاروی مړه شول. د ښکار بابا
غونډۍ ته سره یو لوی میدان و دا خلک یې هلته راجمع کړل وهل به یې، ټکول به یې
او ورته به یې ویل چه کوټې وکوئ چه موږ خدایي خدمتګار نه یو هغوی به ورته
وې چه موږ خدایي خدمتګار نه یو او حقیقت هم دغه وو دوی خدایي خدمتګار نه
وو خدایي خدمتګار خو ټول ګرفتار شوي وو خو کوټه ټکول پښتنو ته شرم ښکارېده
او کوټې یې نه ټکولې. دوی بانډۍ به یې د ښکار بابا ډېرې ته کانې خېجول او
یو لوی ټلې یې پرې جوړولو. کله چه یو لوی ټلی جوړ شو او پېرنګي خلکو ته ووې چه
ستاسو هغه بچا خان موږ د دې کښې بنېخ کړو په دې خلکو کښې یو سړی کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګوله هغه پیرنګي ورته وې چه تا ته اجازه ده کوره ته ځه ! هر کله چه کور ته لاړ
نو ښځې يې جامې وېنځلي ده ته يي تپوس وکړ چه ته خنګه راغلې ؟ هغه وې زه يي
را پرېښودم هغې ورته وې چه نور نه راپرېږدي نو ته يې څنګه پرېښودې تا به ګو
ګولي وې ، دا کوته دې را دی خوا کړه ده ده پر کوته رنګ لګېدلی و دې سړ
سو باړی په لاس کښې ونو ده ته يې ووې چه واخله بې غيرته پر دې سو باړ
جامې وينځه زه ميدان له ورځم سبا د پرنګيه شو او پېښيمانه شو او ددې ښځ
په پېښو پرېوتو چه ته مه ځه بيا ورځم چه دی راغی نو پيرنګي ورته وې چه ته خو
مې پرېښودې وې ته بيا ولې راغلې ده وې چه ښځه مې کورته پرېږدي نو زه
اوس جبل ته هم تيار يم او مرګ ته هم تيار يم او نورو خلکو سره کښېناستو ، دا مح
پنځلس ورځې وچلېده ، پيرنګيانو د برڅه وکړل خو عامو خلکو هم ورته ګوتې ونه
نيولې ځکه چه چا به ګوته ونيوله نو کلي کښې د هغه ژوند د پر دشم او خلکو ب
ورپورې خندل .

د پرانګ چارسدې محاصره يو ويشت ورځې چلېدلې وه ، د پرانګ
چارسدې په محاصره کښې د پرزيات فوج وو چا پېره به هم ولاړ وو او سوا
به په لار و کو څو کښې هم ګرځېدل چه څوک به د کوره را ووتو نو د هلو به يې اذ انو
او د جمعې لمونځو نه هم بند شول خدايي خدمتګار يي ونيول او قيد يي کړل او عام خلک
به يې په تود و تښکو بر بنډ څملول او د کور د نو تالاشي کېدې خو د قام اتفاق د چا
چه غلې وې هغه يي په غر بيابانو ووېشلې او د ميرې خلک به سحر وختي راغلل
د دوی د ميرې فصلونه به يې کود کړل ، خاوره کړل ، او به کړل . بيا به شپې له کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



[illegible]ول او د شوګلګو خلکو به ورله ، د شوګلګو په فصلونه سنبالول. دا محاصره هم ناکامه چیته شوه . دا محاصرې ، وهل ، تکول خو سخت و ، خو ددې یوه فایده دا وشوه چه کوم کلي چه انګریزانو محاصره کړل اووې سوزول ، دا په جونیلي سخت پراته نو چه عامو خلکو به د اتشدد او ظلم لیده نو د خلکو په زړونو کښې به د انګریزانو سره نفرت او د خدایي خدمتګارو سره همدردي زیاتیده او په دې توګه زمونږ په حق کښې ډېره غټه پراپیګنډه وشوه .

د غه شان په ۲۷ مۍ کوجړو ګړهۍ کښې جلسه وه د مردان نه کپتان مرفي سره د پولیس راغی ، دی یو ډېر ظالم پیرنګی و . بلکه چه د کوجړانو سره د مینبوڅرو لو یاره کوم کوټک دی د ده سره به هم هغه شان کوټک وو او ډېر بې ترسه و . بې دریغه به خلک وهل . دا چه څنګه د خلکو په وهلو لاس پورې کړو او په پړه نیغ د خلکو مینځ ننوتو . نو هلته طالبان وو ، هغوی حیران شو ، په دې چه دا یو پیرنګی تش لاس روان دی او هیڅوک ورته څه نه وایي . خدایي خدمتګار خو چونکه د عدم تشدد پابند وو د غه طالبانو پیرنګي پسې ښېل تبرګي راواخستو او په هغې یې او وهلو ، پیرنګی چه راپریوتو [illegible]ې بنځې چه منګي ورسره وو ، د جلسې خلکو ته یې او به ورکولې ، هغې هغه ډک منګي پیرنګي په سر وراچولو او هغه مړ شو . چه د هغه د مرګ خبر مردان ته ورسېد نو [illegible] (اوهلا) چه د مردان اسسټنټ کمشنر و هغه فوج راوغوښتو خلک د دې نه خبر وول خو بیا هم خلکو جلسه جاري وساتله د غه وخت باران او سیلۍ راغلل او د دې وجه د فوج د رسېد و نه مخکښې جلسه خوره شوه کنې نو که فوج په جلسه ورغلی وای [illegible]نومره خونریزي به پکښې شوې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سباله د دې پېرنګي بد اخيستلو د پاره په ۲۸ مې په تکړ فوجونو ورغلل کلي يې
محاصره کړه او په خلکو يې د دليغه ګولۍ وچلولې ميشين ګنونه يې هم پکښې استعمال کړل
ډېر ماشومان، زلمي او ښځې، نر، پکښې شهيدان شول. بيا د ملک ملا الله خان خدايي
خدمتګار حجره او کورېي هم وسېزل او د سالار شمروز خان د پلار ملک امين ګل د بېره
يي هم وسېزله. د شير ګړه او جلالا کلو خلک چه خبر شو نو د تکړ د امداد د پاره د سره ذ وسيلو
وا غلل نو پېرنګيانو محاصره پوره کړه او مړدان ته لاړل. د دې نه پس فوجونه لوند خوړ ته
لاړل او هلته د غلام محمد خان خدايي خدمتګار حجره او کورېي وسوزول او د کلي
په عامو خلکو يې ډېر ظلم زياتي وکړه. کوهاټ کښې هم د غه شان پېرنګيانو په خدايي
خدمتګارو او په عامو خلکو ګولۍ وچلولې او ډېر خلک پکښې شهيدان شول. د لته به
يي خدايي خدمتګار يخوا او بوته غونډ خول او غوټهي به يي ورکولې. د بنو په سپين ټنګي
هاتي خېلو کښې د خدايي خدمتګارو جلسه وه، قاضي فضل قادر د ستيج د پاسه ولاړ و
د قرآن شريف تلاوت يې کولو پېرنګي په تمانچه وويشتو او شهيد يې کړو خلکو ته يې وويل
چه جلسه خوره کړئ خو خلکو جلسه نه خوروله نو په ټوله جلسه يې ګولۍ وچلولې. ډېر خدايي
خدمتګار پکښې زخميان او شهيدان شول او څه يې ګرفتار کړل. د مينې د تحصيل صوابي
مولانا صاحب په کور پوليس ورغلو او د هغه کور يې وسوا او د هغه په کتب خانه يې اور ولګولو
چه هغې کښې ډېر مذهبي کتابونه او قرآن شريفونه د حديث او فقهي کتابونه وو هغه وسوزيدل
د رستم مولانا عبدالحي صاحب په کور ورغلل کتابونه او سامان يې ورته ګډ ووډ کړو او
هغه يې ګرفتار کړو. د غو ورځو کښې زمونږ په ټوله صوبه کښې داسې کلي نه وو چه هغه کښې
خدايي خدمتګارو او د هغوی دفترو او هغه ته فوج ورنه رغلو. هلته د خدايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـد متګارو د هغو د هغوی کورونه، د هغوی مال، حال او د هغوی سرې جامې يې
ـنه سوزول او په خلکو يې ظلمونه ونه کړل؟

دې ظلمونو پښتانه راولړزول، په زرګونو ظلمو د ملکنۍ نه تر ډېره اسماعيل
ـانه پورې خپلې جاې سرې کړې! او د وطن د ازادۍ په ميدان کښې د سور ښبان
ـلاى وددرېدل، د خدايي خدمتګارى تحريک په ازادو قبايلو، باجوړ، مومند
ـيلو، ودکزو، وزيرو، مسودو او بيټنو کښې خور شو. د باجوړ او مومند و خلک د
ـنگزو د حاجي صاحب په مشرۍ کښې په کړ په کښې ډېره شول. د دې مياشتې جنګ
ـشتبه او ورځ په پوري بموونه وردېدل. حبيب نور په تحصيل چارسده کښې په کچهرۍ
ـوختـه نيمې بجې په انګريز اسسټنټ کمشنر تماچه وچلوله خو کارتوس غل شو، پيرنګي
ـشو، دی ګرفتار شو، او سباله په پېښور کښې پاڼسي شو. قلي خان پوليټيکل ايجنټ
ـونبتل چه خدايي خدمتګار مشران په دې کيس کښې راولي ولي حبيب نور انکار وکړ
ـي خان ته يې وويل چه زه پخپله اراده دده په قتل پسې راغلي وم خو کامياب نه شوم
ـو وګورئ د اخلک خان ته مسلمانان هم وايي پښتانه هم وايي او د پيرنګي د پاره
ـنا روا او ذليل نه ذليل کار کولو ته تيار دی. زمونږ د خدايي خدمتګارو خه ګناه وه
ـي د پاره موحق غو ښتو. د پرايرېډى پښتانه راکوز شول. په پېښور ښار دې حمله
ـفوجونو سره وجنګېدل مکړې ګودام يې تالا کړو او اور يې پرې ولګولو. وزيرستان
ـحملې شروع شوى، او د پرفوجونه يې خراب کړل. دا جنګونه ډېره موده جارى وو
ـحُل وو چه د مومندو نه را واخله تر اپرېدو او وزيرو مسودو پورې ټول قبايلي
ـه دخپلو رونړو په امداد کښې راپاڅېدل او تر هغې يې د صلح کولو نه انکار وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

باچه خان مرحوم ده ملک او قوم ده آزادی دپاره په خپرون کلتو او خرو
زه نوطي او لبنتيتي [illegible]
دن تولي لوني قربانی ورکړلی شکه ده برتش مکار او فریبی قوم سره دد
هندوستان او پختونخوه نه ووتل ۳۸٦ دا آزادی ده قلم سره کش نو
ترخوچه باچاخان او ګاندهي جي نه وی راپرلیښی. رازغلی ۱۳

## کانګرس او مونږ :

مونږ دګجرات په جیلخانه کښې وو چه زمونږ یو دوه ملګري، یو میاں جعفرشاه
کاکاخیل، بل میاں عبدالله شاه دقاضي خیلو چارسدی زمونږ ملاقات له راغلل
ملاقات خو بند و او زما دی نورو ملګرو سره یې ملاقات وشو هغوی وویل چه حکو
زمونږ دټولی صوبې ناکه بندی کړي ده نه څوک د صوبې نه بهر تللی شي او نه څوک د به
صوبې ته راتلی شي او په خلکو یې ډیر زور او ظلم شروع کړی دی کوشش دادی چه
زمونږ تحریک ختم کړي ، مونږ په اباسین راپوري د توځکه چه ګودرونه ټول بس
نیولي دي او تاسو له راغلو چه مونږ څه وکړو په مونږ داسی ناروا ظلمونه کیږي ی
دنیا کښې په چا نه دی شوی خو دنیا زمونږ د حال نه خبره نه شوه . زمونږ د ملګ
ملاقات وشو نو راغلل ما ته یې دا ټول حال ووې . مونږ خو په خلافت کښې وو ا
په صوبه کښې مسلم لیګ نه و مونږ خو د پنجاب سره په خلافت کښې باقی شوی وو او
دخلافت ډیر ورونه په مسلم لیګ کښې هم وو ، مونږ دوی ته دا پیغام ورکړه چه تا
هندوستان کښې د مسلم لیګ مشرانو له ورشي او ورته ووائي چه پیرنګیانو په مونږ
ناروا ظلمونه شروع کړي دي او زمونږ صوبه یې بالکل محاصره کړې ده . تاسو زمونږ
ورونه یئ ، مونږ سره صرف دومره امداد وکړئ چه دنیا زمونږ د حال نه خبر شي
زمونږ تحریک خدائي خدمتګار خو اصلاحي تحریک دی . مونږ ورته دا هم ووې
ته لاړ شئ ، دهلی ته لاړ شئ ، شملې ته لاړ شئ ، په مسلمانانو ګرځئ او د خپل حال نه
کړئ ، دوی لاړل او څه موده پس چه راغلل او مونږ یې خبر کړو چه مونږ د مسا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تولولیدلړانو وکړځېدو هغوی خوزمونږ ملت ته تیار نه دي او تیار کله نه دي
چه هغه خو یو جماعت دی چه پېرنګیانو دهندو د مقابلې د پاره جوړ کړی دی او
زمونږ جنګ خو پېرنګی سره دی نو هغوی به زمونږ څنګه مدد وکړي ، نو مونږ ورته
ووی چه بیالاړ شئ ، هندوستان کښې نور وجماعتونو سره ووینئ او خپل حال ورته
ووایئ ، دوی لاړل او څه موده پس راغلل نو مونږ ته یې ووې چه مونږ خو پر
وګرځېدو ، خو بغیر د کانګرس نه زمونږ سره امداد ته چا غاړه کښېنښووده ، د کا-
نګرس لیډرانو مونږ نه تپوس وکړو چه ستاسو پېرنګی سره جنګ په څه دی ؟
مونږ ورته ووې چه د ملک په ازادۍ وې د جنګ طریقه مو څه ده ؟ مونږ وې عدم
تشدد ، دوی ووی چه د غه جد وجهد او اصول خو زمونږ هم دی . تاسو هم غلامان
یئ مونږ هم غلامان یو ، ستاسو هم انګریز دښمن دی ، زمونږ هم دی . تاسو هم
ازادی غواړئ ، مونږ هم . که تاسو مونږ سره ملګری کېږئ نو مونږ ستاسو ملاتړ
ته تیار یو ، نو د دوی د دې بیان نه پس مونږ دوی ته ووې چه واپس خپلې علاقې
ته لاړ شئ او خپلې د صوبې جرګې سره دا خبره وکړئ هغوی چه څه فیصله وکړه نو
مونږ ته منظوره ده ، دوی لاړل او د صوبې جرګې دا خبره منظوره کړه چه کانګرس
سره ملګري کېږو . مونږ خونت په دریاب کښې لاهو یو او غرقېږو ، څوک چه لاس
راکوی ورکوو یې - د دی نه پس جرګې د کانګرس سره خپل تړون وکړو او د کانګرس
کمیټۍ سمدستي په مرکزي اسمبلۍ کښې سپیکر ودتل بهایي پټیل دیو وفد په مشرۍ
صوبه سرحد ته د تحقیقاتو د پاره راولېږه خو پېرنګیانو په اټک بند کړو نو هغوی پینډۍ
کښې کښېناستل او تحقیقات یې شروع کړه ، زمونږ د پنجاب مسلمانان وروڼه زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کیله کوي چه دوی کانګرس سره شو او کانګرس د هندوانو جماعت دی اوخو زه
داخبره کوم چه کانګرس د هندوانو جماعت نه دی دا د ټول هندوستان د ټولو خلکو
شریک جماعت دی. جناح صاحب خو هم په دی کانګرس کښی و. او بله دا چه مونږ
کانګرس سره ځکه شو که چیری دوی زمونږ امداد کړی وای نو مونږ کانګرس
څه کوو؟ حقیقت دادی چه مونږ خو دوی کانګرس سره ملګری کړی یو مونږ پښتانه
خو سیلاب په مخه کړي وو. دوی له ورغلو چه تاسو زمونږ مسلمانان وروڼه یئ
لاس راکړئ دوی لاس رانه کړه کانګرس وي زه درکوم مونږ له یې لاس راکړو
زه د دنیا ټولو مسلمانانو ته وایم چه اوس تاسو انصاف وکړئ چه دوی ګرم دي که مونږ؟
څه ورځې پس حاجی عبدالغفار خان، عبیدالله خان او سلطان خان زمونږ ملاقات
له راغلل او د ملک ټول حالات یې راته بیان کړل او راته یې وویل چه پښتنو کښی داسی
یوه جذبه راویښه شوې ده چه بیان یې درته کولی نه شو، څومره سختی چه پیرنګیان
کوی هغه هومره خلکو کښی جوش او همت زیاتیږي تاسو غم او فکر مه کوئ دا خدائی
تحریک دی او خدای ورله د غیبو نه امداد ورکوي. ددې په اوریدو مونږ ډیر خوشحاله
شو او ملاقات ختم شو. د ختمیدو نه پس می عبیدالله خان ته د پښتنو په نامه یو پیغام
ورکړو چه: «د ای پښتنو ورونو! چه ونه یریږئ او مایوسه نه شئ، دا د خدای د
طرف نه په مونږ یو ازمایش او امتحان دی، بیدار شئ او د خدای د مخلوق خدمت
ته ملا وتړئ». هر کله چه دا پیغام په اخباراتو کښی شایع شو نو په خلکو یې ډیر ښه
اثر وشو او حکومت د جیل سپرنټنډنټ ته حکم ولیږه چه دده ملاقات بند کړه چه دا
سره د بهر سړی اینده د پاره ونه وینی. مونږ سره په جیلخانه کښی د پنجاب او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی لوی لیډران وو. دهغوی لیډ وله به خلک راتلل او زمونږ حالات به یې اخبارا تو کښې شایع کول مونږ سره به دی کار کښې څومره امداد دی لیډرانو کړې دی زه به ټول عمر د هغوی مشکور یم. دوی به جیلخانه کښې دننه او بهر زمونږ هر قسم امداد ته تیار وو. د دوی په خپلو کښې څه ناڅه اختلافات وو خو مونږ سره د ټولو ډېر ښه تعلقات وو. دلته سیاسی قیدیان که مسلمانان وو، که هندوان وو، که سیکهان وو لکه د سکه د خپلو ورونو زمونږ خدمت او امداد ته تیار وو او هندوان خو زمونږ امداد او خدمت ته د مسلمانانو نه هم زیات تیار وو. دلته زمونږ یو پښتون جمعدار وو چه د ننه د جیلخانې ټول اختیار د هغه وُ، هغه ډېر ښه سړی وُ مونږ سره یې ډېره همدردي وه، زمونږ هر کار چه هغې کښې به خطره هم وه خو دی به ورته تیار وو ما به ډېر منع کولو چه ته خو سرکاری نوکر یې داسې کار مه کوه چه سباله درته نقصان ورسېږی.

## پټیل کمیټۍ رپورټ:

پټیل کمیټۍ خپل کار پوره کړو او خپل رپورټ یې شایع کړو، د شایع کېدو سره هغه حکومت ضبط کړو لیکن دا رپورټ څه ناڅه کانګرس یورپ او امریکې ته د رسولو دی شایع کېدو سره حکومت خپله غلطي محسوسه کړه او مونږ یې جیلخانې له یو وفد را ولېږلو او مونږ ته یې وویل چه تاسو مونږ سره جوړه وکړئ د ۱۹۱۹ع کال د ریفارمز او سوراج درکوو او د مخکښې د پاره تاسو سره دا وعده کوو چه څه هندوستان له ورکوو هغه نه به زیات تاسوله درکړو کانګرس پرېږدئ، مونږ سره جوړه وکړئ مونږ دا غلو د جیلخانې ټول سیاسی قیدیان ورونه موراغونډ کړل او دوی سره مو په دې مسئلې باندې مشوره وکړه. د بعضې خلکو دا خیال وو چه مونږ له ډپلومیسی په کار ده ما ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووی چه د پلو میسی خومنافقت دی او زه خو منافق نه یم، او مونږ د حکومت دا
خبره منظوره نه کړه. په جیلخانه کښې څه ورځې پس میا احمدشاه سره دا خیال پیدا
شو چه مونږ د حکومت بالکل بې ګناه قید کړي یو او په مونږ هیڅ قسم قانوني ثبوت
نشته نو په دې وجه مونږ له نګرانی کول په کار دی. دی ته یې عبدالاکبرخان،
سرفرازخان او حاجي شهنوازخان هم تیار کړي وو، میا صاحب دی ته فکر نه کولو
چه دا خو سرحدی قانون دی، دی کښې دوه خبرې دي چه جیلخانې ته ځي او
که په ضمانت کور ته ځي؟ نو ده ما ته د نګرانی خبره وکړه ما ورسره په دې کښې اتفاق
ونه کړو ځکه چه دا کار زمونږ د اصولو نه خلاف وو دا می ورته ووې چه که چیرې
تاسو نګرانی کول غواړئ نو وکړئ خو زه یې نه کوم نو میا صاحب ووی چه ته یې ولې
نه کوې نو ما ورته ووې چه دا زمونږ اصول نه دي نو را ته یې ووې چه ته یې ولې بیا
نه کښې او په دی راسره بحث شروع کړو ما ورته ووې چه ته خو لږ بهر دنیا ته وګوره
چه زمونږ په دې قوم څومره لوبې او تشدد د پیرنګیا نو وکړو او زه دلته په مزه په
جیلخانه کښې ناست یم، خودم، څکم، نو زه صرف دا قید نه شم تیرولی؟ زما د
هرې خبرې او کمزورۍ اثر زما په قوم پریوزي او زما یو ټهې کمزوري هم قوم ته د
نقصان رسوي په دې وجه زه معذور او مجبور یم بله دا چه زمونږ دا تحریک د
عدم تشدد او عدم تعاون تحریک دی. زما د دې خبرو په هغوی هم اثر و شو او
د نګرانی خیال یې پریښود.

## د ګجرات جیل ملګری:

په جیلخانه کښې زمونږ شپې ورځې ډېرې ښې تیریدې ولې چه دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر مذاق خلک وو، لوی لوی عالمان وو او لوی لوی سیاستمداران وو، او بله
چه د هر مذاق کتابونه هم وو، ما خپل ټول وخت تقسیم کړی و، د خپل وخت
یوه حصه می د مذهبی کتابونو مطالعی او درس له ورکړې وه او د لویو لویو خلکو
سره می تبادله خیالات کول. ما خپل ټول ژوند کښې د کتابونو دومره مطالعه
نه وه کړې لکه چه دلته می یو کال کښې وکړله. بله مفیده خبره دلته دا وه چه مونږ
به دویمه، دریمه ورځ ټول غونډه پیدوا او په مختلفو مضمونو به بحثونه او تقریرونه
کیدل او کله ناکله به د بعضی ورونو په بعضو خاصو مضمونو باندې زمونږ د پوهولو
دپاره عالمانه تقریرونه کیدل او د ډاکټر انصاری صاحب خو د ملکی او انتظامی
معلوماتو حاصلولو دپاره زمونږه یو پارلیمنټ قایم کړې وچه په هغی کښې به وقتاً
فوقتاً اجلاسونه کیدل او زمونږ د پوهولو او تربیت دپاره د پارلیمنټ په طریقه
ملکی او قومی واقعاتو باندی تقریرونه کیدل. لنډه دا چه دې قید ما ته
ډیر څه وښودل او مونږ ډیر څه زده کړل.

ما دلته ډیر کوشش وکړو چه دلته د قرآن او د گیتا درس شروع شی
چه په هندوستان کښې که مونږ مسلمانان یو او که هندوان یو او که سکهان
که عیسایان یو مونږ د یو بل د مذهب نه خبر نه یو او نه زمونږ د خبرولو چا
کوشش کړې دی بلکه په مونږ کښې خود غرضو خلکو مذهبی تعصب او نفرت پیدا
کړې دی، مذهبونه چه دنیا ته خدای رالیږلی دي دا ټول د خدای مذهبونه
دی دا د تعصب او نفرت دپاره نه دي بلکه د مینی او محبت دپاره دي. زه
پکښې کامیاب نشوم او درس مو شروع کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنډت جګت رام چه د غدر پارټۍ کښې شل کاله قید شوی واو د تود
او بونه په دغو ورځو کښې رابدل شوي و ډیر قوم پرست او ښه عالم او ښه سړی و
د ګیتا درس به هغه ورکولو او ما به د قرآن ترجمه کوله . ډیر خلک به دي درس
کښې شریکیدل او چه د دی تعلیم په حقیقت به پوه شول . نوجبران به شول چ
خدای مونږ له څه تعلیم راکوي او دا مونږ په کومه لاره روان یو ، او هغه د
مذهب په نوم تعصب او نفرت چه پیدا شوی و تر ډیره حده دهغی اصلاح
وشوه او دیو بل د مذهبی اصولونه خبر شو ، زما یو مهربان و دهغه نوم لاله
لعل و او یو لوی وکیل ؤ او ډیر ښه سړی و ماته به یي دانګریزي کتابونه او ورول
ما تری ډیره فایده واخیستله . بل رای زاده هنسراج وچه د جالندهر ز
ډیر مهربانه وچه کله به یي ملاقات راتلو نو مونږ ته به یي ډیري غوره زیر
راوړلي او دهغی سره دمطالعی د پاره قسما قسم کتابونه یي هم راوړل . حاجي شه
خان به سحروختی مونږ له چای تیاره کړي وه . د ډوډۍ دغه یي هم خلاص ک
وو ډیر ښه منتظم سړی و او دهر قسم خبرونه به یي هم راله راوړل چه جیلخانی ک
چه به څه وشو یا به د چا ملاقاتی راغلی و نودی به تري خبر و او د هر چا ملاقا
سره به یي اول ملاقات کړی ؤ جیلوالا د ده د دي خبری نه ډیر تنګ وا و د
به یي منع کولو خو دی یي د دیو ډی نه منع نه کړی شو دی ډیر خدمتی او ب
سړی و لیکن په یوه معمولي خبره ورسره احمد شاه میا جنګ وکړو . جنګ یي حا
صاحب سره وکړو او چا ی څکل یي مونږ سره پریښودل . د میا صاحب طبیعت
سخت و او جیلخانه هم داسی یو ځای دی چه د سړي طبیعت پکښې تنګ و ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په معمولي خبرو باندې جګړې ته تيارشي. سرفراز او ماسره يې هم جنګ کړې و او په جېلخانه کښې مونږ ته د لوبو اجازت واو په لوبو کښې به هم کله ناکله ميا- صاحب جګړې کولې ما چه به خپل ځان ته کتل نو په ځان کښې به مې کمې او کمزورې ليدلې يو نقص راکښې د ډېرو خبرو او ډېرو بحثونو او بل د قهرېدلو و ما به دا ډېر محسوسوله او دا فکر به مې کولو چه د دې نه به څنګه خلاص شم ما به کوشش کولو ليکن په مالې داسې قبضه کړې وه چه خلاصېدې ترې نه شوم د دې د اصلاح د پاره ما دا اراده وکړه چه په هفته کښې به يوه ورځ روژه نيسم خو روژه به مې يوازې د خوراک څکاک نه نه وې بلکه د خبرو نه به هم روژه وې او خپلو کمزوريو باندې به غور او فکر کوم او د هغې د اصلاح کوشش به کوم نو د سحر لمونځ چه به مې وکړه نو د چکې ور به مې بند کړه تر ماښامه پورې به چکې کښې ناست وم، ذکر به مې کولو او چه د ماښام اذان به وشو نو د چکې نه به راووتم او دواړه روژې (د خوراک او خبرو) به مې ماتې کړې. د دې روژو ماته ډېره فايده رسولې وه او څه ناڅه زما د دې بدو عادتونو اصلاح هم وشوه.

څه موده پس په دې جېلخانه کښې زما په ملا کښې بيا هغه درد چه د ډېره- غازي خان په جېلخانه کښې پيدا شوې وشروع شو. ډاکټر انصاري صاحب [..]کتم او يوه نسخه زما د پاره وليکله او د غوښې خوراک يې را باندې بند کړو. د دې [..]دوا او پرهيز په وجه زما ګذاره وشوه ليکن قصه داسې وشوه چه هغه پېرنګي [..]ول سرجن چه زمونږ د جېل د هسپتال انچارج و هغه چه به راغې نو هسې به ناست [..]. هر څوک به ډاکټر انصاري صاحب له ورتلل. ولې چه هغه ډېر لوی او لايق ډاکټر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن هغه پیرنګی داخبره ډېره بده محسوسه کړه او د جېلخانو جرنیل ښتري ولیکل او دهغه ځای په داحکم راغی چه بغیر د جېلخانې د ډاکټر نه په نورو خلکو باندې علاج کول بند شو، زما هم شامت راغی ما هم دځېلې بیمارۍ قصه هم هغه سول سرجن ته بیان کړه هغه راته ووې چه ته د انصاري صاحب نسخه نه شې استعمالولی ما ورته ووې ته راله یوه نسخه راکړه هغه راله یوه نسخه ولیکله خو په هغې زما څه فاید ونه شوه او مرض مې زیات شو. بله ورځ هغه له ورغلم او ورته مې ووې چه ډاکټر انصاري صاحب به ماله داسې دارو راکول، چه په هغې به زما فایده کېدله. هغه راله نسخه بدله کړه لیکن په هغې هم زما فایده ونه شوه، ما ورته بیا د ډاکټر انصاري صاحب نسخه یاده کړه لیکن هغه راته ووې چه د غه نسخه ته استعمالولی نه شې نو هغه ته دې ووې چه د نن نه پس زه نور علاج نه کوم او نه ستا دارو خورم او نه د ډاکټر انصاري. هغه راته ووې چه ستا د صحت ذمه وار به څوک وي؟ نو ما ورته ووېل چه زه د خپل صحت پخپله ذمه وار یم. د دې په اورېدو هغه ډېر په قهر شو او زما نه روان شو، دوه میاشتې زه د کټ نه پاڅېدی نه شوم، که څېدی نه شوم، او دسماتي بدهم راته کړان زما وزن نشل پونډه کم شو، ځان مې خدای ته وسپاره، نو ورو ورو به جوړېدو شوم اوخه موده پس د کټ نه پاڅېدم او د ملا درد مې ډېر کم شو.

راجا صاحب زمونږ سپرنټنډنټ و چه جېلخانه کېښې زمونږ د سکهانو ورور دا شوال او چت کړو چه مونږ جنتکه خورو مونږ له دې د جنتکې اجازت راکړې شي راجا صاحب خو ډېر ښه سړی و د زړې زماني مسلمان و هغه د سکهانو دې خبرې منلو ته تیار نه و، هغه سکهانو ته ووې چه د لته جنتکه نه کېږي نو بهر دې وخبه مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله د جنتکی غوښتنه درکولی نه شو . هغوی ورته ووې چه موږ له پخپل قیمت چرګ
اکوی هغه به موږ د لته جټکه کوو لیکن حکومت دې ته تیار نه شو ، په دې وجه
اجا صاحب ته یې هدایت وکړه چه داسې چل وکړه چه جټکه هم بنده شي او حکومت
م بدنام نه شي . سپږنتنډنټ سید اغالعل بادشاه د فترته وغوښتو او د جټکې
مخالفت د پاره یې تیار کړو او سکهانو ته یې ووې چه په دې خبره ستاسو خپل
سرحد مسلمانان ملګری اعتراض کوی ، نو په دی وجه موږ تاسو ته اجازت درکولی
شو . سکهانو دا خبره ماته پیش کړه اوما د سرحد ټول مسلمانان ورونه د دې
فیصلې د پاره راجمع کړل . د بحث په شروع کېدو سره سید اغالعل پاچا او بعضې
موږ نورو ملګرو د دې خبری مخالفت وکړه ، لیکن ما ورته ووې چه بیشکه جټکه
مسلمان د پاره ښه نه ده لیکن د یو سکه د پاره خو ښه ده ، بلکه دا چه دا جټکه به هغوی
دی او که په موږ به یې هم خوري ؟ که چېرې دا هغوی خوری نو زموږ په دې څه ؟
موږ ته کوم نقصان دی ؟ او په اغالعل باچا می دا سوال وکړه که چېری یو مسلمان
ای حلاله بند وی نو ته به خفه یې که خوشحاله ؟ وې وې چه خفه به یم . نو د غه شان
جټکه بند ولو به بل هم خفه کېږی نو کم از کم موږ خدای خد متګار د وله بل خفه کول
کار نه دي ، موږ بیا خپلو سکهانو ورونو ته ووېل چه د جټکې به خوراک موږ ته
اعتراض نشته . نو اغا صاحب ما سره اتفاق وکړو او دا فیصله وشوه چه زموږ د
سکهانو ورونو ته اجازت دی ما ورته دا ووې چه حکومت اجازت نه ورکوی
جوړوي او موږ او سکهانو کښې نفاق پیدا کوي . هم هغه وشوه ، بلکه ورځ
اغی چه حکومت په جیلخانه کښې دننه چاله د جټکې اجازه نه ورکوی . چه ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتی تیری شوی نو حاجی شهنواز خان ته خیل کار و بار و رپه یاد شو او کله نا کل
به یی اواز وکړم چه روان یم نن دی که سبا ضمانت داخلوم. زما خیال وچه دی تو ق
کوی خو بیا راته معلومه شوه چه دده په رښتیا د تللو اراده ده، په دغو ورځو کښی د
مصالحی کاندهی اولا رد ډارون په مینځ کښی څه د صلحی خبری روانی وی ما به تسل
ورکوله چه که خیر وی نو نن دی که سبا صلح کیږی امید دی چه مونږ ټول به پریږ
لیکن چه څه وخت خبر راغی چه صلح نا کامیابه شوه، نو حاجی صاحب له دا خبر ه
راغی چه دده کشر ورور اکبر خان گرفتار شو او دی کاله قید شو ما به ورله ډیر
تسلی ورکوله خو په ده یی اثر نه کولو. دده ملاقات له دده تره محمد عظیم خان ا
عمرا خان راغلل او ورته یی وویل چه مور دی ناروغه ده، اکبر ورور دی هم قی
شو او ټول کار او بار او بزنس دی خراب شو او ته خو خدایی خدمتگار نه وی نو
ولی ضمانت نه ورکوی؟ نو دی خبرو دی ضمانت ورکولو ته تیار کړ او ده سره دا فکر
پیدا شو چه اکبر خو نو دی دومره فکر مند نه و خو چه هغه گرفتار شو نو دده فکر
زیات شو. بله ورځ ورله خط راغی چه مور دی ډیره ناجوړه ده نو دی نو د هم ډ
غمجن شو ځکه چه دده د خپلی مور سره ډیر محبت و د ددی په کور کښی یو دی
یی ورور دده بل څوک نه و. ده ووی چه د هغی خدمت او علاج د پاره خو څوک یا
نه شو دوه ورونه زمو او دواړه قید شو لنه دا چه زمانه یی پت کلی ته یو خط ولیکل
زما ضمانت داخل کړئ بله ورځ څه گورو چه میر صاحب دده ورار دده ضمانت نگر ا
له راوړو مونږ خبر شو چه حاجی ضمانت ورکړو، ما او بنیادت تښتنانم صاحب خان له
کړه او ښه موپوه کړو چه دا کار ستا د شان سره نه ښائیږی او دا به ښه دی چه لو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار هم وکړي او هغه د مور جوړ نا جوړه خدای ته وسپاره ، ورو ورو حاجي صاحب
رضا شو خو چه څه حتت زمونږ نه لاړو نو اغا لعل باچا او علي کلخان ليدلي دي او هغوی
ری پوښتنه کړې ده چه حاجي ريښتيا دې ضمانت داخل کړی ؟ نو هغه ورته زما قصه
کړې ده چه زما خيال د خو هغه وې چه لږ انتظار وکړه او بيه دې وجه مي معامله
الحال ملتوی کړه هغوی ورته ووې چه د تلو اراده دې شته نو د دې څه فايده چه
ری ور څخه تيروې ؟ د هغوی دې خبرو په حاجي صاحب اثر وکړو زمانه پټ لاړو او
تر کښې په ضمانت دستخط وکړو زه چه خبر شوم نو دروازی له در غلم نو ورته مې ووې:
حاجي څې خو څه ليکن ستو مانه به شې او بيا به زما دې خبری پسې ارمان کوې او
ت به تيروې . هغه ستړی تيتی کړې او ماله يې څه ځواب را نه کړو ، زه ترې راغلم
حاجي صاحب کلي ته لاړو ، زه نه پوهيږم چه علي کلخان او اغا سيد لعل باچا هغه له به
خيال دامشورا ورکړې وه ولې چه به هغو ور خو کښې د دوی خدايي خدمتګار د سره
ره نه ګلپله وه ولې چه دوی په کانګرس کښې وو حاجي صاحب چه کلي ته رسيد لی
ی او د ملک حالت او د خلکو جذبه يې ليد لې ده خيل پرد ې ترې ويزاره وو
تـه يې خط وليکه چه زه تا سره ملاقات کول غواړم ما ورسره د ملاقات کولو نه انکار
څ چه ډير تنګ شوی دی نو خپلو خپلوانو ورته ويلي دي چه ضمانت واپس کړه او
بيلخانی له لاړ شه ، ليکن هغه به ورله دا ځواب ورکولو چه ما لوی ګناه کړې ده ددې
ره قيد کافي نه دی اخر دا چه يوه ورځ يې خان خپله په ټوپک وويشتو او د خپل
ند خاتمه يې وکړه چه زه د حاجي صاحب د مرګ نه خبر شوم نو ډير افسوس مې وکړو
ساولی ده له د ملاقات اجازت ونه کړو او د ملاقات نه مې انکار وکړو ، حاجي صاحب نو ازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ډېر ډکارسړی و، حاجي خو مړ شو لیکن دهغه مرګ زموږ تحریک ته ډېر
فایده ورسوله او دهغه د مرګ نه پس بیا چا د معافی غوښتو او یا ضمانت جوړ
ونه کړی شو. چه څه وخت دحاجي دمرګ خبر دګجرات جیلخانی ته راغی نو ټول خلک
ډېر غمجن شول ولی چه حاجي زموږ په جیلخانه کښې ډېر زیات مرد لعزیز و. م
چه په جیلخانه کښې خو مره سیاسی قیدیان وو ټول راجمع شو او دهغه د مغفرت دپا
مو د الله تعالی نه دعا وغوښته .

موږ چه څه وخت دګجرات جیلخانی ته لاړو نو دا جیلخانه لا تیاره نه وه
وخت چه جیلخانه تیاره شوه نو زموږ بارکونه او چکی د هر طرف نه ازادی وې او
پکښې حکومت د بیلتون دپاره دیوالونه شروع کړل. د شاپه دیوالونو د چا اعترا
نه و خو د مخ دیوالونه د هیچا خوښ نه وو. یوه ورځ مانه میا احمد شاه صاحب
چه د مخ دیوال په ځای داوسپنې جنګله ولګی نو ډېره به ښه وي ما ورته وو
دا خو حکومت بغیر د اجې تپیش نه په تشه وینا نه کوي نو که دې خوښه وي ایجی
به شروع کړو. ده ووې چه ډېره ښه ده د میا صاحب په وینا ره پاڅیدم او د
خبری ذکر می دنورو سیاسی ورونو سره وکړه زموږ هغو سیاسی ورونو بزر
عزت کولو او ټول زما په وینا تیار وو. څه وخت چه سپرنټنډنټ صاحب خبر
هغه راغی چه تاسو حکومت له یو درخواست ولیکی او ما له یی راکړئ. موږ یو د
ولیکه او ټولو خلکو پری دستخطونه وکړل او چه څه وخت هغه درخواست میا
ته پیش شو نو هغه پری د دستخط کولو نه انکار وکړو هغه سړی ماله راغی چه میا
خو دستخط نه کوی. ما هغه درخواست دهغه نه واخیست او میا صاحب له می

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره یو ود میا صاحب په هغه ولیکل چه زه په جیلخانه کښې د ایجی ټیشن مخالف یم او دهغې دلاندې دستخط وکړو. په دې زه ډېر خفه شوم او ورته مې ووېل چه دا ټول ایجی ټیشن خو راباندې تاشروع کړې دی او دا څه چه مونږ کوو خو ستا په وینا کوو نو میا صاحب ځواب را کړو چه زما خو ایجی ټیشن خوښ دی خو چه نور خلک یې کوي په دې خبره زه چپ شوم او د میا صاحب دچکې نه راووتم او هغه د درخواست مې پوهتې پوهتې کړو او بیا مو ولیکلو او سپرنټنډنټ صاحب له مو ورکړو. څو ورځې پس ځواب راغی چه د دیوال په ځای جنګلې ولګوئ او ولګیدې. څه وخت چه د سیاسی قیدیانو تعداد ډېر زیات شو او دبعضې خلکو مینه او شوق مې صدارت طرف ته ولید نو ما د صدارت نه استعفا وکړه. ټول سیاسی ورو نه زما په استعفا خفه وو او دا کوشش یې کولو چه زه استعفا واپس واخلم خو ما انکار وکړو او هغوی له مې دا ځواب ورکړو چه اخو صدارت خو زما تیکه نه ده نورو خلکو له هم موقع ورکول په کار دی. زمانه پس ظفر علی خان صدر شو. لیکن دهغه ډېر عجیبه صدارت و څه وخت به چه دخلکو کار پېښ شو نو هغه وخت به خلکو وې چه دی زمونږ صدر صاحب دی او چه کار به یې وشو نو بیا به د چا صدر صاحب یاد نه و او بعضې وخت خو به خلکو ورسره داسې رویه وه چه ماله به په غریب رحم راغی. ډېر ځله مې ورته په رموز رموز کښې ووې چه مولانا صاحب د دې صدارت نه استعفا ورکړه لیکن دهغه د صدارت کرسۍ ډېره خوښه وه او پرې ښو دو ته یې تیار نه و. دغه وجه وه چه خلکو به یې عزت نه کولو. زمونږ صدارت خو څه دومره لوی څیز نه و او که چیرې لوی هم شي نو داخو یو قومی خدمت دی، نو چه د قوم په رضا او رغبت وي نو چلیږدې شي او که چیرې د قوم د مرضۍ خلاف پخپل خواهش او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه شي نو بيا يې چليدل مشكل دي او د فايدې په ځاى نقصان او د عزت په ځاى بې عزتي شي. د دې د پاره په كار دي چه هر څوك د خپل خواهش په ځاى د قوم خواهش قدر او كړي.

د دې جېلخانې د كتو د پاره به ډېر پېرنګيان افسران راتلل مونږ كښې چه به يې د چا سره لږ غوندې خبرې وكړې نو بيا به هغوى په جامو كښې نه ځائيدل او په فخر به يې دا خبرې كولې چه دى زما د فلانى وخت اشنا و خو چه د يو قوم بد قسمتي راشي نو هغه سره د عقله نا بوهه شي ګوندې كه دې پېرنګيانو څه لږ د ډېر ښه سلوك زمونږ سره كولې نو مونږ به هيڅرې د دوى بر خلاف شوى نه واى. په جېلخانه كښې اوازه شوه چه وزير صاحب ايمرسن به دوره راوتلى دى او د دې جېلخانې كتو له راځي، وزير صاحب راغى خلكو ورته خپلې چلې ښې ښايسته كړې او وې وزير صاحب سره نور پېرنګيان هم وو زما چلې ته په سر كښې وه زه بخپله كټ ى ناست وم چه زما چلې ته را ور ننوتل او نو زما خيال و چه دى به ما له د ننه راشي زه به ورته پاڅم او خبرې به ور سره وكړم ليكن هغه د ننه رانغى زما د چلې په وره كښې و دريد و سپرنټنډنټ صاحب ما ته ووې چه وزير صاحب وائي چه ته څه وائې؟ ما ورته ووې چه زه هيڅ نه وايم بيا يې راته ووې چه وزير صاحب تا سره خبرې كوي، ما ورته ووې چه زه خبرې نه كوم ځكه چه كه ده ما سره خبرې كولې نو د ننه به راغلى و جنګله كښې خو دوى سره اخلاقي قيديان خبرې كوي او زه خو سياسي قيدى يم. وزير صاحب يو ساعت ولاړ و بيا روان شو. هغه سره د ګجرات ډپټي كمشنر هم و چه هغه لاړ نو ډپټي كمشنر زما چلې ته راننوت زه ورته پاڅېدم زما په پاڅېد و هغه ډېر حيران شو ما ته يې ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه تاولی وزیر صاحب سره خبری ونه کړې او نه ورته پاڅېدې ماورته ووی چه زه
خو خدایی خدمتکار یم او د خدای د مخلوق نه نفرت گناه گڼم او د خدای خدمت
د خدای د مخلوق خدمت دی ته خو هم انګریزیې تا سره خو دادی خبرې کوم زه
خو سیاسی قیدی یم ما سره سیاسی سلوک په کار دی هغه ما له رانغی نو زه هم د تعلیم
هغه ما ته د اخلاقی قیدی په نظر وکتل چه ته راغلې نو دادی تا ته پاڅېدم. زما په دې
خبرو هغه غلط فهمی لېری شوه کومه چه زما متعلق د ده په زړه کښې پیدا شوې وه.

د راجا صاحب د سیاسی قیدیانو سره د پرښه سلوک ځ او حکومت دا نه غوښتل
چه لوماختو او پولیس پوری دا پېرئ ورکړی چه د ده د سیاسیانو سره د پرښه سلوک
دی او سیاسیان په ارام او مزه کښې دي په دې وجه یې راجا صاحب زمونږ نه
بدل کړو سیالکوټ له یې ولېږلو او د سیالکوټ سپرنټنډنټ رای صاحب یې
راولېږه دا یو د پر سخت سپرنټنډنټ و او بله دا چه د جېل قانون ورته د خدای
قانون ښکاریدو خو حکومت پخپل خیال کښې کامیاب نه شو او زمونږ د اتفاق په وجه
د هغه غریب نه هر څه خطا شو او خپل د جېل قانون یې ونه چلولی شو رای صاحب
د راتلو سره کوم شیزونه چه به ٹهکیه دار مونږ له جېل ته د ننه راوړل هغه یې بند کړل
چه دا د جېل په قانون کښې ننشته، ٹهکیه دار به د دروازه کښې ناست دې او چه څوک
څه اخلی نو د دی ځایه دې وړي نو مونږ چه د دې نه خبر شو نو په اتفاق سره
مو په دې فیصله وکړه چه هیڅوک به دروازی له نه ځي. سپرنټنډنټ صاحب
د پر خوا بونه راولېږل او چه پوه شو چه څوک د لته نه راځي نو حکم یې وکړو چه ٹهکیه
دار دی د ننه ځي او شیزونه دې وړي او هغه ټول رعایتونه چه راجا صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته له راکړي وو رای صاحب دهغې په راکولو مجبور شو بله ورځ د سرفراز ملاقات له دهغه مشر ورور سربلند خان راغی دهغه ملاقات لې په دې وجه نامنظور کړه چه تاله اردو نه درځی او پښتو ژبه کښی ملاقات بند دی ولی چه سپرنټنډنټ په پښتو ژبه نه پوهیدو موږ چه خبر شو نو ډیر حیران شو او خفه شو دانقلاب زنده باد چغې مو وهلې. سبا له پریږدو دیر یله نه مو انکار وکړه هرکله چه رای صاحب دا قصه ولیده نو په سربلند خان پسی سړی ورولیږل، په تمیس کښی یې بیا موږ ته راغی او سرفراز خان سره یې ملاقات وکړه. رای صاحب چه په ډیر و خبرو کښی شکست وخوړ او ورته معلومه شوه چه نرکومه پوری چه ددوی اتفاق وی نو زه کامیابیدی نه شم نو په موږ کښی دنفاق اچولو کوشش شروع کړو او هندوانو سره یې اشنایی او تعلقات جوړ کړل او دهغوی په ذهن کښی یې دا واچوله چه زه خوستاسو ورور هندو یم او زما نقصان خو د هندوانو نقصان دی نو که چیری تاسو زما مدد نه کوئ نو دا خو هندو قوم ته نقصان رسوي ددې پر اپیکنډې اثر په یو خو قیدیانو باندی وشو چه هغوی هم موږ سره قید وو او تر ډیره حده پوری سپرنټنډنټ په دې کښی کامیاب شو چه څه قصه به پیښه شوه نو هغوی به هندوانو ته وی که چیری دا موږ کړل نو ستاسو هغه بیچاره هندو ورور ته به نقصان ورسي دا زهرناک خیالات د پنجاب په هندوانو او مسلمانانو کښی ډیر زیات دی بله کمزوری می د پنجاب په لیډرانو کښی دا هم ولیده چه څه وخت یو ځای شی نو بیا ورونه وي خو چه یو تې خودغرضی پیدا شی نو بیا هندو هندو شی او مسلمان مسلمان شی. ددې قسم کمزوری چه د کانګرس په خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې وې نو د نورو به څه حال وي؟ او دغه وجه ده چه پنجاب کښې د کانګرس
جوړې مزبوتی نه شوې او هندوان مسلمانان ورونه نه شول او سوراج ئې تسلیم کړان شو.
خومره چه مونږ د ګجرات په جېلخانه کښې په ارام وو هغه هومره د سې کلاس
قیدیان د پنجاب په جېلونو کښې بې آرامه وو او څومره چه مونږ سره ښه سلوک
و، هغومره د هغوی سره بد سلوک و. حقیقت خو دا و که مونږ سره چیرې ښه
سلوک وُ نو د حکومت مهربانی نه وه د لاچاری وه د راجا صاحب په ځای
د رای صاحب مقررول د حکومت د بدنیتی ترجمانی کوي په مونږ کښې د بعضی
خلکو دا خیال و چه زمونږ نور ورونه که پنجاب کښې دی او که سرحد کښې دي یا
په نورو صوبو کښې په تکلیف کښې دي نو مونږ له هم داخپل ارام پرېښودل په کار
دي او د پنجاب بعضی لیډرانو له د جېلخانو نه د سې کلاس قیدیانو خطونه را
لیږلی وو چه ستاسو خو زمونږ په تکلیف څه پروا نشته، جېلونو کښې هم په مزو کښې
یئ او بهر هم خو داځل که بهر ته ووتو نو بیا به رانه په سټیجونو کښېنئ نه. بعضی خلک
دې فکر هم وو خو بیا هم څه عمل ته تیار نه وو. د ګاندهی جي زوی دیو یداس
چه مونږ سره په دې جېلخانه کښې و په دې معامله قدم وچت کړو او مونږ
سره ئې هم د دې متعلق مشوره شروع کړه. یوه ورځ ئې زه هم په دې مشوره
کښې شریک کړم اول خو په دې بحث وشو چه د سرحد خلک په دې معامله کښې
شریک کړو او که نه؟ د بعضی پنجابیانو رایه وه چه د سرحد حکومت وحشی حکومت
دی په هغوی زمونږ د ایجی ټیشن څه اثر کیدی نه شی په کار دی چه مونږ یواز
د پنجاب د سیاسی قیدیانو د پاره قدم وچت کړو. خو آخر فیصله په دې وشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



. چه دسرحد ددی مظلومانو وروڼو دپاره هم څه ناخته کول په کار دي بيايي زمانه تپوس وکړو چه ستاخه رايه ده ؟ ما ورته ووې چه تاسوسره زما اتفاق دی خو زه به دسرحد دنورو ملکرو نه تپوس وکړم اوڅه چه دهغوی رايه وی تاسو ته به يي بيان کړم. په دې جبلخانه کښې مونږ دسرحد يوولس کسان وو هغوی ته د اقصه وکړه چه د. سی. کلاس دقيد يانو په هکله ددی کښې فيصله شوی ده چه دهر قسم دعايتونه پرېږدو ترهغه وخته پورې چه د. سی کلاس قيد يانوسره دښه سلوک اوښه خوراک منظوري شوی نه وي . ددې دپاره به دهندوستان په ښيارانو کښې پراپيګنډه شروع کوی اوزمونږ دسرحد دپاره خوداپوه نادره موقع ده که مونږ دوی سره شريک شونو زمونږ دقيد يانو دپاره به هم په ټول هندوستان کښې پراپيګنډه وشی . دټولو نه اول عبدالاکبرخان داخواب راکړو چه زه خودې ته تيار نه يم . علي ګلخان او اغا لعل باچاهم دهغه تائيد وکړو او سرفرازخان يکښې صرف دومره خبره وکړه که تاسو مراعات پرېښودل زه به يي هم پرېږدم . چه زه پوه شوم چه زما ورونه تيار نه دی نو بيا مادا تجويز پيش کړه چه دا کار دهرچا په مرضي پرېښودل به کاردی خواجه شاه ميا صاحب ووې چه هر څه به په کثرت رأی فيصله کوو ما ورته ووې چه د تکليف فيصلې به کثرت رأی کيدی نه شی ځکه چه تکليف نه لونږ خلک . تيار يدی شی . سردار رام سنګه ورته ووې چه دی ته ما او دی پرېږدو دی ځ . علي ګلخان اولعل باچا دا تجويز پيش کړو چه مونږ به تحقيق وکړو که ټول خلک غواړي چه مونږ مراعات پرېږدو نو مونږ به يي هم ترک کړو ، په دی اتفاق وشو او ددوی دپاره علي ګلخان مقرر شو . زه پوه شوم ځکه چه تراخره پورې ددې خط وکتابت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خه ونه وتل و مونږ په انتظار کښې رها شو.

د دې قسم واقعات هميشه زمونږ په کيتو کښې هم پيښيږي. هلته هم چه کوم خلک کمزوري وي او تکليف ته ټينګ نه وي نو د يوه فايده منل تجويز مخالفت به کوي او قوم او ملک ته ډېر زيات نقصان رسوي نو په کار دی چه زمونږ په ذمه واره کميټه کښې د دې قسم کمزوري خلک نه وي. د يو يداس او نورو ليډرانو د کلاس مراعات پرېښودل او د سي کلاس خوراک ته کښېناستل ماته به خپل ځان ډېر بد ښکاريده چه زما سره د يو مقصد ملګري يو شان ګذران کوي او زه بل شان. ليکن زما د ملګرو د ډاکټر بيت د فيصلې نه مجبور وم. بعضې ليډرانو ناجوړه شول خو د يو يداس د خاطره بيتريدي نه شول راى صاحب حيران شو چه د اخه چل وشو. په اخبارا تو کښې د ايجي ټيشن پراپيګنډه شروع شوه اخر دا چه راى صاحب حکومت ته وليکل چه ماته اجازت راکړئ چه زه د دې ايجي ټيشن سرغنه د دې جېل نه بدل کړم. حکومت اجازه ورکړه او د څو الونو اول يې د يو يداس او ورپسې يې ډاکټر سيف الدين کچلو بدل کړل او يو کس نيم يې نور هم بدل کړل د دوی په بدليدو نور خلک کمزوري شول او ورو ورو د سپرنټنډنټ په ترغيب سره څېنو واپس کلاسونه واخيستل. اول کښې خو خلک هغوی ته ډېر په قهر شول ليکن ورو ورو د هغوی ملګري زياتيدل، صرف د ډېر کسان پاتې شول او نورو کلاس واخستو او د غسې د غه ايجي ټيشن ختم شو. سياسي قيد يانو له په کار دی چه هر يو قدم په خپل خيال وچتوي او نور څوک مجبور وي نه مجبور کسان چه روږد به مومي نو د ميدان نه به يا تښتي.

بعضې وخت زمونږ سياسي ورونه په معمولي معمولي خبرو باندې ايجي ټيشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شروع کړه. اوځان په یولوی مصیبت کښې واچوی. موږ چه جېلخانه کښې وو زموږ کټونو ته بېرې ځنځیرونه اچول چه هسې نه خوک دا کټونه د جېلخانې دیوال ته وتکوي او وتښتي، نو زموږ ورونو په دې ایجي ټیشن شروع کړی ماورته د پروو ي چه دا ځنځیرخو موږ ته نه اچوي کټ ته یې اچوي خو چا زما خبره ونه منله او موږ په یو لوی مصیبت کښې اخته شو. زه په جېلخانو کښې په معمولي خبرو ایجي ټیشن نه منم او په کار دی چه ایجي ټیشن په جېلخانو کښې ونه کړو او که داسې لویه اهم او سیاسي خبره وي نو که په هغې باندې ایجي ټیشن کوئ نو باک نشته. زموږ د جېلخانې سپرنټنډنټ راې صاحب یو ډېر عجیبه سړی و چه هغه ته به معلوم شو چه یو سړی په دې جېلخانه کښې خوشحاله دی بدلېدل نه غواړي و هغه به یې بل لوی او چا ته به ورته وې چه ما بدل کړه نو هغه به یې نه بدلولو مانه به یې همیشه دا ویل کوله چه دې جېلخانه کښې خو سیاسي قید یانو ته ډېر ارام دی دا جېلخانه به ستا خوښه وي نو ما به ورته وې چه زه دلته خوښ نه یم نو زه یې نه بدلولم لیکن احمدشاه حکیم عبدالرحیم صاحب او لعل باچا چه ددوی دا جېلخانه ډېره خوښه وه او بدلېدل یې نه غوښتل هغوی یې بدل کړل او د نورو خلکو د بدلېدو تجویزونه یې کول چه ډکاندهي جي او د حکومت د صلحې خبرې شروع شوې نو بیه دې وجه خلک دلته پاتې شول.

او خبره وخت چه ډکاندهي جي او لارډ اروین صلح وشوه نود اې کلاس بندیان یې فوراً رها کړل. زه هم د اې کلاس قیدي وم خو زه یې پرې نه ښودم ما د سپرنټنډنټ نه پوښتنه وکړه چه زه خو هم د اې کلاس قیدي یم تو هغه راته دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ستا متعلق ما ته حکم راغلی دی چه دی تر هغه وخته پوری مه پرېږده چه تر
کومه وخته پوری دې سر فضل حسین او سر صاحبزاده عبدالقیوم دې لیدلی نه
دی، لیکن ما ورله صاف ځواب ورکړو چه ته حکومت ته ولیکه چه هغه وخت تېر شو
زه هغوی سره لیدل نه غواړم او که دا خلک راشی هم زه د دوی سره د هیڅ قسمه
خبری کول نه غواړم ځکه چه په مونږ مصیبت ځو نو دوی ما سره نه لیدل او اوس
چه ارام راغی دوی ما سره لیدل غواړي ته یې خبر کړه چه نه راځي. بله ورځې میا
جعفر شاه او عبدالله شاه راغلل ټولی قصی یې راته وکړې چه حکومت تا پرېښودل
نه غواړي او مهاتما گاندهي ته یې ستا په سر ډېری غلطی او بې بنیاد خبری کړې
دي او دا خبره ده چه مهاتما گاندهي مونږ رالیږلی یو چه ستا نه پوښتنه وکړو
زه د دی په اورېدو ډېر حیران شوم ما وی چه سړی په یو جماعت کښې وی او
یا ورسره ملګری وی د هغه خبره به څنګه نه منی او د هغه د اصولو نه به ولی انحراف
کوي. بله دا ده چه ما اورېدلی دی، چه زمونږ لاټ صاحب سر ستود پیرس
حکومت ته دا خبره کړې ده چه په دې صوبه کښې مونږ دوه کسه ځائیلی نه شو یا به
دی وی یا به زه یم.

## رهائی :

گاندهي جي زما د حاله زمونږ خلکو خبر کړي و او څه خلک ورله تللی هم وو
مهاتما جي لارډ اروِن له لاړو او هغه ته ووی چه دی خو زمونږ د کانګرس سړی
دی ته یې ولی نه پرېږدي داخو ته د صلحی خلاف کار کوي هغه ورته ووی چه تا
له دا پښتانه دوکه ډېر کوي پښتون او عدم تشدد؟ ته خو لږ سرحد ته لاړ شه

د اخلک خود تشدد نه ډک دي. ګاندهي جي ورته اووئيل چه که ته باچاخان نه پرېږدې نو بيا زمونږ او ستا صلح ماته ده، نو زه يې پرېښودم. عبدالاکبر خان او سرفراز خان زمانه وړاندې رها شوي وو خو لا کلي ته تللي نه وو او د ګجرات په ښار کښې ديره وو چه زما د رهايۍ نه خبر شو نو ماله د جېل دروازې له راغلل او زه چه د جېل نه بهر کيدم نو په زرګونو هندوان، مسلمانان او سکهان راجمع شوي وو زه يې په موټر کښې کښېنولم او په ښار کښې يې زما جلوس اوښکو او بيا يوه لويه جلسه وشوه ما د هغوي شکريه اداکړه او يو مختصر تقرير مې وکړو چونکه ما ته د لاهور د دوستانو له طرفه ډېر تارونه او ټيليفونونه راغلي وو په دې وجه زه لاهور ته لاړم په دغه وخت کښې زمونږ د جهيلم يو دوست د موټرو سره راورسيد او مونږ اول جهيلم ته او بيا لاهور ته روان شو. زه يې جهيلم ته په زوره روان کړم ولې چه مونږ د لاهور خلکو ته ټيليفون کړې وو ليکن چه څه وخت جهيلم ته نزدې شو او هغه ښځې او نر مو وليدل چه زمونږ په انتظار کښې د ښار نه بهر راوتلي وو او ولاړ وو، ما زړه کښې ووې چه که مونږ دلته راغلي نه واې نو دې خلکو ته به ډيره صدمه رسيدلې وه. زمونږ جلوس په ټول ښار کښې وګرځيده او بيا واپس د جېل دوست ځائې ته راغلو او د لاهور د تللو انتظام مو وکړو. لاهور ته ګاډې د شپې په يوه بجه تللو، لنډه دا چه لږ څه ارام مو هم ونه کړو شو سټيشن ته راغلو.

## لاهور کښې زما استقبال:

سرفراز خان کلي ته رخصت شو او زه او عبدالاکبر خان لاهور ته روان شو، مولانا ظفر علي خان پنډت سنتانم سره د نورو دوستانو په ټيشن کښې ولاړ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنډلوټ سنتانم ځای ته روان شو اغالعل باچا او علي ګلخان هم دلته وو.
خان د پېښور نه دلعل باچا د بوتلو د پاره راغلی وو ولې چه هغه یو کال قید وا وزموږ
انډی خلاص شوی ولږ ساعت پس دا خبر راغی چه ښځو په زنانه جیلخانه بانډی
چه ونګوله او چه مسز جوتشي ماسره خبرې کولې چه په دې کښې په منډه منډه
پې لور راغله او و دته یې ووې چه موږ دې راپاڅه مور چه وکټل ه موږ. ټول
وترونو کښې زنانه جېل ته روان شو او چه څه وخت ورسېدو نو څه ګورو چه
ل ځکښې جنډ ښځه ده او ښځې ترې چاپېره ناستې دي او قومي نظم وایي
ه په دې ده چه مسز اصف علي یې نه پرېښوده، د دې د پاره نورو ښځو وی
وږ هم د دې ځای نه نه ځو چه ترڅو دا رها شوی نه ده. په ډېرو خوارو موږ
او واپس راغلو. په دې کښې مو د هلکانو په جېلخانه کښې خپل خدایي
نګار مکرم خان د ترناو شونګری سره د ملګرو ولید وچه په بارک ختلی وو
ږ ته یې اشارې کولې موږ. ورته ووې چه خفه کېږئ مه دې ځو ور ځو کښې
اص شئ دا زموږ هغه هلکان وو چه د لاهور په شراب خانه په پکټنګ قید
وو.

د جلوس وخت ځلور بجې وا و په ځلورو بجو د کانګرس کارکنان راجمع شول
پاره څوک د سورلۍ انتظام شوی وخو ما ووی چه زه په سورلۍ کښې نه ځم
ښاره په پیاده ځم او دوی سره پیاده روان شوم. ځای په ځای مسلمانان
وان او سکهان زموږ استقبال ته ولاړ وو خلکو ته به یې په غاړه کښې ګلونه
او د مسلمانانو او هندوانو له طرفه سپاسنامې راکېدې شوې او په یو ځای کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو مسلمان ماله یو ولونګی ، او یوه کوله هم راکړې او هغه وی د توپ په ځای
مس وه . مونږ سره په جلوس کښی د پړی زنانه هم وې . زه د پړ سترګی ش
لیکن چه د هغوی جوش او مینی ته به می وکتل نو موږ کښی نه کښینا ستم . .
جلوس ختم شو او مونږ د جلسی ځای ته ورسیدو د جلسی ځای د خا
ؤ په زرګونو ښځی ، نر ، هندوان ، مسلمانان او سکهان جمع شوی دو
د شپی په ګاډی کښی پښپښورته راتلو نو د لاهور کارکنانو ته مو ووې چه د
دی څومره مختصر کړئ هومره به ښه وي ما د سپاسنامي په ځواب کښی مخ
وکه او د سپاسنامی ځواب می ورکړو او شکریه می اداکړه . د وی ته می تقریر
چه مونږ له بې غمه کښېناستل نه دی په کار چه څومره کیږی شی هغومره ک
ولی چه دا سوله نه ده بلکه التوا ده . زما به دا کوشش وي چه دا ییله ه جنګ
یو لک رضا کاران د عدم تشدد په اصولو تیار کړم . په دی سلسله کښی چه
څه موده پس د سودوم (ضلع مردان) په دوره لاړم نو هغوی ماته په
سپاسنامه کښی او وئیل چه د یو لک (۱۰۰،۰۰۰) رضا کاره چه تا لی د لاهور جا
اعلان کړی دی ستا دشان سره نه ښایی ، د دی نه معلومیږي چه په هغه و
په پښتنو ظلمو او ځوانانو کښی څه قسم جذبه وه . چه جلسه ختمه شوه د و مره خ
چاپیره شو چه موټر ته مو لاره نه مونده ، خلکو نه مو سوال وکړو چه مونږ له
ګاډی به دانه لاړ شی خلکو لاره راکړه خو د هجوم په وجه د موټر یوه د روا
ماته شوه او ریل ته په وخت ورسیدو ، ریل کښی سواره شو
روان شو ملایانو چه د سحر بانګونه وې مونږ راولپنډی ت

(c) ketabton.com: The Digital Library



یلړی په ټیسن دانقلاب زنده باد چغې وې زه ویښ وم خو ملا مې خوږېده
ی نه شوم چه اخر مې دسیتهي صاحب اواز واورېدو نو پوه شوم چه دا خلک
ونږ له راغلي دي. سیتهي صاحب مونږ سره دګجرات په جیل کښې قید و او
سه سړی و او د پکوړو باتینګمو او چنو جوړولو ډېر ماهر و او دا څیزونه به یې
ل نو مونږ له به یې راکول په ډېرو خوارو را پاڅېدم او د ریل نه ورکوز شوم مونږ
ی وهغوی ډېر خوشحاله شو او راته کلک شول چه مونږ سره به کوزېږې په ډېر
وتړی خلاص شوم چه پېښور کښې به راته خلک په انتظار وی او ورته مې ووې
یا به راشم. نو رخا ته کیمبل پور ته را ورسېدو، زه د پاڅېدو نه وم چه په دې کښې یو
ای خدمتګار زما کوټې ته را ورختو، دهغه په لیدو خوشحاله شوم اواز مې ورته
هغه په ټو پوه نو شو او بهر لې منډه کړه نو رملګري یې خبر کړل په دې کښې ګورم
میا عیسی ززین خان دیو څو کسانو سره راغی او را ترغاړه شول معلومه شوه
دوی هم د ډېرو د جیل نه راخلاص شوی دي. د دوی په لیدو زه جوړ شوم
غه درد مې بالکل ورک شو.

مونږ ټول په یوه ډبه کښې کښېناستو او یو لوی ګپ مو ولګولو ګاډی روان
او د نوښار په ټیسن ودرېدو با ور دئ خدایي خدمتګار سره د نورو خلکو
نږ په انتظار کښې ولاړ وو، د ډبې نه وتل راته مناسب ښکاره نه شو ما وې
ی نه چه ریل روان شي نو د خپلې ډبې په دروازه کښې ودرېدم او یو څو خبرې
دوی ته وکړې او ګاډی روان شو او پېښور له ورسېدو ټیسن له ډېر خلک راغلي
مونږ د ګاډي نه کوز شو خلکو سره مو روغ جوړ وکړل بهر موټرونه ولاړ وو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالاکبرخان او میا احمد شاه په یو موټر کښې کښېناستو او لعل باچا او علي ګل خان
بل موټر کښې کښېناستل زمونږ جلوس په ټول ښار کښې وګرځېد او د هغې نه
مونږ کلي ته روان شو ځکه چه هلته هم د ډېر خلک زمونږ په انتظار کښې وو. مو
چه د ناقې تانې ته را ورسېد نو کوم ځای چه زه ګرفتار شوی وم په هغه ځای
دروازه جوړه وه او د داؤدزو د تختې بادي خان عبدالاحد خان او نور خلک زمو
استقبال ته ولاړ وو مونږ یې د موټر نه کوز کړو، خلکو سره مو روغ جوړ وکړه او دی تخته
تقریر نه پس رخصت شو ځای په ځای خلک ولاړ وو آخر دا چه مونږ چارسدې
ورسېدو دلته په زرګونو خلک جمع وو دلته مونږ د موټر نه کوز یدل مناسب ونه ګڼ
ما، میا احمد شاه او عبدالاکبر خان د موټر نه تقریرونه وکړل او اتمانزو ته روا
شو په زرګونو خلک مونږ سره روان شو څه وخت چه د اتمانزو مقبرې ته ورسې
نو مونږ موټرونو نه کوز شو او د هغو شهیدانو زیارتونو له لاړو چه لږ یې وړاندې د
د پېرنګیانو په ګولو د اتمانزو په جلسه کښې شهیدان شوي وو. دا واقعه داسې وه
دلته اتمانزو کښې خدایي خدمتګارو جلسه کوله په هغې پسې فوج راغی او توپ چلې
شو ورته یې وویل چه جلسه مه کوئ او ځئ ولې دوی نه تلل نو ډزې یې پرې وکړ
دوه کسان پکښې شهیدان شول او نور خلک تښتیدل، زمونږ جلسو ته به د ډېرې
زنانه هم راتللې، هغو زنانو کښې یوه جینۍ وه چه زما خورزه وه، دل آرام یې نو
درب نواز خان سالار اعظم خور وه. هغه د زنانه ونه را ووتله او جلسې طرف ته ې
رامنډې کړې کوم خلک چه تښتېدل هغوی کښې یو سړی ورته وویل چه پېغلې جینۍ
دا ته څه کوې؟ نه وینې چه دا ډزې کیږي دي ورته وویل چه بې غیرتو تاسو تښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوزه مخامخ پرې ورځم ددې جنګ په وینا داټول خلک ورواپس شول او د
نه چاپېره شول ټو د فوج افسر تپوس وکړ چه دا خلک څه غواړي، سعدالله خان
ووېل چه دوی ستا تلاشی اخلی چه تاسو ددوی مړی د ځان سره یونه سئ په
خبره فوجیان د خلکو د منځه ووتل او لاړل، هلته ما د شهیدانو په یاد کښې یو
تقریر وکړو او خلکو ته مې ووې چه د آزادۍ بوټی د ځوانانو د وینو په اوبه خوړ
ي او کوم بوټی چه مونږ لګولی دي امید دی چه ډېر زر به لوی شی ولی چه زمونږ
انو ورله د خپلو وینو اوبه خور ورکړو. ددې ځایه مونږ جلوس مات کړو او عبدالاکبر
خیل کلی ته او میا احمد شاه خپل کلی ته لاړل. زه سره د خپلو مهربانانو چهري له
کور هم زمانه و نه ډک و د هغوی لیدو له هم لاړم، اکثر دوستان زمانه رخصت شول
زه په ارام نه شوم ولی چه څوک به ټلل او څوک به راتلل، څه وخت چه به ډېر خلک
شول نو ډاک ته به راووتو او ټولو ته به مې یو تقریر وکړو. په دې کښې به ډېرې
هم راغلې وې زمونږ په زنانه وکښې هم ډېر جوش او سیاسی شعور پیدا
و. مونږ چه د خلکو دې جوش و خروش ته وکتل نو پوه شو چه ځکه تیاره
او د کړو خت دی ددې موقع نه فایده اخیستل په کار دی ځکه چه زما دا یقین
چه دا عارضی سوله به پایداره پاتې نه شی نو په پښتنو کښې مو کار شروع کړو
پسې او ورځې ته به مونږ کتل ددوی پیسی کلی په کلی، کور په کور په ټوله صوبه کښې
خپلم ټول مې د دنیا په حالاتو پوره کول نو تسلی مې وشوه، ماله خدای ډېر
کری راکړې وو او جیلخانو کښې لی د ډېر ښه تربیت حاصل کړی وو ځکه چه جیلخانه
کارکنانو د پاره یوه تربیت ګاه ده. زمونږ د تنګی صاحب حق صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ېر مخلص خدايي خدمتګارو ، ده سره چه به چا بحث کولو نو ده به وا
ووې چه ته جېلخانې له د قام او ملک د پاره تلې يې نو چه هغه
به ورته ووې چه نه نو ده به ورته ووې چه ته به قرآن''
نه پوهېږې . زه چه جېلخانې له لاړم نو په
قرآن پوه شوم او زمونږ د کار طريقه
داوه چه د صوبې د يو

سرنه

به شروع شو

نو بل سرته به موځان

د سولو . مونږ په ټوله صوبه کښې او
د صوبې په ټولو ضلعو کښې پوشان کار کړې دې
خو چه په کومو علاقه کښې به خدايي خدمتګاران پيدا
شول نو په هغو علاقو کښې به تحريک
هم ترقي کړې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاندهي اړون پيکټ
## (زمونږ دوري او تجربي)

### دوری

(هشتنغر، دواوه)

کتوزي، د کانګرس جلسه کراچي کښي

دخدايي خدمتګارو (سرخپوشو) ښه اثر، کراچي کښي مصروفيت، دهندوستان وطن ته واپسي او د سرحد دوره (تل، هنګو، لاچي، احمدي بانډه، زرکي، لتمبر، بنو، نورنګ، لکي، پيزو، شهباز خيل، ډيره اسماعيل خان، ټانک، کلاچي، پهل ارام، کوټل، پنيالا) د پنجاب پښتني علاقو ته (کيمبلپور، ميانوالي، عيسی خيل وغيره) زمونږ کار او د پرنګيانو سازشونه، د کانګرس په ځای سرحد جرګه، ګاندهي جي په بلنه بار دولي ته، ديوي داس سره دوره

(بمبي، ګجرات، احمد اباد)

بابره کښي ډرامه، کمزوري ملګري، پېرنګيانو تشدد زيات کړو
ديوي داس ګاندهي سرحد کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوزې:

څه ورځې زه د خلکو نه ډېر نا وزګاره وم لیکن کوم وخت چه خلک کم شو
بیا زه او میا جعفرشاه او عبدالله شاه په لوبه دوره ووتو. موتوکښې مو د صوابۍ
دوره وکړه او شپې له زیارت کاکا صاحب له لاړو ځای په ځای زګونه خلک
ته سترې مه شې له ولاړو. پښتنو کښې وروروولي، قامولي مینه محبت
شعور پیدا شوې و، خلکو کښې داسې جوش وچه بیان یې کولی نه شم. د نو
په جلسه کښې ماله خلکو یوه سره جوبه راکړه او د را کولو په وخت کښې یې راته وو
دا یادولوه چه داجوبه زمونږ په وینو سره ده چه مونږ مظلومان دړنه هېر نه
په مونږ نا وخته شوا و ذیارت له نا وخته ورسېدو، خدایي خدمتګار غریبا
مخې له راغلي وو او توهغې ولاړو. چه مونږ ورورسېدو. زمونږ په ورتلو
خوشحاله شوا و مونږ د فخر قوم میا حمید ګل صاحب ځای ته لاړو، چونکه
میا صاحب وفات شوې و هغه د خپل قام او ملک د پاره ډېرې قربانۍ کړې وې
دی وجه مونږ د هغه لاس نیوی له د تولونه اول لاړو، سیاله مو زیارت کښې
وکړه، چه جلسه ختمه شوه نو بیا کلي ته واپس را روان شو. بیا ما د مشتغر او دوا
دوره شروع کړه او خلکو ته مې د خدایي خدمتګارو اوجرګو اغراض، مقاصد
کړل او هغوی مې د خدایي خدمتګارۍ په تحریک پوه کړل. زه په دې ډېر خو
شوم چه د هر کلي په جلسه کښې ډېرې منځې نتریکیدلې لیکن چه تنګي په جلسه
مې د ښځو زود ولید و نو زړه مې باغ باغ شو خکه چه زما داعقیده وه چه یو قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترقي کولی شي چه د هغوی سره مننځي اوبده په اوږده لکه د کاڼي د ډېمې پايي روانی شي، د الله تعالی شکر مي اداکړه چه زمونږ خواری ځای ونيوه او چه زمونږ زنانه را بيداری شوې نو ډېر اميد ونه مي پيدا شول چه که خير وي او س به زمونږ قام ترقي وکړي. د تنګی نه ابازونه لاړو، د ابازونه قطب ته يو وړوکی کلی دی چه هغه کښې ډېر مخلص خدايي خدمتګار او سپږي په دی خدايي خدمتګارو د ابازو کاکا خيل، مياګانو ډېر ظلمونه د پيرنګيانو په وخت کښې کړي وو ورته يې وئيل چه خدايي خدمتګاري پرېږدئ، ليکن د ابازو، کاکا خيل، مياګان په دې نا وړه اراده کښې کامياب نه شول او زمونږ بهادرانو خدايي خدمتګارانو ته د قوم او د ملک د خدمت په لاره کښې چه څه مشکلات او څه تکليفونه د دی مياګانو د لاسه رسېدلی وو هغه يې په ډېر صبر او استقلال برداشت کړي وو. له دې ځايه د واړې ته پوری و تو د کتوزو خلک مونږ له مخی له راغلي وو داد دوا- وې مرکز هم و. دلته ډېر خلک جمع وو، جلسه مو وکړه او خلک مو د خدايي خدمتګارئ د اغراضونه خبر کړل. شپې له متنی له لاړو هلته مو هم جلسه وکړه د متنی نه سبا ختی سره د خدايي خدمتګارو سيکو ډېرئ ته لاړو په لاره چه څوک خبر يدل د کلونه به زمونږ د ليدو له پاره را وتل او دې جلوس کښې به شريکيدل چه ډېرئ ته راورسېدو نو زمونږ شمېر زرګونو ته رسېدلی و په ډېرئ کښې چه جلسه وشوه د جلسی نه پس مو ډېری د واوی خلک رخصت کړل او مونږ شپه له انبا- ډېر له راغلو د دی ځای خلک په خدايي خدمتګارئ کښې سست وو د دې د پاره په جلسه کښې ما منځو ته اپيل وکړه او ورته مې ووی چه د ا ملک څنګه د ننګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دغسی دبنځو هم دی اوکه سړي خدايي خدمتګاری ته تيار نه وي نو تاسو ما
وتړئ او تاسو خو هم ماسره وعده کړې وه: «دا که د ظلمونه پوره نه شوه- نو
افغانانه جينکی به دې ګټينه» دهغې نو لې جلسې په مخکښې هغو وويل چه مونږ
تيار دي يو او ستاسره د قام دخدمت وعده کوو چه څه وخت دجلسې نه فارغه شو
سره ديو څو خدايي خدمتګارو د دولت پوري ته لاړم او د ماښام لمونځ می هلته وکړ
او خلکو سره می دغه خبرې وکړې. شپې له انبا ډېر ته واپس راغلو، سبا له سو
کرهته راغلو هلته مو جلسه وکړه او ترنا وته راپورې وتو او چه ترنا وکښې جلسه وشوه
نو شپې له اتمانزو له راغلو.

## د کانګرس جلسه کراچی کښې:

چونکه د ټول هندوستان د کانګرس دجلسې ورځې نږدې وې نو په دې دجرګې
نوری دوری پرېښوی او دجلسې دپاره مو د تللو انتظام شروع کړو زما دا خيال و چه
د هرې علاقې جرګه دې يو يو خدايي خدمتګار د کانګرس جلسې له مونږ سره ولېږي
او د دوی خرڅ دې خپلې خپلې جرګې برداشت کړي دې کښې دوه فايدې وې يوه
خو به خدايي خدمتګار په دې سفر کښې تجربه کار شي، بل به زمونږ پرا پېګنډه به
ټول هندوستان کښې وشي. زما دا تجويز جرګې منظور کړو او د هر ځای نه جرګو يو يو
خدايي خدمتګار راوړدې راولېږلو. په اتمانزو کښې يو څو ورځې جرنيل عظمت خان
چه ډېر قابل او همتناک جرنيل و دوی له ټرېنينګ ورکړو د ټولو د پاره يو نشان ورده ی
جوړې شوې او بيا کراچې له روان شو چه څه وخت پېښور ته ورسېدو نو خدايي
خدمتګارو ډېره پراپېګنډه او جلوسونه کړي وو او په دې طريقه د خپل مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



عت کړی و، شپیږ ځلونیت باوردي خدايي خدمتګار وو زه او حاجي عبدالغفار
ن، مقصودجان، عبدالله شاه او سعدالله یري دیا سره وو.

دخدايي خدمتګار و (سرخپوشو) سره اثر:

دخدايي خدمتګارو کماندانانو مونږ سره سرېشاه مقرر کړو او خزانچي او منتظم
قصودجان شو، ماذیګر یه ریل ګبنی سواره شو دګاډي تیغ کراچي ته تللو تیسن
تیسن چه به ګاډي ودرېدو نو مونږ به ګاډي نه راکوز شو او دجلوس په صورت
بنی به راروان شو، دول او سرنا به غږېدل او چه خلکو به واورېدل نو خلک به
جمع شول. نو مونږ به خپله پوائینګونه کوله، سحر وختي لاهورته ورسېدو دلته
دي بل لیدو. لاهورکښی ډېرزیات خلک تیسن له زمونږ لیدو ته راغلي وو.
ایي خدمتګار سره دخیل هیم باجي په قطارکښی روان شو یو عجیبه نظاره وه
خلکو دومره اثر وشو چه زما یو دوست ووی چه: ستا سو ددی ننني مظاهري
معلومېږي داسي لکه چه نن دپیرنګیانو حکومت نشته، بلکه دخدايي خدمتګارو
کومت وی. بیا په ریل کښی کښېناستو او ریل روان شو او د انقلاب زنده باد په
رو کښی دخلکو نه رخصت شو. چه یو څو تیسنه مخکښی لاړو نو په تیسن یوی
ځي او یو سړي ماته سوال وکړو چه مونږ له اجازت راکړه چه مونږ دي خدايي
ر متګارو سره په یو ډبه کښی کښېنو، ما ورته ووې چه هلته ځای نشته تاسو به
تکلیف وی لیکن دهغوی دډېرمحبت او اصرار په وجه ما هغوی له اجازت
ورکړو، وروسته معلومه شوه چه داسړي دبهګت سنګه ېلار و او دوه ورځی شوی
ی چه حکومت بهګت سنګه پانسي کړي و او دا ښځه دجلنه دجنګو دملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشره استاذه وه ، دبهګت سنګه دېلار په مخکښي هغوئ ته مناسب ونه ګڼل چه پدولونو او باجي وغږوي لیکن هغه په غږ ولو باندي مجبوره کړل هغه ویې چه زما ذوبې قوم او ملک دپاره قربان شوي دي هغه مړنه دي ژوندي دي ، په دي وجه صونږ له خوشحالي کول په کار دي او په ژوله لا ډېي په دوی په دولونه وغږول بله دا چه هغه استاذه ډېره زوروره قومي ښځه وه . هغې دېړي قومي غزلې خدایي خدمتګارو ته یادي کړي او قومي نظمونه یې ورته ولیکل او وښودل او دوی سره به یې ښځینه هم یوځای ویل . زمونږ خدایي خدمتګار به په هر یو تیسن چه کاډی ودرېده نو دوی به کوز شو او په پولاپین کښي به جوړه جوړه روان شو ، دول سرنا به ورسره غږېدل او دوی به انقلاب زنده باد ، فخر افغان زنده باد چغې وهلې ، د تیسن ټول خلک به ورسره روان شو ، دوی ته به ډېر خوشحالېدل او ډېر عجیبه کار ورته ښکارېده .

## کراچۍ کښي مصروفیت :

هر کله چه د کراچۍ تیسن ته ورسېدو نو ډېر خلک مونږ له تیسن له راغلي وو ، عبدالخالق خلیق صاحب هم سره ده یو څو نور و ښینتنو دغلته موجود و . د کراچۍ ډېر ښینتانه راغلي وو خو د تیسن نه بهر ولاړ وو ، مونږ چه کاډی نه کوز شوا و خدایي خدمتګار خپله وردئ برابره کړه د بهارت سبها یو څو ځوانان چه سره کمیسونه یې اغوستي وو او په هغوی کښي د پېښور دیوان روشن لال هم و ماله راغلل چه دا ډولونه بند کړه ما ترې پوښتنه وکړه چه په څه سبب ؟ دوی ماته داووې چه بهګت سنګه پانسي شوی دی ، ماورته ووې چه تاسو به په بهګت سنګه ډېر خفه یې که د هغه پلار ؟ د هغه پلار خو زمونږ سره په رېل کښي یوځای راغی ، خدایي خدمتګارو په ډولونه او باجې نه غږول

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په زوره په دوی وغږ وړل او مونږ ته دهغه حکم دی چه ډولونه به غږوی ځکه چه هغه وایي چه کهګت سنګه دقوم او ملک نه ځان قربان کړی دی هغه مړ نه دی ژوندی دی نو دا دخوشحالی مقام دی هغه په دې ټیسن موجود دی تاسو ترې پوښتنه وکړئ که چیرې دهغه رضا نه وی نو مونږ به ډولونه بند کړو.

مونږ چه د ټیسن نه دا ووتو نو په زرګونو خلک مونږ ته ولاړ وو د پښتنو د طرف نه خلیق صاحب مونږ ته سپاسنامه پیش کړه دهغې په ځواب کښې ما یو مختصر تقریر وکړو او دهغوی شکریه می اداکړه ، دپښتنو دا خیال و چه مونږ پیاده دجلوس په شکل کښې دوی سره د کانګرس تر پنډاله پورې لاړ شو لیکن مونږ ته چا ووې چه مهاتما ګاندهی جلوسونه بند کړی دي، په دې وجه مونږ په لارو کښې سواره شو او دهغوی خواهش مو پوره نه کړې شو او خیل عذر مو ورته پیش کړو خو هغوی په دې خبره خفه شول .

څه وخت چه مونږ د کانګرس پنډال ته ورسید و نو د کانګرس په پنډال کښې شور شو او د رضا کارو د تیارئ د پاره سیټۍ (شپیلۍ) وغږیدې لیکن چه دا ورته معلومه شوه چه دا خو خدایي خدمتګار دي نو په قلار شو. حقیقت دا و چه څه وخت ګاندهی جی راتلو نو ټیسن له ورله د بهارت سبها سور کمیسی ځوانان تللی وو او توری جنډې یې ورله مخې له وړې وې او د پرې ګستاخانه خبرې یې هم ورته کړې وې نو چه څه وخت مونږ ښکاره شو نو زمونږ ورد ئ سره وې نو چا دا اواز وکړو چه هغه دی سور کمیسی راغلل او د کانګرس په پنډال حمله کوی . د هندوستان او انګلستان په اخبارونو کښې دا غلط خبرونه شایع شول چه سرخپوشو ګاندهی جی له توری جنډې ورې وې او هغوی د کانګرس نه بغاوت وکړو . دا انګلستان اخبارا تو پورې لوی ټوپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضمونونه ولیکل او ډېرې خوشحالي یې وکړې؛ خو د دروغو مزل لنډ وي او تر هغه
وخته پورې وي چه رښتیا ښکاره شوي نه وي. موږ چې د کانګرس پر خاص
کیمپ له بوتلو هلته لوی لوی تنبوان پرې لګېدلي وو. په هغه کیمپ کښې خو ډېر
تنبوان وو خو ما د ځان او د خدائي خدمتګارو د پاره پنځه تنبوان کافي وګڼل
او په هغو کښې مو خپلې بسترې خورې کړې. موږ لا دمه شوي نه وو چه د اخبارونو
خبرلوڅي راغلل او د ګاندهي جي او د خدائي خدمتګارو د مخالف سوالونه یې شروع
کړل. ما ورته ووې چه دا ټولې خبرې غلطې او بې بنیاده پراپېګنډه ده ځو موږ
ګاندهي جي سره او کانګرس سره هېڅ قسم مخالفت نشته او اخباراتو کښې چه څه
شایع شوي دي هغه کښې یوه ذره رښتیا نشته، ټول خبرونه غلط او بې بنیاده
دي. ما ژیکر د پنډت مدن موهن مالویه جي زوی راغی او هغه زما نه د دې متعلق
یو لوی بیان ولیکلو او هغه یې د هندوستان ټولو اخبارانو له ولیږلو.

د هندوستان ښځې، نر، د خدائي خدمتګارو او زما د لیدو د ډېر خواهشمند
وو او هر وخت به زموږ په کیمپ کښې یو غوبل وو او زرګونو خلک به زموږ کتو له
راتلل ولې چه هغوی ته خو پښتانه د ځناورو په رنګ ښودلي شوي وو او دلته د انسانیت
او قومیت په اوچته پوړۍ ولاړ وو. د پښتنو متعلق په ټول هندوستان کښې ډېره
غلط پراپېګنډه شوې وه او د دوی ورته متشدد خلک ښکارېدل. خو اوس د
کانګرس سره اوږه په اوږه د عدم تشدد په لاره روان وو او د پېرنګیانو جبر
وظلم ته یې په صبر او استقامت خپلې سینې ډال کړې دي. د دوی ته پښتانه
او کانګرس سره ملګرتیا ډېره عجیبه ښکارېده چه دوی پښتانه خدائي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپلو سترګو ولیدل د دوی د عمل، د دوی د تنظیم، د دوی د اخلاص او د دوی
د عدم تشدد نه خبر شول نو سترګی یې وغړیدې او تسلی یې وشوه او چه څوره
پرا پیګنډې د دوی برخلاف شوی وې هغه یې د ماغزو نه ووتلې. قسم قسم
خلک به ما ته راتلل او قسم قسم سوالونه به یې کول. ما به چه څو مره زمانه کیدی شوه
پوهول. د خدای ډیر شکر ګذار یم چه کوم خیالات د مو دونه زمونږ خلاف
د دې خلکو به زړونو کښې پیدا کړ شوي وو د هغوی تر ډیره حده پورې اصلاح
او ازاله وشوه. بلکه دا چه دلته د کانګرس د دې جلسی له د ټول هندوستان
خلک راغلي وو، هغه ټول د حقیقت نه خبر شول. خدائی خدمتګار چه به څه وخت
د کانګرس لنګر له د دوی خوړلو د پاره لاړل نو لوی لوی سیتهان به لاس په
نامه د دوی خدمت ته ولاړ وو او هر سړی به د دې کوشش کولو چه د خدائی
خدمتګارو سره شریک شم او هر طرف ته چه به خدائی خدمتګار لاړل نو خلکو به
یې ډیر عزت کولو او څه وخت چه د کانګرس د اسالانه جلسه شروع کیده، نو په د غه
افتتاحی اجلاس کښې د شرکت د پاره ګاندهي جي، جواهرلال نهرو او سردار پټیل
خدائی خدمتګارو لیسی را اولیږل چه سره د بینډ باجو په د غه غونډه کښې حصه
واخلی. جواهرلال نهرو او د هغه بی بی کملا دیوی او خور بی بی سره د خپلو
دوستانو د خدائی خدمتګارو پریډ او باجې لیدو او او ریدو له به راتلل په ټول
ملک کښې د خدائی خدمتګارو یو درزو او زمونږ د خدائی خدمتګارو په وجه
د پښتنو نیک نامی ډیر لو یه پرا پیګنډه وشوه او هغه د بدنامی داغ د دوی د
تندی نه وو نخلی شو او د دوی په وجه خلکو پښتانه وپیژندل او هغوی سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه پیل اشوه .

دکانګرس په جلسه اوبنډال کښې خدایي خدمتګار دوته ازادي وه
ځای له تلی اوګرځېدی شول یا هغه پښتون وچه تول هندوستان کښې به
خلکو سترګی پټولې اودوی اوقاتل ورته ښکاریده او یاداساعت دی چه دکانګرس او قوم
دوی دومره اعتبار پیل اشوچه دخپلوزنانوانتظام او حفاظت یی خدایي خدمتګ
ته حواله کړو بلکه داچه داکار دېرګران وـنه داانتظام پولیس کولی شواونه دکانګرس
رضاکارانوکولی شوخو دی خدایي خدمتګارو داسی په ښه طریقه سرع وکړوچه دد
انتظام او دسپلین ته دنیا حیرانه شوه اونورخلک خوپر ېږ ده ، دپولیس یولوی افس
چه دلته دانتظام د پاره لګېدلی ؤ دخدایي خدمتګاروکماندر عظمت خان ته ر
تولی کوزه کړه اولاس یی ورکړو او دده شکریه یی اداکړه . اوچه څه وخت به عظمت
ښکاره شونو دپولیس مقامی افسرانو به ورته سلامونه کول او دخدایي خدمتګارو
علاوه چه پولیس له به یی څه قسم حکم ورکړو هغوی به یی تعمیل کولو . ددی هم په کانګرس
اوتول هندوستان دېر ښه اثروشو .

کراچي کښې دېرپښتانه اباد دي چه دروزګار دپاره تللی دی . دهغوی دا
هش ؤ چه خدایي خدمتګارو له میلمستیا وکړي او ددی دپاره یی روپۍ هم جمع
کړي وې دهغوی یوخو مشران دخلیق صاحب سره زمونږ کیمپ له راغلل او ما ته یی
خپله اراده ظاهره کړه ما ددوی دمحبت او اخلاص دېره شکریه ادا کړه او د
عوض می ورته وکړه چه تاسو خوزمونږ وروڼه یئ مونږ ستاسو خدمتګاریو مونږ
ته په دې تلو کښې هیڅ عذر نشته او چه څه وخت تاسو غواړئ مونږ به درشو خو دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



می اتفاق نشته پښتون دومره غریب دی چه دده پیسی په ډوډو لګولو کار
دی . هغوی وویل چه مونږ چنده جمع کړی ده نوما ورته وویل چه دغه ډوډی
ځای دوی له اومه ډوډی ورکړئ هغه به په څه فایده راشی هغوی ما سره په
اتفاق وکړه . بله ورځ مونږ هلته لاړو ، ټولو پښتنو سره مولید ل کتل وشو د
چی نور خلک هم راجمع شوی وو هغوی ماله یوه سپاسنامه راکړه او دوه نیم سوه
ېی راته پیش کړې ما د هغوی شکریه اداکړه او د سپاسنامی ځوابی تقریر
وکړه او روپۍ می د خدائی خدمتګارو د پاره منظور کړې .

په کراچی کښی د جمعیة العلماء هند سالانه جلسه وه ، مولانا احمد سعید صاحب
م ماته یو خط ولیکلو ، مولانا احمد سعید صاحب ناظم او صدر صاحب مولانا کفایت الله
ږ سره د ګجرات په جېلخانه کښی یو ځای او سېدلی وو او زمونږ ورسره ډیر ښه
قات جوړ شوی وو چه که کېدی شی نو خدائی خدمتګار دی د جلسی په ورځ
ږ سره شرکت وکړی چه مونږ سره امداد وکړی او مونږ له یی هم دعوتی خطونه
ولیږل ، مونږ په ډیره خوشحالی سره د دوی دعوت منظور کړو او خدائی خدمتګار
د هغوی خدمت او امداد د پاره ور ولیږل او زه هم د هغوی جلسه کښی شریک
وم . د خدائی خدمتګارو د انتظام او خدمت نه هغوی ټول ډیر خوشحاله وو
ماته یی د هغوی د انتظام ډیر تعریف وکړو .

## د هندوستان دوره :

د کانګرس جلسه ختم شوه او د جلسی د ختمیدو نه پس مونږ په دوه ځایه تقسیم
و یوه ډله د حاجی عبدالغفار ، میا عبدالله شاه او سعدالله خان سره د هغو

خدایي خدمتګارو چه هغوی واپس تلل غوښتل، او بله ډله زما سره وه چه مو
تول هندوستان کښې ګرځېدل غوښتل او خپله پراګنده موکوله. زمونږ او
کلی ته روانه شوه او دا دو همه زه او مقصود جان دخدایي خدمتګارو سره دکا
دمسلمانانو په اصرار بمبئي ته روان شو. مونږ ماښام د او بو په جهاز کښې سوار
ډېر لېښتانه او دکراچي خلک زمونږ رخصت کېدو له راغلي وو مونږ چه څه و
خپل سامان سمبال کړو نو بیا تول په یو قطار کښې ودرېدو او دجهاز نه موباجو
دولونه وهل شروع کړل په بندر کښې پښتنو شادوله واچوله او هغه په پېشکو
کړه چه دجهاز تول پیرنګیان او مسلمانه ددوی تماشې ته ودرېدل لاندې یو پېر
په جوش کښې راغلو، سره جنډه ورسره وه میدان ته يي راودنګل لیکن یو پولیس را
راغی او هغه يي ددوی نه وښکلو یو عجیبه کیفیت او عجیبه ننداره وه چه په دې کښې
جهاز روان شو او لږ ساعت پس دبندر دهغه تول خلک زمونږ د نظر نه غیب
بله ورځ مونږ بمبئي ته ورسېدو دلته په زرګونو خلک زمونږ استقبال له راغلي وو دلي
په اخباراتو کښې زمونږ لویه پراګنده شوې وه په کوم بندر کښې چه خلک جمع شوي
زمونږ جهاز يي هلته ونه درولو بلکه دهغه نه کوز په یو بل بندرګاه کښې يي مونږ کو
لیکن په یو ساعت کښې هغه خلک هلته راورسېدل، زمونږ يي یو لوی جلوس په
کښې وویستو او څه وخت چه مونږ دکانګرس دفتر ته ورسېدو نو جلوس ختم شو
بیا مونږ دارام دپاره چه کوم ځای زمونږ دپاره مقرر و هلته لاړو، په بمبئي کښې
زمونږ ډېره لویه پراګنده وشوه، ځای په ځای موجلسې وکړې او بله دا چه ز
بهرورتلو په مسلمانانو هم څه اثر وشو. خو په پیرنګیانو باندې مېږې لګیا شوا او زمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ف يي دا پراټيکښوه په مسلمانانو کښي شروع کړه چه دا خلک هندوانو په دې غرض
ستي دي چه جماعتونو سره ده ولکي او باجي وغواړي چه سباله مسلمانانو ته د هندوانو
د ولکو او باجو څخه اعتراض نه وي. د هندوستان په مسلمانانو کښي دومره سياسي
ور نشته چه څومره په هندوانو کښي دي. سياسي شعور په يو قوم کښي داسمانه نه
ي اوچه په کوم قومونو کښي د سياسي شعور خلک پيدا شي نوخپل قوم پسې ورکړي
وي کښي سياسي شعور پيدا کړي مسلمانان د پرسبه قوم دي خو په هغوي کښي داسې
ل تر اوسه پورې پيدا شوي نه دي. تاسې د هندوانو، مسلمانانو د ليډرانو
کر وکړئ د هندوانو مشران او ليډران قوم پرست دي خو د مسلمانانو مشران
يډران خان بهادران او خان صاحبان وي، دوی چه څه غواړي خان
غواړي يا پېرنګي له غواړي، د دې غريبانانو څخه غم نشته او خکه دوی د
ل وانو نه ورو سته پاتې شول.

د پاڼې قوم له طرفه مونږ ته يوه سپاسنامه هم راکړې شوه، په جلسه کښي به
کونو نيمځ، نور شريک شوي وو، ما د پېرې شکريې نه پس د خدايي خدمتګارو
روت او حقيقت ښکاره کړو او ما ورته ووې چه دا تحريک په دې غرض شروع
وي دې چه مظلوم د ظالم د ظلم نه خلاص کړي او هرڅوک چه په دنيا کښي ظالم
ی که مسلمان وي که هندو وي او که پېرنګي وي دوی هميشه د هغوي مخالفت
و د پاره تيار دي. خدای ته خو د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د
خه د مخلوق خدمت دی.

د ممبيي نه پس د هلي له راغلو، دلته هم زمونږ استقبال له په زرګونو خلک راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. زمونږ د میلمستیا انتظام جمعیة العلماء هند کړی و، مونږ هلته لاړو ا
ارام مو وکړو او ماز یګري زمونږ جلوس په ښارکښې وګرځولو، هند وانو او مس
لمانو چه د کومې مینې او اخلاص مظاهره وکړه د هغه به درته څه ذکر کوم په تول ا
زمونږ په جلوس خلکو ګلونه نوستل او ځای په ځای سپاسنامې وا کړی شو
ماښام جلوس ختم شو د جلسې په ځای کښې ښځې او نر د ماښتو او سبږو په شا ل
راجمع شوي وو، ما په جلسه کښې د شکرلي نه پس یو تقریر وکړ وچه امید دی چ
ستاسو د زړونو نه هغه شکونه او وهمونه او س لیرې شوي وي چه کوم ستا س
زړونو کښې د پښتنو خلاف د ښمنانو پیدا کړي وو او په دې تقریر کښې مې د په یلی
د ښځو د بهادرۍ او قربانۍ چه کومې هغوی د ازادۍ په دې تحریک کښې کړ
وې تعریف وکړه او دا مې ووې چه د کوم قوم ښځې چه بیدارې شي او د ملک
ازادۍ د پاره ملا وتړي نو هغه قوم څوک غلام ساتلی نه شي او هغه قوم و
به ډیر زر خپل منزل ته ورسیږي.

جلسه په ډیره کامیابۍ سره ختمه شوه او مونږ ټیسن ته لاړو او په ر
ګاډې کښې سواره شو لږ ساعت پس ګاندهي جي هم سره دیو څو تنو خپلو ملګ
په دې ګاډي کښې یو ځای امرتسر ته روان شو په هر ټیسن کښې به د ګاندهي ج
د لیدو د پاره خلک راغلي وو، دومره شور او غوغا وه چه مونږ ټوی خوب کو
نه شو او نه ګاندهي جي اوده کیدی شو او څه وخت چه زمونږ ګاډی سهار ن
ته ورسیدو نو هلته ډیر خلک راجمع شوی وو هغوی ته مونږ خبر نه و کړی خود
د جلسې اعلان هم کړی و او په زرګونو ښځې، نر، نیمه شپه ټیسن سره نزد ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ په انتظار کښې ولاړ وو ځکه چې خو بالکل د کوزېدو نه انکار وکړو د هغه
پس هندوان مسلمانان مال راغلل او ما ته یې د پرمنت وکړو چه ژر کوز ره په
نیمه شپه کښې خو مره بنځې ، نر راجمع شوي دي تو که چیری ته هم مونږ سره
ز نه شوې ، نو دا خلک به ډېر مایوسه شي او را ته یې ووې چه یو ګپنته پس بل
ې راځي . نوره د دوی د خوشحالي له پاره ورسره کوز شوم . مونږ چه د جلسې
ام ته ورسېدو نو زمونږ د پاره د منبار نه بهر خلک زمونږ په انتظار کښې
ست وو ما په دې خېل زړه کښې ووې که چیری زه هم د دوی سره راغلی نه وای
د دوی زړونه به خو مره صدمه رسېدلی وه . زما په راتلو یې هم څه ناڅه
لې وشوه ، یو خو خبری می د تقریر په شکل وکړې وخت راسره نه وو بیا توی
پس تیس ته راغلو چه په دې کښې هغه ریل راغی او په هغه کښې مونږ سواره شو . دای-
ده هنسراج چه د جلند رو او ما سره د ګجرات په جلځانه کښې یو ځای قید و او ډیر
سره او اوچه کله به د ده ملاقات و نو مونږ له ډیری غوړی زیړی د ده کور والو-
و رلې . زما ډیر اشناو او مونږ سره یې ډیر ښه تعلقات وو . ما د ده سره د کوزېدو
عده کړې وه او زمونږ ارا ده وه چه جلند کښې به کوزېږو و ده سره به د مه کوو بیا به
کا دې کښې امرتسر له لاړ شو چه څه وخت زمونږ کا دې لودیانې ته را ورسېده
هغه خلک زمونږ ته خبر شوي وو ، بنځې ، نر تیس له راغلي وو او دا کوشش یې
و چه مونږ سره د لته کوز شي مونږ یې په دې مجبوره کړو چه د جلند ر نه واپس
د یانې له راځې نو عده مو ورسره وکړه نو هلته نژې مونږ خلاص شو او بیا هم
سره یوه بنځه په کا دې کښې جلند ر ته ورسېده نو لا له هنسراج او د هغه ټبر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندان او ورسره نور ډېرخلک تیپسن له راغلي وو او دهغه هم مونږ سره اشنی

نه د تللو اراده وه چه تیپسن کښي داسي غوبل جوړيشوچه زه به يي درته خه ووايم.

بعضې خداپي خدمتګار ګاډي کښي پاتي شو او څه ما سره کوز شوخپل سامان

یي کوز نه کړه شو مونږ جلند رته لاړو هلته مو دجنګو سکول وکتو زګونو خلکوته مې

یو مختصر تقریر وکړو او بیا واپس لودیانی ته روان شو مونږ. یوه لاری کښي دلانه

هنسراج سره لودیانی ته لاړلو دښار نه بهر ډېر خلک ولاړوو ډېر وخت مونږ په

کشمکش او جلوسونو کښي ضایع کړو او دلته مولوي عظیم الشانه جلسه کړه خو زیل ګاډی

وانه لاړلو. ددې ځای مسلمانانو خدایي خدمتګار ولو دلاری انتظام وکړه او

دی ځایه مونږ په لاري کښي امرتسر ته روان شو، ما ذکیر ورسره په بازارونو

کښي خلکو مونږ سره ډېره مینه کوله چه دوی به زمونږ دلاری نه چاپېره شوا خره په

ډېر وخوار و هغه ځای ته ورسېد و چه کوم ځای کاندهي جي کوز شوی و معلوم شوه

چه ګاندهي جی ته هم خلکو په تیپسن ډېر تکلیف ورکړي وا و هغه ناجوړه هم وزه

دهغه لیدلو له لاړم هغه مخ سرتړلی وو او په ډېر تکلیف کښي و ـ اهغه خپل قول

دقیق ملګری که هندوان وو که مسلمانان وو که سکهان وو چه څوک ما سره ګجرات

په جېل کښي اشنا شوی وو ولیدل. زما طبیعت هم ناسازه و په دې وجه ما مناسب

وګڼل چه دسکهانو ورونو نه اجازت واخلو او کلي ته لاړ شو.

وطن ته واپسي:

هغوی نه مې په ډېر زور رخصت واخیستو. ماوی زه ناجوړیم هیڅ هم

نه شم کولی او تا سومې پاتي کوئ نو زه به زیان ناجوړه شم هغوی رضا شوا وما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ري رخصت راکړې او موږ د شپې په ډاک گاډي کښې را روان شو سحر
ختي نوښار ته را ورسېدو او چه کوم خدايي خدمتګار ددې ځای وو هغوی
ورخصت کړل او موږ مردان ته روان شو، د مردان ټيشن له په زرګونو خلک
اغلي وو، موږ هغوی سره هوټي مردان ته لاړو د کلپاڼي په غاړه ديوي لوي
جلسې انتظام شوی و چه جلسه ختمه شوه نو بيا طوروماياروته لاړو هلته هم د دوارو کلو
خلک راجمع شوي وو جلسه مو وکړه خلکوته مو د دوري ټول حال ووې او بيا
موږ ه واپس اتمانزو ته راغلو.

يو څو ورځې مې ارام وکړو او چه ښه شوم نو د صوبه سرحد د دورې اراده مې
وکړه چه په دې کښې: کوهاټ، بنو، ډېره اسماعيل خان، د کميټو له طرفه
عوتونه هم راغلي وو، زه د ټل او هنګو په دوره روان شوم په دوره کښې ماسره
ماشکانو بانډې د قاري صاحب زوی هم تللی ؤ هغه ډېر خوش اوازه وقومي
ظمونه به يې ويل چه: «د ستاله ميچنو، نه وېرېږو ای سرکاره ولي مو ويرې.»
ذی به په خلکو ډېر ښه اثر کېدلو. په لاره کښې د درې ټول اپريدی وو نه
خبر شوي وو زموږ استقبال د پاره ځای په ځای ناست وو او د چای او
ودې انتظام يې هم کړی ؤ، زموږ د ښکاره کېدو سره دزې شروع شوې او
ډېر خوشحاله شول، ما به ډېر منع کول چه دزې مه کوئ زما نظر به خود عدم
شدد ده خو هغوی خو ازاد خلک وو کله منع کېدل. ځای په ځای چه به دوی جمع وو
موږ به ورکوز شو او مختصر تقرير ونه به مې ورته وکړل او د خدايي خدمتګاری په حقيقت
به مې پوه کړل، د دې ځای نه اول ټل او بيا واپس هنګو ته لاړو او چه هلته موږ خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تحریک ورو نه ولیدل او جلسې وشوې نو واپس د کوهاټ ښار ته راغلو، د کوهاټ
خلکو خو یو لوی نمایش کړی و خو د باران په وجه رونق خراب شو، د جلوس نه پس مو
جلسه وکړه او تقریر مو وکړو او خلکو ته مې د خدائي خدمتګارۍ د جرګو جوړولو دعوت
ورکړو چه سبا له بنو ته روان شو په لاره کښې لاچي او احمدي بانډې، بانډه داؤد
شاه کښې مو جلسې وکړې، بیا کرک ته لاړو هلته جلسه وشوه د زړې په تول علاقه کښې
وکړې جلسې وشوې. واپسي کښې لتمبر ته راغلو او د محمد افضل خان حُجره کښې مو جلسه وکړه
کوهاټ کښې زمونږ د پېرښه کارکنان وو [چه دوی کښې یو د زرګی عبدالغفار نومېده
چه د قومي خدمت په لار کښې ئې ځان قربان کړې و، ده د خودکشۍ په وخت کښې یو
خط زما په نامه لیکلې پرېښې وو، په هغې کښې ئې لیکلي وو چه ما د یو خدائي خدمتګار په
حیث تاسره د لوی خدای د وړاندې د الوظ کړې وو چه زه به د خدای د مخلوق
خدمت د هغه د رضا د پاره کوم او که په دې لاره کښې هر قسم تکلیف او مصیبت په ما
راځي نو زه به د هغې مقابله په عدم تشدد کوم. چونکه د مسلم لیګ په امر د قیوم خان
حکومت د لته زمونږ د وهلو، ټکولو، قید ولو، مال تالا کولو، او جایداد ضبط کولو نه علاوه
زمونږ د کورونو او زنانو بې پردګي هم کوله نو زما پښتني غیرت دا برداشت نه کړې
شوه یکار خود او وچه ما توپک راخستې وې او د دې ظالمانو نه مې خپل بدل اخیستې وې
خو چونکه ما تاسره د الوظ کړې وو چه زه به په عدم تشدد پابند اوسم نو د دې وجې نه زه
خپل ژوند ختموم او د خدای سره سره تا نه هم معافي غواړم چه زه تاسره په هغه خپل
لوظ ټینګ پاتې نه شوم.]
دې ضلع کښې تقریباً یو لک خدائي خدمتګار دو. د لته د لتمبر د کلي ...ان د سم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غاړه مونږ ته د چاپو انتظام کړی و مونږ چای څکله چه زمونږ د ښو خدایي خدمتګار
راو د رسیپل او مونږ وړسره په موټرکښي بنو ته روان شو، بنو والو هم مونږ د پاره ډېر
نمایش کړی ؤ او په ښار کښي زمونږ یو عظیم الشان جلوس و ښکو او په زرګونو خلک
پکښي شریک شول ډېره ښه جلسه وشوه او ډېر مخلوق ورله راغلی وو. سالار یعقوب
خان او و یشوا ډېر استرداسه ډېر کار کړی و، دلته د هند والو او مسلمانانو اتفاق دوی
کړی و هلته می هم یو مختصر تقریر د خدایي خدمتګاری متعلق وکړو، د هغه ځای نه
سباله مونږ ډېره وته روان شو، میراخیل کښي نورنګ او سرای کښي مو جلسه وکړه
لکی کښي مو هم جلسه کړی وه. شهباز خیلو او پیزو کښي مو جلسه وکړه، لکی مروت
لادو کښي راتلل هلته مو جلسي وکړې. ډېره وته نژدی مونږ د پاسو لپیښتنو څه کلاړې
ولیدې او مونږ هغوی ته ودرستانه شو، مونږ لا هغوی سره خبری کولی چه په دې
کښي یو موټر راغی او مونږ ته یې ووې چه زر راځئ خلک د ښار نه بهر راوتي دي سخت
په انتظار کښي دي. مونږ هغوی سره روان شو او چه د ډېره وښار ته نژدې شو نو په
زرګونو خلک زمونږ په انتظار کښي ولاړ وو. زمونږ د موټرو په لیدو سره یې د انقلاب
او فخر افغان زنده باد نارې ووهلې، بازارونه، سړکونه، دکانونه یې بند کړی وو
ځای په ځای دروازی ډېرې ښې جوړې شوې وې، زما په خیال دلته ډېر لوی
لوی خلک راغلي وو، خو داسې استقبال یې شوی نه ؤ زه یې په اس سور کړم او د جلوس
وړاندې روان شوم، په زرګونو ښځې، نر، په دکانونو، بالاخانو او کوټو باندې
ولاړ وو. پیرنګیانو ډېر کوشش کړی ؤ او په هند والو یې ډېر دباو وه کړی وو چه په
دې طریقه زما جلوس او استقبال و نه شي خو بالکل ناکامیابه شوی و. د دې جلوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدل انتظام هندوانو کړی ؤ.

د پېرۀ اسماعیل خان کښې په دې ورځو کښې د قومي تحریک زور او شور و.
د دې ښار په چاپېره علاقو کښې هم تحریک په زور کښې و، ټانک، کلاچي، کلا امام، کوټل
بازار او پنیاله کښې خلک په تحریک کښې په زور او شور کښې شامليدل. ښار کښې د سرو نه
علاوه د ښځو او وړو هلکانو جلوسونه وتل. یوه ورځ د ښځو جلوس په بازار کښې
تېرېدلو هر کله چه دا جلوس د ډاکټر جنډه رام چوک ته ورسېدو نو د صوبه سرحد
انسپکټر جنرل پولیس ایس مانګر د جلوس د خورېدو حکم ورکړی و خو ښځو انکار
وکړو، جرنیل د ښځو په دې انکار ډېر غصه شو او تمانچه یې راوښکله او چلوله یې
چه ناڅاپه یو زلمی سردار بهګوان سنګه د ده لاس ونیو او ورته یې ووې چه تا له
شرم نه درځي چه په ښځو تمانچه چلوې. د جرنیل صاحب لاس ورچېدو او تمانچه
تړې ښکته پرېوته جرنیل صاحب وارخطا شو او بنګلې ته لاړو او تمانچه ورله یو سپاهي
یوړه. د بهګوان سنګه د دې جرئت بدله په ۱۹۳۱ ع کال کښې د فرقه دارانه فساد
نه پس واخیستې شوه او هغه د یو قتل د دروغو په مقدمه کښې ونیوې شو او ډېر
مصیبتونه یې پرې تېر کړل او چه ثبوت پرې پیدا نه شو نو پرې یې بوده.

هندوانو ته حکومت ډېر په ټهر و او دغه وجه وه چه پینځه میاشتې پس یې
په هندوانو، مسلمانان ورواچول او کور کښې یې وجنګول او لوی فساد وشو، د
هندوانو مالونه یې پرې لوټ کړل، کورونه او بازارونه یې وسوزول او ډېر هندوان
او مسلمانان قتل شول، او د لکهونو روپو نقصان وشو او د پنیالې بړخان بهادر چه
هغه سره د ډیپټي کمشنر او شیخ محبوب علي اسسټنټ د اصلاح وکړه او دوه لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې هم ورکوې چې خپلو لګوکرانو له سرې ورډې جوړې کړې او پوه یې کړه چې مونږ به ښار کښې فساد کول غواړو . کوم وخت چې درته ټیلیفون وکړم نو دغه د سره جامو کرانو له ټوپکې او تماچې ورکړه او ښار له یې د لوټ او اورلګولو د پاره فوراً را ورسوه ده هم دغسې وکړل. د پیرنګي ډپټي کمشنر دا پالیسي وه چې یو خوا به هندوان ووهل شي لوټ به شي او بل خوا به سرخپوش خدایي خدمتګار بدنام شي او د دوې بر خلاف به پراپیګنډه په ټول هندوستان کښې وکړو چه کانګرس هم به دوې بدګمانه او خفه شي او دوې له ځانه بېل کړي . د شپې یوه عظیم الشانه جلسه وشوه ما پکښې یو مختصر تقریر وکړو چې زه ستاسو د هندوانو او مسلمانانو په اتفاق ډیر خوشحاله شوم او امید کوم چې تاسو به خپل دا اتفاق دا ینده د پاره قایم او دایم وساتئ او د ملک د ازادۍ د پاره کښې به کافي حصه واخلئ . سباله مونږ کلاچي له لاړو کلاچي کښې د ګنډه پور خانان او رمضان خان وغیره ټول مونږ سره ملګري شول دلته د خدایي خدمتګارو جرنیل کنور بهان نارنګ صاحب د دوستو بیا سالار شو او د هغه ځای خلکو زمونږ ښه استقبال وکړه ، جلسه مو وکړه خدایي خدمتګارۍ کښې خلک په ډیر شوق داخل شول او جرګه مو هم جوړه کړه ، د کلاچي نه ټانک ته لاړو او د ټانک خو ډیر زور ور پیښتانه دي . ډیر خلک په جلسه کښې شریک شول ، شپې له ګل امام له لاړو ظفر خان د دوې هم مونږ سره شامل شول ، دلته هم جلسه وشوه او ډیر خلکو خپل نومونه خدایي خدمتګارۍ کښې ولیکل . له دې ځایه واپس بنوته لاړو ، بیا کوهاټ او پېښور ته واپس شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پنجاب د پښتنو علاقو دوره :

خدایي خدمتګارۍ چه څه جوړه شوه نو مونږ ته ضلع کیمبلپور او ضلع میانوالي نږدې وې او په کښې زیاته ابادي زمونږ د پښتنو ورونو وه او دا دواړه ضلعې مونږ سره لګیدلې دی. کیمبلپور د پښتنو د یو پېژن کښې او میانوالی د ډېره اسماعیل خان د یو پېژن کښې وو څه وخت چه تحریک شروع شو نو دا ضلعې یې زمونږ نه کټ کړې او پنجاب سره یې کړې، دا ضلعې زمونږ ګاونډ کښې دي، نو مونږ دې کښې هم دورې کول غوښتل، خو ضلع کیمبلپور ته حکومت نه پرېښودلو تردې چه زمونږ خپل وزارتونه جوړ شول بیا هم چا نه پرېښودو. یو ځل مونږ د وزارتونو په وخت کښې د کیمبلپور په دوره مللو خیال او داو چه اوس خو قومي وزارتونه دي مونږ به پرېږدي خو چه د اټک نه پورې وتلو نو پولیس سنګینونه چړاو ولاړ وو مونږ ته یې سړک بند کړې وو مونږ ته یې ویل چه واپس شئ کښې مونه پرېږدو ماورته وویل چه مونږ خو واپس نه ځو نو مونږ چه پوه شو چه دوی مو نه پرېږدي نو د لارې نه کوز شو او د سړک په خوا کښې د غره څنګ ته کښېناستو دې کښې ډېر وخت تېر شو چه هغوی پوه شول چه دوی خو واپس نه ځي نو بیا یې لارې راو ستله او په هغې کښې یې مونږ کښېنولو او کیمبلپور طرف ته روان شو ولې د کیمبلپور په ځای یې خوشحال ګړ ته بوتلو د سین نه یې پورې کړو ضلع کوهاټ کښې یې پرېښودو، دغه شان چه کله ما یا خدایي خدمتګارو اراده کړې ده نو چا پرېښې نه یو او میانوالی ته به هم کله نا کله ورغلو، کیمبلپور کښې به د چهچه علاقې ته کله نا کله ورتلو، چه میانوال ته به لاړو نو په علاقو به ګرځېدو کالاباغ ته هم تللي یو د غلته کالاباغ سره جخت په نمر خاته یو کلی دی هغې ته هم ورغلی یو او هغه علاقې ته هم تللي یو چه پکښې د اوسپنو کان دی او بیا د هغې نه به عیسی خیلو ته ورتلو یو ځل چه مونږ عیسی خیل ته لاړو نو د هغه ځای نواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلسه نه پرېښوه خپلو نوکرانو ته یې لوی لوی ډانګونه ورکړي وو چه څوک به جلسې ته راتلل هغوی به یې وهل ما داسې چل وکړو چه په بازار کښې روان شوم او په تلو تلو کښې مې خلکو ته خپل تقریر کولو سره ددې هم چه څوک به زما تقریر اورېدو ته راجمع شول نو هغه به یې په ډانګونو وهل، لنډه دا چه زه یې جلسې ته څه چه خبرو ته هم پرې نه ښودم خو هلته یو هندو وُ هغه مونږ مېلمه نه کړو او د هغه یو سرای وُ په هغې کښې یې زمونږ د پاره د ډوډۍ انتظام وکړو نواب صاحب هغه پسې جواب راولېږلو چه دا سړي مه پرېږده او د سرای نه یې وباسه خو هغه د نواب صاحب خبره ونه منله او مونږ هلته په ارام شپه تېره کړه چه سباله جمعه وه مونږ دا فکر وکړو چه د جمعې لمانځه له خو به د علاقې ډېر خلک راځي نو مونږ به هم لاړ شو، دوی سره به لمونځ کښې شریک شو او که موقع وه نو خبرې به ورسره هم وکړو خو چه سباله مونږ جماعت له ورغلو نو د نواب صاحب ډانګ ماران د جماعت نه چاپېره ولاړ وو او چه جماعت ته ورننوتلو نو یو بنیادم یکښې نه و خوشي پروت وُ مونږ ته دا معلومه شوله چه د نواب صاحب دا سړي ددې د پاره ولاړ وو چه د هغوی دا خیال وُ چه سباله به دوی د جمعې لمونځ د پاره راځي نو زمونږ نه مخکښې یې دا بند و بست کړی وُ چه جماعت ته د کلي او علاقې څوک را نه شي نو ځکه دا سړي یې ودرولي وو چه څوک راځي نو هغوی د جماعت نه منع کوي. چه مونږ په دې پوه شو چه دې علاقه کښې مو کار ته څوک نه پرېږدي نو واپس شو.

یو ځل زمونږ د مردان یو خدائي خدمتګار جرنیل شاه ولی خان د څو تنو نورو خدائي خدمتګارو سره د کیمبلپور د ضلع د پنډۍ ګهیپ تحصیل ته تللي وو هلته دوی په جلوس کښې روان وو، جرنیل صاحب وړاندې روان و جنډه یې په لاس کښې نیولې وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورخدای خدمتګار ورسپی وو چه دوی د دوست محمد صوبیدار کورته نژدې شول نو
نو هغه او د هغه زوی غلام محمد ورته مخه ونیوله او په جرنیل صاحب یې په توپک ډزاوکړه
چه هغه شهید شو او بیا یې نورخدای خدمتګار په برچو ووهل او په جلوس یې کاڼي
و وروَل او جلوس یې تس نس کړو او جلسه خوره شوه. زمونږ د پنجاب ورونړو زمانه
ګیله کوی چه ته پښتنو ته کار کوی، زه ورته وایم چه زمونږ دا تحریک خو د خدای مخلوق
د خدمت د پاره دی او مونږ خو کوشش کړی دی چه د هرچا خدمت او کړو ولی زه
څو حلمه له راغلی یم خو چا ستا سو خدمت ته پری ایښی نه یم.

د دې نه پس بیا څه وخت چه پیر نکیا نو اعلان وکړو چه د املک مونږ پرېږدو
نو یو ځل بیا زه میانوالی ته لاړم او په داؤد خیلو کښې یوه لویه جلسه وشوه. د میانوالی
پښتانه نیا زیان دي چه د پرښه او بها در پښتانه دي. زمونږ جلسې ته په ډېر
تعداد کښې په ډېر شوق راغلي وو ما هغه جلسه کښې دوی ته تقریر وکړو د هغه تقریر
یو خوخبری ماته یاد دی زه یې تاسو ته کوم ما ورته وویل چه ای ورونو! نن د
قامولو دنیا ده تاسی وینئ چه کوم کوم قومونو کښې قاموالي او ورولي راغلی ده نو هغه
آسمان ته وختل او اباد شول د امونږ خو هم یو قوم یو نو دا مونږ ولې پاتې شو؟ دا مونږ
ځکه پاتی شو چه مونږ کښې قامولي، ورور ولي مینه محبت او اتفاق نشته نو زه تاسو
له ځکه راغلی یم چه تاسو زما قام یئ خو تاسو خپله ژبه پښتو نو لی تمدن او قول څیز و نه
پریښی دي تر دې چه لنګونه مو وهلي دي. دا هم درته وایم چه یوه موږغه د بسیل نه
جدا شی نو هغه ورکه شی او س د فیصلی وخت راغلی دی دا زما د قامولی او غزیز
ولی فرض دی چه تاسو ته راشم او درنه تپوس وکړم چه تاسو به څه کوئ مونږ سره به ځئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پنجاب سره به ځي مونږ خو پېرنګي جدا کړي وو چه پېرنګي ځي نو تاسو به پنجاب سره ځي که مونږ سره به اوسېږئ نو به هغوی کښې یو سړی راپاڅېد او هغه وویل چه مونږ ستاسو ورونړه یو او پښتانه یو او تاسو سره به ځو، مونږ به خپلو بچو ته پښتو ښیو بچو ته خه چه مونږ بخپله هم پښتو زده کوو خو ته به مونږ سره دا وعده کوې چه کم از کم په شپږو میاشتو کښې به یو ځل مونږ له راځې. زما او د هغوی وعده وشوه او جلسه خوره شوه، ملک آزاد شو، پاکستان جوړ شو خو ما لا تر اوسه د هغوی سره دا وعده پوره نه کړې شوه، ولې چه پاکستان جوړ شوی دی نو میانوالی خو پرېږده [illegible] کښې چا خدمت ته پرېښې نه یم بلکه څومره موده چه پاکستان کښې وم نو لا به جېلخانه کښې وم لا به کور نظربند وم.

## زمونږ کار او د پېرنګي سازشونه:

پېرنګیانو چه ولیده چه دا تحریک پښتنو کښې د ځنګل د اور په شان خورېږي نو دوی سره یره پیدا شوه او زمونږ د تحریک د تباهۍ کوششونه یې شروع کړل اول یې د پنجاب انګریزي اخباراتو کښې زمونږ برخلاف داپراپیګنډه شروع کړه چه دا تحریک د کانګرس مخالف دی او په دې طریقه یې مونږ د کانګرس نه جدا کولو او د کانګرس او د کاندهي جي امداد یې را نه لیرې کولو، لیکن ما فوراً د میا احمد شاه او نورو ملګرو په سلا او مشوره یو اعلان وکړو چه د دې حکومت یوه غلطه پراپیګنډه زمونږ برخلاف شروع کړې ده. مونږ د کانګرس ملګري یو مونږ نه د کانګرس نه جدا یو او نه جدا کیږو، بلکه دا چه د لاهور په اخباراتو کښې چه د پېرنګیانو د اتر د لاندې وو، داپراپیګنډه شروع کړه چه ماله په ښه

سره د هندوستان مسلمانان و پردي کړې فرنګي لا پېښي
په موټګ د حلقو
کاله حکومت کړی وو . د احمده مسلمانانو ته ملي په کښې احوو
وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داپریدو د پاره شپیته ذره روپۍ راکړی شوی وي حالانکه دا ټول دروغ
وو ما خو په هندوستان کښې نه د چا نه چنده غوښتی ده او نه چا راکړې ده
او نوری داسې طریقې یې هم اختیار کړې چه د قوم او زما او اپریدو ورونو منځ
غلط فهمي او ناچاقي پیدا کړي . لیکن د دروغ د رښتیا مقابله کولی نه شي :

«قل جاء الحق وزهق الباطل» یوه ورځ ما د لاهور په ټپیس د انقلاب
اخبار ایډیټر ولید و هغه زما اشنا هم و لیکن پښه چه یو قوم ته خوږه شي نو هغه
بیا اشنائي او دوستي ته نه ګوري راغی او ماته راتړغاړه شو ما تری پوښتنه
وکړه چه دا ستا کله اپریدو سره دومره اشنائي او وروولي پیدا شوی ده هغه
وخت دې دعوی ملد نه کوو چه څه وخت پری د پیرنګیانو د توپو ګولۍ وریدې ؟
او دامې ورته ووې چه دا ممکن کیدی شي چه د یو پنجابي دې داپریدو سره زیاته
همدردي وي ؟ زما خپل قوم دی او زه خو د هغوی ډیر متشکر یم . داممکنه ده
چه زمانه ستا هغوی سره زیاته همدردي وي ؟ نو هغه راله ځواب راکړو چه چونکه
تاسو کانګرس سره یئ او زمونږ پالیسي د کانګرس خلاف ده نو په دې وجه مونږ
ستا برخلاف شو او ستا خلاف لیکو . ما ورته ووې چه مونږ به اوس کانګرس پرېږدو
او مونږ خو تاسو له درغلی وو خو تاسو زمونږ هیڅ قسم امداد ته تیار نه دی ، حقیقت
خو دادی چه تاسو مونږ کانګرس سره کړې یو که تاسو اوس هم مونږ سره ملګري کیږئ
او د پیرنګیانو د زور ظلم نه مو خلاصوئ نو تاسو سره کیږو . ده سړکی سکته
کړې او روان شو . اسلام خو دنیا ته د آزادی د پاره راغلی و او د مظلوم د ظالم
نه د خلاصولو د پاره راغلی و لیکن نن د هندوستان مسلمانان د غلامي خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او د ظالم ملګري دي او بيا هم د اسلام دعويداردي.

## د کانګرس کميټۍ پر ځای د سرحد جرګه:

زمونږ دا خيال وچه د صوبه سرحد «د کانګرس کميټۍ» نوم دې «جرګه» شي نو دا به ښه وی ولې چه زمونږ خلک په کانګرس نه پوهيږي او دا هم وچه مونږ خدائي خدمتګار د کانګرس سره ملګري وو او کانګرس کښې نه وو او بله خبره دا هم وه چه د صوبه سرحد کانګرسيانو به زمونږ مخالفت کوو او مونږ سره يې کمک نه کولو نو ځکه مونږ غوښتل چه د کانګرس د کميټۍ نوم دې «جرګه» شي. مونږ ټولې صوبې کارکنان خدائي خدمتګار او د صوبې کانګرسيان د جرګې جوړولو د پاره راجمع شو او مونږ ټولو په شريکه جرګه جوړه کړه د ټولو کارکنانو دا خيال وچه زه دې صدر شم او صدارت دې منظور کړم ولې زه د دې د پاره نه وم تيار نو په دې وجه د صدارت د پاره دوه نومه پيش شو. د ښار خلکو د علي ګلخان نوم پيش کړو او مونږ د کلو خلکو د ميا احمد شاه نوم پيش کړو. ميا احمد شاه د رائې په اکثريت سره صدر مقرر شو، د جنرل سکرټرۍ د پاره ما د پير بخش وکيل د پېښور نوم پيش کړو او په اتفاق سره هغه منظور شو او کار مو شروع کړو، زمونږ کار ورځ په ورځ په ترقي ؤ، زمونږ په خلکو کښې احساس جذبه او شعور پيدا شوی ؤ او ورځ په ورځ په زياتيدو وو حکومت زمونږ دې تحريک ته کتلی نه شو او هيڅ وخت زمونږ د تحريک د بربادۍ نه قلا د نه وو او په دې کوشش کښې وچه په څه چل زما د ورې او کلي په کلي ګرځيدل بند کړي، اخبارا تو کښې يې زما برخلاف غلطي پراپيګنډې شروع کړې او مها تما جي ته يې هم زما متعلق د روغ ولیکل. ليکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاتماجي د دوی د دروغو په دام کښې رانغی. ماچه څه وخت د کوهاټ د دورې بیا اراده وکړه او خه خدايي خدمتګار مې هم د خان سره کړل نو د سرحد حکومت والیسرای ته ولیکل چه د کوهاټ علاقه زمونږ د فوجي پوټی مرکز دی او که چیرې ده یکښې دوره وکړه نو بیا به دا علاقه زمونږ د لاسه لاړه شي نو په کار دادی چه دی ګرفتار کړې شي. والیسرای مهاتما ګاندهی ته ولیکل چه مونږ هغه ګرفتار ودو. مهاتماجي جواب ورکړو که چیرې هغه ګرفتار وی نو زمونږ او ستاسو چه کومه صلحه شوې ده هغه به ماته شي. ماچه د کوهاټ دوره شروع کړه نو حکومت څلور افسران ما پسې مقرر کړل یو د کوهاټ ډپټي کمشنر بل پولیس کپتان ورسره د علاقې مجسټریټ او بل د بارډر پولیس یو پیرنګی چه هغه به ډیر ښه پښتو ویله چه کلی به کلی وګرځی او خلک دې ته تیار کړی چه نه ما کلوته پرېږدي اونه ما ته راجمع شي لیکن په دې هم څه ونه شو مونږ چه به کوم کلي ته تلو دوي به زمونږ نه مخکښې تللي وو خلکوته به یې وې چه ګوري هغه راروان دی چه کلي ته یې پرې نږدي خلکو به ورته وې چه دا مونږ څنګه کولی شو تاسو یې بند کړئ زمونږ کلوته یې مه راپرېږدئ بیا به یې ورته وې چه خبری ورسره مه کوئ جلسې له مه ورځئ په یو کلي کښې ترمونږ جلسه وه دوی هم هغې جلسې له راغلل ما خلکوته تقریر کولو چه مونږ خدايي خدمتګار یو او مونږ د خدای د پاره د دی قام او ملک خدمت ته ملا تړلی ده، دا ملک او دا قوم خو ستاسو هم دی تاسو کښې څوک شته چه مونږ سره په دې خدمت کښې شریک شي نو یو پاڅیدو چه زما نوم ولیکه بل پاڅید وچه زما نوم ولیکه، بل پاڅید وچه زما نوم ولیکه، دا دباز دی پیرنګی ما ته رانږدې شو او ما ته یې ووې به دې خلکو دې څه چل کړی دی دا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ دیو سپاهي نه دومره یرېدل چه دهغه په مخکښې به یې کلمه نه شوه ویلې اوس دا دی مونږ ولاړیو او د دوی په زړه کښې هیڅ ویره نشته لګیا دي خپل نوموړنه دخدایي خدمتګارۍ دپاره پېش کوي ماورته ووې چه داخپل پړی ما نه دی کړي، دا پړې تاسو کړې دی داستاسو د ظلم نتیجه ده. چو

بیا مونږ بنوته لاړو لکی مروت او درسره نورو کلو کښې او سرای نورنګ کښې مو جلسې وکړې، جرګې مو جوړې کړې او خدایي خدمتګار برتې شو. دبنو ښاوخوا ټول کلي مو وګرځل جلسې مو پکښې وکړې او خلک مو د حقیقت نه خبردار کړل بیا مو هاتي خېلو کښې دیوې لوئې جلسې انتظام وکړو او په هغه مقام مو جلسه وکړه چه کوم ځای چه په ۱۹۳۱ع کال کښې پیرنګیانو په یوه لویه جلسه ګولۍ چلولې وې او ډېر خلک شهیدان شوي وو او ګرفتار شوي وو او قید شوي وو. مونږ چه هاتي-خېلو ته نږدې شو نو ماله دپولیس یو افسر یوسل وخلورڅلویښت دفعه ( دقانون یوسل وخلورڅلویښتمه ماده ) کښې نوټس راکړو چه هلته به نه ځې ما دهغه د تعمیل نه انکار وکړو او نو بیا مې داخیال وکه ما دې که زه جلسې ته ځم نو جلسه به بنده کړي نو بیا مې دافیصله وکړه چه خپل ټول ملګري مې هاتي خېلو ته ولیږل او زه لټمبر ته لاړم او د لټمبر دخان محمد افضل خان په حجره کښې اوده شوم. ما سبا محمد افضل-خان سره زما د ملګرو د جلسې نه واپس راورسېدل حالات یې راته بیان کړل چه ډېره ښه جلسه وشوه او خلکو په حکومت چه ترې یې د دې جلسې نه منع کړې، لعنت او ملامت ووې او بیا واپس کور هاتوته راغلو او کومه علاقه چه دغلته زمونږ نه پاتې وه هلته مو جلسې وکړې جرګې جوړې شوې او خدایي خدمتګار جوړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګانډهي جي په بلنه باردولي ته تګ:

چه د کوهاټ مبارزه له راغلو نو خبر شو چه د پېښور نه خبر راغلی دی چه مهاتما جي
غوښتی یم. لیکن په کوهاټ کښې صرف د هغو علاقه پاتې وه ما ویل چه د کوهاټ
دوره ختمه کړم نو بیا به لاړشم مونږ. د هغو دوره وکړه ځای په ځای جرګې جوړې
شوې نو بل استازی راپسې راغی چه ته ګانډهي جي ډېر زر غوښتلی یې او لیکلي دي چه
چه ټول کارونه پرېږده او فوراً باردولي ته راشه زمونږ کار تقریباً ختم شوی و. زه سبا
سحر له پېښور ته لاړم او د پېښور نه باردولي ته روان شوم چه بهوپال ته ورسیدم نو د نواب
صاحب اې. ډي. سي. شعیب قریشي صاحب چه زمونږ د خلافت ملګری و
او د مولانا محمد علي جوهر زوم و ولاړ و ماله راغی جوړ تازه مو وکړل زما هم ډېر
مهربانه وه او ماته یې ووې چه راځه سفر کښې به ستړی شوی یې او نواب صاحب
وایي چه لږ ارام وکړی او بیګاله به د هغه میلمه یې ما ورته ووې چه هلته به ګانډهي
جي زما انتظار کوی د نواب صاحب شکریه او په واپسي کښې به ورشم خو هغه پرې
نه ښودم نو زه ورسره د ریل نه راکوز شوم او ورسره روان شوم چه مهمانخانې
ته ورسیدم نو شوکت علي صاحب هم هلته موجود و او په سباله نواب صاحب راته
ووې چه تا به واپس ای له بوزو هغه سره به دې لیده کاته وشي او چه ته څه غواړې
هغه به درکړي باردولي ته مه ځه. خو ما د هغوی دې خبرې سره اتفاق ونه کړو
هغوی په ما ډېر زور واچو خو کارونه شو سباله تری زه رخصت شوم او باردولي
ته روان شوم تیسن له سردار پټیل او دیوی داس راغلي وو. تیسن ته نزدې د
باردولي اشرم و دا د ګانډهي جي اشرم دی او دې کښې همیشه او سېږ ګانډهي جي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره می ملاقات وشو څه خبرې مو وشوې کرمې وه او زه سفر هم په تهر ډه کلاس کښې کوم. ومی لمل او جامې می بدلې کړې، چه ما ته زنګېر شو نو کاندهي جي سره هوا خوري له روان شوم. د سي. آی. ډي یو مسلمان انسپکټر زمونږ د خبرو اورېدو دپاره مونږ پسې روان وخو چه څه وخت ورته زمونږ فکر شو نو شرمنده شو او واپس شو کاندهي جي ما سره د سرحد بحث څه لږ ډېر په ورځ کښې یو ځل کولو، لیکن دا خبره یې لا را ته کړې نه وه چه د حکومت په شکایت مې را بللی یې. یوه ورځ یو مسلمان پټیل (نمبردار) زما د ملمستیا د پاره راغی او کاندهي جي ته یې ووې چه که ته اجازه کوې نو سبا له به دی زما میلمه شی هغه په ډېره خوشحالی اجازت ورکړو او د تلو نه وخت کښې ورته ووې چه په ده باندې ښې غوښې وخوروه، دلته خو مونږ په دالو نومړ لړو هغه زه چیل کورته بوتلم د هغه ډېر ښکلی کور و او هغه ډېر په ښه حالت کښې و ډېر محبتی سړی و د هغه هغه اخلاص او محبت به راته هېر نه شی.

## دیوی داس سره دوره:

دیوی داس کاندهي د کاندهي جي په مشوره د باردولی دوره را باندې شروع کړه او خومره اشنا یونه چه دلته وو هغه ټول یې را وښودل. د دې اشخاصو نو (تربیت گاه) هغه ساده زندګی زما ډېره خوښه شوه تر دې پورې یې په ما اثر وکړو چه زما هم دا خیال پیدا شو چه د خدایی خدمتګارو د تربیت د پاره به زه هم داسې اشخاصو نه جوړوم ددې ځای خلکو د ازادۍ په جنګ کښې ډېره قربانی ورکړې وه او تر او سه پورې د ډېرو خلکو جایدادونه چه لیلام شوي دي هغه لا هغسې د نورو خلکو په قبضه کښې ـ يې. دلته د مسلمانانو او هندوانو تعلقات هم ډېر ښه وو او د حکومت په ډېرو کوششونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او دا ووبه** هم مسلمانانو د هند وانو محکې اخيستې نه وې او که څه نا څه يې اخيستي وې هغه يې هم واپس کړې وې ما چه کوم کوم ځای تقريرونه وکړل هغه داسې وو چه مسلمانانو، دا ملک د هندوانو او مسلمانانو دواړو دی او دوی دا زادی د پاره تاسو دواړو له اتفاق په کار دی او که په چاکښې دا همت نه وي چه د ازادی په جنګ کښې حصه واخلي نو دومره خو ورله په کار دی چه د ازادی په جنګ کښې چه د چا محکې ارمالونه ليلام شي چه هغه وانخلي او که چيرې چا اخيستې وي نو مناسب دا دی چه اوس يې ورته پريږدي . مسلمانانو ته مې ووې چه وينس شئ که چيرې او ده پاتې شوئ نو دا کوم انقلاب چه راروان دی دې کښې به لا هو شئ ؟ انقلاب سيلاب دی او هميشه او ده قومونه وړي او وينس اباد وی تاسو وينس شئ او منظم شئ او د انقلاب نه ګټه واخلئ .

څه ورځې پس جواهر لال هم دلته راغی او بيا مونږ تول سره د ګاندهي جي بمبئی له لاړو او د بمبئی نه بيا زه ګاندهي جي او ديوی داس ګجرات له راغو او دلته ګاندهي جي ديو بل نوی اشرم بنياد کښيښود . دلته نزدې د مسلمانانو هم يو عربي مدرسه وه چه هغوی زمانه خبر شو ما پسې راغلل او زه او ديوی داس ورسره د هغې مدرسې کتو له لاړو . په دې مدرسه کښې ډير لښتانه طالبان هم وو د هغوی په ليدو ډير خوشحاله شوم او ډيری خبرې مې ورسره وکړې . د مدرسې مقام او احاطه ډيره ښکلې وه تول طالبان او استاذان محبتيان وو او ما سره يې ډيری د محبته ډکې خبرې وکړې د طالبانو په اصرار ما هغوی ته مختصر تقرير وکړو او ورته مې ووې چه زه تن ډير خوشحاله يم چه ستاسو سره مې ملاقات وشو ځکه چه زما ستاسونه ډير توقعات دي که تاسو د دنيا تاريخ وګورئ نو قومونه د طالبانو د قربانو په ذريعه ازاد شوي دي . ديو بند اس

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي هم مجبوره کړو هغه هم ورته يو مختصر تقرير وکړو بيا بېرته راغلو او ګاندهي جي سره يو ځای شو بېلونو: مد راس ته لاړو او خواوشا په ټوله علاقه کښې وګرځېد و. زما ډېرې ورځې وشوې او دامې خواهش و چه واپس لاړ ی خو ګاندهي جي زه نه پرېښودم او پوهولم يي هم نه او ما سره به يي د سرحد متعلق خبرې کولی او بيا به يي حکومت سره خط وکتابت کوو چه په دې کښې ما په اخبار اتو کښې وليدل چه د ميا احمد شاه او عبد الاکبر خان او علي ګلخان و پير بخش د وی په مينځ کښې جګړه پيدا شوې ده او ډله بازي جوړه شوې ده او جبر ګه دوه ځايه شوې ده. ددې په ليدو زه خفه شوم ولې چه زما د ډله بازۍ او نفاق نه ډېره کرکه کېږي او زما دا يقين دی چه کوم قوم کښې نفاق او ډلې وي هغه خپل منزل ته رسېدلی نه شي او نن چه مونږ غلامان يو ددې وجه نفاق دی او پرې جنبې دي ما ګاندهي جي ته خپله اراده ظاهره کړه چه زما په غير حاضرۍ کښې دا واقعات پيدا شوي دي ماله تلل په کار دی نو ګاندهي جي ليس له دي نه د وايسرای قولي قصي راته وکړې. ما ورته ووې چه دا ټول دروغ دي ته وايسرا ته ولیکه چه دا ټول ـ زما بر خلاف د دروغو پراپيګند دی او که ستا يقين نه کېږي نو مونږ به هم در شو او هغه خلک به راوغواړه چه تا له چا دا ډېرې درکړې دي چه رښتينولی (سپيناوی) ور سره وکړم. ګاندهي جي زما ددې تجويز سره اتفاق وکړو چه زه به ورته وليکم چه ته منصف شه ايي هم وايسرا ته وليکل چه لاړ د ادون ما بانډې ډېر تاکيد کړی وه چه تا ضرور سرحد ته لاړ شه نو که ته ماله اجازه راکوې نو زه به هم سرحد ته لاړ شم. د وايسرای نه دا جواب راغی چه ستا سو د دا تلو ضرورت نشته دی او نه زه دا مناسب ګنم چه په دې وخت کښې ته سرحد ته لاړ شې نو ګاندهي جي ما ته ووېل چه زه پوه شوم ته په حقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی ، پرتنګیان دانه غواړی چه خپل کارکوه او بیایی دیوید اس ته ووې چه دی احمد آباد له بوځه او دهغه ځای هغه اشرام ورته وښییه او دهغه ځای خلک چه هلته دي هغه ورته وښییه . زه او دیوید اس احمد اباد له روان شو او چه هلته ورسیدو نو خورشید بهن سره مو په تیبس ملاقات وشو او دی داره هغه اشرام له لاړو .

د احمد آباد ډیر مزیدار او ښکلی اشرام دی او ډیر عجیبه ځای کښی دی او دیولوی خور په غاړه اباد دی تول اشرام کښی دیوید اس دکسي زلهم د اشرام نو ښځی زمانه چاپیره شول او ما سره یی ډیره مینه محبت ښکاره کړه ما سبام چه زه څه وخت دلمونځ نه فارغ شوم نو ددوی تول ماله راغلل او دسره متعلق یی ما نه سوالونه شروع کړل چه دبعضی سوالونو په اورېدو به زه حیران شوم ولی چه دهغو به هیڅ بنیاد نه وو هغه به صرف زمونږ د بد نامولو پراپیګنډه وه . دخورشید بهن داخواهش وچه احمد اباد ته نژدې یو پښتون پیر دی او دهغه ډیر مریدان دي او ډیر رسوخ لري نو که چیرې هغه مونږ سره ملګری شی نو دهغه په ذریعه مونږ ډیر څه کولی شو ماسره هغه پیرله لاړ شه ما ورته ووې چه زما خو هیڅ انکار نشته خو دا کار ددی قسم خلکو نه دی او نه یی ددی قسم خلک کولی شی زه ددی قسم خلکو پسی ډیر ګرځیدلی یم . دیوید اس هم زما دخبری تائید وکړو نو پس له هغه یی هغه خبره پریښوده . ما سره ددوې ډیری خبری وشوې او زمانه یی ډیر تپوسونه وکړل او ما سره دخورشید بهن ډیر بحث مباحثی نه پس یی داخیال پیدا شو چه زه ستا سره سرحد له ځم او مونږ چه څه وخت واپس کاندهی جی له روان شو نو داهم دا مره روانه شوه او کاندهی جی ته یی ووې که چیری ته ماله اجازت راکوې نو زه دخدمت دپاره سرحد له ځم نو هغه اجازه ورکړه او ورته یی داووې چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي خبره سوچ غور او فکر وکړه . احمد آباد باندې ښېړ. سوه کاله مسلمانانو حکومت
کړې دی دلته د مسلمانانو ډېرې ښې ښې ابادۍ دي موږ. هغه د پخوانو بادشاهانو آبادې
وکړې دلته ډېرې کارخانې دی چه کپړې پکښې جوړېږي هغه موږ وليدې او بل پکښې د هند
وانو يولوی قومی کالج دی چه هغه ته « ودياپيټ » وايي د هغه ليد ولد هم لاړو وَد ياپيټ والو
زه مېلمه کړم او يوه شپه مې ورسره وکړه ، دا ډېر ښکلی کالج دی او ډېره ښکلې ابادی ده
دی کالج ډېر ذات قوم پرست هلکان پيدا کړي او روزلي دي او هغوی د هندوستان
دازادۍ دپاره ډېرې قربانۍ ورکړی دي چه څه وخت ما و د ياپيټ کالج کتلو نو يو هلک مې
وليد و چه زور ور دانت يې وهلو ما تپوس وکړ و چه دا څوک دی هغوی وې چه دا د
کاندهي جی نوسی دی . په کالج کښې هلکان نه وو د تحقيق نه راته معلومه شوه چه هغه
وتول نن په ګجرات کښې خواره شوي دی او کلي په کلي ګرځي نو زه پوه شوم چه دا په رښتيا
قومی کالج دی او ځپلو طالبانو کښې يې قومی جذبه پيدا کړې ده او دا دوی له چه داکوم تعليم
ورکيدې شي دا رښتينی تعليم دی .

په احمد اباد کښې ډېر لېښتانه دي هغوی سره مې هم ليده کاته وشو هغوی
هم د خدائي خدمتکارۍ په حقيقت پوه کړل په اخری ورځ د احمد اباد د هند وانو
مسلمانانو يوه لويه جلسه وشوه په زړګونو ښځې ، نر ، پکښې شريک شول ، هغوی ته مې يو مختصر
تقرير وکړو د هغوی د هغې مينې محبت شکريه مې اداکړه او ورته مې ووې چه موږ يوه
ورور ولي جوړه کړې ده چه د هغه نوم خدائي خدمتکاري ده خدائي ته خو د خدمت
ضرورت نشته د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی او موږ که هندوان
دي او که مسلمانان يو د خدای مخلوق يو د ښمنانو ديو بل نه جدا کړي يو خو په حقيقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې یو یو. جلسه ختمه شوه او مونږ واپس ګاندهي جي له راغلو. ګاندهي جي له د والیسرای
لاړ د ولنګډن ځواب راغلی و زما په لیدو په خندا شو چه ته بالکل رښتینی یی او
حکومت دروغجن دی. حقیقت دادی چه حکومت د خدایي خدمتګارو د تحریک
نه یوېږي او دا تحریک نه غواړي. زه پوه شوم او اصلیت راته په صفه شان معلوم شو
والیسرا وایي چه دلته مه راځئ او ماته هم لیکلی چه تا ته د سرحد د تلو اجازه نشته نو ځه
تاسو خپل کار کوئ حقیقت دا و چه د حکومت د دی پراپیګنډې نه مطلب دا و چه
د ګاندهي جي او زمونږ په مینځ کښې مخالفت پیدا کړي ما ونیسي او زمونږ تحریک ختم
کړي، او چه حکومت پوه شو چه ګاندهي جي په هیڅ شان د دوی نه یرېږي دي نو مونږ
د هغو د پنجو نه بچ شو، دوی ته معلومه شوه چه که مونږ دی ونیسو نو د کانګرس
د اسوله ماتېږي. زمونږ د پرګسان دوی د ایکسو چو الیس په دفعه (د قانون د
یوسل و څلور څلویښتمې مادې په حکم) نیولي وو. د دوی مطلب خو زما په نیولو کښې
وخو دی کښې ناکامیابه شول. ګاندهي جي زه یوه میاشت ځان سره وساتلم او چه
د هغه تسلي وشوه نو زه یې رخصت کړم. دیوېداس هم ما سره د احمد اباده پورې
راغی زما د هغه ځای نه د روانېدو په وخت د مهاتما جي سکرېټري مهادیو دیسایي
صاحب راغی او ماله یې یوه لویه پرېږه راکړه چه هغه مهاتما جي ته زمونږ د چارسدې
اسسټنټ کمشنر لیکلی وه دا هغه پرېږنګي وچه حبیب نور پرې حمله کړې وه او هغه
پرې ډېر پنځه شوی و. د بابړې د دړامې قصه هم پکښې وه هغه راته ووې چه د ګی
ځواب مهاتما جي له راولېږه ما چیټي حبیب کښې واچوله او ګاډي کښې راروان
شوم یوه شپه مې اجمیر کښې، یوه شپه مې جیپور کښې او بله شپه مې دېلي کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او بیا کلي ته واپس راغلم .

## بابوړه کښې د ډرامه او زمونږ کمزوري ملګري :

څو مره چه په حکومت مونږ سره سختي کوله هومره به زمونږ خلک پوهیدل او
او چتیدل او څومره چه به زمونږ تحریک ترقي کوله او خدايي خدمتګار زیاتیدل هومره
به حکومت خپل زور او ظلم زیا تولو . دچارسدې او بابړې بعضي ماشومانو هسې د
تو تو یوه ډرامه وکړه لیکن حکومت خو بانه لټوله زه په دوره وم دپیټي کمشنر زمونږ سکرټر
عبدالاکبر او احمد شاه او عبدالله شاه وغوښتل او په دوی یې دومره رعب واچولو
چه عبدالاکبرخان د ډرامې والو نه خپله بیزاري څرګنده کړه داجرئت یې ونه کړو چه
دپیټي کمشنر ته یې ویلي وای چه داخو د هلکانو لوبه وه ، داسې لوبې هلکان تول عمر
کوي خو حکومت نه دومره اهمیت نه ورکوي . حکومت ته چه زمونږ کمزوري معلومه شوه
نو فوراً بله ورځ یې چارسدې ته فوځونه او توپونه راغلل او د ډرامې هلکان یې ګرفتار کړل
او فوځونو یې د پرانګو بابړې او چارسدې په کوڅو کښې ور خوشي کړل . بله داچه په یوه
عامه جلسه کښې دچارسدې په جامع مسجد کښې میا احمد شاه په دې هلکانو ملامتیا
و ویله او خپله بیزاري یې ترې ظاهره کړه چه ددې نتیجه دا شوه چه حکومت هغوی
ونیول او یو یو یې بوکال او دوه یې دوه نیم کاله په دې دومره معمولي خبره قید کړل .
زه چه د دورې نه واپس راغلم نو پرانګو ، بابړې او چارسدې له لاړم خلکمې جمع کړل او د
صبر تسلې یو تقریرمې ورته وکړو او د حکومت په دې قسم پالیسي مې نکته چیني وکړله چه
داخو د هلکانو یوه تو قروه حکومت ترې یوه جوړه کړه . زمونږ خلکو کښې چه خفګان
او مایوسي پیدا شوې وه هغه لیرې شوه او تسلي یې وشوه . زمونږ په ملګرو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیتی کمشنر دومره یره او هیبت راوستو چه ماته په دوه پښو شو چه ته تهوله ورځ
دوری کوې ، جلسی کوی او په هغو کښی غیر ذمه دارانه تقریرونه کوې او خلک د دومره
خدایی خدمتکار شول چه په هغو قابو موندل گران شو ، په دې وجه مونږ د تحریک
نه استعفا کانې ورکوو . چونکه ددې زمونږ زاړه ملگری وو نو زما د دوی استعفا
کانې خوښی نه وې نو دا فیصله مو وکړه چه مردان ته لاړ شو او قاضی صاحب عطاءالله
خان او ثمین جان سره دې کښی مشوره وکړو . مونږ لاړو او د قاضی صاحب سره
مو شپه شوه د شپې مو داخبری شروع کړې زما عجیبه ملگري وو په کارخوداو
چه د شپې ورځې په کار کولو ماته داد راکړې وای خوزه یې ملامته کولم . ددې تولو
خواهش دا و چه زه دې دا جلسی پرېږدم او د دوی په شان په قلاره دې کښینم
ما ورته ووې چه کار راباندې مه پرېږدئ او چه تاسو څنګه وایئ هغسې کار به کوم
تاسو ماله یو لیکلی تقریر راکړئ زه به هم هغه په جلسو کښی خلکو ته کوم لیکن هغوی دا
هم ونه منله او راته یې ووېل که ته دا جلسی بس کوې نو مونږ استعفا کانې ورکوو قاضی
صاحب ، ثمین جان او د هغوی نورو ملگرو د هغوی ملگرتیا کوله مادوی ته ووې
چه دکاندهي لارډ اروِن سوله چه ده دا عارضی سوله ده او د ارونډ تیبل کانفرانس
چه دې دا کامیابېږي نه او دا چه کله نا کامیاب شو نو د تولو نه اول به ما نیسی او که
مونږ تقریر وکړو او که ونه کړو که جلسی وکړو او که ونه کړو نو هم ترې خلاصېدې
نه شو نو دا مونږ له خدای یو وخت راکړې دې په کار دی چه ددې نه فایده اوچته
کړو او شپه او ورځ په ځان یو کړو او په دې خیل قام پسې وگرځو او چه دا تاسو
دا وایئ چه خیل تقریر کښی دا خبره مه کوه چه د پېرنګی یو ښکو مومات کړې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پاچې پښتنو ملا وتړي چه دا بل ښکرلي هم مات کړو» نو اوس تاسو ماته ووايئ
چه زه دا ونه وايم نو څه ووايم؟ هغوی ماته وويل چه ته وايه چه مونږ حکومت ته
لاس ورکړی دی ما ورته ووې چه زه ستاسو نه پوښتنه کوم چه ايا په دې خبره
به پښتانه پوه شي او کومه جذبه چه زه پيدا کول غواړم هغه به پکښې پيدا شي؟
د هغوی خبرو ته مې مجبوراً غاړه کښېښوده چه دوی رانه جدا نه شي حالانکه
دا خبره ماته ښه نه ښکاريده او عجيبه خولا داوه چه زمونږ دوه جلسې مقررې
شوی وې او د هغو اعلانونه هم شوی وو يوه سودم کښې او بله د خليلو په سپين
وړی کښې رانه لي ووې چه دې له به هم نه ځې، ميا عبدالله شاه او جعفرشاه
ووې چه مونږ خو استعفا ورکوونن دی او که سبا ولې چه حکومت مونږ گرفتار
وي. مونږ ډېره تسلي ورکړه خو رضا نه شو بيا مونږ ورته ووې چه ښه ده استعفا
ورکړئ خو چه اخبارونو کښې يې چاپ نه کړئ ځکه چه حکومت به د دې نه ناجايزه
فايده اوچته کړي خو هغوی دا هم ونه منله د هغوی دا خيال ؤ چه د دې نه
مونږ حکومت خبروو چه مونږ د دې تحريک نه ويزاره يو. زمونږ دې نورو
دوستانو ورته ووې چه دا خبرې د حکومت نه هسې هم پټې نه پاتې کېږی،
خو بيا هم هغوی په اخبارونو کښې اعلان وکړو. شپه ډېره تلې وه د دې
خبرو نه پس مونږ اوده شو خو دغه شپه په ما ډېره بې ارامه تېره شوه او
تکی خوب مې ونه کړې شو ما دې خپل بد نصيبه قوم ته کتل چه اول خو دوی
د خدمت څوک نه وی او که څوک يو نيم پيدا هم شي نو څوک د خدمت موقع نه
ورکوی. سحر چه زه او قاضي صاحب ذکر حُبد و د پاده لاړو نو ما قاضي صاحب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخبره وکړه چه ښه ده چه تاسو دانا دوا په ماکوئ نوچه دقیامت په ورځ حساب
کتاب کیږی نوزه به ستاسو ګریوان نه لاس اچوم او ددې ټولو خبرو ذمه وار به
تاسوئ او ستاسو ددی فیصلی نقصان چه قوم او ملک ته رسیږي ددی ذمه
واری به هم ستاسو په سر وي نو قاضی صاحب ماته ووې چه زه خه وکړم ما ته
هم داخبره مناسبه نه ښکاري خو که نه یې منو نو دوی تښتی او مونږ په ډاکه
پریږدي. چه چای موڅکله نو قاضی صاحب دوی سره دصودم او دسپینی
وړی ذکر وکړو او دوی یې په دی رضا کړل چه دې جلسو له دی دی لاړشی
خو په دی شرط چه تاسو ورسره لاړشئ او چه تاسو ورته څنګه وایئ هغسی تقریر
به کوي یوی جلسی له راسره میا صاحب احمد شاه او بلی له راسره عبدالاکبر-
خان لاړل. دصودم په جلسه کښې چه قوم کومه سپاسنامه واله واکړی وه
نو په هغی کښې دا ذکر هم وچه تاسو دپښتنو دشان سره چه دیوک خدای-
خدمتګار واعلان کړی ؤ دالږ دي مونږ ددی نه زیاتو ته تیار یو. ددی
علاقی خانان او ټول خلک دقاضی صاحب دکار په برکت مونږ سره دملګرتیا
دپاره تیار شو. دسپینی وړی جلسه چه شروع شوه نو ډیری ښځی هم دی جلسی
له راغلي وې چه په دی کښې یو هوایي جهاز راغی او په دې ښځو راغوټه شو
دېږی ښځې وتښتیدی لیکن ماچه ورته اواز وکړو چه تاسو څنګه پښتنې یئ
چه دهوایي جهاز نه تښتئ نو ټولی واپس شوې، هوا باز خپل جهاز د ېرځله
دهغوی په سر ونو تیر راتیر کړو چه ښځې ونه یریدې نو مایوسه شو او واپس
لاړ وچه جلسه ختمه شوه نو زه دمیا صاحب سره کلی ته راغلم نوری دوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتي شوی او زه دکلی نه بهرته تلی نه شوم دخدای دي فضل ته گوره چه زما تلل
راتلل بند شو نو بیا خلکو اتمانزوله تلل راتلل شروع کړل زما کار جاری شو او ډېر
بنکېلو میا صاحب چه دلویي جرگی سکوټرو دخصوصي معاملاتو دفیصلی دپاره
یی لویه جرگه اتمانزوله راوبلله چه کار دختم شونو پیر شهنشاه او سردار دام سنگه
ماته ددوي کولو ووي ماورته ووي چه زما خو عذر نشته خو صاحب عبدالاکبر
خان او احتشام شاه میا صاحب زه د دوروبه منع کړی یم تا سو که ما غواړئ نو دهغوی
نه اجازت واخلئ: هغوی میا صاحب مجبور کړو او ماله یی اجازت راکړو او هغوی
سره ددوری دپاره روان شوم. ما دکوهاټ او بنو کلی په کلی دوره وکړه او
ډېری ورځی می پکښی تېری کړي ډېری جرگی جوړی شوی او ډېر خلک خدایي
خدمتگار شول. چه دهغه ځایه واپس راغلم نو سید فضل لطیف په هری چند
کښی دلویي جلسی انتظام کړی واو تولو مومند و او دا نیزوله یي دعوتونه لیږلی
وو. هغه زه هغی جلسی له بوتلم ډېر مخلوق جلسی له راغلی وو جلسه وشوه ما
پکښی تقریر وکړو چه: ای پښتنو وروڼو مونږ تول یو قوم یو او د یو بابا اولاد یو
زمونږ مثال دیوی ونی دی چه دي کښی ډېری څانگی وي خو مونږ یي یو وي
او چه څوک دهغی ونې نه یوه څانگه پرې کوی نو دهغی ونی سوري ته نقصان رسي
او که دهغی ونی مونږ وچ شي نو ټولی څانگی یي وچی شی نو نن ورځی پیرنگیان
لگیا دي دغه څانگی ورو ورو پرې کوی، تا سو ولیښ شئ که دغه څانگی ختم شي
نو ستاسو بچي به په نور پاتی شي او دسوری به یي ورک شي او که چېری دغه
مونږ وچ شو نو دغه ټولی څانگی به یي وچی شي یوه به هم پاتی نه شي، زه تاسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایم چه د بمن لگیا دی تاسو ودکوی او په دی کوشش کښې دی چه دا مونږ وچ شی که تاسو نه دا مونږ وچ شو نو بیا به وړک شئ. پاڅئ! داچیل کودجوړ کړئ دا پل بېلوالی پریږدئ یو قوم شی، که یو قوم شوئ نوستاسو دنیا به هم آباده شی او آخرت هم. چه جلسه ختمه شوه نو زمونږ د تنګی کارکنان کلی ته رخصت شول او زه او فضل لطیف باچا بل ډګی ته اوبیا دانی زوته لاړو او دهغې علاقې ددوره مو وکړه. چه دهغه ځایه واپس شوم نو غلام محمد خان د لوند خوړ دجلسې انتظام کړی ؤ زه او میا احمد شاه او عبد الاکبر خان هلته لاړو. دلته هم ډیره لویه جلسه وشوه او ډیری زنانه ورله راغلی وې او په هغه جلسه کښې ما سره زنانو دا وعده وکړه چه: «دکه د ظلمونه پوره نه شوه - مخرافغانه جینکی به دې ګټینه» جلسه چه ختمه شوه نو میا احمد شاه او عبد الاکبر خان واپس راغلل او زه یې هغوی ته د بائیزو د دوری د پاره پرېښودم او غلام محمد خان سره پاتې شوم. مونږ د بائیزو او شموزو دوره وکړه. زه د بائیزو د کارکنانو نه ډیر خوشحاله شوم ځکه چه هغوی پخپله علاقه کښې ډیر کار کړی وو او د تولونه زیاته زما د خوشحالۍ خبره دا وه چه کوم ځای به جلسه وه او چه کومې ښځې به په کوټو (باغونو) جلسې ته ناستې وې نو هغو سره به ځرخې هم وې او هغوی به د جلسې شروع کېدو نه وړاندې څرخې کولې بله دا چه غلام محمد خان او زرین خان به زما دارام ډیر فکر کولو د دوی په برکت به زه په ارام وم، بله دا چه غلام محمد خان او زرین خان په زنانه وکښې ډیر کار کړی و. په لوند خوړ کښې د ښځو جلسه وشوه، په زرګونو ښځې ورله راغلی وې او ما له یې سپاسنامه هم راکړه او تقریرونه یې هم وکړل په دی زه خوشحال شوم ولی چه بغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځونه یو قوم ترقي کولی نه شي ولې چه زمونږ د کور او بچو تول پرورش د هغوی
په لاس کښې دی او زمونږ د کاډې چه کومې دوه پایې دي نو یو سړی دی او
بله ښځه ده نو تاسو پخپله خیال وکړئ چه یوه پایه پنچر وي نو کاډی به څنګه لاړ شي؟
په سپاسنامه کښې دوی دا مصرع لیکلې وه: «لا که د ظلمونه پوره نه شوه ـ فخر افغانه
جینکۍ به دې کښېنه» له دې ځایه زه او غلام محمد خان د یوې ورځې د پاره
د سفزوله لاړ، هلته د یو سفزو یوه عظیم الشانه جلسه وه، زرګونو خلک او خدایي
خدمتګار جمع وو داسې لویه جلسه ما بل ځای لیدلې نه ده، ما په جلسه کښې تقریر
وکړو چه خدایي خدمتګار ځان ته خدایي خدمتګار وایي، لیکن خدای ته د
خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی او د خدای
مخلوق یوازې مسلمانان نه دي تول د هغه مخلوق دي، که هندو دی که سکه دی
که عیسایي دی زمونږ فرض د دنیا نه ظلم ورک کول دي او مظلوم د ظالم نه خلاصول
دي. مونږ به د هغه قوم او حکومت مخالفت کوو چه څوک د خدای په مخلوق ظلم
کوي که ظالم زمونږ ورور او مسلمان هم وي. بله دا چه زمونږ خدمت به د خدای
د پاره وي د څه غرض د پاره به نه وي مونږ له چه څوک څومره تکلیف را کوي زور
زیاتی را باندې کوي مونږ به بدل نه اخلو بلکه مونږ به صبر کوو او د هغه سړي،
قوم یا حکومت د پوهولو کوشش به کوو، چه جلسه ختمه شوه مونږ د شپې د ارام
د پاره سودم ته راغلو دلته زمونږ ملګرو امیر محمد خان او مهردل خان او شاکر الله
چا او د هغوی ملګرو په دې علاقه کښې ډېر ښه کار کړی و. دلته هم ډېره ښه جلسه
شوه او د دې ځای په زنانو کښې هم د ازادۍ جذبه پیدا شوې وه، د دې ځای د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوری دختمیدو نه پس دسلیم خان په ډیری ګیڼی د مومندو لویه لویه جلسه وشوه دعلاقی ټول مومند راجمع شوي وو او ددې تحریک په غرض او مقصد مې پوه کړل چه دا تحریک زمونږ د وروروالی او قامولی تحریک دی او مونږ دا کوشش کوو چه ټول پښتنو یوه وروروالی او قامولی جوړه کړو او ددوی ذړونو نه بغض، کینه، تربګنی او دښمنی لیری کړو چه اتفاق یکښی پیدا شی، محبت او همدردی یکښی پیدا شی او یو قوم شی. ای وروڼو! که یو قوم شوئ نو تاسو له خدای داسی ملک درکړی دی چه د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی خو ستاسو دبی اتفاقئ په وجه پری نور خلک مزی کوي او که تاسو یو قوم شوئ نو ستاسو ملک بل څوک خوړی نه شی ستاسو دنیا او اخرت به اباد شی او دا داسی ملک دی چه دې کښی به یوسل غرایب پاتی نه شی ټول به خانان شی.

دېره ښه او کامیابه جلسه وشوه او خلک د دی تحریک په غرض او مقصد پوه شول او د انقلاب زنده باد، فخر افغان زنده باد په چغو کښی جلسه خوره شوه. پیاله دی خطا مونږ منکا دړکی، ته لاړو خلکو سره کښېناستو. دلته زمونږ تحریک ښه روان دی او د پر مجلسونه موو کړل او بیا تری رخصت شو. چیل کلی ته لاړم په دې ډیر ګرځیدو او تقریرونو می اواز ناست وه سری می خوږ پاڅه نا جوړه شوم لږ ارام می وکړو لیکن زما په نصیب کښی ارام چیرته و؟ که زه به خلکو پسی نه تلم نو خلک ما پسی راتلل او ارام می نه شو کولی ما به ډیر پوهول خو نه پوهیدل، دا د هغوی هغه ډیر محبت وا او که خبری می ورسره نه کولی نو خفه کیدل به.

## د پیرنګیانو د جبر و تشدد زیاتوالی:

د سرحد حکومت دکاندهی لاړه اروان د سولی هیڅ پروا نه کوله، ورځ په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ي نوی نوی حکومته او قانونه یې مونږ ته کول اول خو خدايي خدمتګار په چونو بند وو چه نه
رځی. بیا یې په سړکو نو هم ګرځېدو ته نه پرېښوول، بیا حکم جاري شو چه څو مره جرنیلی
سړکونه دی د هغو ته څلور څلور میله یو خوا بل خوا جلوسونه جلسې او په ورو کښې ګرځېدل
ل دي، علاقه په علاقه د دې نه علاوه دفعه ایک سو چوالیس (۱۴۴ مه ماده) ولګېده او
لیس ته اختیار ورکړې شو چه تاسو پخپل حکم چه څوک نیسئ نیوی شئ. په صوبه سرحد کښې
لیس راج جوړ شو. یوه ورځ زه د خان بهادر میا مشرف شاه د زوی فاتحې له تلم څلور
ايي خدمتګار باور دې هم راسره وو چه د مردان د جرند وادې له ورغلم نو زمونږ
لید وسره یو پولیس سنتری راملګرې کړه او د عام سړک د دروازې زمونږ موټر ته
ه کړه بله لاره نه وه مونږ د موټر نه کوز شو او هغه ته مو ووې چه دا خو عام سړک دی
بله لار هم نشته مهرباني وکړه دروازه را ته لیرې کړه هغه را ته ووې چه سړک مرګ نه
نم ما ته خو دا حکم دی چه د سرخ جاموسړي په دې سړک مه پرېږده او که هغه څه ویلي
بیا یې په توپک وله توپک یې مونږ ته مخامخ کړو او را ته یې ووې چه که تلې شې نو لاړ
ئ! چا چه زه پېژندم هغوی ورته ډېر ووې چه دا سې مه کوه دوی ته دروازه لیرې کړه
ه ووی چه ما ته د خپل افسر حکم دی دروازه د دوی له نه شم لیرې کولی مونږ واپس شو
نهو په غاړه د پولیس لاین سړک ته را ووتو تا نهی دار مو د دې خبرې نه خبر کړو هغه
ووې چه زمونږ صاحب سره په دې کښې لیدل په کار دی ما ورته ووې چه دا خو
د صاحب حکم دی دلیل ونه به څه جوړ شي؟ تاسو فکر وکړئ چه ستاسو ما سره دا سې
ل وي نو عام و خدايي خدمتګارو ته به څو مره تکلیف وي؟
په کلو کښې لاړو کو څو کښې به پولیس بې ګناه خلک وهل سواره به را تلل کلو کښې ګرځېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خلکو سترونه به یې ماتول، لیکن مونږ د خپل طرف نه په سوله ټینګ اوسېږو او د داسې
کارمونه کولو چه په مونږ څه الزام راشي او دا ټول تکلیفونه مونږ په صبر او استقلال تېر ول
او بیا په اخره نوبت دې ته ورسېږو چه د وهلو په ځای به یې خدایي خدمتګار قتلول د
شپې به د دوی بار د ړلارل په دفتر کښې چه به د کوم خدایي خدمتګار دیوټي وه هغه به
یې ونیوه او چه څه به ورسره وه هغه به یې ترې واخیستل او بیا به یې په ټوپک ولیشتو. د هغه شان
یو صوبه دار چه زمونږ یو خدایي خدمتګار غریب بې ګناه په اور مرو کښې ولیشتو هغه ور ته
چغې وهلې چه زه یم او هغه یې شهید کړو، د کلو خلکو پولیس ونیول او ټوپکې یې ترې واخستې
خو زمونږ تحریک دومره اثر په پښتنو کړی و چه تشدد یې ورسره ونه که صرف رپوټ
یې وکړو او چه اسسټنټ کمشنر راغی نو ټوپکې یې ورکړې. پېرنګیانو ته د پر قهر په دې ورتلو
چه خلکو تشدد نه کولو پېرنګیانو به خلک مجبورول چه تشدد وکړي چه مونږ ورته بهانه
جوړه شي او بیا یې زړونه یخ کړو او برباد او تباه یې کړو. د خدایي خدمتګارو اصل
صبر و خپل ځانونه یې خدای ته سپارلي وو او په دې یقین و چه یوه ورځ به زمونږ د
مظلومیت رنګ راوړي. پېرنګیانو به ویلې چه مونږ د دې خلکو حیران کړي یو مونږ کو
کو چه دوی تشدد وکړي د تشدد علاج خو مونږ سره شته لکه چه مونږ سره د تشدد
د پره سامان دی خو د عدم تشدد د علاج راسره نشته.

The non violent pathan is more dangerous than the violent ) } پېرنګیانو به دا خبره ډېره کوله چه:
د عدم تشدد په اصولو روان پښتون د متشدد پښتون نه ډېر خطرناک دی (pathan

چه د کراچي د کانګرس د سالانه جلسې نه واپس راغلو زمونږ د صوبې لاټ صاحب
ما سره ملاقات کولو خواهش ظاهر کړو او ما له یې د بعضې کسانو په خوله خوابونه راولیږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن ماچه د پیرنګیانو زور او ظلم او زیاتي ته کتل نو زړه مې نه غوښتل چه لاټ صاحب
سره ملاقات وکړم او نه ما ته پکښې د قوم او ملک څه فاید ښکاریده ولې چه یو طرف ته یې
با وجود د سولې زمونږ د راهبرو قیدیان پرې نه ښودل او بل یې د لوبو توقو په ډرامه
زمونږ بچي ګرفتار کړل او په خدایي خدمتګارو یې توره تیاره جوړه کړې وه، په دې وجه
ما د هغه د ملاقات نه انکار وکړو لیکن زما د انکار با وجود حکومت اصرار کولو چه ما
سره دې خامخا وینې نو یوه ورځ زما مشر ورور ډاکټر خانصاحب راغی او راته یې
ووې چه د حکومت دومره اصرار دی نو ملاقات ورسره وکړه نو ما ورته ووې چه لاټ
صاحب زمونږ د جماعت د صلح او سکوت سره ولې ملاقات نه کوي ولې چه ذمه وار
خلک خو هغوی دي او زما خو څه ذمه واري نشته او که چیرې ما سره ملاقات کول
غواړي نو زه ورسره په دې شرط ملاقات کوم چه موجوده وخت کښې د حکومت
طرفه کوم مشکلات مونږ ته پېښ دي که د هغې حل کول په اخلاص او ایمانداری
سره غواړي. لیکن لاټ صاحب دې شرط ته غاړه کښېنښوده او وې ویل چه په
سیاست کښې ایمانداری نه وي نو ما ورته ووې چه ایمانداری نه وي زه داسې
ملاقات کول نه غواړم ځکه زما سیاست د ایمانداری دی په دې وجه هغه ملاقات
تي شو.

څه ورځې پس زمونږ ملګري میا احمدشاه صاحب د څه خبرې د پاره مسټر
قر ته چه د پولیس نائب جرنیل وُ او زمونږ د صوبې د سی. آی. ډي لوی افسر وُ
ی وا او بیا د واړه لاټ صاحب له لاړل، لاټ صاحب بیا هغه سره زما د ملاقات
خبره تازه کړه نو میا صاحب ما له راغی او ما ته یې ووې چه لاټ صاحب سره ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه ما ورته ووې چه ماته په ملاقات کښې څه عذر نشته خو زه یکښې څه فایده
نه وینم ستا او د هغه د ګفتګوی هم تسلي بخښ نه دی او بیا د پرانګرد قضیې متعلق د
خواب چه مونږ سره طاقت دی او بیا د لادي نه د بنډولو خواب چه هغه پښپایي خوښ
سوختنک و. د میا صاحب طبیعت زما په انکار خفه شو نو بیا یي جرګه را وغوښته او جرګې
ته یي دا مسئله پیش کړه او جرګې په کثرت رائې دا فیصله وکړه چه ملاقات کول نه دي
په کار په دې میا صاحب نور هم خفه شو لیکن په ډېرو منتو نو قاضي صاحب او علي اصغر
خان میا صاحب رضا کړو ، د فیصلې نه پس ما د هغه نه پوښتنه وکړه چه فردوس خان
او غلام محمد خانه تاسو د ملاقات په حق څنګه لاسونه وچت کړي وو هغوی په خندا
کښې ووې چه مونږ خو د دې ویرې نه لاسونه وچت کړي وو چه که نه وو سره ملاقات
ونه کړې نو مونږ به ګرفتار کړې او بیا به جنګ شروع شي.

د یو جماعت کارکنان چه د وېرې نه داسې کارونه کوي نو د هغو نه قوم ته او
جماعت ته نقصان رسیږي. دا خبره حکومت د لته پرې نبوه ، والیسرای ته یي
ور وسوله او زما برخلاف یي غلط پراپیګنډه شروع کړه چه د ده د پرنګیا نو
نفرت دی د ده مونږ سره ذاتیات دي ځکه مونږ سره ملاقات نه کوي او
والیسرای په دې الفاظو ګاندهي جي ته شکایت وکړو ، ګاندهي جي ماته ولیکل چ
ته خپل لاټ سره ملاقات وکړه زه پوهیږم چه ته په څه وجه ملاقات کول نه غوا
خو دوی ستا برخلاف پراپیګنډه کوي او په خلکو کښې ستا متعلق غلط فهمي پید
کوي اخر زه مجبور شوم او دا خبره مې د جرګې انتظامیې ته پیش کړه او د هغ
په اجازه مې لاټ صاحب سره په نتهیا ګلي کښې ملاقات وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالات صاحب ته په خدایی خدمتکارو د ظلمونو او د رانیزو د قید یانو
دوي لیکن باوجود د دی خبرو د پیرنګیانو په پالیسی کښی څه فرق رانغی بلکه
د اول نه زیات شول. حقیقت دا دی چه د دوی دا ټول ملاقاتونه د دې قوم او
ملک د فایدې د پاره نه وی، دې کښی د دوی مقصد داوي چه داسې به څنګه
دوکه کړي خپل مقصد به ترې پاتی کړو او د خان سره به یې ملګری کړو او ما چه څومره
ملاقاتونه کړي دي نو بغیر د لالچ نه مې پکښی بل څه لیدلی نه دي. حکومت د
مالیې په بهانه ظلمونه شروع کړل دا نه چه ګوندې خدایی خدمتکارو د مالیې نه
انکار کړی وخو مله دومره ارزانه شوې وه چه خلک تنګ وو د مالیې وس یې نه کېده
او د مالیې بقایې یوازې په خدایی خدمتګارو نه وې د دوی نه زیاتی په سرکاری
خانانو او ملکانو وې خو هغوی ته یې څه نه وې خواران خدایی خدمتکار به یې تنګول
مالونه به یې لیلام کول حوالاتونو کښی به یې اچول او لا د هغوی بر خلاف به یې دا پروپیګنډه
هم کوله چه د دوی د مالیې ورکولو نه انکاری دي پخپله یې هم نه ورکوی او نور خلک هم
منع کوي حالانکه دا بالکل دروغ وو، خلکو سره په رښتیا مالیه نه وه او خدایی خدمتګارو
سره هم نه وه د دی به حکومت ته وې چه دا تا سو نور و خلکو سره څنګه سلوک کوئ
د غسې مونږ سره هم کوئ، مونږ خو هم ستاسو رعیت یو چه بعضې خلکو ته معلومه شوه
چه حکومت د خدایی خدمتکارو په کړولو خوشحالیږي نو په خدایی خدمتکارو یې
د دروغو مقدمې شروع کړې، په دا وه کښی د جبار خان او المیر ملک د لاسه خدایی
خدمتکار په اور کښی ولاړ وو. په اباز و کښی آفتاب ګل میا او یحیی میا او د دوی نورو
ورونو او عزیزانو خدایی خدمتکار د ورکو په کوټو کښی بند کړل او د بو سو لوګی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وکړل. ددې کاکاخیلو، میاکالو د پیرنګیانو سره دومره محبت واودهغوی دومره وفادار اوخدمتګار وو چه څه وخت به دخدایي خدمتګارو د ړاتلو نه خبرشو نوټوپکې به یې ورپسې واخیستې اودهغوی موک ته به تیار وو. دمالیې په بانه د تنګرا عبدالله جان میا اودهغه زوی چه په خلکو څومره ظلمونه کړي دي دهغو بیان کولی نه شم ده هم خلک په کوټو کښې بند کړي دي اود بوسولوګی یي ورته کړي دی فضل الرحمن خان د شوقدر سره څو پرېږده د بنځو بې عزتي یې هم کړې ده. بلکه داچه زمونږ دهشنغر په کلو کښې اومیرو کښې د پولیس تانه دار ګرځیدوا وهرچا ته به یې پو کوله چه دلته هم څوک خدایي خدمتګار شته او چه څوک به خدایي خدمتګار وهغه به یې وهلو، تړکولو او بې عزته کولو. دملکنډ ایجنسي دسخاکوټ کلي نه یو څوماشوم زما دلیډ و دپاره راتلل نو پولیس تری خبر شو اول خو یې په دوی ډیر د باوونه وکړل چه دوی ونه یریدل او خپله اراده یي پری نه ښوه نو بیا یې دومره ووهل چه سر یې ورله مات کړل. هغو کښې یو ماشوم زما ورور ډاکټر خانصاحب مات سرکاندهي جی له ولیږلو چه هغه دغو ورځو کښې شمله کښې و او دا ټول حال یې ورته ووې. حقیقت دی چه پیرنګیان دغو ورځو کښې بالکل لیونی شوی وو او د ګنهګار او بې ګناه تمیز نه و. ګاندهي جي د دا خبرې وایسرای ته ولیکلې او ورته یي ولیکل چه دې د تحقیق د پاره زه سرحد ته تلل غواړم خو وایسرای اجازت ورنه کړو، حقیقت دا دی چه په پښتنو باندې څومره ظلم کیدلو دا ټول پیرنګیانو کولو. هغوی دا نه غوښتل چه پښتانه دې راوېښ شي او منظم دې شي او په دوی کښې دې اتفاق او سیاسي شعور پیدا شي.

## د دیوی داس ګاندهي د سرحد دوره:

مهاتما جي وایسرای ته دوباره ولیکل چه که حکومت ماله اجازه نه راکوي نو بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواهرلال یالا پټیل له اجازت ورکړی چه هغوی سرحد له لاړ شي او تحقیق وکړي چه څوک
سوله ماتوي؟ خو حکومت ددی نه هم انکار وکړو ځکه چه سوله خو دوی ماتوله بیا
گاندهي جي وابرالته ولیکل چه زما زوی دیوی داس له اجازت ورکړه حکومت دې ته
هم تیار نه شو اخو چه گاندهي جي د حکومت نه مایوسه شو نو وایسرای ته یې ولیکل چه بنبه ده
ما له اجازت راکوئ او که نه راکوئ زه سرحد ته ځم، نو پس د هغی نه حکومت په دی رضا
شو چه بنبه ده مونږ دیوېداس له اجازه ورکوو په دی شرط چه هیڅ قسم جلسی او جلو سونه
نه وی. بگاندهي جي مونږ له تار راکړو چه دیوېداس سرحد له راځي لیکن استقبال جلوس
و نمایش به نه وي. دیوېداس راغی او مونږ دده استقبال ونه کړو. او دیوېداس چه
وخت دا ودسیل نو مونږ ته یې هم دهغا تماجي هغه خیال ظاهر کړو چه څه وخت مونږ د
پښېبور نه اتمانزو ته روانیږو نو مونږ. دیوېداس ته ووی چه د پښېبور نه تر اتمانزو پوری
سړک د لسو لسو گزو په فاصله خدایي خدمتگار د حفاظت د پاره درته و درو وخو هغه د
دي نه انکار وکړو چه سباله مونږ تهکال له لاړو نو خبر شو چه د لته ارباب عبدالغفور خان
د باد ړکلي عاشق شاه باچا او په ترخه کښی د پر بیگناه خدایي خدمتگار د حکومت گرفتار
کړي و، او د ارباب عبدالغفور پلار ارباب جمعه خان د دیوی داس د پاره میلمستیا
کړي وه. د خلیلو، موضد و زمونږ تول کارکنان موجود وو او دیوی داس ته یې هغه
ټولی قصی وکړي چه حکومت مونږ سره کړي وي. بله ورځ اتمانزو له روان شو. مونږ چه
ښاره روانیدو نو موټر نه و. نو په لاری کښی کښېناستو او چه د شاهي باغ نه لږ واوړه ولاړ
د زرین خان د ترنگزو موټر راغی دوه ښکلی خدایي خدمتگار په ښکلو ور دو کښی
ناست وو او سره جنډه یې لگیدلی وه مونږ. د لاري نه کوز شو او موټر کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېناستو . زه او دېویډ اس او خورشید بهن ددې واړه ورستو کښېناستو موټر
روان شو او ډېر په تېزۍ روان شو . یو مشهور ظالم ډاکو مغرور چه پېه قاضي مغرور
مشهور و مونږ ته د سرده، یاب ډېل په غاړه قلي خان چه د حکومت سړی و . د لو خوځنګل
کښې کښېنولی وچه زمونږ موټر وررسېدو او هغه دوه خدايي خدمتګار چه د موټر مخ
کښې ناست و د هغې باقاعده ورد ی وی نو د هغې ډاکوانو دا خیال راغی چه دا به جرنیل
موټر وی نو بېرته کښېناستل او بله دا چه دوی ته خو دا معلومه نه وه چه مونږ به موټر کښې
څوک چه مونږ دا دې نه په لارې کښې ناست و . خو مونږ پسې چه کومه لارۍ وه هغې
دغه مغروران را پاڅېدل او ډزې یې پرې وکړې . دا هغه لارۍ وه چه مونږ پکښې ناست
و ، سړي پکښې زخمیان شول ، مالونه یې لوټ واخیستل او بیا یې تر لي ووې چه هغوی خ
دې لارۍ کښې نشته چه مونږ ورته ناست وو . دغه لارۍ چه چارسدې ته را ورسېدله
مونږ ته یې دا ټول حال ووې بیا ما ته زمونږ د موټر هغه ډرېور ووې چه مونږ دغه ځای
له را ورسېدو نو ما ولیدل چه دغه لوخو کښې یو سړی را وچت شو او بیا کښېناستو غالباً
چه دوی به دا خیال پیدا شوی وي چه دا موټر خو د جرنیل معلومېږي ځکه چه جنل
هم پرې لګېدلي ده او باور دی فوځیان هم پکښې ناست دي او ددې له خو قلي خا
پولیټیکل ایجنټ ډېرې ورلېږلي وه چه باچا خان او دوه ملګري یې په لارۍ کښې
در روان شو دوی ځکه په موټر غرض ونه کړو او په هغه لارۍ یې ډزې وکړ
چه مونږ پکښې د پېښور نه ناست وو . مونږ رز ډېر کښې وو چه ددې لارۍ دو
نه خبر شو نو چه د چارسدې هسپتال له ورغلو هغه زخمیان مو هم پکښې ولیدل
هغوی را ته دا ټول حال ووې . د دغو ډاکو ما دونه چه خلک خبر شول دغو ډاکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسی داکری اونورخدایی خدمتکار اوعام خلک را ووتل خودوی تری وتبتیدل او چه تیراته واسپدل نوزمونږ اپریدی ورونه ددی واقعی نه خبرشوی وو هغوی بی وشیول او هغه مالونه یی تری واخیستل او د وا قاضی مفرور یی قتل کړو او کومی روپئه چه زمونږ په سرتلیخان ورکړی وی هغه تری هغوی واخیستی او د هغو هغه سامان یی مونږ ته رااولیږلو او هغه مونږ خپلو خاوند انو له ورکړو چه هغو کښی یوه تاچه هم وه .

داپریدو ورونو ذاخیال وچه که دا دپښتنو مسلمانانو دکاندهی جی زوی او خورشید بهن دوی وژلی وای نو دپښتنو به په هندوستان کښی څومره بدنامی شوی وه دغه وجه وه چه اپریدو دوی قتل کړه که نه وی نو ازاد قبایل هغه سړی نه وژنی چه ددوی تهٔ پناه ورووړی وی . ددی مفرور په سر پیرنګیانو اپرید وله ډیری روپئه ورکولی ، ولی هغوی نه اخیستی .

داشکوری چه دپیرنګیانو دحکومت دا منصوبه خدای ناکامیابه کړه که د ګاندهی جی زوی یاد خورشید بهن چه دا د « دادا بایی ناوروجی » نوسی وه دادا بائی ناوروجی دکانګرس بانی واو دده په کوشش کانګرس دی ځای ته رسیدلی وکه دا دلته په سرحد کښی وژل شوی وای نو پیرنګیانو له به هم دپښتنو برخلاف دپراپیګنډی ښه موقع په لاس ورغلی وه پښتانه به یی دنیا کښی بدنام کړی وو ، او هندوان او پارسیان به یی هم دپښتنو ویزاره کړی وو او کوم اثرچه په هندوستان کښی او په کانګرس دخدایی خدمتګارو په وجه پیدا شوی وهغه ته به ډیر نقصان رسیدلی وای او پښتانه به بیا دپیرنګیانو زور او ظلم ته یوازی پاتی شوی وای او دنیا سره به یی دسترګو لګیدو شان نه وپاتی شوی . خو مونږ خدایی خدمتګاروده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دوو په ځای دی یوه شی، د شپې مونږ د میا صاحب میلمانه شو محمد زمان میا صاحب احمد شاه میا مجبور کړچه زمونږ سره بمبئی ته لاړ شی احمد شاه میا هم د تلو انتظام وکړلو، زه او دیوید اس د ده په تلو ډیر خوشحاله شو او سبا له بمبئی ته روان شو په لاره کا دی کبنی میا صاحب او دیوید اس کا غذات درست کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د راونډ ټیبل کانفرانس ورځو کښې

د جرګې مشرانو کښې اختلاف، شملې ته زما تګ، شمله
کښې مصروفیت، فارن سکرټر او
هوم سکرټر سره
لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بمبي کښې د آل انډيا کانګرس کميټۍ جلسه وه او هغې له د ټول هندوستان ممبران
راغلي وو څه وخت چه مونږ د بمبيي ټيسن ته ورسيدو او د کانګرس ...
ما له راغي او ويې پرخفه و. ده راته وويل چه ماته خود دېوېلي اس وويل چه ته د کانګرس ځای
له لاړ شه دا خو داسې شوه چه ما له یې جواب راکړ او امير محمد خان د هوتي ورته وويل
چه ماته یې هم داسې ويلې دي ليکن ما ورته وويل چه کوم ځای فخر افغان صاحب وي ...
به هم هلته يم نو بيا هغه چپ شو ليکن ميا صاحب وي چه زه يې ستاسو نه منع کړې يم او ما
يې جواب راکړې دی تاسو سره نه ځم ما هم د ميا صاحب د راضي کيدو کوشش وکړو خو د ...
رضا نه شو نو بيا زما څه مسلمانان د وستان ټيسن له راغلي وو موټر يې را وستلي وو هغوی
سره مې په ټلو رضا کړو ليکن د ميا صاحب طبيعت خراب شوی و بله ورځ مونږ د ميا صاحب
ليد وله لاړو دی مو وليد وليکن طبيعت يې درست نه و ماته د کلياڼې ديو مهربان
پښتون نه معلومه شوه چه ميا صاحب ډير خفه دی او وايي چه بس نو کار نه کوم او کلی ته
روان دی. ديوی داس چه ددی واقعی نه خبر شو هغه ورته وويي چه ما خو په دی
خيال ويلي وو چه دلته به تاته تکليف وی په محکمه به ملا سته وي، دال، چپاتي به خوری
او هلته د کانګرس د مېلمنو د پاره ډير ښه انتظام دی خو د ميا صاحب خفګان ليري نه
شو ما هم ميا صاحب ته ډيره منت وکړو چه واپس مه ځه چه مونږ چيله فيصله کانګرس ته
وکړو او د کانګرس هغه بله ډله هم راغلې ده خکه ستا موجودګی ضروري ده خو چه سباله مونږ
خبر يو ميا صاحب تلی و زمونږ معامله د کانګرس ورکنګ کميټۍ ته پيش شوه او زمونږ د...

حذا ئےپاک چہ عزت در کوی ـ ده عزت څوک واپس کوو ے ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

دد باچا ...

خان و نے کیگی . ۱۲



د صوبهٔ سرحد لویه جرگه نوم پې منظور کړ و او ماله یې اختیار راکړ و چه ځنګه ستاخوبن وي په سرحد کښې هغسې تنظیم جوړکړه .

## د جرګې مشرانو کښې اختلاف :

زمونږ د پېښور یو پرود سردار عبدالرب نشتر په دغه وخت کښې دا اعتراض وکړو چه دوی (خدایي خد متګار) خو د کانګرس په اصولو کاربند نه دي ، بلکه فرقه دارانه نعرې هم او په مثال کښې یې او وئیل چه دوی د نعرهٔ تکبیر الله اکبر اوازکوي ، ګاندهي جي ده نه تپوس اوکړو چه د الله اکبر څه معنی ده ، نشتر صاحب جواب ورکړ چه : خدای لوی دی . نو ګاندهي جي ورته جواب کښې او وئیل چه ولې خدای ورکوټی دی څه ؟

دغه شان دوی کامیاب نه شول ، د دې فیصلې نه پس مونږ سرحد ته رارو ان شو د دار سیبد و سره ما خپل کار شروع کړ و او د مردان او صوابۍ په دوره روان شوم میا صاحب خفه دیوی داس نه شو او نقصان یې خپل قام ته ورسولو او زما مخالف شو او چه کلی ته ورسیبد و نو د بلې د لې جوړ ولو کوشش یې شروع کړ و او د صوبهٔ سرحد لویه جرګه یې هم راوغوښته چه د بمبئی د فیصلې د نه منلو د پاره یې تیاره کړي ، ما لیې هم خبر راکړ و او د جرګې ورځې له راغلم او دا معامله لویې جرګې ته پیش شوه میا صاحب د بمبئی د فیصلې په مخالفت کښې تجویز پیش کړ و او تقریر یې وکړ و او تائید یې عبدالاکبر خان او غلام محمد خان دلوند خو ړ وکړو ، بیا ما تول حقیقت ممبرانو ته ښکاره کړو ممبرانو زما سره اتفاق وکړو او د بمبئی د فیصلې تصدیق وشو .

زه چه په دوره صوابۍ له لاړم نو ډېر خوشحاله شوم ځکه چه د دې ځای خدایي خدمتګارو په هر کلي کښې د ډېرو زیات کار کړی و او هر ځای جرګې او خدایي خدمتګار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر تعداد کښې جوړ شوي و. زمونږ د تحريک ډېر زور يا په تحصيل چارسده کښې وه او يا په صوابۍ کښې. د دغه ځای خدايي خدمتګارو راته يوه ډېره عجيبه قصه وکړه دوی وې چه تا ته معلومه ده چه زمونږ د ترنګزو حاجي صاحب سره ډېر زاړه تعلقات دي. په ابتدا کښې چه تاسو راغلئ او دلته خدايي خدمتګاري جوړه شوه نو په دغو ورځو کښې مونږ حاجي صاحب له د مومند و غازي اباد له تلي وو هلته مونږ د حاجي صاحب د مشر زوی فضل اکبر باچاګل سره په مجلس کښې د خدايي خدمتګارۍ خبره وکړه هغه وې پام کوئ چه کوړ نه ځئ خدايي خدمتګاري ونه کړئ دا ښه تحريک نه دی مونږ ډېر حيران شو بيا مو حاجي صاحب نه ځان له پوښتنه وکړه ځکه چه هغه مو پير و او مونږ لې مريدان وو چه بابا جي باچا خان زمونږ علاقه کښې د خدايي خدمتګارۍ تحريک شروع کړی دی او مونږ او نور خلک پکښې شريک شوي دي نه مونږ ته ووايه چه دا تحريک ښه دی او که نه؟ نو حاجي صاحب راته ووئيل چه دغه تحريک د پيرنګيانو په حق کښې دی که مخالف دی؟ مونږ ورته ووې چه د پيرنګيانو مخالف دی نو هغه راته ووې چه دغه خو جهاد دی او تاسو کوړئ نه ما د پيرنګيانو مقابله ونه کړه شوه نه د پيرنګيانو نه دې تور دوغږه نو له راغلم او باچا خان د دغه جېلخانو تکليفونو او تاوانونو ته سينه ډال کړې ده. په خدايي خدمتګارۍ کښې ملا د ده سره وتړئ! مونږ ورته ووې چه مشر باچاګل صاحب وايي چه خدايي خدمتګاري مه کوئ نو هغه يې را وغوښتو او ورته يې ووې باچاګله داسې خبرې مه کوه که نه وی عاق به دې کړم. مونږ په دې ډېر خوشحاله شو چه حاجي صاحب هم ستاسو سره کلک ملګری دی.

زمونږ د صوبې جرګې چه فيصله زما په حق کښې وکړه نو ميا احمد شاه صاحب خپله استعفا پيش کړه او منظوره شوه او خلک خپلو کلو ته روان شول، زما طبيعت هم د دورې په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خراب و پېښور ته لاړم چه ډاکټر صاحب به دارو راکړي او نه به لږ ارام وکړم لیکن دډېره-
اسماعیل خان رمضان خان راپسې راغی چه پاڅه چه ډېره اسماعیل خان ته لاړ شو هلته
ډېره برباد شو شوې ده حکومت هند وان مسلمانان جنګولي دي او ډېر خلک یکېنې مړه
شوي دي او ډېر اسبابونه او ابادۍ سوزېدلي دي د خیزنګي

شملې ته ترماتک:

چه پېښور ته ورسېدو نو مالاه دهغا تماکا نډهي له طرفه تار راغی چه ددی تار په لیدو
شملې ته راروان شه رمضان خان او ما په دې فیصله وکړه چه د شملې نه په مخه به ډېره
ته ځم. رمضان خان چه ماته دډېره اسماعیل خان دهندوانو دتباهۍ او بربادۍ
تول بیان وکړو زه پوه شوم چه پېرنګیانو دوی له هغه سزا ورکړه چه دوی زما درومبي
دورې په موقع زما استقبال په ډېر شان او شوکت سره کړی و او زما عظیم الشان جلوس
یې په تول ښار کښې ګرځولی و تول ښار یې ښایسته کړی و. ډپټي کمشنر دوی ته ویلي وو
چه دباچاخان استقبال جلوس جلسه تاسو مه کوئ که نه دوی نو تباه به شئ خو دوی و نه منل
زما زړه ته په دې واقعه لویه صدمه ورسېده چه دا پېرنګیان به زمونږ دامسلمانان تر
کومه په دنیا کښې شرموي او بدنامه وي.

زه د دوه خدائي خدمتګارو سره شملې ته په ګاډي کښې روان شوم، چه زمونږ ګاډی
لاهور ته ورسېدو نو سرداره سردول سنګه کولیشر سره زما دنورو ملګرو او دوستانو تیین
ته راغلی وو او ماته یې دوی چه دسکهانو پولوي کانفرانس دی او زمونږ هغه کنفرانس ته
روان یو او دجلسې ځای تېسن ته نږدې دی نو دوی زه مجبوره کړم او جلسې له یې روان
کړم په جلسه کښې یې خپل تول دګجرات دجېلخانې دوستان ولیدل یاران ورېدل و مایو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختصر تقریر وکړو او سکهانو ورونو ته می ووی چه په ۱۸۵۷ع کال کښی ستاسو او زمونږ
پنجاب او سرحد په وجه هندوستان غلام شوی دی اوس زمونږ او ستاسو فرض دی
چه پاځو، ملا وتړو او هندوستان ازاد کړو. داکوم نفاق او جګړی چه زمونږ د ښمنانو
زمونږ په کور کښی پیدا کړی دی دا د هندوستان د ازادئ د پاره ډیری خطرناکی دي
مونږ له بغیر د خپل ذاتی غرض د ملک او قام خدمت په کار دی. چه جلسه ختمه شوه نو راغی
زاده هنسراج صاحب په زور جلسه ته بوتلو او د شپی په کاړی کښی. هغه ځای یه شملی ته
روان شو سحر وختی زمونږ ګاړی کالکا ته ورسیده او د هغه ځایه به موټر کښی شملی ته
روان شو چه ورسیدو نو جواهر لال ادې له زمونږ د بوتلو د پاره راغلی و. مونږ هغه سره
د مهاتما جی ځای له لاړو ولیکن مهاتما جی د وایسرای ملاقات له تللی ولړ. ساعت پس
راغی او هغه سره مو ملاقات وشو. دلړ ارام نه پس مونږ ټول یو ځای شو نو ګاندهی جی
د وایسرای د ملاقات حال ووې او ما او جواهر لال نهرو ته یي ووې چه حکومت د صوبه
سرحد او یوپی تحقیقات ته تیار نه دی اوس چه ستاسو څه رنګه رضا وی چه هغه شان
کړی شی مونږ دواړو ورله دا ځواب ورکړو چه ستا په رضا مو رضا ده او په دې فیصله
وشوه چه مهاتما جی دې ګول میز کنفرانس له لاړ شی. ورپاندی دا فیصله شوې وه چه په
دی دواړو صوبو کښی چه حکومت کوم ظلمونه کړی دي که حکومت د دې تحقیقات نه کوی نو
ګاندهی جی دې ګول میز کنفرانس له نه ځی. خو مونږ په دې نتیجه د ډیر غور نه پس ورسیدو
چه ګول میز کنفرانس خو د ټول هندوستان د ازادی سوال دی ځکه د دوو صوبو د ظلمونو
د تحقیقات په نه کولو ګاندهی جی له د کنفرانس نه پاتی کیدل نه دی په کار. موټرونه راغلل او
سامان پکښی کښیښودی شو چه ګاندهی جی ایمرسن هوم سکرټری سره په ټیلفون خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې نو د دغو دواړو صوبو نه علاوه نورې خبرې چه حکومت د مهاتما ګاندهي سره منلي
وې دهغو نه هم په شا شوی و. مهاتما جي د موټرو نو نه سامان راکوز کړو او موټرو نه يې
رخصت کړل او په راونډ ټيبل کنفرانس کښې يې د شرکت اراده پريښوه چه څه وخت موټرونه
رخصتيدل نو جواهر لال ورته ووې چه انتظام په کار دی ولې چه په ټولو کښې صرف يوه
سبانی ورځ پاتې ده دی ته وينا په کار ده چه د سبا ورځ د پاره دې تيار واوسي خو
مهاتما جي د دې خبرې په اوريدو ډير په قهر شو او ويې وې چه هيڅ ضرورت د انتظام نشته
د حکومت غواړي چه زه دې ګول ميز کنفرانس کښې شريک شم نو هغه به د دې خبرې
انتظام وکړي چه ما په وخت ورسوي. ګاندهي جي ته ما ووې چه ته د غه شان حکومت ته
لږ کلک شه او کلکې خبرې ورته وکړه نو ته به وګورې چه بيا به حکومت د هر څه د پاره تيار
شي ولې چه دا يو ډير عجيبه حکومت دی. مهاتما جي وخندل او ويې ويل چه زه اوس خدای-
خدمتګار کيږم. ما چه څه رنګې وې هغه شان وشوه چه سباله حکومت هغه ټولې خبرې
منظورې کړې او د ګاندهي جي د رسولو د پاره ديو خاص ګاډي انتظام يې هم وکړه او د
بمبئ ميل او د جهاز د پاره يې تار ورکړل چه د ګاندهي جي د رسيدو پورې ايسار شي.
نکو په وخت کښې ګاندهي جي ووې چه په راونډ ټيبل کښې هيڅ نه کيږي زه صرف
الله د اروان د زړه د پاره ځم. د دې کنفرانس د کاميابئ اميد نشته تاسو خپل
کارجا دی وساتئ او ما ته يې وويل چه هاول فارن سکرټر او ايمرسن هوم سکرټري
ته ليکلي دي چه دی مونږ سره نه ګورې او هغوی ستا سره ليدل غواړي نو
هغوی ضرور وګوره. ما ورته ووې چه ګاندهي جي زه د پيرنګيانو سره ملاقات نه
کوم نو ده راته وويل دا زه چه کوم نو ما ورته ووېل چه ته خو مهاتما جي او زه خو کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان یم په ښوېدلو اخې پېښه نه ېږدم هسې نه چه ونښونېږم، خو چه ته والي زه به
ورسره وویېم د رخصتېدو په وخت کښې ما ورته وویل چه کاندهي جي چه سرحد ته به
مظلوم دی چېرته هېر د رانه نه شی. ددی په اورېدو يې وخندل او وېي ويل چه:
د سرحد ورونه زه هېرولی نه شم. زما د واړه خدايي خدمتګار د کاندهي جي مخکښې
او مونږ وراپسې روان شو. د خلکو دومره غوبل وه چه مونږ يې کښېوړکړو او زه د ماها
تما جي نه د ډېر وروسته پاتې شوم او د دواړه خدايي خدمتګار زما مګري د ده سره
د ټيسن پورې لاړل. زما دلید و د پاره يوه دوه پښتنو رياټ راغلي وو په دی وجه هم
د ټيسن پورې ونه رسېدم. د رواني په وخت کښې کاندهي جي هغه دوه خدايي
خدمتګار ځان ته نزدې کړل او وېي منول او دوی ته يې وويل چه که تاسو نه وی نو
زما راړسېدل ډېر ګران و.

شمله کښې زمونږ مصروفيت:

د پوليس افسرانو او نورو خلکو چه په دغه موقع لي داخدايي خدمتګار وليدل
نو ددوی د کارکنداري نه ډېر متاثره شول او ددوی به يې ډېر تعريفونه کول ا
د خدايي خدمتګارو په شمله کښې ډېر رعب قايم شو او مونږ چه به د غلته بازار ته
کښې ګرځېدو نو نور خلک خو پرېږده پيرنګيانو او میمانو به هم خدايي خدمتګارو ته
منډې وهلې او ویلې به يې چه دا هغه ريډ شرټ (سرخپوش) دي. چه سبا ش
د پنجاب يو خان بهادر چه په انټيليجنس ډيپارټمنټ کښې و دغه زوی چه زمون
په اسلاميه کالج پېښور کښې سبق وې ماله د چايو دعوت راکړو ماورته وویل چه
پلار خو د سرکار نوکر دی هسې نه هغه ته نقصان ونه رسي خو هغه زما خبره منظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوره نوښته مې ورته کړل . د دې طالب علم پلار د سیسل هوټل کښې او سپلاره مونږ له
یې هلته چای یې وکړه . زه سره د هغه دوو خدائي خدمتګارو هوټل ته ورغلو هلته د پېر
پېرنګیانو ناست وو چای یې څښکلې نو چه دا خدائي خدمتګار یې ولیدل نو په ډېر تعجب
یې ورته وکتل مونږ له یې د دغه ځای نه ځان له د چای څښکلو انتظام کړې وو او ما سره
یې د فیروزخان نون چه هغه وخت د پنجاب وزیر وو او دوه د پنجاب ټیکه داران یې
میلمانه کړي وو مونږ چه کښېناستو نو لږ ساعت پس سر فیروزخان نون راغی او چه
زه یې ولیدم نو ښه شور یې جوړ کړو او را ته یې ووې: ‹‹خانصاحب ! آپنی تو غضب کر دیا
آپ کانګرس کې ساته مل ګئې هو؟›› خانصاحب ! تا خو عجیبه کار وکړو د کانګرس سره
ملګری شوې ؟ او س به هغوی مونږ له خپل حق رانکړي . ما ورته ووې چه ملک صاحب
ته لږ په ارام سره کښېنه نو خبرې به وکړو چه کښېناستو نو ما ورته ووې چه ملک صاحب
مونږ څه چل کړې وای مونږ خو کانګرس له تا سو لېږلي یو که چیرې تا سو زمونږ مدد
کړې وای نو مونږ کانګرس څه کوو . مونږ خو اول لاهور ته درغلو او مسلم لیګ ته
مو ووې چه مونږ ستاسو مسلمانان ورونه یو زمونږ یو تحریک دی هغه اصلاحي
تحریک دی مونږ د پېرنګیانو د حکومت خلاف نه یو ، مونږ د خپل قام اصلاح کول
غواړو او پېرنګیانو په مونږ زور ظلم زیاتي او توره شپه جوړه کړې ده او دنیا زمونږ نه
خبر نه ده . مونږ د مسلم لیګیانو نه دا هیله وکړه چه تاسو زمونږ په حال دا دنیا خبره کړئ
چه دې پښتنو څه ګناه کړې ده چه دې پېرنګیانو پې توره شپه جوړه کړې ده چه په پښتنو
دا دومره ظلم ولې کېږي ؟ او په مسلم لیګ پسې دهلي او شملې ته هم لاړو خو تاسو زمونږ
مل د ته غاړه کښېښوده او مونږ له مو لاس رانکړو نو مونږ به څه کول ؟ مونږ مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو سیلاب اخیستی و نو کانګرس لاس را کړو او مونږ ورسره ملګری شو او
اوس هم زه تا ته وایم یوازی د پنجاب مسلمانان دي زمونږ ملګرتیا وکړی نو مونږ د
ټول هندوستان د مسلمانانو په ملګرتیا پسی نه ګرځو صرف ستاسو د پنجاب د مسلمانانو
ملګرتیا غواړو که تاسو دا کوئ مونږ اوس هم د کانګرس پرېښود و ته تیار یو اوس هم
د کانګرس ورکنګ کمیټۍ ناسته ده زه به استعفا ورکړم نو سر فیروز خان نون ووې چه
د هم سوچ کو جواب دېنګے » یعنی مونږ به په دی خبره فکر وکړو او بیا به ځواب درکړو
بیا می هغه ته شپاړس کاله پس بهار صوبه کښې چه هلته یو لوی فساد شوی و ولیدو
ما ورته ووې چه ملک صاحب تا خو ماله هغه ځواب را نه کړو ؟ نو وې خندل ستر ګی
یې ښکته کړې او روان شو . نو اوس دې د هندوستان مسلمانانو فیصله وکړی چه کرام مونږ تیرکه پنجاب ؟
څه وخت چه زمونږ خبرې او چای ختم شوې او روان ید و نو زمونږ میزبان په شمله
کښې د سبا د پاره د ډوډۍ دعوت راکړو سباله د ډوډۍ په وخت کښې چه ورغلو نو په
هوټل کښې ټول پیرنګیان او میمانی په کرسو کښې ناستی وې مونږ له په بیل ځی کښې انتظام
شوی و . زمونږ سره د لاهور د سول اینډ ملټری ګزټ د اخبار چلونکی او بل د کلکتې د
سټیټ مین خبر لوڅی هم په دی دعوت کښې وو . ما سره د انګریزی اخبار ایډیټر
خبری شروع کړې چه اوس خو سوله وشوه نو د خدایی خدمتګار و څه ضرورت دی
قاله په کار دی چه دا تحریک فوراً ختم کړې ؟ ما ورته ووې ښه دی خو په یو شرط هغه
وې هغه څه دی ؟ ما ورته ووې چه هغه دا دی چه پیرنګیان دې د دې ملک نه لاړ شی
او دا ملک دې ازاد کړي نو بیا به دا تحریک پخپله ختم شی . د دې په اوریدو هغه غصه
شو او څو مره چه مونږ د دی میز نه چاپیره ناست و نو هغوی ټولو رپوړی وخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړي هم ډېرې خبرې وشوې ، دوه ورځې ختمې شوې اکثر مېلمانه رخصت شول . خان
بهادر صاحب او د هغه زوی او د کلکتې خبر لوڅي پاتې شول . خان بهادر صاحب
خدایي خدمتګارو متعلق ما نه تپوس وکړو ما ورته ټوله قصه بیان کړه بیا هغه
راته ووې چه ستاسو د دې تحریک برخلاف ما ډېرې غلطې خبرې اورېدلې وې خو
اوس ماته معلومه شوه چه دا ډېر نېک تحریک دی او د خدای د مخلوق د خدمت
د پاره دی او اخر کښې یې راته ووې چه زه هم خدایي خدمتګار یم او دې خدایي
خدمتګارو سره یو ځای تصویر وباسم بیا یې یو انګریز فوټوګرافر راوستو او مونږ
سره یې یو ځای تصویر ونیکو د هغې نه پس مونږ رخصت شو او خپل ځای له د ارام
د پاره لاړو .

## د فارن سکرټرۍ او هوم سکرټرۍ سره لیدل :

ما ښکو د مسټر هاول فارن سکرټرۍ خط راغی چه سباله ما په لس بجې ووینه
او د هغه سکرټرۍ راته ووې چه ستا د تلو د پاره به زه خپله د کښته د ړه ولېږم ما ورته
ووې چه ستا مهرباني ده زه خدایي خدمتګار یم ، د کښته کښې نه ځم ځکه چه سړی یې
راکاږي سباله به پخپله پښو درشم سباله ټیک لس بجې ورغلم هغه د بنګلې نه بهر ته
راووتو او زه یې خپل دفتر ته بوتلم . لږ ساعت پس اسسټنټ فارن سکرټرۍ ویلی
هم راورسېدو . دی ما سره ډېر بلد و . دی په پېښور کښې ډپټي کمشنر هم واو
د بند و بست مهتمم هم پاتې شوی و . خبرې شروع شوې ما ورته ټولې قصې وکړې
هغه ماته ووې چه زمونږ او د پښتنو خو ډېر ښه تعلقات وو دا څه چل وشو چه په
مونږ او تاسو کښې نفاق چا پیدا کړو ؟ ما مسټر ویلی ته وکتل ما ورته ووې چه د ده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تپوس وکړه چه دا ټولی قصی د مستر ویلي په مخکښې شوي دي بیا زما او د هغه
د تحریک متعلق خبری شروع شولی او په خبرو خبرو کښې هغه اول صاحب ماته د پېر
ښه ښه باغونه وښودل خو ما ورته ووې چه زه په دوه پیسو ګوزاره کولی شم. د یو
پیسې د ډوډۍ او په بله پیسه تیل لی باتینګڼ مالګه خدای هر څه راکړی دی. زه ځان ته
څه نه غواړم چه څه غواړم هغه د قوم د پاره غواړم. که څه راکوئ نو هغه زما دی قوم له
راکوئ. حقیقت دا دی چه لکه څنګه مستر هاول او ډیل د پښتنو او انګریزانو
تعلقات ښه وو خو په انګریزانو کښې د کرلفیت جیمي سن، میجر کول او کیرو غوندی کسان
راپیدا شول او دا تعلقات یې خراب کړل. په دې کښې د مستر ایمرسن هوم سکرټری
ټیلیفون راغی ماته ده ووې چه ایمرسن صاحب دی او وایي چه ما سره دی ملاقات
وکړي ما ورته ووې چه ده خو ما سره د ملاقات وخت مقرر کړی نه دی، خو ده ماته
ووې چه له دې ځایه ځې لا ړه کښې بنګله ده ورسره ووینه. مستر هاول د ډېر شریف
سړی و او ما سره یې په ډېر شرافت کښې خبری وکړې او ده ټول عمر په ملازمت
کښې په صوبه سرحد کښې پښتنو سره تېر کړی دی چه زمونږ ملاقات ختم شو نو مستر
ویلي ووې چه زه به دې د هوم سکرټری دفتر له بوځم لیکن مستر هاول ما سره
پخپله د هغه دفتره پورې پیاده لاړلو نه په رکشه نه په اس سور شو، اس یې ورپسې
سائیس نیولی راوستلو زما په انتظار کښې د مستر ایمرسن هوم سکرټری اردلی
ولاړ و زه او فارن سکرټری له یو بل نه رخصت شو او اردلی زه د هوم سکرټری
دفتر ته بوتلم. هوم سکرټری یو عجیبه سړی و او ما سره یې عجیبه خبری کولی او
د باوونه یې هم راباندې کول اول خو یې راته دا ووې چه تا په مېرټ کښې تقریر کړې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دپیرنګیانو مخونه سپین دی او زړونه تور دي که چیری زه ستا داخبری د لندن
خبارانو کښې شایع کړم نو بیا به ستا سو صوبې له هیڅ ورنه کړی او قول پیرنګیان به مو
خلاف شي . ما ورته ووې چه د دی خبری وجوهات خو ما پخپل تقریر کښې څرګند کړي
دی او زه په دی رضایم چه زما هغه قول تقریر ته شایع کړې یوازی دا خبره مه شایع
کوه چه د ولایت خلک په حقیقت خبرشي او زه یې هم خبرول غواړم .

بیا یې راته ووې چه ته په حکومت د باوونه کوی چه که چیری دوی مونږ له خپل
حق رانه کړو نو مونږه به داسی وکړو اومونږ به دا وکړو . د پیرنګیانو حکومت داسی
کمزوری شو چه ستاسو د باوونو نه به یرېږی ما ورته ووې چه زه په چا د باوونه
نه کوم زه خو خدایي خدمتګار یم او څه چه زما د قوم خواهش دی په هغه حکومت
خبروم . اختر پټ مېره نه دی چه که چیری تاسو مونږ له خپل حق رانه کړو نو بیا به
وکتی شي نو سرې لږ نرم شو او ویې ویل چه مونږ خو تاسو له خپل حق درکوو اخر کښې
راته ووې چه خدایي خدمتګار د عدم تشدد پابند نه دی همیشه تشدد کوی ما
ورته وویل چه مثال خو راته ورښیه تینګ تینګی (زنک) یې وغږولو د ده سکرټری
راغی ورته یې وویل چه فائل راوړه هغه لاړ او فائل یې راوړ . چیرته پکښې تشدد
راونه وتو راته یې ووې چه سرحد کښې لیډران ونیوی شو نو خلک تانې پوری ور
سره لاړل او چغې وهلې چه انقلاب زنده باد ما ورته وویل چه ما ته ستا نه وا ورېدل
چه چغې وهل تشدد دی چه د هغوی لیډران مو بېګناه ونیول او تانې ته مو بوتلل نو هغوی
به دومره هم نه کول چه دوی سره تانې پوری تلې وای بیا یې نارې وهلې وای . ملاقات
ختم شو او زه د هوم سکرټری نه رخصت شوم . په امیرسن کښې او په هاول کښې څو مره

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرق دی حقیقت دادی چه ایمرسن په پنجاب کښی لوی شوی و او هاول سرحد کښی
پښتنو سره لوی شوی و. زه چه واپس خیل ځای له تلم نو دسیسل هوټل سره هغه زمونږ
دکالج طالب علم او دکلکتی د اخبار هغه خبر لوڅی ولاړ وو زه یې په زور هوټل ته بوتلم او د
هغه په کمره کښی چه کښیناستو نو ما ته یې ووېل چه ته سباله ضرور والیسرای دوینه او خان
بهادر صاحب هم راغی هغه هم ددې خبری تائید وکړو ما ورته ووېل چه زما دلیسرای
ویلنګډن ملاقات خواهش وخو هغه ناجوړه ده نو په دی وجه یوازی والیسرای سره
نه وینم او په یوه بله موقع به دواړو سره ملاقات وکړم زما والیسرای سره دملاقات
خواهش نه و ولی چه زما ورسره څه کار نه و هسی می دهغه وخت ولی ضایع کوو خو دوی
ډیر اصرار وکړ نو ما ورته ووې چه ښه ده که هغه ما ته ولیکی نو زه به ورسره ملاقات
وکړم دوی ووې چه هغه خو داسی نه کوی نو ما ورته ووې چه ما هم چا ته دملاقات درخواست
نه دی کړی. دوی ما ته ووې چه مهاتما جی هم والیسرای ته دملاقات دپاره لیکی ما ورته
ووې چه دهغه به دغه اصول وی او زما دا اصول دی. چه زما څه کار ورسره نه وی نو
هسی دملاقات څه ضرورت دی. زه په شمله کښی دهغه داشنا رای بهادر سره اوسیدم
دوی رای بهادر صاحب ته تیلفون وکړو یو بل تجویز یې پیش کړو لیکن ما هغه هم
نامنظور کړو سباله یې رای بهادر صاحب سره په تیلفون خبری وکړی: او هغه یې هم ځان
سره ملګری کړو لنډه دا چه هغه ما ته ووې چه ته دملاقات دپاره خط مه لیکه ستا سکرټری
دې ولیکی. زما والیسرا سره څه کار نه و نو دا ټولې خبری راته بې فایدې ښکاریدې خو
دې ټولو دوستانو مجبور کړم. والیسرای ته یې خط ولیکلو دلاندی یې د تاج محمد
زما دسکرټری دستخط وکړو د والیسرای سکرټری ته یې تیلفون وکړو چه مونږ دملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره یو خط درلیږ و چه فوراً یې والیسرای ته پیش کړې هغه هم خوشحاله شو او ما
ی بهادر صاحب ته ووې چه تاسو زما د ضمیر خلاف کار ما باندې کوئ او دا می
ر ته هم ووې چه هر چیرې زما د ضمیر خلاف چاپه یو کار مجبوره کړې یم نو د هغه نتیجه
ښه نه ده وتلې. ما ذکر د خط جواب راغې چه د والیسرا صاحب طبیعت ښه نه دې سبا
ملاقات کیدای نه شي او د هغه سکرتر ماله یوه خاصه چیټي ولیکله او په تیلفون یې
هم د هغوی عذر معذرت وکړ و چه والیسرا صاحب خفه نه دې هسې نه چه بل خیال
پیدا نه شي. حقیقت دا و چه والیسرا صاحب په دې خفه شوی و چه ده ماته بخپله خط
نه دی لیکلی او د سکرتر په ذریعه یې ماله خط راالیږلی دی او زما د هغه ملاقات خبرې
هم ورته د سپیلی وې. زه دا ویلی شم چه دا زما غلطي وه د ې خلکو سره زما د اقسم خبرې او
بحثونه په کار نه وو او مونږ خلکو ته په کار دي چه په دا سې خبرو کښې چپ پاتې کیږو
او د پیرې خبرې نه کوو او که مشوره یا څه خبره کوو نو خپلو همخیالو دوستانو سره کوو
هر سړی خپل راز او اراده نه خبر ول نه دی په کار.

په شمله کښې دیوې هفتې ارام سره زما صحت ښه شو. زما د پیرو هندوانو، مسلمانانو
سره ... ناتو نه رشتول او د هغوی په زړه کښې چه د د پیره اسماعیل خان د فساد په سلسله کښې
کومې غلطې خبرې او شکونه حکومت پیدا کړې وو د هغې دلیرې کولو کوششونه می وکړل د
خدائي خدمتګار تحریک د حقیقت نه می خبر کړل او تسلي می وکړه چه د اجماعت د خدای
د مخلوق خدمت او ارام دپاره جوړ شوی دی او د دوی کار د ملک د ازادی او
ترقی دپاره دی. یوه لویه جلسه مو شمله کښې هم وکړه او خلکو ته می تول حقیقت
د خدائي خدمتګارو د تحریک ښکاره کړو. د د پیرو مسلمانانو او هندوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دعوتونو کښې شریک شوم او د جمعې په ورځ مې د شملې په جامع مسجد کښې لمونځ وکړو او یو مختصر تقریر مې هم وکړو چه اسلام دنیا ته د څه د پاره راغلی و؟ هغه وخت د مسلمانانو څه حال و؟ او نن د مسلمانانو څه حال دی؟ نن په غلامۍ کښې پراته او خوښ دي حالانکه غلامي په اسلام کښې نشته. اسلام کښې غلامي د خدای لعنت دی، مسلمان او غلامي دواړه متضاد څیزونه دي. د افغانستان کونسل جنرل سره مې هم ملاقات وشو. لنډه دا چه په دې څو ورځو کښې مې د خدائي خدمتګارو د پاره ښه کار وکړو او خدای دې د دې پراپیګنډې ښه موقع په لاس راکړه او زما د امیدونو نه زیات تعاون وشو.

زه د شملې نه امبالې ته لاړم او دلته ما د جیلخانې یو ډېر مهربان دوست لاله دونی چند ولیده چه د هغه په بلنه دلته راغلی وم. په امباله کښې مو هم د شپې یوه جلسه وکړه او د جلسې نه پس ډېرو مسلمانانو او هندوانو سره مې ولیدل. مسلمانان غریبانان دلیله، د دنه ډېر لوډ لو په وجه داسې بیر بادي ته رسیدلي دي چه د سیاسي ژوندګي نه ئې دو خبر نه دي او نه یې څه خپل داسې جماعت شته او نه د بل جماعت سره کار کوي.

د امبالې نه لاهور ته راغلم پنګه ستانم زما د جیلخانې د دوست وهغه سره د هغه کور ته لاړم. د فري پرس (ازاد مطبوعات) خبرلوځي مور او غوښته او چه څه غلطي خبرې د سول اینډ ملیټري ګزیټ هغه ایډیټر چه ما سره د شملې نه هغه دعوت کښې خبرې شوی وې او په اخبار کښې ئې د شهیدا کولو د پاره شایع کړې دي، د هغې تردید مې وکړو. ده په خپل اخبار کښې لیکلي وو چه باچا خان کانګرس نه جدا کیږي. دا خبرې چه سر نواب صاحبزاده صاحب عبدالقیوم لوستې وې نو ما پسې یې سړی لاهور ته رالیږلی چه باچا خان ته و وایه د خدای د پاره چه د کانګرس نه جدا نه شې او که جدا شې نو بیا پیرنګیان زمونږ صوبې له هیڅ نه راکوي. په لاهور کښې راته زما د جیلخانې یو ملګری وویل چه ته چه همیشه راځې د هندوانو مېلمه کیږې او مسلمانانو سره نه ډېره کیږې نو ما ورته وویل چه په لاهور کښې خو ډېر مسلمانان زما دوستان دي کوم یو راته ووې چه دا شه زما مېلمه شه او زه نه یم ورغلی، زه پښتون یم، پښتنه خو بې سته په کور کښې هم ډوډۍ نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپله صوبه کښې کار

دپېړه سماعیل خان ته، اتمانزوته واپسي، داحمدشاه معامله،
یاد دپېړوپه دوره (بنون، کوهاټ) دسرحد لویه جرګه
دهزارې دوره (پکلي، بفه، شنکیاري، دودیال
مانسهره، سپپیلډ، نوښهره، ایبټ اباد، هري پور، سرای صالح، کلابټ، چچ، غرغشتي)
دهزارې نه واپس، ترنګزو حاجي صاحب او خدایي خدمتګارې
دخلیلو مومندو دوره، دمانړکانو بانډه، اودمړ او
خالصې جلسي، لاټ سره لیدل، نوښار تحصیل
کښې جلسي، صوابۍ تحصیل کښې جلسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډېرۀ اسماعيل خان ته تګ:

بيا ډېرۀ اسماعيل خان ته روان شوم، چه ډېر وته ورسېدم نو راته معلوم شوه چه رمضان خان حکومت ګرفتار کړی دی او چه د ډېرو د ښار هغه تباهي او بربادی او د هندوا و مسلمان نفرت او دښمني مې وليده نو ډېر يا ت خفه شوم او د تصفيې د پاره مې د کوهاټ او بنو هندوانو او مسلمانانو نصيحت وکړ او ... ل چه هغوی فوراً راشي او د دی مسئلې د جوړولو کوشش وکړي. هغوی زما جواب فوراً راغلل سلا او مشوره مو وکړه او خان خان له مو هندوانو او مسلمانانو سره وليدل ليکن يو خو حالت ډېر خراب وا او بل پکښې حکومت کوتي (؟) ډېلي او خيل سړي لي په هندوانو او مسلمانانو پسې لګولي وو او مونږ لي کاميابي ته نه پرېښود و غريبانان هندوان به راضي شوي وو ليکن غټو هندوانو سولي ته نه پرېښودل او مسلمانان د وکيلانو په لاس کښې لوبېدل او هغه يې نه کوله ولې چه هغوی وي چه زمونږ دکان به سوړ شي. په ډېرو کښې چه کوم خلک د سرکار تعلقدار نه وو په دی فساد کښې هغوی ته ډېر نقصان رسېدلی و. دا ټوله کاروايي د حکومت وه او شيخ محبوب علي چه دلته اسسټنټ کمشنر و او لکه څنګه چه يې د پېرنګيانو د پاره د امان الله خان په وخت کښې کابل تباه کړی و د غسې د هغوی د پاره د ډېرۀ اسماعيل خان هم تباه کړو.

زه د خپلو ملګرو سره پښيالي له لاړم او هغه خان بهادر له د علم او هغه نما ېښتي سرخپوش مې پچېنله وليدل چه فسادلي کړي و خان بهادر راته وويل چه ما له شيخ محبوب علي چه د دی ځای اسسټنټ کمشنر دی دوه لاری د دې کسانو د رسولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره راکړې وي او اوس موږ خو د حکومت خلک یو څه چه راته وایي هغه کوو، ما ورته ووې چه حکومت به هم وي خو دا يې خپل قوم دی، خپل قام سره څوک داسي بد نه کوي. د هغه زوی غلام سرور خان د علیګړه یونیورسټي نه په چوټي راغلی و موږ سره یې د ډېره مینه ښکاره کړه، ما ورته ووې چه بابا دي پوه کړه چه سبا له د دې خپل قام حکومت جوړیږي نو دی به څه ځواب ورکړي. بیا توری واپس د پېرونه راغلو د خان بهادر عبدالرحيم خان کنډی په ذریعه کرنل زل چه د دغه ځای د پټي کمشنر وه اله د ملاقات دعوت راکړو خو ما د هغه بنګلي له تلل مناسب ونه ګڼل او عبدالرحيم خان ته مې ووې چه که چیرې ستا ځای کښې مو ملاقات کیدی شي نو ما ته پکښې انکار نشته. د پټي کمشنر هم په دې خبره راضي شو او هغه موږ له د چاي د دعوت راکړو لیکن مستر ایلهم زموږ د صوبې د پولیس جرنیل و په دوره د پېرونه راغلی او د پټي کمشنر یې د داسې ملاقات نه منع کړو خو ده پخپله ما سره د پېرو د نواب په ځای کښې ملاقات وکړو. د پولیس جرنیل ښه سړی و خو د خبرو چل نه ورتلو په خبرو کښې یې ما ته ووې چه د دې رامی متعلق چه د حکومت خلاف تا کوم تقریر کړی وزه په هغه کښې تا هر وخت ګرفتارولی شم ولې چه ستا ذمه دار ملګری په هغوی الزام لګوی او تا د هغه خلاف په حکومت الزام لګولی دی ما ورته ووې زه د ګرفتارئ نه نه یریږم ځکه خو حکومت ته ربښتیا وایم او څوک چه یریږي هغوی حکومت ته ربښتیا ویلی نه شي ته منصف شه چه دا حکومت د توقې نه بوقه جوړه کړې نه ده؟ او د بچو د توقي د رامي له اهمیت ورکول د داسې حکومت شان شایان دی؟ بیا یې راته ووې چه ستا دا حکومت خوښ نه دی نو بیا ولې د دې ملک نه بل خوا نه ځې؟ ما ورته ووې جرنیل صاحب دا ملک زموږ دی او که ستا دی؟ نو ده راته ووې چه ستاسو دی ما ووې ځکه د خپل ملک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ملک له لا رشم او دا به بنه نه وی چه تاسو دا زمونږ ملک مونږ ته پرېږدئ چاى ختم شوه او مونږ خواره شو.

بیا د رمضان خان ملاقات له لا رم ملاقات می ورسره وکړ او بېرحالات راته معلوم شو. زه دهندوانو او مسلمانانو په سوله کېنی تلکیاوم لیکن په خر نتیجه ونه رسیده بلکه د لوبو هندوانو دا خیال وچه مونږ د خدایی خدمتګار و دلاسه تباه شوی یو ما ورته ووې چه دا څنګه؟ دوی راته ووې چه دا داسی چه ددی تحریک په وجه د حکومت رعب وداب پاتی نه شو، حکومت کمزوری شو او امن بې قایم نه کړی شو او مونږ لوټ او برباد شو. مونږ خو مز بوت حکومت غواړو ماددې په او وریل د بروخندل چه ښه ده چه حکومت ته ګناه نشته نو لا رجي ستا خومره نقصان شوی دی او ستا سو په ددې ښار کېنی خومره خدایی خدمتګار دی؟ ځواب ئی راکړو چه زما خو څه نقصان نه دی شوی او نه ددې ښار کېنی خدایی خدمتګار شته ما ورته ووې چه دکوموخلکو چه نقصان شوی هغوی خو ما ته لیکلی بیانو نه دکړی دی چه دا فساد د حکومت په شرارت شوی دی او مونږ د حکومت له لاسه برباد شوی یو.

## اتمانزو ته واپسی د احمد شاه معامله:

په دې دوران ما ته یو خط راغی چه ته فوراً اتمانزو له راشه داسی واقعات پیدا شوی دی چه دمشوری ضرورت دې. زه لا نه یم اوتلکیاوم دا کوشش می کولوچه دهندو او مسلمان سوله وشی. لیکن ورځ په ورځ مونږ په ځای ددی چه سولی نه نږدې شو لیری کېدو چه په دې کېنی جرنیل عظمت خان راغی او زما په نوم یې یو دستی خط راوړی و هغه کېنی لیکلی وو چه ددی خط په لیدو فوراً را روان شه. د شپی می د عظمت خان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه وکړه چه خیر خو دی هغه راته ووې چه نور خو خیر دی لیکن میا احمد شاه زمونږ مخالفت شروع کړې دی . ددې ځاى کارګو ونو سحر مونږ ټول دده پروته روان شو . اتمانزو ته ورسېدو نو معلومه شوه چه میا احمد شاه صاحب زما مخالفت کښې په خپلو خدمتګارو کښې ځانله یوه ډله برابرولو کښې مصروف دی او د جرګو په ممبرانو کښې هم د نفاق د پاره تګ و دو وخط وکتابت یې شروع کړې دی . ددې خبرې په اورېدو خفه شوم ولې چه زما د میا صاحب غوندې تعلیمیافته سړې نه دا امید نه و چه دی به په یوه معمولي خبره په قوم کښې دومره نفاق پیداکولو کوشش وکړي او بل چه ددې نه خبر شوم چه حکومت زمونږ په دې اختلاف ډېرې خوشحالي کړې دي او خپلو حاکمانو ته یې حکمونه جاری کړې دي چه د میا صاحب امداد وکړي او د عبدالغفار خان مخالفت وکړي . جعفر شاه او عبدالله شاه راغلل او ماته یې دا تجویز پېش کړو چه مونږ دا غواړو چه ته او میا صاحب د یو ځو ملګرو سره زمونږ کلي کښې جمع شئ او مخامخ خبرې وکړئ . ما د هغوی دې تجویز سره اتفاق وکړو او سباله زه احمد شاه . عبدالله شاه . تاج محمد خان . حاجی عبدالغفار خان او عبدالاکبر خان د میا جعفر شاه صاحب کلي ته لاړو . یو ځاى شو چه دوه درې مووخوره نوما سختن په یوه کمره کښې کښېناستو او دروازه مو بند کړل . خبرې شروع شوې ، احمد شاه دی خوا اخوا خبرې کولې او چه په زړه کښې یې څه و هغه یې نه ظاهرول یا یې نه شو ظاهرولی شپه ډېره تېره شوه ماورته ووې چه میا صاحب خپل مطلب ووایه نو هغه بیا هم شپ شپ وکړل او وې وې چه ماته دلویې جرګې فیصله منظوره نه ده یوه عامه جلسه دې وکړې شي او هغوی ته دې دا معامله پېش کړې شي چه هغوی دا فیصله وکړي . ما ورته ووې چه ښه ده مونږ ته ستا دا خبره منظوره ده لیکن که هغې عامې جلسې دا فیصله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چه موږ د کانګرس نه نه جلا کیږو نو بیا به دغه خبره ومنی؟ نو ځواب یې راکړو چه بیا به زه استعفا وکړم ما ورته ووې چه استعفا خو دی ورکړې ده چه دعامی جلسې نه یې تیار نه یې نو د جلسې څه ضرورت دی؟ بیا یې دا خبره وکړه چه زما به هندوانو باور نشته هسې نه چه سباله دا سړی دوکه وکړي نو بیا به موږ څه کولی نه شو نو ته موږ له اجازت راکړه چه موږ یو بل جماعت جوړ کړو چه سباله زموږ لاس د هندوانو بر خلاف ازاد وی ما ځواب ورکړو چه زه منافق نه یم زه درته اجازه در کولی نه شم ولې چه دا خیز د خپل قوم د پاره مفید نه گنړم. باقی د هندوانو د دوکه شوه نو زه ددې په باره کښې ستا په خلاف کښې داعرض کوم چه ستا دا خیال درست نه دی چه کیني موږ کانګرس سره یو ځای شو نو موږ ور پورې وتړلی شو او هندوان چه هر څه کوی موږ به خپل لاس خوځولی نه شو بلکه زه تا سره داوعده کوم چه کله کانګرس موږ سره دوکه وکړه د هغه ساعت به کانګرس پریږدو ته به مخکښې لې موږ به درپسې یو او چه ته څه وایې هغه به کوو نو کسم از کم ته د هغې پورې وادخو وکړه اخر ستا زما متعلق څه خیال دی زه خو چه هر څه کوم د خپل ملک د پاره کوم. عبدالله شاه او جعفر شاه هم زما د خبرې تائید وکړه او وې ویل چه کول میز کنفرانس په لندن کښې شروع دی دا د سود او زیان وخت دی موږ له انتظار په کار دی او دا خبرې پریښودل په کار دی او بل یې دیو خاص سرکاري سړي خبره وکړه، احمد شاه ته یې ووې چه هغه ما ته ویلی دی چه احمد شاه دی دا خبری پریږدی په دی په حکومت ډېری خوشحالی کړې دی او موږ له یې حکم راليږلی دی چه د عبدالغفارخان خلاف د احمد شاه مدد وکړې میا صاحب موږ د دې رضا کړه چه بیا د هزه به اختلاف پریږدم او په قلارۍ به کښینم او د نتیجې انتظار به کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ. تول خوشحاله شو او اوده شو سحر وختی چه لمونځ موو کړو نو زه عبد الله شاه
عبد الاکبر خان، حاجی عبد الغفار خان او تاج محمد خان د جعفر شاه د باغ لید وله
لاړو زه تری او دس ماتی له لاړم. چه واپس راغلم نو حاجی عبد الغفار خان او
تاج محمد خان خفه والاړو راتری ووی چه احمد شاه میا په بیکانی فیصلی باندی تینګ
نه شو هغه او س مونږ ته خه نوری قصی وکړی او عبد الاکبر خان لی زمونږ نه بیل کړو.
زه هم دده په او ریدو خفه شوم په دی کښی سړی راغی چه چای تیار ده نو چه چای ته
کښیناستو نو احمد شاه صاحب بیا هغه قصی شروع کړی چه بیګا فیصله شوی وی ماورته
ووی چه ددی خبرو فیصله خو بیګا شوی ده، اخر احمد شاه میا صاحب دخپل زړه
هغه پټه خبره خرګنده کړه او ما تری ووی چه زه ددی خبری برداشت کولی نه شم چه
تول خلک دی دیو سړی په خولی پسی روان شی ما ورته ووی چه میا صاحب همیشه په
دنیا کښی خلک یو سړی پسی روان وی او دا خو د قوم او ملک د پاره دیره دفائی خبره
ده چه تول قوم په یو سړی متفق شی نو خپل منزل ته ورسی خو دی خبری ته کتل په
کار دی چه هغه سړی چه خه کوی د خان د پاره کوی او که د قوم د پاره؟ په خپله خوښه
کوی که د ملګرو په سلا؟ که د خان د پاره کوی او په خپله خوښه یی کوی نو بیا هغه پسی تلل
نه دی په کار. او د غه خای ته خلک په خدمت رسیږی نه په مخالفت. نه زمانه زیات
خدمت وکړه هغوئ به زمانه زیات ستاخبری منلو نه تیار شی تا چه په ولایت کښی
سیلونه کول هغه وخت زه ددی خپل قام د پاره په جیلخانه کښی پروت وم او میچنی
می اوړولی ددی بحث مباحثو نه دا یوه فایده وشوه چه هر سړی د میا صاحب داصلی
غرض نه واقف شو. عبد الله شاه او جعفر شاه غیر جانبداری ظاهره کړه عبد الاکبر خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ی چه زه به پس له دی نه سیاست نه کوم او حاجی عبدالغفار خان او تاج محمد
خان سره یې وعده وکړه چه تاسو سره به د سکول په کار کښې مدد کوم مونږ تول خپلو
کلو ته روان شو . عبدالاکبرخان میا عبدالله شاه ځان سره په زور قاضی خیلو ته روان
کړه مونږ . پوه شو چه عبدالاکبرخان کمزوری سړی دی میا صاحب ورله دوکه ورکړی
د عبدالله شاه په احمد شاه چه دده تربور و سره ورځ نه پیرزوکیده ، عبدالله شاه پیر
ډله باز او د پرو جنبو جوړولو ماهر او شوقی سړی و او دا توله تماشه د ده جوړه کړې وه .
مونږ داحمد شاه دوی کلی ته لاړو ولې چه مونږ د عبدالله شاه رورو اکبر جان
میلمانه ووچه دده دی نه فارغ شو نو حاجی عبدالغفار خان ماته را نږدې شو او ویې
ویل چه عبدالاکبرخان خوبې بالکل بدل کړی دی ماویل ته یې پوه کړه هغه دې ما پرې
ډیرکوشش وکړو خو پوهیږی نه . سبا له کلی ته راغلو بله ورځ ماولیدل چه عبدالاکبر
خان او احمد شاه زما برخلاف یو لوی پرپړه چاپ کړې وه په کښې لیکلی وو چه زمونږ د
مصر و په شان په او بو کښې او به نشو او زمونږ هیڅ هستی پاتی نه شوه . په دې اشتهار
داحمد شاه ، عبدالله شاه او عبدالاکبرخان دستخطونه وو . مونږ خپل بعضی ممبران را
غونډ کړل او دهغوی په مشوره می دهغوی په شان چاپ شده ځواب ورکړو او نږ
دیو خو خدای خلمتکار و سره بیا د دیرو په دوره روان شوم .

## د دیرو دوره :

په دی وخت کښې خبر شو چه زمونږ لاټ صاحب سرهستوورد ه پیرس چه د پرښنه
او شریف سړی و دغه ته پریوتو او مړشو او دهغه په ځای سر رالف گرفت لاټ شو دی
یو فوجی سړی و او دده خیالات مونږ ته معلومه وو دی ورو کی زمونږ په صوبه کښې لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي، دا چه د وزیرستان ریزیډنټ او نوده یو خپل افسر ته د خدائي خدمتګارو متعلق خپل خیالات ظاهر کړي وو چه که لږ غوندي وینه تویه شي نو ښه به وي. د لاټ کیډو سره یې شملې ته ویل چه زه عبدالغفار خان ګرفتار وم ولې چه دا ډېر ښه وخت دی د دې نه فایده اخیستل به کار دي، په دوی کښې نفاق پیدا شوی دی خو شملې ورسره اتفاق ونه کړو ځکه چه ګول میز کنفرانس روان او د مرکزي حکومت دا خیال و چه مهاتما ګاندهي د ده په ګرفتارۍ لندن کښې څه قدم وچت نه کړي. او ده ته یې ولیکل چه دا اختلاف به دوی پخپله تباه کړي زمونږ د دخل ضرورت به باقي نه شي، هغوی نورهندوستان ته کتل او د دوی نه خبر نه وو چه پښتون د نورهندوستان په شان نه دي، دا یو ژوندی قام دی اول پوهه نه وو او س پوه شوی دی او سیاسي شعور هم پکښې راغلی دی نو هغه به دنا پوهو کار ونه کړي.

زمونږ چل کار او خپلو دوړو له زور ور کړو ولې چه ما ته معلومه شوه چه حکومت زمونږ ډېر زر ګرفتارول غواړي. کلي په کلي ګرځېدو او خلک مو په حقیقت پوه کړل او دې خبرې له مو ډېر زور ور کړو چه زمونږ جنګ د عدم تشدد جنګ دی او دې لاره کښې چه هر قسم تکلیفونه او مصیبتونه راځي نو په صبر یې تېر وو. زمونږ به د چا نه بدل نه اخلو زمونږ خدائي خدمتګار یو خدای به زمونږ بدله د ظالم نه اخلي. زمونږ د پښتونو به دوره وو نیمه شپه د جلسې نه فارغه شوي وو ایله مو سترګې ورغلې وې چه د عمرزو عبیدالله خان چه د پولیس کپتان و د لاټ صاحب یو دستي خط یې راوړو په هغه کښې یې لیکلي و چه زه تا سره د ډېره اسماعیل خان د تقریرونو متعلق ګفتګو کول غواړم ته مهرباني وکړه پېښور ته راشه ما ورته ولیکل چه زه د قانون برخلاف تقریرونه نه کوم او نه مې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي تاته که څه غلط خبر رسیدلی وي دا به ستا د خفیه پولیس والو غلطي وي زه به
وخت کښې د تللی نه شم ځکه چه ما د چېل پروګرام نه تول خلک خبر کړي دي زه هغه
نه شم څه وخت چه فارغ شوم نو پېښور ته به د رشم نو که تاته ضرورت ښکاریږي و زه به
سره ووینم چه څه وخت می دا ځواب لیکلی عبید الله خان له ورکړو نو فورا روان شو
ډېره اسماعیل خان په دوره کښې حکومت ډېر کوشش وکړو چه زه بعضی علاقو ته لا
نه شم او د دی د پاره یی خان بهادر عبد الرحیم خان ماپسی راولېږلو خو زمونږ
مقامي ملګرو دا خبره خوښه نه کړه او مونږ د تولی علاقی دوره وکړه بیا مونږ بنو
لاړو جرنیل عظمت خان زمونږ نه مخکښې د کار د پاره دلته راغلی و ، د بنو دوره
کلی په کلی وکړه .

مونږ چه دلګی نه مروتو ته روان شو نو مونږ له خورشید بخښ سعد الله خان
، و د جواهر لال او ښی په موټر کښې مخې له راغلل او راته یی ووې چه جواهر لال
حکم رالیږلی دی چه تاسو فورا د سرحد لویه جرګه جوړه کړئ او د قواعدو په مطابق
کار شروع کړئ ما ورته ووی ښه دی تاسو د جلسی د پاره خلکو ته خطونه جاری
کړئ او په مقرر تاریخ به زه د رشم مونږ د جلسی د پاره تاریخ مقرر کړو او هغه
نه پس دوی پېښور ته لاړل او زه د بنو نه د کوهاټ دوری له راغلم د کوهاټ
دوره هم په ډېر ښه شان وشوه دلته زمونږ په زړ کو نو خدایی خدمتګار دو
جلسی موو کړې کلی په کلی ، تپه په تپه وګرځېدو مونږ چه څه د دلګه دوری د پښتون
د اتفاق د پاره شروع کړې وي دغسی دوری میا احمد شاه د پښتون د نفاق
پاره شروع کړې وې خو دا یو ځېز لي زمونږ نه زیات وچه د ه به زمونږ برخلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پر پې هم چاپ کولې اخبارا تو کښی به یې هم زمونږ برخلاف پراپیګنده کوله د
پنجاب اخبارات هم دده ملګري وو ولی دهغوی مقصد هم د پښتون کوروانول
دی داحمد شاه دوی مقابله زمونږ خدایی خدمتګار خصوصاً جرنیل اختر ګل
او عبد المالک استاذ د چارسدې وکړه او احمد شاه دوی پخپل مقصد کښی
کامیاب نه شول. مونږ چه د کوهاټ دوره ختمه کړه او د پیر شهنشاه صاحب
په ځای کښی موشسپه وه نو زمونږ دهغو او قل بعضی مخلصان ملګري چه ذمیا-
صاحب د پراپیګندې نه متأثر شوي وو د تحقیق د پاره دغلته راغلل او ما ترې
ووې چه داتاخه چل وکړو چه د پښتنو یو ځای ان الجاعت د ې کانګرس کښی مدغم
کړلو تا خو به اول مونږ نه داخبری کولی چه د اجاعت او تحریک خو د پښتنو دی ما
ورته ووې چه تحریک خو هم هغسی د پښتنو تحریک دی د کانګرس سره خو صرف مونږ
تعاون کړیدې چه هغوی هم د پیرنګیانو نه د هندوستان ازادی غواړي او دا
د تعاون فیصله خو ستاسو لویې جرګې کړې ده مونږ خو جیلخانه کښی قید وو پښتنو
بانډی چه څه وخت پیرنګیانو توره شپه جوړه کړه او خدایی خدمتګار ي ګرفتار کړل
نو مونږ دګجرات په جیلخانه کښی وو چه جعفر شاه او عبدالله شاه راغلل او مونږ
ته یې ووېل چه پیرنګیانو په مونږ توره شپه جوړه کړې ده او تحریک تباه کول غواړي
مونږ څه وکړو؟ مونږ ورله چه راغلل نو زما خو ملاقات هم بند و احمد شاه او
عبدالاکبرخان ورسره ملاقات وکړو او مونږ په شریکه دا رایې ورکړې چه لاړشئ
ود مسلم لیک مشرانو سره ووینئ چه مونږ سره امداد وکړي. دوی لاړل او بیا
راغلل او ووېل چه مسلم لیګ زمونږ ملګرتیا ته تیار نه دی او کانګرس وایی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو هم د ملک ازادي غواړئ او د عدم تشدد په اصولو کار نیسئ او مونږ هم نو په دې وجه مونږ ستاسو امداد ته تیار یو مونږ ورله ځواب ورکړو چه واپس لاړ شئ او خپلې لویې جرګې ته دا مسئله پیش کړئ هغوی دا غلل او جرګې فیصله وکړه چه مونږ کانګرس سره ملګري کېږو او ملګري شول او هغوی زمونږ پروپیګنډه په اخبارونو کښې وکړه او د تحقیقاتو د پاره یې جرګه را ولېږله. دا خو هغوی د ملګرتیا برکت دی چه زه بهر ګرځم او ستاسو سره جلسې کوم که دا نه وي نو زه به اوس جېلخانه کښې قید وم او دا تاسو چه لګیا یئ د تحریک کار کوئ دا خو د کانګرس برکت دی که نه وی نو پېرنګیانو تاسو کار ته پرېښودلئ څه؟ د هغوی تسلی وشوه او خپل کلي ته روان شول او مونږ پېښور ته راروان شو.

چه راورسېدو نو معلومه شوه چه حکومت زمونږ کاړې ولا خدائي خدمتګار په مخه کړي دي. دوی په پېښور ښار کښې د سامان د یو ځای نه بل ځای ته وړلو او رسولو کار کولو. دا ډېر سخت او مشقتي کار و، او مقامي خلکو نشو کولی دا د بهر نه راغلي خلک وا او اکثریت یې کښې زمونږ د مومندانو وروڼو او قابو سل په سل د خدائي خدمتګارۍ په تحریک کښې شامل و، او مقدمې پرې جوړې کړې دي او د باوونه پرې هم کوي چه خدائي خدمتګارۍ نه لاس په سر شئ که نه وي نو د دې ملکه ځئ او چه په دوی کښې کوم د کار خلک وو نو په هغوی یې دا مقدمه جوړه کړه چه تاسو د دې ملک نه یئ او په فلاني دفعه (قانوني ماده) کښې مونږ تاسو د دې ملکه باسو، دا خلک ډېر د کار او تکړه خلک او سنه پښتانه وو، پلرونه او نیکونه یې د افغانستان نه راغلي وو او هلته زمونږ په صوبه کښې اوسېدل. دوی ته یې وئیل چه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو خپل ملک ته لاړشئ حال دادی چه داغریبانان خو پلار په نیکه دلته اوسیږی . مونږ د ماالګو په منډهی کښی دحکومت د دی ظلم برخلاف یوه لویه جلسه وکړه او په زرګونو ښځی نر ، پکښی شریک شول او دحکومت د دی رویې برخلاف مو تقریرونه وکړل . زمونږ دجلسی نتیجه ښه شوه او په حکومت یی دومره اثر وکړو چه هغه خلک یی پرېښوول او مقدمې یې واپس کړې .

د دې دورې او بې ارامۍ په وجه زما طبیعت بیا خراب شو دلته می ارام کولی نه شو . دخو ورځو دپاره کوه مری ته لاړم قاضی عطاؤالله او غلام محمدخان هلته وو . په ګاډی کښی کښېناستم او مری ته ورسیدم . شیربهادرخان دبروچ لاډی کښی ناست و او خپل کلی ته راتلو چه زه یی ولیدم . دلاډی نه راکوز شو او ماسره یو څو ورځی پاتی شو . څه ورځی می ارام وکړو چه طبیعت می ښه شو نو زه او شیربهادرخان واپس راغلو .

## د سرحد لویه جرګه :

کانګرس ماله اختیار راکړی وو چه ستا څه دنګی خوښه وی د سرحد لویه جرګه جوړه کړه لیکن ما په پېښور کښی د ټولی صوبې کارکنان راجمع کړل او د دی خبری کوشش می وکړو چه دکانګرس دجرګی سره په یو ځای والی کښی څه اختلاف پیدا نه شی . خو زمونږ د پېښور ورونړه په دی رضا نه شو او بیا می دکوهاټ او بنو کارکنانو ته دووی چه زه پخپل اختیار دسره صدر نه مقرر کوم . تاسو په اتفاق سره یو صدر خوښ کړی هغوی پیر شهنشاه خوښ کړو او صدر شو . او سعدالله خان په اتفاق سره جنرل سکرتری شو او مرکزی دفتر موهم اتمانزو کښی مقرر کړو ولی چه هغه دجرګی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايي خدمتګارو ته ومبني مرکز و . د صوبې جرګه جوړه شوه او کانګرس له موږ دې خبرې خبرو ته کړې ، هغه قوم د دنيا کښې ډېر بد قسمته وي چه هغوی کښې داسې خلک پيدا شي چه بچپله خود قوم او ملک د خدمت د پاره تيار نه وي او چه ښوک پکښې د خدمت د پاره پيدا شي نو هغوی خدمت ته نه پرېږدي . دا خلک چه د څه وخت د پاره جېلخانې ته لاړ شي نو دا خيال کوی چه زه خو اوس ليډر شوم او د خپل ځان د وړاندې کېږ و کوښښونه شروع کړي او خپل غرضونه يې په مخه واخلي او که ښوک د خدای د پاره د دې قام خدمتونه کوی نو د هغوی مخالفت شروع کړي خو هر ښوک چه د خدای د پاره د قام خدمت کوی نو د هغوی مخه ښوک نه شي بندولی او هغوی د چا مخالفتونه نه کوي ځکه چه خپل څه غرض يې نه وی مخالفت خود اتيا تو کښې پيدا کېږی . د ښاردي وروڼو ته هم موږ د ميا صاحب په شان ډېر منتونه وکړل چه دې کښې څه شته نه او د قام خدمت دی راځئ چه په شريکه ورته ملا وتړو ! خو دوی هم خپلو غرضونو په مخه کړي وو او د جرګې او خدايي خدمتګارو خلاف يې پراپيګنډه شروع کړه او دې ته يې فکر ونه کړو چه په دې طريقه خو موږ خپل ځان ته او قوم ته نقصان رسوو او د غلامۍ ځنځيرونه مضبوطو .

په ډيلي کښې د کانګرس ورکنګ کميټۍ اجلاس واو د هغه د پاره د ۱۹۳۱ع کال د اکتوبر مياشت مقرره شوې وه زه د لوند خوړ غلام محمد خان سره ډيلي ته لاړم . په ورکنګ کميټي کښې ما دا خبره پېش کړه چه تر اوسه زموږ د ملکنډ ايجنسي قيديان په سوله کښې رها شوی نه دي او هغه شان جېلخانه کښې پراته دي او موږ ته حکومت دا وايي چه دا علاقه د ګاندهي اروين پيکټ نه بهر ده د ورکنګ کميټۍ دا اجلاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مرکزي حکومت ته سفارش وکړي چه زمونږ دا ملکري قيديان پرېږدي دوي وويل چه موږ له دکانډهي جي د راتلو پورې انتظار کول به کاردي.

## دهاړي دوره:

د ورکنګ کميټۍ جلسه ختمه شوه او زه او غلام محمد خان واپس راغلو نو بيا ما دهاړي دوره شروع کړه ولې چه دی او سني دوره کښې صرف دا ضلع زمانه پاتې وه. شل پنځه ويشت خدايي خدمتګار مې دهغې تپې نه يو يو را وغوښتل او دخان سره مې بنه په شان او شوکت هزارې ته بوتلل دې دوره کښې د ستي جان شاګرد باچاګی چه ډېر خوش اوازه هلک و موتږ سره وده به دا نظم وې: «انګريزه خپل وطن ته کړ ريږه». مايو پوه او هوښيار خدايي خدمتګار پټ چې له وليږلو چه دهغه ځاى حال معلوم کړي. او په پېښه خلکو سره زما دو رتلو مشوره وکړي ولې چه دی علاقې ته حکومت زمونږ خدايي خدمتګار نه پرېښودل او په ډېر بد سلوکی سره يې واپس کول نوما داغوښتل چه زه غور دو تپه (او ناخاپه) دې علاقې له لاړ شم او چه حکومت خبرېږي چه زه دغلته رسيدلي يم. مونږ سحر وختي په ريل کښې د پېښور نه را روان شو. حکيم عبد السلام صاحب له مو مخکښې خبر ورکړی و څه وخت چه زمونږ ګاډي شاډېرۍ ته ورسيدو نو حکيم صاحب په تيسن ولاړ و. مونږ ګاډي بدل کړو او بل ګاډي کښې سواره شو او چه هري پور تيسن ته ورسيدو نو ډېر خلک زمونږ داستقبال دپاره تيسن ته راغلي وو، چونکه زمونږ پروګرام د پټلې و په دې وجه دګاډي نه کوز نه شوم او د خپلې ډبې په دروازه کښې ودرېدم او دخلکو شکريه مې ادا کړه يو خوشخبري مې هم وکړه چه په واپسي کښې به ستاسو په خدمت کښې حاضرېږم. ګاډي روان شو مونږ چه مخکښې لاړو نو يو موټر مو په سړک ولاړ وو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خپوش پکښې ناست دي او ډېر سړي یې په منډه پرېښې دي د دوی په لیدلو ډېر خوش-
حاله شوم چه شکر دی دلته هم خدائي خدمتګار جوړ شوي دي. مونږ چه په حویلیو سټېشن
کښې ډکاډې نه کوز شو نو هغه موټر هم راورسېد. دوی هم راکوز شو او یو بل ته ورته غاړه
شو بیا مو یوه لاړي کرایه کړه او بېکلي ته روان شو. زه په لارۍ کښې سور شوم او باجي والا
مو موټر کښې سواره کړه، هغوی مخکښې او مونږ وروسته شو. د کوهاټ ډپټي کمشنر
په شان د هزارې ډپټي کمشنر اپ کینس هم چه څه وخت زما د راتلو نه خبر شوی دی
نو لېونی شوی دی او په دې نه پوهېږو چه څه چل وکړم. په ډېرو کوششونو باندې یې
غلام رباني وکیل په دې خبره راضي کړو چه زه به بیا ستا او ورور چه په بنیاد کښې سبب د بویدون
و او موقوف شوی دی بحال کړم که ته د دوی مخالفت ته ملاو تړې. مونږ چه د حویلیو
سټېشن نه روان شو د سړک په غاړه چه کوم کوم کلي راتلل هغوی ته به مو خپله قصه کوله.
ایبټ اباد ته ورسېدو او چه د بازار نه مینځ کښې تللو نو ډېر خلک زمونږ د راتلو نه خبر
شول. څه وخت چه مانسهرې ته نزدې شو عبدالقیوم خان سواتي وکیل چه زما د خلافت
ملګری او ما سره یې قید تېر کړې و سپیڅ وکلي سره د خونورو معتبرو مشرانو زمونږ هر کلي
ته ولاړ وو د هغه نه معلومه شوه چه غلام رباني وکیل د حکومت په مشوره مانسهره کښې د څو
کسانو سره ولاړ دی او هغوی له یې توري جنډې ورکړې دی. مونږ چه ټوله صوبه کښې
دا تماشه لیدلې نه وه او چه هغه ځای ته ورسېدو نو داخیل موټرونه مو ودرول هغوی کښې
څو کسانو زمونږ د موټرونو د ودرولو کوشش هم وکړو خو مونږ موټرونه ونه درول لیکن
یو عجیبه سړی مې په نظر راغی چه په یو لاس کښې یې توره جنډه وه او په بل لاس یې مونږ ته
سلامونه کول وروسته معلومه شوه چه دا خلک یې دوکه کړې وو بې خبره یې راوستي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوتورې جنډې ورکړې وې

پکلي ته ورسيدو د بفې خلک تقريباً دوه ميله مخې له راغلي وو مونږ ورسره پياده بفې ته روان شو ماښام ورسيدو مونږ لې دسين په غاړه يو ښه ځاى کښې ډيره کړو. دغه ځاى ډير مزيدار و. دتورو جنډو په دې قصه چه دغه خلک خبر شول نو ډير خپه شو. د هزارې خلک پښتانه دي خو ژبه ترې ورکه شوې ده دډيرو کلو دخلکو د دې تورو جنډو په وجه مونږ سره همدردي پيدا شوه او مونږ سره خدائي خدمتګار شول. دبفې او ددې علاقې ټول خلک سباله په جلسه کښې شريک شول. دبفې جرګې او خدائي خدمتګارو د جلسې ښه انتظام کړې و. دتورو جنډو په وجه زما زړه ته هم ډيره صدمه رسيدلې وه حالانکه په داسې څيزونو سياست کښې څوک ان کول په کار نه وي چونکه دا زما اول ځل و ما چېرته پخپله صوبه کښې توره جنډه ليدلې نه وه ځکه ډير خفه شوى وم او دا زما کمزوري وه. ما په جلسه کښې ډير تيز تقرير وکړو او دې خلکو ته مې ووې چه تاسو خپله ژبه پښتو هيره کړې ده دغسې تاسو کښې پښتو هم نه ده پاتې شوې. د پکلي بعضې خلکو هم تقريرونه وکړل او په ډيره کاميابي سره زمونږ جلسه ختمه شوه خلک خواره شو ماښام حاجي فقيرا خان هم د پېښور نه را ورسيدو دې زمونږ ډير زورور کارکن دی خپل هزارې ضلع کښې ډير کار کوي. مونږ دهزارې د دورې پروګرام دحاجي فقيرا خان او نورو کارکنانو په مشوره جوړ کړو. مونږ د پکلي په علاقه کښې ځاى په ځاى جلسې وکړې او په هزاره کښې پکلي داسې علاقه ده چه خپله ژبه پښتو وائي. کوم ځاى چه پښتو خپله ژبه پريښودې نه ده هلته زمونږ تحريک ډير کامياب وي څه وخت چه مونږ دشينکيارې دجلسې انتظام کړو نو حکومت زمونږ په جلسه کښې دشرارت دپاره خپل څه خلک را ولېږل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای فضل وچه هغوی جرئت ونه کړی شو او جلسه په ډېره کامیابی ختمه شوه. هزاره کښې حکومت کوشش کولو چه زمونږ په لاره کښې مشکلات پیدا کړي خو خلکو کښې پوهه راغلې وه او د غلام رباني تورو جنډو مونږ له کافي کار کړې و او خلکو کښې یې پوهه او احساس پیدا کړې و. مونږ اخري جلسه د ډېر یالو کښې وکړه او دې ځای د پړنګیالی پښانه دي د دوی اول د جلسې څه خیال نه و او نه یې زمونږ په تحریک کښې د شرکت څه خیال، لیکن د دوی یو مشهور غلام رباني په تورو جنډو کښې شریک کړې و او د دې غیرت یې ټول کلي کښې جلسه وکړه او مونږ سره د خدايي خدمتګارو په تحریک کښې شریک شو. حکومت چه به څومره زمونږ مخالفت کولو نو هغه څیز به زمونږ د پاره مفید او د حکومت د پاره مضر ثابتېده ولې چه مونږ هر څه کول نو د خدای د مخلوق د خیر د پاره مو کول. له دې ځایه مونږ مانسهرې له راغلو، په زرګونو خلک زمونږ استقبال له راغلي وو او زمونږ جلوس په ښار او د ښار په بازارونو کښې ګرځېد و او چه د غلام رباني وکیل کور له راغلو نو د انقلاب زنده باد چغې یې ووهلې او د بعضې خلکو خو دا اراده وه چه د ده په کور کانې و ورو وي خو ما منع کړل چه دا زمونږ اصول نه دي. زه دا په دعوه سره ویلې شم که حکومت دلته د تورو جنډو داقصه کړې نه وای نو شاید چه دومره خلک به په جلوس کښې شریک شوي نه وو.

مونږ د مانسهرې نه سپېل وته لاړو او د سبا د پاره مو مانسهره کښې جلسې اعلان وکړه، د سپېل وتول خانان زما مهربانان وو، خو عبدالقیوم خان او غلام رسول خان می د جبلخاني یاران وو. شپه مو په ارام سره تېره کړه، سبا له خو بعضې د علاقې مشرانو سره خبرې وشوې او د هغوی په زړونو کښې چه غلطي پراپېګنډه د زمونږ د تحریک برخلاف غلط فهمي پیدا کړې وې هغه لیرې شوې. د چای نه پس مو د ټولو انتظام کو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په دې کښې د مانسهرې انسپکټر راغی او ماله یې د ډپټي کمشنر خط راوړو او داخبره یې هم وکړه چه د ډپټي کمشنر سره د پولیس کپتان مانسهرې ته راغلي دي. ما چه خط پرانستونو هغه کښې لیکلي وو چه په جلسه کښې د غلام رباني سره ته د دې تحریک مباحثه وکړه او بل که څه فساد وشونو ځوک به یې ذمه وار دي او انسپکټر را ته ووې چه دا تول شرارت د دې ډپټي کمشنر دی ما وې چپ شه ته خو سرکاري نوکر یې. ما ډپټي کمشنر ته ولیکل چه د دې معامله کښې د بحث ضرورت نشته زه دلته د خدائي خدمتګارۍ د تحریک اشاعت له راغلی یم زما کار اشاعت دی او بیا منل او نه منل د دې خلکو کار دی. پاتې شو فساد نو زمونږ نظریه د عدم تشدد ده که چیرې ځوک مونږ سره فساد کوي هم مونږ ورسره فساد نه کوو نو په دې سبب که چیرې فساد وشونو د هغه ذمه وار به ته یې. تا نه دا ر خصت شو او مونږ هم مانسهرې ته روان شو په لاره کښې چه به ځوک خبر یدل نو مونږ سره به ملګرې کیدل چه مانسهرې ته ورسیدو نو ډیر خلک مونږ سره ملګرې شوي وو او هلته د جلسې په ځای کښې به زرګونو خلک راجمع شوي وو. د جلسې ځای سره نزدې موږ څه خلک جمع ولیدل د تحقیق نه را ته معلومه شوه چه دا د حکومت خلک دي او حکومت په څه چل ول د دوې په پیسو په طمعه، لالچ دا خلک دې علاقې ته زمونږ د مخالفت د پاره راوستلي وو او دلته جلسه کوي او هغه وکیل لګیاو تقریر یې کولو خو په دې پوه نه شوم چه په کومه موضوع تقریر کوي.

ما خو خلو ته پخپله جلسه کښې د خدائي خدمتګارۍ حقیقت بیان کړو اوخلک مې په دې پوه کړل چه خدای ته د خدمت ضرورت نشته د هغه خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی، دا ملک خدای مونږ له راکړې دی او د غه شان خدای هر یو قوم له یو ملک ورکړې دی، د دې د پاره چه هغوی او د هغوی بچې پرې اباد شي ملک خو زمونږ دی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختیاري دبل دی او دغه وجه ده چه زمونږ بچي وږي تږي او بربنډ دي ومړي پړی
نور خلک کوي . غلامي د خدای لعنت دی او مونږ له دې لعنت نه ځان خلاصول په کار
دی او دا به هله وشي چه مونږ کښې قام ولی ، ورورولی ، اتفاق او مینه محبت پیدا شي . نن دا
دنیا د قامولۍ دنیا ده او تاسو وګورئ چه چا کښې قامولي او ورورولي او اتفاق دی ، نو هغوی اباد
دي او چه کوم قومونو کښې پړي ، جنبې توربګنۍ او دښمنۍ دي هغه برباد دي . زه امید کوم چه
تاسو به زما په دې خبرو غور او فکر وکړئ که دې کښې یو اذې زما فایده وی نو صرف لې کوئ او
که دې کښې ستاسو د دنیا او اخرت ګټه وی نو عمل پرې وکړئ چه تاسو اباد شئ او ستاسو
بچي اباد شي . په کار دی چه تاسو هم ټولو پښتنو سره په دې تحریک کښې شریک شئ . دا جلسه
ډیره په کامیابۍ ختمه شوه ، هر یو کار چه د خدای د پاره وي د هغه مخه څوک نیوی نه شي
حکومت پخپل فریب کښې کامیاب نه شو ، جلسې سره زمونږ دیو مهربان حاجي ؤ هغه له د
ارام د پاره لاړو . د علاقې ډیر معززین جلسې له راغلي وو هغوی سره خبرې وشوې د
حاجی فقیرا خان او حکیم عبدالسلام په تجویز او تائید د دې خبرې فیصله وشوه چه زه
دې د هغو خدائي خدمتګارو سره یو ځای یو تصویر و باسم چه بیګلې کښې د حکومت د طرفه
پرې ظلم او زیاتي شوی دی . جیلخانو کښې یې اچولي دي او په بینتونو وهلي دی . داد
بیګلې د معززینو او مخلصانو یوه ډله وه چه د دوی د اخلاقو د رته څه ذکر وکړم . علی کوم خان
چه په دوی کښې یو خان و دا ته ووی چه پلار مې د حکومت د وړی نه د دې تحریک ډېر
مخالف دی زه یې د کوره شړلی یم ځکه چه زه خدائي خدمتګار یم زه د دې پروانه کوم
او د خپل مظلوم قام د بیدارولو کوشش کوم دیوبل مولانا صاحب نه معلومه شوه چه
وخت یې مونږ په بینتونو وهلو نو ما سپیر ننګلې نټ تر دوي چه زه عالم یم ما مه بربنډ وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوزه يي ديرش بيستو وهلم او زمانوړ ملګري يي پنځه لس پنځه لس بيستونه ورکړي وو.

د ټکلي د خداي خدمتګارو يوي بلي خبري په ما ډير اثر وکړه. د راتلو په وخت کښي مي علي ګهرخان او يو څو نورو خداي خدمتګارو ته ووي که ستاسو خوښه وي نو زه به مو ځان سره پيښور ته د سيل د پاره بوځم نو را ته يي ووې چه زه خوموږ کېږي خو زموږ په سر ډير کار دی د دې نه تلي نه شو نو زه د دې په اوريدو ډير خوشحاله شوم چه د دوی د ې تحريک سره څومره محبت دی.

موږ د ټکلي د ما نسهورې نه را رخصت شو حکيم عبدالسلام صاحب د هری پور زموږ سره ملګری وو هغه د نعمت الله خان دعوت د شپې د پاره منظور کړی و او موږ ماښام د هغه ځای ته ورسيدو. د هغه د کلي نه جدا کوړ وحجره وه. شپه مو په آرام سره تېره کړه، سبا له را روان شو، حکيم صاحب زموږ د تلو د پاره يوی لاری سره خبره کړې وه ليکن سبا له هغه را نغله، موږ پياده روان شو لاره کښي چه به کوم کلي په مخه راتلو نو هغه کښي به مو خپل تبليغ کولو زموږ د پاره پياده تلل سنه شو ځکه چه ډير کار وشو کله چه موږ نوانشهر ته نژدی شو نو ډير هندوان او مسلمانان زموږ په انتظار کښي ولاړ وو او چه موږ يي وليدو نو انقلاب زنده باد چغې يي وهلې هغوی زموږ جلوس په منبار کښې ووېستو. موږ ډير ستړی شوی وو، موږ يي د ارام د پاره يو ځای ته بوتلو ماښام نژدې و، آرام مو وکړو، ډوډۍ مو وخوړه او د شپې د پاره يو بل ځای ته لاړو سحر وختي چه څوک زموږ ليدو له راغلي وو هغوی سره مو خبرې وکړې. د دلته موږ ته معلومه شوه چه په هندوانو او مسلمانانو باندې حکومت ډير زور اچولی و چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ بایکاټ وکړی او استقبال ونه کړی خو کامیاب نه شو سبا له چه مونږ جلسې
له ورغلو نو په زرګونو هندوان او مسلمانان جمع وو او جلسه ډېره په کامیابۍ وشوه ا
خلک می د خدایی خدمتګارۍ په تحریک پوه کړل او ورته می وویل چه هر چا له چه خدا
ملک ورکړی دی نو د هغه اختیار د هغه قوم دی، یو مونږ بد قسمته خلک یو چه ملک
زمونږ دی او مزې پرې نور خلک کوي، په کار دی چه مونږ ټول په شریکه ملا وتړ
چه خپل ملک ازاد کړو مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شی، چه څه وخت ما تقر
ختم کړو نو زمونږ د پېښور یو قاضی چه د پولیس انسپکټر و ما ته را نژدې شو چه تاسه
چېرته ځئ ما ورته وویل چه ایبټ اباد له هغه وویل چه هلته ایکسوچوالیس دفعه لګېد
ده (د قانون ۱۴۴ ماده نافذه ده) او زه د پولیس کپتان رالېږلی یم چه د څلورو نه ز
کسان یو ځای تللی نه شی. ما ورته وویل چه ډېره ښه ده مونږ به څلور څلور ځو لیکن
یقین نه دی چه کپتان صاحب به دې خپل حکم ټینګ پاتی شی ولی چه په دغه طر
به زمونږ ډېره پراپیګنډه وشی چه مونږ له دې ځایه په مختلفو سړکونو څلور څلو
شو نو قاضی صاحب زما په خبره پوه شو او کپتان له یې ځواب یووړ. مونږ د تلو انت
کولو چه قاضی صاحب بیا راغی او راته یې وویل چه کپتان صاحب وایې چه دوی ته ب
کښېنی یو ځای د تلو اجازت دی. د کاکول او د نورو کلو خلک راغلی وو چه مونږ س
زمونږ کلو ته لاړ شه خو زمونږ پروګرام جوړ شوی و نو دوی سره می وعده وکړ
دوباره راشم نو درسره به شم. مونږ لاړی کښېنی سواره شو او ایبټ اباد له روان شو
خدائی خدمتګارو خپله باجه ورو ورو په لاره کښې غږوله. چه د ایبټ اباد سنا
نژدې شو نو یو سب انسپکټر ولاړ و هغه زمونږ لاری ودرولی او وی ویل چ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه غونډ دی. ما ورته وویل چه تاسو لیکلی حکم ښئته هغه وي نه نوما ورته وویل چه موږ
بغیر د لیکلی حکم نه باچا نه بندوو نو هغه وویل چه سبا ده نو زه مو ډپټي کمشنر له بیایم موږ
ورته وویل چه ته مو هر چیرته بیایي موږ د تلو نه انکار نه کوو خو ته هم زموږ سره په ګډی
لاړی کښنی کښینه ولی چه خلک به جمع شي او د دلته خو دفعه ایکسو چوالیس (۱۴۴ ماده) ده نو
د خلکو جمع کیدل خلاف قانون دی خو هغه زموږ د دی خبری هیڅ پروا ونه کړه هغه زموږ
د لاړی مخکښنی روان شو او موږ وروسته لاړی ووړ و ووړو روانه کړه او باچا موږ ته په
چه چا به د باچاجی واقعه اوریدلی نو موږ پسی به راتلو او چه څه وخت د پولیس لاین ته ورسیدو نو
ډیر خلک راجمع شوي وو هلته پولیس سره د افسرانو تیاره ولاړ وو هغوی موږ ته وویل
چه د باچاجی والا ډپټي کمشنر غواړي ما ورته وویل چه د ده قصور څه دی ؟ او که چیری
قصور ه تا سره دوی بیایی نو بیا موږ هم ورسره ځو ، موږ ټول بوځئ په دی
کشمکش کښنی دوه ساعت تیر شو باچا غوښتي او خلک جمع کیږي په دی کښنی بهادر
خان انسپکټر ماته رانږدي شو چه د خدای د پاره دا باچا خو بند نه کړی ! باچا می
بند نه کړه یوه عجیبه نظاره وه د ملګرو هلکان د دفترونو کارکنان او د ښار خلک په
ساعت کښنی په زرګونو را جمع شو او که حکومت موږ سره چیرچار کړی نه وای نو زموږ
دومره پراګنده شوی نه وای او دومره خلک به زموږ نه خبر شوي نه وو . اخر د ډیر
ښت مباحثی نه پس موږ ته اجازه وشوه او موږ د ایبټ اباد اسلامیه سکول ته راغلو
چه دا ځای د ایبټ اباد د خلکو زموږ د ارام د پاره مقرر کړی و سباله د جمعی ورځ وه
موږ اعلان وکړو چه سباله به جامع مسجد کښنی وعظ کیږي تاسو ټول هندوان
مسلمانان دا وریدو د پاره راشئ ! موږ لږ ارام وکړو بیا مو د ایبټ اباد مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره دتحریک متعلق تبادلهٔ خیالات وکړل او ورته می ووې چه مونږ هم یو قوم یو، مونږ
له هم دخپلی آبادۍ او ترقۍ د پاره څه جد وجهد په کار دی او که ټول عمر سپه دی نیستی
او غلامی کښی پراته یو نو ورک به شو. زمونږ اصلی مطلب قوم کښی مینه، محبت، تامولی
ورورولی او اتفاق پیدا کول دی. د پر هندوان او مسلمانان به زمونږ الیډ وکتوله راتلل
او هرچا ته اجازت و. ګودکا او نور فوجیان او ښځی او بچی هم زمونږ لیډ وله راغلل مونږ
ورسره د مینی محبت خبری وکړی او دخپل تحریک په غرض مو پوره کړل چه مونږ به د
خدای د پاره ستاسو او د ټول قام خدمت کوو. حکومت خو دغه ایکسو چوالیس په دی
وجه لګولی وه چه دلته جلسه ونه شی او خلک زمونږ د تحریک نه خبر نه شی. څه وخت چه
حکومت خبر شو چه سباله دجمعی ورځ ده او جامع مسجد له دا ییت اباد د خلکو نه علاوه
نور د بهر خلک هم دلمانځه د پاره راځی نو دا جلسه زمونږ د پاره ښه نه ده نو ډپټی کمشنر
د جامع مسجد امام سره دکمیټی د ممبرانو دا وغوښتل او هغوی ته یې ووې چه په هر
طریقه چه کیدی شی باچا خان د تقریر نه منع کړی. مونږ شپه په ارام تیره کړه د
چای مو څکلو نو امام صاحب دکمیټی ممبرانو سره راغلل او ما سره یې ځان له خبری
وکړی ما ورته ووې چه تاسو ډپټی کمشنر له ووایئ چه مونږ دا کار کولی نه شو ولی چه
جماعت د ټولو مسلمانانو دی او یو مسلمان بل مسلمان د جماعت نه منع کولی نه شی
خو زمونږ مذهب دی او زمونږ خو دومره زور نشته چه یو مسلمان په جماعت کښی
نه منع کړی شو تاسره زور شته ته یې ولی نه منع کوی؟ بیا می ورته دا خبره وکړه چه
ډپټی کمشنر په دې کښی بل څه مطلب نشته هغه پوه دی چه جماعت د هر مسلمان
خو مونږ مسلمانان په کور کښی جنګوی او بی اتفاقی راکښی پیدا کوی. مونږ مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې دد ښمن په لمسه پخپل کور کښې ناچاقي پیدا کوو؟ زما خبرو په هغوی ډیر ښه اثر وکړو او د ډپټي کمشنر له دوان شول. چه ډپټي کمشنر پوه شو چه زما داوونه چلیدونو قلاړ شو. په جماعت کښې دومره هندوان او مسلمانان جمع شو چه د پښې ایښودو ځای نه و. د فاتحې نه پس زه پاځیدم او تقریر مو شروع کړو. د قرآن شریف خلور ایاتونه می ولوستل او ترجمه می خلکو ته وکړه چه خدای پاک وایي چه زمانه امداد په صبر او اتفاق سره غواړئ. و خدای وایي چه څوک زما په لاره کښې مړ شي نو دا مړه نه دي ژوندي دي خو تاسو به دی نه پوهیږئ. او خدای پاک وایي چه زه د صابرانو ملګری یم بیا وایي چه زه پخپلو بندګانو از مینت کوم د مالونو، او ځانونو، او اولاد، او فصلونو هر کله چه دوی ته زما په لاره کښې څه نقصان ورسي نو دوی وایي چه مونږ هم د خدای یو او هغه له به ورځو، دغه خلک زما د رحمت حقدار دي او دوی په سمه لاره روان دي او بل ځای خدای پاک وایي چه په تاسو کښې دې داسې یوه ډله وي چه خپل کارونه پرېږدي او ځي او خلک د بدۍ نه منع کوي او نیکۍ ته لي رابولي. زما ورونو! مونږ د خدای د پاره د خدای د مخلوق خدمت ته ملا تړلې ده که تاسو هم د خدای د مخلوق خدمت کول غواړئ او خدای رضا کوئ نو مونږ سره په خدایي خدمتګارۍ کښې ملا وتړئ چه دا دنیا مو هم جنت شي او اخرت کښې هم د جنت حقدار شو.

جلسه په ډیره کامیابۍ ختمه شوه د ټلو انتظام مو کولو چه په دی کښې زمونږ د کلي دیوخان زوی چه هلته سب انسپکټر و راغی او راته یي ووې چه بهادرخان انسپکټر زه تاله رالیږلی یم چه څه وخت دوی روانیږئ نو باجه دې نه غږوي ما ورته ووې چه بهادرخان خو زمونږ ورور دی خو زه نه پوهیږم چه ده ته په باجه غږولو کښې څه تکلیف دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د طرفه د سلام نه پس ورته ووايه چه که چيري تاته زمونږ په باجه ذاتي څه تکليف وي نو
مونږ به باجه بنده کړو او که تاته څه نقصان نه وي نو ته زمونږ باجه څه کوې؟ زمونږ په ملک
کښې ديسي افسران خپل فرض نه پيژني او نه يي پوره کوي بلکه هميشه د خپلو انګريزانو افسرانو
د پاره هغه کارونه کوي چه هغه د دوی فرض نه وي.

لا دی تیاره وه، مونږ لا دی کښی هر پوړته روان شو، په لاره کښی د حویلو په
تيسن خلک جمع وو هغوی ته مي هم يو مختصر تقرير وکړو. په سرای صالح کښی خلک زمونږ
په انتظار کښی وو خو په مونږ ناوخته شو نو خواره شوي وو. د هریپور خلک غیر بیانان د
سبا د نه بهر زمونږ په انتظار کښی ناست وو مونږ ماسختن ورورسیدو او د دوی د
انقلاب زنده باد فخر افغان زنده باد چغی ووهلي او زمونږ جلوس په بازارونو کښی
وګرځيد و بيا لاړو د دوی موو خوړه او بيا اوده شو، د بخشالی بجران شهزاده صاحب
مي د حالات معلومولو د پاره پچ ته لیږلی و هغه هریپورته راغی او ما ته یي د پچ حال
ووې چه خلک ډیر زیات په شوق کښی دي ستاسو ورتلل ډیر ضروري دی ماده سره
وخت مقرر کړو، د دی خبری می پری ډیر تاکید وکړو چه دا خبره عامو خلکو ته زما د
تللو نه وړاندی معلومه نه شي ولي چه بیا به حکومت زمونږ لاره کښی رکاوټونه واچوی
مبالغه چه مونږ د چا میلمانه وو، ورغلو او چه هلته ورسیدو نو یو مولوی صاحب چه ماله راته
خدایي خدمتګارو منع کولو خو ما ورته ووی چه را پریږدی لي دی. نو ماله راغی، ما خان
سره کښینولو چه د هغه د دوی وخت راغی نو خلکو لیر کولو خو هغه په زوره د دوی کښی خان شریک
کړو. زما مهربان محمد اکبر قریشي راته ووې چه بیګا یو ځوتنه د تورو جنګ و سره راغلي
وو په سړک ولاړ وو خو چه د خلکو زور یي ولید و نو غریبانان ګډ وډ شو او خبری تری باتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ماودته روې چه دومره خلک ووچه ماتوري جندې هیڅ لیدلې نه دي . چه د
جلسې ځاى ته ورسېږ و نو ډېر پولیس لاټۍ په لاس ولاړ وو او چه زه تقریر ته پاڅېدم
نو هغه مولانا مې ولیدچه په زوره زوره تقریر کوي او څه کسان ورته ولاړ وو . خلکو ته
چه داخلک حکومت راغونډ کړې دي ، خانان ، ملکان دي او زمونږ برخلاف جلسه کوی .
مونږ اول فیصله کړې وه چه ددې ځاى نه به شپې له کلابټ ته ځواو سباله هلته
جلسه کوو . به جلسه کښې مې ددې اعلان وکړو . کلابټ دا باسین نه ډې غاړه دی او
صوابۍ په بله غاړه ده دایوسف زى دی او دهغه ځاى خان نهانخان زماد ډېر واقف ؤ
دا یوځل دی د صاحبزاده فضل رحمان په ځاى کښې لیدلې و ، ما او قاضي عطاء الله خان
ته ي ډېر کلک ټینګ دمیلمستیا کړې و ، زه خبرنه وم چه دحکومت په لمسه به مونږ د
خپل کلی نه منع کوي مونږ چه څه وخت کلابټ ته نږدې شو نو دکلابټ دخان تره دخپلو
سړو سره کوتک په لاس ولاړ دی او مونږ خپل کلی ته نه پرېږدي حالانکه چه په هغه کلی
کښې دهغوی یوورور عزیز مهدی زمانخان دغلته زمونږ دجلسې انتظام کړې و
او مونږ ي میلمانه کړي و ، زمونږ لارې والا ډېر تکړه سړې وچه مونږ داخلک ولیدل
نو ما دې لارې والا ته ووی چه ته دا لارې لرې ودروه ، دې خان سره زه لږه خبره
کوم ده ماته ووې چه ته داخلک نه پیژنې ، دا هزاره وال پښتانه دي او ده خپله لارې
پرې ورتېزه کړه خان مخامخ زمونږ لارې له راغی او سوټې یکړي ي زمونږ نه چاپېره
شو د دا یو په دوې لارې نیغه ودروسته او زمونږ لارې ترې تېره شوه دوې پاپسي
منډې ووهلې خو وروسته پاتې شو او مونږ کلی ته ورسېدو . په هزارو کښې خو دفعه
ایک چوالیس (۱۴۴ ماده ) لګېدلې وه نو په سباله موجماعت کښې خلک جمع کړل . دجماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بهر اسسټنټ کمشنر سره د دغو ټولو خانانو او پولیسو ناست وو زمونږ تقریر یې
اوریدلو ما پخپل تقریر کښې داخبره وکړه چه ای د هزارې پښتنو د سینې نه دې غاړه
او هغه غاړه ټول یوسف زی دي تاسو خولې هغې غاړې ته وګورئ چه هلته څه حال دی
او دلته ستاسو څه حال دی؟ بله دا چه ما د ټولې صوبې دوره وکړه او په هر ځای کښې حکومت
زمونږ مخالفت ته خلک لمسولي دي خو مونږ بل ځای توره جنډه لیدلې نه ده، دا مونږ
هزاره کښې ولیده او نه په مونږ پسې چاکوټکې را اخیستي دي چه زمونږ کې اته مه راځئ او
نه یې زمونږ د جلسې مقابله کښې چیرته جلسې جوړې کړې دي دا هر څه مونږ د الته په هزاره
کښې ولیدل هغه هم پښتانه دی او تاسو هم پښتانه یئ راځئ چه د دې وجه معلومه کړو ما
چه په دې مسئله ښو مره غور او فکر کړی دی نو د جه یې دا ده چه تاسو خبره ژر به هیره کړې
ده او تشه ژبه در نه ورکه شوې نه ده بلکه ورسره هغه پښتو درنه هم ورکه شوې ده. د
هزارې پښتنو! زما دا خبره یاده ولرئ چه د چا نه ژبه ورکه شوې ده هغه ورک شوی
دي او چا نه چه خپله ژبه سپکه شوې ده هغه سپک شوي دي. جلسه ختم شوه مونږ سره
چه کوم لارې والا راغلي وو نو د واپسۍ په وخت کښې هغه پولیس منع وهلي وو او ورته یې
ویلي دي چه پام کوه چه سباله دوی پسې را نه شي.

چه اډې له راغلو نو لارې نه وه تمتمونه و لاړه وو لیکن پولیس منع کړې وو چه
دوی سره لاړه نه شي یو تمتم والا ووې چه زه د پولیس هیڅ پروانه کوم او تاسو سره ځم
مونږ د هغه په تمتم کښې خپل اسبابونه کښېښودل او د ه سره پیاده روان شو تو له لاره
په غره کښې وه د پېړ د مزې سړه دا ترایي وه، چرایي وه لاړه کښې چه کوم کلی
په مخه راتلل هلته به خپل کار کولو. حکیم صاحب او زمونږ د هریپور کرنیل صاحب محمد حسین خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکښی (دا انتظام د پاره تلي وو ولی چه د کلابټ د واقعی نه پس مونږ په دی نتيجه ورسیدو
چه زمونږ مقامی ملګری مخکښی لېږل په کار دی چه هغوی خپل کار وکړی د دغه ځای
یو خلم خان زمونږ د مېلمستیا انتظام کړی و دا کلی دا باسیند په غاړه اباد دی مخکښی
بی لږه دده خوا باده ده جلسی لاړو په جلسه کښی د علاقی خلک راجمع شوي وو د پوری
اباسیند د غاړی خلک هم راغلی وو. د دی علاقی خلک په پښتو پوهیدل او د پښتو
نظمونو پوری دیر اثر کړی و شپه هم مونږ د غه زلمی خان سره تیره کړه د پر مخلص
او شهید هلک و پولیس پوری د باور نه کړی. وو چه دا خلک میلمانه نه کړی خو ده
بی څه پروانه وه کړی افسوس دی چه دده نوم زما نه هیر دی. سباله د ددی کلی
نه نژدې یو بل کلی و د هغه کلي خان مونږ میلمانه کړو چه هلته لاړو نو هغه خان راته
ووې چه دا سمیلا وکیل میا علی حیسن شاه چه د هغی علاقی د ښتی او د پیر پایی بهادر
خان چه هلته د پولیس انسپکټو په ما ډېر کوششونه وکړل چه زه تاسو میلمانه نه کړم
خو ما ورله ځواب ورکړو چه تاسو می میلمانه یئ نو هغوی هم میلمانه کوم ولی چه تاسو
حاکمان یئ او هغه می میلمانه دي هغه خان ما ته په خندا اشو چه دا خو ستا پښتونو ځان
دی او ځان له پښتانه هم وایی. د هر یو سړی په علاقه کښی چه څومره مشکلات مونږ ته
پیدا شوی وو دا د دی دوو سړو برکت و او د دی پیدا کړی. وو دا لاځه کوی چه مونږ
کوم ځای ته د خپلو ورتلو او جلسی کولو خبر لیږلی و هغه ځای د دی ځای نه دولس
دیارلس میله لیری و مونږ یوه لاری کړی وه. چه د روانیدو وخت راغی نو معلومه
شوه چه علی حیسن شاه او بهادر خان زمونږ هغه لاری د پولیس تانی ته بوتلی وه هغه
درایور ورته چغی وهلی چه هغوی سره می وعده کړی ده او کرایه می تری اخیستی ده ولی

زمونږ پېښوریان وروڼه، سرکاري افسران ورته والي هغوی پرېږده. مونږ بوځو او
چه د سرکاري کار د پاره دلاري ضرورت وي نو ته څنګه بل څوک بوتلی شي. علي حیدرشاه
د پټهي او بهادرخان انسپکټر چه مونږ سره کومه لوبه هزاره کښې کړې وه داسې مونږ
سره په ټوله صوبه کښې چا کړې نه وه او دریم سړی چه د دوی نه هم دوه ګوتې د پاسه
وُ خوشدل کپتان وُ.

مونږ چه خبر شو نو حکیم صاحب عبدالسلام غریب ډېر پریشانه شو هغه سوړلي
پیل اکولوسي اډې ته روان شو او مونږ پیاده روان شو مونږ شپږ میله پیاده تلي
وو چه حکیم صاحب د دوو موټرونو سره راورسیده مونږ په دوو موټرو کښې نه
ځائیدو لیکن هغه موټر والا ډېر ښه سړی وو او په زوره یې یکښې ځای کړو مونږ
تکړه وو او مونږ به اکثر ټولې دورې پیاده کولې خو وخت به راسره وو د لته خو را
سره د هغو خلکو فکر وو چه زمونږ انتظار به کوي، جلسې نه چه مایوسه شي خواره به شي
زمونږ په دې پیاده تلو کښې دومره فایده خو شوه چه په لاره کښې به موکوم کلي مخې ته
راتلو نو په هغه کښې به مو کار وکړو. چه مونږ د جلسې ځای ته نږدې شو نو خلک غریبانان
په انتظار کښې ولاړ وو دا کلي هم د هغه مخکښې کلي په شان دا باسیند په غاړه او د
تاتهي په خوا کښې و. جلسه په ډېره کامیابۍ ختم شوه او خلک مو د خدائي خدمتګارۍ
د تحریک نه خبر کړل. د غرونو نه مشوانی قوم راغلی و د دوی مونږ سره خدائي خدمتګارۍ
کښې د ملګرتیا وعده وکړه. مونږ چه به هر چیرته تلو نو د پټهي میا صاحب او بهادرخان
انسپکټر به راپسې وو مونږ د شپې د پاره دې کلي کښې پاتې شو، د شپې د ټول
کلي مشران راجمع شوي ما او حکیم صاحب ورته تقریرونه وکړل چه تر کومې پورې تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقام د پاره ملا تړلی نه ده قوم وچتیږی نه شي او د خپل ملک د جامو اغوستو عادې می تری واخیستي چه د خپل ملک جامې به اغوندي .

زمونږ دی جلسې له د پورې علاقې د زړوبی صاحب سره دیو خو خدائي خدمتگار هم راغلي وو او مونږ ته یې ووې چه له دې طرفه و ذکار رشتې نو زمونږ کلي ته به راځئ، مونږ د خپلو تللو اراده پټه ساتلې وه چا ته معلومه نه وه چه مونږ په کوم خوا ځو د سرحد پولیس هم راغلي وو او د پنجاب پولیس هم راغلي وو هغوی هم تحقیق کولو خو مونږ د خپلې ارادې نه څوک نه خبرول. چه سحر چای مو وڅښله نو ما حکیم صاحب ته ووې چه ته زمونږ د پاره د ټنځو تمتمونو انتظام وکړه او بیا مو هم خبره پټه وساتله چه کوم خوا به ځو؟ چه مونږ ادې له روان شو نو د زړوبی صاحب دوی مو رخصت کړل او دا وعده مې ورسره وکړه چه د بیچ دوره ختم کړو نو صوابۍ ته به درشو او ضرور به ستاسو کلي ته درځو په دغه وخت کښې ما خپله اراده ظاهره کړه چه زما دا خبره د بیچ یو تانه داد واو د بلوڅو په منلو ه مونږ نه مخکښې لاړو او زمونږ یو تمتم لي په زور روان کړو او زمونږ نه وړاندې ورسیدو. ما حکیم عبدالسلام صاحب او د ... کارکنان د ډیرې شکرېي نه پس واپس رخصت کړل صرف د هیرو هغه کونیل صاحب راسره پیچ ته روان شو تمتمونو کښې سواره شو سړک کچه وشګې وې، خوړونه وو او ډیکونه وو، اسونه په ډیر تکلیف و، اکثر به ورسره پخپلو پښو تللو ځای په ځای خلک سړک ته زمونږ د لید و د پاره راوتلي وو هغوی سره مو خبرې وشوې. زه به دعامو خلکو مینې او اخلاص ته حیران شوم او شکر به مې کولو چه الله تعالی په پښتنو ډیر فضل او کرم کړی دی چه د دوی په زړونو کښې دی د قامولۍ او ورورولی

...عبدالرحیم خان مرحوم چه ډیر چوپړ شوی ... ډیر زور آور ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

... ته روان یو. د تقریر ده پاره ۵۱۸ موږ ... ده برگشن حکومت

احساس پیدا کړی دی، موږ چه چې ته نژدې شو نو په زرګونو خلک زموږ په انتظار

د کلي نه بهر ولاړ وو او جنډې ورسره وې. زموږ په لیدو هغوی نو هم را وړاندې

شول او چه راته دې شو نو موږ هم هغوی سره پیاده روان شو، څه وخت چه د پنجاب

په حد کښې داخل شو نو موږ پولیس او خانان او ملکان ولیدل چه ولاړ دي ټوپک

او توری جنډې یې په لاس کښې دي سره کڅه و، ډیکونه وو او ډیر خلک وو، په دې

وجه دومره ډوډې وې چه تیاره یې جوړه کړې وه. موږ چه دې خلکو ته نژدې شو

نو خدائي خدمتګارو نو خلک ودریدل د طورو خان عبدالرحیم خان ماله راغی

او راته یې وویل چه پولیس د ره ته سره بند کړی دی او یو پیرنګی هم ورسره دی موږ

مخکښې نه پریږدي ما ورته وویل چه څه حکم ورسره شته چه اخو په څه وجه موږ

نه پریږدي هغه وې نشته پولیس په ټوپکو سنګینونه جوړ او کړی دي او موږ ته

یې نیولې دي ما ورته وویل چه څه حکم ورسره نشته نو ورځئ پریږدئ مه وړدیږی

هغه پیرنګی د پولیس کپتان و او ډیر تریخ او خراب و مخکښې هم چه موږ خدائي-

خدمتګار چې له راغلي وو نو ډولونه یې تری شلولي وو جنډې یې تری اخیستې

او چې ته یې نه وو پریښي. هغه پولیس له د ګولی چلولو حکم ورکړی و خو موږ هجوم

چه یې ورغی نو په هغوی داسې هیبت راغلی و چه ټوپک یې چلولی نه شو او ورسته کړه

په تلل په دې تیل کښې پیرنګی هم تمبیله شوا او چه څه وخت هغه پوه شو چه پولیس ګولۍ

نه چلوي نو پخپله یې یو ټوپک واخیست نو امین جان خان ورته سینه بربنډه کړه

چه وله هغه باندې هم هیبت راغی او د امین جان نه یې پوښتنه وکړه چه عبدالغفار خان

چیرته دی؟ امین جان پوه شو چه دی ګولۍ نه چلوی نو زه یې ورته وښودم هغه ماله

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی او ماته یې ډېره مشکله داوې چه ما سره حکم دی مالاس وچت کړو او خدائي
خدمتګار د د دېډل ما هغه پېرنګی ته ووې چه داخوستا ډېره بې وقوفي ده چه تا ماته
حکم نه دی ښکاره کړی تاله به کار وه چه ماته دې مخکښې حکم ښودلی وای مونږ د
حکومت حکم منلو ته تیار دیو او س که داګولې چلېدلی وای خلک مړه شوی وای نو د
دې به څوک ذمه وار وو ؟ هغه و منل چه دا زما غلطي وه . د خدائي خدمتګار و په ده
دومره رعب پریوتی وُ چه ټول رچېدو او حکمنامه یې او ورولی او لوستلی هم نه شوه
ما ترې واخیسته او ومې لوسته هغه کښې لیکلي وو چه تاسو دلته جلوس او جلسه
کولې نه شئ ما هغه له ډېره تسلي ورکړه او ورته مې ووې چه مونږ ته بالکل دا حکم
منظور دی د سرحد ورته نزدې وُ ما هغه ته ووی چه مونږ سرحد کښې خو جلسه کولی
شو ؟ هغه ووې چه بې شکه دا حکم د پنجاب د پاره دی مونږ سره هغه ټول خلک سرحد
ته واوړېدو او یوه لویه جلسه مو وکړه ، په دې جلسه کښې د بېنچ د ټولې علاقې د هر کلي خلک
شریک وو ما جلسه کښې د خپلو راتلو مطلب بیان کړو او د خدائي خدمتګاری د تحریک
نه مې خلک خبر کړل او ورته مې ووې چه تاسو هم پښتانه یئ او مونږ هم پښتانه یو دیو بابا
اولاد یو مونږ غواړو چه تاسو هم مونږ سره په دې نوي ورورولي خدائي خدمتګارئ
کښې شریک شئ زمونږ د ټولو پښتنو به یوه جرګه وي قومي مسئلې به هغوی فیصله
کوي او په دې وسیله به دیو بل د غم تکلیف او مصیبت نه خبرېږو و نو مونږ به هم د نورو
قومونو په شان یو قوم شو مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شي .

جلسه ختمه شوه او خلک رخصت شول ، ټول خلک خواره شول ، مونږ ځان ته
په میدان کښې پاتې شو دروا ښېد و تجویز مو کولو چه په دې کښې د اسمیلا هغه د پټې میا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اود پیر پاپي انسپکټر د اغلل او زه یې بېل کړم او دا ته یې ووې چه مونږ ستا سره د ورکړې
ولي یو ښو خبرې کول غواړو. ددوی ورور ولي خو مونږ هغه اړخ کښې لیدلې وه دا غلامان
ورونه یو عجیبه مخلوق دي چه حاجت یې پېښ شي نو د سړي ورونه شي او د پیرنګیانو
د پاره چه ملاوتړي نو د سړي برخلاف هر قسم حربې استعمالولو ته تیار دي. ددوی په
ملک او قوم باندې هیڅ کار نشته او هر وخت په دې کوشش او فکر کښې وي چه مونږ
به څنګه داسې کار وکړو چه صاحبان خوشحاله شي او په هغوی مو احسان وشي او دا هر څه د خپل ځان
د پاره کوي د صاحب د خوشحالۍ د پاره یو ذلیل نه ذلیل کار ته هم تیار دي. ما ته دوی چه څه
وایي دوی دا ته شروع شو چه تا ته معلومه ده چه په دغه علاقه کښې حکومت په تا باندې د دفعه
ایک سو چوالیس ولګوله په دې کښې ته نه جلسې کولی شې او نه تقریر نه کولی شې نو دغه به
ښه نه وي چه تا سوله مونږ لادې ته درکړو او مونږ سره هر پېښور ته لاړ شې او بیا د دغه ځای نه
پېښور ته لاړ شې! ما دوی لیدلي وو چه د پیرنګي سره ناست وو او خبرې کولې دا پېښې
ورته هغه بېرا وکړې وه چه په هر طریقه چه وي چه دوی د دې علاقې نه واپس شي هغه د پنجاب
څه افسرنه د خو صاحب خوږ او ددوی د پاره د صاحبانو خوشحالول یو لوی خبره
وي ما ورته ووې چه واپس تلل نه شو او نه مونږ دلته نور د ورځ کوونټ مونږ د غرغښتو
خان میلمانه کړي یو غرغښتو ته ځو او هغه سره شپه تېروو سبا له به په دې لاره پېښور ته
ځو. ما خپل خدایي خدمتګار په څلورو څلورو ټولو کښې تقسیم کړل او غرغښتو ته روان شو
چه هغوی لا اول نو بیا زه هم د سودم د سالار صاحب او عبدالرحیم خان سره غرغښتو له
روان شوم او د خان حجرې ته مو ځان ورسولو ماښام نزدې و چای مو وڅکله لږ آرام
مو وکړو د ماښام د لمونځ نه پس مې د کلي خلکو سره ولیدل، خبرې مو وکړې بیا مونږ ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه دی ته کښېناستو چې ترڅو زما دخولې نه دا وتل چه دا پېرنګی سنه سره ونو زمونږ -
خدای خدمتګار د هېوړ کورنيل راته ووي چه سنه سرې چيرته و ، داخوبيا وروسته
سنه سرې شو اول خوچه مونږ ته نژدې شو نوما سره جنډه وه فوراً بې زما په جنډه حمله
وکړه او زما نه يې جنډه ونيوه او چه ماچک ور کړو او جنډه مې ترې خلاصه کړه نو بيا
يې په ما حمله کوله چه په دې کښې غوبل جوړ شو . بله دا چه هغه خوسپايانو له حکم ور کړی وچه
په دوی ګولی وچلوئ خوسپايان وار خطا شوي وو ، دې په خدايي خدمتګارو
دمخکښې نه عادت و . زمونږ خدايي خدمتګار چه دلته په دوره راغلي وو دهغوی
نه يې جنډه په زوره اخيستې وه او ډولونه يې ورله هم شلولي وو او بيايي واپس کړي وو
دده دا خيال وچه دا ځل به هم زه هغسې کامياب شم خو دا ځل خدای داسې وشو چه لو
او داسې بې رعبه شو چه زه يې درته بيان کولی نه شم ، دالاخه کوی چه دخلکو په زړونو
کښې دحکومت رعب باتی نه شو .

شپه دېره په خندا او خوشالی تېره شوه سحر خدايي خدمتګار و چای څکلی
دهېوړ کورنيل صاحب محمد حسين بهر په پېره ولاړ و چه ماده ته خبری واورېدې
ما راوغوښتو او ورته مې ووې چه څه خبره ده ، هغه او وئيل چه يو خوافسران راغلي وو ما
دننه ناپرېږي نه سنبول خکه چه تاچای څکلی . ماوې راپرېږده چه دننه راشي چه راننه
شول نوما وخندل او ورته مې ووې چه خير دی بيا موخه نادرشاهي حکم راوړی دی ؟
نو هغه وخندل ويل چه زمانوم نادر دی ، دچاپوست مې ورته وکړه چه ماچای وڅکلی
هغه يو بل حکم ماله راکړو چه ددفعه ايکسو بيالس ( دقانون ۱۴۲ ماده ) مطابق تاله حکم
درکېدی شي چه ته فوراً ددې علاقی نه وځه ماورته ووې چه حکم ما ته منظوردی چه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړودي وخورو نو فوراً له دی ځایه روان شوا و ستاسو د حکم تعمیل به وکړو موږ چه ړوډی وخوړه نو د ټلوا انتظام مو وکړو خو معلومه شوه چه لا دوډالاوله او تمه تمو نو او پولیس حکم ورکړی دی چه دا خلک په سورلی کښې بو نه ځی موږ یو تم تم د اسباب د پاره هم پیدا نه کړو ما تول خدائي خدمتګار بیا ځلور ځلور کړل ځیل اسبابونه مو واخیستل او روان شو چه ماسپښین شو د سړک په غاړه یو کلی ته لمانځه له ورو کرځېدو خلک چه خبر شو نو یو ساعت کښې جماعت د کلي د خلکو نه ډک شو د لمانځه نه پس مو خلک د حکومت د زور او زیاتی او د خدائي خدمتګاری نه خبر کړل او په دې مو پوه کړل چه دا حکومت موږ لېښتا نه یو قسم ترقی او اتفاق ته نه پرېږدي تا سو په دې خبره ځان پوه کړئ ۰

## د هزارې نه واپسی :

په دې کښې بیا هغه افسران راغلل او وراته لي ووي چه تا ایک سو چوالیس ماته کړه ماوي په لومړۍ هم دا دفعه ماتیږي ؟ نو نور څه تري جوړ نه شو نو یوه بله دفعه لي راته ښکاره کړه چه د نور پر یوتو نه اول د پنجاب نه بهر شي او که بهر نه شوی ږقانونی کاروائي به درسره وشي ما هغه د ډپټی کمشنر ته ولیکل چه لا دی او تم تم تا سو په موږ بندکړي دی موږ سره څه داسې ذریعه نشته او نه هوائي جهاز شته چه د نور پر یوتو نه وراندي د پنجاب د علاقی نه بهر شو موږ ته د پنجاب نه بهر کیدو د پاره څه انکار نشته که تاسو راله د بهر کیدو انتظام کولی شئ د دې نه پس افسران مخکښې او موږ ورپسې په سړک کښې ځای په ځای زموږ د بند ولو د پاره یي ونی اچولی وې ، موږ خبر شو چه د ډپټی کمشنر او د پولیس کپتان سره د خیلو خانانو او ملکانو راغلي دي او موږ ته وراندی په سړک ولاړ دي نو زه د خدائي خدمتګارو نه مخکښې شوم او چه څه وخت موږ هغوی ته نږدي شوا و خلکو موږ ولیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



و دښاو خواخلک دغلته راغونډ شو او مونږ لیسي روان شو، مونږ منع کول چه ایک سوچوا-
لیس دی مونږ سره مه راځئ خو هغه دخدای مخلوق چا په قبضه کښې راوستی شول
هغه مجسټریټ او دپولیس کپتان ماله راغلل او راته یې ووې چه زمونږ په کوشش سره
د پېښې کمشنر صاحب راضي شو چه ستاسو دپاره دسورلي انتظام وکړي، دپېښې کمشنر
م زمونږ مخې له راغی، زه تږی شوی وم او به مې وڅکلې هغه خلکو ووې مونږ تاسوله
چای پخه کړې ده، مونږ سره چای وڅکئ، ما یې شکریه اداکړه او ورته مې ووې چه ستاسو
چای مونږ وڅکلې او که ژوندي یو نو بیا به راشو. په خبرو کښې دخدایي خدمتګارو ذکر
راغی نو هغه دپېښې کمشنر راته ووې چه ستاسو نظریه دعدم تشدد نه ده، داخو چل دی
وس چه ستاسو طاقت نشته نو تاسو تشدد نه کوئ خو چه طاقت پیدا کړئ نو بیا به تشدد
وئ ما ورته ووې چه زمونږ دا تحریک د ربښتیا و تحریک دی، مونږ منافقان نه یو
چه په خوله مو یوه دي او په زړه مو بله وی. خدایي خدمتګار لاری ته وختل او زه چه
موټر ته ختم نو هغه دپېښې کمشنر راته ووې چه دخدای دپاره بیا دې علاقې ته رانه شې
ورته ووې چه پنج کښې زمونږ لیښتانه ورونه دي، دوی دپنجاب نه جدا کړئ، نو بیا به
راځم. مونږ ددوی نه رخصت شو، زه دپولیس کپتان ځان سره خپل موټر کښې کښېنولم
خدایي خدمتګاري په لاری کښې کښېنول. تا نه دارهم ما سره موټر کښې ناست وما ته
ووې چه ته دې خلکو له څومره تنخوا ورکوې؟ دهغه په دې خبره ما ډېر وخندل او
رته مې ووې چه دوی ستاسو په شان دکرایي تنخوان نه دي دا هر یو سړی دخپل جایداد
وند دی او په دې کار کښې خپلې پیسې لګوي نو هغه راته ووې چه بیا ددې نه فایده څه؟
ورته ووې چه فایده داده چه مونږ خپل قوم دغلامۍ نه ازادوو، دپښتنو دغلامۍ نه نفرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او دغلامی ژوند تېرولو ته تیار نه دی چه په دی کښې داتک کلا ته ورسېدو او زمونږ
نه لاړی. دېر وروسته پاتی شوي وه. نو دهغی د پاره داتک په ډاک بنګله کښې ایسار شو.
داتک ډاک بنګله ډېره په ښکلی ځای کښې ده. مونږ برنډه کښې ناست وو او اباسیند ته
موکتل نو هغه راته ووې چه پښتانه بل شان قوم دی دوی د پنجابیانو په شان نه دي
ماورته ووی چه تاخولا اصلي پښتانه لیدلي نه دي ته که چیری یو ځل پېښور له راغلې نو مونږ
به درته تول پښتانه وښیو. دخدایی خدمتګارو لاری راورسېده مونږ پاڅیدو
موټر کښې کښېناستو او لخیراباد ته ورسېدو نو دموټر اولاری نه کوز شو او دهغه پیرنګی
ډېر په مینه محبت زمونږ نه رخصت واخیستو او زمونږ لو ډېروکی خدایی خدمتګار
باچاګل یی ځان ته نږدي کړو او مایی شکریه اداکړه او هغه راته سرې دوره وملګرو رخصت
شو. دخیراباد په بازار کښې مونږ دلاری انتظار کولو چه خلک خبر شول په یو ساعت
کښې ډېر خلک راته چاپیر شول مونږ نوښاره پوری یوه لاری وکوه وماښام نوښاره ته
راورسېدو. مونږ به وختی راورسېدلي وو زمونږ لاری چه په لار راتله نو یو فوجی
او توپک په لاس راملاو کړو. لاری والا ته یي ووې چه ودرېږه مونږ لاری ودروله
هغه راته توپک نیغ کړو او ویلي ویل چه که لاری دروانوی اوس مو په توپک ولم ماورته ووې
چه مونږ خو کمزوری خلک یو ستا دتوپک دخواب نه یو که چیری دخدایی خدمتګارو یو
ته تلل جایز نه وی نو مونږ ته ووایه چه کوز شو. په دی کښې دهغه صوبیدار راغی هغه
هم ووې چه ما سره هم حکم نشته زه صاحب پسی ځم، صاحب یي هم راغی هغه چه مونږ ته
وکتل نو وایي شو. نه را نږدي شو او نه یي راسره خبری وکړی. هغوی نه یي ووی چه دا د
پولیس کار دی اخر چه پولیس راغی او د تلو اجازه یي راکړه ما ورته ووې چه مونږ په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو چه داوده دلی مو ولی یو او اوس پرېږدی موولې نو هغه پولیس والا وخندل او وېوي چه دسړکار په دماغ کښې فرق راغلی دی.

نو بیا د کښې مې ټول خدائي خدمتګار رخصت کړل په دې کښې یو پېرنګی راغی او مغو خدائي خدمتګار و ته یې وویل چه زه اوس عبدالغفار خان لیدی شم؟ ما ورته وویل چه په ډېره خوشالۍ مونږ خو خدائي خدمتګار یو او هر چا سره کوو هغه سړه مې ولیدل نیازه پېښور ته د ان شوم لاړی په لاره کښې پنچره شوه ما سخت پېښور ته ورسېد و. خدائي خدمتګار په دفتر کښې پاتې شول او زه او باچا ګی د ډاکټر صاحب بنګلې له لاړو.

سانه اول هم یوه ګمنامه چیټۍ راورسېدلې وه چه په هغه د چا نوم نه و خو ما ته یې لیکلي وو چه زه تا خبر وم چه حکومت دا فیصله کړې ده چه تاسو او ستا ټول خاندان ګرفتار کړي او د دې ملکه مولېږي کړي. او یو جزیرې ته مو ولېږي خو زه د دې خبر و فکر نه کوم ځکه چه خوک د خدای د پاره د قام خدمت کوي نو د اهر څه یکښې وي اوس بیا خپلو دوستانو خبر کړم چه د سرحد حکومت مرکز ته لیکلي دي چه څه وخت دې ګرفتار کړو داسې یو ملک ته یې لېږل په کار دی چه هغه ډېر لیرې وي او د سرحد با د یې نه لګي اول چه د ګجرات جیلخانه کښې و نو د سرحد ټول کار به یې چلولو داخلې داسې ځای ته یې لېږل په کار دي په دې د سرحد د خلکو نه خبر نه شي او که داسې ونه شو نو د دې تحریک ختمول مشکل دی.

سرحد حکومت کوشش کوی چه تاسو زر ګرفتار کړي. ما ورته ووې چه څوک هاتیان ساتي نو د دروازې لوی پرېږدي تاسو د دې پروا مه کوئ چه خدای شته نو هیڅ نشته حکومت به خپل کار کوی او مونږ به خپل کار کوو.

ما سره فکر وچه حکومت به ما د صوبه سرحد دوړې ته پرېږدي که نه؟ ما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوره په سنبه شان وکړه دهغه دوره مې هم وکړه کوره په کور، علاقه په علاقه وګرځید
اوس مې هيڅ پروا نشته که حکومت مې هر وخت نيسي نو مې دې نيسي .

## د ترنګزو حاجي صاحب او خدايي خدمتګاري:

د پاچاګل په نوم زمونږ خلاف يو خپرپراپيګنډه شروع شوی وه زما پرې يقين نه
کيده ما وی دی خو د حاجي صاحب زوی دی او حاجي صاحب زمونږ ملګری دی ک
به څنګه زمونږ برخلاف پراپيګنډه کوی نو ولې مې په ۱۴ جون ۱۹۴۲ د دوهم جنګ دوران و
ديرپټ مومند وته ولېږه چه حکومت خبر نه شی ولی لاړو او هغه يې رليبده د پېرۍ خبر
ورسره وشوې ، دغه وخت حاجي صاحب د ترنګزو وفات شوی وه او پاچاګل اختيا
وخو چه واپس راغی نو بله ورځ زه صوابۍ له تلم په لاره کښې د هوتی بازار کښې مولانا ګل با
په مخه راغی هغه اشاره وکړه زه ورته ودریدم هغه بيل کړم ده راته ووې چه ستا برخلا
توله پراپيګنډه قلی خان کوي خود پاچاګل په نوم يې کوي زه سباله مومند وته ځم او پاچا
سره د دی فيصله کوم چه دا چرته خدای مونږ له يو سړی پيدا کړي دی نو ده پسې پراپيګ
مه کوه او که کوې نو بيا مونږ له دده په ځای بل سړی راکړه .

زه ديو خو ورځو له دحال معلومولو د پاره اتمانزئ ته لاړم او په دې فکر کښې ونه
نن دی که سبا حکومت دې نيسي وخت ضايع کول په کار نه دی اونه کوره کښېناست
او څو مره چه کيدی شی کار کول په کار دی . ما خود صوبې توله دوره ختم کړې وه . خو
خليلو مومند وجرګو او خدايي خدمتګارو متعلق راته داسې خبرونه رسيدلي ود
هلته بعضي داسې خلک شته چه د خپلې ناپوهۍ په وجه خلکو ته دوکې ورکوي او د مر
عاليه د حکم نه بغير داسې کارونه کوي چه مناسب نه دی او جرګو او خدايي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم داسې خلک شته چه مذهبي جامه کښې په دله کښې نفاق پیدا کوي. بل داچه دارباب عبدالغفورخان اوعاشق شاه باچا په نیولوخلکوکښې تېزي هم پیدا شوې ده لوماوېي چه دې علاقې له لاړشم چه کلي ته ورسېدم نوداته معلومه شوه چه زما وراره عبیدالله خان چه دمالیې په حوالات کښې بهوک هړتال کړې دوهغه حکومت پرېښوداوپه میټر کښې یې دکپتان صاحب بنګلي ته ورسولوزه دهغه دلیدودپاره واپس منباوته لاړم.

## دخلیلو مومند ودوره:

ما دخیلو مومند ودوره شروع کړه چونکه دفعه ایک سوچوالیس لګېدلې وه نو مونږ یوه لویه جلسه تهکال کښې دشیپې په یوجماعت کښې وکړه حکومت ځای په ځای دفعې لګولې وې اوزمونږ جلسې یې بندې کړې وې سباله کلوته روان شواوکلي په کلي به ګرځېدو اوخلک به مو په خدایي خدمتګارۍ پوهول اودوباره مې په جماعتونوکښې وعدې واخیستې چه تشدد به نه کوو صبر به کوو ولې چه خدای د صبرناکو ملګری دی اوچه خدای دچاملګری وي فتح به دهغه وي. رومبۍ جلسې مو دمومند ونیپې په پادګي، بادرکلي، بلړه بیره، شیخان، شاب خیل، متنې په جماعتونوکښې وکړې اوخلک مو پوه کړه دلته مې دخدایي خدمتګارونه بیاد عدم تشدد وعدې واخیستې اخرې جلسه مولنډۍ کښې وکړه اوخلک مې په دې پوه کړل چه داتاسو چه زما د بادشاهۍ چغې وهئ نوچه داتحریک مونږ شروع کړې دی داخود باچایۍ دپاره نه دی چه زه دې بادشاه شم اوکه چېرې تاسوما بادشاه کړې نواول خوپه اسلام کښې باچایي نشته اوبله داچه ستاسو به خاورې په سرشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زما به مزي وي نو تا سو پوه شئ چه نه ما او نه بل څوک باچا کړئ . مونږ باچايان جوړول نه غواړو ، باچايانو ته موضوعات نشته زمونږ به يو مشر وي او د قوم په رايه او مرضا او مشوره به وي او هغه سړي به وي چه د قوم خدمتگار وي ، د خان ، غريب او ميا ملا فرق به نه وي بلکه هر هغه سړي به وي چه هغه نيک او ايماندار او د قوم او ملک خير خواه وي تکليفونه او قرباني او ډير خدمت يې د قام او ملک کړي وي او چه د دې مشرۍ اهليت او پوهه هم پکښې وي ، زمونږ حکومت به د جماعت تابع وي جماعت به د حکومت تابع نه دي . بادشاهي خراب شي دي او د قوم او ملک پکښې ډير نقصان دی . او که چيرې نن يو باچا سنه هم وي نو سبا به يې زوی باچا وي نو څوک ويلی شي چه کوندی هغه به هم سنه وي او باچايان کله د خپل قوم ترقي غواړي ؟ ولې چه هر وخت دا خيال کوي چه که دا خلک پوه شول نو ما به ليرې کړي . نو هغه هر وخت د قوم د پوهې لاره کښې خنډ اچوي د املک زمونږ د ټولو پښتنو دی نو مونږ يو سړي نه خان کوو زمونږ به کوشش داوی چه ټول خانان کړو او داسی حکومت به جوړوو چه هغه کښې مساوات وي او د ټولو خلکو پکښې يو شان خير او فايده وي ، که پوه شی او که سپوره وي به شريکه به وي . امن وي ، انصاف وي زمونږ به د ټول قوم يو ځای کړه وي او د هغې په خوښه به يو صلاح وي .

زمونږ جلسو کښې به ښځې هم شريکيدلې . د خليلو مومند و دوره چه ختمه شوه نو اخر کښې به زه دا وايم چه د خليلو مومند وجرګو او خدايي خدمتگار و ډيره ښه انتظام دی هر کلي کښې دفتر دی او په هغه کښې شپه او ورځ د خدايي خدمتگار پهره وي . په هر دفتر کښې يو ګاډيال دی چه ګينټه به ګينټه غږيږی دا ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظام د ارباب عبد الغفور خان او سید عاشق شاه باچا دی.

## مانړګانو بانډه، اورمړ خالصه:

خبر راغی چه قاری صاحب نخچیل کلی (مانکیا نوبانډه) کښی د یوی لویی جلسی انتظام کړی دی او ماته یی لیکلی دي چه مونږ دخپل تحصیل دخدایی خدمتګارو د تربیت د پاره کیمپ کوو ددی د پاره ستاراتلل دلته ضروری دی. ما دهغوی دعوت منظور کړو او داتمانزو نه سحر وختی دستی جان کلی ته لاړم ولی چه باچاجی راته وي چه زمونږ دکلی په لاره تلل په کاردی، دسحر چای موستی جان سره وخکله. دپرانګو صلاح او سالار هم راورسیدل او بیا مونږ نستی ته روان شو، زمونږ د راتلو نه چه دنستی خلک خبر شول نو ډیر خلک راجمع شو هغوی ته می یو مختصر تقریر وکړو او دوی ته می ووی چه خپل کور جوړ ووو، دشمنی، تربګنی، پری جنبی او نفاق پریږدو ددی دلاسه زمونږ کور برباد دی، دنستی نه مونږ دسیند غاړی له لاړو د بیړی انتظام شوی و بیړی تیاره وه صلاح صاحب او سالار د صاحب واپس مشول مونږ په خیریت سره له سیند نه پوري وتو ځای په ځای خدایی خدمتګار ولاړ وو ماله یی اس راوستی و خوزه پیاده دوی سره روان شوم. دقاری صاحب کلی ته ورسیدو قاری صاحب ډیر ښه انتظام کړی و دفتراو دهغه احاطه یی ښکلی کړی وه. خلک دفتر کښی ناست وو تبادله خیالات وشول او ددوی د وخت شود ود ود ی نه پس جلسی له لاړو جلسه دکلی نه بهر وه، ډیر خلک وا او په زړګونو تراو ښځی راغلی وو جلسه کښی تقریرونه وشو، نظمونه یی وویل، زما دتقریر وخت کښی می اول د دی دپاره چه دقاری صاحب زامن حکومت ګرفتار کړي وو همه دی ظاهره کړم او خلکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



می ووي چه نن دی که سبا به مونږ یو امتحان راتلونکی دی تکلیفونه او مصیبتونه راتلونکی دي که تاسو به صبر سره د هغو مقابله وکړه نو امید دی چه مونږ به کامیاب شو او خلکو ته می دا هم ووي چه مونږ خدایي خدمتګار ستاسو د خدای د پاره خدمت کوو ولې چه تاسو زمونږ قوم یئ او احسان در باندې هم نه کوو خکه چه دا زمونږ فرض دی او یوازې زمونږ نه دی د ټولو پښتنو فرض دی، مونږ ستاسو ګټه وی یو او که چیرې داسې خلک په ملک کښې وي چه د دې خپلې ګټې د پاره ملا تړلې نه شي نو نه ی تړي لیکن زمونږ پښې دې د دشمن ته نه وا کاږي، او که زمونږ ملګر تیا نه کوی خیر دی خو چه د قوم او ملک د دشمن سره ملګری نه شي. بیا ښځو له ورغلم او هغوی ته ووي چه د ملک چه څنګه د سړو دی داسې ستاسو هم دی او داستاسو چه څنګه خیال دی چه سړی لوی دي او ښځه وړوکې ده دا په اسلام کښې نشته لوي په عمل ده که ښځه با اخلاقه، نیکه او پاکه وي نو هغه لویه ده او که د غه شان یو سړی وي نو هغه هم لوی دی او که د غه شان یوه ښځه بد عمله، بد اخلاقه وی نو هغه وړوکی ده او که یو سړی هم د غه شان وی نو هغه هم وړوکی دی، په دې ملک کښې ستاسو مونږ سره یو شان حصه ده، ښځه او سړی د ګاډی دوه پایي دی که یوه پنچر شي نو ګاډی مخکښې تلې نه شي. جلسه په کامیابۍ ختمه شوه.

زمونږ د اور مړو صدر صاحب او ورسره د نورو خدایي خدمتګار راغلی وو زه هغوی مجبور کړم او خان سره یې او رمړوته بوتلم د دوی د فتر ته جه ورسید و نو د اول دخیل شهید خدایي خدمتګار صوبیدار صاحب د بچو کتوله او د عالم زیب په باندې له راغلل او خپله غیږه کښې می کښېنول د عامی ورته وکړه او سپما ندیه کانوله می تسلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودکړه چه مرګ شته او خلاصی تري نشته او دی خو په داسي مرګ مردی چه خدای ورته ژوندیلي دي خوموږ پری نه پوهیږو او چه ترڅو دا دنیا اباده وي دهغه نوم به هېر نه شي ، دشپې موجماعت کښې جلسه وکړه دلته هم جلسې بندې دي سباله د اودمړو منځني کلي ته لاړو دلته زموږ په خدايي خدمتګارو کښې بې اتفاقي وه دوی مې دخدايي خدمتګارۍ په مطلب او مقصد پوه کړل او ورته مې ووې چه تاسو به دی تحریک خان نه دی پوه کړی او تاسو نه هېره شوی ده چه موږ خدای سره داوعده کړې ده چه موږ به پرې جنبې بدشمنی ، ترېګنی ، مخالفت ، جګړې او بې اتفاقي نه کوو نو زه ستاسو په خدمت کښې داعرض کوم چه څوک دښمنی ، ترېګنی ، پرې جنبې ، پرېښودی نه شي نو هغوی دې خدايي خدمتګارۍ کښې نه داخلېږي او چه داخیزونه کلي پرېږدي نو بيا دی خدايي خدمتګار شي اوکه دې کښې هم دا څيزونه پرې نه ږدو نو ددی وردو ولی فایده څه شوه ؟ دې څیزونو خوموږ برباد کړي يو. زما په تقریر دوی ښه پوه شول او څه اثر پرې وشو . له دی ځايه موږ دریم کلي ته لاړو ، او دمړ دړې کلي دي ، هلته موهم په جماعت کښې جلسه وکړه . زموږ د ویرولو د پاره حکومت دجلسې په وخت کښې ډېر با ډر پولیس راوستلي وو چه خلکو یې هیڅ پروا ونه کړه نو بيالاړل . ددی ځایه زما اراده وه چه کیجوړې ته لاړ شم لیکن زما طبیعت خراب شو او هغه دسره نه دوه میله لیری وه او پیاده مزل و ، نو بيا شپې له میاں ګوجرو له لاړواو بابو فضل الهی سره مو دخوند شپه تېره کړه دشپې موجماعت کښې جلسه وکړه او چه خلک زما نه خبر شول نو ښځې نر په ډېره مینه محبت جلسې له راغلل سباله هزاره خاني له لاړو . ددې ځای دجرګی او خدايي خدمتګارو انتظام مې ډېر خوښ شو او بيا په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاقه کښې کلی په کلی وګرځېږ او خلک می په عدم تشدد په ښه شان پوه کړل او په صبر می د ډېر زور ورکړو او ددی ځی دوره ختم شوه.

لاټ سره لیدل:

زما طبیعت ښه نه و ځکه چه نه د شپې ارام و او نه د ورځې باچاګل دستی جان شاګرد و هغه به نظمونه اوروّل هغه هم ناجوړه شو هغه می هم کلی ته رخصت کړو زه پېښور ته راغلم او د ډاکټر صاحب سره پاتی شوم هغه راته د لاټ صاحب د ملاقات په باره کښې ووی چه تاته به یاد وی چه څه وخت ته په ډیره اسماعیل خان کښې یې دوره وې نو ماته لاټ صاحب یوه چیټی ستاد ملاقات د پاره رالېږلی وه، زمونږ مخکښې لاټ صاحب مړ شوی و او د هغه په ځای سر دائیلف ګرلیفته لاټ شوی و ما ورته ووی چه ماته په ملاقات کښې څه عذر نشته، هغه لاټ صاحب له زما د موجودګی خبر ورکړو او دری بجی ملاقات مقرر شو زه ټیک دری بجی د لاټ صاحب بنګلی له لاړم د هغه سکرټر زما په انتظار کښې ولاړ و ماته یې ورلیږې کړه او لاټ صاحب له یې بوتلم، لاټ صاحب مالامخې له راغی او زه یې ځان سره په کوسی کښېنولم او سکرټری بهرته راووت او مونږ لیسی ورپوری شو دروغ جوړ نه پس اول سوال یې په ما داوکړو چه زه تول عمر پېښور کښې پاتی شوی یم خو ته می لیدلی نه یې ما ورته ووې چه تاسو له اکثر هغه خلک راځي چه خپل کار ونه لری. بیا د خدائی خدمتګارو خبری شروع شوې، ده راته ووې چه زمونږ او د پښتنو د ډېر ښه تعلقات وو خو د بعضې خلکو په ګرمو تقریرونو هغه تعلقات خراب شو ما ورته ووې چه تعلقات په تقریرونو نه خرابیږي تاته به معلوم وی چه جیمسن پښتنو سره کوم قسم سلوک کړی او ددی په اوربدو سره لاټ صاحب سترګی ښکته کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیمسن د پلیس کپتان وچه په ۱۹۳۱ع کښې د چارسدې په شرابخانه مونږ پکټنګ لګولی
و ده د خدایي خدمتګارو مخصوص ځایونو ته ډکې کوزې ځوړندې کړې او دخسې توب
مشین لې ړسېي را وړه او د ېر خدايي خدمتګار پرې حسیان شول او دا اواز به يې کولو
چه د پښتنو غږ ورکوم خدايي خدمتګارو نه به يې جامې وشلولې او بربنډ به يې کړل او چه
په وهلو کښې به بې هوښه شونو د غولو د متيازو يو ډنډ وکې جوړ کړې ؤ هغه ته به يې ګذار کړل
داز مونږ ليتانه د مرګ نه هم بد ګڼړې ماورته ووې چه ګوره ؤ مونږ خدايي خدمتګار
هم ستاسې رعيت يو نو مونږ سره هم کم از کم هغه سلوک کوئ چه نورو رعيت سره يې کوئ
نو هغه ووې چه مونږ يو شان سلوک کوو او خلک بې ګناه نه ګرفتار وو ماورته ووې
چه په دې ستا سره بحث نه کوم ليکن اکثر خدايي خدمتګار بې ګناه ګرفتار دي او د
دروغو مقدمې پرې جوړ وې ده ووې چه هغوی څه نا څه کړې دي ماورته ووې چه
د سودم خانانو څه کړې دي چه تاسو ګرفتار کړي دي؟ او د مردان په حوالات
کښې پراته دي شاه پسند خان او الله داد خان د جليل څه تقصير کړې دي؟ شير
بهادر خان او د هغه نورو خورانو څه قصور کړې دي؟ اخر کښې د ازاد مرحل خبرې شوې
ماورته ووې چه تاسو د پوليټيکل ايجنټ په محکمه په کورونو روپۍ لګوئ نو د دې نه
څه فايده وشوه؟ نو ده ووې چه مونږ خپله علاقه پرې دې باندې د دې خلکو د شر نه
بچ کړې ده ماورته ووې چه د څومره مودې نه تاسو په دې لګيا يئ او تر کومه حده کامياب
شوي يئ نو ده ووې چه د ډېر شو کالونه زمونږ دا کوشش دی خو ترا وسه پورې
کامياب شوي نه يو ماورته ووې چه مونږ له پنځه کاله موقع راکړئ او تاسو چه څومره
روپۍ لګوئ د هغې شلمه حصه مونږ له راکړئ بيا زمونږ او د خپل کار مقابله وکړئ که زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لا ره فایده منده وه نو هغه جاری وساتئ ! ما ته یې ووې چه تا سو به څه کوئ ما ورته ووې چه مونږ به دغه روپۍ د خلکو په تعلیم صنعت او حرفت باندې ولګوو او د خلکو به دا یقین را ولو چه مونږ دا هر څه د قوم د فایدې د پاره کوو او د قوم خیر غواړو پښتون داسې قام دی چه دی د زور په نسبت په احسان زر تابع کیږي بیا به نه پخپله داکي کوي او نه به بل څوک پرېږدي. نو چه د لاټ صاحب نه نور څه جواب نه شو نو ما ته یې ووې چه دې ملک ته د روس او افغانستان نه ډېر او پوره ډه تو په دی وجه مونږ دا کار کله په بیبوی نشو او دا افغانستان نه چیر ته کمولی شو؟ ما ورته ووې دا افغا غریب خوا د وڅه خبره مه کوه ولي چه هغه تا ته معلومه ده چه څپل ځان هم ساتلی نه شي نو په مونږ به څه حمله وکړي ؟ او بله دا چه ستاسو په افغانستان کښې کوم باچا خوښ نه وي نو هغه باچا یې کولی نه شي یا تی روس شو نو که دهغه نه تا سو ته خطره وي نو به کار دی چه مونږ له دڅپل ملک واک او اختیار را کړئ په قول هندوستان کښې ستاسو دومره فوج نشته لکه چه نن په سرحد کښې زمونږ خدایي خد مټګار دي. چه مونږ له اختیار را کړئ نو بیا که روس زمونږ په ملک را تلونو مونږ به یې مقابله کوو او زمونږ ښځې نو به د ملک د حفاظت د پاره تیا روي نو بیا روس حمله نه شي کولی او که دا نه کړي نو مونږ خو ستاسو د پاره جنګ نه کوو او س مونږ پوه شوی یو چه جنګ دې مونږ کوو او مزې دې ستاسو وي. زما ډېرې خبرې ده نوټ کړې او را ته یې ووی چه زه به ستا له ډیلي ته ځم او د دې خبرو ذکر به وایسراي سره وکړم بیا یې را ته ووې چه زه امید کوم چه اینده به هم دغه شان زما او ستا ملاقات کیږي ما جواب ورکړو چه لکه دا خل چه دې څه ننګي ما پسې پولیس را لیږلي و د غه شان ما پسې پولیس را لیږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زما اوستاا ملاقات به کیږي . ده راته ووې ته خو عجیبه سړی یې ته خولږ بچو وکوره
خومره خلک زما ملاقات ته راغلي دي زه ورسره ملاقات نه کوم او تاته زه وایم چه زما
ملاقات ته راځه او ته نه راځې نو ما ورته ووېل چه دا بهر خلک چه راغلي دي دا خو خپل غرض د پاره
پسې راغلي دي او زما څه غرض نشته . ملاقات ختم شو او زه د ډاکټر صاحب بنګلې له
راغلم . په سبا له می د نوښار د تللو انتظام وکړه

دنوښار په تحصیل کښې جلسې :

دلسم دسمبر سحر وختی زه سره د خپلو مومند وخدایي خدمتګارو نو ښار ته
لاړو او دفتر ته ورغلو صلاح صاحب سره د نورو خدایي خدمتګارو دفتر کښې موجود
و اولږ ساعت پس دسینډ دغاړې دکلو په دوره روان شو په لاره کښې می دشا-
هباز ګړي جرنیل ولید وچه پولیس په لاري کښې جیلخانی له بوتلو او دوه نیم کاله بې قید
کړې و . مونږ باران کښې دکنډ رو جلسه وکړه او دهغه نه پس صلاح صاحب او د نوښار
کارکنان رخصت شو او مونږ داکوړې جرنیل صاحب سره پورې وتو او پیر سباک کښې
موجلسه وکړه او دپیر سباک نه شیپې له زړې مینې له لاړو خلک راته انتظار کښې وو د
شیپې موهلته هم جلسه وکړه او دسحر لمونځ نه اول دزړې مینې نه روان شو باقي
تول دسینډ دغاړې کلو کښې موجلسې وکړې او خلک مو د تحریک په غرض پوه کړل شپه
مو خیرا باد ته ورسوله . زما طبیعت داول نه سبه نه ؤ اواز می ناست واو ددې بې ارامی
په وجه نور هم ناجوړه شوم . ما به ډېر کوشش کو چه دکار نه پس می ارام ته پرېږدي
خو دوی نه پرېښودم . دشپې مو دلته جلسه وکړه . په دولسم دسمبر دختکو علاقه
کښې دا باسینډ په غاړه خېر اباد کلي ته نږدې دیوې لوی جلسې انتظام مو کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې له د صوابي تحصیل په زړګونو خدايي خدمتګار راغلي وو د پښتو خلک هم په ښنازو
دا پوره ې وتلي وو او موټر ولاړ وو کښې راغلي وو. زه د لږ آرام نه پس جلسې له لاړم،
شاعرانو قومي نظمونه واوروول د پېر اثر يي وکړو اخر کښې ما پخپل تقرير کښې ووې چه
زمونږ د صبر جنګ دی مونږ به د وهلو او ښکنځلو بدل نه اخلو مونږ به صبر کوو
او ځان به خدای ته سپارو مونږ. خو خدايي خدمتګار يو خدای به زمونږ بدل
اخلي د خپلو زړونو نه خود غرضي او نفاق لیرې کړئ ځکه چه د دې د لاسه برباد
شوي يو ځان کښې ښه اخلاق پيدا کړئ ولې چه د ښو اخلاقو نه بغیر څوک ترقي کولې
نه شي. بله خبره مې دا وکړه چه اې پښتنو ورونو زه په دې نه پوهېږم چه تاسو ولې
د پېرنګيانو نه ډېرېږئ د وی خو ستاسو په شان بنیادم دی ستاسو په شان يو
قوم دی تاسو خو ډېر د جنبو او نفاق تباه کړئ ويره د د کښې پيدا شوې ده، د چا
په زړه کښې چه د خدای ويره وی نو د هغه په زړه کښې د بل چا ويره نه راځي او د چا ته
نه ډېرېږي او د چا په زړه کښې چه د خدای ويره نه وی هغه د هر چانه ډېرېږي. نو په
دې وجه چه مونږ د حکومت افسرانو د ورونو ډېرېږو. اې ورونو تاسو په زړه کښې د خدای
ويره پيدا کړئ او بيا مې ټولو ته اپيل وکړو چه کوم کلي کښې جلسه وی. نو هلته د ودې
چای مه کوئ او مه پاتي کېږئ او د کلي خلکو ته مې هم ووې چه چله چای. د ودې
هم مه ورکوئ مونږ غریب قام يو خلکو له چای، د ودې نه شو ورکولي بيا مې ووې
خلکو ته ووې چه اې ورونو! تاسو د خدای د پاره يوه ورځ روژه نيوی نه شئ؟
او که څوک د ودې د له پخه هم کړي نو تاسو يې مه خورئ نو چه يو ځل خلکو ته د ودې
پاتي شي نو بيا به داسې نه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صوابي تحصيل کښې جلسې:

زه بيا د فردوس خان سره مانيرۍ ته روان شوم په لاره يو بوډا سړي راته ووې چه باچاخانه زه خوښن ايله پوه شوم چه پيرنګى هم زمونږ په شان بنيادم دى. شپه مې فردوس خان سره په ارام تېره کړه سباله يو خدايي خدمتګار وفات شونو د هغه جنازه موکړه بيا مود ملايانو د ځاى تصفيه وکړه. دوى ملايانو له ځاى ورکړې و يو کس نيم پکښې خفه و هغه مو راضى کړو بيا له دې ځايه باچا ته روان شو لې چه زمونږ د باچاخانان بې ګناه پوليس ګرفتار کړې وو. د لته مو جماعت کښې جلسه وکړه بيا کلابټ له لاړو د کلابټ په خلکو کښې حکومت څه بې اتفاقى پيدا کړې وه خودغرضو خلکو پکښې شرارت کولو ما ورته هم په هغه معامله تقرير وکړو چه فکر وکړئ د هغه مېنه اثر وشو او د دوانيد و په وخت کښې د کلابټ د خان نږدې راته ووې چه تسلى ساته مونږ پوهيو مونږ څوک جنګولى نه شى، له دې ځاى نه زروبى ته لاړو هلته مو هم جماعت کښې جلسه وکړه په زرګونو خلک راجمع شول ډېره کاميابه جلسه وشوه زه پوه شوم چه په خلکو کښې سياسى شعور پيدا شوى دى. له دغه ځاى مرغز ته شپې له لاړو په مرغز کښې مو د شپې جلسه وکړه، د مرغز جرګه او خدايي خدمتګار ډېر مخلصان او پوه دى. دوى راته د خپل مصيبت ټولې قصې وکړې او راته يې ووې چه بېګناه د پوليس هغه پيرنګى ووهلو او بيا يې د کلابټ خلکو ته ووې چه دعوې هم پرې وکړئ خو په مونږ د کلي خلکو دعوى ونه کړه د دوى جرنيل قابل او پوه سړى دى او دا د هغه قابليت دى چه دا جذبه يې په خدايي خدمتګارو کښې پيدا کړې ده. سباله د مرغز نه قبلې ته يو کلى دى د هغه صلاح صاحب مجبور کړو او د سحر چاى يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هلته لاړو ، خلک چه زموږ نه خبر شو نو راجمع شو هغوی ته مې هم دوه درې ولی او
قاموليې يو مختصر تقرير وکړو او بيا له دې ځايه کوټهي له لاړو او بيا توليږ له لاړو ولې چه
ددې ځای ډېر کارکنان حکومت ګرفتار کړي وو . تو يې کښې پکښتنګ لګيدلی و . دهغه
کتوله لاړو ما يرې بعضې سوالونه وکړل چه تاسو ولی پکښتنګ لګولی دی ؟ دوی ووې
چه دا خلک بد بيشې مالونه خرڅوي ما ورته ووې چه تاسو څه غواړئ ؟ دوی وې
چه د خپل ملک مال دې خرڅوي نوما ترې تپوس وکړو چه دی کښې ستاسو فايده
ده او هغه کښې موڅه نقصان دی ؟ دوی ووې چه د ملک مال چه خرڅيږي نو
پيسې به زموږ ملک کښې پاتې کيږي او چه د پردی ملک مال خرڅيږی نو پيسې به
پردی ملک ته ځي . زه ډېر خوشاله شوم ولې چه داکوم خدائي خدمتګار ولاړ وو نو هغه د
يو وړوکی کلی بی تعليمه هلکان وو او نوری چه مې ترې پوښتنې وکړې نو د هغوی
هم پوره ځوابونه راکړل دلته هم پوليسو په خدائي خدمتګارو ډېر ظلمونه کړي وو . زه
پوه شوم چه زموږ په قوم کښې يوپوهه راغلی ده بيا مې جماعت کښې تقرير وکړو او خلکو ته
مې ووې چه دا خدائي خدمتګار ستاسو ګټند وی دی تاسو له ستاسو د پلار نيکه
بايللی ملک ګټی نو تاسو ورسره ولې بد سلوک کوئ ؟ که پيرنګيان موږ سره هر قسم
سلوک کوی نو موږ ترې ګيله نه کوو ځکه چه هغه غير قوم دی او هغوی سره غم دی چه که
پښتانه را نه خپل ملک ازاد کړي نو زموږ به څه حال وي ؟ زموږ ګيله ستاسو نه ده تاسو
خو زموږ قوم يئ او دا ملک زموږ شريک دی که دا ملک ازاد شی نو ددی فايده
خو به ټول قوم ته وي . چه جلسه ختمه شوه نو د (مينئ) مولانا صاحب راته ووې چه
موږ سره به ضرور ځی او زموږ د خلکو ډېر خواهش دی چه هلته موږ هم جلسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ماورته ووې چه مولانا صاحب ته زما حال وېنې زه ناجوړه يم پرېږده چه زه واپس
شم او چه کله الټ سبه شوم نو بيا به ستاسو کلی ته درشم دوی راضي شو او مونږ صوابي
غلو، په صوابي کښې په زړگونو ښځې او نر جمع وو او سالار صاحب منير خان، بجوبای
فردوس خان د پرسبه انتظام کړی و هغوی ته مې تقرير وکړو خدايي خدمتگار را نه
چاپېره شوه چه بيګاله به مونږ سره شپه کوئ ماورته ووې چه تاسو ماوينئ چه زه ناجوړه
و به دې ناجوړه وجود لګيا يم شپه او ورځ کار کوم خکه چه نن دی که سبا دی حکومت
به نيسي او د خدمت موقع نه راکوي او دا تول انتظار را ونله تهيل کنفرانس ته دی
زه کوشش کوم چه څومره کېدې شي چه په دې خپل قوم کښې دوری وکړم او دوی
سره خه بانلدی پوه کړم.

هغوی اجازه راکړه او شپې له تولا ندی. له لاړو شپه سبه په ارام تېره شوه
نه خبر شوم چه ميا احمد شاه صاحب او د له لي هره مياشت زما برخلاف کتابگی چاپ
ي او خلکو کښې خوروی او دلته يو مولانا صاحب د هغوی د پاره سخته پراپیګنډه شروع
ب ده ما هغوی ته ووې چه مونږ خو د خدای د پاره لګيا يو د دی قوم خدمت کوو
م زمونږ ملک تيا وکړه نو دوی به ازاد شي او که زمونږ مخالفت يې وکړو نو دوی به
د شي ولی چه بغير د قوم د امداد نه مونږ خپل منزل ته رسيدی نه شو. غم او فکر هغه
ره وي چه د خان د پاره کار کوي او څوک چه د خدای د پاره کار کوی هغوی هيڅ غم
ونه کوي. احمد شاه ميا به هره ورځ زما برخلاف هغه قصه به په اخبارونو کښې ليکله او
لمتونه به يې هم چاپ کول، ليکن ما د له چرې هم خواب نه ورکولو ولې چه د دی نه بيت
جوړيده ما خو خپل کار کولو او په دی خبرو مې وخت نه ضايع کولو. بې شکه چه دروغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخه وخته پوری په خلکو کښې غلط فهمي پیدا کولی شي خو چه د بنتیادانشي نو دروغ پا
کیدی نه شي . چه سباله مونږ په دغه کلی کښې دیو مهربان فاتحې له لاړو هلته د هغه
کښې مې خپل زوړ ملګری او مهربان مولانا سره ملاقات وشو او ورته مې ووې چه مولا
صاحب په سیاسیاتو کښې که مونږ منځ کښې څه اختلاف راغلی وی نو اخر بله خبره نه
رسول الله صلی الله علیه وسلم هم وایي چه اختلاف دامت رحمت دی او امونږ ته چه د رحم
په ځای زحمت شوی دی دا زمونږ ذاتیات دي ، مونږ له خپل زاړه تعلقات پریښو
په کار نه دي او زه چه ستاسو کلی ته راشم نو ملاقات خو راسره کوئ . د دعا نه پس مو
جماعت له روان شو ، مولانا صاحب مې هم ځان سره روان کړو خلک جمع وو مولانا صا
ته مې ووې که ته څه ویل غواړی نو وایه مولانا صاحب وې وخت تنګ دی زه څه
ته خپل تقریر وکړه ، ما خلکو ته ووې چه ای ورونو ، عزیزانو تاسو خپل ځان پخپل
او زیان پوه کړئ زه نه پوهېږم چه خلک زمونږ مخالفت ولې کوي مونږ خود خلکو
یو . تکلیفونه او مصیبتونه په ځان تیر وو او کته قوم له کوو په کار دی چه دوی هم زمو
په شان د پرنګیانو مخالفت وکړي ولی چه هغوی مونږ غلامان کړي یو . زمونږ د
نیکه ملک یې رانه نیولی دی ، دا ملک خو خدای مونږ له او زمونږ نجوله راکړی دی خ
د خود غرضئ او بې اتفاقي په وجه هغوی زمونږ په ملک مزې کوی ، خلک وایي چه زمو
جرګه پاتې نه شوه ، مونږ د مصر وپه شان په کانګرس کښې او به شوا خدایي خدمتګا
دهغوی رضاکار شول ، دا خبره غلطه ده زمونږ جرګه جرګه ده او زمونږ داخلي خدایي خدمتګار خدایي خد
دي دا خبره داسې ده چه مونږ کانګرس سره تعاون کړی ، یو خو دا فیصله مانه ده کړې
لویې جرګې کړې ده او د میا صاحب او عبدالاکبر خان په رضایي کړې د تاسو خولږ یا د کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



و کانګرس سره نه وو نو پیرنګی په مونږ توره مشبه جوړه کړې وه او په مونږ خدایی خدمتګارو باندې داسې لوبې کړې وې چه په دنیا کښې به په ډیرو کمو خلکو داسې لوبې شوې وي نو بیا تول جیلخانو کښې اچولي وو او چه هر کله ستاسو جرګې فیصله وکړه او مونږ کانګرس سره شو نو دغوی په کوشش مونږ د جیلخانو نه راښکاره شو او دا دی ستاسو په جلسه کې تقریر کوم که دغوی کوشش او امداد نه وای نو اوس به مونږ تول خدایی خدمتګار په جیلخانو کښې پراته وو . په دې وخت کښې مونږ پیرنګی له د جیل اتفاق په زور ښکرومات کړې دی او که مونږ اتفاق وکړو نو د ابل ښکر به یې هم مات شي او د زور او ظلم نه به خلاص شو . او د کانګرس سره خو مونږ هم ددی د پاره ملګری شوی چه دا جیل ملک ازاد کړو تاسو مهربانی وکړئ او په دې خبرو خان پوه کړئ .

وخت لږ و ما چیل تقریر ختم کړو ، کالو خان کښې راته ډیر خلک په انتظار کښې ناست دی . په دې وخت کښې مولانا صاحب ما ته ووې چه زه هم ځه ویل غواړم نه دی خلکو ته یې ما ورته وئیل چه تا ته خو ما وئیلي وو چه تقریر وکړه ، تا ونکړو او س زه دلته زیاتی انتظار کولی نه شم ، ولی چه کالو خان کښې ډیر خلک ما ته انتظار کښې ناست دی ، ته دلته تقریر وکړه ، او ماله اجازه راکړه چه زه کالو خان ته لاړ شم . زه ما د روانید و سره خلک روان شول ، په دې وجه مولانا صاحب ته تقریر ونه کړې شو .

مونږ چه کالو خان ته ورسیدو نو خلک جمع وو خلکو ته می ووې چه ای ورونو ! نو به دا وایئ چه زه نن تاسو له د کامدار خان د ګرفتاری د غمخوارئ له پاره راغلی یم ، زه غمخوارۍ له راغلی نه یم بلکه تاسو له مبارکئ له راغلی یم او تاسو له مبارکی وایم چه ستاسو داسې یو ننګیالی خان وو چه ستاسو د پاره او د تول قوم او ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره جیلخانې له لاړو اوزه دهغه مود بې له او خپلو خپلوانو له دخان داسې
نیک کاد ته جیلخانې له په تلو مبارکې ورکوم . بیا مې دې خلکو ته ووې چه اې و
هر څه چه تاسو سره کیږي په هغه صبر کوئ دا زاد ته چا بازار مونډلی نه دی او د
کاسه نسکوره ده څو مره چه پیرنګیان په مونږ ظلم او زیاتې کړي هغومره به
تباه شي او مونږ به تري خلاص شو .

ددې ځای نه بیا ادینه ته لاړو هلته هم خدای شکا روته مې د
تلقین وکړو او بیا سمیلا ته لاړم . په دې خلکو کښې ډیر جوش او خروش و
چه پیرنګی زور او ظلم شروع کړي و . دوی ته مې هم د صبر او عدم تشدد تلقین
او بیا ما شباب م شهباز کړۍ ته ورسیدم دلته لې هم زمونږ جرنیل صاحب نیولی ؤ
هم ډیر جوش ؤ خلکو له مې تسلي ورکړه او خدای خدمتګا روله مې د جرنیل ص
دقید مبارکې ورکړه . دلته مې د ګجرات بخشالی صاحبزاده صاحب ته ووې چه یو
تیاره کړه لیکن دخپلو تلو ذکر مې هیچا سره ونه کړو داخبره مې پټه وساتله چې
ځای له مونږ تلو هغه ورکوتې کلی وا او دادومره پولیس چه مونږ سره کړ ځ
دا به په هغو خلکو لوی بوج و صاحبزاده صاحب نه به چه چا پوښتنه وکړه نو هغ
چه مونږ ګجرات بخشالی ته ځو . مونږ تانګه کښې روان شو او د سړک په غاړه یو
کلی ؤ مونږ چه څه وخت د پولیس موټر ولید و نو کلی له د ننه شو پولیس زمو
خبر نه شو هغه ګجرات له بخشالی له روان شو . دکلی خلک چه خبر شول نو ښه
زمونږ لید وله راغلل زما په راتلو ډیر خوشحاله شو خدای خدمتګا روته
چه څه چاکړه تیار وی هغه دا وړي او که نه وی نو خیر دی شپه به مونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره کړ، وخو چه زمونږ د پاره نوی بخلی ونه کړي ! چه کوم کډې موږ خوږه لږ ارام
موو کړو تو له ورځ بې ارامه وو ډېر سترې شوي وو خو تو ل خلک جماعت کښې را
جمع شوي وو هغوی وو چه باچاخان دې مونږ ته يو ښوخبري وکړي . دلمونځ نه
پس دهغوی د محبت مې اول شکريه ادا کړه او بيا مې ورته د تحريک متعلق يو څو
خبرې وکړې او په دې خبره مې ډېر زور واچولو چه په هر مصيبت به صبر کوئ .
سبا له هوتي له لاړو . چه کلپانې ته ورسېد و نو ښه ګوړ و چه پولیس والا په
شلو کښې خر پر ناست دی مانه یې ووې چه تو له شپه د رپسې ګرځېدلي يو او بيا
د لته کښېنا ستو او د مردان نور پولیس هم تو له شپه تا سو پسې منډې وهلي
دي خو تا سو يې مونډلی نه یې دغه انسپکټر ماله دد فعه ایک سوچوالیس (دقانون
۱۴۴ ماده ) حکمنامه راکړه هغه کښې یې ليکلي وو چه ملکنډا ايجنسي له به نه ځې ما
غلام محمد خان د لوند خوړ ته وېلي وو چه هلته لاړ شي هغه لاړو او د وی ګرفتار
کړو نو په ما يې دد ې د پاره دغه وکړله چه د ی چه خبرشي نو خامخا به ملکنډا ايجنسي
ته ځي او حکومت مونږ نه ايجنسو ته پرېښودو او نه قبايلو ته مونږ ډېر کوښښونه کړي
وو چه مونږ دې ورونو ته لاړ شو او د وی هم مونږ د لېبنتو په د ی نوی وردو ئ
کښې شريک کړو او دا یې لاڅه کوي چه هغه د خدايي خدمتګار و هغه حکومت هم چه
جوړ شو نو هغوی هم زمونږ دې قبايلي ورونو ته په تللو نه خوشاليدل . ولې چه هغوی
ويل چه پېرنګيان به خپه شي . حقيقت دا دی چه حکومت خو زمونږ وخو واک د ګوډو
د هوتي نه تو ر و له لاړ و زمونږ يو ډېر زوړ خدايي خد مټکار او بهادر کارکن
عبد الرحیم خان مړ شوی و ما سره یې د هزاره دوره کړې وه او چه څه وخت مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له تلو نو چه پولیس والا راله ټوپکونه نیولی وو نو ده ماته ووې چه څه چل وکړو
ورته وې چه ورځې پرې نودی پرې د ټولو نه مخکښې ورغی. دده په مرګ مونږ
ته ډېر نقصان ورسېږه مونږ خو په ده دوه جنازه مووته کړي شوه. فاتحه مې
وکړه دهغه مورا و خپلوانوله مې دا دگیرنه وکړه، دهغه قبرله لاړو او ما او ټولو خلقو
خدمتګارو ورته ډېره دعا وکړه بیا مې جماعت کښې یو مختصر تقریر وکړو او دوی ته مې
ووې چه د عبد الرحیم خان په مرګ مه خپه کېږئ خدای به هغه ونبی او دهغه په
ځای به د اسلام دخدمت د پاره ډېر خلک پیدا کړي. بیا (ما یارو) ته لاړو د
ملیار وصل صاحب ډېر مخلص او دکار سړی دی دغلته ډېر خلک جمع شوي وو هلته
لږ ایسار شوا و خلکو ته مې هم یو څو خبرې وکړې.

ددې ځای نه مردان ته راغلو او دلته خبر شوم چه د سودم خانان
شوي دي زما طبیعت ډېر خراب و ما غوښتل چه دقاضي صاحب په ځای کښې
ارام وکړم خو خلکو ارام ته نه پرېښودم. قاضي صاحب مې پوه کړو چه بنګاله به دلت
راځم خلکو ته مې ووې چه ستاسو نه رخصت یم مخکښې ځم خو خلکو زه کله پرېښودم
ادې له روان شوم نو خلک رانه رخصت شول مونږ ادې سره نږدې دهغه کلي
ورغلو پولیس والا راسره وو، دهغوی نه چېرته خلاصېږو؟ مونږ لمونځ کولو چې
خلک خبر شول او خدايي خدمتګارو زر زر ورد ئ راغوستې او یو ساعت کښې
کلی خلک راجمع شول دهغوی د محبت شکریه مې ادا کړه او بیا مې ترې اجازت
واخستو او مونږ دقاضي صاحب ځای له لاړو. دقاضي صاحب ځای کښې د سود
خان ناست ؤ اول مې د رهایي مبارکي ورکړه بیا مو خبرې شروع کړې ده راته ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ستا د اتلل سودم ته ډېر ضروري دی ولې چه په غربیو خلکو کښې حکومت یوه غلط پروپیګنډه شروع کړې ده چه په حقیقت یې پوه کړې چه دوی کښې غلط فهمي پیدا نه شي. ما ورته ووې چه زه خو تیار شوی یم لږ ارام کوم نو په شلم دسمبر به درشم.

مونږ سبا وختی ادې له لاړو یوه تانګه مو کرایي کړه او درګۍ له داغلو بیا پیاده کل اباد له لاړو خلک ډېر په جوش کښې وو. ما ورته د صبر او عدم تشدد تلقین وکړو. د کل اباد نه شپې ته چیل کلي محمد نادی ګل له راغلم دلته مې دمې ته نیت وخود اتمانزو نه خبر راغی چه په شلم دسمبر بانډی د سرحد دلویي جرګې جلسه ده او د خط به لیږل وو دا روان شوم. مونږ یوه شپه دلته وکړه سبا له اتمانزو له لاړو چه هلته و رسېدو څه ګورو چه د نوښار د تحصیل شل، پنځه ویشت افسران خدايي خدمتګار په ادې کښې راغلل زما په لیدو دا کونړ شو او جرګې له لاړو هغوی راته ووې چه زمونږ د جرنیلي جرګه ده زمونږ فیصله وکړه ما ووې چه خدايي خدمتګار خو په عمل و جګړې نه کوي، په خدمت کښې جګړه نه وي جګړې خو په ذاتیاتو پیدا کیږي زما دا وینا هغوی ډېره محسوسه کړه او قول ډېر ملامته شو نو بیا مې ورته ووې چه سالار اعظم صاحب له لاړشئ هغه به فیصله وکړي. هغوی ووې چه هغه میږي له تلی دی ما وې میږي ته لاړشئ هغوی سالار صاحب پسې لاړل.

## دلویي جرګې اجلاس:

د دوی د وخت و چه سالار صاحب را ورسېد زمونږ جرګې له راغی زه خو جوړ نه وم. ما ترې اجازت واخستو چه ارام وکړم او د دوی فیصله به خوشالي او په رضا سره وشوه. سباله وختی دوی واپس لاړل د سرحد لویه جرګه را ورسېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلسه شروع شوه د تولونه اول حکیم عبدالسلام صاحب دا تجویز پیش کړو چه یو ډیپوټیشن مقرر کول په کار دي چه هغوی میا احمد شاه صاحب او عبدالاکبر خان راضي کړي. او خان سره یې شامل کړو مایې تائید وکړو او ماووې چه مونږ خولیوی کړې نه دی، هغوی جدا شوي دي که هغوی بیا د تلل غواړی نو جرګی ته به هیڅ عذر نه وي. دد واوې شاد محمد خان ددې تجویز مخالفت وکړو چه هغوی خو جرګی نه بغاوت کړې دی او د جرګی برخلاف کار کوی.

بل تجویز دکانګرس د امداد اخیستو ددی تجویز ما سخت مخالفت وکړو ما ووې چه تراوسه پورې مونږ دکانګرس نه یوه پیسه هم نه ده اخیستي او خلک رابسی خبری کوی او که تاسو دکانګرس نه امداد د واخیستو نو بیا خو به حکومت او برخلاف خلک سره پراپیګنډه شروع کړي ماورته داهم ووې چه جواهرلال مانه په دی خفه شوی و دد ډاکټر انصاري په کور کښي دورکنګ کمیټۍ اجلاس وه هغه راته ووې چه مونږ به هغه مخکښي کانګرس له په پیښور کښي څلور، پنځه سوه روپۍ دمیاشتی امداد ورکولو ستاسو جماعت دېر لوی دی تاسو له به ډېر امداد د رکوو ما ورته ووې چه دا ملک یوازی ستاسودی که زمونږ هم دی؟ که ستاسو هم وی او زمونږ هم وی نو بیا تاسونه امداد ولې واخلو هغه مانه په دې خفه شو او ډاکټرانصاري صاحب ته یې ووې چه دی خو ډېر مغرور ده دی او دا تجویز هم نامنظور شو، بیا سر دار رام سنګه زمونږ خدایي خدمتګار یو تجویز پیش کړو چه دانګلستان وزیر اعظم چه د سرحد دحقوقو متعلق کوم تقریر کړی دی هغه تسلي بخش نه دی او مونږ ته منظور نه دی لیکن ثمین جان وکیل دده د تجویز مخالفت وکړو او دا تجویز یې پیش کړو چه دا ریفارم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ له اخیستل به کار دی. قاضی صاحب او علی اصغر خان وړی چه خه راکوی دا به واخلو او نور به گټو. مالوی جرگی ته ووی چه دی به اخیستو کښې زمونږ قوم او ملک به خه ترقی وکړی پیرنګیان داسی نادانان دي چه مونږ له به هغه حقوق راکړی چه په کوم کښې زمونږ فایده وي، نوما وویل چه زه ددی هم مخالف نه یم که چا ته پکښې فایده ښکاری نو وادی خلی خو ددی تجویز هم شاد محمد خان د دواوی سخت مخالفت وکړو چه مونږ مکمله ازادی غوښتله او اوس هغه اصلاحات واخلو چه ټول هندوستان ترې انکار کړی دی، په دی کښې هیڅ فایده نشته. دشمین جان تجویز وغورز بده او دسردار رام سنگه تجویز پاس شو نوری هم چه خه خبری وي هغه فیصله شوې او جلسه ختمه شوه او یو څو ممبران شپی ته پاتی شول او نور لاړل.

په دوه ویشتم دد سمبر په پېښور کښې

یو لوی دربار وچه

هغه کښې

هم د ریفارمز د خبرو

تجویز و. ډاکټر خان صاحب له او ماله لاټ صاحب

دعوتنامی را لیږلی وې، ما او قاضی عطاء الله او ډاکټر

په دی خبری وکړی چه تلل به کار دی که نه زه خو ناجوړه وم لیکن په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصله وشوه چه په داسې حالت کښې چه حکومت لګیا دی په خدایي-
خدمتګارو ظلمونه کوی نو تلل په کار نه دی او موږ هغې له لاړه نه شو.

زما طبیعت نوره هم خراب شو او تبه می هم ورسره

پیدا شوه. په دی وجه ډاکټر صاحب

د علاج د پاره پېښور ته

بوتلم

زه یی په خپله بنګله

کښې ډېره کړم او زما علاج یې شروع

کړو او خلک یې رانه بند کړل زما علاج خو ارام و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه هزاری باغ جیل کښې
## با هرعامه گرفتارۍ

زمونږ گرفتارۍ، عامه گرفتارۍ او تشدد

هزارۍ باغ جیل ته

بهادره ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کښې د سرداد پټیل تار راغی او خورشید بهن هم راته لیکلی وو چه کانګرسی جی به په اووه ویشتم د سمبر راورسیږی نو ته په شپږ ویشتم تاریخ راشه. زه ناجوړه وم خو دا تلل هم ضرور ؤ، په دې وجه ما اراده وکړه چه پنځه ویشتم د سمبر په سحر وختی په فرنټیر میل کښې بمبئی ته روانیږم. ماسره د تلو د پاره قاضی عطاءالله خان امین جان او داکوړی جرنیل هم تیار شو او فیصله په دې وشوه چه مونږ به پیښور نه روان شو. قاضی صاحب به په نوښار کښې راسره شی او داکوړی جرنیل به په اکوړی راسره مل شی خوانسان ته خپل تقدیر معلوم نه دی، تقدیر په تدبیر پورې خاندې په څلیر ویشتم د د سمبر ما خپل کاغذ و نه تیار کړل او د ټیسن د پاره می ټانګې والا ته هم ووې ډاکټر صاحب ته ما ووې چه په پنځه ویشتم سحر وختی راشه، ډاکټر صاحب او میم صاحب کلی ته تلل، په دغه وخت کښې دارباب عبدالغفور پلار ارباب جمعه خان زما پوښتنې ته راغی. ماښام ډاکټر صاحب بیا ځی د کلی نه راغی او میم صاحب یې کلی کښې پریښوه.

## زمونږ ګرفتاری:

چه په دې کښې زمونږ یو مهربان راغی هغه ووې چه ما ته معلومه شوی ده چه تاسو بیګاله ګرفتار وی ډاکټر صاحب دا نه منل هغه ووې چه دا راز به پټ وي خو ما ورته ووې چه که مونږ ګرفتار شو. زمونږ هغه مهربان زمونږ نه رخصت شو، ماسره چه کوم کاغذات وو هغه می خپل نوکر حنیف الله له ورکړل چه دا میم صاحب له ورکړه. ډاکټر صاحب راته اواز وکړو چه پولیس راغلل، زمونږ د بنګلی نه چاپیر شول او یو پیرنګی ماله راغی او راته یې ووې چه تا ګرفتاروم، ما ورته ووې چه د پره سنبه ده ستا او ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحکومت مننه شکریه اداکړم چه ماګرفتار کړې ځکه چه زه ناجوړه یم او ارام ته می ضرورت نه پرېږدي اوس به ارام وکړم هغه پیسی یوه میمه راغله ماهغی ته د بنګلي ورلیږي کړې او به ارام می کښېښوله .

حکومت ته دمیم صاحب د وی راتلل معلوم نه و دایې د دې دپاره راليږلې وه چه د ډاکټر صاحب ښځه میم صاحب به یوازې وي دا به ورسره شپه تېره کړې لږ ساعت ورلپسې بل پیرنګی راغی هغه مونږ په خلپر ولیشتم د دسمبر د شپې ګرفتار کړو د بنګلي نه بهر راغلو او زه یې په یو موټر کښېنی او ډاکټر صاحب یې په بل موټر کښې کښېنولو هغوی زمونږ د ګرفتارۍ دپاره د پېر پولیس راوستلي وو شاید چه دهغوی به دا خیال و چه مونږ به ورسره جنګ کوو . ډاکټر صاحب د شپې په جامو کښې راغی ماور ته ووې چه جامې بدلې کړه معلومه نه ده چه مونږ چیرته بیایي . ډاکټر صاحب جامې بدلې کړې چه د پېښور نه واوړېدو نو زما خیال و چه هرېپور ته به مو بیایي چه دې کښې د اټک پل ته ورسېدو د لته قول موټرونه ودرېدل پل بند و ماسره چه کوم پیرنګی و هغه ورکوز شو او سنتري ته یې اواز وکړو چه فلانی صاحب ته ټیلیفون وکړه او ورته ووایه چه مونږ ته ور لیږی کړه لږ ساعت پس ورلیږې شو مونږ چه د پل نه پورې وتو موټرونه ودرېدل او مونږ یې د موټرونه کوز کړو دلته د پولیس په چوکۍ کښې یوه کمره وه مونږ یې ورد ننه کړو زما طبیعت ډېر خراب و تللې هم نه شوم نو ماله هغه پیرنګی کټ راوور او زه په هغه کښې څملاستم ، ډاکټر صاحب ته یې هم یو کټ راوور . په دې کښې لږ ساعت پس قاضي صاحب راورسېد ، دهغه نه پس سعدالله خان زما وراره هم راورسېد ، قاضي صاحب ماسره او سعدالله خان ډاکټر صاحب سره څملاستل او مننه په ارام مو خوب وکړو . سحر وختی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ سره دهغو پېرنګیانو تیسن له لاره هلته دپولیس والا وو اوزمونږ د پارټۍ دلو
سپیشل تورین انتظام کړی و مونږ یې هغه ګاډی کښې ورد ننه کړو اوزما په دې کښې دننه
یې په مونږ توپک په لاس اوسنګین چړا وپیره وددوله او ګاډی روان شو تا سو ته به
یاد وي چې مالاټ صاحب سره ملاقات کولو نو زما خبرې یې نوټ کولې او ده وې چې دا
به زه وایسرا سره کوم نو نتیجه دا شوه چې د دوئ تمبل کنفرانس فیل شو نو به هندوستان
کښې یې د ټولو نه اول زه ګرفتار کړم او د ټولو نه یې خطرناک ثابت کړم د غه نوټونه یې د دې
غرض د پاره اخیستل. په دې شپه چې زه یې ونیولم هم په دغه شپه په سرحد کښې هم
پنځه سوه مشران خدایي خدمتګار ګرفتار شول.

## عامه ګرفتارۍ او تشدد:

زما د نیولو نه پس په ټوله صوبه کښې عامې ګرفتارۍ شروع شوې چې د خدایي خدمتګارو
قید یانو تعداد چې زر ګونو ته ورسیده نو بیایې نور نه نیول بیا به پولیس او د ملټری
په کلو و د ننل او خدایي خدمتګار به یې وهل او ټکول په یخو اوبو کښې به یې اچول او کورونه
به یې ورته تالا کول. د چارسدې په تحصیل خدایي خدمتګارو پیکټنګ شروع کړو شل
شل کسان به هره ورځ راتلل پولیس والو به په کوتکو نو وهل او خلکو به ګرفتارۍ ورکولې.

د هرپور په جیلخانه کښې د نورو ټولو جیلخانو نه زیات خدایي خدمتګار قیدیان
وو یوازې دې جیلخانه کښې دیارلس زرو نه زیات قیدیان وو، حکومت په دوی
د پېر ظلم شروع کړو چې دوی تنګ شي او معافي وغواړي. په یخ ژمي کښې یې دوی له
یو یو کمبل ورکړی و چې د سپږو نه ډک ؤ د سیمټو بارکونه وو هغه به یې پرې وو ینځل یوه
جوړه جامې وې هغه به یې هم دوینځلې. باران به ورېدو، جامې به یې جګلو کښې خوړندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او کمبل به‌ېې د خان نه تاو کړی و شپه به په ناسته تېره شوه په دویمه او کله به
رېمه ورځ به یې یوه چپاتي ورکوله چه یوه نوړی به شوه چه سهار به پوهېدو نو بیا به ختم
ره، ددې ظلم برخلاف یو بولا هند و خدایي خدمتکار خبری بندی کړې وی او چېې
ولي دوژه یې ونیوله چه ترمرګه یې جاری وساتله. شپږ میاشتې پس هغه مړ شو او خپلو
چو د جېلخانې نه مړینو ته یوړو. ددې ظلم برخلاف د تمامو وحیاتو کل خدایي خدمتګار
خاولېښت ورځې بهوک هرتال وکړه او د سرانجام خان سپرنټنډنټ په خوله یې مات کړو
هغه ورسره وعده وکړه چه ستا مطالبې منم. سرانجام خان چه سپرنټنډنټ شو نو
قید یانو له یې تسلي ورکوه او زور ظلم یې ختم کړو او قید یانو مشقتونه شروع کړل. دده
سلوک د پېرنګیانو خوښ نه شو نو دی یې بدل کړو او دده په ځای یې د بهار صوبې
و پېرنګی را وغوښتو چه نوم یې سمته و. هغه هم په اول اوله کښې خدایي خدمتګار
سره سنه جنګ وکړو او خدایي خدمتګارو سنه په نوره دده مقابله وکړه. د ټاټ وردۍ
لا ورې انکار ی. بندې چکی، دنله بېړې او نوری سزاګانې یې ورکړې دړی کال
په خدایي خدمتګارو دغه تکلیفونه تېر کړل خو سمته کامیاب نه شو او ددې نه پس
یا خدایي خدمتګارو سره ډېر سنه شو.

زمونږ د کتو زو عبدالله جان او د هغه پلار قلي خان ته پېښ شو هغه د چارسدې اسسټنټ کمشنر و هغه په عبدالله جان رعب واچولو کچری د خلکو نه د که پولیس والا روو قلي خان ورته ووی چه ته د پېرنګی حکومت خلاف نظم وایې چه: د انقلاب به شم خار خار» عبدالله جان ورته وویل چه زه اوس هم دا وایم په فخر یې چغه داسې وویل «د انقلاب به شم خار خار. که څوک مې سرکاندی په دار دار» زمونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوانانو د جرئت داسې ډېرې قصې دي چه هيڅ شان د جاذب پې اثر نه کوي
دا خو دې ته ما مثال بيان کړو.

### هزارې باغ جيل کښې:

حکومت مونږ سره د سرحد نه يو سردار خيل د پوليس انسپکټر له خيله طرف
لګولی وو، هرې صوبې ته چه به زمونږ کاډې روانېدلې نو د هغې پوليس به زمونږ د
نګراني او حفاظت انتظام کولو او هغه به واسره کېده. د پنجاب پوليس يو انسپکټر
چه په مونږ لګېدلی وو د دې انسپکټر دا کار وو چه کله به مونږ د ډبې کړکۍ لېرې کړې
نو دی به راغی او هغه به يې بنده کړه اخر ما ورته ووې چه انسپکټر صاحب مونږ
خو ښځې نه يو چه مونږ کړکۍ د هوا د پاره لېرې کړو ته يې بنده کړې چه د دې خوک
وته وينې او زمونږ دا د صوبه سرحد انسپکټر سردار خيل د ډاکټر صاحب او د
صاحب ډېر اشنا و او دا به يې هم وې چه زه د ډاکټر صاحب د مرګ نه پېچ کړې يم
قاضي صاحب سره د اخبار ډېر شوق وو ده به د هغه خپل اشنانه اخبار غوښته خو هغه
دويې نه اخبار نه ورکولو زما خو هميشه دا قاعده وه چه ګرفتار شم نو چه کوم پوليس ما سره
وي نه ترې تپوس کوم او نه ترې څه غواړم. زمونږ دا کاډې چه به د کوېلې اوا
اخيستو د پاره ودرېده نو مونږ ليسې خو به کوزې کړې او ورونه به بندې وو او که زمونږ به کوم
يو ته شوق شوی و نو دی پنجابي به نه پرېښودو. څه وخت چه زمونږ کاډې يو
ته ودرېده نو زمونږ د چارج اخيستو د پاره يو انګرېز افسر او يو ګورډه سار جنټ
راغی او چه هغه چارج واخيستو نو زما ډبې له راغی او د ډبې دروازې يې لېرې
کړې او ما ته يې ووې چه راځه راکوز شه ټېسن کښې ګرځه ښې ازادي کړه. او س

دغه انګریزانو د پنجاب د دغو مسلمانانو افسرانو د روی مقابله وکړی! انګریزسره
زمونږ جنګ وو او مونږ تری حکومت اخیستو او دا زمونږ مسلمانان پنجابی
ورو څه چه مونږ د دوی د پاره حکومت ګټلو. دا ورځ د دوی د (ابره دن) روښی
ورځ وه هغه یې ډېره مینه محبت ماته شراب را وړو ماته یې ډېر په مینه محبت سره
پېش کړل ما ورته وویل چه معافی غواړم زه شراب نه څکم هغه زما په دې خبره حیران
وو زه به د هغه د لوادارۍ او محبت هیڅ یری هېر نه کړم او څه وخت چه اله اباد ته
ورسېدو نو دلته یې زمونږ نه ډاکټر صاحب کوز کړو او هغه یې د اله اباد نیني جېل ته
بېوه. بیا یې سعدالله کوز کړه او هغه یې د بنارس جېل ته ولېږه. بیا د بهار صوبه
شروع شوه او دلته یې قاضی عطاءالله صاحب زمانه کوز کړو او د ګیا جېل ته یې
بېوه او زه یې د هزاری باغ جېل له روان کړم. د هزاری باغ جېل د تیسن نه
ولینبت میله لیرې دی. زه چه یې موټر کښې کښېنولم نو ما سره دوه پیرنګیان
د پټی کمشنر وو. بل د پولیس کپتان وکښېناستل او دا زمونږ سردار خیل
سپکټر هغوی سره کښېناستو. کښېناستو سره هغوی ماله یو انګریزی اخبار راکړو
چه سردار خیل انسپکټر خپلو دوستانو او محسنانو له یې نه ورکوو) چه زه یې جېل ته
ننه کړم او زه یې بارک له بوتلم نو د جیلخانی افسر چه هندو وو را ته ووې چه دا تا
سره چه د پولیس افسر داغوک دی؟ ما ورته ووې چه ماته ولې د ده پوښتنه
کوې؟ نو هغه راته ووې چه ماته خو ډېر رذیل سړی ښکاره شو هغه ماته ووېل
دا ډېر خطرناک سړی دی فکر ورته کوه. زه یې یو بارک کښې یوازې بند کړم
دوی دا نه لاړل. ماته لغیر د لوی صاحب (سپرنټنډنټ) او ورو کی صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جېلر) د لیدو نه د بل چا د راتلو یا لیدو اجازت نه و . زما د بارک وړاندې
یو سړک چه په هغه به جېل والا تلل راتلل هغه یې بند کړ ماسره د خدای خدمتګارو
ډېر فکر او غم و. په تنهایي کښې زه ناجوړه کېدم . دلته زه بالکل تنها وم خوب
به مې پوره کولی نه شو او ډوډۍ مې هم خواته نه کېده چه په دې کښې مې یو شپه
خوب ولید و چه یو لوی سین دی د هغه په غاړه یو ښکلی ګنبد دی زه په هغه کښې
ناست یم چه په دې کښې سیلاب راغی او دې ګنبد ته راننوتو د ګنبد یې وجر قو دړ
ډېر ووېرېدم ماویې خدای دې خیر کړي چه زما د پاسه راپرې نه وځي خو څه
ساعت پس هغه سیلاب تېر شو او ګنبد یکښې لاهو نه شو، پاتې شو. چه د خوبه راوېښ
شوم د خوب په لیدو ډېره تسلي مې وشوه، او هغه ډېر غمونه او فکرونه مې کم شو ځکه
چه زما زړه ته دا خبره راغله چه زمونږ په تحریک د هیبت کوم سیلاب راروان دی هغه
به خیر تېر شو، او تحریک یکښې لاهو نه شو. بیا مې فکر وکړ چه دا ټول د ځ داسې بې کار
ناست یې نو صحت خو به دې نو خراب شي څه شغل او کار به کار دی چه زه پرې مشغول او
دا وخت مې پرې تېریږي نو سپرنټنډنټ صاحب ته مې وویل چه زه دلته بیکاره ناست
یم او بیکاري ما ته ښه نه ښکاري ته ماله یو، تسکوره او رمبې راکړه چه زه د چپل بارک
مخکښې دا بنجره ځمکه اباده کړم. په دې کښې به خانله سبزي کوم. هغه ما ته دوه قیدیان
راکړل. هلته چه کومه لږ غوندې ځمکه وه هغه مې اباده کړه او سبزي او ګلونه مې یکښې
وکرل. د دې نه ما ته دوه فایدې وشوې، یو خو راته کار پیدا شو چه زه به پرې مشغول
او وخت به مې ښه تېریږي. او بله دا چه یوازې وم نو د خبرو ملګري هم پیدا شول.
زه د «شاهي قیدي» وم. د پېټي کمشنر به دلته هره میاشت راتلو د هرې میاشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اول تاریخ به راغی . دې کښی هغه چرې ناغه کړې نه وه هغه هم د دی کلونو او سبزو
کولو د پر شوقین و ما سره به یې هم پکښی د پر امداد کولو کله ناکله به یې دالتخمونه هم
رادرل . د پر ښه سړی و پکښی د پر انسانیت و دی چه به هره میاشت راغی او زه به یې
ولیدم زما د تنهایی به یې محسوس وله او زمانه به یې تپوس کولو چه تا ته څه تکلیف
ونشته ؟ ما به ورته ویل چه جیلخانه خود تکلیفونو ځای دی . زما دا عادت دی
چه په جیلخانه کښی نه څه غوارم او نه شکایت کوم او نه ( complain شکایت )
وم او تول تکلیف په ځان تېروم . شپږ میاشتی تېری شوی او ده خپله ولیدل
په صحت می خراب شوا و نور هم خرابیږی نو لغیر زما د وینا نه یې د صوبه سرحد حکومت
ولیکل چه ده له یو ملګری په کار دی او په ګیا جیل کښی د ده ملګری دی هغه دې
جیلخانی ته را بدل شی . هلته قاضی عطاء الله خان و هغه غریب هلته یو ازې وا و زما
هم زیات په تکلیف کښی و زه به څه نا څه . و ده کیدم او خوب به راغی او هغې غریب
خوب نه ورته او نه و ده کیدی شو ځکه چه د تنهایی په وجه یې یو کال هلته وخوب
ولری . د ګیا جیلخانه د هندوستان په تولو جیلونو کښی ګرمه ده بله دا چه زه او قاضی
صاحب په یوه صوبه بهار کښی وو او ډاکټر صاحب او سعد الله خان په بله صوبه یعنی
یې کښی وو ولې سره یف کرافیته زما او د قاضی صاحب د پر مخالف و نو مونږ د واړه
نه یو ځای کولو هغه په ځای یې ماله ډاکټر صاحب را ولیږلو . چه ډاکټر صاحب راغی
مونږ یو بل ته ورته غاړه وتو او کال پس یې قاضی صاحب سعد الله له ولیږه .

ماسره څنګ په څنګ د بنځو جیلخانه وه په هغې کښی سیاسی قیدیانی وې د
جنډ ریو ښاد خور هم پکښی وه . یوه ورځ چو ته صاحب د پیتی سپرننډنټ ماله

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی، ما ته یې وویل چه بښځو د ډېر تنګ کړی یم او راته وایي چه ته مونږ ته دی وښیې
او که راته یې نه ښئیې نو مونږ ایجي ټیشن کوو. داخوزه کولی نه شم نو ته مهرباني وکړه د
ته جواب ولېږه او ما ترینه خلاص کړه ما هغوی ته جواب ورولېږلو او دې ترې خلاص ش
چه ډاکټر صاحب راغی او هغه ولیدل چه ما خو ددی همېشه په ارک کښې بند
او زه خو به نیني جېل کښې جواهرلال سره همیشه بهر ګرځېدم نو د هغه ځای باغ جېل
سپرنټنډنټ چه هغه یو پنجابي واو ډاکټر صاحب سره دیوړ په خنګ کښې یو ځای
پاتې شوی وخو ډېر بد دل سړی و. ډاکټر صاحب هغه ته د بهر ګرځېدو خبره وکړه
ده وویل چه: «لا نه بهایي مېں مارا جاونګا» یعني نه وروره دا خبره مه کوه زه
او وهلی شم لیکن ډاکټر صاحب دا خبره نه پرېښوه نو اخر مونږ ته د ارک نه بهر ګرځېد
اجازت وشو. په دې جېلخانه کښې بابو راجندر پرشاد او د بهار ای لوی لیډ
قید وو. اچاریه کرپلاني هم دلته وهغوی نه زما نه خبر وو او نه زه د هغوی نه خبر
مونږ چه بهر ګرځېدو ولیوه ورځې مو د هغوی یو ملګری ولیدو نو هغه ډېر حیران ش
تاسو کله راغلي یئ ما ورته وویل چه زما خو دلته اتم میاشت ده او ډاکټر صاحب
خو ورځې کېږي چه راغلی دی. هغه راته وویل چه دلته خو مونږ د بهار ډېر سیا
قیدیان یو بیا به مونږ کله کله د هغوی لیدو له ورتلو. د بهار خلک ډېر ښه
خلک دي، د بهار هغه داروغه صاحب د راجندر پرشا د کلاس فیلو او همصنف
و ډېر ښه سړی و او د قوم پرستو سره یې ډېره همدردي کوله. مونږ یوه ورځ چه
صاحب سره دا خبره وکړه چه ددې ځای چه کوم سیاسي قیدی دي هغه
ورځ ما ته وګوره مونږ له د دهاکېډو نه مخکښې راولېږي. مونږ به هغه له میلمستیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بهارخلک دېښه خلک دي لیکن داچوت چات پکښې ډېر زیات دی مونږ سره
یوخای په اوسیدو په دې خلکوکښې ډېر بدلون راغی او ډېره اصلاح یې وشوه، یوه
ورځ یوسیاسي قیدي زمونږ میلمه وچه چای راغله نوچای سره کومي کومي پیکوړې
تلیل لې باتینکن هم ور ماپه پیالي کښې چای ورکوله او بیا به می پیکوړې پخپل لاس
ورکولې او داکتر صاحب به تلیل لې باتینکن هم هغه ته ورکول او هغه چای سره پیکوړې
وباتینکن هم خوړل او چه چای ختمه شوه نو هغه ډېرو خندل او بیا یې مونږ ته ووې چه
په مونږ کښې دومره چوت چات دی چه یوه ورځې مسلمان ډاکې راغی او هغه ماله زما
خط راکړو نو هغه نه د خط اخیستو په وخت کښې یوه خنده هغه نیولې وه او بله خنده
نیولې وه. په دغه وخت کښې زما ورور ما سره ولاړ وو هغه په ما او به واړولې او دانه
ووې چه ته خرپلید (بهرشت) شوی.

د بهار لیلا نوسره زما محبت و دهغوی محبت زه دزړه نه نه شم او بنکلی.
بهار ننجي نو ډېر بهادره ان دي او هغوی د ملک دازادی دپاره ډېرې قربانۍ
ورکړي دي او زه به درته دیوې ننجي قصه وکړم چه هغه مونږ سره قیده وه.

بهادره ننجه:

یوه ورځ چوتا صاحب راغی او خندل یې او ماته یې ووې چه تاته نن دیوې ننجي
قصه کوم چه دلته قیده ده، نن جیلخانې له دهغې وکیل خاوند ملاقات له راغلی و او هغه
سره ننجه بچي وو د ملاقات په وخت کښې خیلې ننجي ته یې ډېر منت وکړو چه دادوه واره ته
خله او دادرس ای لوی به ماسره دي ننجي ورته ووې چه داتول به ته ساتې ما خوداتول
تال خوتا زما خبره د نه منله نو اوس یې ساته نو چوتا صاحب ووې چه ما هغې ننجي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووي چه دا بچي ولې نه ساتې نوهغې خواب راکړو چه څه وخت د انګریس د جنګ ببیکل
ووهل شو نوما دې خاوند ته ووې چه دا د ملک او قوم جنګ دی ته هم ارښه خو ده ووی
چه زمایو دوه مقدمې دي چه دا ختمې شي نو بیا به لاړ شم . څه ورځې پس مې ترې پوښتنه
وکړه چه مقدمې ختم شوې که نه ؟ نو ده ووې چه لیرې عونډې پاتې دی . څه ورځې پس
مې بیا توی تپوس وکړو نو هغه دغه خواب راکړو چه دې بچو سره څه وکړو ؟ ما دې چه
بچي به زه ساتم ولی دی قید ته تیار نه و او زه پوه شوم چه جیلخانی له نه ځي نو ده بچیله
راغلم یکټینګ مې وکړ او قید شوم او بچي مې ده ته پرېښودل . دکوم نوم مشحو کښې چه
دوسره قومیت او بهادري دي نو هغوی ضرور خیل منزل ته رسی او د دغه وجه وه چه
انګریز مجبوره شو او زمونږ ملک یې پرېښو .

د ډاکتر صاحب د راتلو نه پس یې بیا مونږ بل بارک ته بدل کړو ، دغه بارک سره د یو
مځکه ښاره پرته وه ما چوټا صاحب ته ووې چه زه دا مځکه اباده م ما سره امداد وکړه چه
ماله دوه قید یان راکړل . ما په هغه مځکه شروع وکړه او اباده مې کړله . په دې مځکه یوارته
هم و ما او بالوګنې قسم قسم سبزی وکرلې . د بهار پېښتې ډېرې خوږې وې یولوی پښتو
مې پنبه جوړ کړو او دامې پکښې وکرلې . ډپټی کمشنر به میاشت په میاشت راتلو ما سره
به دې کارکښې ډېره دلچسپي وه او کله ناکله به یې د ملو تیپر و تخم هم راکوه او راته به یې
چه زما هم د زراعت سره ډېر شوق دی . دا جیلخانه په ځنګل کښې وه کله ناکله به د مزدو
اوازونه مونږ اوریدل او په دې جیلخانه کښې به د ښپې ډېر ماران راتلل او هغه
داسې زهرلیه وو چه سړي به یې وچیچلو او فوراً به ورته انجکشن ونه شو نو دوه ګینټې
کښې به مړ شو . زه به د ښپې د دوه دی نه پس ګوځیدم . سپرنټنډنټ صاحب خود

(c) ketabton.com: The Digital Library



منع کولم چه ما ته دی وچیچی نوما به ورته وی چه زه ونه کوځم نو نه خوب راځی او نه می دوډی هضم کیږی نو بیا هغه ماله یو کیس لمپ واخیستو او د شپی به چه کوڅېدم نو هغه به د ملازم سره وو هغه به مخکښی وا او زه به وروسته ووم او چه کله به برسات شروع شو نو د ماراټ به ډیر زیات شول او چه مونږ به د شپی کوځېدو نو چه چیرته به ډنډونکی ونو هغی کښی به بیشماره ماران ریپېدل . د ماران وړوکی وړوکی وو خو ډیر خطرناک وو . زه به وختی سحر پاڅېدم . یوه ورځ چه پاڅېدم نو کوم کابی کښی می پښه منډله خو چه دا کوم کابی می په پښه سموله او هغه نسکوره شوه نو یو کوچنی مار تری روان شو ، خدای تری رساتلم دلته زمونږ یو مشقتی و . ډاکټر صاحب سره به نی ډیر کپ لګوو . په دی کښی ډیر قیدیان د ځنګلی علاقی وو ډاکټر صاحب ته بی وی چه مونږ ښځی او نر لاسونه سره ورکړو او په جمع ګډ یږو . یوه ورځ تری مونږ پوښتنه وکړه چه په څه قید شوی یی ؛ نو هغه ووی چه سړی می وژلی و او چه مقدمه راباندی جوړه شوه نو خپلو واله وکیل ونیو وکیل راته بیان او ښو چه دا به کوی . ماورته وئیل چه دا خو دروغ دی او زه دروغ نه وایم . وکیلانو خلکسه دروغو اموخته کړی دی . حقیقت دا دی چه داوکیلان چه د کوم وخت نه پیدا شوی دی نو په دی ملک کښی دروغ او دروغو مقدمی زیاتی شوی دی . خوما دروغ ونه وی او د رښتیا می وی ، چه د رښتیا په برکت له پانسی نه خلاص شوم .

حکومت زما بچوله الاونسی نه ورکولو حالانکه د ډاکټر صاحب او قاضی صاحب بچوله یی ورکولو او بله لوبه یی مونږ سره داکړی وه چه زما جایداد خو ډیر و ، خو د ګورنمنټ په اشاره زمیندارو زما حصه ګډه وډه کړه او ماله یی څه نه راکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زما زوی غنی د پېښور د لښت په وجه د امریکې نه واپس شو او خپل تعلیم یې پوره نکړو . زما هغه د پېښور باغ چه پوخ شو او بیا د وه موږ خوړلې دي چه زموږ د رهایی حکم راغی موږ خو ډېرې پېښتې کړلې وې او هغه ټولې شوې دي اګرچه په دې جېلخانه کښې د ننه د پېښور د کرلو حکم نه و خو مالا جرنیل خاص اجازت راکړی و نو چه موږ خلاصېدو جېلوالا او قیدیان ډېر خپه و دیل یې چه تاسو د ها شي او لاړ شي موږ به دا د بېخه و باسو . پېښتې په ځنېدو راغلې وې ډېرې خوږې دي . اول په دې جېلخانه کښې د پېښور د کرلو اجازه وه خو هغه قیدیانو ایستلې وې دیوال ته ایښې وې او تېښتېدلي وو نو ځکه د پېښور کرل بند شوی و .

چه ډاکټر صاحب نه و نو زما د خوراک ډېر بد حال و د دې خلکو او زموږ خوراک کښې ډېر فرق دی او زه ټخلې باندې نه پوهېدم چه ډاکټر صاحب راغی نو بیا کار ښه شو ولې چه هغه به ډېر ښه ټخلې کولو او بیا یې زموږ مشقتي ته چل وښودو هغه بیا موږ له ښه ډوډۍ پخوله ما به د اتوار په ورځ روژه نیوه او دې سره به مې د خبرو هم روژه وه ولې چه زما د ډېرو خبرو کولو عادت و او ډېر قهرېدم به د روژه ماتي د پاره به ماله ډاکټر صاحب ځپله ټخلې کوبو او په دغو ورځو کښې چه ګاندهي جي بهوک هړتال کړی و نو ما هم ورسره کړې وه او ما ته دا سې یا دېږي چه اته ورځې و . ډاکټر صاحب ما ته ووې چه زه چه په نیني جېل کښې وم نو جواهر لال ته ووې چه موږ غواړو چه خدایي خدمتګار و سره مالي امداد کړو نو ده وې چه ما ورته ووې چه ډېره ښه ده ، ما ورته ووې چه دا خو دې ډېر غلط کار کړی دی موږ خو د کانګرس نه امداد نا خلو موږ هم د خپل ملک د پاره جبر و جهد کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانګرس هم
کړی نو مونږ له
د هغوی نه امداد اخیستل
خو ما ته مناسب نه ښکاري او
په دې خو ما نه جواهر لال خفه شوی و
مونږ د هغوی نه ولې امداد واخلو
مونږ خدايي خدمتګار به دوه،
دوه نیم لکه خلک وی
نو کانګرس
به مونږ له څو مره
امداد راکوي بلها دا
چه دوی اوس امداد ورکړی
نو هغه خو بیا لوته رسیدی نه شی
نو په دوی کښې به بې اتفاقي پیدا شي
خدا ښه خبره وه چه کرپلاني
رهاکید و نو ما هغه ته ووې
چه مونږ د کانګرس نه
مالی امداد نه غواړو
ډاکټر صاحب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواهر لال ویلي وو نو ده د امداد خبره منلې ده ته چه لاړ
شی نو دا امداد بند که او تولو لیډرانو ته ووایه
چه هغه وې چه خدایي خدمتګار د کانګرس
نه امداد نه اخلي. زمونږ. باوړې چه
زمونږ. د رهایي واوریدل
نو په ژړا شو ماوړته
ووې چه
زمونږ. په رهایي خفه لي ؟
نو هغه وې چه نه ستاسو په رهایي
خوشحاله یم خو ما سره د ځان غم دی، جیلو الاهم
زمونږ. په رهایي خفه وو زه هم په هغو خپلو پیپیتو لیبی ډیر خفه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما په صوبه سرحد او پنجاب بندیز

د آل انډیا کانګرس کميټي اجلاس

وارد ا، کلکتې کښې، بمبئي کښې، قيد دوه کاله سابرمتي-

جېل، بريلي جېل، الموړه جېل، رهائي، وارد يې ته، دخپل اولاد سره ملاقات

انتخابات او کانګرس ورکنګ کميټئ، زه بمبئي کښې، دفيض پور کانګرس

د پينځو په هکله غلط فهمي، انتخابات، مونږ وارد اکښې، دکانګرس-

وزارتونه، مونږ بنارس، دهلي ګجرات، کاتياوار کښې

دهندوستان دمسلمانانو فکر

دسنډ او بلوچستان دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سرحد نه پابندي:

د دې کاله پس مونږ د هزاری باغ جېل نه رها شو او پټنې ته راغلو او د هغې ښځې ميلمانه شو چه وکيل خاوند يې جېل ته نه تلو او داتللي وه او مونږ سره جېلخانه کښې قيد وه. په بهار کښې زمونږ ډېر سياسي قيديان ملګري وو او زمونږ او د هغوی ډېر ښه تعلقات وو چه زمونږ د رهايي نه خبر شو او مونږ پټنې ته راووسېدلو نو راجندر پرشاد او هغه نور ليډران مونږ سره راغلل، زمونږ يو لوی جلوس يې وښکو او جلسه وشوه، د جلسې نه پس مونږ له حکومت دا نوټس راکړې وچه پنجاب او سرحد بانده ی تاسو بند يئ. مونږ له ګاندهي جي او جمنالال بجاج دعوت راليږلی وچه تاسو چه حکومت په سرحد او پنجاب بند کړې يئ نو دلته واردې ته راشئ. بيا مونږ واردې ته روان شو.

آل انډيا کانګرس کميټئ اجلاس:

مونږ په دسمبر ۱۹۳۴ع کښې رها شوی وو. په بمبئي کښې د آل انډيا کانګرس کميټئ اجلاس ؤ نو چه زمونږ د رهايي خبر کانګرس ته ورسېدلو نو د کانګرس کميټئ استقباليه کميټئ دا فيصله وکړه چه باچاخان دې د دې کانګرس صدر شي او راجندر پرشاد چه د آل انډيا کانګرس صدر مقرر شوی وو د هغه تار راغی چه زه صدر منتخب شوی يم خو ستا په حق کښې مستعفي کېږم خو ما دا خبره منظوره نه کړه او د تار په ذريعه مې اطلاع ورکړه چه زه سپاهي خدايي خدمتګار يم، زه صدارت نه کوم، خدمت کوم. د دې جلسې پنډال زما په نوم جوړ شوی وو او مونږ چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه دروازه ورننوتو هغه لویه او بنکلې دروازه هم زما په نوم جوړه شوې وه ،مونږ په دغه اجلاس کښې شریک شو عبدالخالق خلیق صاحب او زمونږ نور دېرپښتانه - وروڼه چه زما سترې مه شې له راغلی وو هغوی هم دې جلسه کښې شریک شوی وو. څه ورځې پس مونږ دوا ړه دهې نه کلکتې ته لاړو او هلته د کلکتې کارپوریشن مونږ ته استقبالیه ایډریس راکړو او په کلکته کښې زمونږ لوی استقبال وشو.

چه څه وخت کلکتې له تلم نو کانګریس سره مې سلا او مشوره کړې وه چه پنجاب او سرحد ته خو زه تلی نه شم او هسې کښېناستې هم نه شم زه خو خدائي خدمتګار یم خدمت به کوم نو اوس به دې باقي هندوستان کښې بنګال او بل سندهه دی چه لته د مسلمانانو اکثریت دی ستاخنګه خوښه ده چه کومه صوبه کښې شروع کوم؟ نو په دې فیصله وشوه چه بنګال کښې کار په کار دی، نو کلکتې ته لاړو، په کلکته کښې زمونږ ډیر لوی استقبال وشو، ما د مسلمانانو په علاقه کښې خپلو تقریرونو کښې مسلمانانو ته داخیال ظاهر کړو چه زه ستاسو د خدمت د پاره راغلی یم او زه په کلو کښې کار کول غواړم ولې چه یو خو قوم په کلو کښې اوسی او مصیبت زده او بې خبره خلک هم هلته دي. بل ښارونو کښې اخبارونه هم وی ریډیو کان هم او کلو کښې داڅیزونه نه وی. نو زه خو د هغوی د خبرولو د پاره راغلی یم او هغوی ته ورځم.

کلکته ښار کښې د مسلمانانو یو مجلس ( انجمن ) وو او سهروردی صاحب ددې مجلس مشر و او دده هسې نور مسلمانان هم ددې مجلس کښې وو. دې مسلم مجلس ماله دعوت راکړې و چه مونږ ورغلو د بنګالیانو د رواج مطابق هلته د ټنګټکوز انتظام هم شوی و، چه د سندرو او کانی وخت وشو نو ما خواهش وکړو چه دومره به لبس وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به څه دمطلب خبری هم وکړو او چه کله ما دا خواهش ظاهر کړلو چه زه دمسلمانانو علاقو او کلو ته وتل غواړم چه هلته کار وکړم، نو دی لیډرانو ته می خواست وکړو چه ماسره یو تن داسی په کار دی چه زما دخبرو ترجمه په بنګالی ژبه کښی کوی نو هغوی دا معذرت اوښکاره وکړه چه دمسلمانانو په علاقه کښی دملیریا دتبو ورځی دی ماشی دی او هلته تګ د صحت دپاره مضر دی یعنی هغه پخپله تګ او خدمت خو پریږده داسی کوشش وچه ما هم هلته د تللو نه منع کړی ځکه چه دهغوی په لیډری کښی فرق راته.

زه چه څه وخت دمسلمانانو نه مایوسه شوم نو داکټر پروفولا چندر گهوش چه زما دوست وا او دکانګرس دورکنګ کمیټی ممبر هم وهغه می ددې حال نه خبر کړو هغه ته می ووې چه ماسره کلو ته لاړ شه ځکه چه دغه خلک صرف په بنګالی پوهیږی او ما له بنګالی نه راځی هغه راته ووی ښه ده زه دې هر قسم خدمت کوم او دکلو په دوره درسره ځم خو دا دبنګال خلک خو مړه دي هلته ته څه کوې؟ زه او هغه دکلو په دوره روان شو، مونږ چه به کوم کلی ته لاړو نو ما به پخپله طریقه کار شروع کړو خلکو له به ورتلو خبری به مو ورسره کولی او ورته به می وې چه دا هندوستان دسرمایه دار ملک وو، هر کور کښی به پی و، غوړی او وریجی وې لیکن اوس څه چل وشو چه ددی څیزونو قات (قحط) دی او زمونږ بچی وږی تږی بربنډ خوار وزار دي؟ هغوی غریبانانو به زما خبری په غور او فکر اوریدې؛ او په اخر کښی به می ورته وې چه ترکومی پورې داملک ازاد شوی نه دی او ددی ملک واک اختیار ستاسو په لاس کښی راغلی نه دی نو تاسو او ستاسو بچی اا دیدی نه شی او په ګیډه مړیدی نه شی داملک خدای مونږ له راکړی دی خو مونږ د خود غرضۍ او ناپوهۍ بی اتفاقی په وجه ددی ملک واک اختیار دانګریزانو دی او ستاسو په ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی اباد دي . په دې طریقه مونږ چه څو ورځې په هغه علاقه کښې وګرځېدو نو بیا به مو
یو ځای د جلسې د پاره خوښ کړه زمونږ په اوله جلسه کښې پنځوس کسان راجمع شوي وو
او څه ورځې پس چه مونږ دویمه جلسه وکړه نو هغې له دوه سوه خلک راغلي وو او دغه شان
پرله پسې د خلکو شمېر زیاتېدو . په دې وخت کښې مې پر دفولا بابو ته ووې چه تا ویل چه
دا خلک مړه دي تا ولیدل دا خلک مړه نه دي، ژوندي دي . دا مړه نه دي خو دې
غریبانانو خلکو غمخوار او همدرد نشته چه خدمت یې وکړي او راویښ یې کړي چونکه کانګرس
جلسه شروع کېدله نو مونږ په هغې کښې د شاملېدو د پاره بمبۍ ته راغلو . د کلکتې زماد
هستوګنې په دوران کښې غني او ولي دواړه ما سره وو .

د بمبۍ د کانګرس په اجلاس کښې د عیسایانو د سوسایټۍ څو کسان ما سره
پنډال له راغلل او ماله یې دعوت راکړو . زه ورسره لاړم نو هغوی زمانه د خدایي خدمتګارۍ
په باره کښې پوښتنه وکړه ما ورته د خدایي خدمتګارۍ تول قصه بیان کړه چه مونږ
څه وخت خدایي خدمتګارۍ کښې داخلېږو او قسم خورو او خدای سره وعده کوو
چه د خدای د مخلوق خدمت به کوو . د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی
بیا مې ورته هغه ټول حالات او ظلمونه بیان کړل چه په مونږ تېر شوي وو .

ما ته دغه وخت پوره دا معلومه نه وه چه د بنګیا ویل هم د پېرنګیانو په قانون کښې
جرم دی ، د کانګرس اجلاس ختم شو او مونږ واپس واردی ته راغلو ، نو ګاندهي جي سره
موسلا مشوره وکړه او بنګال ته مې د واپس تلو پروګرام جوړ کړه او دا فیصله مو وکړه چه تر
کومې پورې ما ته د خپلې صوبې د تلو اجازه شوې نه ده نو تر هغه وخته به د غلته کار کوم زما
د دغې ارادې پته چه حکومت ته ولګېده نو هغوی وویل چه د بنګال هندو خو ویښ شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا مسلمان که هم را وبینی شو نو بیا زمونږ خیر نشته، نو په بمبئی کښې چه هغو عیسایانو ته ما کوم تقریر کړی و پولیس راغی او په هغې کښې یې زه ونیولم او بمبئی ته یې روان کړم چه هلته په تیسن کوز شوم نو ډیری ښځې او سړی زما لید وله راغلي وو زه یې جیلخانې له بوتلم او زما مقدمه شروع شوه گاندهی جی ماله ځواب راولیږه چه دا وخت د قید نه دی د کار دی ته جیل له مه ځه معافي وغواړه ما ورته ووی، ما ته ښه معلومه ده چه حکومت ما نه پریږدي نو معافي ولې وغواړم؟ خو هغه پخپله خبره ډیر ټینګ وا او ما ته یې ووی چه صرف دومره ووایه چه (Regret) یعنی زه افسوس کوم. زما خو یقین و چه ما حکومت نه پریږدي خو گاندهی جی هغه خبره می ومنله خو سره د هغې یې هم زه دوه کاله سخت قید کړم.

## سابرمتی جیل:

زه یې څه ورځې د بمبئ په جیلخانه کښې وساتلم او بیا یې سابرمتی جیل ته احمد آباد ته چالان کړم د هغه ځای یو انګریز سپرنټنډنټ و ډیر سخت مزاج یې و او د جیل قانون یې خدایي قانون منلو. زه یې ایکې یوازې په یو وارډ کښې بند کړم او د هغه وارډ نمبر دار ته هم د ننه د راتلو اجازه نه وه هغه به د وارډ د دروازې ته جندره واچوله او پخپله به بهر کښېناست. د دې ځای په خوراک کښې او زمونږ په خوراک کښې ډیر فرق و ما له یې بی کلاس راکړی و لیکن د دې صوبې په بی کلاس او زمونږ د صوبې په سی کلاس کښې هیڅ فرق نه و دلته د بی کلاس د پاره کټ نه و او په محکمه به خملاستو ما سره څوک د خبرو نه و دلته ډیر بیزو کان وو ما به د وخت د تیرولو د پاره هغوی سره لوبې کولې د دې خراب خوراک په وجه زه ناجوړه شوم او زما القلوزنزا شوه او با وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی سختی بیماری ځ زه چا هسپتال ته بو نه تلم اونه یې ماله په واډ کښی کټ راکړو. زه د سیمنټو په فرش پروت وم ماله چه یې کوم ترپری دلاندی اچولو دپاره راکړی و هغه دومره لنډ ؤ چه ما به پښی وغزولې نو په سیمنټو به پرتې وې او داغوستو دپاره چه یې کوم کمبل راکړی و دومره لنډ وچه سر به مې پټولو نو پښې به مې بربنډې او چه پښې به مې پټولې نو سر به مې بربنډ شو. دا ما سره تول انتقامانه سلوک چه ؤ. ددی دوه وجې وې. یو چه مسټر ایمرسن دګجرات په جیلخانه کښی د معاینې دپاره داغلی وو دی هغه وخت دپنجاب وزیر ؤ نوزه پخپله کټ کښې ناست وم، دی دننه چکی ته راغی او زه ورته د اخلاقیاتو قیل یا نو په شان جنګلی ته نه وم ودریدلی دی په هغی خفه شوی و او س دی د مرکز هوم سکرټری دی، او بله خبره داوه چه شمله کښې وم د کانګرس د ورکنګ کمیټۍ اجلاس له تللې وم ماته وویلې شوه چه وایسرای سره ملاقات وکړه، زما ورسره څه کار نه وا وهسې هغه سره ملاقات کول دهغه وخت ضایع کول وو ما وې چه زما ورسره څه کار نشته نوملاقات دڅه دپاره وکړم او که د وایسرای ما سره څه کار وی نو هغه دې راته ووایي نوزه به ورسره ملاقات وکړم ماخو سمه خبره کړی وه خو دوی ته ګستاخي ښکاره شوه. څه موده پس صوفیه سوم جی زما ملاقات له راغله، دا به هغه وخت کښی تول هندوستان د کانګرس د زنانو د رضا کارو کماندره وه چه وروسته یې بیا د سعد الله خان سره واده وشو، او دهغه نه پس کاندهي جی هم زما ملاقات له راغی. کاندهي جی چه زه ولیدم او زما سره دحکومت دسلوک نه خبر شو نو ډیر خفه شو او دهغه په کوشش سره یې څه موده پس ماله اې کلاس راکړو. د کاندهي جی نه وړاندی سردار پټیل هم زما ملاقات له راغلی (کاندهي جی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل عادت له مخه دملاقات په وخت کښې ماسره ډېرې بې توقي وکړې اوزه يې ډېر وخندولم ماسره ملاقات بانلدې پابندی وه چه بې غير دخپلوانو نه يل چاسره ملاقات نه شي کولی او احمد اباد کښې خو زما خپلوان نه وو، کله نا کله به د سعدالله خان ښځه صوفيه بېگم زما ملاقات له راتله هغې له يې هم اول ډېر تکليف ورکړې واجازه يې نه ورکوله هغې په ډېر زور اجازه حاصل کړې وه او دې به ورته ووې چه زه خو ده دوراره سعدالله خان ښځه يم زه خويې رشته داره يم.

په دی جيلخانو کښې قيد يانو سره ډېر خراب سلوک کېږي زه به يې تل په هغه خپل وارډ کښې بند ساتلم او د هغه نه اخوا دې خوا د کرخېدل واجازت هم نه و ما ته به يې څوک نه پرېښودل يوه ورځ زه اتفاقي د ملاقات ته راتلم ملاقات به زما د دفتر دپاسه دسپرنټنډنټ په دفتر کښې کېدو په دروازه کښې د کهير دينجو قيديان ولاړ وو د دروازه کښې د دوی تالاشي کېده بربنډ وو يولنگوټي به يې وچه وراندی واچوله به يې پټ و نور به تول بربنډ و بس يو مزی شان به يې د ملا نه چاپېره وه په ليدلو يې حيران شوم داسې معامله ما په بل جيل کښې ليدلی نه وه د هغه قطار نه به يې يو قيدی راجهرکرو هغه ته توکره چه دده فرض به يې پټ کړې ؤ هغه به يې پرانيسته قيدی غريب به تول بربنډ شو او بيا به يې هغه کښېنولو او پاڅولو مادې داځنگه ذليله او شرمناکه طريقه ده تو هغوی راته ووې چه دا قيديان بعضې څيزونه په ځان کښې ونډی اوجيل ته يې دننه کوي نوځکه يې مونږ کښېنو و پاڅوچه هغه څيز به تری په کښېنا ستو پاڅېدو کښې پرېوزي.

ماله خوليي اې کلاس راکړ وخو دگجراتيانو او زمونږ پښتنو به خوراک کښې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرق دی، دلته داسی باورچی نه وچي زمونږ په شان خوراک يې پخ کړی وای . په دې دوران کښې د جيلخانو جرنيل په دوره راغی او څه وخت چه ماله راغی نو ما ورته وويل چه دلته زما د پخلی باورچي نشته نو په بمبئی کښې چه زه قيد وم هلته چه يې ماله کوم باورچي راکړی ؤ هغه ماله راوغواړه او بله دا چه د دې ځای د آب وهوا زما د طبعيت موافق نه ده نو ما د دې جيل نه بلې جيلخانې ته بدل کړه جرنيل صاحب سره ښه سړی و په صوبه سرحد کښې پاتې شوی و هغه ماته ووې چه زه تا پنجاب ته بدلوم او ستاد ياره د پيښور نه پښتون باورچي راغواړم ما هغه ته ډېر ووې چه پنجاب زما د اخيستو د پاره تيار نه دی. زه په پنجاب بند يم او نه ﭘښتون باورچي نه غواړم. ماله خو د بمبئی هغه باورچي راکړه ! د هغه خيال خو ښه و. د ه وې که دې پنجاب ته بدل شې نو کوټه به نزدې شی او پښتون به د ده په طبعيت کارکوی خو هغه د حقيقته خبر نه و هغه کوشش وکړو خو د پنجاب حکومت زما د اخيستو نه انکار وکړو او د پيښور نه حکومت يو داسی قيدی راولېږلو چه پخول اړ ووړ تلل نه او د تهی بی مريض هم و نو زه يې بيا د دې جيل نه د ستر کټ جيل بريلی ته بدل کړم .

د غلته لوی جيل هم و او هغه کښې سياسی قيد يان هم وو که زه يې هلته بوتلی وای نو ماته به ارام وو ليکن هغوی خو ماله تکليف راکولو د غسی زما د قيد وخت تېرېدو.

## بريلی جيل :

د بريلی په وړوکی جيل کښې يې زه په يو بارک کښې ځان له بند کړم دا نوره جيلخانه خو اوچته وه او زما د غه بارک ښکته ؤ زه به د جيلخانې نه هغه ته په پوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګوز بلېم زه بېوانړی وم ! زه بېوانړی ناجوړه کېږم او اخبار هم نه شم کتی نو سپرنټنډنټ ته می ووې چه ماله لږه مخکه راکړه ابا ده به هم کړم او سبزی به کړم نو هغه ماله مځکه راکړه او کار می شروع کړو. ډاکټر صیب هم لکه زما په صوبه سرحد او پنجاب بند وو، خو چه کله هلته په صوبه سرحد کښی د مرکزی اسمبلئ د پاره دیو ممبر دانتخاب اعلان وشو نو ددی صوبی جرګی ډاکټر صیب خپل امید وار نامزد کړو. اګر چه ډاکټر صیب ته اجازت نه وو چه هغه دخپل انتخابی مهم په سلسله کښی صوبه سرحد ته لاړ شی مګر بیا هم هغه په ډېر لوی اکثریت دغه انتخاب وګټو او چه کله هغه د مرکزی اسمبلئ ممبر منتخب شو نو هغه صوبه سرحد ته د تللو اجازت ورکړی شو.

د بریلی جېلخانی له سعد الله خان او د هغه ښځه زما ملاقات له هم راغلی وو. سعد الله خان راته ووی چه کور ښه راته وې چه د هغه د ارام د پاره موښږ ددې ځای نه باوړچي ور لېږلی دی ما وخندل او ما ورته وې چه کور ښه صاحب ته ووایه چه کاکامی ستا ډېر شکر ګذار دی لکه چه تا هغه له زودور باوړچي لېږلی دی سعد الله خان ته می ووې چه هغه خو د دق مریض و هغوی ددی د پاره ره رالېږلی وچه دا مرض په ما هم ولګی او باوړچي هم نه وما په ډېری خواری ه بېرته واپس ولېږه، دی جېل ته ماله غنی او ولی هم ملاقات له راغلی وو چه ډاکټر صاحب د مرکزی اسمبلئ ممبر شو نو هغه ته د صوبه سرحد حکومت د تلو اجازه ورکړه او بیا یوه ورځ سره د خپلی هلئی زما ملاقات ته راغی.

ډاکټر صاحب سره د هغه لور مریم او نهالو مهرتاجه هم وه، د ملاقات نه مخکښی ډاکټر صاحب جېلوالو سره د بوره جګړه هم کړې وه، جېلوالو ورته وې چه جېل کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېر یو کسانو د ملاقات اجازت وی او تاسو څلور دلئ ازمونږ د ملاقات اجازه
په زمونږ د صوبه سرحد حکومت ورکوله اجازه د دوی له دیو خط په ذریعه ورکړې شوی
وه او څنګه چه دی جېلو الوجوده کړه ملاقات وشو. بل ځل قاضی عطاء الله خان
او ثمین جان راغلی وو. ثمین جان د نوښار د حلقی نه د صوبائی اسمبلی د پارهٔ
ودرېدلی وو او د نوښار د حلقی خدائی خدمتګار د ده مخالف وو ځکه چه ده به
هر سپوږکښتی ګډې ورې خبری کولی. د ده خواهش وچه قاری صاحب او د خوشکو
سیف الملوک ته ولیکه چه د ده مخالفت نه کوی ما دوی ته ووی چه زه خو قید یم دا
خو د بهر خلکو کار دی خو دوی نه مجبوره شوم او خطونه می ولیکل او نور ما د هغو خطونو
په وجه د ده مخالفت هغوی پرېښود او دی یې منتخب کړو او ممبر شو لیکن د وزارت جوړ-
ولو په وخت کښې چه دی (ثمین جان) وزیر نه شو نو زمونږ نه خفه شو. نو بیا زمونږ نه
لاړو او هماغه ثمین جان چه ما د قاضی صاحب په سفارش ورته خط ورکړې وو او د هغې
په وجه کامیاب شوی و د هماغه قاضی مخالفت شروع کړو. څرنګه چه د خدائی-
خدمتګاری تحریک خدائی او بی غرضه تحریک دی نو کله چه خدائی خدمتګار د یو
ښتینی خدائی خدمتګار اسمبلی ته کامیاب کړې دی هغه د دوی په کار راغلی دی
او کله چه یو سړې د دوی د خپلو غرضونو او تعلقاتو په وجه ودرولی دی نو اول خو هغه
نا کامیابه شوی دی او که څوک کامیاب شوی دی نو هغه هم د دوی په فایده نه دی راغلی
بلکه د فایدې په ځای یې جماعت ته نقصان رسولی دی. بیرسټر عبد الغفور خان
خو اد و د سرح خدائی خدمتګار نه وا او نه یې څه قومی خدمت کړې ولیکن د ډاکټر صاحب
د دوستئ په وجه نامزد شو. دی هم د وزارت امید وارو خو څوک به وزیران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل ؟ وزيران ځلور وو او اميدوار ډېر وو. د ډاکټر صاحب بنګله د پاره يې بازديوه
اډه جوړه شوې وه او په اخر کښې د يې خودغرضو جماعت سره بې وفايي وکړه. د غښي غلام
غوث او جهانګير خان کوندې اډه د سره کامياب نه شو.

ماچه به په هغه پټي کښې کار کولو نو ما سره جوخت يو بارک و هغه کښې به هر وخت
ژړا انګولا وه يوه ورځ مې د قيديانو نه پوښتنه وکړه چه دا څه قصه ده ؟ هغوی ويل
چه کله شاجي خبر شي نو مونږ ته ژر څوک خلاصولي شي نو هغوی راته ووی چه شاجي صا
د پېښو د پاره دا قيديان وهي او چکو کښې يې بندوي او که په دی کار ونه شي نو بيا
ورسره ډېر د شرم کار کوي جامې ترې وباسي او بيا يې يو بل ته مخامخ کښېنوي او هر يو
له نوسې وکړي د يو بل د شرم له ځايونو نه وينه راوباسي. قيديان د دې شاجي
دلاسه ډېر تنګ وو اخر مستر پامر د جېلخانو جرنيل چه په پېنشن لاړ نو د هغه په ځای
کرنل سلامت الله خان د جېلخانو جرنيل شو. پامر ډېر بلاې خور و او جېلرانو ورله
رشوت کښې حصه ورکوله څوک د پوښتنې نه و داځکه د قيديانو خوارانو دا حال دی او
کرنل سلامت الله خان ډېر ښه سړی وو. دی په اول ځل بريلي ته راغی نو ما ځا په جېل ته
راننووت. د هغه دا طريقه وه چه هغه به جېلوالا نه خبر ول بلاې خور هم نه و نو جېلوالا ترې
ډېر ويرېدل چه د جېل د دروازې له راغی او دې ليدل چه قيديان بهر صفايي کوي نو شکمن
شو او فوراً يې د هغوی ټکټونه راوغوښتل، سحر وختي و د چا ګمان نه و چه جرنيل صاحب با
دومره وختي راځي شاجي ډېر قيديان د صفايي د پاره راوښکلي وو چه زما به نوم وشي
خو خدای کير کړو او معطل شو قيديان پرې ډېر خوشحاله شول. شاجي موقوف شو
د جېلخانې داروغه چه ډېر بلاې خورو، بد اخلاقه هم و، ما سره نزدې زنانخانه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغی له بهر وخت تلورا تلو زما چه خومره تجربه ده دا کاروونه همیشه قید یانو بنځو سره کېږي.

یخنی کښې خو دلته ګڼ اره وکېدله خو ګرمی کښې ډېره ګرانه وه یو خو زما هغه بارک ډېر په ډوغل کښې وتنګ وا او لوی لوی دیوالونه تری چاپېره وو زما وړو کی بارک و هغه دا وسپنو د جنګلونه ډک وا او په هغو د پاسه ټهکری پرانه وو او په هغه کښې ځای په ځای سوری وو په هغه کښې به نور لګېدلو دیو پي د جېلخانو وزیر سرهما راج سنګه و هغه جېلخانی له راغی او ما سره یې ډېری خبری وکړې همدرد او ښه سړی وا او زما د پاره یې ولیکل چه دی دې د دې ځای نه دېغ ځای جېلخانی ته بدل شي. اپریل او می کښې یو پي کښې ډېره سخته ګرمی وي او جون کښې برسات مات شي څه وخت چه برسات شروع شي نو موسم ښه شي او ګرمی کمه شي.

## دالموړې جېل:

حکومت د اپریل او می هغه سخته ګرمی په ما دغلته تېره کړه او په جون کښې چه برسات مات شو نو زه یې د الموړې جېل ته بدل کړم ما چغی وهلی چه اوس خو برسات مات شو اوس خلک د غرونو نه میدانونو ته راځی او تا سو ما غره ته لېږئ هغوی به وې دا د حکومت حکم دی، حکومت خو ماله څه ارام نه راکوو خو خپله پراپیګنډه یې کوله چه مونږ سیاسی قید یانو سره ښه سلوک کوو. زه چه د الموړې جېل ته لاړم نو هغه خلک هم حیران شول چه حکومت خو عجیبه توقه وکړه په الموړه کښې به اکثر بارانونه وو او کله کله به اته، نهه ورځی شپه او ورځ. باران و زه به یوازې هغه خپل بارک کښې ناست وم د زول او باران په وجه به اکثر ناجوړه وم زه چه د بریلی په جېلخانه کښې وم نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورنیل سلامت الله خان زما کتوله راغی ډېر ښه سړی و ما ته یې ووې چې څه خبره دې شته
ما ورته ووې چې دا زما مشقتي ماله ډوډۍ نه پخوي او په هغې نه پوهېږي او دده تې بي
مرض دی نو ما دده نه خلاص کړه نو هغه یې زما نه بدل کړو او واپس یې سرحد ته ولېږلو
د الموړې په جېل کښې داسې سړی نه وو چې ماله یې ډوډۍ پخه کړې وای او زما طبیعت
هم ښه نه و ډېر خپه به مې خوړې هم نه شو بیا هم دیو سړي ضرورت خو سپرنټنډنټ
ښه سړی و او ما سره یې ډېره همدردي وه او دهغه دا کوشش و چې ماله د بهر نه
یو ښه باورچي راکړي نو چې حکومت ته یې ولیکل نو ما نه یې تپوس وکړو او ما منع
کړو خو هغه ولیکل او حکومت د بریلي د جېل نه یو قیدي راولېږه چې دا دده زوړ باورچي
دی هغه زما باورچي نه و بلکه زما جاړو مارو مله ورځ چې سپرنټنډنټ صاحب راغی
نو ما ورته ووې چې تا خو زما نه منله زما هغه خبره وشوه که نه؟ د پېرنګیانو حکومت
د هغه چا د پاره ډېر روند دی چې د چا زړه کښې د خپل قام مینه محبت وي. څه ورځې
پس جورنیل صاحب دلته الموړې ته په دوره راغی ما سره یې ملاقات وشو هغه ما ته ووې
چې دلته باران نه ډېر دي او ستا صحت هم ښه نه دی که ته غواړې نو زه به تا د بریلي سنټرل
جېل ته بدل کړم ولې چې هلته نور سیاسي قیدیان هم دي خو ما ته لږه موده پاتې
وه نو هغه مې دې جېل کښې تېره کړه او په ۱۹۳۶ع کښې د اګست په میاشت کښې رها شوم

## رهایي :

د رها کېدو په وخت کښې سپرنټنډنټ د حکومت له طرفه یو نوټس راکړو چې
هغه کښې یې لیکلي وو چې سرحد او پنجاب ته تلی نه شې زما په خیال د دې لویه وجه
وه چې په دغو ورځو کښې زمونږ د صوبې د اسمبلي ایلکشن کېدونکی و نو ځکه یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بند کړم هسې نه چه د ده په اثر د خدايي خدمتګارو زياته کاميابي ونه شي. د غه شان چه په ۱۹۳۲ ع کال کښې زه او ډاکټر صاحب د هزاري باغ جېل نه رها شو نو هغه وخت هم زه او ډاکټر صاحب لي په سرحد او پنجاب بند کړي وو ځکه چه هغه زمانه کښې د مرکزي اسمبلي انتخابات کېدونکي وو. با وجود د دې چه زه لي خپلې صوبې ته پرېښودم نه. خو بيا هم مونږ خدايي خدمتګارو په ټولو پښتو کښې نولس سيټونه وګټل ځکه چه مونږ صوبه کښې کار کړې وو او عوام مو د ووټ په اهميت او حقيقت پوه کړي وو او هغوی کښې شعور پيدا شوی و.

## وارډی ته تګ:

زه د جېل د دروازې نه راغلم نو بهر مې ډېر کانګرسيان وليدل چه زما د رهايي نه خبر شوي وو. زما خو هغه وخت اراده وه چه وارډي ته لاړ شم مګر د الموړې خلکو پرې نه ښودم يوه شپه مې ورسره وکړه د شپې هغوی يوه لويه جلسه وکړه او ما پکښې مختصر تقرير وکړو او سباله وارډې له روان شوم زمونږ ګاډې په يو ټيشن بدلېده د ډېر خلک هغه ټيشن له ماله راغلي وو زه ورله راکوز شوم زما اراده وه چه دا وخت زه په ټيشن کښې تېر کړم خو هغوی په زور خپل ښار ته روان کړم د ډوډۍ د خوراک نه پس راغلم او په بل ګاډي کښې سور شوم چه وارډې ته ورسېدم نو ټيشن له جمنا لال بجاج، مهادېو ډيسايي او نور ډېر خلک راغلي وو معلومه شوه چه ګاندهي جي په وارده کښې نشته او څلور ميله بهر ته سيواګرام کښې او سېږي ما ولمبل او جامې مې بدلې کړې. شپه مې وارډا کښې وکړه سباله سيواګرام ته لاړم په سيواګرام کښې يوه کوټه وه چه ګاندهي جي د ځو کسانو سره ملته ناست و زما په ليدو ډېر خوشحاله شو او مخې له راغې. زه لي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان سره کښېنولم او تپوس ونه یې وکړل .

د سیټ جمنالال بجاج زوی ماسره سیواګرام ته تللی وه هغه ویل چه باچاخان
دې په وارده کښې په هغه زوړ ځای کښې چه په ۱۹۳۴ ع کال کښې دی او ډاکټرصاحب
پکښې ډېره وو واوسي . دګاندهي جي هم داخواهش وخو زما هم داخوښه وه چه زه دې
په سیواګرام کښې پاتې شم خو بیا زما داخیال پیدا شو چه هسې نه د دوی په آرام کښې مخل
نه شم ځکه چه دغلته یوه کوټه وه او هغې کښې دوې ځلور شپږ کسان ډېره وو او دګاندهي
جي مېرمن او ورسره یو څو ښځې هم وې ګاندهي جي زما په خیال پوه شو نو ما ته یې ووې
چه که تا ته تکلیف نه وی نو مونږ ته ستا په پاتې کېدو کښې هیڅ تکلیف نشته . دوېمه کوټه
د دې ښځو د پاره وه ما ته څه تکلیف نه وو ګاندهي جي سره خوشحاله وم زما ضرورت
خو ډېر کم وو د ګاندهي جي د پوزې سره یې یو بل پوزی واچولوې دا یو ستا او یو زما !
دغه کوټه کښې مونږ ډېر کسان وو خو ما ته څه تکلیف نه و چونکه زمونږ مقصد یو و نظریه
یوه وه د هغه په وجه مونږ یو وو . پښتانه وایي چه زړه تنګ نه دی نو ځای نه تنګېږي .

## دخپل اولاد سره ملاقات :

زما د رهایي نه چه خلک خبر شو نو غني ، ولي او مهرتاجه زما لیدو له راغلل د
مهرتاجې دوه کاله تعلیم ضایع شوی و او د الاشکرو چه ډاکټر صاحب مهرتاجه او د
هغه لور (مریم) چه دواړه همزولې وې او یو بلې سره یې ډېره مینه محبت و . دا دوه
کاله هغوی سره ډېره وه . ولې بېرته کلي ته لاړ او غني او مهرتاج ما سره پاتې شول
هلته خو تش ایښیدلي شیان وو ولې هغه خوری نه شول او مهرتاجه او غني هغه
شان نه وه . زه په دې فکر کښې وم چه مهرتاجه د مسلمانانو په یو ښه سکول کښې داخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم ما داسې سکول نه شو موندی نو ډېر وخت تېر شو او اخر مجبوره شوم او دپروفیسر محبیب صاحب په امداد می مهرتا جه په لکنهو کښې د مسلمانانو په یو سکول کښې داخله کړه، غنی هم کولې (کولا. لوکون ناته) ته لاړو چه هلته لې د ترو په کارخانه کښې کار کولو پاتی لعلی شو هغه په ډېره دوان کښې دکورنل براون کیمبرج سکول کښې سبق وې چه دهغه چوتهی وشوه نو هغه هم ماله وار دبې ته راغی دغه سکول په انګریزی طریقه و، انګریزی خو ورته او په اردو باندې نه پوهېدو ما ته داخبره فایده منه ښکاره نه شوه فیصله می وکړه چه دی په داسې سکول کښې داخل کړم چه انګریزی سره اردو هم وې دکاندهي جي په صلاح می هغه دپنج کلی په یو کیمبرج سکول کښې داخل کړو. داپونې سره نزدی د آب وهوا په لحاظ ډېر ښه غرد ی.

## انتخابات او کانګرس ورکنګ کمیټۍ:

په دغه ورځو کښې دالیکشن قصې وې نو دکانګرس ورکنګ کمیټۍ ددې د پاره راغونډه شوه. په دې بحث وچه دکانګرس په ټکټ ځنګه خلک ودرېږو؟ زمارایه خو داوه چه مونږ له په کار دی چه دکانګرس وفادار ازمایلی شوي غړي ودرووچه دقام د پاره چاځانی او مالی قربانی کړې؛ وې خو داکثرو ممبرانو خیال داو او دغه فیصله هم وشوه چه که یو سړې دکانګرس په ټکټ دستخط کوي او پیسې هم ورسره وي او دکامیابی امید یې وی نو هغه به مونږ ودرو نو دکانګرس به ډېر ممبران منتخب شی خوداسې کسانو کانګرس ته کافی نقصان رسولی دی او بیا په هغه وخت چه کله کانګرس د وزارتونو دپرېښودو فیصله وکړه. د ورکنګ کمیټۍ په اوله جلسه کښې چه زه کښېنا ستم نو معلومه شوه چه ددوی په مینځ کښې ډېر اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یوطرف ته جواهرلال او بل طرف ته سردار پټیل او داچکو بال اچاریه وو

کاندهي جي سره مې هم داذکر وکړو هغه هم په دې اختلاف خوشحاله نه وو هر کله

چه زه په دغه پوه جنبو کښې نه وم زما دوا په و ډلو سره دپرښه تعلقات وو

او کوشش مې شروع کړو چه ددوی اختلافات کم شي، زه تر ډېره حده پورې

هغه کښې کامیاب شوم. په بمبئ کښې د کانګرس جلسه وه څرنګه چه زه په بمبئ کښې

قید شوی وم نو د هغوی د پېر خواهش و چه زه د دې دغه جلسه کښې شریک شمم.

د کاندهي جي دا خبره خوښه نه وه اوزما د بمبئ د تللو مخالف و هغه پوهېدو

چه دی به بیا څه تقریر وکړي او حکومت به ورته بهانه جوړه کړي او قید به یې کړي

جواهرلال چه خبر شو نو د پېر خفه شو کاندهي جي له لاړو او ټینګه ذمه واري اجازت

حاصل کړو او زه یې خان سره بمبئ ته بوتلم.

زه په بمبئ کښې:

د بمبئ خلکو زما د پېر ښه استقبال وکړو، د بمبئ هغه کوڅې اېسوسیېشن

چه د چا سره په تقریر زه قید شوی وم، هغوی او د هغوی سره نور وجماعتونو ما

له ایډرسونه راکړل. په ورکنګ کمیټۍ کښې د قرار داد د نو په سلسله کښې چه په اول

څو مره بې اتفاقي وه زما د کوشش په وجه هغه اختلافات نه وو او په ډېر ښه طریقه

هغه جلسه ختمه شوه. ما د جلسې نه پس څو ورځې صوفي او سعد الله سره تیرې کړې

او بیا سیوا ګرام ته راغلم. سیوا ګرام ته به هر قسم خلک کاندهي جي له راتلل یوازې

سیاستدان نه. د سیوا ګرام ژوند د پېر ساده او باقاعده و، دغلته ورو ورو

زمونږ شهر زیاتیدو. د کاندهي جي خوداخوښه نه وه چه دلته دې د خلکو تعداد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات شی تو اخری رخصت ورکړو. د بنځو، نورو ښهرکانی زیات شوی و، د هغوی
د او سیدلو د پاره هم هغه دوه کوټی وې هلته ددې خبرې غږ پاک نه و اکثر به
هلکان جنګی په بریدو کښی یوځای ځملاستل خوزما داخبره خوښه نه وه دغه
هلکان او جنګی د بربنه او پاک وو. خو زما داخیال وچه دوی په دې انمینبت کښی
اچول په کار نه دی ما داخبره غوره وګڼله چه هلکان او جنګی دې بیله بیله برنډه
کښی ځملی. ګاندهی جی هم دا تجویز خوښ کړو.

په ۱۹۳۷ع کال د کانګرس دانتخاباتو وخت رانزدې شو او د راج ګوپال
اچاریه نوم د صدارت د پاره تجویز شو او فیصله پری وشوه لیکن خو ورځی پس
په مدراس کښی دیوی واقعی په بنا هغه خپل نوم بېرته واخیستو مګر دا دهغه
یوه بهانه وه حقیقت دا و چه هغه د مدراس د اسمبلی د پاره ودریدل غوښتل
او که چېری هغه د کانګرس صدر شوی وای نو بیا خو د اسمبلی د پاره ودریدلی
نه شو، نو جواهر لال وویل زه ودریږم، په سیوګرام کښی لږ ورځی پس دورکنګ
کمیټئ یو اجلاس وشو سردار پټیل دا تجویز پیش کړو چه جواهر لال دی د دوباره
د کانګرس صدارت ته نه ودریږي. جواهر لال وویل که چېری باچاخان
ودریږی نو زه نه ودریږم او که چېری باچاخان نه ودریږی نو بیا زه ودریږم
خو زه دی خبری ته تیار نه وم، کله چه هغه په دویم ځل د کانګرس صدر شو نو یو
بیان یې ورکړو چه د هغه نه د بعضی خلکو داخیال پیدا شو چه دهغه د دی بیان
مطلب دادی چه زما کامیابی د سوشلیزم په وجه وشوه او دا د سوشلیزم کامیابی
وه. زمونږ د کانګرس کمیټی بعضی ممبرانو په دې بحث وکړو او دا فیصله یې وکړه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دی خواب کښې مونږ هم یو بیان اخبار و لو له ورکوو بابو راجندر پرشاد او پټیل یو بیان تیار کړو او دستخطونه یې پرې وکړل. ماله مهادیو دیسائي د دستخط دپاره راوړ، ولیکن ما ته هغه خبره دغسې نه ښکاریده نو دستخط مې ونه کړو او مهاتما جي ته مې ووې چه ښه به داوی چه جواهر لال ته یو تار ورکړې او پوښتنه ترې وکړې چه د دی بیان نه ستاسو څه مطلب دی؟ ما ورته ووی چه زما داخیال دی چه د هغه دا مطلب دی. تار یې ورکړو جواب راغی چه زما د بیان نه کوم مطلب تاسو اخیستی دی هغه دی.

د گاندهي جي، جواهر لال سره ډیره مینه وه، جواهر لال خو گاندهي جي د پلار په شان گڼلو خو بعضې خلکو کوشش کولو چه د دوی په مینځ کښې خفگان پیدا کړي نو تو څو پورې چه زه هلته وم نو ما به د دې غلط فهمولیو کولو کوشش کولو او د ورکنگ کمیټۍ د نورو ممبرانو په مینځ کښې به مې هم کوشش کاوه ځکه ما ته بې اتفاقي د متحده په لاره کښې خنډ ونه ښکاریده او هر یوه دله کښې چه بې اتفاقي پیدا شي نو د کامیابۍ په ځای ناکامیابه شي.

## د فیض پور کانگرس:

د تول هند د کانگرس کمیټۍ سالانه جلسې د پاره فیض پور خوښ کړې شو، فیض پور د بمبئي په صوبه کښې یو کلی دی ما به همیشه گاندهي جي ته ویل چه قوم خو په کلو کښې اوسیږي او د هغه زما د دی خبرې سره اتفاق و، دغه وجه وه چه د دی ژمونږ به شان د کلو د خلکو نه کار اخیستل شروع کړل ځکه چه کلو کښې عوام اوسیږي او هر یو تحریک چه عوامو ته ورسي نو کامیاب به شي مونږ ځکه د پښتنو په ژلموا ذرولیبې کلی په کلی گرځیدو او دا زما عقیده ده چه د ښار خلک خو تعلیم یافته وی ځکه چه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخبارونه دي، سکولونه او د تعلیم او تربیت ډېر ځایونه وي او په کلو کښې نه وي او خلک بې خبره وي.

د کانګرس ګډ په ډېره لویه پیمانه تیار شوی و. د ورکنګ کمیټۍ د ټولو ممبرانو د پاره ځان له خانه له ځایونه وو. زما ځای د دې نورو نه لوی و. زما هم دا خیال و او د دوی هم چه د صوبه سرحد خلک به راځي او ما سره به ډېره وي خو افسوس دی چه دغه کانګرس له د سرحد نه څوک رانغلل. ما سره مهرتاجه او مریم او لعلی تللي وو خو هغوی به ما سره نه وو، هغوی صوفیې سره د ځنګو په کیمپ کښې وو. صوفیه د بمبئي د صوبې د رضاکارو ځنګو کمانډره وه او د هغې رضاکارې هم د خدمت د پاره کانګرس له راغلې وې. مهرتاجه او مریم هم په رضاکارو کښې شاملې وې او ټوله ورځ به یې کار کولو.

په دغو ورځو کښې ایم. این. رای رها شوی و هغه هم دې جلسې له راغلی و. د هغه ډېر تعریفونه په اخبارونو کښې شوي وو او کوم خلک چه تاشقند ته تللي وو هغوی به هم د ده صفتونه کول. خو دې چه ما د نږدې نه ولید و او خبرې مې ورسره وکړې نو ماته د اسې سړی ښکاره نه شو. د ورکنګ کمیټۍ ممبرانو سره به یې هم ګپ لګولو، مهاتما ګاندهي ته به هم نږدې نږدې کیده او خوشامندې به یې کولې. د کانګرس پنډال کښې یې یو تقریر هم وکړو خو خوندناک نه و ځکه چه د سړي په زړه کښې یو څه وي او وایي بل څه نو په خلکو د هغه ډېر اثر نه وي. زما خو دا خیال و چه دی هر څه چه کوي د دې د پاره کوي چه د ورکنګ کمیټۍ ممبر شي او چه پوه شو چه دا کار نه کېږي نو ورو ورو یې د کانګرس مخالفت شروع کړو او خبره دې ځای ته ورسېده چه بیا د هغه نه زیات بل د کانګرس مخالف نه و او مهاتما جي پسې به یې هم بدې ردې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفیض پور په کانګرس کښې چه په هرکله ماته لږ ډېر فرصت وشه نو چاپېره کلونه په تلم او دکلو حال پې ډېر خراب و دغریبي او جهالت زور و. د مسلمانانو حالت زیات قابل رحم و. دهغه وجه داوه چه هندوانو کښې داسې خلک وو چه کله به ئې دهغوی خبر اخیستو او هغوی به ئې د دین دنیا د حال نه خبرول. مګر د مسلمانانو خوا ئو ګل غمخور نه و دخدای اسره ئې ته پرانه وو. زه چه څومره د هندوستان په کلو کښې ګرځېدلی یم نو ما لیدلي دي چه د مسلمانانو جذبه د هندوانو کمه نه ده، بلکه داچه مسلمانان د چوت چات نه وچت دي او هندوانو کښې دغه مرض ډېر دی او چه تر کومه مالیدلي دي نو هندوان په نسبت د مسلمانانو (سوشلي بیک ورډ) دي اجتماعي طور وروسته پاتي دي. څومره چه مسلمانان زر ترقي کولی شي هندوان هغومره زر نه شي کولی، ولی قومونه خو په دعوو او تشو خبرو ترقي کولی نه شي چه په کومو قومونو کښې نیکان، پاکان او بې غرضه او دخدای د پاره د خدمت خلک پیدا نشي نو هغوی ترقي وکړي. خدای دې په مسلمانانو کښې داسې خلک پیدا کړي.

## د پښتنو په هکله غلط فهمي:

زه چه په هندوستان کښې وم نو ما به ډېر کوشش کولو چه د پښتنو متعلق چه کومې غلط فهمي پیدا شوي دي ددې صفایي وکړم. کلکته چه د هندوانو ډېر عالم او باخبر لیډران وهغه ماته دا خبره وکړه چه په سرحد کښې او ازاد قبایلو کښې د هندوانو مال او عزت محفوظ نه دی ماورته ووې چه تا سرحد لیدلی دی؟ هلته تللی یې؟ وې نه! نو ماورته ووې چه دادملک د دښمنانو غلطي پراپګنډه دي هلته د هغوی مال خان او عزت د دې ځای نه هم محفوظ دی او قبایل خوخپل همسایه هندو سره ډېر کولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیار وي. د پیرنګیانو په علاقه کښې دلته هم او هلته هم د هند و مسلم د بلې اتفاقۍ د پاره حکومت داسې کارونه کوي چه دوی د یو بل دښمنان کړي، د کلکو په فکر کښې دا خبره نه راتله چه دومره ښکلي پیرنګیان هم دومره خراب کارونه کولی شي نو ماورته ووی چه دلته په ۱۹۲۲ ع کښې په ملتان کښې د هندوانو، مسلمانانو فساد چا جوړ کړو؟ کانپور کښې هندوان مسلمانان د چا په لمسه قتل شول؟ او پرون تا ته نږدې بمبئي کښې د هند و مسلم فساد کښې د چا لاس و؟ لاهور کښې د شهید ګنج جګړه څنګه پیدا شوه؟ په کوهاټ او ډیره اسماعیل خان کښې دا دومره لوی فساد د هندوا و مسلمانان چا وکه؟ دې ټول هندوستان کښې چه هندوا و مسلمان لاس په ګریوان دی ولې؟ دا د ډېر غور او فکر نه پس و ویلې چه تاسو له په کار دی چه په دې باره کښې کتابونه او رسالې ولیکئ نو ما ورته ووې چه زمونږ ذریعې محدود دي ی تاسو له په کار دی چه تاسو لا ړشئ او د هغه ځی حالات پخپله وګورئ او بیا د هغه متعلق اشاعت وکړئ تاسو د امریکې نه او یورپ نه خو خبرېئ او د خپل ملک د یوی حصې نه ځان نه خبروئ پخپله تاسو معلومات نه کوئ، نه ورځئ، نه ګورئ خو د بل په خوله پسې ځئ.

د پښتنو په باره کښې چه څومره غلط فهمي پیدا شوې وی د دی د لیرې کولو د پاره د کار ښه ځای سیوا اکوام وخکه چه دلته به د هر ملک نه د هر خیال او د هرې عقیدې خلک راتلل ما مرح به د خبرو د پاره ښه موقع وه بله دا چه کله نا کله به مې د هندوستان د مختلفو علاقو دورې کولې او د عامو جلسونه علاوه به مې د هغه ځای هندوانو، مسلمانانو سره تبادله خیالات کول او د کانګرس خلکه مې هم دې ته تیار کړل چه د فیض پور په دې عام اجلاس کښې د سرحد اتو متعلق یو ریزولیوشن پاس کړي. د کانګرس د ځینو ذمه دارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو په زړونو کښې دا خیال پیدا شو چه د هندوستان دازادی او امن د پاره دا خبره ضروري ده چه زمونږ دی د سرحد خلکو سره تعلقات پیدا کړو. مګر هغوی د دی خبری نه خبر نه وو چه په دی لاره کښې څومره ډیر مشکلات دي ځکه چه پیرنګیا نو دا کله هم نه غوښتل چه د هندوستان او د سرحد اتو د خلکو تعلقات دی پیدا شی. پیرنګیانو زمونږ له موقع نه ورکوله چه ازاد و قبایلو سره خپله ورودی جوړه کړو. نو هندوستان له ئې هیڅ رنګه دا موقع ورکوله چه هغوی سره تعلقات قایم کړی. پیرنګیانو خو زمونږ هم قبایلو ته نه پرېښودو. سیوا کوم ته به د یوړ پ ډیر ښځې او سړی راتلل لکه فادر الوك (ILWON) فادر سی ایف اینډ روز او میری. د سړی په نسبت ښځو کښې هم ملادی زیاته وه کله کله به هغوی زمانه د سرحد اتو او د خدایي خدمتګارو تحریک تپوسونه کول. یوه ورځ سیوا کوم ته یو ځوانه پیرنګیان راغلل هغوی سره د ناکپور لوی پادري هم و. هغو پیرنګیانو دازادو قبایلو تپوسونه کول او ما به ځوابونه ورکول چه په دی کښې پادري صاحب ودې او داسي شروع لي وکړه چه زه په خیبر کښې پاتی شوی یم زه دا پریدی ونه ښه واقف یم هغه ښه خلک نه دی ځکه چه هغوی پیرنګیانو ته بوند او نیغ نیغ ګوري ماو خندل او پادري صاحب نه می تپوس وکړو چه دوی ولې تاسو ته بوندا او نیغ ګوري نو هغه دوی چه هغوی زمونږ نه نفرت کوي ماوې چه ستا دا خبره درسته نه ده حقیقت دادی چه هغوی پیرنګیانو ته ځکه بد ګوري چه هغوی تاسو وینی نو په زړونو کښې دا خیال راپیدا شی چه دا هغه خلک دي چه په توپو، ماشین ګنونو، بمونو زمونږ کلی، زمونږ کورونه ورانوی، او زمونږ ښځې، نر، مالونه او بچي تباه کوي. زما په دي خبره هغه نورو پیرنګیانو وخندل او پادري ډیر کچه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وزارتونه:

په ملک کښې داسمبلو الیکشنو شروع شول او اکثرو صوبو کښې دکانګرس امیدواران کامیاب شول. د موږ دصوبې انتخاباتو نتیجو په زړنګیان او دهغوی بر مخي دپر حیران کړل هغوی اولیدل چه هغوی دری ني درستني را وغورځیدی، بیا د صوبې دقولونو لویې لوی نواب سر محمد اکبر خان هوتي دامیر محمد خان دلاسه شکست وخوړ. صاحبزاده عبدالقیوم دیو خدائي خدمتګار عبدالعزیز خان د زیدی دلاسه ارباب شیر علي خان د تهکال دارباب غفور دلاسه، دهمیري نواب داسلم خان دلاسه، خان بهادر قلي خان د صاحب ګل جرنیل خدائي خدمتګار دلاسه، دا پر یوتل او دغه شان د پیرنګیانو ملاتړ خان بهادران، ولائتي بهادران، خانصاحبان او رای صاحبان وغورځیدل.

د ۱۹۳۵ع دایکټ دلاندی دصوبائي اسمبلو دپاره دانتخاباتو نتیجو تولي دنیاته عموماً او پیرنګیانو ته خصوصاً داخبره په ډاګه ترسره کړه چه کانګرس په حقیقت کښې دعام اولس نماینده دی. ثبوت یې دا وو چه په هغه وخت دهندوستان د یوولس صوبو نه په اتو صوبو کښې دکانګرس اکثریت وو. باقي دری دمسلمانانو اکثریتي صوبو کښې مقامي ډلې کامیابې شوی، صوبه سرحد چه دمسلمانانو اکثریتي صوبه ده (۹۳٪) هغه هم دکانګرس سره لاړله.

څلور ورځې پس په دهلي کښې دکنونشن دپاره یوه جلسه مقرره شوه چه هغه کښې دآل انډیا داسمبلو ممبران راجمع شول او په دې خبره بحث جوړ شو چه دې وخت کښې مونږ له څه قسم قدم اوچتول په کار دي. وزارتونه واخلو که نه؟ دې جلسې له دسرحد ډیر کارکنان راغلي وو. ډیره موده پس مې هغوی سره ملاقات وشو. په ورکنګ کمیټۍ کښې څه ورځې تاوده بحثونه وشول. جواهر لال د وزارت جوړولو سخت مخالف وا ددورکنګ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



کميټۍ اکثريت يې په حق کښې وزه هم اول د وزارت مخالف وم خو بيا زما خيال بدل شو
خکه چه کوم کسان چه د وزارت په حق کښې وو هغوی به هم داوې چه مونږ وزارتونه
د دې د پاره نه اخلو چه مونږ دې د ده پيرنگي اصلاحات ، وچلوو بلکه زمونږ داراده
چه د دې په ذريعه به مونږ دا دده پيرنگي اصلاحات ، ناکامه کړو . زمونږ د وزارات
اخيستو فايده داده چه زمونږ دې له مضبوطه شي ، کله اکارونه کيدل نو فوراً به وزارتونه
پريږدو . دويمه نکته چه په کوم باندې د وزارت د اخيستو مخالفينو اصرار کوو ، هغه د
صوبائي گورنرانو خصوصي اختيارات وو چه کوم د دغه ايکټ دلاندې هغوی ته حاصل
وو . فيصله په دې وشوه چه ترکومې پورې گورنران د صوبائي وزارتونو داتسله ونه کړي
چه هغوی به په وزارتي فيصلو کښې مداخلت نه کوي نو تر هغې د وزارتونه نشي اخيستې .
د ډېر وورخو بحثونو نه پس ورکنگ کميټۍ د وزارتونو په حق کښې تجويز پاس کړو کنونشن
کښې هم د دې په حق کښې او مخالفت کښې ډېر تقريرونه وشول مگر اکثريت د ورکنگ
کميټۍ تجويز پاس کړو . د پاس کيدونه پس په هغه جلسه کښې صلر د ټولو صوبو ممبرانو نه
د وفادارۍ حلف واخيستو او بيا خلک رخصت شول . زه يو خو ورځې د يلي کې ايسار وم
او بيا وارد ی له لاړم .

## مونږ وارد او سيو اکرام کښې :

زه چه ترڅو هلته وم نو غني او مهرتاجه ماسره وارده کښې وو . دلالي هغه
سکول خوښ نه شو هغه د وار دې په سکول کښې داخل شو د دې سکول هيډ ماسټر
ناايکم ډېر ښه او قومي سړې وا و ډېره لږه تنخواه يې اخيسته د هغه ښځه ډېل ايم
اې وه ډېره ښه او قوم پرسته ښځه وه هغې به هم د جګو په سکول کښې په لږه تنخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکولو د دې دواړو ماسره ډیر ښه تعلقات او همدرد دی وه زما د او سېل ځای سیواگرام د واردی نه خلور میله لیری و د لالی د پاره تلل راتلل گران وو نو دوی سره ډیره شو. کوناجه چه به به چوتهي راغله نو ماسره به سیواکرام کښې وه. ولی، په وار دا کښې وا او په دو میه، دریمه ورځ سیوا کرام ته راتلو د لالي چه به کومه ورځ چوتهی وه نو دلته به راغی یوه ورځې وختی غنی سیواگرام ته راغی په دغه ورځ دگاندهي جی د پیل اکیلډو ورځ وه چه ډیر دیره ته کښېنا ستو نو غنی گاندهي جی ته دوي چه نن ستا د پیل الیش ورځ ده ما وختی خان را ورسو وچه نن به قسم قسم ښه خوراکونه وي لیکن دا خو بیا هغه بې خونده ایشیدلی کدو دی چه تل یې زه خوړم. هغه غنی ته دوي چه نه هره ورځ سحرو ختی دلته راځه غنی وخندل وې. زه به دی ایشېلي کدو پیسي هره ورځ دادومره مزل کولی نه شم داکه چېرې اوس پولا وواي او ورسره سورکړي چرگ وای نو زه به دې کار ته تیار شوی وم. دا خو د تو قو یوه خبره وه او په خندا تېره شوه. سبا له گاندهي جی ماله ووې چه دا هلکان دي دوی باندی جبر په کار نه دی زما دا خیال دی چه د دوی د طبیعت د خوراک انتظام وکړو ما ورته ووې دا خو غنی تو قه کوله او زما دا خیال دی چه هغه به هیڅ رنگ دي خبرې ته تیار نه شي. گاندهي جی په هغه ډیر کوشش وکړو خو کامیاب نه شو دغه شان به مهرتاجه باندی هم ډیر وسوسه کړې وو خو هغې هم دا خیزونه ونه منلي ډیر خوشحاله شوم چه دوی کښې دومره سره یتوب وچه د بل د جذبا تو خیال یې ساتلو د سیکاوان کلی چه سیواکرام ته نږدې وو د صفایی د پاره گاندهي جی یو تنخوا- دار تې مقرر کړی و زه ورسره متفق نه وم. زما رایه دا وه چه د کلو خلکو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



توبيت ورکول په کار دي چه هغوی د کلي صفايي چېل فرض وګڼي او چېله بي
کوی بله دا چه دهندوستان په لکونو کلي دي که د دومره کلو د صفايي د پاره مونږ
یو سړی مقرر کړو نو د هغو د پاره کوو رونه روپۍ په کار دي . يو څل دا سي وشوه چه
د سیکاو ن دغه سړی زیاته تنخوا غوښتله دوی ورته تنخوا زیاته کړی هم وه مګر
داخل بي زیاته نه کړه هغه کار پرېښود او لاړ و . خبر داغی چه د صفايي هغه سړي
تښتېدلی دی . نو ګاندهي جي وو ی چه راځئ چه مونږ ورله لاړ شو مونږ د صفايي
سامان واخیستو او ورروان شو .

په دی ورځو کښی دبهار دصوبي د زلزلي ځيني علاقی د جوړ ولو په سلسله
کښی د سويز رلينډ یولوی انجنير راغلی و او دلته پيښېږ و د لي هم چو ټتی وه و تي
می ووې چه هلکه تيا دیره هغه وي دخه د پاره ماوي د صفايي د پاره هغه په ترا
شو چه زه خود خلکو غول غوړ ځولي نه شم هغه مو پرېښو و مونږ ټول روان شو چه
کلي ته ورسېدو نو جوړه جوړه شو هغه انجنير ډیر ښه سړی وو . په ونه ما سره یو
شان و زه او هغه جوړه شو دګاندهي جي جوړه نه و هغه مو خپل جمعدار کړه
او صفايي مو شروع کړه خو مونږ ته دا سي معلومه شوه چه دا دکلي خلک زمونږ
په صفايي خوشحاله نه دي کوم ځایو نه چه به مونږ پاک کړل نو زمونږ دليری
کیل و سره بنځی هلکان او جنګی به راتلل او هغه به بي بيا ناولی کول هغه انجنير
راته ووې چه معلومېږي چه په دی خلکو کښی زمونږ . ددی خدمت د
احساس ماده نشته معلومېږی چه زمونږ خلاف مظاهره کوي ما او هغه
داخبره ډیره محسوسه کړه چه مهاتما جي غوندی سړی یو کلی ته د صفايي د پاره ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دخلکو داحال دی. زه به دی خبره ډېر خفه وم چه کله واپس راغلو نو یو ملګری ماله قسلی راکړه چه خلکو داسې چه تاسو لې په کانو نه یې ویشتی او صفایی ته یې پرېښودئ. میرا جن او کنو (کنو دګاندهي جی نمسی و او میرا جن دیو انګرېز امیرالبحر (Admiral) مسلېږه لور وه چه ځان یې دهندوستان دغریب ولس خدمت دپاره ګاندهي جی ته وقف کړې و) هغوی هم دوار دې سره نزدی یو کلی ته دصفایي دپاره تللی وو نوخلکو صفایي ته نه پرېښوول او دوی صفایي کوله نو د کلی خلکو ورو او لویو په کانو وویشتل او بله عجیبه خبره خولا داده چه مونږ خپل ځای له راغلو او زمونږ هغه خدمتګار چه سیوا ګرام کښې لې خدمت کولو خبر شو چه مونږ دهغوی کلی له صفایي ته تلي وو هغوی زمونږ کار پرېښود او وتښتېدل دهغوی په خیال او عقیده مونږ اچوت شو، پلیت شو او دپلیت وخلکو کار کول دهغوی په خیال ګناه وه. مونږ په سیوا ګرام کښې دا او بود پاره ډېر ښکلی کوټې ویستلی و او دهغه دپېړې منې او به وې او هغه او به مو څکلی هغوی به هم ددې او بو نه خپل منګی ډکول هغوی دا کوټې پرېښود او بل مونږ ته نزدی یو شاړ کوټې وچه او به یې دڅکلو نه وې دهغه نه به یې او به ډکولی او څکلی. کومو خلکو چه به دلته زمونږ کار کولو نو دا ټول په هندوانو کښې نیچ ذات وچه ورته اچوت وایي او نور هندوان دوی ځان ته نزدی نه پرېږدی او په ځینو ځایونو کښې چه په چا ددوی سوری وشي نو هغه پلید ګڼي.

## دکانګرس وزارتونه:

د هندوستان په اکثرو صوبو کښې کانګرس الیکشن وګټه او دوی اکثریت شو، په صوبه سرحد کښې دحکومت دډېر مخالفت او بې ایمانۍ سره هم په خلو پښتو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نولس ممبران خدایي خدمتګار کامیاب شول، حکومت د خدایي خدمتګارانو خلاف ټول خپل اثر و رسوخ استعمال کړی وا او د خدایي خدمتګارانو د مقابلې د پاره یې د صوبې خانان، ملکان، وکیلان یو کړل د دوی د عمرونو د دښمنیو جوړه یې وکړه لیکن بیا هم زه داویلی شم چه خدایي خدمتګارو به الیکشن ګټلی وای او اکثریت کښې به راغلي وای که د هغوی نه څینې غلطی نه وای شوی او د یرو جنبو او خودغرضو نه لی کاراخیستی نه وای او اصولی خلک یې منتخب کړی وای، سره د دی هم اسمبلی کښې د دوی مضبوطه ډله وه د دوی مقابله کښې بله ډله د ومره لویه نه وه بیا هم حکومت بی ایمانی وکړه او د قانون او قاعدی برخلاف سرجارج کنګم د خدایي خدمتګارو په خای سرصاحبزاده عبدالقیوم ته د وزارت جوړولو دعوت ورکړو او هغه حکومت جوړ کړو د هغه اړو د سره ډله هم نه وه، دی پخپله حلقه کښې فیل شوی و، عبدالعزیز خان ترې سیټ ګټلی ؤ دی د هزاره ې نه کامیاب شوی و. هغه د پیرنګیانو سړی و او چه اسمبلی کښې د پیرنګیانو خومره سړی وو هغوی مجبوراً هغه سره ملګری شول. لیکن بیا هم داوزارت دشپږ و میاشتونه زیات ونه چلیدی شوا او د حکومت د ډیرو کوششونو باوجود مات شو او د خدایي خدمتګارو حکومت جوړ شو.

د کانګرس اول کښې چه په کومو صوبو کښې اکثریت وهلو د وزارت جوړولو نه انکار کړی و ځکه چه کانګرس غوښتلي چي حکومت ته یو شرط وړاندی کړی د هغه دا چه ګورنران به د وزارت په کاروونو کښې غیر ضروری مداخلت نه کوی. د ۱۹۳۵ع کال ایکټ ټول اختیارات ګورنرانو له ورکړی وو او هغوی د قانون له مخه د وزارت په لویو او وړو کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې مداخلت کولې شو. حکومت د گاندهي جي دغه شرط ونه منلو ولې چه هغوی خو د اوږدې پېښو جوړه کړې وه. پېرنګیان دې ته تیار نه وو چه هندوستان ته دې طاقت او اختیار ورکړی. اول کښې کانګرس د وزارتونو جوړولو نه انکار وکړو. حکومت د خپلو خلکو وزارتونه جوړ کړل خو دغه چېرته چلېدې شول. د ممبرانو اکثریت ورسره نه وو خو لږه موده وروسته د کانګرس په څېنو عزو کښې د دې شرط برخلاف کانګوسي شروع شو او راج ګوپال اچاریه دې خبرې ته تیار نه شو چه مونږ له وزارتونه اخیستل په کار نه دي مونږه پټېل کښې وو داد سمندر، په غاړه یو کلې دی. ګجرات کښې گاندهي جي راجګوپال اچاریه راو غوښتو. سردار پټېل هم دلته و گاندهي جي د ده شپې او ورځې هغوی سره بحث وکړه خو دهغه خیال یې بدل نه کړې شو هغوی وې چه مونږ له غیر مشروط طور وزارتونه اخیستل په کار دي او دهغه دا هم خیال وچه دا څو مره موده مونږ وزارت نه دی اخیستي نو د قام او ملک تاوان شوی دی. راجګوپال رخصت شو او مونږ ټول د راجاجي په دې کار خفه وو لیکن د خدای فضل و حکومت د گاندهي جي شرط منظور کړو. او د سنده، پنجاب او بنګال نه علاوه د هندوستان په ټولو صوبو کښې د کانګرس وزارتونه جوړ شول.

مونږ د سیګاون د کلي نه لږ ښېرته او سېلو او د آب وهوا په لحاظ دغه ځای ډېر ښه وو. خو د برسات په زمانه کښې به د ګرځېدو تکلیف و لا دره هم کچه وه او ماللاریې ډېره وه. اکثر به ډېرې خمې چقرې وې او څادو وا او بنیاد موته به ډېر تکلیف و او بل خوا نه به هلته په پېښو او ډېرو کښې ډېر کانې وو چه د لارې پرې جوړېدې شوې خو د بې اتفاقي او بې تنظیمي په وجه د دا کار پاتې و گاندهي جي دا کار شروع کړو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کال کښې مو یوه لاره پخه کړه. دلته ماشي ډېر وو خو ملیریا کمه وه. یو ځل په ګاندهي جي
د ملیریا سخته حمله وشوه هغه دارو هم نه خوړل، څه وخت چه هغه لې هوښته شو نو
مونږ ورله سول سرجن راوغوښتو هغه دا تجویز وکړو چه زه دې هسپتال له ورم
مګر هسپتال خو پرېږ. ده هغه دارو نه خوړل په دې وجه دهسپتال نیاتي شو مونږ
ټولو ورته په اتفاق ووې او اخر مونږه دې راضي کړو خکه چه مونږ سره ډېر غم واو
دهغه ناجوړتیا مونږ ټول وارخطا کړي وو. مونږ ټول ورسره هسپتال له لاړو په
څو ورځو کښې دهغه صحت ښه شو. هسپتال له یوه ورځ یو سړی راغی ده دې ماران
ورسره وو دګاندهي جي په مخ کښې یې پېټاړ کښېښوده او سړي تری او چت کړو هغه
کښې قسم قسم ماران وو. ګاندهي جي ته یې نزدې کول مګر ما ترې منع کړو چه په دې
خیز خه اتبار دی بیا دهغه سړي خواهش وچه زه دا ماران دتبرک د پاره د بابا
په غاړه کښې اچوم ګاندهي جي خندل خو ما منع کړو هغه وې. دا ما دم کړي دي د
نقصان یې ذمه وار یم، ما ورته ووې که څه نقصان وشو نو زه به ستا ذمه واری څه کړم ښه
دا دچه دا کار ونه کړې او هغه مې دې کار ته پرې نه ښوده. بل ځای بیا په سیوا ګرام کښې
زمونږ یل ملګری ناجوړه شو دهغه محرقه تبه شوه څه ورځې پس میرا بهن هم ناجوړه شوه
او محرقه یې شوه هغې ماته ووې چه معلومیږي دا چه زما هم محرقه (تبګی) ده مونږ سره
دهغې زیات فکر وو خکه چه پېرنګیان اکثر د محرقي نه مړي او دې ته مونږ. نو ې ما ددوی
دوا او ډېر خدمت کاوه خو ددې به راسره ډېر فکر و او د میرا بهن به مې زیات خدمت [کاوه].
په دغه ورځو کښې د مهاتما جي یو دوست په بنارس کښې یوه عباد تګاه جوړه کړې
وه چه په هغې کښې د هر مذهب خلکو ته اجازه وه چه په کومه طریقه هغوی دخدای عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی کولی شي ، د هغی د افتتاح د مراسمو د پاره مهاتماجي او زه بنارس ته لاړو ، مهرباجه هم ماسره وه او د هندوستان د مختلفو علاقو نه د پرنارینه او زنانه د غه افتتاح د پاره راغونډ شوی وو . د دی رسمونو دا اکید و یه و وړ د هر مذهب او ملت خلک موجود وو په د غه عبادتخانه کښی د هر مذهب خلکو خپلو طریقو د خپلو مذهبی کتابونو تلاوت او دعاگانی وکړې زما په خیال د پیرنګیانو د راتلو نه پس د هندوستان په تاریخ کښی دا اوومبی ځل وچه د هر مذهب پیشوایان په ډیره مینه او محبت سره یو ځای راغونډ شوی وو او عبادت یی کولو .

بنارس ، دیلی ، گجرات ، کاتهیاوار :

مونږ د بنارس نه دیلی ته راغلو ، بیا د گجرات کاتهیاوار ته لاړو ، په کاتهیاوار کښی ما د مهاتماجي کوراو خپل خپلوان ولیده هغوی ډیر ښه خلک وو او د گاندهي جي سره لي ډیره مینه محبت د ، یوه شپه موهلته وکړه ، بیا گجرات ته راغلو او احمد اباد کښی د دیایټ کښی چه د هندوانو یو ډیر لوی قومی کالج دی ډیره ښه و د یایټ په رښتیا یو قومی کالج دی ولی چه د دی شاګردان چه د تعلیم نه فارغ شی نو هغوی کلوته ځی او د خپل قوم او ملک خدمت کوي . د گجرات د میونیسیپلټی د خلکو د طرفه سپاسنامه را کړې شوه دا ډیر ښه خلک دي مهاتماجي سره لي ډیر محبت دی یوازی محبت نه دی د ازادی په جنګ کښی هم د هیچا نه وروسته نه وو ، خو وځی پس سیوا گرام له راغلو زه چه څومره هندوستان کښی گرځیدم نو ما به لیدل چه هره صوبه کښی په سیاسی اقتصادی او تعلیمی لحاظ بلکه په هر لحاظ مسلمانان د هندوانو نه ډیر وروسته و څومره چه به ما په دی خبرو فکر کوو نو دی نتیجې ته ورسیدم چه یوازی گاندهي جي نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواهرلال نه دی، مالویه نه دی، پټیل نه دی، راجندرپرشاد نه دی، سوباش، راجګوپال اچاري نه دی، بلکه په سوونو داسی خلک دي چه ډاکټران، انجنیران، تعلیمیافته خلک، مدرسی جوړی کړی دي او لګیا دي، د خپل قام او ملک خدمت کوي. ډیر خلک خان خان له په کلو کښی دیره دي خلک یي کلوته نه پرېږدي او ددوی په لاره کښی خفګان اچوی سره د هغی هغوی په صبر استقلال د خپل قام خدمت کوي او هیڅ قوت هغوی د خلکو خدمت د لاری نه اړولی نه شی د هغو خلکو لوی تعارف دا دی چه ژوندیلی ډیر ساده او په ډیر لږ خیز به یی ګذاره کوله. په وارده کښی یو ځل دوا دی دکلو د کارکنانو جلسه وه هغوی تول راغونډ شوی وو زه هم د (ونوبا) هغه نوی اشرام کتوله تللی وم د هغو کارکنانو په جلسه کښی مشرکیک شوم ډیر خوار او کمزوری وو زما زړه پری وسو جاجوجي چه د دي تنظیم صدر او نیونو باجي یي سکرټری وو ورته می ووی چه دا خو د قوم ملکیت دی غریبانانو د خوراک څه انتظام په کار دی او کمزوری سړي د قوم او ملک خدمت کولی نه شی جاجوجي ووی چه تاسره زما پوره اتفاق دی او س زمونږ جلسه کښی دا تجویز وړاندی کړه. جلسه کښی چه ما دا تجویز وړاندی کړو چه د دوی تنخواګانی زیاتی شی، نو د هغوی د کارکنانو نه یو سړي پاڅید و هغه ووېل چه زمونږ دا ملک ډیر غریب دی او ل خو مزدوری نشته او چه مزدوري وي نو د ډیری آنی د سړي وی او لس پیسی د منځی وي او مونږ خو بیا هم څلور آنی اخلو زمونږ پټیل دا شان ډوډی خوری لکه مونږ یي چه خورو د تنخواه زیاتولو ضرورت نشته ولی چه دا خلک به وایي چه مونږ خو د باجیري وچه ډوډۍ نه بیا مومو او دا زمونږ خدمتګار زیری غوړی خوري.

ملبه داچه د هندوانو امیران، سوداګر اکثریت ډیر یو قومی تحریک سره په زړګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګونو روپو امداد کوي بل طرف ته مسلمانان دي تاسو وګورۍ هغوی کښې د خدمت څوک دی د هغوی تعلیمیافته امیران، سوداګران، وکیلان دی چه روپۍ ورکول خو پرېږده د قوم او ملک د ترقۍ څه خیال هم په زړه کښې نه لري د غه وجه ده چه مسلمانان د زوال سره مخامخ دي. د غه وجه ده چه په هندوستان کښې هندوان ورځ په ورځ اوچتیږي او مسلمانان پریوزي. د هندوستان د مسلمانانو دا تجربه وشوه چه کوم سړي د پېرنګیانو خیرخواه وو، هغه ددوی لیډران وي داسې حالاتو کښې به څنګه ترقي وکړي.

## د هندوستان د مسلمانانو د پاره فکر:

زه چه په ټول هندوستان کښې ګرځېدلی یم نو مسلمانانو کښې جذبه شته خو غمخور یې نشته او خیرخواه یې نشته. سیوا ګرام ته به کله ذاکر حسین صاحب راتللو ده سره زما ډېر تعلق وو دی د جامعه ملی اسلامیه دهلي پرنسیپل وو ما ده ته هندوستان کښې د ګرځېدو او بخپل ذهن د حالاتو او واقعاتو اثر په تفصیل سره بیان کړو او ورته مې وویل چه دلته په مسلمانانو کښې رښتینې خدمتګار پیدا شوی نه دی ترقي کولی نه شي په مسلمانانو کښې هم په سرښه سینه تعمیري کار کول په کار دي او د هندوانو په شان مسلمانانو له په کار دي چه ځای په ځای کارکنان پیدا کړي چه د دوی د ترقۍ د پاره کار وکړي او مرکزونه جوړ کړي. زه دې نتیجې ته رسېدلی یم چه په چوف او کوف باندې قومونه ابادیږي نه کار په کار دی! او نه د جلسو د تقریرونو په واسطه په هغوی کښې ژوند پیدا کیدی شي نو ما اراده وکړه ده چه د مسلمانانو د پاره کار وکړم او ددوی له د اصلاح د پاره مرکزونه قایم کړم او چه تر کومې ماته خپلې صوبې ته د تللو اجازت نه دی شوی د دوی څه خدمت وکړم مګر ما سره ددې خبرې ډېر فکر دی چه که چیرې ماته د خپلې صوبې د تللو اجازت وشو نو ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت به بیا څوک کوی؟ ځکه چه زه خو بیا دلته پاتې کیدی نه شم او په ما د خپلو خلکو د خدمت
کولو حق دی نو که چیری په دی کښی زما سره ستاسو اتفاق وی او د مسلمانانو د کار فائده مند
کښئ نو بیا تاسو زما د ملګرتیا د پاره سړی پیدا کړئ چه هغوی دې کار ته د خدای د پاره ملاوړی
او که چیری زه لاړ شم نو دوی دلته ناست وي او کوم بوټی چه مونږ کرلی دی هغه له اوبه ورکوی
او وچیدو ته یی پری نږدي. بل سوال د پیسو دی مسلمانان رښتیا خیرات ورته خو ډیر کوی
مګر د خدای د مخلوق د ابادی د پاره یوی پیسی ورکولو ته تیار نه دي دغه اجنډه چه په دوی
کښی نیک او د ابادی تحریک چلیدل ګران دی.

زما خو دا خیال وچه دا کار دې د سند د صوبې نه شروع شي ځکه چه هلته د مسلما-
نانو ابادی ډیره ده او په ټول هندوستان کښی د سند خلک په هر لحاظ وروسته پاتی دی
زمونږ د بل ملګری دا رایه وه چه د بنګال نه دی بیا شروع شی او د سهارنپور هغه پروفیسر
صاحب دا خبره وکړه چه که چیری تاسو د دی کار ابتدا د سهارنپور نه وکړه نو ډیر زر
به ترقی وکړی او ډیر زر به ټول هندوستان کښی خور شی ځکه چه د یوپی مسلمانان د
سنده او بنګال د مسلمانانو نه زیات پوه او مترقی دي او بله دا چه سهارنپور کښی د ډیری
مذهبی مدرسی دی چه هغو کښی ډیر طالبان د سنده او بنګال دي او د هندوستان د هری
صوبی خلک پکښی شته دا د هندوستان د مسلمانانو تعلیمی مرکز دی او که دا مرکز دغلته
جوړ شی نو د دغو طالبانو نه به سنده او بنګال کښی او نورو صوبو کښی ډیر کار روا خیستی
شی مونږ ټولو په دغه ځای اتفاق وکړو چه کار به د دغه ځایه شروع کوو او منتظر دوچه
څه وخت به هغه یو څو سړی زما سره پیدا شی.

څو ورځی ما په سیوا ګرام کښی انتظار وکړو چه څه جواب رانغی نو بیا زه جواهر لال

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره یو. پي. ته لاړم. بابو راجندر پرشاد ماته بهارته د تللو او دورې کولو وعده اخیستي وه
نو زه په اله اباد کښې وم چه پروفیسر عبد الباري صاحب راغی زه او هغه دواړه پټنې ته لاړو
او په صداقت اشرم کښې دیره شو هغه اشرم د ګنګا سیند په غاړه واو دېر د مزې اشرم
دا اشرم د بهار د صوبې یو مسلمان بیرسټر مظهر الحق جوړ کړې و هغه د کانګرس د جماعت په
معامله کښې هم د حکومت برخلاف د مسلمانانو مرسته کړې وه افسوس چه د هغه ورسته
په مسلمانانو کښې داسې څوک نه وچه د غه اشرم یې اباد ساتلې وای او په دې وجه
د هغه وراثت کانګرس ته پاتې شو اوس ورځې د غه ځای د بهار صوبې د بهار کانګرس
کمیټۍ دفتر دی.

مونږ د دورې د پاره څه پروګرام جوړ وو چه د پنجاب میل د اکسیډنټ خبر
راغی او د خبر یې وسره سم د کانګرس کارکنان د مدد د پاره هلته ورسیدل. په دې
کښې ډیر خلک مړه شوي وو او د مړو پیژندل نه کیدل چه دا هندو که مسلمان دی
چه په چا به د هندو شک کیدی شو نو هغه به یې سوزوو او چه په چا به د مسلمان شبهه
وه نو هغه به یې ښخ کړو او د مړو نه علاوه ډیر خلک زخمیان هم وو او هغوی یې د پټنې لوی
هسپتال له داوړل خدای دې چا ته نه ښیي، د مصیبت یو عجیبه منظر و څو ورځې پس مونږ
د خپلې دورې پروګرام جوړ کړ او کافي ورځې مو د بهار په صوبه کښې دوره وکړه، د بهار په صوبه
کښې د شیرشاه سوري قبر دی چه مونږ هلته جلسه وکړه نو د دعا د پاره د هغه زیارت له
ورغلم د هغه قبر ساده قسم جوړ دی او ښکلې ګنبد دی او چارچاپیره تری او به دي دا لوی
تالاب ډیر ښکلې دی لوی شیرشاه ته مې دزړه د اخلاصه دعا وکړه ځکه چه هغه د پښتنو کتمنده وو
سیاستدان او ننګیالی پښتون وچه مغلو له یې ماتې ورکړې وه او د مغلو نه یې د پښتنو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت دوباره اخیستی وو او بیا یې حکومت په ټول هندوستان جوړ کړی و د کلکتې نه تر پېښوره پورې سړک ده جوړه کړې دی. د خپل حکومت د ټینګولو د پاره یې د بهار په صوبه کښې د پرو پښتنوله ډېر جاګیرونه ورکړي وو مونږ دغو پښتنو اولاد او جاګیرونه هم ولیدل. یو کس دوه ځو میلیانه کوټی هم وو مګر د دغوی اوس هغه خوند نشته خلکو د خپل پلار نیکه ژبه هېره کړې ده افسوس چه په پښتنو کښې داکمزوری شته چه خپله ژبه هېره کړي. یو. پي کښې هم ډېر پښتانه دي دغوی هم دغه حال دی ذاکرحسین صاحب افریدی پښتون دی د ژبې په هېرېدو د خپلو نه سړي پردی شي. د بهار په صوبه کښې پښتنو سره ډېر جایدادونه وو خو د بلوا عملو په وجه توی ټول لاړل او نن ډېر خراب ژوند تېروي.

د بهار د دورې نه وروسته زه بېرته سیوا ګرام ته راغلم د ډېرې مودې نه د سنده د کانګرس ممبران مایوسي وو او دا یې خواهش وچه زه دې سنده ته لاړ شم او د دغه ځای په مسلمانانو کښې څه کار وکړم زما هم خوښه وه ولې چه د سنده مسلمانان ډېر وروسته پاتې شوي دي او مظلومان دي او مونږ خدائي خدمتګار د خود مظلومانو ملګري یو او مونږ خپل خدائی سره دا وعده هم کړې ده نو زه د سیوا ګرام نه سنده له لاړم، زما خو دا خیال وچه سنده کښې به کافي ورځې تېروم، سنده ته چه ورسېدم نو ما د کانګرس د ورکرانو په مشوره د خپلې دورې یو لوی پروګرام جوړ کړو او د حیدر اباد نه مو شروع کړه مسلم لیګو خو زما د دورې د خرابولو د پاره د مظاهرت پروګرام جوړ کړې د خو د سنده وزیر اعلی چه ډېر قوم پرست او شریف انسان و خبر شو او د مسلم لیګو تړلي وو ي چه عبدالغفار خان دلته زمونږ د قوم خدمت له راغلی دی په کار دی چه مونږ ټول ورسره مدد وکړو او که مدد نه شو کولی نو مظاهرت خو د شرم خبره ده، زه خبر شوی یم چه مسلم د مظاهرت څه خیال دی خو که دده په دوره کښې مو مظاهرت وکړو نو ډېر بد به درسره وکړم. دده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جه مسلم لیګ، په قلارشو او ماخپله دوره په اطمینان سره وکړه. په دغو ورځو کښې د سنده وزیر
لی خان بهادر الله بخش سومرو و ده زما سره ډیر مینه وه، په حیدر اباد کښې مو جلسې وکړې
د ډیر هندوانو او مسلمانانو سره مو خبرې اترې وشوې، د دې ځای نه کراچۍ لاړو، په
اچې کښې مو کافي ورځې تیرې کړې، او ډیر کارمو وکړو، د کراچۍ نه سکر ته لاړو او د سکر نه
یل دا اباد ته واغلو ولې چه دا خیال مو پیدا شو چه په بلوچستان کښې کار کول زیات ضروري دی.

## د بلوچستان دوره:

دډیری مودې نه زمونږ د بلوچستان د رونړو دا خواهش وو چه زه د بلوچستان
لاړشم، ما د پرخله کوشش وکړو خو حکومت نه پرېښودم، په دغه ورځو کښې عبد الصمد خان
کزی چه د بلوچستان د پښتنو ښتینی خدمتګار او رهنما دی په ما زور ولګو وچه زه
چستان ته لاړ شم، په لاره کښې مې الله بخش سره ملاقات وشو د هندوستان په سیاست
د ډیرې خبرې وکړې. هغه د پاکستان د جوړېدو په حق کښې نه وو ځکه چه د پنجابیانو نه
ډېر ویرېده ستړی وو او پنجابیانو سره یو ځای کېدو ته تیار نه وو، هغه دې خبرې ته تیار وو
کچرې سنده، بلوچستان، سرحد او کشمیر یو ځای شوو نو دا به ډېره ښه وي، الله بخش
ومرو د سیاسي مخالفت په وجه د مسلم لیګ یو لیډر محمد ایوب کهوړو بیا ورو مستوقتل کړو.

زه په خیریت سره کویټې ته ورسېدم، څه وخت چه زمونږ او دګا دې د بلوچستان
سرحد کښې داخل شوو نو ترکویټې پورې په لاره کښې د واپس کیدو ویره وه ځکه چه زه یې
د خله دا واپس کړې وم، په هر سټیشن چه به مې د پولیس افسر ولیده نو دا خیال به مې پیدا
و چه د جوړې حکم یې را ورې دی. زه په خیریت کویټې ته ورسیدم، زما دا خیال دی چه
ومت جناح صاحب ته چه د هغه تعلق مسلم لیګ سره وو اجازت ورکړی وو نو ما ته یې هم اجازت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړه ، ولې چه زما تعلق کانګرس سره وو .

عبدالصمد خان اڅکزی سټیشن ته راغلی و ، په سټیشن کښې نور هم ډیر هندوان ، مسلمانان راغلي وو
ما یو څو ورځې کویټه کښې تیرې کړې او یاد کویټې نه فورټ سنډیمین ، قلعه عبدالله ، هنه باغ ، ګلستان ، چمن
لورلائي او د بلوچستان د نورو ځایونو دوره مې وکړه ، ډیره د خوشحالۍ او کامیابه دوره وه او زړه مې په دې
هم ډیر خوشحاله شو چه پښتانه او بلوڅ را ویښ شوي دي هغوی سره مې جلسواو مجلسو
کښې د پښتنو او بلوڅو د ورولۍ خبرې وکړې او پلای کښې ما سره د اکثرو پښتنو او بلوڅو
اتفاق وو ، ځینو پښتنو زمونږ د پیښور د خلکو نه شکایت کولو او ډیر ګیله من وو چه پوښتنې
ورو ستو ما ته معلومه شوه چه د دی وجه پیښوریان حاکمان وو یعنی د پیښور هغه کسان
چه د غلته د پیرنګیانو نوکران وو او پیرنګیانو د خپل کار د چلولو لپاره د غلته مقرر کړي
دي افسرانو د خپلو ورونو سره شریفانه سلوک نه وو کړی بلکه د سړیتوب نه پریوتی ، د فرعونیت
بد ترین سلوک کوو او د هغوی په زړه کښې د ټولو پیښورو نه نفرت پیدا کړی و ما هغوی ته
تسلي ورکړه او پوهه مې کړه چه دیو څو کسانو په ګناه تاسو د پیښور ټول پښتانه مه نیسئ
بخدای دی نور پښتانه داسې بې ننګه نه کړي لکه دا چه دې حکومت زمونږ نه دی بلکه
پیرنګیانو دی ، بله دا چه په دوی کښې د دې حاکمانو اکثریت د هغه خانانو ، میاګانو او
ملایانو وو چه د انګریز د خوشحالۍ د لولپاره دا د لته چه تاسو سره کوم سلوک کړي دی او
یې کوی د ایوازې تاسو سره نه کوی بلکه مونږ سره یې هم هلته په هغه خپله صوبه کښې کوی
ډیره عجیبه خبره وه چه دلته د دې پښتنو سرکاری افسرانو د پنجابیانو افسرانو سره د
چه په شریکې د بلوچستان پښتانه او بلوڅ خوړل . د بلوچستان د دورې نه وروسته
مونږ جیکب آباد ته راغلو ، په جیکب آباد کښې ډاکټر چیت رام چه د کانګرس صدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد امین کوسوهم مونږ سره یوځای شو په جیکب اباد کښې د هندوانو او مسلمانانو
وه لویه جلسه وشوه . په دې جلسه کښې د سیول او پولیس دافسرانو دا اراده وه چه څه
ډوبړی وکوي خو دوزیراعظم الله بخش په مداخلت څه ګړبړی ونه شوه ، مونږ د
لوچستان دهغې تولې علاقې دوره وکړه چه په برېتش بلوچستان کښې دپښتنو اکثریت
کښې دی ، زما او دعبدالصمد خان اڅکزي دا رایه وه چه د بلوچستان هغې برخې ته هم
رشو چه بلوڅ په کښې اباد دي ، ډاکټر چیت رام او محمد امین کوسوهم دا رای وه
په مونږ د بلوڅو دغې علاقې ته لاړه شو ، مونږ هلته لاړو خلک ټول په شوق او په مینه
غونډ شوي وو چې دجلسې وخت راغی نو زما دا اراده وه چه په هغه جماعت کښې جلسه
وکړو چه د بازار په سر کښې وو او د نورو ملګرو دا خیال وو چه هغه ډاک کښې دې وکړو چه
بازار نه هغه طرف ته وو هلته دجلسې انتظام وشو ، جلسه چه شروع شوه نو د بلوڅو یو
بیس راغی ، دجلسې په خوا کښې تېرشو او جلسې ته لې سنه وکتل دهغه نه لږ ساعت
س د بلوڅو یو ټولی تېروته په لاس جلسې ته راګډ شول او بغیر د تپوس نه یې
خلکو را باندې ګړاهه چه سړي ته به یې د سړي ورکوو د علي علي چیغې به یې وهې وهلې
پرنا توسره و بې دسړنې یې په بل ځای کوزار نه کوو په یو ساعت کښې میدان خالي
وو زما یوي خواته ډاکټر چیت رام او بلې خواته محمد امین کوسو په کوسوناست و
وخت چه دجلسې ټول خلک وتښتېدل زه یوازې پاتې شوم نو زمانه چاپېر
ول سړه ورځ یې را باندې جوړه کړه او داکوشش یې کوه چه زه هم وتښتم خو زه ونه
تښتېدم . په هغه ورځ ماخپل سرخ ټیلی د او په کرسۍ سرتور ناست وم زه پوهه
م چه سنه کوزار به اخلي خو تښتېدم نه کتل می چه د وی څه کوي زما نه سنی طرف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد امین کوسو و هغه یې په سر وهلی و او بې هوښه شو او د کرسۍ نه را پریوت
بل طرف ته د ډاکټر چیټ رام و په هغه یې هم سرحات کړې و هغه هم د کرسۍ نه په خاو
کښې را پریوتی و زمانه چا پېره ډېر وګر ځېدل چه دې به هم د نورو خلکو په شان
وتښتي پو هه شوو چه دې نه تښتي او مونږ خپل کار وکړو نو ځکه وتښتېدل زه پا
چه و مې کتل نو د کوسو او د ډاکټر د سر نه وینو دارې وهلې بل خوک نه وو عجیبه حالت
معلومېده چه د ډاکټر چیټ رام او کوسو په باره کښې ورته خاص هدایت شوی
او زما په باره کښې هم ورته هدایت شوی و ، بیا وروسته معلومه شوه چه د غه بلوڅ
رئیس د دوی ډېر دوست و او دوی پرې احسانونه کړې وو مونږ بسیول سرجن
پسې یو سړی په موټر کښې ولېږلو د دوی مو یوړل او چه کوم ځای مونږ ډېر وو هغه
موکتونه کښې واچول وینه یې نه ودرېدله حالت یې خرابېدلو او عبدالصمد خا
او زمونږ نور ملګری هم حویلۍ وو خو د مره نه د مقامي خلکو نه معلومه شوه چه دوی د د
قصې نه خبر و او په تحصیل کښې راپورت هم کړې د ملګو سرکاري افسرانو د دې کار
نه نیوله حقیقت خو دا ؤ چه دا ټول کار د سرکار په اشاره شوی و نو افسرانو یې خو
مخه بندوله یوازې دا ځای نه په ټول بلوچستان کښې حکومت کوشش کړې و چ
زمونږ جلسو کښې ګړبړې پیدا کړې ولې په پښتنو کښې دومره پښتولا پاتې وه چه
دخپل مېلمه عزت وکړي ماز ګېر د هغه علاقې پولټیکل افسر چه پوځي کپتان و او هغ
و او دا ټوله قصه هغه کړې وه . خپل اسسټنټ سره ماته راغی او ودې واقعې تپوس
یې دا نه وکړه او دا ته یې ووې که چېرې تا سو پدې خلکو مقدمه چلول غواړئ دعوی
پرې کوئ نو زه به د هغې انتظام وکړم د غه اسسټنټ د پېښور د علاقې د صوابۍ تحصیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوبیانو. د کلي وو مادوی ته په ځواب کښې ووی چه مونږ خدایي خدمتګار د چا نه
بدل نه اخلو، مونږ مظلومان یو، زمونږ بدل خدای پاک اخلي هغوی چه ما سره خبرې
کولې نو د حکومت د طاقت باوجود ملامته او خړ غوندې ښکاریدل ښه ساعت ما سره
و بیا رخصت شو، تیاره ماښام شو مسو بل سرجن راورسید هغه وخت زمونږ د
زخمیانو بد حال وو او د محمد امین کوسو حالت ډیر خراب و، د ډاکټرو سره ډاکټر د هغوی
د وینو بندولو کوشش وکړو او مونږ ته یې وویل چه د دوی حالت ډیر خراب دی د دوی
د پاره خه انتظام کیدې نه شي ښه به داوی چه د جیکب اباد هسپتال ته یې ورسو مونږ
هغوی په موټرونو کښې واچول او تېر ما ښختن جیکب اباد ته ورسید د سول سرجن
ډیر ښه سړی وو، د رسیدو سره د هغوی لپاره ډیر پوره انتظام وکړو هغوی یې ځاځان
په کمرو کښې واچول پټۍ مرهم وشول او چه د هغوی انتظام وشو نو بیا مونږ خپلو
ځایونو ته رخصت شو، چه شپه تیره شوه زه سحار وختي هسپتال ته لاړم سول سرجن
مونږ نه مخکښې راغلی و او په ماتي زیرې وکړه چه د دوی د بچ کیدلو زیات امید پیدا شو
هر وخت چه دوی د خطره نه بهر شول او حالت یې ښه شو، نو زه جیکب اباد نه حیدراباد ته روان شوم
حیدراباد ته ماښام کادي سحر وختي ورسیدلم چه ستیشن ته ورسیدم نو لا تیاره وه او سبا ختلی نه و
پروفیسر ملکانی صاحب د کانګرس د کارکوونکو سره ستیشن ته راغلی و زه ډیر حیران او
خوشحاله شوم په دې چه خان بهادر الله بخش وزیر اعظم د سنده ستیشن کښې حاضر
و حیران په دې شوم چه زمونږ لوی خلک د داسې خلکو مخې له نه ځي او خوشحاله په دې شوم
چه د ملک او قوم خدمتګار سره د ومره مینه لري، زمونږ لویو خلکو کښې دا ماده نشته په حیدراباد
کښې د سنده د کمیټۍ ممبران راغونډ شوی وو او د عامې جلسې د رستو زما او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمینځه خبرې اترې وشوې، د دې بې مباحثې نه وروستو هغوی ما ته
دوه د مطلب خبرې وکړې او راته یې وویل چه کله ته وار دی ته ورسې نو
دا خبره به مهاتما ګاندهي او د ورکینګ کمیټۍ ممبرانو ته وکړې. یوه دا
چه دې صوبه سنده کښې به مسلمانانو کښې د خاکسارانو تحریک
ورځ په ورځ په ترقي کښې دی که چرې د دې صوبې په مسلمانانو کښې
د خدائي خدمتګارۍ تحریک شروع شي نو ښه به وي ځکه چه
خدائي خدمتګارې یو قومي ملي تحریک دی چه به هندوانو او مسلمانانو
کښې د همدردۍ او ورورولۍ جذبه پیدا کوي او دا بل تحریک
به مسلمانانو کښې تعصب پیدا کوي، ما ورته ځواب ورکړو چه دا کار به
چه دی داسې خلک کولی شي.

دیو سړی به زړه کښې چه د خپل قوم او د خپل ملک
محبت او همدردي وي بیا به خلک د هغه خبرو منلو ته تیار وي
که هغه سړی د هر ملت او مذهب وي بله خبره یې دا وکړه چه مونږ
د خلکو لپاره څه کولی نه شو او نه مو د هغوی خدمت ته زمونږ د صوبې
د کانګرس مشران جی رام داس، دولت رام بربړ دي او نه مونږ د هغوی
لپاره په اسمبلي کښې څه کولی شو او نه کلوته د هغوی د خدمت او یو هم
کولو لپاره تللی شو، ما ترې پوښتنه وکړه چه د دې وجه څه ده هغوی
راته وویل چه د کانګرس د چلولو لپاره جی رام داس ته اکثره چنده او امداد
سرمایه داران ورکوي او هغه سرمایه دار دا نه غواړي چه د عوامو د فائده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی اسمبلی کښې څه قانون پاس کړی شي او یا دی دکانګرس خلک
والو او مزدورانو ته لاره شي او هغوی دی پوهه اوراو ویښ کړی څکه
هغوی په پوهه کښې دسرمایه دارو تاوان دی ، ددی له پاره مونږ
له څه کولی نه شو اوکه وکړو بیا هغوی مونږ سره ملګری کیږی
واره بیا مونږ ته چنده نه راکوی . منبه به داوی چه ته زمونږ دامعامله
نک کمیټئ ممبرانو ته ورسوی . زه د حیدر آباد نه واردی ته روان
شوم کله چه ورسیدم نو په داسی وخت چه جی ایم داس
هم حاضر و نو له قصه می دهغه په مخکښی
ورکینګ کمیټئ ته وکړه . زه چه دی
وخت کښی وارده
کښی وم (رفیع احمد صاحب)
چه دغه وخت دکانګرس صدر ؤ . ماته وویل چه باچاخان
تاسو پښتنو مونږ پسی ولی رااخیستی ده
چه سرکارته مشکلات
پیدا کوئ
ماورته وویل چه هغه کومه
داسی خبره ده چه مونږ به ناجایزه تاسوته تکلیف درکړی
دی نو ده راته وویل چه عنایت الله مشرقی مونږ ګرفتار کړلو
د حکومت نه معافی وغوښته مونږ پرلښود نوستاسو د سرحد نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاپسې پښتانه خاکسار داغلل او تمانچې پرې کېښودې چه مونږ دې وته
تا خو مونږ وسره مولو چه معافي دې وغوښته . هغه وړته منګر شو دکه
داډه وغ دې او قسمونه ورته وخوړل چه تحریک نه پرېږدم هغه دداډه
خلکوله وېرې بیا کار شروع کړو نو مونږ بیا ونیولو هغه بیا
معافي غوښتله خلک ترې ویزاره شول او
تحریک کمزوری شو دهر یو تحریک
انحصار په لیډر
وی
چه بهادر او هوښیار وي
نو د تحریک خلک هم زړه ور او پوهه
وی چه لیډر کمزوری او تنګ نظره وي نو د تحریک خلک
هم بې زړه او تنګ نظره وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دخدايي خدمتګارو لومړی وزارت

دخدايي خدمتګارو وزارت ، زمونږ وزيران او پيرنګيان
دجواهرلال دوره ، دپيرنګيانو افسران او زمونږ
حکومت ، پښتانه راوبيني شول ، ډکانګرس دوره
وزارتونه او خدايي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اوه کاله پس خپلې صوبې ته راغلم. زه په ۱۹۳۱ع کال کښې گرفتار شوی وم او په
۱۹۳۷ کښې راغلم زمونږ په خلکو ډېر زور زیاتي او ظلم شوی ولیکن د هغوی جذبه مړ شوی
نه وه، د خلکو د مخونو نه ماته معلومیده چه زړونه یې د جذباتو نه ډک دي زه چه نه وم نورو
جامې هم نه وې حکومت بندې کړې وې زه چه راغلم نو سرې جامې هم راغلې څه وخت چه
خدایي خدمتگارو واوریدل چه زه خپلې صوبې ته راورسیدم نو بیا هغوی بندیز ته کتلې
نه دی تمولو خپلې سرې جامې واغوستې مگر حکومت ورسره څیړونکرو هغه تولې پابندې
د خدایي خدمتگارو نه وچتې شوې.

زما په غیر حاضرۍ کښې حکومت چه څومره ظلمونه کولی شول هغه یې د صوبې په خلکو
او په تېره بیا په خدایي خدمتگارو کړې وو د خدایي خدمتگارۍ د بربادۍ د پاره یې تولې طریقې
استعمال کړې وې خو کامیاب شوی نه و بلکه خدایي خدمتگارۍ زیاته ترقي کړې وه او خلک
کښې پوهه او سیاسي شعور پیدا شوی و، څه ورځې پس زه د اسمبلۍ د ممبرانو سره ایبټ
اباد له لاړم چه هلته د اسمبلۍ د ممبرانو اجلاس و. د هزارې ډېر خلک زما هرکلي له راتول
شوی وو، دستري مه شی نه پس یوه جلسه وشوه چه په هغې کښې ما تقریر وکړو او د خلکو
شکریه مې اداکړه بیا خپلو ځایونو له لاړو، زه د هزارې د خلکو مېلمه وم، غني او ولي هم را
وو هغوی زمونږ د پاره ځان له انتظام کړې و. په دې ورځو کښې د مسلم لیگ او حزب اختلاف
په مینځ کښې اختلاف و. د صاحبزاده صاحب د وزارت د اکوشش وچه د اوزارت د
مات نه شی او خدایي خدمتگارو زور لګولی وچه مات دې شی. صاحبزاده صاحب لوی
جبې او لوی لوی ملایان، میاګان راغونډ کړې وو هغوی به هره ورځ جلسې کولې هغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروغ او بهتان جوړولو زما برخلاف یې تقریر ونه کړو حال دا چه زه نه په اسمبلی کښې وم او
نه د پارټۍ لیډر وم. د هزاره یو لوی بزرګ مولانا محمد اسحاق صاحب مانسهروی چه
د خلافت په وخت کښې زما ملګری هم و او په هزاره کښې یې ډېر کار کړې و او خلکو به په جوپان
کښې په اوږو اوګرځولو او پېرنګیانو بندئ کښې نظر بند کړې و. هغه پخپل تقریر کښې زما متعلق
دا ووې چه یوه ورځ عبدالغفار خان بندئ له راغلی وزه ورسره وم لیکن هغه چېرته یو لفظ
هم ونه کړو او د شپې په جلسه کښې چه څو وخت هندوانو او مسلمانانو هغه ته ګیتا او قرآن پېش
کړل هغه قرآن ته ډېر توجه ونه کړه په ښې لاس کښې یې ګیتا واخیستو او ګس لاس کښې یې قرآن
واخیستو. زما په باره کښې د مولانا محمد اسحاق صاحب دا ټولې خبرې دروغ وې زه
بې شکه جلسې له بندئ ته تلی وم لیکن مولانا محمد اسحاق خو یو ساعت د پاره راغلی و او هغه وخت
کښې یې ما ته ویلی وو چه زه د دې خلکو په جلسو کښې شرکت نه کوم خو چه دا جلسه ستا د پاره ده
او ته خو د اسلام یو مجاهد یې نو ځکه زه بیګا له دې جلسې له ضرور راځم په دې جلسه کښې ما له
چا قرآن او ګیتا پېش کړې نه وو بلکه زما په ټول عمر کښې ما ته په جلسه کښې چا قرآن او ګیتا پېش
کړې نه دی چه په کوم قوم کښې دا قسم خلک د دین سستنی کېدلی شی نو هغه دین کله په داسې سستنو
ټینګیدلی شی په دغو ورځو کښې پېرنګیانو دا غوښتل چه د خدائي خدمتګارو په مقابله کښې
په دې صوبه کښې دې یوه بله ډله هم جوړه شی نو د صاحبزاده صاحب په ذریعه فوراً مسلم
لیګ جوړ شو او د دوی جلسې شروع شوې. د دې نه څه موده مخکښې جناح صاحب د مسلم
لیګ د جوړولو په خیال صوبه سرحد ته راغلی وه خو کامیاب شوی نه و او ډېر مایوسه تلی و ځکه
په هغه وخت کښې د پېرنګیانو دا پالیسی نه وه او هغوی په صوبه سرحد کښې د هیڅ قسم
لیګ جوړیدل نه غوښتل. په دغو جلسو کښې به هم مولانا صاحب محمد اسحاق د کانګرس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر خلاف او د مسلم لیګ په حق کښې تقریرونه کول. په جلسه کښې توری یو سړی پوښتنه وکړه چه
مولانا صاحب ستا خو رقیب پیر کامران د خدائی خدمتګار دی په ټکټ ولاړ دی تو تا د هغه د پاسه
پراپیګنډه کوله او مونږ ته دی وی چه خدائی خدمتګار قومی او پښتنو تحریک دی نن څه چل
وشو او کوم دلیل پیدا شو چه خدائی خدمتګار خراب او د هندوانو جماعت شو د دغه شان یوانی
دی نور هم د پر ملایان وو چه مونږ سره یې قیل ونه تیر کړې وو په دی ازمېښت کښې کامیابه
شوي وو خو د پیښو په ازمېښت ناکامیابه شول. زمونږ یو قومی کارکن مولوی شاکرالله
صاحب د نوښار د خدائی خدمتګار د امیدوار میا جعفرشاه مخالف شو او د تاج محمد خان
خان بهادر ملګری شو. څه ورځې پس د عمرزو خان بهادر سعدالله خان مونږ میلمانه
کړو. دی د صاحبزاده صاحب د وزارت په وخت کښې وزیر و. دی دعوت ته یې صاحبزاده
صاحب هم رابللی وو. صاحبزاده صاحب چه راغی نو ما سره یو ځای کښېناستو د داشه د رشه
نه پس یې راسره دا خبره شروع کړه چه پخوا به د هندوستان د خلکو سترګی دی خواته وې او
د دی ملک خلکو چه به څه وئیل هغوی به هغه کول لیکن افسوس دی چه د دی ملک د خلکو سترګی
اوس هندوستان ته دي او هغوی چه څه وائی دوی هغه کوی ما ورته ووې چه صاحبزاده
صاحب چه ته د حالاتو نه پوره خبر نه یې نو ځکه داسی خبری کوې اوس هم هغه حالت دی بدل
شوی نه دی اوس هم د هغو خلکو سترګی دې طرف ته دي اوس هم چه د دی طرف خلک څه
وائی هغوی هغه کوی. څه وخت چه سول اینډ ملیټری ګیزټ اخبار دا غلط خبر شایع کړه
چه باچاخان د کانګرس نه جدا کېږی نو دی صاحبزاده صاحب عبدالقیوم ما پسی لاهور ته
سړی رالیږلو او خط یې ورکړی ؤ زه د شملې نه لاهور ته راغلی وم نو دلته مې هغه سړی ولیدو
هغه راته زبانی هم ووې چه صاحبزاده صاحب وې چه باچاخان ته وایه چه د خدای د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوری دکانګرس نه جدا نشي او که نه د کانګرس نه جدا شوی نو بیا پیرنګیان زمونږ
لی له هیڅ نه ورکوي. د دې خبرو نه پس ما ده ته د خپلې صوبې خبرې شروع کړې
رد نه ووې چې دا کوم حقوق چې حکومت مونږ له راکړي دي زه منم چې دا نیمګړي
قص دي او ددې په ذریعه مونږ د خپل قوم او ملک د پاره هغه کارونه نه شو کولی
مونږ زړه غواړي خو بیا هم په دې کښې دومره خو شته که په اتفاق سره مونږ
ښش وکړو نو د پیرنګي په ځای پښتون د دې ملک مالک کیدی شي نو اوس نه
انه پوښتنه کوم چې د پیرنګي په مقابل کښې ته مالک کیدی شې؟ هغه ځواب راکړو
ره نه مالک یم او نه مالک کیدی شم ولې چې زه د پیرنګیانو مقابلې ته تیار نه یم ما
ووې چې بیا ده ستا په پښتنو دا ورځ پیرزو کیږي چې د پیرنګیانو په ځای دې
نه د دې خپل ملک مالکان شي نو هغه ووې چې بې شکه زما زړه هم دغه شان غواړي
ر ته ووې چې دا خو به هله کیږي چې ته بل چا له موقع ورکړې! نو هغه ووې چې
لکل دې ته تیار یم نو ما ورته ووې چې بیا به دا وي چې ته د وزارت نه استعفا
ځکه چې زه دا مناسب نه ګڼم چې اسمبلۍ کښې ستا بر خلاف د عدم اعتماد ووټ پاس
هغه ما سره وعده وکړه او په دې خبره راضي شو چې استعفا به ورکړم لیکن ما ته چې
شوې ده نو سر جارج کننګم ګورنر هغه دې کار ته پرې نه ښودو او دا افسوسناکه
وشوه چې ما د هغې مخه نیوه یعنې په اسمبلۍ کښې د ده په خلاف د عدم اعتماد
اد پاس شو او د عدم اعتماد ووټ پاس کیدو سره د خدایي خدمتګارو
ډاکټر خان صاحب ته د وزارت د جوړولو دعوت ورکړو او د صاحبزاده صاحب په ځای
ي خدمتګارو وزارت جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دخدايي خدمتګارو وزارت،

دوزارت جوړېدلو سلا او مشورې د پاره مولانا ابوالکلام ازاد او بابو را
پرشاد ايبټ اباد ته راغلل دخدايي خدمتګارو اسمبلي پارټۍ په ممبرانو کښې چه څو
دوزارت خواهشمند وو هغوى دخدايي خدمتګارانو په ذريعه دخپلو خواهشاتو دپوره
دپاره کار شروع کړو. ددې ټولو سرغنه ثمين جان وکيل و، دده دپرشوق وجه وزير
دقاضي عطاء الله په مقابله کښې دپرخلک دده په طرف وو او ددې وجه هم دغه وه چه
صاحب دخپل وزارت دپاره کوشش نه کولو او هيچا ته يې ويلي نه وو تر دې پورې چه ما
هم ددې خبرې کنايتاً هم ذکر نه وکړې دخدايي خدمتګارو د مشورې نه پس زه، ډاکټر
مولانا ابوالکلام ازاد او بابو راجندر پرشاد کښيناستو او په حالاتو موغور وکړو ...
رايه وه چه زمونږ صوبه ډېره وړه صوبه ده مونږ له ددې يو يا زيات نه زيات د څلورو
زيات جوړول په کار نه دي. په دې دوران کښې ثمين جان ماله هم راغى او ما ته
چه زه په دې خبره رضايم که چېرې ما او قاضي صاحب پارليمنټرى سکرټريان کړ
يوازې نه قاضي به هم راسره وي داهغه ثمين جان خان دى چه قاضي صاحب دده
ماله د بويلي جېلخانې له راغلى و او دده د پاره يې زمانه مجبوراً د نوښار په خدايي
خطونه واخيستل چه دده مخالفت دې نه کوي په دې وجه دې د اسمبلي ممبر شو چه
په دې پوه شو وزارت په دوو ټوټو نه دى او د وزير اعلى په مرضى دى او بله دا چه ...
پارليمنټري سکرټريانو هم مخالف وم ځکه چه زمونږ صوبه وړه ده د دومره ګنجايش
نشته او نه دومره کار شته نو مونږ دا فيصله وکړه چه ډاکټر صاحب سره دى ...
وزيران وي او په هغه کښې دى يو هندو وي او دوه مسلمانان چه د ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سمبلی ممبران مونږ سره ملګري شوي وو او د صاحبزاده صاحب برخلاف يي
ووټ ورکړې وو نو مونږ ورسره دا وعده کړې وه چه يو وزير به د هزارې وي پاتی
يو وزارت شو نو ډاکټر صاحب قاضی عطاءالله صاحب واخيستو او د هزارې نه يي
محمد عباس خان واخيستو. په هندوانو کښې زما رايه وه چه لاله بنجورام د ډېرا اسما-
عيل خان دې وزير شي ځکه چه هغه د کانګرس زوړ کارکن ؤ او قيد يي هم تېر کړې وو او
ډېر با اصوله سړی و، د مولانا صاحب دوی دا خيال و چه رای بهادر ايشرداس په هندوانو
کښې لايق او بارسوخه سړی دی، دی دې وزير شي ليکن زمونږ د ټولو لاله بنجورام
خوښ وو او هغه وزير مقرر شو. حقيقت دا دی چه کانګرس په بارسوخو رای بهادرانو
پسې ګرځي او مونږ په خدمتګارو پسې ګرځو. کله چه زمونږ وزارت جوړ شو نو زمونږ
دا فکر و چه څومره زمونږ نه کيدی شي خلکو ته فايده ورسوو مونږ په اسمبلۍ کښې دغه
تجويزونه پاس کړل. يو مو ماليه کښې معافی وکړه او بل د کوهاټ، بنو او سروتو خلکو ته
د اوبو ډېر تکليف و د هغوی د اوبو د انتظام د پاره موږ څه روپۍ منظورې کړې. او دا مو
اراده وه چه هر کال به چه څومره کيدی شي د دی خلکو د اوبو د پاره روپۍ منظورو دو تر
هغې پورې چه دا خلک په اوبو ماړه شي. د کوهاټ د کرک تحصيل دا حال وو. چه هلته به
زمونږ ميندو او خويندو د شلو او دوه ويشتو ميلونه د ښځنکلو اوبه راوړلې د وزارت
دا کوشش وو چه د ښځنکلو اوبه په هرې علاقې ته ورسوی او چه کله وزارت د دوه کاله پس
استعفا ورکوله نو هغوی دومره کړې وه چه بيا د دغې علاقې خلک دا تو ميلونه لرې اوبو
پسې نه تلل او اکثرو کلوته خو اوبه ور ورسولی شوی. د اوبو دا مسئله به بيخي حل شوې
وه خو د پښتنو په پرو جنبوا و خودغرضو دا کار تر سره کيدو ته پرې نه ښو، ولې چه هر کلي به ډيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه اوبه اول مونږ ته راکړي. د دی د پاره مونږ وه سرکاري کميټي جوړه کړه او ما پکښې ممبري
د دی د پاره منظوره کړه چه دا د عامو خلکو د فايدې او خير کار دی خو افسوس دی چه
زمونږ د خپلو خدايي خدمتګارو د بې اتفاقۍ په وجه خلکو ته چه کوم قسم خير او فايده
مونږ رسول غوښتل و نه رسولی شوه او هغه کار نيمګړی پاتی شو. کانګرس د خپلو
وزارتونو د پاره دا هم ضروري ګڼله چه د صوبې قانوني مشير يعنې ايډوکيټ جنرل به
د ګورنر په خوښه نه مقررېږي بلکه دده واک دی د وزيرانو سره دي او دغوی چه
د خپلې خوښې نه کوم قسم سړی غواړي هغه دی ګورنر مقرر وی. د بهار صوبه کښې د ګورنر
او وزيرانو په مينځ کښې لويه جګړه شوې وه او نوبت د استعفا ورکولو ته رسيدلی و
د غو ورځو کښې سر سلطان احمد د بهار د صوبې ايډوکيټ جنرال و هغه د سرکار
ډېر خير خواه و او ګورنر نه غوښتل چه هغه دې د دې عهدې نه ليرې کړې شي او وزارت
غوښتل چه دده په ځای خپل اعتباري سړی مقرر کړي په دې باندې د وزارت او
ګورنر ترمينځه جګړه وشوه او چه ګورنر پوه شو چه وزيران په دې خبره استعفا ورکولو
ته تيار دی نو بيا يې د هغوی خبره ومنله، سر سلطان احمد ليرې شو او د کانګرس
سړی مقرر شو. دغه شان زما هم دا خيال و چه زمونږ وزارت دې هم خپل سړی په
دې عهده مقرر کړي په دغو ورځو کښې سردار راجه سنګه ايډوکيټ جنرال و. ډاکټر
صاحب په دې مسئله ګورنر سره خبرې وکړې خو هغه دده ليرې کولو ته تيار نه و. نو راجه
سنګه پخپل ځای ايډوکيټ جنرال پاتی شو، نو نتيجه دا شوه چه زمونږ د وراثت خو کلي
د ډاکټر صاحب او زمونږ نه واخيستل که زمونږ خپل ايډوکيټ جنرال وای نو د پاس
شوی قانوني زراعتي بل مطابق به عمل شوی و زمونږ د صوبې خلکو ته به تاوان نه وی رسيدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ داوراثت به اخیستی شوی نه وُ او مونږ ته به هم تاوان نه دی رسیدلی. زما طبیعت
نه وُ نوزه د خوور خود پاره هواکلی ته لارم دایو ښکلی دارام ځای وو او ما یکښی خوږ ځی
ام وکړو بیا د دی ځای نه فقیرا خان سره د اکوړ د په دوره لارم. مونږ چه په ۱۹۳۰ ع
ل کښی خدایی خدمتګاری جوړه کړه دا تحریک د پښتنو د طبیعت موافق او ډیر زر
پښتنو کښی خور شو خو پیرنګیانو مونږ له موقع رانه کړه د دی نیمی میاشتی پس یې ګرفتار
م او زمونږ قوم او خدایی خدمتګارو سره یې بی حده ظلمونه وکړل خو څومره چه دوی
سم کولو تحریک زیات خوریدلو پیرنګیانو زمونږ دا تحریک د باوونه کړی شو او چه
نږ عارضی سوله د ګاندهی جی او لارډ ارون په مینځ کښی وشوه نو بیا هم مونږ
ګیانو کارته نه پریښود وځای په ځای به یې راته ایک سوچوالیس (د قانون یوسل
لور څلویښتمه ماده) دفعه لګولی وه او په هزاره کښی خو یې مونږ ته ډیر مشکلات
کړی وو نو دلته مونږ په تسلی سره کار نه وکړی بل زمونږ نه د میا احمد شاه د له
جلا شوی وه هغوی هم زمونږ برخلاف ډیری غلطی خبری خوری کړی وی خو
ی هم پخپلو ذلیلو ارادو کښی کامیاب شوی نه وو او س چه مونږ او وه کاله پس
صوبی ته راغلو او د خدایی خدمتګارو وزارت هم جوړ شو نو مونږ د لوی سره د خدایی
متګاری تنظیم شروع کړو، هزاره کښی هم مونږ له د کار کولو موقع په لاس راغله
هغی علاقی دوره می وکړه.

## زمونږ وزیران او پیرنګیان:

څه وخت چه اول زمونږ وزارت جوړ شو نو په نوکر شاهی خلکو باندی که هغه
زان وو او که دلیسیان د وهیبت او ویره راغله، رشوتونه، ظلمونه بند شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن افسوس چه دا حالت تر ډېره وخته پاتې نه شو نوکرشاهي زمونږ وزیرانو سره خلط
ملط شوه او دهغوی د خوی، بوی نه خبر شول او تعلقات یې ورسره قایم کړل نو بیا پخپله
زړه پالیسي روان شول، رشوت خوړل ېږ. ده د وزارت او خدایي خدمتګارۍ تحریک
ته نقصان ورسېد وکه زما په هغه تجویز عمل شوی وای نو د ومره تاوان به مونه وای
شوی زما دا تجویز وچه وزیرانو له د ضرورت نه زیات تعلقات پېرنګیانو سره په کار نه دي
او نه د ضرورت نه زیات هغوی سره خلط ملط کېدل په کار دي ځکه چه زما تجربه ده
چه غلام قومونه د ډېر کمزوري وی او حاکم قوم ته ټینګ نه دي. حاکم قوم کښې یو قسم کشش
وی او محکوم قومونه خود به خو د ځان نه را کاږي. د غه وجه وه چه ما به پېرنګیانو سره
نه لیدل هغوی به زما خلاف پراپیګنډه کوله چه دده د پېرنګیانو نه نفرت دی. زه خو خد
خدمتګار یم او د خدای خدمت خو د خدای د مخلوق خدمت دی ایا پېرنګیان د خدا
مخلوق نه دي؟ او دا نه چه ګوندی په دې کښې یوازې زمونږه وزیران فیل شول، د
امتحان که مونږ کښې په هرچا راغلی وای هغه به یکښې پاتې راغلی ؤ ددی نه هغه سړی ب
کېدی شي چه د دی قسم موقع پېدا کېدونه ځان وساتی ما د ډاکټر صاحب د پاره د پېرنګیا
سره داسې تعلقات ډېر خطرناک ګڼل ځکه چه په هغه د مجلس ډېر اثر کېږي هغه چه د انګلس
نه راغلی ونو په هغه د پېرنګیانو ډېر اثر و پېرنګیان ورته پاک او رېښتوني ښکارېدل
خپل قام خلک ورته دروغجن ښکارېدل. زه دا منم چه پېرنګیان پاک او رېښتیني دي
د خپل قام د پاره، مګر د بل قام د پاره او خصوصاً په سیاست کښې د غه شان نه دي.

## د جواهر لال دوره؛

په د غو ورځو کښې جواهر لال سرحد ته راغی، پنډت جواهر لال چه زمونږ صو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه اول خل راغی نو په ټول ښار کښې مونږ د ده جلوس وکړ خولو، په زرګونو خدائي خدمتګار
ورته هر ځای ولاړ وو او بیا په شاهي باغ کښې یو لوی جلسه د ده په دیناوي وشوه دې جلسې له
سرکارې او قومي ډیر مخلوق راغلی وو قومي نظمونه یکښې وویلی شو سره د دې چه جواهر لال
په پښتو نه پوهېدلو خو د دې نظمونو او د دې نظارې او ماحول نه ډیر متأثر شوی وو دا نظم
چه یکښې وویل شو چه: (زمونږ سرې جامې زړې کړې د خانانو نوکرانو) نو ډیرو خلکو ورته
زړل او چه تهکال له تلونو جلوس کښې یوسکه چه د خدائي خدمتګارو کماندر، و باور دي
مخکښې روان وا و د نعره تکبیر چغې یې وهلې. ما جواهر لال ته ووې چه وګوره دا سکه
ی خو د لته د ومره قومیت او اتفاق خدائي خدمتګارو پیدا کړې دی چه دی د نعره
تکبیر نارې وهي. ډاکټر صاحب بحروجي ته زما د اشکایت وکړو چه دی مونږ د پیرنګیانو
سره د تعلقاتو ساتلو نه منع کوی، جواهر لال ماسره په دې مسئله ډیر بحث وکړو چه دا
خبره د تهذیب نه لرې پرېوتې ښکاری ما ورته ووې چه زه منم ما ته هم دا خبره ښه نه ښکاري
ی خو دې کښې دومره فایده نشته لکه چه څومره یکښې نقصان دی نو مونږ به هغه تهذیب
کړو چه په هغه زمونږ قوم او ملک ته نقصان رسېږي لیکن هغه زه په دې خبره مجبوره کړم
ماله په دې معاملاتو کښې دخل کول په کار نه دی. نو ما دا خبره غلې کړه چه کله به زه پښنوی
لادم نو ما به کتل چه یا به ډاکټر صاحب د پیرنګیانو مېلمه وا و یا به پیرنګیان د ده مېلمانه
. د ده او د پیرنګیانو تعلقات دومره زیات شو چه حکومتي کارونه خو پرېږده هغوی
مونږ کو. نو معاملو کښې هم دخل شروع کړو د پیرنګیانو او د خپل قوم په باره کښې د
کټر صاحب هم بیا هغه زړه رویه شوه چه په ډیرو کوششونو بدل کړې شوی وه خبره
وه چه د ډاکټر صاحب دا رایه وه چه پیرنګیان عموماً او ګورنر خصوصاً د وزارت سره ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلقات وو او زمونږ سره يې ډېره هملرډي وه او دده وروړ محمد ظفرخان زمونږ
ذمه دار خدايي خدمتګار و. د دوی ټول خاندان زمونږ تحريک کښې ډېر چا په وړاندې
وو او د نورو وکيلانو په شان چالاک او ډېر وغجن نه و ما دا غوره وګڼله چه د محمد نواز
خان نه حقيقت معلوم کړم ماوې چه دی پوه نه شي او حقيقت معلوم شي. خير زه دده
خاى له لاړم ورسره کښېناستم خبرې مو شروع کړې اخره کښې مې ترې د دې خبرې
پوښتنه هم وکړه چه تاله خولي هم د مسلم ليګ دعوت درکړی دی هغه وې هو اخو چه
ورو سته يې فکر وکړو نو بيا پښيمانه شو خبره يې د خولی نه وتلې وه چه لړ فکر يې وکړو
نو راته يې ووې چه ما باندې خو دې چل وکړو زه واپس پېښور ته راغلم او ډاکټر صاحب
مې د دې خبرې نه خبر کړو حقيقت دا و چه د دې قسم خبرو کښې خدايي خدمتګار و ته
هم قصور و ډېر داسې خدايي خدمتګار وو چه وزارت ته يې غلط خبرونه رسول او
په دې وجه د ډاکټر صاحب عقيده به دې تينګه شوې وه چه دوی ټول ډېر وغجن دی
مګر په خدايي خدمتګارو کښې ربښتيني خلک ډېر وو خو ډېر وغجن پکښې وو د هغوی به
وجه ربښتيني هم د شک نه خلاص نه شو. زمونږ چه حکومت جوړ شو نو مونږ له نوي
خلک راغلل او مونږ به خدايي خدمتګارۍ کښې واخيستل دا خلک د خدمت د
پاره نه بلکه د اقتدار او دولت د پاره او هم د خدايي خدمتګارۍ د بدنامولو د پاره
په جماعت کښې داخل شوی وو دا زمونږ نه لويه سهوه او غلطي وشوه چه دغه خلک
مونږ په خپل جماعت کښې واخيستل په کار دی چه کله زمونږ جماعت اقتدار ته ورسيد
نو دغسې تماشبين خو دغه نه او ابن الوقت کسان د ې خپل جماعت کښې د څه مودې
د پاره نه اخلی او چه بيا کله يې اخلی هم تحقيق به کار دی چه داسې خلک وا خيستی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هغوی حقیقت کښې د خپل غرض د پاره نه د قام د خدمت د پاره پا ړ نه راغلي زمونږ د صوبې د گورنر جارج کنگم په باره کښې د ډاکټر صاحب عقیده وه چه دی د پېر ښه سړی دی او هغې خپل دوست او مرد گڼلو د هغه دې عقیدې سره زما اتفاق نه وو زه منم چه کنگم د پېر ښه او هوښیار سړی وخو د پېر ښه پېرنګی هم زمونږ د پاره ښه کېدې نه شو ولې چه زمونږ او د هغوی قامی مفاد بېل وو.

## د گاندهي جي دوره :

او س صوبه سرحد کښې خپل وزارت و، په راتلونکې بنديزنه د گاندهي جي هم په ۱۹۳۸ع کال کښې راغی د هغه هرکلی او استقبال چه په کوم شان وشو هغه يو تاريخي حيثيت لري. کوم څيز چه په گاندهي جي د پېر زيات اثر کړی وهغه د پاور دی خدايي خدمتگار و هغه نظم و ضبط و چه هغوی څومره په خاموشي حوصله او انتهايي وقار دا د ذکر کولو. لکونو خلکو جلسي او جلوسونه سمبالول گاندهي جي وليدل چه څومره په مينه او اخلاص خدايي خدمتگار خپل جلوسونه او جلسي منظم او قابو ساتي او دا يې هم وليدل چه په جلسو او جلوسونو کښې او لسونه څومره په جوش او بې باکه مننه د خدايي خدمتگار و سره تعاون کوي. د گاندهي جي عوندی گرځنده او جهان ديده قامي او اولسي مشر هم په دې مجبور شو چه ولي ويل: «ماچپل ژوند کښې داسې خاموشه او منظمې جلسې د پېرې کمې ليدلي دي» او خکه د گاندهي جي دا اميد پيدا شو چه د دې د رنو او تورزنو پښتنو په ذريعه د خپل ژوند ون مقصد حاصل کړي او لکه وايي هد زما د عادت چه پښتانه دې نه يوازې دا چه هندوستان له ازادي وگټي بلکه د دغه ازادۍ په برکت تولې دنيا ته د عدم تشدد دا زرين اصول و رمعرفي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاندهي جي به مونږ سره خندل چه دښمني ته له شپه ما په ګاډي کښې تګې خوب نه دی کړې ولي چه د پنجاب په هر ټېسن به مخلوقات راغلل دا ټېل او دېکي به وې او چغې سورې او کړېکي به وې. ګاندهي جي په غوږ ونو مالوچ تومبلي وو، په دې لړ کښې ما ته د جواهر لال نهرو هغه خبره را یاده شوه چه کله هغوی په اول ځل د صوبه سرحد په دوره راتلل هغه ویل چه د پنجاب په ټولو ټېسنونو کښې ټوله شپه خلکو چغې وهلې وې او مونږ لې تګې خوب ته نه پرېښو لو هغه نهرو جي خپل انداز کښې ویل چه د سرحد بو سرې دا کوشش و چه زما غوږ له خوله راورسوي او د انقلاب زنده باد چغه پکښې ښه په زوره ووهي لکه چه د دې خلکو دا خیال وي چه د جواهر لال په غوږ کښې په چغه وهلو به انقلاب راشي خو هغه ویل چه په ټېسن کښې کاډې د دربلو او مــا بیا دې چغو او کړېکو ته خان تیار ولو چه کړکۍ نه مې سر بهر کړو نو څه ګورم چه د ټېسن دیوسرنه تر بل سره پورې په پلیټ فارم د سرو جامو خدائي خدمتګار ولاړ دي نه ټېل شته نه کړېکي نه دېکې شته، نه چغې. نه غوبل شته، نه داندل يو مشر ماله راغی راته یې ووې: «مونږ ستاسترې مه شې ته راغلي یو او تا ته هر کلی وایو». زه ورګوز شوم هغوی ټولو ما ته په شریکه د باجو سره سلامي وکړه، جواهر لال ووېل چه زه دومره متاثر شوم چه زما غوني زيګ زيګ شوا و بیا لي میا افتخار الدین ته چه هغه وخت د پنجاب کانګرس صدر و مخ کړلو ویې ویل: «همیں کسی کے بتانے کی ضرورت هی نه پڑی که هم شریف پٹھانوں کی دیس میں پنچے هیں» یعنی مونږ ته د دې وېنا ضرورت نه شو چه چا راته ویلي وې چه مونږ د شریفو پښتنو خاوري ته راورسېدو.

ګاندهي جي چه د سرحد په دوره راغی نو اوله عامه جلسه په چارسده کښې منعقده شوه فدا عبدالمالک صدر او اتحر کل سالار و دوی چه څرنګه خدائي خدمتګار وو او څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت یې کړې وا او بیا یې چه څرنګه د کار خلک پیدا کړي وو نه داسې کار چا په صوبه کښې کړې او نه داسې خلک چا په صوبه کښې پیدا کړي وو ګاندهي جي چه جلسې له راغی په جلسه کښې به زر ګونو خلک ناست وو د هغوی په راتلو یو سړی د خپله ځایه ونه خوزېدو. د ګاندهي جي موټر راغی سټېج سره ودرېدو مونږ د موټر نه راکوز شو، موټر لاړ. مونږ سټېج ته وختو هلته جلسه شروع شوه، خلک خاموشه ناست وو تقریرونه یې اورېدل ګاندهي جي د دې جلسې نه ډېر متاثره شو او چه تقریر له پاڅېدو نو ویې وې چه زه په ډېره دنیا کښې ګرځېدلی یم ډېرې جلسې مې اېدلې دي خو ما داسې د سپلین او داسې جلسه لیدلې نه ده او بیا چه تلو نو چه څرنګې راغلي وو هغسې لاړل موټر سټېج له راغی دې پکښې کښېناستو چه دې لاړ نو جلسه خوره شوه نه مخکښې او نه څوک وروسته خوځېدلی دي. زمونږ د چارسدې یو خان و هغه به وې چه زه په داسې یوه ډله کښې نه شریکیږم چه د کومې ډلې مشر چه بنجاړې او قصاب او شاخیل وي. زمونږ مشرې په خانی نه وه په خدمت وه. زمونږ داتمانزو جرنیل شاخیل و زیاړنګل نوم یې وو، د دوی ماتحت ډېر خانان، اربابان، میاګان او ملایان وو، د دوی حکم به یې لکه د تنخوا دار و نوکرانو په شان منلو او د ایوانې د دوی نه و د هر افسر چه هغه به هر څوک و، په خدایي خدمتګارو کښې یوه ښکلې ورورولي وه محبت و او هر کار د ته به چه مقرر شو هغه به یې په مینه محبت کولو. ګاندهي جي د تولې صوبې دوره شروع کړه، د پېښور نه پس مونږ کوهاټ ته روان شو چه درې ته ورسېدو نو ډېر افریدي د هغه استقبال ته راټول شوي وو پکښې څه هندوان وو دا هغه هندوان وو چه د غه ازاده قبایلي علاقه کښې اوسېدل او د کانونه یې کول ما ګاندهي جي ته ووې چه دوی نه تپوس وکړه چه په دې ازاده قبایلي علاقه کښې ستاسو مال، ځان او عزت محفوظ دی؟ دلته هم چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تاسو داکې پرېوځي نو ګاندهي جي ترې تپوس وکړ، نو هغوی ورته ووې چه زمونږ هر څه محفوظ دي او چه څوک په مونږ زور زياتي کوي نو دوی د هغو مقابله کوی. ما ورته ووې ګاندهي جي! هغه ټولې داکې سياسي داکې دي د پېرنګيانو په رعيت کېږی او تاسو پرې وېرېږی ولې. زمونږ د داړو، زمونږ ګاډی به هغه چلولو. ولې د پرېنه د داړور دی. چه کوهاټ ته ورسېدو نو د ګاندهي جي استقبال ته ډېر خلک راغلي وو بيا لويه جلسه وشوه بيا د دی ځای نه بنو ته لاړو بيا ډېره اسماعيل خان ته لاړو، د هغه ځای په پېښور ته راغلو او د پېښور نه مردان ته لاړو او بيا د مردان نه هزارې ته لاړو، او بيا د هزارې نه ګاندهي جي هندوستان ته روان شو. ګاندهي جي د خدايي خدمتګارو د ډسپلين او عدم تشدد نه ډېر خوشحال و.

د سرحد د خلکو سره د ګاندهي جي ډېره مينه محبت وه چه ما سره يې وعده کړې وه چه که ته وايې نو زه به شپږ مياشتې په صوبه سرحد کښې او شپږ مياشتې په سيوګرام کښې تېروم. سردار پټيل سرحد ته د ګاندهي جي په راتلو خفه و او په دې خبره يې ورسره هميشه اختلاف کولو. سردار پټيل دا نه غوښتل چه ګاندهي جي سرحد ته لاړ شي د پټيل دا کوشش وه چه مسلمانان په کانګرس کښې رانه شي، کانګرس کښې يو سړی وه چه هغه مسلمان وخوده ته هندو بنګاډيل و نو هغه ته يې ويلي وو چه پام کوه دا مسلمانان درنه کانګرس ته رانه شي.

ګاندهي جي ته د صوبه سرحد وکيلانو او بيرسټرانو د ډاکټر صاحب په بنګله کښې يوه سپاسنامه د سردار عبدالرب نشتر په ذريعه پېش کړې وه او په هغې کښې يې ورته ليکلي وو چه مونږ په دې فخر کوو چه ته زمونږ هم پېشه يې يعني وکيل يې. ګاندهي جي ورته ډېر مزيدار جواب ورکړو چه: زه ستاسو هم پېشه نه يم دا ځکه چه پېشه نه ده د کوم وخت نه چه ما د خداى د مخلوق خدمت شروع کړې دی نو دا پېشه مې پرېښې ده تاسو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په کار دی چه دا پیشه پرېږدې او د ملک خدمت ته ملا وتړې .

زمونږ د وزارت قایمیدو لږ ه موده شوې وه چه په ډېلي کښې ګورنر یو سرکاري دعوت (ایټ هوم) راغی څنګه چه په دې کښې د شرکت د پاره نورو خلکو ته لیکل شوي و په دې کښې ډاکټر صاحب له هم دعوت ورکړی و . په دغو ورځو کښې په کلکته کښې د کانګرس ورکینګ کمیټۍ جلسه وه زه هغې له تللم ډاکټر صاحب ما سره دا خبره وکړه چه مونږ د ګورنر په دې ایټ هوم کښې شریک شو که نه ؟ ما ورته ووې چه د کانګرس وزیران په هیڅ قسم سرکاري دعوتونو کښې شریکیږي نه شي . هغه ووې چه ښه به داوي چه د ګاندهي جي نه تپوس وکړې . او بیا ماله تار راکړې . که چیرې دده اجازه وي نو په هغه تار کښې صرف «هو» ولیکه او که نه وي نو صرف « نه » ولیکه . زه چه کلکتې ته ورسیدم او د ګاندهي جي نه مې پوښتنه وکړه هغه ووې چه د غه رنګ سرکاري څیزونو کښې مونږ نه شریکیږو نو ما ډاکټر صاحب له د « نه » تار ورکړو خو وخت چه ډاکټر صاحب ته تار ورسید نو هغه ګورنر د دې خبرې نه خبر کړو او ګورنر دا خبره پټه نه کړه او په « ایټ هوم » کښې د ډاکټر صاحب خلاف ډېره پراپیګنډه وکړه . ملک خدا بخش ته یې د خلکو په مخکښې ووېل چه ډاکټر صاحب خو شرکت غوښته خو ډېره نه ورله تار راغی نو ځکه شریک نه شو کله چه زه واپس راغلم او د دې خبرې نه خبر شوم نو ډاکټر صاحب ته مې ووې چه دا سړی ستا دوست نه دی او دا خبرې د دوستۍ نه دی بلکه د شرافت نه هم لیرې دي مګر د ډاکټر صاحب داسې طبیعت وو چه دا رنګه خبرې به هغه ته لږې ورځې یا دې وې بیا به ترې نه هیرې شوې .

په کلکته کښې سوباش چند ربوس او د هغه ورور سرت چند ربوس د ورکینګ کمیټۍ د ممبرانو د پاره ډېر ښه انتظام کړی و او د هر سړي د ارام او خوشحالۍ فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



به بي ساته ګاندهي جي يي پخپل کور کښې ډيره کړي وه. زه يي ډيره پرلوي تعلقدارسره ديره کړې وم او دغه شان د نورو ممبرانو حال وه. د ګاندهي جي به بي ډېر خدمت کولو. زه ګاندهي جي سره ناست وم چه سوباش بابو هم راغی دی د خپلی ناجوړتيا نه پوره جوړ شوی نه وه او ګاندهي جي ورته ووې چه ته خو لا پوره جوړ شوی نه يي نو د کانګرس صدارت خو کولی نه شې. ده ووې نه جي! زه خو اوس ډېر ښه يم او دغه کار کولی شم، زه پوه شوم چه دده دا دومره داروملار ددی خبری د پاره دی چه په جلسه کښې د ورکينګ کميټۍ ټول ممبران دده تجويز پاس کړي. لالی په هغو ورځو کښې دانټرنس امتحان نه وو ورکړی او په وارده کښې د جمنا لال جي بجاز چه اجلاس له راتلو نو لالی بي خان سره راوستی وه. لالی سره يي ډېره مينه کوله او په ډېره زوره يي ماته ايله ديوی شپې د پاره پريښې وه. د جلسې د ختميدو نه پس هغه ګاندهي جي سره وارد ی ته لاړو او زه خپلی صوبې ته راواپس شوم.

## وزارتونه او خدايي خدمتګار:

مونږ خو وزارت ددی د پاره اخيستی وه چه خپل جماعت مضبوط کړو او د پيرنګی د لاکمزوری کړو، ددی د پاره په سرحد کښې موهغه ټول انعامونه بند کړل چه د سرکار له طرفه به خلکوله ورکيدی شو ولی چه په دی صورت به دی خلکو د ظلم ته په د خلکوله بيت المال نه اخيستی او خدمت او تابعداری به يي د پيرنګيانو کوله او دغه شان انريری مجسترېټی موهم ماتي کړې او ضلعداری موهم ماتی کړې. ځکه چه دا ټول خلک د پيرنګی د لاس بل کار موداو کړو چه غريب خلک مو د ملکانو د ځوکيداری نه خلاص کړل چه په دی وسيله نه هغوی به خلکو ډېر زياتی او ظلمونه کول. زمونږ دا هم اراده وه چه د کلو نمبردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هم مات شي خکه چه داهم د پیرنگي یوه مضبوطه دله وه ، مونږ غوښتل چه دهغوی په ځای دی د ماليي د تولولو د پاره په هرتحصیل کښي نایب تحصیلدار مقرر شي ، مګر په دی کښي کامیاب نه شو خکه چه زمونږ د اسمبلي ځیني ممبران پخپله نمبرداران وو دا زمونږ د غلط انتخاب نتیجه وه او دا ینده له پاره مونږ له ددی نه سبق اخیستل په کار دی بله داچه د کوهاټ د تیري ریاست په خلکو دوه ظالمانه ټیکسونه وو چه هغه ته به بوا او تیرنی ویلی شو ، په اسمبلي کښي د هغه د لیري کولو د پاره قرار داد پاس شو .

یوه بله عجیبه خبره د رته وکړم ، یوه ورځ زه او قاضي صاحب په ایبټ اباد کښي مازیګر په سیل ګرځید و مونږ ولیدل چه زمونږ نه وړاندی جینکی دي او ورپسي هلکان دی ، داما ته بده ښکاره شوه ، ما قاضي صاحب ته وویل چه ستاسو دوزیرانو دوموره اختیار شسته چه ددی مخنیوی وکړی خکه چه داخو زمونږ بچي دی ، ددوی عزت زمونږ عزت او ددوی بي عزتي زمونږ بې عزتي ده قاضي صاحب را ته وویل چه مونږ قانوناً دوموره اختیار نه لرو ، ما ورته وویل چه مونږ د خپلو لونو ، خویندو او میاندو د عزت حفاظت نه شو کولی نو د داسي حکومت نه څه فایده . تعلیم کښي هم څه نه څه ترقي وشوه په اخر کښي سکولونه پرانستي شول او هغه کښي کافي برخه د جنکو د پاره وه او څومره چه مونږ غوښتلو هغومره تعلیم خوریدی نه شو خکه چه ددی د پاره په بجټ کښي لږ رقم مقرر شوی وُ چه د هغه زیاته برخه به د محکمي په خرڅولګید له مونږ هغه کښي هم څه بچت وکړو ، دانګریز د وایو کښتر په ځای مود دیسي سړی ولګولو او د انسپکټر عهده مولیری کړه نور هم په کښي ګنجایش وه مګر د هغه اصلاح زمونږ دوسي نه بهروه . د تعلیم په باره کښي چه کوم زیاتي د پیښتنو برخلاف پیرنګیانو کړی دی هغه بي په هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د بل چا سره کړې نه دي. د پښتنو د بچو د پاره د دې بې کاره تعلیم یې هم ډېر لږ
انتظام کړی وو او د جنګو د تعلیم طرف ته یې اوڅه توجه نه وه کړې بله د ښمني د پښتنو
سره دا کړې وه چه ابتدائي تعلیم یې په مورنۍ ژبه نه وه او په پردۍ ژبه کښې وُ پښتنو
د خپلو بچو د پاره د خپلو مدرسو د جوړولو کوششونه به وکړل او مدرسې به یې جوړې
کړې. مګر حکومت د دې په ځای چه هغوی سره امداد کړې وای د هغه مخالفت به
یې کولو او د هغو د بندید و کوشش به یې کوو. زمونږ وزارت دا قدم هم اوچت
کړو چه په ابتدائي مدرسو کښې یې پښتو ژبه لازمي وګرځوله او بل طرف ته زمونږ
قوم تول عمر د بلې د پړق د لاندې تېر کړې وه هغوی اختیارات لیدلي نه وو او نه ورته
دا معلومه وه چه اخر زمونږ اختیارات څومره دي مونږ د وه انیز کلې و او قوم
د وړې غوښتله او دا هم پرېږ ده چه د جایز او ناجایز هیڅ قسم تمیز نه وو او د هر
سړي دا خیال وه چه لوټ دې نو ره وکړو او زه پاتې شوم نو ر قوم خولا پرېږده د
د خدائي خدمتګارو هم دا حال وه چه هر وخت به د وزیرانو په بنګلو کښې ناست وو
تانې او تحصیلونه د دوی نه خالي نه وو او د هر یو به چه څه وي که هغه به وشو خو به
او که هغه به ممکن نه وو نو بیا به یې د وزارت برخلاف پراپیګنډه کوله چه د غریبانو
خلکو د پاره څه و ستا او مخالفینو به هم پرې مالګه، مرچکې دوړول. بیا به یې
کلو کښې پراپیګنډه کوله چه د خدائي خدمتګارو او غریبانانو هیڅ ونه شو په د غه
طریقه د غونا دانانو دوستانو خپل تحریک ته نقصان ورسولو ما چه به د خدائي خدمتګارو
دی کار ته کتل نو حیرانېدم به او د ځان سره به می وې چه خدایه دا هغه خلک دي
چه دوي خدای سره وعده کړې وه چه مونږ به ستا د پاره د خپل تمام او ملک

خدمت کوو لغیر د څه لالچ نه د ډیر افسوس خبره خولا دا وه چه څه وخت به یو ملامت
و یا یوه وظیفه وه نو دهغی د پاره به سلو خدایي خدمتګارو درخواستونه ورکړي وو
خو وظیفه به یوه وه یو سړي له به ورکړ شوه هغه به هم خدایي خدمتګارو دا نو د یو کم
سل خدایي خدمتګار به ټول خفه وو، او د وزارت او دخپل تحریک برخلاف به لي
خای پراپیګنډه کوله او تشه پراپیګنډه نه وه. کنځل او بد ویل به هم ورسره و.

کومه ورځ به چه د نوکرو د پاره د مقابلې امتحان د نو عجیبه نظاره به وه په
سو نو امیدوار به وو او هر یو امیدوار به د سفارش د پاره جرنیلانو، کرنیلانو
ان او ناظمانو ته راغلي وو عجیبه خبره خو لا دا وه د هغو کسانو د زامنو د پاره به
هم سفارشونه کول چه پلرونو یې د حکومت د پاره دوی سره ډیولي وو او شه مولي
و او په موجوده وخت کښې هم د پیرنګیانو ملګري وو. ما ته به د خدایي خدمتګارو
سې کارونه ډیر بد او مکروه ښکاریدل که د امیدوار به څه وشو او که نه د دوی
به وشو په موټرو کښې به ورګرځیدل چای، ډوډۍ به یې وخوړل او پالوده پرې
پاسه. په دې کښې بل لوی نقص دا و چه ټول کسان خو به نوکران کیدې نه شول نو
هغو کسانو او د هغوی خپلوانو به خدایي خدمتګارو ته پیغورونه کول چه لجیلخانی
سو تیری کړې او فایدې د نورو خلکو دې ستاسو کښې څه وشو؟

زموږ د وزارت نه یوه لویه غلطي دا هم وشوه چه د سرحد هغه وحشي او ظالمانه
نون چه موږ ټولو ورسره مخالفت کړې وا او زموږ ټول عمر پیرنګیانو په دې قانون
ې ګرفتار کړي او قید کړي وو، دې وزارت اول دغه سرحدي قانون مات
و. هغه پیرنګیانو زموږ د وزارت په ذریعه بیا واپس جاري کړو جماعت سره یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه سلا او مشوره څه چه زه یې هم خبر قدری نه کړم . حال هم دا چه په کار ده چه داسی
نه وای شوی د جماعت نه تپوس شوی وای او که چیری د جماعت رضا نوی نو دوی ته ا
هیڅ حق نه و چه هغه مړ قانون یې بیا ژوندی کړی وای . په دی قانون یو څو د پیر نګیانو
اقتدار زیات شو ځکه چه په جرګو کښی د مقرری او په طمع خلک ورمات شول او سلامو نه
یی شروع کړل اول زمونږ د پیر خلک د سرحدی قانون په ذریعه حکومت قید کړل او بیا
خو مونږ هیڅ ویلی نه شول ځکه چه دغه قانون مونږ پخپل وزارت کښی اجرا کړی وا او
زه ټول عمر پیر نګیانو په دی قانون کښی قید کړی یم او بل طرف ټول سرکاری نوکرانو
زمونږ برخلاف یوه منظمه پراپیګنډه د خپلو افسرانو په لارښونه شروع کړه ، دوی
اوو دوزارت څه پروانه کوله او نه یی څه کمل د پیر ځله ماسره په خپل ځان د پروسر کاری
ملازمانو د خلکو په مخکښی د خدایی خدمتګارو برخلاف قصی کړی دی . دغه شان
زه یو ځل سره د عاشق شاه باچا د مومند و د کوه دامان په دوره وو . د هغی علاقی
تامیدار به مونږ سره وه او هغه به زمونږ برخلاف پراپیګنډه کوله او خلکو ته به یی دیل
چه باچاخان خو غوا نه حلالوی ان تردی چه په یوه لویه جلسه کښی ځینو کسانو د ده په
لمسه شور جوړ کړو او زما د تقریر په دوران کښی یی رانه دا سوال وکړو چه ته غوا حلا
لوی ما ورته وی چه زه خو قصاب نه یم او مسلمانانو خو څه په غوا حلالو باندی نه د
دا قصه ډاکټر صاحب او نورو وزیرانو ته ورسیده اول خو ډاکټر صاحب د عاشق شا
باچا په خوله یقین نه کولو او چه یقین یی وشو نو بیا یی هم د هغه تامیدار څه ونه کړی شو
دا خو پریږده زمونږ کلی کښی د جواری پړو ډاکټر صاحب دری ځله پخپله ددی
پر بندولو د پاره راغلی ولیکن بند نه شو ځکه چه دا خو د پولیس کار و او پولیس مل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کولو هغوی خو به یکینی حصه اخیستله . ډاکټر صاحب پخپله یو سړی په رشوت
نیولی و په هغه مقدمه چلید له خوا خو مجبوریت بری کړو . حقیقت دا وو چه سرکاری فتران
د صوبی د وزارت نه نه وو بلکې ولی چه د دی هغوی له منځه نه شوه ورکولی ، چه کوم سرکاری
افسر به وزارت نا رضا شو او دغه له دسنا ورکولو اراده به یې وکړه ، نو ګونډونو اولوی انګریز
افسرانو به دغه افسر سمدستی د صوبی په خوا کښې ایجنسو ته بدل کړو او په دی طریقه به هغه
د سنا نه بچ شو . نتیجه دا شوه چه سرکاری افسرانو د وزیرانو په ډاکه حکم عدولی کوله او د
هغوی سره یې د هیڅ قسم تعاون نه کوو . د دی تولو خبرو د پاسه د ډاکټر صاحب خیال و
چه سرکاری افسران د هغوی وزارت سره تعاون کوی . په خوشدل کپتان د ونو د پټولو
مقدمه جوړه شوه او بد یکینی ذاکیر شو نو کورنر راغی او ډاکټر صاحب ته یې وویل چه
دا سړی به زه د دی ځای نه بدل کړم خو دا مقدمه ترې واپس کړه ډاکټر صاحب ته خپلو
ملکرو ویلی وو چه ډاکپتان ډیر خراب سړی دی ده به خدایی خدمتګارو ډیر ظلمونه کړی
دی وهلی یې دی ، شرمولی یې دی ، بیګناه یې قید کړی دی . خو ډاکټر صاحب عجیبه سړی
و ، د دی تولو خبرو د پاسه هغه یې د ګورنر په خوله بدل کړ . دغه خیال زمونږ او زمونږ
د تحریک د پاره ډیر خطرناک و او دغه وجه وه چه د حکومت ملازمانو زمونږ تعاون
نکړو او انګریزانو به چه څه ورته ویل هغه به یې کول او د دی ملازمانو دا یقین وچه واک
اختیار د دوی نه بلکه د انګریزانو دی دغه شان زمونږ د اسمبلی ممبران او د دستورکیټ
بورډ ممبرانو هم دا خبره هېره کړه چه مونږ د قوم په ووټ منتخب شوی یو او هر څه
چه کوو به کار دی چه د قوم د پاره وکړو . عجیبه خبره خو لا داوه چه په د ستورکټ بورډ کښې
ونورو ځایو کښې چه به کوم سړی د دوی مشر مقرر کړو هغه به په دیانتداری سره کار کاوه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو اصولو پابند به وا او ددوی ناجایز سفارشونه یی نه منل نو دوی به دهغه د غوڅولو کوشش کولو. لویه د افسوس خبره داوه چه د دوی خپل خدایی خدمتګار ورور د دوی سره به یی په یوه کلهی قید و نه تېر کړی وو د هغه په ځای به یی هغه سړی له دوټ ورکولو چه خدایی خدمتګار به نه و د نیای مار به ځو به ده به یی غوړی زیړی وهلی او دده خوشامندی به یی کولی. د جګړاخان په دوی غوړی زیړی وهلی وی او بله داچه دی خود پیرنګیانو د نیای ماروو، هغه زمونږ خدایی خدمتګار نه و خو تول دهغه ملګری شول او هغه یی د خپل خدایی خدمتګار د په مقابله کښی کامیاب کړه. وزیرانو به هم چاسره سلا مشوره نه کوله هغوی زمونږ دی ورونو داسی واړه خطا کړی او چه خپلو کښی هم د دوی سلا مشوره نه وه او نه د اصولو پابندی وه. والیسرایی اعنی دوی دهغه هرکلی وکړو او بیا دوی کښی ورسره ډاکټر صاحب شریک شو مانه د کانګرس دهای کمانډ نه تا دراغی چه داخه مو وکړل؟ دغه شان زمونږ د اسمبلی په ممبرانو کښی هم د لې جوړی شوی وی په دستر کټ بورډونو کښی هم پری جنبی وی دخدایی خدمتګارانو هم دغه حال و نور خولا پرېږده چه د ډاکټر صاحب او قاضی صاحب په مینځ کښی دکلی کهری ارباب عبدالرحمان خان او میا جعفرشاه سخت اختلاف پیدا کړی ؤ. ډاکټر صاحب او قاضی صاحب زمونږ ډېر ذمه دار خدایی خدمتګاران وو او دوزارت نه مخکښی د دوی یو بل سره ډېره مینه محبت، ورورولی او ښه تعلقات وو. زمونږ چه به په ملک کښی دوره کوله نو زمونږ خلاف به پیرنګیانو پراپګنډه کوله او ملایانو ته به یی ویل چه دوی بالشویک دی. دوی مذهب ورکوی او تاسو ورکوی او خانانو، ملکانانو ته به یی ویل چه دوی خوستاسو نه هرڅه اخلی او غریبانانو له یی ورکوی. ملایانو زمونږ سره ذ بښتینی ولی نه کوله او د هغوی یی منل. او د هغوی خبرو پسی تلل. ولی خانان او ملکان بیه راتلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ مونږ په بې پې تپوسونه کول، زه د دواوي په دوره وم چه د غلته خه خانان او ملکان را غلل او زمانه یې تپوس وکړو چه مونږ ه او روچه تاسو زمونږ نه جایداد او نه اخلئ او غریبانانو له یې ورکوئ، ما ورته او وئیل چه مونږ له خدای داسې ملک راکړی دی چه د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی، که مونږ ازاد شوا و دا ملک زمونږ شي او مونږ ملا وتړو، دا ملک اباد کړو، نو څوک به غریب پاتې نه شي، مونږ به تول خانان شو زمونږ ه دا اراده نه ده چه ستاسو نه جایداد او ملک واخلو مونږ خو ستاسو حالت هم ښه کول غواړو او د وږی مړول غواړو، که دا وږی ماړه شي نو تاسو ته څه تاوان دی، که تاسو د پیرنګیانو ملک ته لاړ ئ نو هلته نو خلک خو پرېږده د مزدورانو بنګلی او موټرونه دو او ستاسو نه تپوس کوم چه ستاسو موټر شته، بنګله شته؟ که زمونږ تحریک کامیاب شو نو د ملا حالت به هم ښه شي او د خان او ملک حالت به هم ښه شي، مونږ دا هڅه چه کوو نو د خان د پاره نه کوو، دا د دی قوم او ملک د پاره کوو.

چه مونږ د صفایي کار شروع کړو او کلو ته تلو جارو کانی به راسره وې، جماعتونه، حجرې اولارې، کوڅې به مو جارو کولې، نو د پیرنګیانو ایجنټانو به خانانو، ملکانانو او ملایانو ته وویل چه د دوی د دی جارونه مطلب دا دی چه په تاسو جارو دوراشي او دا ملک د غه شان ستاسو نه پاک شي خو زمونږ په کوشش قوم کښې رود ولی، عزیز ولی، قام ولی او سیاسي شعور پیدا شوی و، نو چه څو مره به دوی زمونږ خلاف پراپیګنډې کولې هو مره به په قوم کښې مونږ سره د خلکو همدردی زیاتیده، ولې چه هغوی به لیدل چه مونږ خو د هغوی خدمت کوو او د هغوی د حق د پاره پیرنګیانو سره په جګړه یو، تکلیفونه، مصیبتونه او جیلخانې تیروو، خلکو به وئیل چه جیلخانې دوی تیروی او حق زمونږ د پاره غواړي، د غه وجه وه چه د قوم او خلکو مونږ سره ډیره همدردی وه، خلکو ته معلومه وه چه د "۱۹۱۹ع اصلاحات" هندوستان نه قبلول، هغوی وئیل چه لږ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي دغوي به مرجد نوابانو، خانانو، صاحبزادګانو، سيدانو او وزيرګانو دا اصلاحات غوښتل خو پېژنګيانو نه ورکول. ورته يې وئيل چه تاسو پښتانه په حکومت ځه پوهېږئ؟ تاسو ځنګليان خلک يئ دا اصلاحات خو دوی (خدايي خدمتګار و) مونږ له ګټلي دي. بيا دی قوم نه معلومه وه چه دا ووټ خو باچاهي وه. خلکه چه حکومت په ووټ جوړېږي او ووټ راله دوی ګټلي دي.

حقيقت دا دی چه زمونږ تحريک ته د هر نقصان اقتدار ورسولو. دا خو د غزنه خلک دا اقتدار په انتظار کښې وو چه اقتدار دا غلي. نو دوی به مونږ کښې را ننوتل. دوی خو خدمت له نه راغلي اقتدار پسې راغلي وو، نو مونږ کښې يې دغې خيل اقتدار د پاره پړې جنبې پيدا کړې. اقتدار خراب شي نه دی مونږ هم چه کوشش کوو دا اقتدار د پاره کوو. خو اقتدار د حکومت د پاره نه، د خدمت د پاره زمونږ د خدايي خدمتګار و خو دا قاعده وه چه مونږ به د يو کار د پاره خوک مقرر ولو، نو مونږ قول به دا غونډ شو. ما به ورته او وئيل چه دا کار دی او ده د کار د پاره مونږ له يوسړی په کار دی، تاسو يوسړی خوښ کړئ چه ده دی کار د لايق وی او ما ته يې راکړئ. هغوی به يوسړی خوښ کړو او ماله به يې راکړو. دا سی به په دې کار کښې نه د چاخفګان وو نه ګيله، نه مخالفت. مونږ په ټولانه کښې د خدايي خدمتګار و صدر انتخابوو، اول خان صدر منتخب شو، هغه ماله راغلی ما ته يې او وئيل چه باچا خانه زه خو خدايي خدمتګار زه که صدر يم هم به خدمت کوم او که صدر نه يم هم. زمونږ مولوی صاحب په صدارت خوشحاله نو خو ښه دی ځه ده چه دا صدارت هغه له ورکړم، ما ورته او وئيل چه ستا خوښه ده. نو زما هم خوښه ده. نن تاسو دی سياسي جماعتونو ته وګورئ، په دوی کښې دا جګړې مخالفت پارټئ بازي او جدا ايي دا څه څيز پيدا کړي دی دا اقتدار!

زه دی قوم ته وايم چه تاسو ترخو بې غرضه، ديانتدار، ايماندار، په قوم او ملک مين

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک پیدا کړي نه دي، نو نه دا ملک ازادېږي او نه دا قوم.

بیا ووټ دی، نو زه د ووټ مخالف نه یم. دا مونږ چه په کومه طریقه خپلې جماعتي او قامي فیصلې کوو دا ووټ نه دی؟ او دا جمهوریت نه دی؟ او دا ووټ مونږ په قربانو کتلی نه دی؟ خو زه دا وایم چه زمونږ دا قوم د ووټ په حقیقت پوهول غواړي او باید چه په دی یې هم پوه کړو چه ووټ هغه چا له ورکول په کار دی چه څوک یې مستحق دی. ورور عزیزته یا په پیسو ووټ ورکول نه دي په کار. زه خو وایم چه څوک په پیسو ووټ خرڅوي د هغه د ووټ حق خیستل په کار دي. د خود غرضو خلکو په وجه خدایي خدمتګارو کښې هم خود غرضي پیدا شوه. دیوی حلقې نه به یو ممبر کېده او ده خواستونه به سلو کسو ورکړل چه یو سړی به وشو نو یو کم سل به خفه وو بیا به یې پارلیمنټري بورډ ته بلا رد وئیل. د هغه حال د ملازمتونو وو چه ځای به یو وو. او امیدواران به سل وو. نو نوکري خو به یوه وه. دیو سړي به ورسېده، یو به خوشحال شو یو کم سل به خفه وو، نو بیا به یې متعلقه وزیرته کنځل کول، او مسلم لیګ به دا پراپیګنډه کوله چه د غریبو خه حال شو. بیا به ماله هم دا غلبل شکایت به یې راته کولو. ما به ورته وئیل چه دا سړي چه مقرر شوی دی دا خدایي خدمتګار دی او که نه؟ دوی به او وئیل چه خدایي خدمتګار دی، ما به ورته او وئیل چه خدایي خدمتګار دی نو بیا خو دا یوه نوکري ده یو سړي ته به رسېده بلکه دا چه ما به تپوس وکړو په دا کوم خدایي خدمتګار چه مقرر شوی دی دا د وزیر وور عزیز دی. د خپل ورور زیر مقرر کړی دی نو وئیل به یې چه نه. نو بیا به ورته ما او وئیل چه دا سنبه کار نه دی په تاسو خپلو وزیرانو لپسې بلا رد وایئ.

پیرنګیانو ته خو دا معلومه وه چه دا یو اصولي جماعت دی چه څه وایي هغه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ. خلکو ته وُیلی وو چه څوک یی گټی هغه به یی ځمتی او پیرنگیانو ته دا هم معلومه وه چه
دوی د نورو سیاسی لیډرانو غوندی نه دی چه قوم سره د انتخاباتو وخت کښی کومی وعدی
وکړی نو بیا یی هم نه پوره کوی نو چه زمونږ وزارت شو نو هغوی سره فکر شوا و زمونږ د بد
نامولو کار ونه یی شروع کړل. یوه ورځ قاضی صاحب ماله راغی چه داکټر صاحب د کورنئ
کنکم سره د ملازمتونو په باره کښی دا وعده وکړه چه دی دپاره به کمپی تیشن
(Competition) (دمقابلی امتحان) وی چه څوک لایق او قابل وی هغه به اخیستی
شی که چیری داسی ونه شی نو ایډمنسټریشن (اداره) به خراب شی دا قسم مسئلی به
زمونږ یوه کمیټیٔ وه، هغی ته پیش کیدی. زه هم د کمیټیٔ ممبر ووم، ما قاضی صاحب
او وُیل چه ته هغه کمیټیٔ راوغواړه. څه وخت چه د کمیټیٔ اجلاس شروع شو نو ما د پا
صاحب نه تپوس وکړو چه داکټر صاحب تا ذکور نو سره فیصله کړی ده؟ داکټر صا
او وُیل چه که کمپی تیشن نه وی نو بیا خو به قابل خلک رانشی ایډمنسټریشن به خراب شی
ما ورته او وُیل داکټر صاحب دا انگریزانو په حکومت کښی داسی خلک لیدلی دی چه
ملازمان دی او دستخط کولی نشی. بلکه داچه پیرنگیانو ته به څوک د ملازمت دپا
پیش شو نو دوی به تری اول دا پوښتنه کوله چه دسرکار دی څه خدمت کړی دی
او هغه خلک به یی اخیستل چه د سرکار خدمت به یی کړی وو. نو مونږ ته هم بیا کار
چه هر یو اخلو نو دا پوښتنه تری کوو چه تا یا ستا پلار د دی ملک او قوم څه خدمت کړی
دی او دا خدایی خدمتګار خو ټول عاجزان دی، دوی خو ځپل اولاد ته ځپل کلی کښ
هم سبق نه شی ویلی او دولتمند خو دلته نه چه په یورپ او امریکا کښی ځپلو بچو سبق ویلی
شی نو د دی خو دا مطلب شو چه قربانی خو غریب وکړی او څه گټه اوشوه نو هغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خانانو بچو واخیسته چه څوک د ملک او قوم د ازادۍ جنګ کښې د پیرنګی ملګری وو زه د کمیټی تفتیش (مقابلې د امتحان) خبره منم خو به دی شرط چه تاسو دی غریبانانو بچوله دغه شان تعلیم ورکړئ، څنګه چه دولت مند خلک خپلو بچوله ورکوی ما ورته اوویل چه که تاسو دی سره اتفاق نه کوئ نو بیا به داوی چه استعفا ورکړئ. ډاکټر صاحب را ته جواب کښې وویل چه زه د دی کمیټی نه استعفا ورکوم.

لنډه دا چه زه په دی نتیجه ورسیدم چه څو مره زرکیدی شی مونږ له وزارت په ښه بود لیږ کار دی ځکه چه زمونږ تحریک ته د فایدی په ځای تاوان رسوی زمونږ د اسمبلی په ممبرانو کښې ورځ په ورځ اختلافات زیاتیدل، چا به د ډاکټر صاحب نه شکایت کولو او چا د قاضی صاحب نه دا اختلاف اصولی نه وبلکه ذاتی وا خو نوبت دی ته ورسید وچه د وزارت ماتولو د پاره د هزاری ضلع د کانګرس اسمبلی ځینی ممبران د اټک په ډاک بنګله کښې مخالفو ممبرانو سره د سلا او مشورې د پاره جمع شول مګر خدای خبر چه ولی څه فیصلی ته و نه رسیدل. د لعضی خلکو دا خیال و چه خان بهادر سعد الله خان او اورنګ زیب خان په کور کښې د وزیر اعظمی په عهده باندی ودان شول. د آل انډیا کانګرس کمیټی پارلیمنټری کمیټی صدر مولانا-ابوالکلام ازاد خپله سرحد له راغی مګر دا مسئله حل نه شوه ځکه چه د ذاتیاتو شخصی مسئلی حل کیدی نه شی د اسمبلی لعضی ممبرانو زه مجبور کړم چه په دی معامله کښې مداخله وکړم د هغوی هم دا خیال وچه بیا به داوی چه مونږ داو وزارت پریږدو زما خو د اول نه دغه خیال و مګر د وزیرانو په کارونو کښې می مداخلت نه کولو ځکه چه ذمه داری د هغوی په سروه. ما د خدایی خدمتګارو لویه جرګه جمع کړه او د وزارت دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره می ورته ورانډې کړه تولو ممبرانو په دې خبره اتفاق وکړ چه حکومت موږ سره تعاون نه کوي نو موږ له په کار دي چه وزارت پرېږدو ځکه چه ددې نه زموږ تحریک ته کمکه نه رسي بلکه نقصان رسي. اجلاس ختم شو او ما د صوبې د خدائي خدمتګارو لوې جرګې نه ددريو د پوکسانو يوه کميټه جوړه کړه او د اسمبلۍ ممبرانوته مې ووې چه سبا له به تاسو راځئ او يو يو کس به ځان له خپله رايه او بيان دې کميټې له ورکوي سبا له چه هغې کميټې خپل کار شروع کړو نو د امير محمد خان د هوتي نه علاوه نورو تولو ممبرانو د وزارت په حق کښې رايه ورکړه زه حيران شوم او بهرته راووتم تولو ممبرانو ته مې ووې چه دا څنګه خبره ده پرون تاسو د وزارت مخالف وئ اوس بې ملګري شوئ ډاکټر صاحب ماته ووې که ماته اجازت وې نو دا زه به زه ښکاره کړم ما اجازت ورکړو هغه ووې چه دوی ټول وائي چه وزارت دې وې ملګري دې هغه څه چه موږ ورته وايو. ليکن دغه خبره موږ ته منظوره نه ده نو په موږ د باواچولو د پاره دوی بيا د وزارت د ماتيدو تهيه کوي. خير موږ خواره شو مګر د وزارت د پرېښودو په باره کښې زما رايه نوره هم ټينګه شوه او څو ځله د آل انډيا کانګرس هاى کمانډ ته مې دا خبره وړاندې کړه چه تاسو موږ له اجازه راکړئ چه موږ د سرحد وزارت مستعفي کړو ځکه چه موږ ته د فايدې په ځاى نقصان رسيږي هغوى اجازه نه راکوله او راته به يې وې چه ټول وزارتونه به په يو ځل پرېږدو. د خداى فضل د چه د يورپ دويم لوى جنګ په (۱۹۳۹ع) کښې شروع شو.

## وزارتونه مات شول:

کله چه يورپ کښې د جنګ په شروع کېدو د برتانيې د جرمني خلاف د جنګ اعلان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو نو دهغې سره سره بې دهندوستان د طرف نه هم د جرمنی خلاف د جنګ اعلان وکړو
کانګرس په دې اعتراض وکړو چه د تېرو صوبائی انتخاباتو نه دا خبره واضحه ده چه
ونږ دهندوستان د اولس نمائندګان یو. نو په کار دا وو چه دهندوستان د طرف نه
جنګ د اعلان کولو نه وړاندې دهندوستان د خلکو رایې معلومه کړې شوې وې. بله
طالبه یې دا هم پیش کړه چه که د برتانیې او د اتحادي طاقتونو دا اعلان صحیح وي
ه دوی په دنیا کښې د صلح او امن او ازادۍ د پاره جنګیږي نو کانګرس تپوس کوي چه
ا په دې کښې هندوستان هم شامل دی او که نه؟ مخکښې ورته بیا کانګرس دوئیل چه مونږ
شکه د دغو اصولو د پاره جد وجهد کوو او حکومت برتانیه له داتسلي ورکوو چه هندوستان
هم په دې جنګ کښې دغوی سره څنګ په څنګ ودریږي او د هیڅ قسم قربانۍ نه به غاړه
نه غړوي خو په دې شرط چه حکومت برتانیه دا اعلان وکړي چه د جنګ په خاتمه به هغوی
ندوستان له ازادي ورکړي. چونکه حکومت برتانیه د دې اعلان کولو نه انکار وکړو نو
دې خلاف د احتجاج په طور د کانګرس ټولو صوبائي حکومتونو په جمع استعفا وکړه او مونږ
د ای د دې مصیبت نه خلاص کړو. د وزارت د ماتیدو نه وروسته ما د ټولې صوبې دوره
وه. د وزارت په وجه چه په صوبه کښې کوم جمود پیدا شوی و د وزارت په پرېښودو او د مونږ
وششونو جلسو او تقریرونو په خلکو کښې ورو ورو بیا ژوند راپیدا شو. دیورپ دویم لوی
ګ شروع شو. د کانګرس د پاره دا خبره ضروري وه چه د جنګ په باره کښې قوم د خپلې پالیسۍ
خبر کړي. د کانګرس ورکینګ کمیټۍ د دې کار د پاره په واردها کښې راجمع شو. پنډت
اهر لال نهرو چین ته تللی و هغه یې د تار په ذریعه راوغوښتو هغه د هوائي جهاز په ذریعه
ن را ورسولو په دې کښې فیصله وشوه چه بله میاشت کښې به بیا راجمع کیږو او د ختمي فیصله به کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیرنګیانو ددی نه پس په ټول هندوستان کښې د مسلم لیګ وزارتونه جوړ کړه ل خو زمونږ صوبه کښې یې د مسلم لیګ وزارت قایم نه کړو. ګورنر کننګهم به و ئیل چه دلته زه د مسلم لیګ حکومت نه جوړوم. که زه چیرې حکومت جوړوم هغه به د ډاکټر خانصاحب وی. نو زمونږ خلک په دې خوشحال وو چه د مسلم لیګ حکومت نه جوړوی خو زما دې سره اتفاق نه وو، او زما د ګورنر دا خبره خوښه نه وه ولی چه ما وئیل چه د مسلم لیګ حکومت جوړ شی نو چه خلکو ته د خدائی خدمتګار د حکومت او د مسلم لیګ د حکومت فرق او ښه او بد معلوم شی خو اخر هغې ګورنر چه دلته د مسلم لیګ حکومت نه جوړوو، د مسلم لیګ حکومت جوړ کړو زه په جیلخانه کښې چه خبر شوم چه د مسلم لیګ حکومت جوړ شو، نو ددې په جوړیدو قوم پرست خلک ډیر خفه وو ولی زه خوشحاله وم. خلک حیران شول، ما به ورته وئیل چه زمونږ دا قوم ډیر عجیبه دی. تاسو نه ګورئ مونږ دوه ایز ګټلی دی او دوی د وپی غواړی. مونږ سره دوپی نشته نو زمونږ نه خفه وو مونږ دوه ایز ګټلی وو هغه به مو ورکولو او مسلم لیګ به دا ګم نه ورکوی او هم د غه شان وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دخدایي خدمتګارو غړي پرزي

انفرادي سول نافرماني، زما دقتل سازش، هزاره کښې دخدایي-
خدمتګارو کیمپ، اتمانزو کښې کیمپ، عالمي جنګ
او کانګرس، قبایلو ته دخدایي خدمتګارو
وفدونه، هندوستان پریږدئ
تحریک، دمیرولیس واقعه، زما ګرفتاري
او هري پور جیل، وزارتونه جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخو د ۱۹۴۲ کال په دسمبر کښې ورکنگ کميټۍ د انفرادي سول نافرمانۍ قرار داد پاس
کړو او دا فيصله يې وکړه چه دا سول نافرمانۍ به صرف د آل انډيا کانګرس کميټۍ ممبران د
مرکزي اسمبلۍ ممبران او د صوبايي اسمبلۍ ممبران کوي او د دې د پاره هدايات او
قواعد هم خواره کړل چه په دې طريقه به دا کوي . په پېښور کښې مونږ د خدائي خدمتګارو
په دفتر کښې دا ټول شو يو يو ممبر به مونږ راغونډېدلو ، هغه ټول هدايات او قواعد به مونږ ته
بيا نو بيا به مونږ هغو عملي کولو او پوره کولو وعده تري اخيستله . بير ستر قيوم
د مرکزي اسمبلۍ ممبر و کله چه ډاکټر خانصاحب د صوبې اسمبلۍ ته ورسېدلو نو هغه
د مرکزي اسمبلۍ د ممبرۍ نه استعفا وکړله او په خپل ځاى د پېښور ښاريو بير ستر
عبد القيوم ممبر کړو . زما په ده ډېر اعتبار نه وو او دې څه چه د دې ټولو دا سمبلو
ممبرانو نه مې هم اميد نه و چه دوى به په دې پوره عمل وکړي نو ده له مې اجازه نه ور
کوله . ډاکټر صاحب راته دده د پاره ډېر منت وکړو نو اجازه مې ورکړه دا هم ورکنگ کميټۍ
پاس کړې وه چه شايد د سول نافرمانۍ سره به دا خلک ګرفتار نشي . که ګرفتار شول خو
ښه او که حکومت و نه نيول نو دوى له په کار دي چه کور کښېنني او په دې قام پسې کلي
په کلي وګرځي او د سول نافرمانۍ تقريرونه دې کوي تر هغې پورې به ګرځي څو پورې چه
ګرفتار شوى نه دي . ليکن افسوس دى چه ډېرو لږو خلکو د دې پابندي وکړه اکثرو
کسان ورځ دوه اخوا دې خوا ګرځېدل او په خپلو کورونو کښې کښېناستل او وکيلانو خو
دومره کمال وکړو چه دا کار خو پرېښوده خپل وکالت يې شروع کړو او د ټولو نه اول بير ستر
قيوم په وکالت شروع وکړه . د هزاره ی د وکيلانو خو دا حال و چه خدائي خدمتګارو د مېز پړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلټنګ کولو هغوی کچری ته بندولی خدایي خدمتګار به ګرفتاریدل او په دغو کچرو کښی ستیه ګری وکیلانو به پیسو باندی د خلکو مقدمی کولې او د ټولونه عجیبه خبره خولا داوه چه دې وکیلانو نه کچری ته پرېښودې او نه تحریک. ما ښځیله داوکیلان او بیرسټران راټول کړل او ورته می ووې چه داتاسو د خدایي خدمتګاری د اصولونه مخالف کاروونه کوئ. ځینی ځانونه او جماعت بد ناموئ نومهربانی وکړئ یا کچری پرېږدئ یا جماعت هغوی دې دواړو ته تیار نه وو ځکه چه په کچرو کښی پیسی وې او جماعت کښی عزت وقار زمونږ ځینو خدایي خدمتګارو ملګرو ډېر سنه کار وکړو، ښځیلو خلکو کښی کلی په کلی وګرځېدل خلک یې بوه کړل خو حکومت نیول نه، اخر ستړی شول او کار ترې پاتی شو. زمونږ جماعت کښی دا قسم خلک ډېر کم وو، زمونږ تعلیمیافته ډلی هغه که انګریزی تعلیمیافته وو او که مذهبی تعلیمیافته و د قوم او ملک سره یې څه کار نه وا او نه یې څه همدردی او دلچسپي لرله بلکه د یو معمولی غرض د پاره به یې زمونږ تحریک سره مخالفت کولو. په ستمبر ۱۹۴۱ع کښی د هشتنغر په یو کلی شیرپاو کښی زمونږ کیمپ و، د سمه په غاړه نورخاته طرف ته لګېدلی و د هشتنغر خلکو د دی کیمپ انتظام کړی و کوم ځای چه زمونږ کیمپ و د هغه نه چاپیره فصلونه اولوی لویې کښې وې زمونږ د علاقی اسسټنټ کمشنر یو پیرنګی وا او میجر کول یې نوم و زمونږ د تحریک ډېر مخالف وهسی خو هم هر پیرنګی زمونږ د تحریک مخالف وی او هر پیرنګی مونږ خپل دښمنان ګڼی چه په څه طریقه زمونږ تحریک ته نقصان ورسوي بیا هم هغوی هر کار په یوه مناسبه طریقه باندی کوی لیکن دا پیرنګی لا بل شان و د دی خو تحریک خو پرېږده زمونږ په مرګ هم حصار نه و. د دی چه زمونږ د کیمپ نه خبر شو نو زمونږ کیمپ ته نژدی دوه ورونه کاکاخیل میاګان وو چه ډېر ظالمان وو هغه یې راوغوښتل او ورته یې ووې چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وخت هندوستان کښې وو، هغه لاځه کوي چه زمونږ د هغه چاچې لور چه د موږ
میراث یې هغې له ورکړی و مړه شوه نو د شریعت مطابق د هغې میراث نیم زما رسیدو
او تر اوسه پورې ماله حکومت راکړې نه دی. دا مېجر کول د ډېر عجیبه سړی و دا بله عجیبه
یې وا ودې چه چرې به ده ته د خدایي خدمتګارو مقدمه پېش شوه نو خدایي خدمتګار
به یو قسم بیان کولو او ده به بل قسم لیکلو د خدایي خدمتګارې په مقابله کښې د هر قسم بې انصافۍ
او دروغو ته تیار و د ډېر نالایقه سړی و هغه به خپله نالایقي پخپله منله یو ځل ما سره یو ځای
شوی و، په خبرو خبرو کښې یې راته وویل زمانه خلک ګیلې کوي مګر حقیقت دا دی چه
دا د حکومت بې وقوفي ده چه زه یې په دې عهدې لګولی یم زه یو نوجې سړی یم زه په قانون
څه پوهېږم. د دې ټولو خبرو سره بیا هم هغه پېرنګی و، د پېرنګیانو په راج کښې د
پېرنګی د پاره د لایق او نالایق سوال د سره نه و، بس دغه کافي وه چه پېرنګی دی د دې
خدمت په سلسله کښې هغه ترقي وکړه د ډېره اسماعیل خان ډپټي کمشنر ولګېدو.

د هشنغر د کیمپ نه وروسته زمونږ بل کیمپ په دولسم ستمبر ۱۹۴۱ کال کښې
په هزاره کښې وشو مونږ به د خدایي خدمتګارو د تعلیم او تربیت د پاره دغه شان
کیمپونه کول او ورسره به مو جلسې هم کولې. په ایبټ اباد کښې زمونږ جلسه وه تقریرونه
کېدل زه هم په سټېج ناست وم چه په دې کښې خان میر هلالي صاحب په سټېج
ودرېد او تقریر یې شروع کړو چه څه وخت ده د جناح صاحب نوم واخیستو نو د نوم سره
سره سم ما د لمنې نه ونیوو او کښې مې نولو او زه پاڅېدم جلسې ته مخاطب شوم او ورته
مې ووېل چه ای خدایي خدمتګارو ورونو مونږ خدایي خدمتګار یو د خدای ته د خدمت
ضرورت نشته زمونږ کار د خدای د مخلوق خدمت دی زمونږ کار په چا اعتراضونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نکته چیني نه ده او دا زمونږ کار نه دی چه په نورو جماعتونو او دهغوی په مشرانو نکته چیني او اعتراض وکړو زمونږ کار دا دی چه مونږ خپل پروګرام خلکو ته پیش کړو چه مونږ ستاسو د پاره دا غواړو او دا کار یوازې نه کیږي دا به هله کیږي چه تاسو راسره ملګري شئ ملک هم ستاسي او زمونږ شریک دی، قوم هم شریک دی او کار هم شریک دی. زه به چه کومه جلسه کښې وم او چا چه به خپل تقریر کښې دیو جماعت یا دیو لوی سړي نوم په بد ه واخیستو نو ما به کښینولو او پوهولو چه ته خدايي خدمتګاري ته په بل کس یا جماعت داعتراض کولو حق نشته ته که خلکو ته څه وایې نو د خپل جماعت په باره کښې ورته وایه حقیقت دا دی چه زمونږ دغه اصول وو.

په دې کیمپ کښې دا فیصله وشوه چه مونږ به په اتمانزو کښې دټولې صوبې یو لوی کیمپ کوو په نهم نومبر ۱۹۴۱ کښې په اتمانزو کښې یو لوی کیمپ وشو په دې کښې زمونږ دټولې صوبې د هرې برخې نه خدايي خدمتګار او د جرګې ممبران شریک شوي وو، دری سوه شپیته تنه یکښې خدايي خدمتګاروو او یوسل وپنځوس دخدايي خدمتګارو د جرګو ممبران وو. ددی نه علاوه دکشمیر شیخ عبدالله، بخشي غلام محمد او افضل بیګ دخپلو ملګرو سره شریک شوي وو، دغه شان د بلوچستان عبدالصمد خان اڅکزی سره د ملګرو راغلی وا و دغسې دکیمپونو دا سلسله په ټوله صوبه کښې مونږ جاري وساتله او دخدايي خدمتګارو تربیت یکښې په ښه شان سره وشو او دجلسو په ذریعه موعام خلکو سره هم تعلقات زیات او پاخه شول او ډیر د کار خلک پیدا شو چه قام او تحریک ته یې ډېره فایده ورسوله.

په ۱۹۴۱ کال کښې جاپان هم په دویم لوی جنګ کښې شریک شو په فلپاین یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله وکړه او چه د برما سرحد ته راورسیدلو کانګرس دا مناسب وګڼل چه پخپلو فیصلو باندی په دویم ځل غور وکړي د دی دپاره په باردولی کښی د کانګرس د ورکنګ کمیټی جلسه جوړه شوه. دا پوره همه جلسه وه او لس ورځی جاری وه. د کانګرس د ورکنګ کمیټۍ د ممبرانو په مینځ کښی یو اصولی اختلاف پیدا شو هغه دا و چه مونږ د عدم تشدد د لاره اختیار کړو او که د تشدد لاره اختیار کړو؟ کانګرس تول عمر د عدم تشدد د په لاره تللی و او په دی وخت کښی د اکثرو ممبرانو دا رایه وه که چیری پیرنګیان مونږ له خپل حق راکوی نو په دې وخت کښی مونږ هغوی سره هر قسم امداد ته تیار یو او د تول عمر د عدم تشدد دا اصول به هم قربان کړو، مګر ګاندهی جی دې ته تیار نه و او نه زما هغوی سره په دې اتفاق و. زه او ګاندهی جی یو طرف ته وو او هغوی تول بل طرف ته وو دا تجویز چه وړاندی شو پاس شو نو په دی وجه ګاندهی جی او ما د کانګرس ورکنګ کمیټۍ نه استعفا وکړه او او په دی فیصله وشوه چه په وارده کښی دې زر تر زره د آل انډیا کانګرس کمیټۍ یوه جلسه وشی او دا خبره دې وړاندې شی. زه په وارداکښی وم چه ماله د دکن حیدراباد نه دغنی او د هغه سخر او خواښی د طرف نه خط راغی چه دغنی لور وشوه، مونږ ناته میادکلبادی دې کوو. زه بیا دکن حیدراباد ته لاړم د روښن مشر خور ستهیش ته راغلی وه. او د هغی سره هغوی کوره لاړم. د روښن مور اخور او بوډا پلار د پورته ښکلی خلک وو. د هغی پلار د حیدراباد د سنه ځایونه ماته وښودل. د ښار نه بهر د دوی د پورته ښکلی کور وو. زه ډیره می غوښتل چه څو ورځی ورسره تیری کړم، هغوی هم نه پریښودلم چه ژر لاړشم. خو کلی ته راغلم او کار می شروع کړو.

د ورکنګ کمیټۍ دا میټنګ ختم شو او مونږ تول خپلو ځایونو ته لاړو. څنګه چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آل انډیا کانګرس کمیټۍ جلسه نږدې وه زه بمبئي ته لاړم او د جلسې د پاره ایسار شوم د جیلخانې د خوراک په وجه زما غاښونه خراب شوي وو هغه مې او بنکې وو او په بمبئي کښې مې نوی غاښونه اېښودل . سعدالله د بمبئي په کارپوریشن کښې انجنیرو ، هغه مې خبر کړی ؤ ، هغه نو تیسن له راغلی و او زه د هغه کره لاړم . بمبئي کښې د هغوی د پرښکلي کور و صوفیه چه دده بي بي وه ډیره مینه جنې وه ، ډیره قوم پرسته وه ، زما به یې ډیر مدار کولو ، په دغو ورځو کښې یونس جان هم بمبئي کښې ؤ او ما سره ډیره وا او د جناح صاحب سره یې ډیر تګ راتګ وا و ماته یې د جناح صاحب ډیر قیصې کولې او را ته به یې ویل چه جناح صاحب وایي چه ماته چا پیره قول بلد دیا نه او خود غرضه خلک دی او که چیرې د عبدالغفار خان په شان یو سړی را سره ملګری شي نو کوم ئې به چه زه به څه څه وکړم . هر سحر چه به دی تلو نو ما به یو هو لو چه کوره پام وکړه زما ذکر جناح صاحب سره ونه کړې زما داخیال ؤ چه هغه به ضرور ده ته زما خبرې کوي چه دی ورسره بغیر زما د تپوس نه څه وعده نه وي کړی چه جناح صاحب د مسلم لیګ د خیال سړی دی او زه د خدایي خدمتګار د خیال سړی یم او مسلم لیګ ماته د پیرنګیا نو جوړه شوې د له ښکاریده مګر یونس جان زما په نصیحت عمل ونه کړو او اخرې ور سره زما ذکر وکړو . جناح صاحب ورته ووې چه زما له طرفه ورته دچایو دعوت ورکړه . مګر زه هغه شپې له د کانګرس جلسې له وارد ی ته روان وم ، نو په دې وجه مې ټیلفون په ذریعه د هغه شکریه ادا کړه او معذرت می ورته پیش کړو او وارد ی ته روان شوم .

د کانګرس د جلسې د پاره د هندوستان د ټولو صوبو نه خلک راغلی وو خکه چه دا پېره اهمه جلسه وه کوم قرارداد چه ورکنګ کمیټۍ بار دولي کښې پاس کړی و هغه وراندی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پرېښودنه پری وشو، زما هم اراده وه چه ممبرانو ته خپل خیال ښکاره کړم، مګر د جلسی صدر مولانا ابوالکلام ازاد ماله اجازت رانکړو او هغه قرارداد په اکثریت سره پاس شو د پاس کېدو نه پس ما د کانګرس نه استعفا ورکړه، مولانا صاحب راته وویل چه د اخبار والا و سره د دی ذکر مه کوه، دا زما کار دی زه به یې اخبارونو کښې د خپل طرف نه شایع کړم مګر شرط به دا وی چه ته به د خپل ځان په ځای د خپلی صوبې یو سړی مقرروې او که چیری ستا د صوبې کارکنانو ته ستا د رایی ضرورت وی نو دا به هم ورکوې. کانګرس هغه د سول نافرمانی انفرادی ستیه ګره هم واپس واخیسته، دوی که د پېرنګیانو د خوشحالولو د پاره څو مره خوشامندې وکړې خو د پېرنګیانو په زړونو کښې زمونږ د پاره د رحم ګنجایش نه وو او د دوی یوه خبره یې هم ونه منله.

د کانګرس جلسه ختمه شوه زه پېښور ته راروان شوم ما د صوبې جرګه راغونډه کړه او په اتفاق سره مو د اکتور صاحب د کانګرس د ورکنګ کمیټۍ ممبر مقرر کړو، د ممبرانو تسلی مې وکړه. دوی ته مې د جرګې کار و سپاره او د خدایی خدمتګارو د کار م واخیستو، مولانا

ن

بیا هم زما هغه استعفا شایع نکړه، اخر ډېره موده پس یې شایع کړه. د غو ورځو کښې جاپانیان په ډېرې تېزۍ مخ په وړاندې روان وو، امریکی او پېرنګیانو لره یې ډېر شکستونه ورکول، جنګ د هندوستان سرحد ته راورسېد، برما هغوی قبضه کړه او په مخه راروان و ملا سره دا فکر پیدا شو چه که دوی د غسی راروان وی نو ممکن دی چه ډېر زر د هندوستان یوه برخه ونیسی او شاید چه ټول ملک کښې ګډبړی پیدا شی.

زما دا یقین وو چه څنګه پېرنګی ته د جاپان د طرفه خطره هندوستان ته او بیا د یخوا زمونږ ارخ ته رانږدی کېږی نو پېرنګی به ضرور دا کوشش کوی چه په دې ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې فساد وکړي ، دا سې خبرونه هم مونږ ته رارسېدلي وو چه پيرنګي د خپلو ايجنټانو
په ذريعه په قبايلي علاقو کښې ددې قسمه غونډې کړي وي تر دې چه يوه غونډه په پيرنګي
شبقدر کښې د خان بهادر قلي خان په ذريعه د مومند و رابللې وه چه هغې ته د صوبې
ورنر کننګم عينې هم ورغلي وو . مونږ دا محسوسوله چه د پيرنګي به دا کوشش وي
په مونږ پښتانه سره په خپل منځ کښې ورلاندې باسي . نو مونږ له په کار دي چه ددې د
ره دغو علاقو ته خپل خلک ولېږو او ددوی پوه کړو چه مونږ د يو بابا اولاد پښتانه يو
پيرنګيانو ددې زمونږ نه بيل ساتلي وو . تاسو ته به ياد وي چه کله په ۱۹۳۰ع کښې
پيرنګي په خدايي خدمتګارانو ملک سور تنور کړو نو زمونږ دا ټول قبايل ورسره د
مومند و اوا پېرېدونه واخله تر وزيرستانه پورې ددوی خپلو پښتنو رونړو په مرسته
پيرنګي مقابل ته ودرېدلي وو ، د هغې په نتيجه کښې پيرنګي خپله ټوله توجه د يخوا وکړ خوله
ددې لرا و بر پښتنو شلو ولن وشي ، او زمونږ او د دغې قبايل رونړو د تعلقاتو د خراب
خاطر زمونږ په منځ کښې په هيڅ قسمه فريب د هوکې دروغ او بې ايماني يې صرفه ونکړه .
چه د خدايي خدمتګارې تحريک شروع کړو نو د پېرځله مې دا کوشش وکړو چه زه د
يلو دې وروڼو له لاړ شم دا د پښتنو تحريک دې ، دوی هم پښتانه دي چه دې تحريک
ی مونږ سره شريک شي ولې پيرنګيانو پرې نه ښودم ولې چه پيرنګيانو وې چه د هغوی
زمونږ په منځ کښې ورور ولي جوړه نه شي ، د قبايلو مسئله زمونږ قامي مسئله وه زما
قبايل زمونږ د مرګ او ژوند مسئله وه ، ددې کار د پاره ما د خپلې صوبې دوره شروع
چه خپلو خلکو سره به دې حق کښې سلا او مشوره وکړم او ددې کار د پاره خدايي خدمتګار
کړم چه هغوی دې د قبايلو علاقې ته لاړ شي او خپلو پښتنو ورونو ګرځي هغوی دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجوده حالاتو نه خبر کړي او په هغوی کښې دې ورور ولي، عزیز دا ړی، اتفاق پیدا کولو کوشش وکړي.

په دغو ورځو کښې پیرنګیانو یو وزیر هندوستان له رالیږلی وچه د هندوستان او انګلستان په منځ کښې روغه جوړه وکړي ددغه نوم سر ستیفورډ کریپس و، زه په کوهاټ کښې وم چه ډاکټر صاحب راته ټیلفون وکړو چه دغه شان قصه ده او ما پسې دوړ ګنګ کمیټۍ نه خبر راغلی دی چه شمله کښې حاضر شه، ما ورسره اتفاق وکړو او ورته می ووې چه لاړ شه ځکه چه مونږ تولو دا غوښتل که پیرنګیان په روغه جوړه مونږ له خپل حق راکوي نو ددې نه به بله ښه خبره کومه وي، ډاکټر صاحب لاړو دغه وخت په پیرنګیانو ډیر سخت وخت وه جاپان د سیلاب په شان راروان وو او دهرچا دا خیال وچه جوړه به وشي او مونږ له به خپل حق راکړي مګر پیرنګیان دهندوستان پرېښودو ته کله تیار وو؟ ددغو خبرو په ناکامۍ د هندوستان خلک ډیر مایوسه شو او دا یقین یې وشو چه پیرنګیان مونږ له خپل حق نه راکوي او دا شک یې پیدا شو چه پیرنګیان به هندوستان جاپان ته پرېږدي او مونږ ته یې نه پرېږدي. دې مایوسۍ دخلکو عقیده هم کمزورې کړه خلکو به وې چه په عدم تشدد خه کیدی نه شي مونږ له په کار دی چه دخپل ملک دازادۍ دپاره د تشدد د نه کار واخلو او دغه وجه وه چه دهندوستان په مختلفو علاقو کښې ډیر تشدد دو شو. د یورپ او امریکې هم ډیر عجیبه خلک دي، دجنګ نه مخکښې به دوی او ددوی اخبارونو دګاندهي جي ډیر زیات تعریفونه کول او عدم تشدد یې د دنیا دامن، صلح، ابادۍ او ترقۍ دپاره ډیر ښه سیکم ګڼلو مګر کله چه جنګ شروع شو نو بیا خو پیرنګیانو او امریکې ته امداد ضرورت وا و څپله یې په تشدد د لاس پورې کړې و هغه وخت یې په عدم تشـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې کټه وه او اوس یې تشدد په کار ونو چې کانګرس یا ګاندهي جي به د عدم تشدد نوم واخیستو دا به د دوی په طبیعت بدلګیدو او د ګاندهي جي برخلاف به یې په اخبارونو کښې لوی لوی مضمونونه چاپ کول ما چې به د غه مضمونونه ولوستل نو د غو خلکو پورې به د پر خندل اراتله او د غه خلک به هم راته د خپلو خلکو په شان خود غرضه او بې اصوله ښکاریدل.

## قبایلو ته د خدایي خدمتګارو وفدونه:

ما د ټولې صوبې دوره وکړه، لوې لوې جلسې وشوې او ټول خدایي خدمتګار سره سلا مشوره وشوه. ټولو ما سره دا ومنله چې په دې نازک وخت کښې په کار دي چې خپلو قبایلي ورونو له لاړشي او هغوی په دې ټول حقیقت پوه کړي، د صوبې دوره مې شروع کړه او د دې کار او خدمت د پاره د صوبې په ټولو ضلعو کښې د پړو کسانو ما ته خپل خدمات وړاندې کړل. زه چې د دورې نه بیرته راغلم نو شاد محمد مېږی مې ملکنډ ایجنسۍ ته ولیږه، په ملکنډ ایجنسۍ کښې زمونږ د پر خدایي خدمتګار وو په ۱۹۳۰ کال کښې چې په نورو ضلعو کښې د خدایي خدمتګارۍ تحریک شروع شوی و نو د غلته هم شروع شوی و او د دې ایجنسۍ پښتنو ورونو د ۱۹۳۰ کال په جنګ کښې مونږ سره سمه برخه اخیستې وه شاد محمد خوشحال چې د غلته کار وکړو خو کله چې پولیټیکل ایجنټ خبر شو نو هغه یې فوراً ګرفتار کړو او درې کاله یې سخت قید کړو.

پیرنګیانو په هیڅ شان نه غوښتل چې مونږ دې د غلته کار وکړو خو مونږ هم فیصله کړې وه چې د دې نازک وخت کښې به د قبایلو ورونو علاقه کښې کار کوو ولې چې دا خو زمونږ د آبادۍ او بربادۍ سوال دی مونږ دا فیصله وکړه چې که پیرنګي اجازه کوي که نه خو مونږ به د غلته کار کوو او په پښتنو کښې به پوهه او اتفاق پیدا کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د صوبې کورنۍ سره چاپېر کښېنم و دې ډېر نرم، هو ښیار او چالاک سړی د
ماورته یو خط په دې مضمون ولیکه چه: «نن په دنیا کښې د انقلاب یو زور ور سیلاب راروان
دی، مونږ غواړو چه چېرته زمونږ په کور کښې کوم بد جوړېنه شي او مونږ په خپلو کښې برباد نه شو
نو د امن د قیام د پاره مونږ دا خبره درته کوو چه ازاد و قبایلو ته وفد ونه ولېږو او هغوی د دې
حقیقت نه خبر کړو، مونږ تاله تسلي درکوو چه مونږ هلته ستاسو د حکومت برخلاف د هیڅ قسم
کار نه کوو مونږ خپل غم اخیستی یو او هغوی سره به خپله د ورورۍ، همدردۍ او وفا مولی
خبره کوو، امید دی چه څوموره ژر کېدی شي ته به مونږ ته د دغه خیر کار د پاره اجازت
راکړې څه ورځې تېرې شوې، زما د خط ځواب رانغی بیا مې ورته ولیکل که چېرې ستا خوښه دې
او که دې خوښه نه وی مونږ نور د ستا د اجازت انتظار کولی نه شو، د فلانی تاریخ پورې که ستا
اجازت رانغی مونږ به خپل وفد ونه دې علاقو ته لېږو، مونږ د خپلو وفد ونو د لېږلو د پاره
۵ د اګست ۱۹۴۲ کال مقرر کړی دی.» دا لیک مې د یونس جان په لاس کورنر له ورلېږه کورنر
ته کلې کښې و. یونس جان چه ته کلې ته ورسېده نو ورته معلومه شوه چه کورنر خپله ټنګله
کښې ټول پولیټیکل ایجنټان او د صوبې ټول ډېټي کمشنران راغوښتي وو او هغوی سره
په دې معامله کښې سلا کوی یونس راته دا هم ووې چه فیصله یې په دې وکړه چه د صوبه سرحد
علاقه کښې د وی نه منع کوو او په ازادو قبایلو کښې به د پولیټیکل ایجنټانو په ذریعه څومره چه
کېدی شي مونږ ته به مشکلات پیدا کوي او زمونږ د خیر دا کار به نا کامیابه کوي یونس جان
زما د خط ځواب راوړو هغه کښې کورنر مونږ له یو قسم اجازت راکړې و مونږ سبا له د کلامد ارخان
په مشرۍ کښې یو وفد د ملکنډ په لاره باجوړ ته ولېږه کله چه وفد د ملکنډ ایجنسۍ ته ورسېد
نو د ملکنډ پولیټیکل ایجنټ د سمې او سوات راښیزي، خانان، ملکان راټول کړي وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ وفد ته یې لاره نیولې وه او وړاندې یې نه پرېښودل، پېرنګیانو زمونږ ته لوی
شر او فساد جوړ کړی و او مونږ یې کور کښې جنګولو. دوی کامدار خان د وفد مشر ته ووې
چه تاسو واپس ځئ مونږ لاره نه درکوو هغه ورته ووې چه زمونږ کتاب کښې واپس تلل
نشته مونږ به یا وړاندې ځو او یا به مړه او که باچاخان راته ووې چه واپس شئ نو بیا به
حلته واپس شو، اګرچه د دې خانانو، ملکانو نیت ښه نه و او د پولیټیکل ایجنټ په بلنت
رالیږلی وو مګر کله چه دوی زمونږ سره د خلکو جوش او همدردی ولیده نو د لارې د بندولو
جرئت یې ونه کړی شو او بیا د دغو ملکانو، خانانو جرګه ماله مرکز له راغله او ماته یې د پېر منت
وکړه چه مونږ پولټیکل شرموی ته دا جرګه واپس کړه، ما دوی پوه کړل چه دا جرګه خو ستاسو د
پښتنو د خیر د پاره ما دا رالیږلې ده خو هغوی د پېرنګی نه په مجبور وو اخر فیصله په دې وشوه
چه په ملکنډ کښې د ملکنډ ایجنسۍ کار په مقامی خدمتګار کوی او مونږ به یې نه منع کوو او
دا وفد دې د ملکنډ په ځای د کوټ او اکړی په لاره باجوړ ته لاړ شي ما ورله د وفد په
نوم خط ورکه چه تاسو د ملکنډ د لارې په ځای د کوټ او اکړی، اتمانخیلو په لاره باجوړ ته
لاړ شئ. د کوټ کلي کښې کاکاخیل، میاګان وو هغو ظالمانو د پولیټیکل د خوشحالۍ د پاره
زمونږ وفد وواهه، په کانو یې وویشتل ګرېوانونه یې ترې وشلول. باجوړ کښې هم پېرنګیانو
د وفد د رسېدو نه مخکښې جاسوسان لیږلی وو او پیسې یې خوری کړې وې چه دا وفد
هندوان دي او د هندوانو ایجنټان دي او د مسلمانانو غلام کولو له هندوانو رالیږلی دی
او ډېره د افسوس خبره دا ده چه باچاګل صاحب د حاجی صاحب د ترنګزو مشر ځوی هم
زمونږ خلاف دغسې پراپیګنډه په خلکو کښې کړې وه په یو ځای کښې هلکان زمونږ د وفد
مرګ ته تیار شوي وو خو مشرانو منع کړل او ورته یې ووې چه صبر وکړئ چه دوی راشي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ترې پوښتنه وکړو، وفد چه کلي ته ورغی حجره کښې کیښېناستل، نو عبدالمالک صاحب
فدا پاڅېد او هغوی ته یې ووې چه زمونږ پښتنو ورونو مونږ باچاخان تاسو له د دې له
پاره رالیږلي یو چه په دنیا کښې د جنګونو یو لوی سیلاب روان دی که مونږ یې مخې ته پاتې شو
نو لاهو به شو. باچاخان وې چه زما ورونو ته ووایئ چه پرې جنبې پرېږدئ نږدې یې کښېږدئ
روغې جوړې وکړئ چه مونږ د غه وخت کښې د دې قابل شو چه یو بل سره اصلاح وکړو او د
سیلاب نه ځان وساتو او باچاخان دا هم ویلي دي چه تاسو څرخې کوئ هسې نه چه سبا به
جنګ کښې کارخانې بندې شي او تاسو بربنډ پاتې شئ او غلې دانې په کورو کښې وساتئ چه
وږي پاتې نه شئ. اوبل وفد مونږ باچاګل صاحب له مومندو له د فضل رحیم ساقي صاحب په
مشرۍ په ۹ اګست ۱۹۴۲ کال کښې ولیږلو دوی اول باچاګل صاحب سره ولیدل او ورته یې
ووې چه باچاخان وې چه زمونږ او ستاسو خو ډېر تعلقات وو دا څه چل دی چه په اخبارو
نو کښې په مونږ ستا د طرفه د کفر فتوې چاپ کېږي او د سیکو ډېرې پولیټیکل ایجنټ قلي خان
پخپل لاس هغه خانانو لیږي کرځوي او هر چاته وایي چه وګورئ باچاګل صاحب په باچاخان
باندې د کفر فتوا لګولې ده. زمونږ خو دا خیال دی چه دا کار پېرنګیان د خپله ځانه کوي.
باچاګل صاحب زمونږ ساقي صاحب ته اوږده قصه وکړه او دا اقرار یې وکړو چه دا ما لیږلي دي
چه اخبارونو کښې دا خبرې چاپ شي او خلک د باچاخان نه واوړي. پېرنګیانو د کابل حکومت
سره هم سلا کړې ده چه که مونږ په جاپان جنګ بایلو د نو دا ټول د صوبه سرحد ملک به تاسو ته
پرېږدو او دا پښتانه د اسلام په نوم د جاپان سره وجنګوئ که جنګ مو وګټلو نو ستاسو
حکومت به پرې جوړ شي. باچاګل وې چه زه د دغه دپاره میدان اوارم، نو ساقي
صاحب ورته ووې چه صوبه سرحد کښې خو نور تنظیمونه هم شته د هغوی برخلاف ولې قدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه او حیثیتونو هغه وخت دل اووی ویل چه مونږ ته خو باچاخان پولوی خلمه په لاره کښی پروت دی دا ټول تنظیمونه خوزه په یو سوک سمولی شم، خوساقی صاحب ته داپته ولګیده باچاګل صاحب چه داخه کوی د افغانستان د صدراعظم محمد هاشم خان په اشاره یی کوی. وفد بیا په ټولو مومندو کښی کلی په کلی کښی وګرځیدل او زما د ورورولی او عزیزولی پیغام یی هرچاته ورسولو، مومندو ورونو ورسره هرځای دعاد خیروکره او د مومندو مشرانو او ملکانو ټول د باچاګل نه بر خلاف شوی و وځکه چه ده په افغانستان کښی خپلو خوشامندی ګروله لوټګی وکړی وې. داوفد پنځوس ورځی پس واپس شو او مرکز ته ماله راغلل او د خپلی دوری رپورټ یی مفصل راکړو، مایو وفد تیراته، افریدو ورونوله هم لیږلی وو هغه په څه وجوهاتو واپس راغلو، نو ساقی صاحب د وردګی ته می دوی چه زه غواړم چه ته د دوونوړو خدایی خدمتګاروسره تیراته لاړشی او هغوی ته زماله طرفه د ورورولی عزیزدارۍ او اتفاق پیغام ورسوی چه که چیری ددې جنګ مصیبت زمونږ په ملک راشی نو چه مونږ پوبل سره د تکلیف په وخت کښی امداد وکړی شو او که خدای پیرزګیا نو زمونږ ملک آزاد کړو نو چه د ټولو پښتنو قومی جمهوری حکومت جوړکړی شو، ساقی صاحب او د درزرو فقیر محمد او د پیښور تحصیل د پاوکی کلي عبدالمجید خان می ورسره ملګری کړل. دوی په ۲۱ اکتوبر ۱۹۴۲ کال تیراله لاړل، په مختلفو لارو کښی ورته پولیټیکل ایجنټ یو ویشت سوه خاصه دار کښیتولی وو خو دوی تری خدای په امان کړل او تیراته ورسیدل. دوی د افریدو ټولو مونږ کښی او د ورکزو خوار لسو خیلو کښی قامی جرګی جوړی کړی او ټوله تیراکښی یی دوره وکړه، خلکو ورسره د ورورولی سلوک وکړو. ماله ددې وفد د تلونه وړاندې خوشحال خان ملک دین خیل راغلی و، وې وفد زماځای له راولیږه، زه به ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار وکړم، ما ورته ووېل چه مونږ سره خو پیسې نشته دي زمونږ خو د کار د خدای د پاره
کوو خو ده ډېر اصرار وکړو او وېل يې چه زه خو هم د خدای د پاره کوم نو ملا د وفلا دده
ځای له ولېږلو ما د خپله طرفه ساقي صاحب له څه پیسې د دوی د خپل خرڅ د پاره او د جرګې
د پاره ورکړې. دوی چه لاړل نو هلته يې کار شروع کړو جرګه هم وشوه او خدمت يې هم
شروع کړو په تیراکښې يې دوره شروع کړه. شیخ محبوب علي پولیټیکل ایجنټ وا او د حکومت
زمونږ دا کار نه خوښولو نو هغه ورپسې لګېدلی و. د غو ورځو کښې عاشق شاه باچا زما د
اجازت نه بغیر ورپسې تیراته لاړو او زه نه پوهېږم چه په کوم خیال يې داسې خبرې وکړې.
چه د خوشحال خان ملک دین خیل دا خیال پیدا شو چه دوی سره خو ډېر مال دی او هند-
وستان د دوی هر قسم خدمت کولو ته تیار دی، نو بیا عاشق شاه باچا واپس راغی او
خوشحال خان د ساقي صاحب نه د پیسو مطالبه وکړه ساقي صاحب ورته ووې چه مونږ
سره خو پیسې نشته سره د دې چه لوکښې واچوو او جلسې له څو او که تلا سر خیل ملک
په چاخر خول غواړئ نو خپله ورسره خبره وکړئ ده رتې ځواب ورکړو چه زما د ځای نه
ځئ زما فقیران نه دي په کار نو هغوی افضل خان زخه خیل کور ته بوتلل او هغه ورسره
دوه نیم کاله په تولهٔ تیراکښې د خدای د پاره کار وکړو او د باړوان د صاحبزادګانو سره
ډېره و هغوی هم د وفد سره د خدای د پاره ډېر کار کړې دی تیراکښې صرف دوه بزرګان
داسې وو چه د پیرنګیانو د اثر نه بچ وو یو د څوکښو د انګورې ملا صاحب او بل د باړوان
صاحبزاده صاحب عبد الرزاق، د محمود اخونزاده زوی محمد سعید خو ورته سپین
ووې چه زمونږ لښکر او نور کار و بار د ټول د پیرنګیانو په امداد چلېږي داسې ورله د غونډ ځی
بزرګ صاحب هم ځواب ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوزیرو آزادو قبایلو ته می یو کسیز وفد میرزا تاج محمد خاموش لیږلی و هغه وزیرو ته ورسید او فقیر ایپی صاحب سره یې ملاقات وشو او زما د ورور دولی پیغام یې ورورسولو خو قام کښې ونه گرځید وځکه چه فقیر صاحب ورته ووې چه دلته ستا د گرځیدو حاجت نشته دا قام جوړ شوی دی زه چه څه ورته وایم هغه کوي نو دی واپس راغی.

بل وفد کښې د پراڼګو عبدالحکیم ستي جان او د بهټو جرنیل عبدالرحمان می مسعودو ورو ته ولیږل خو هغوی د واړه حکومت گرفتار کړل، ستي جان یې واپس راولیږه او جرنیل عبدالرحمان بیټنی د ټانک دوه کاله قید شو چه ته ولی د هشنغر د سړي سره مسعود وله روان وې. یو وفد می د ټل او هنګو د خدایي خدمتګارو کړمې ته ولیږه هر کله چه سدې ته ورسید ال نو یو جومات کښې دیره شول، د کرمي پولیټیکل ایجنټ وراسپې چپل ملکان او سپین بږیري راولیږل. هغوی دوی ته ووې چه ښه به داوي چه تاسو واپس شئ او دلته ونه گرځئ دوی ورته ووې چه داولی مونږ خو ټول دیوې علاقې پښتانه یو تاسو هلته راځئ او مونږ دلته راځو. ملکانو ورته ووې چه مونږ د پولیټیکل ایجنټ نه مجبور یو تاسو خپلې علاقې له نه پرېږدو، د ډېر بحث نه پس هغوی د وفد د غړو پښې لاس وتړل او متړک کښې یې واچول او ټل او هنګوله یې ودسول. هغوی هم راغلل او ما ته یې داحال ووې.

زمونږ د دې وفدونو په تلو گرځیدو کښې او خلکو سره لیده کاته او تبادله خیالاتو کولو په وجه آزادو قبایلو ورونو کښې لویه تبدیلي پیدا شوه او په پښتنو کښې د قامولۍ و ورورولۍ احساس او پوهه پیدا شوه، زمونږ د باجوړ د وفد مشر کامدار خان د وچه ورسره صدر صاحب محمد اسرار او فدا عبدالمالک او ناظم سرفراز خان هم وو کامدار خان چه واپس راغی نو دا نور هلکري می شانته باجوړ کښې پاتې شول، او میان صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالحکیم د چینګۍ سره دیره شول.

بچو له یې د تعلیم ورکولو د پاره یوه مدرسه هم پرانستله د هغې هم ډېر ښه اثر وشو زمونږ یو خدایي خدمتګار د باجوړ نه پېښور ته راتلو چه په لاره په مومندو کښې غلو وشوکولو، د باجوړ خلک په دې ډېر خفه شوا و تش خفګان نه هسې یې وکړه او د هغو غلو نه یې حساب واپس واخیستو او هغوی معافي هم وغوښتله.

پیرنګیانو او د افغانستان حکومت زمونږ د دې وفد ونو د ناکامیا به کولو ډېر کوششونه کړې. وو خو خدای کامیاب نه کړل. د اخیره ما محسوس کړې وه چه د هغې تحریک د پاره یو مرکز ضروري وي ډېر ځایونه مې وکتل خو یو ښه وجوهاتو به پاتې شول د سرد ریاب د پل نه په قبله د کوډو او سرد ریاب منځ کښې د سیند په غاړه یوه دښته وه یو میل بره سویل غاړې ته یو چمن او میدان و، د دغه ځای ځنګل و تنهایي وه دغه ځای مو خوښ شوا و د اکرې او کوډو پسینتنو د امځکه د مرکز د پاره وقف کړه.

په ۵ اګست ۱۹۴۲ کال مونږ د چارسدې د کیمپ نه وروسته مونږ قوالو خدایي خدمتګارو د منیر خان د باغ نه د خرولو ځانګې ورپیلي هر چا د ځان سره، سره د ماچه څوګ ځانګې اخیستې شوې هغه مو را واخیستې او یو څو پېښور سره سرد ریاب ته روان شو.. د لګو ښار و لبست محمد اسرار خان صلاح صاحب کړې و، مونږ لاړو سستني مو ښځې کړې لګو ښار پرې سواره کړل، لېښتي او لوخه مو پرې واچو له او د غلته دیره شو، شپه او ورځ به لس، اته خدایي خدمتګار به ما سره د غلته وو، ډوډۍ به راله وارث خان بخوالا دکټوګ به مو بخپله بخوله، د دې ځای نه مونږ د ټولې صوبې د خدایي خدمتګارو سره رابطه قایمه کړه، د دوی چه به څه کارو و دلته به ماله راتلل او زما چه به څه کار و د خدایي خدمتګارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ذریعه به مې خبروال دغه محکمه بنجره وه ، مونږ به د سحر د چاې نه پس تشکورې
واخیستلې په کار به مو شروع وکړه ، د دودې د دوختې پورې به مو محکمه جوړوله بیا به مو په
هغه کښې سبزې کول شروع کړل ، اتمانزو کښې دغنې بتهې وه په هغې کښې مود مرکز د پاره
د خبنتو انتظام وکړو او دیرانګو او با بړې خدایي خدمتګارو دهغو د راوړلو د پاره دومره
دیرې زیرمې راواوستې وې چه دهغې یو سر مرکز ته رارسیدلي و بل سرېي اتمانزو کښې و
دغه شان په یوه ورځ کښې تولې خښتې راوچلیدې: دآبادۍ د پاره مود سیند په غاړه
ځاې خوښ کړو هلته مو یو هال دهغه سره دوه کمرې او دواړه طرف ته برنډې
جوړې کړې او د دویم چت په جوړولو مو شروع وکړه ، دیوالونه جوړ شوا و چت پرې لانه و
جوړ شوې ، چه پاکستان جوړ شو او مونږ ګرفتار شو د دې په ابادۍ کښې تول کار خدایي
خدمتګارو په چنیله کړې وو . زه به هم ورسره لګیا وم ګلکاره به مې خښتې ورکولې . دهرې تپې نه
به لس ، پنځه لس خدایي خدمتګار و ادېه وار راتلل او خپل خرچ ، خوراک به یې هم د ځان سره
راوړل . یوه هفته کار به یې کولو بیا به د بلې تپې خدایي خدمتګار راتلل . زمونږ اراده وه
چه دلته به سکول او هسپیتال هم جوړوو او ډیرو خلکو دا خیال ظاهر کړې وچه مونږ به
دلته ځان له کورونه جوړوو تردې حده چه مونږ دلته د خپلې مقبرې فیصله هم کړې وه .
بیرسټر قیوم چه وزیر اعظم شو نو د مرکز د ودانولو او لیلا مولو فیصله یې وکړه داګوې خانانو
ورته وویې چه دا ځاې ورانوه مه دا خوښې هم زمونږ جایداد دې ، مونږ به یې لیلام
کښې واخلو او مل سره یا هسپیتال به یې کړو ، قیوم ورې چه زه به دا خامخوا ورانوم او
د دې خدایي خدمتګارو د مرکز دا نښه ورکوم ځکه چه که دلته یې نښه پاتې وي نو چه
بیا دوې په لاره ځي والي به چه دغه زمونږ مرکز وچا دې لیلام ته غاړه کښې نښبوده آخر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشپږم نمبر کلي یو مومند نور محمد واخیستو او په ممونو یعني د اینامینت باندې یې ورله بنیاد-
ونو پوري والو زول

## دهندوستان پرېږدئ تحریک:

کله چه دکرپس مشن ناکامیاب شو نو دهندوستان په خلکو کښې مایوسي پیدا شوه
او دا فکرې پیدا شو چه بغیر دمقابلې نه پیرنګیان مونږ له څه نه راکوي په دغو وختو کښې بمبئې کښې
کښې دورکنګ کمیټۍ اجلاس و، په دې وخت کښې دکانګرس (QUIT INDIA) یعني «دهندوستان
نه ووځئ» تجویز پاس کړو او مهاتما ګاندهی او دورکنګ کمیټۍ ټول ممبران ونیوی شو
دنیول کېدو سره په ټول هندوستان کښې د پیرنګیانو برخلاف زور ور جد وجهد شروع شو
چه دکانګرس ذمه دار کارکن پیرنګیانو قید کړي وو وروسته څوک ذمه دار کسان او مشران
پاتې نه وو او خلک هم د پیرنګیانو نه مایوسه شوي وو. نو خلک دعدم تشدد په ځای د تشدد
په لاره روان شول. پیرنګیانو د تشدد د مقابله په تشدد وکړه او پیرنګیانو هم دا غوښتل هغوی
له عدم تشدد د مقابلې چل نه ورتلو او د تشدد د خو هغوی سره دومره سامان و چه د پیرزدلي
د تشدد د تحریک ختم کړو او په خلکو یې دومره زور ظلم او زیاتی وکړو چه په دنیا کښې به د وحشي
نه وحشي قوم په چاکړي نه وي، سړي خو پرېږده چه د ښځو سره یې داسې سلوک وکړو چه
په لیکلو یې ماله شرم راځي. د ګنهګار، بې ګناه تمیز نه کولو، د ښمنان څه چه د چلو وفادار
ملګرو د ښځو سره یې زیات شرمناک سلوک وکړو. داسې واقعات پکښې راغلي دي چه د فوج
او پولیس د کاروایي نه علاوه پیرنګیانو په کلو باندې د هوایي جهازونه په میشن ګنونو ګولۍ
ورولي دي او کلو باندې یې بمونه غورزولي دي. د سرحد په صوبه کښې زمونږ جرګه، او خدائي
خدمتګار هم راټول شو چه په دې خبره غور او فکر وکړي چه په دې وخت کښې مونږ له څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول په کار دي، کانګرس د هندوستان په هره صوبه کښې د جد و جهد د پاره یو دیکټیټر مقرر
کړې و د غسې زه یې د دې خپلې صوبې د کټیټر مقرر کړې وم. ما ته دې اجلاس کښې حاجي فقیرا
خان ووې چه ته خو د دې صوبې د کټیټر مقرر شوی یې مونږ څه له دا غواړي حکم کوه مونږ به
د هغه تعمیل کوو. ما ورته ووې چه دا خبره خو ټیک ده، خو زما په طبیعت کښې دیکټیټرۍ نشته
زه به هر یو کار د ملګرو په مشوره باندې کوم، دیو دماغ په ځای به د ډېرو دماغونو فیصله
غوره وي. په اجلاس کښې د هزارې حاجي فقیرا خان ووې چه مونږ له په کار دي چه
تارونه پرې کړو او پلونه وران کړو ما ورته ووې دا تشدد دی خو بیا به هم تا له اجازه درکړم
خو دومره وایم چه کوم سړی تار پرې کړي یا پل وران کړي نو نیغ به تانې له ورځي او د لوټ
به کوي چه دا کار ما کړې دی، ځکه چه زه د پیرنګیانو حکومت نه غواړم. د دې فایده به داوي
چه د دې کار په وجه به د غه کلو عامو خلکو باندې تشدد نه کېږي هر څه سزا چه وي دی به برداشت
کوي او که داسې ونه کړي نو د کلو په خلکو به د ډېر تشدد د وشي او د هغوی چه مونږ سره کومه
ملا دی د هغه به ختمه شي نو دغه تجویز په ځای پاتې شو. بل تجویز ما وړاندې کړو چه مونږ له
ول وفدونه هر یو عدالت او هر یو دیسي افسر له لیږل په کار دي چه دوی ته ووایو چه کویت.
ملا یا قرارداد پاس شوی دی نو تاسو له په کار دي چه نوکرۍ پرېږدئ، بل دا تجویز پاس شو چه د پیرنګیانو په
عدالتونو به چپاوونه کوو او د کورسونه به یې پاڅو او عامو خلکو ته به دا یو چه خپلې فیصلې کور کښې پخپله کوئ پیرنګیانو له
به ځئ دا خو زمونږ د قوم او ملک دښمنان دي او پیرنګیان خپل حکومت په مونږ باندې هم د دې نوکرانو
د ذریعه چلوي. خو چه زمونږ وفدونو پوره نتیجه ورنه کړه نو مونږ بیا چپاوونه شروع کول.

## چپاوونه:

په پېښور، مردان، کوهاټ او بنو کښې خدائي خدمتګارو د ضلعو کچرۍ باندې چپاوونه شروع شول او خدائي خدمتګا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانه گرفتار ول بلکه په دې ورځ یې دې سره به یې ووهل او وهل به پولیس کول او د پولیس سره به د خانانو او اربابانو ډله هم د کومک د پاره ملګري وو او څه موسندیې هم د خدایي خدمتګارو د وهلو او د سرکار د امداد د پاره راغوښتي وو، په مردان کښې هم د غه حال و. مګر هلته د خانانو ډله مارنه وو. د سوات باچا میا ګل صاحب ډېر سوانیان د دوی د وهلو د پاره د سرکار په امداد کښې راليږلي وو. دې ظالمانو به په داسې نا ترسۍ وهل کول چه زه یې بیانولی نه شم د چاسر او پښه به یې نه کتل او اکثر به یې خدایي خدمتګار د غوبل د غوایانو په شان په نیغو وهل. اکثر خدایي خدمتګار به زخمیان شول، د چا سر مات، د چا لاس او د چا پښې. څوک به په وهلو کښې مړه شول، د پېښور د ډپټي کمشنر په دفتر چه خدایي خدمتګارو چپاو وکړو نو د نورو کوتک مار دوسره ډپټي کمشنر مرزا اسکندر پخپله کوتک په لاس راووتو او په خدایي خدمتګارو یې را باندې کړل. حالانکه پېرنګیانو مونږ پسې کوتک را اخستې نه دي، او نه یې پخپل لاس مونږ وهلي یو، خو دې مسلمانانو ورور مونږ پسې کوتک را اخستو او په دې وهلو ټکولو کښې به خدایي خدمتګار یا هم ایډیشنل پولیس او انتظامي پولیس دایرې ماتې کړې او به کچهرۍ به ورننوتل، او حاکم که به پېرنګي وو ورته به یې وویل چه پېرنګیه ته د اوو زرو میلونه راغلی یې. دا زما ملک دې، دا مونږ ته پرېږده او ته خپل ملک ته ځه او که دیسي به وو نو ورته به یې وویل چه قوم فیصله کړې ده چه ته د پېرنګیانو نوکري پرېږده. سید اکبر خدایي خدمتګار د سکندر مرزا په ګناه به زړه ولګېده او او د غلته شهید شو. پېرنګیانو پخپل لاس وهل نه کول. د دې چپاولونې کمانډر د کوجروګړۍ شاکرالله باچا وو چه دا چپاوونه یې دومره په ښه ډېر او هوښیارتیا منظم کړي وو چه هغه پېرنګیان چه ده سره یې مقابله کوله پرې قایله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مردان، د چپاو کماندړ سالار منیرخان واو بیا عبدالعزیزخان و هغه هم د پېړ په
بهادرۍ د غه چپاو ګړنه چلولي وو. د چپاو نو زور په لوېه پیمانه یا پېښور کښې و یا مردان کښې و
مردان کښې به د هرې کچرۍ په وړاندې پولیس او اېډیشنل چاپېره کوټک په لاس
ولاړ وو. خدائي خدمتګار به راغلل نعرهٔ تکبیر الله اکبر فخر افغان زنده باد چغه به یې وه حمله
او د پولیس او اېډیشنل ګېره به یې ماته کړه او په کچرو به ورننوتل او دې پولیس او کوټک ملو
به پرې راباندې کړل مات کوډ به یې کړل بیا به یې لارې کښې واچول او چیرته لیرې به یې
د غورځول هغه به د دې چپاو د حالاتو معلومولو او د سلا مشورې د پاره د وړې کولې خو
حکومت زه نه منع کولم. آخر د حکومت پالیسي بدله شوه او کومو خدائي خدمتګارو چه به
چپاوونه کول د و هلو نه علاوه د هغو نیول یې هم شروع کړل او د دې خبرې تجویز یې هم وکړو
چه زه ترې څه کار ونه کړې شم. زه د کار د پاره مردان ته روان وم، د مردان نه بهر راته
پولیس ناست وو. هغوی ونیولم او وې ویل چه مردان ته ستاد تلو اجازت نشته
په موټر کښې یې کښېنولم او بېرته پېښور ته یې راوستم د ښار نه یې بهر پرېښودم، بل ځل
کوهاټ ته روان شوم، سپینې تانې سره پولیس ناست وو مونږ یې د لارې نه کوز کړو
تو له ورځ یې راباندې سپینه تانه کښې تېره کړه ما زیګري په لارې کښې پېښور ته راوستو
او هلته یې پرېښودو دوما د حکومت دا طریقه مناسبه ونه ګڼله د قوم د خبردارۍ د پاره مې د
پېښور په چوک یادګار کښې جلسه جوړه کړه، په دې جلسه کښې ما خلکو ته د دې خبرې وړاندې کړې:
یوه دا چه د حکومت دا زما سره کومه طریقه روانه ده، د اما ته توقع نه کاره ماسره دې دا
توقع نه کوي یادې ما ونیسي او یا دې ما پرېږدي. بله دا چه که چېرې مونږ له خدای کښته
راکړه او مونږ آزاد شو نو دا خبره زما یاده ولرئ ملک زمونږ د ټول قوم او ټولو پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکې خبرې وکړې زه پخپله ځان وم ددمره مې ورته ووې چه پښتانه داسې خبرې
نه کوي ستا مطلب وشو پیرنګیانو ستا خبرې واورېدې ترقي به دې وشي. همدغه شان
وشوه زه یې د هریپور جېلخانې له بوتلم او چکې کښې یې بند کړم، د ډاکټرانو او هسپتال هم د
خو هغه زما د پاره نه و قیدیان خو څوک د خدای بندګان نه کښې. زما به ټول وجود د بېړه دونه
کول او شپه د پېر سخته تېره شوه سباله ډاکټر وکتم هغه پرېشانه شو څه ملهم غوندې
یې زما په پښتو پورې کړل چه سپرنټنډنټ راغی ما نه یې تپوس وکړو چه څنګه یې ؟! پښتانه
که د پېر تکلیف کښې وي چه څوک ترې تپوس وکړي نو ورته وایي چه ښه یم ما هم ورته دغسې
ووې سپرنټنډنټ حکومت له خبر ورکړو چه ښه دی هغوی اخبار کښې اعلان وکړو چه
هغه ښه دی هسپتال کښې یو هندو ډاکټر و هغه مشر ډاکټر ته ووې چه ذمه داري په
تا ده، بد نامي به ستا وي تا له په کار دی چه حکومت خبر کړې! هغه حکومت ته ولیکل چه
دغه خبر غلط دی، دی جوړ نه دی حکومت سول سرجن را ولېږه هغه زما معاینه وکړه
بیا یې ایبټ آباد له فوجي هسپتال له بوتلم ایکسرې وشوه معلومه شوه چه زما دوه پښتۍ
ماتې دي. سول سرجن پخپله زما پښتۍ وتړلې او پلاستر یې پرې ولګول، بیا تر لوسو
زه لوبه ارام شوم، څو ورځې پس مې اخبار کښې ولیدل چه د جېلخانې سپرنټنډنټ
وایي چه هغه روغ جوړ دی سباله چه سپرنټنډنټ راغی هغه اخبار مې هغه له وښودلو
نو هغه راته ووې چه تا راته ووې چه ښه یم ما ورته ووې چه دا خو د پښتنو اصطلاح ده
ستا خو سترګې وې تا نه لیدم چه زه څنګه وم ؟

څه وخت چه مونږ د پیرنګیانو خلاف سول نافرماني شروع کړه هغه وخت کښې هغوی
د افغانستان د حکومت په امداد د ملایانو په ذریعه کار شروع کړو، عجیبه خبره خو یې داده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه پیرنګیانو په ما د کفر یوه فتوه تیاره کړه او په هغه باچاګل او ماتکی ملا دواړو دستخطونه
وکړل او د دواړو د لوډ ملایانو تائید وعجیبه خبره خو داوه چه مذهبی معاملو کښی د ماتکی
ملا او هډې ملا تعلق ارچیری متفق شوي نه دي او دیوبل مخالف وو چه یو بل به یې
د کفر فتوې کولې لیکن زما په فتوه د دواړو د لواتفاق وولی چه دا د کفر فتوه پیرنګی لکولی
وه او بله خبره یې دا وکړه چه افغانستان هم پښتانه دي، د صوبه سرحد خلک هم په کار دي
چه دا علاقه هم افغانستان سره شي او دې خبرې اشتهارات یې په ملک تقسیم کړل
جلسې یې کولې او په هغو کښې به یې دا تقریرونه کول چه دا ملک دې افغانستان سره شي
ولی پیرنګیانو ورته هیڅ نه وې . د رېمه خبره یې دا وکړه چه حاجی محمد امین چه زمونږ
د دې پښښور علاقې نه تللی و او په هډه کښې پیر شوی و ، د افغانستان د حکومت
په مصلحت پیرنګیانو د باچاګل په ذریعه پښور ته راوغوښت، هغه دلته د دې خبرې
کوشش وکړو چه د پښتنو سیاسی توجه د پیرنګیانو نه بل خواته واړوي نو د ډمو په بازاد
باندې ده پکټنګ ولګاوه د غه وخت خدائي خدمتګارو د پیرنګیانو په کچرو چپاوونه ۱۲
کول او د خدائي خدمتګارو ټوله توجه د ملک د ازادۍ او د پیرنګیانو برخلاف وه په دې
کښې حاجی محمد امین خان راغی ملایان ورسره ملګری شول او ارباب عبدالغفور
د تهکال هم ورسره ملا وتړله او د خلکو توجه یې د پیرنګیانو نه اړوله . دا هغه محمد امین
دی چه په مسجد نبوی کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښې یې ماسره
وعده کړې وه چه نه به تا سره یو ځای د خدای د مخلوق خدمت کوم چه دوی به
پکټنګ له وو د غلل نو ډمې به راوو تې او خلکو ته به یې وې چه وګورئ هلته خدائي خدمتګارو
پیرنګیانو په کچرو پکټنګ لګولی دی دوی راغلی دی ، زمونږ په "د دغه" یې پکټنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم او دایبټ اباد جیل لیږي بوتلم او یوه تنګه کوټه کې کښې بې بند کړم ، دغه کوټه کې بالکل یوازې د ټول جیل نه جدا وه ، ما سره د خبرو اترو قدغه ی څوک نه و .

کله چې زه د هریپور جیل نه چالان شوم نو جیلوالاؤ په سیاسی قیدیانو توره شپه جوړه کړه . په دوی بې چای بندې کړې چاچه به ناری وهلې چکو کښې واچول . څه ورځې خو دوی چغې مغې ووهلې خو اخر بې چغې بندې کړې . پخپل کار پښیمانه شول ، د دوی مشرانو جیلوالو ته ووې چې مونږ د ، سره سوله کوو ، جیلوالو ورته ووې چې دېره سښه ده چغې بندې کړئ نو د دوی په منځ کښې سوله وشوه که دوی زما خبره منلې وای نو زه . بیا هم تری نه وم چالان کړې او دوی ته به هم دومره تکلیف نه ورسیدلی او نه به د کوز وستړو په سوله مجبور شوی وای . مالرې دایبټ اباد جیل کښې یو بوډا مشقتی راکړې و . هغه به ماله د ودې پخوله . د ، ی میاشتی قید و چې د هغه به کله ملاقات راغی او دی به ملاقات له لاړو نو چې به راغی ما به تری تپوس کوو چې څه کورا او د بال بچ دې څه حال دی ؟ نو ده به راته ووې چې زه ملاقات له لاړ شم نو بنځې او وار ، ه می د جنګلې نه اخوا ولاړ وی ژاړي او زه د جنګلې نه دې خو ژارم څه خبری و نه کړو ، دی د هغه ژاړی و د ډېر سښه سړی و . یوه ورځ تری ما تپوس وکړو چې زما د دې کوټنی لاندې چې دا بارکونه دي نو چې د نیمې شپې نه شپه وا و ړی داقیدیان شور کوی چې دا څه کوی ؟ ما د خوبه و باسی ته ورته ووایه که وظیفې کوی نو ورو وړو دې کوی او ما دې د خوبه نه و باسی نو هغه راته ووې چې دا شور ځکه وی چې دا ایبټ اباد دی دلته دا ورځ پریوځی د دوی یخنی کیږی ، دوی له بې دوه زړی کمبلې ورکړې دي نو دا شور په دغه وجه وي . د دې جیلخانې دا روغه عمر بیګ بې نوم د مسلمان دا و په کوړې چود باندې مشهور و هغه چې سباله ماله راغی ما ورته ووېل چې د قیدیانو سره کمبلې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې یې کېږي ، ما د خوږه و باسې مهربانۍ وکړه کمبلې ورکړه ده ما ته ووې چه کمبلې نشته
ده به دېر لمونځونه ، او دسپونه هم کول چه دې بدل شو نو دده په ځای یو هندو دارو غه
راغی ، د هغه را ټلو سره چه قیل یا نو ورته شکایت وکړو نو ده دوه نوی کمبلې یې هر یو ته
ورکړې . چه زه خبر شوم ما تری تپوس وکړو چه دا کمبلې دې را وغوښتې ؟ نو هغه وې
نه دا خو په ګودام کښې پرتې وې . د دې ځای د پټی کمشنر سکھ و او د پېښور سړې و
دې چه جیلخانې ته راغی نو ما ته یې دا خبره وکړه چه جارج کننګم به دا خبره کوله چه زه
د ډاکټر خان صاحب نه د سرحد وزارت بل چاله نه ورکوم خو څه موده پس یې مسلم لیګ
له ورکړو ، او ورنګ زیب خان وزیر اعلی شو ، یوه ورځې دا د پټی کمشنر راغی د پرچېد و
او ما ته یې ووې چه ګورنر خو به وې چه بغیر د ډاکټر خان صاحب نه بل سړې وزیر نه مقرر دوم
ده یو قسم ما سره هم کړې کوله ، ما ورته ووې چه زه خوشحاله یم چه ګورنر مسلم لیګ له
حکومت ورکړو او د ډاکټر صاحب په ځای اورنګ زیب خان یې مقرر که ، هغه حیران شو
او پوښتنه یې وکړه چه دا ولې ؟ نو ما ورته ووی چه زه په دې خوشحاله یم چه دې قوم خو
دا زمونږ حکومت ولیدو نو دا به ده چه د مسلم لیګ حکومت هم ووینی او پکښې تمیز
وکړې او بله دا چه د دې حکومت اختیارات هم ډیر کم دی او زمونږ دې قوم خو حکومت
لید لی نه و او نه د دې حکومت نه خبر دی ، نو یو کار دی چه هغه مونږ کولی نه شو زمونږ
د اختیار نه بهر دی ، قوم وایی دا ولې وکړه مونږ که ډیر ورته وایو چه مونږ یې کولی نه شو
دا زمونږ په اختیار کښې نه دی خو دده تسلی نه کیږی او را نه خفه شی ، خفه څه چه بیا
زمونږ مخالفت شروع کړي ، او دویمه خبره دا ده چه مونږ دوه اتې کتلې دي او دې
را نه رو پلې غواړي نو مونږ روپۍ د کومه را وړو ؟ نو دوې زمونږ حکومت هم لیدلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اوس به د مسلم لیگ حکومت ووینی نو په حقیقت به پوه شی او همغه شان وشوکه
چیری د احکومت مونږ پرېښودی نه وای نود راتلونکی الیکشن کښې گران وو دوی به
کامیاب شوی وو، خلکو ولیدل چه مونږ خو په دوولو کښې دوه اسټیز خو ودکولو او کوم
کار چه به زمونږ په اختیار کښې وهغه به مو ورله کولو او مسلم لیگ خو ځان ته نزدی هم
نه پرېښود او نه یې ورله څه کول یوه ورځ کرنیل سمت ته چه د پېښور د جیل سپرنټنډنټ
وایبټ اباد له په دوره ماله راغی نو زما ځای یې ولیدو څه وخت چه بهر ته ووت نو
سپرنټنډنټ ته یې ووې چه تا باچاخان د کوترو په کوټه کښې بند کړی دی؟ هغه
سمت ته په ډېر ادب او غلی غوندې ځواب ورکړو چه د سرحد د حکومت د احکم دی په
دی کښې زه څه کولی شم، کرنیل سمت هغه وخت د هغه ځای نه گورنر ته ټیلیفون وکړو
ورته یې ووې چه سرجارج څوک یو بهادر دښمن سره داسی سلوک کوی څنګه چه تا
باچاخان سره کړی دی؛ چه په یوه وړه کوټه کښې دی یوازی اچولی دی؟ گورنر
پخپل کار شرمنده شو او خپل حکم یې واپس واخیستو او حکم یې وکه چه ده له ښه ځای او
ملګری ورکړئ کله چه سمت صاحب بیا راغی او ماته یې د ملګرو ووې چه څوک غواړې ما
ورته ووی چه ستا څوک خوښ وی هغه راکړه هغه وې چه دوی به تا سره وی که ماسره
ماورته ووی چه ماسره به وی ده ووی چه بیاخو په کار دی چه ته یې خوښ کړې، نو چه
ستا څوک خوښ وی هغه راته ووایه نو ماورته ولی او شیردل خان یاد کړل هغه یې
ماله راولیږل چه هغوی راغلل نو د هغوی نه معلومه شوه چه سالار اختر گل په ډېره -
اسماعیل خان جېل کښې دی او ډېر ناجوړه دی نو ما سپرنټنډنټ ته ووی چه مونږ له
دیخلی د پاره خپل سړی راکړه هغه وې چه څوک غواړې؟ ما وی اختر گل غواړم او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ډېرو په جېل کښې دېې هغه يې راوغښتو چه انځرګل جرنيل راغی نو دومره نا جوړه وچه ذکر ځبل وهم نه ور زمونږ په پوره راختی نه شوځو د خدای فضل و ډاکټرانو يې علاج وکړو او مونږ ورله ښه خوراک په ډاکټر مقرر کړو نو ورځ په ورځ ښه کېده زما په هغه کوټنۍ کښې په مشکله دوه کټه راتلل او نور ځای يکښې د ملاستې هم نه و، نو سالار صاحب به زما د کټ د لاندې خملاستو او شيردل خان به د ولي د کټ د لاندې خملاستو څه ورځې پس حکم راغی او ما ته چه نژدې د هسپتال کومه کمره وه هغه يې ولي دوی له ورکړه زه چېل ځای پاتې شوم او دوی د دې وارډ هغې کمرې له لاړل.

مونږ جېلخانه کښې وو چه خبر شو چه بنګال کښې قحط دی او ډېر خلک د ولږې نه مړه شول مونږ له چه حکومت کوم راشن راکولو نو نيم به مونږ خوړلو او نيم به مو هغه مصيبت زده خلکو له جمع کولو او چه ډېر جمع شو نو مونږ حکومت ته ووېل چه دا بنګال له ولېږه خو نه حکومت هغه بنګال له ولېږه او نه مونږ ته يې واپس راکړو په دغو ورځو کښې د ولي سترګه خوږه شوه دغه يوه سترګه يې وه، هغه بله يې په ښار کښې خرابه شوې وه مونږ سره ډېر فکر وو سپرنټنډنټ د فوځ د سترګو ماهر راوغوښتو خو څه فايده و نه شوه مونږ دې سپرنټنډنټ ته ووې چه ته حکومت د دې حال نه خبر کړه دی غواړي چه بمبئ ته لاړ شم او په هغه خپل ډاکټر علاج وکړم، سرچارج بغير د څه شرط نه هغه رها کړو او د علاج اجازه يې ورکړه چه دی تلونو ما ورته ووې چه ولي ته يې د علاج د پاره پرېښودې نو که علاج دې وشو نو بيا به هم د حکومت برخلاف څه کار ته هغې پودی نه کوې چه دا د قيد ميعاد دې پوره شوی نه وي.

زمونږ ډېر ملګري چه د قيده رها شو او په هر يو کښې کوم پاتې شو نو زه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یوځای کېږو. هغوی اجازه ورکړه، موږ به هر اتوار یوځای کېنو و په دي
خپل تحریک او په قومي معاملو باندې به مو بحثونه کول نو زمونږ به تجربه کېدله زمونږ
یو جرنیل و دېر ښه سړی و، دوی خپل مشر مقرر کړی وه خو دوی به تول له ورځ، هغه
پسی خبری کولې نو یوه ورځ ما داو غوښتو او ورته می ووې چه جرنیل صاحب، د دوی
د مشرۍ نه استعفا ورکړه، هغه لاړو او دوی له یې استعفا ورکړه، نو د اتوار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ چه مونږ یوځای ستو نو دوی راته ووی چه باچاخانه ته زمونږ مشرهشه او که ته نه کوی نو یو مشر راله خوښ کړه ، ما ځواب ورنکړو او خبره می بله خوا واړوله چه بل اتوار به بیا جمع شو ، نو دوی بیا ما پسی شو چه مونږ له یو مشر مقرر کړه نو زه پاځیدم او دوی کښی می هر سړی ته ښکته پورته وکتل چه تولوته می په غور وکتل نو ورته می ووی چه دوی کښی خو ماته داسی سپک او ذلیل او بی غیرته سړی ښکاره نه شو چه ستاسو مشر یی کړم . تاسو عجیبه مخلوق یئ او ځان ته خدایی خدمتګار هم وایئ ، قیدونه هم تیروئ ، نو چه کوم سړی خپل مشر مقرر کړئ نو بیا هغه ته کنځل کوئ ، هغه سپکوئ ، ډیره دافسوس خبره ده ، دوی چپ شول او بیا یی ماته دا شرم نه خبره ونه کړه ، مونږ چه د هریپور په جیلخانه کښی وو نو یو قیدی ماله راغی چه ای باچاخانه چه ستا دي خدایی خدمتګار و زه جیلخانی ته د دریو میاشتو دپاره راوستی وم او دا ته یی وی چه بس میاشت نیمه کښی رهایی ده ، ما شپږ میاشتی تیری کړی اوس زه ورته وایم چه ما پریږدئ چه زه لاړ شم او دوی می نه پریږدی ماورته وی زه دی پریږدم نیغ څه دفترته ، ما همیشه خدایی خدمتګار د دی کاره منع کړی دی ، چه په زور او چل څوک جیل ته مه راولئ . دا تحریک ته د فایدی په ځای نقصان رسوی .

خلک په زور جیلخانی له په تلو مه مجبوروی ٔ او په خوشامند و منت دو که خلک جیلخانی ته مه بیایئ . ستاسو خو دا خیال دی چه ډیر خلک جیلخانی ته لاړ شی نو زمونږ به په حکومت دعب قایم شی لیکن د کمزورو خلکو په بوتلو تاسو سپک کیږئ او ورسره تاسو خپل تحریک بد ناموئ . هم چه د ډیرو خلکو په تلو په حکومت روب پری وځی لیکن چه

هغوی مضبوط او با اصوله دی. ما په جیلخانه کښی چرګان ساتلی وا او هغوی له به ما په
خپل لاس خوراک ورکولو، هغوی ما سره داسی اموخته شوی وچه څه به زما غیږه کښی ناست
وڅه به زما په اوږو سوره پدل، یوه ورځ می اوده کلک اخکلی و، هدوی له می ورکول څوک
زما په لاس، ځوک زما په غیږ کښی او څوک زما په سر ناست و. کرنیل سمت جیل ته په دوره
راغلی وچه ماله راتلونو دا تماشه لی ولیده نو د جیل افسران یی تول واپیس کړل او زما د جګو
په شا، شا راغی، زه تری خبر نه یم او دی زما شا ته ولاړ دی، تماشه یی وکړه بیا یی ما ته وویل
چه: ( good Morning ) (سحر دی پښه شه). چه ما وکتل سمت صاحب و سما ته یی وویل
چه دا څه کوی؟ ما ویل چه دا زه چه څه کوم په دی کښی ستاسو د پاره سبق دی، ګوره دا
معلومه ده چه مونږ دوی حلالو او خورو، خو چه زه ورسره محبت کوم او په کښی یی مروم
نو دوی زما په غیږه کښی او څوک زما په اوږه، او څوک زما په سر ناست وی. دوی نه
تاسو له سبق اخیستل په کار دی. ګوره دا حیوان دی خو چه زه ورسره مینه کوم نو زما د
غیږی نه نه کوزیږی او انسان خو اشرف المخلوقات دی که د هغه سره مینه وشی نو
ولی دی د سړی دوست نه شی.

کرنیل سمت یو بهادر سړی و او بهادران یی خوښ و نو ده ځپله اقرار وکه چه ما
جنګ په تاسو بایلود. بیایی وروسته خدایی خدمتګارو سره ډیره مینه پیدا شوه او
مینه سلوک یی و، او زما خو پری دومره اثر شوی وا او زما یی دومره قدر کو وچه په ۱۹۴۷
کښی چه زمونږ د سکو ډیری کښی جلسه وه، چه ګورم چه کرنیل سمت خپل زوی د لاسه
نیولی ستیج له راغی، د هرکلی نه پس یی ما ته وویل چه زما د دې زوی په سر لاس راکاږه
ما هغه ځان ته رانږدی که او ده ته می وویل چه ته ماله جلسی له ځله راغلی ته خو سړی کاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکوبي او که پاکستان جوړشي نو تا به د نوکرۍ نه مات کړي. ده وخندل او وېي ویل چه پاکستان په کومه ورځ جوړشي زه به دلته نه یم. دده مسلم لیګ هم بلې ایشو او ډېښوو په جبلخانه کښې لې ښه ډبولي و، ځکه چه بیر سټر قیوم پړی دبا وکړی وکه چېرې زمونږ حکومت شي بیا به څه کوي؟ رښتیا وه چه پاکستان په کومه ورځ جوړشو، نو دی خوا جنډی او چتیلډی او توپي خلاصېدی او هغه خاکرنیل سمت سره دخپلې کډی په فرنټیر میل کښې انګلستان ته روان و.

په ۱۹۴۵ کښې زمونږ دلعضي ممبرانو په زړه کښې دا خیال پیدا شو چه زمونږ په صوبه کښې وزارت ښه دی که مونږ وزارت واخیستو نو د نورو کارونو نه علاوه دا سیاسي قیدیان چه د درې کالو ښه راپه دی خوا په جبلخانه کښې پراته دي هم رها شي، زمونږ د اسمبلۍ په ممبرانو کښې لعضي کسان د حکومت او وزارت ډېر شوقیان و، دوی سول نافرماني کولو ته تیار نه و، ریلونه یې کولي نه شول، دوی خپل کارونه کول او خدایي خدمتګار په چپاوونو کښې څه مړه، څه قیدیان او څه زخمیان شول، نو خلکو دوی ته ښه نه کتل ځکه چه دوی تخپله هم کار کولو ته تیار نه وا او نورلي کار ته نه پرېښودل. تر دې چه لعلي زمانزوی یې هم چپاو کولو ته نه پرېښوده. دوی چه د وزارت جوړولو کوشش شروع که نو دیکه توت په کیمپ کښې ساقي صاحب او کیمپ کمانډر سالار شیر علي خان د دوی مخالفت شروع کړو او ډاکټر صاحب یې هم د ځانه سره هم خیاله کړ. دوی د اسمبلۍ خپل ول ممبران د صوابي نه یکه توت کیمپ له د اجلاس د پاره راوغوښتل چه دوی د ځانه سره د وزارت په جوړولو کښې متفق کړي، خو هغوی چه به راتلل نو ساقي صاحب به پوهول غه اجلاس هم ناکامیابه شو. اخر چه ساقي صاحب تېرا ته لاړو نو دوی ته صحنه خالي شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر په صوبه سرحد کښې چه مونږ څه کول نو هغه مونږ يوازې دخولې په تبليغ او تشولاسونو کول، ولې چه زمونږ سره هيڅ مالي مرسته نه ده کړې. اوبعضې خلکو به لا زياتې په مونږ دا الزام هم لګولو چه دوی څه تعميری کارنه دی کړی اودقوم روپۍ يې خوړې هوبهمن کالونی په دهلی کښې وه او سيوا ګرام په واردهٔ کښې. وا وچه څه وخت به پراتهنا (عبادت) شروع شوه نو دقولونه مخکښې به ما دقرآن شريف تلاوت وکړو، خلکوته به د هغه ترجمه وکړه. زمانه پس به يوجاپانی دبده مذهب پيرو کارخپل مناجات بيان کړل اوبيا به پراتهنا شروع شوه. دګاندهی جی په زړه کښې دټولو مذهبونو يو شان احترام وا وهغه به داټول مذهبونه حق ګڼل اوزما عقيده هم دغسې ده. دقرآن شريف او ډګيتا مطالعه خوما په سبه شان سره کړې ده اوڅه وخت چه زه په ډيره غازی خان جيل کښې سکهانو سره قيد ومٔ نو دهغوی نه مې دګرنته صاحب زياته حصه اوريدلې وه. دبده مذهب مطالعې سره زما ډېر شوق وولې چه مونږ خلک د اسلام نه مخکښې د بده مذهب پيرو کار وو ليکن دبده مذهب کتاب ماله په لاس رانغی. انجيل مې دطالب علمی په زمانه کښې په مشن های سکول کښې ويلې وو ولې چه زه دهغوی دسکول طالب علم ومٔ تورات مې لږ ډېر جيلخانه کښې کتلی و، د زردشت دپارسيانو مذهب دکتابونو دکتلو مې هم ډېر شوق و ولې چه هغه خدای مونږ له رالېږلی وا وپه بلخ کښې پيدا شوی دی. خدای په قرآن کښې وايي چه ما هرقوم ته دهغوی نه يو هادی لېږلی دی. ليکن تر دی وخته پورې ماد هغه متعلق هيڅ لټولي څيز بيا نه مونده. خورشيد بهن اونورو پارسی دوستانو ماته ويلی وو خو هيڅ دهغه يو کتاب ماته را ونه لېږه. زما مذهب رښتيا، مينه محبت اود خدای دمخلوق خدمت دی. مذهب هميشه دنياته داخوت او محبت پيغام راوړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکوموخلکو په زړونوکښې چه دینی نوع انسان د پاره رواداری، مینه، محبت نه وی او د قوم سره په زړه کښې چه نفرت. بغض، کینه وی نو داسی سړی د مذهب په ژبه ولیږي. دالیکښن په دوخت کښې مسلم لیګ په صوبه سرحد کښې د پراپیګنډې د پاره پونجابي میجر خورشید راالیږلی وُ چه دخپلی بدعملی په وجه دفوج نه موقوف شوی وهغه یی ددی غرض د پاره راولیږلو چه هغه پښتنو کښې خانه جنګی پیدا کړي. او داسی تقریرونه به یی کول چه دتشدد نه ډک وو، ده به ویل چه دا یو خو خدایی خدمتګار لیونیان دي چه دی قوم کښې ددوی رسوخ او اثردی، دوی قتلول غواړی او داسي خلک پیدا کړي چه هغوی ته مونږ لس لس، شل شل زره روپۍ ورکړو چه هغوی دالیونیان مړه کړي ځکه چه ددوی د مرګ نه بغیر زمونږ لاره ازادیدی نه شی، داسړي ددې د پاره سرحد ته راغلی وو چه پښتانه په کورکښې وجنګوی او کرچری دخدایی خدمتګارو رهنمایان قتل کړی شی نو دوم هلته دی خو خدایی خدمتګارو سره ده، نو دبدل اخیستلو به ضرور کوشش کوي او د مسلم لیګ لیونیان به قتلوي. او په دی طریقه به پښتانه په خپل کورکښې په جنګ، جګړه اخته شی، او ددوی به برباد شی، میجر خورشید یوازی زمونږ تباه کول نه غوښتل بلکه دپښتنو تول قوم یی تباه کولو.

## زلمی پښتون:

څه وخت چه زمونږ خلک د میجر خورشید ددی ارادی او سکیم نه خبر شول نو هغوی د خدایی خدمتګارو د حفاظت د پاره نوی جماعت دغنی په مشرۍ کښې جوړ کړو چه نوم یی (زلمی پښتون) واو په دی کښې هغه ځوانان شریک شول چه د چا عقیده په عدم تشدد باندی نه وه ولی چه هغوی په دی غرض دغه جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الیکشن :

مخکښې الیکشن دا روان و نوما دا فیصله وکړه چه زه به الیکشن کښې په داسې حالاتو کښې حصه نه اخلم ځکه چه دا الیکشن ګټه خو د وزارت جوړولو د پاره وی، زمونږ وزارت شته خو دغه داحال دی چه دوی بر خلاف پراپیګنډه ی د دوی ماتحت خلک کوی او دوی ورته لاس ترزنی ناست وی.

په کلکته کښې د ورکنګ کمیټۍ او د پارلیمنټری بورډ شریکه جلسه وه زه هم ورله تلی وم او پکښې شریک وم، دا ټوله جلسه د الیکشن د پاره وه ما دغوی ته مخکښې د صوبه سرحد حال بیان کړو او دغوی ته می ووې چه الیکشن خو د وزارت د پاره دی چه الیکشن وګټو او وزارت جوړ کړو، زمونږ وزارت شته او پیرنګیان او دغوی ملګری زمونږ د وزارت بر خلاف پراپیګنډه کوی او زمونږ د وموره اختیارات نشته چه دوی نه تپوس قدغه ی وکړو نو زه تا سو خبر وم چه زه به راتلونکی الیکشن کښې حصه نه اخلم. پارلیمنټری بورډوې چه په هره طریقه چه وی چه دی په الیکشن کولو راضی کړو خو زه یی اماده او رضا مند نه کړی شوم چه د ورکنګ کمیټۍ اجلاس ختم شو نو ما ګاندهی جی ته ووې تا چه خو زما دا ټوله قصه واوریده نو زه په دی الیکشن کښې حصه نه اخلم نو دغه هم ماسره اتفاق وکړو.

زه کلی ته دا روان شوم کار می کولو زما خو دالیکشن سره اتفاق نه ؤ کار سره می اتفاق وکړو کښې نو ځکار نه کښېنا ستم په ملک کښې می دوره ی شروع کړی حکومت په زور شور زمونږ مخالفت شروع کړی وماته دا پته ولګیده چه حکومت اسلامیه کالج بند کړو او دغه شان د صوبی ټول کالجونه او سکولونه بند وي او هلکان د مسلم لیګ د پراپیګنډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره کلوا وښارونو ته لیږلي دا راته هم معلومه شوه چه د پیرنګیانو ښځې هم په ملک کښې
ګرځي او د خانانو ، ملکانو ، ښځو ته وايي چه مونږ تاسو کره راغلي یو د سره لوپټه غواړو او
زمونږ لوپټه ووټ دی مونږ له به ووټ راکوئ او د پیرنګیانو د پاره د بیګم شهنواز لونه
او نوری له پنجابه د پیری جنګی سرحد له راغلی دي . د پنجاب نه مسلم لیګیان د علیګړ مسلم
یونیورسټی هلکان او د کلکتی اسلامیه کالج طالب علمان او د هندوستان د نورو ځایونو
نه کارکن لیډران په ډیر لوی تعداد سره سرحد ته راغلی وو د دی نه علاوه حکومت او
مسلم لیګ د سرحد او پنجاب پیران د کوټونو نه راوښکلی وو . وې چه دا وخت د کوټونو دی راځئ
میدان ته رشئ او مانکی صاحب ( د مانکی پیر صاحب امین الحسنات ) یې هم راوښکلی وو او
مونږ ته یې مقابله کښی ودرولی وو ، دوی ما سره واقف و ، دده د پلار فاتحی له هم زه تللی
وم ، او کله نا کله چه به زه په دوره لاړم نو دده سره به می لیدل ، نو ده ماپسی یو سړی را ولیږه
چه زه ستا سره ملاقات له درځم ، ما ورته وویل چه دی نه راځی زه به درشم . دی ډیرنو
په چوټی کښی اوسیده ، یوه ښکله ورله حکومت ورکړی وه ، زه ورغلم او دی می ولید او
ډیری خبری مو وشولی ، ده ماله د جیب نه یو کاغذ رااوویست او راته یې وویل چه دا ماله جناح
صاحب راکړی دی او په دی کښی یې لیکلی دی چه که پاکستان جوړ شو نو په دی کښی به اسلامی
شریعت وی ، ما ورته وویل چه خټه یې . دي حیران شو او راته یې وویل چه ولی؟ ما ورته وویل
چه په اسلامی شریعت کښی د جناح صاحب ځای شته؟ نو ناله به یې څرنګه جوړ کړی ، ما ورته وویل
چه ته خو بایډ چه د اسلام نه واقف یې ، نو ته پخپله فکر وکړه چه که سبا له دلته اسلامی شریعت
جاری شي نو چه د دی مسلم لیګ د مشرانو به څه حال وی؟ ما چه د پیرنګیانو او میمانو زمونږ
په مقابله کښی دا دومره جد وجهد او دلچسپی ولیده نو زما خیال بدل شو ، الیکشن ته رف

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه میاشت پاتې وه نوما کار شروع کړو دا د ۱۹۴۶ کال د متحده هندوستان اخري الیکشن و. دې الیکشن ته مسلم لیګ داسې رنګ ورکړو او خلکو ته به یې ویل چې دا الیکشن په هندوستان او پاکستان دی چې پاکستان غواړئ که متحده هندوستان؟ په هندوا و مسلمان و چه کفر سره ځئ که اسلام سره ځئ؟ په منبر او په مسجد کې چه جماعت له ووټ ورکوئ که درمسال له.

په دې الیکشن کښې مونږ میا جعفرشاه او د ګلي ګړي ارباب عبدالرحمان نه و درول ځکه چه دوی د ډاکټر صاحب او قاضي صاحب په مینځ کښې اختلافات پیدا کولو او ډاکټر صاحب ته به یې زما په سر هم لمسون کولو چه باچاخان داخل تا نه وزیراعظم کوي او قاضي صاحب وزیراعظم کوي. د دوی دا ټولې خبرې دروغ وې. مونږ ډاکټر صاحب وزیراعلی کوو، مونږ صرف دومره ویل چه ډاکټر صاحب د (لا اینډ اډر) نه اخلي، دا د قاضي صاحب له ورکړئ ځکه چه ډاکټر صاحب له سرکاري افسران دوکه ورکولی شي او قاضي صاحب له یې نه شي ورکولی، خو ډاکټر صاحب ووې چه که جعفرشاه او ارباب عبدالرحمان نه و دروئ نو زه هم نه ودریږم مونږ د ډاکټر صاحب نه مجبوره شوو او دوی مو ودرول جعفرشاه او ارباب عبدالرحمان تش په نامه خدائي خدمتګار وو خو چه څه وخت پاکستان جوړ شو او د قیوم وزارت راغی نو د ټولو نه اول د ګلي ګړي ارباب عبدالرحمان راولګید او قیوم لي خپل ځای کښې میلمه کړو، جعفرشاه یې هم راوغوښت او دوی مسلم لیګ کښې شامل شول او ورته یې ویل چه مونږ به کوشش کوو چه نور خدائي خدمتګار هم په مسلم لیګ کښې شامل کړو.

د هندوستان د نورو مسلمانانو په شان پښتانه جذباتیان نه وو مونږ په دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې ډېر کار کړی وي په دوی کښې سیاسي شعور راغلی وګویه په کور، کلي په کلي ورسپی ګرځیدلي وو دوی موبوه کړي وو او په دوی کښې پوهه او بیداري راغلې وه دا سلام نه واقف شوي وو دوی د اسلام په نوم چا دوکه کولی نه شوه، دلته خدايي خدمتګارو ډېر کار کړی وه هندوستان کښې مسلمان غریب د اسلام نه چا خبر کړي و؟ په اسلام چا پوهه کړي و؟ سیاسي شعور او پوهه پکښې چیرته وه؟ دهغوی د پوهې څوک و؟ او دا څیزونه خو په یو قوم کښې ځپله نه پیدا کېږي او دا خو چه پکښې څوک په قام او ملک او اسلام مین خلک پیدا اشي نو پکښې کار و کړي. هندوستان کښې داسې خلک تر اوسه مسلمانانو کښې نه دي پیدا شوي نو ځکه د اسلام په نوم دوکه کېږي او خود غرضه خلک د اسلام په نوم تری فایدې اخلي. بله دا چه د هندوستان د مسلمانانو لیډران هغه سړي وو چه د پیرنګیانو خاص الخاص وو. یا به سر وو، یا نواب، یا خان بهادر خدايي خدمتګار رو شپه او ورځ په دې یوه میاشت کښې چه کار و کړو نو سره د دې چه پیرنګیانو او مسلم لیګ ډېره موده د غزې وهلي دي، مسلم لیګ په دې الیکشن کښې شکست وخوړ او خدايي خدمتګار په پوره اکثریت سره کامیاب شو، پنځوسو کښې یوویشت خدايي خدمتګار وو، دوه سیټه جمعیة العلماء هند وګټل، باقي اوولس سیټه مسلم لیګ وګټل.

په صوبه سرحد کښې شپږ ضلع دي په پنځو ضلعو کښې کوهاټ، بنو، ډیره اسماعیل خان، مردان، پېښور کښې مونږ کامیاب شو او په هزاره کښې هم تول پښتانه دي خو ژبه لي پرلېښي ده هلته چه په کومو علاقو کښې چه پښتو ده نو هلته پښتانه کامیاب شو او چیاچه ژبه هېره کړې وه او هندکو لي دي هلته مسلم لیګ کامیاب شو حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د حکومت پرزو زمونږ برخلاف چه خومره کار کړی و د دومره مسلم لیګ نه وکړی
د حکومت دا کار مونږ ته ډیر مکروه او د ائین خلاف ښکاریده نو مونږ کښېنستو او
دا فیصله مو وکړه چه وزارت نه اخلو او د وزارت د جوړولو نه مو انکار وکړی او وسویل
مونږ ته هغه وخته پورې د وزارت اخیستو ته تیار نه یو چه تر کومه پورې حکومت مونږ له
دا اجازه وانه کړي چه الیکشن کښې کومو ملازمانو زمونږ خلاف حصه اخیستې ده او
د قواعدو او ضوابطو خلاف ورزی یې کړې ده چه د هغوی برخلاف مقدمې جوړې
کړو او مجرمانو له مناسب سزا ورکړو. زمونږ د دې فیصلې سره د ډاکټر خان صاحب اتفاق
نه و. سعد الله، سردار پټیل د دې فیصلې نه خبر که، سردار پټیل چه خبر شو نو هغه
مولانا ابوالکلام ازاد د دې مسئلې د حل کولو د پاره سرحد ته راولیږه او پېښور کښې
زمونږ اجلاس وشو.

ما مولانا صاحب ته صافه او پاکه خبره وکړه چه کومو سرکاری ملازمانو زمونږ برخلاف
قدم وچت کړې دې که مونږ ته دا اختیار نه وی چه مونږ هغوی له سزا ورکړو نو مونږ
داسې وزارت نه اخلو. مولانا صاحب واپس ډیلی ته لاړو او هلته یې د وایسرائے نه یو خط
واخیستو او بیا راغی، په دې خط کښې وایسرا په ګول مول طریقه **زمونږ شرطونه منلی و**
نو مونږ وزارت خو واخیستو خو په دې شرط چه د وزارت اختیارات به یوې **مرکزي**
کمیټۍ سره وي. زما دا رایه وه چه د هرې ضلعې د خدائي خدمتګارو نه دې "دوه دوه
کسان واخیستې شي او د هغوی نه دې د غه کمیټۍ جوړه شي خو شرط به دا وي چه
دغه کسان به د حکومت ملازمانو سره لیدل کتل نه کوي او نه به د وزارت سره تګ
راتګ کوی نه به د چا سفارشونه کوی بلکه د دې به د وزارت د پاره د کار کولو پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي او وزارت به د دوی د منظورشوی پروګرام نه خلاف کار نه کوي د دې کال د پاره مادتولی صوبې دوره وکړه او د غنی کسان مې هم پیدا کړل کمیټې مې ترې جوړه کړه خو افسوس دی چه هغوی د غه کار و نه کړو ولې چه هغوی خپل غرضونه نه پوره ښول او د غه سکیم کامیاب نه شو. حقیقت دا دی چه مونږ کښې لا داسې خلک پیدا شوی نه دی او هغه چه مونږ وئیل چه کومو سرکاري افسرانو د قانون، اخلاقو او سړیتوب خلاف په الیکشن کښې د خدائي خدمتګارو خلاف کار کړي دی. هغوی له سزا ورکوو، هغه کار هم و نه شوو.

## دآئین ساز اسمبلۍ ممبران:

اوس د دستور ساز (قانون ساز) اسمبلۍ د پاره د انتخاب مسئله راخکښې شوه. د هغه په باره کښې دا فیصله وشوه چه د هرې صوبې څومره ممبران په حصه کښې راسي نو هغه به د صوبائي اسمبلو د ممبرانو په ووټ جوړیږي، زمونږ د دې ممبران د سپیل یوزه شوم، یو محمولانا ابوالکلام آزاد مقرر کړو. مسلم لیګ د هندوستان د مسلمانانو ذهنونه دومره بدل کړي وو چه د ده په شان با عمله عالم مسلمان او د قربانی مړلی سیاستدان په ټول هندوستان کښې په مسلمانانو کښې نه وخو ده له چاځای ورنکړو نو مونږ د خپلې صوبې نه منتخب کړو یو د مسلم لیګ د سپیل و نو هغه د هزارې د ضلعې نه سردار بهادر منتخب شو، دا مرکزي اسمبلۍ هم وه او ائین سازه اسمبلۍ هم وه، مسلم لیګ د دې بایکاټ وکړو ما دې د مسلم لیګ مسلمانانو ممبرانو ته ډېر منت وکړو چه راځئ چه په دې کښې شریک شو مونږ به هندوانو ته دوایو چه تاسو که «سوشلست جمهوریت» جوړوئ نو مونږ د هر دروبکښې شریکیږو، په دې کښې د مسلمانانو ډېره فایده ده ولې چه مسلمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هندوستان کښې غریبانان دي او هندوان امیران دي. په دې آئین کښې دا خبره شته چه څه وخت دا آئین جاري شو او مرکزي حکومت جوړ شو نو هره صوبه چه په اکثریت سره فیصله وکړي چه زه د دې حکومت نه جلا کیږم نو جدا کیدې شي. که چیرې مونږ پوه شو چه زمونږ دا خبره نه مني نو بیا زمونږ په صوبه سرحد کښې اکثریت دی او ستاسو په پنجاب، بنګال او سنده کښې اکثریت دی، زمونږ ټولې خپلې خپلې اسمبلۍ به قرارداد پاس کړي چه مونږ مرکز سره نه اوسیږو، بیا به مونږ ټول په شریکه یو حکومت جوړ کړو. که چیرې مسلم لیګ زما دا خبره منلې وې نو نه به پنجاب تقسیم شوی وی نه بنګال. خو د مسلم لیګ مسلمانان داسې لیوني وو چه څوک به مسلم لیګ کښې نه وو. هغه به یې د سره مسلمان نه ګڼلو.

کرپس مشن:

چه دویم جنګ عظیم شروع شو نو د امریکې سیاسي مشرانو دویل چه تر څو د هندوستان سیاسي مسئله حل شوې نه دې نو هندوستان جنګ کښې زمونږ تائید کولی نه شي. نو هغوی د برطانیې په حکومت د باد اچول شروع کړل چه هندوستان ته ازادي ورکړي. پریزیډنټ روزویلټ دا خبره بیا بیا مسټر چرچل ته وړاندې کړه، نو انګریزانو هم محسوس کړه چه د امریکیانو په دې مطالبه غور وکړي. انګریزانو د دې د پاره کرپس مشن هندوستان ته ولیږلو، خو دا مشن ناکام شو، د جنګ حالت ورځ تر ورځ خرابیدو او امریکیانو بیا پیرنګیانو له مخ را واړولو. نو لارډ ویول لندن ته لاړ او د وزیر هند سره یې مشوره وکړه چه د هندوستان د سیاسي مسئلې د حل د پاره یو ګول میز کنفرانس راوبلي. په دې ګول میز کنفرانس کښې مسټر جناح، ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو نمایندګان به صرف مسلم لیګ مقرروي او د هندوانو نمایندګان به
کانګرس. مولانا آزاد چه د کانګرس صدر و ددې سره اتفاق ونه کړلو، هغه به ویل
چه کانګرس به د هندوستاني قومیت په حیثیت کنفرانس کښې شاملیږي. په دې
اختلاف دا کنفرانس هم فیل شو. دا ډېره د تعجب خبره ده چه پیرنګي به دې خبره
ټینګ ولاړ وو، چه کانګرس دې مسلم لیګ د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو
واحد نماینده جماعت تسلیم کړي، ولې حقیقت دا وو چه کله به ۱۹۳۷ع کښې هم د پیرنګي
په هندوستان کښې انتخابات وکړل، نو هغې کښې د یوولسو صوبو نه په اتو کښې قطعي
اکثریت کانګرس حاصل کړو، باقي د مسلمانانو درې اکثریتي صوبې وې چه هغه مقامي
پارټو سره وې او مسلم لیګ سره یوه صوبه هم نه وه، سند کښې د الٰهي بخش سومرو
حکومت وو چه هغه یو قوم پرست سړی وو او د کانګرس د ممبرانو حمایت هغه ته حاصل وو
پنجاب کښې د یونینسټو حکومت وو چه هغې وزارت کښې د مسلمانانو سره هندوان او
سکهان هم شامل وو، هم دا شان بنګال کښې حکومت د مولوي فضل الحق وو چه هغه هم
د غیر مسلمو په مرسته خپل حکومت چلولو، مګر د دې هرڅه باوجود پیرنګي سترګې پټې
کړې وې او په دې نښتي وو چه کانګرس دې مسلم لیګ د مسلمانانو واحد نمایندګۍ جماعت
ومني او تر دې حده پورې لاړ چه پوره شمله کنفرانس یې هم په دې یوه مسئله باندې ناکامیاب
او ختم کړو. د دلچسپۍ خبره دا ده چه که د اموجوده پاکستان مونږ واخلو او د ۱۹۳۷ع
د انتخاباتو نتیجې وړاندې کېږدو، نو د پیرنګي او د مسلم لیګ حقیقت به معلوم شي، په دغه
انتخاباتو کښې د سندھ او سرحد نه یو ممبر هم د مسلم لیګ نه وو منتخب شوی او د پنجاب
د ټولې صوبې په مسلمانانو کښې صرف یو ممبر د مسلم لیګ وو، یعنې د دې درې واړو صوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلمانانو دیوٙسل وپنځه پنځوس ممبرانو نه دمسلم لیګ طرف یوممبرواودغه یې دعوه، وه.

شمله کنفرانس:

برتانوی حکومت په دغه وخت کښې مجبوروچه هندوستان ته خپل حق ورکوي ـ

دی دپاره یې دځیلې کابینې یوځوزمه وارکسان هندوستان ته راوالیږول چه هغوی هم

ددغه کال دمارچ په ۲۳ نیټه راورسیدل.

دې مشن دآل انډیا کانګرس اومسلم لیګ جماعتونوسره خبرې اترې شروع

کړې، ددی مقصد دپاره یې څلورڅلورتنه نمایند ګان دهرجماعت نه وغوښتل، دااخبرې

اترې په ۲ مئ ۱۹۴۶ په شمله کښې شروع شوې دکانګرس له خوانه داکسان مقرر شول:

۱- مولانا ابوالکلام ازاد دکانګرس صدر.

۲- جواهرلال نهرو.

۳- سردارپټیل.

۴- زه ( عبدالغفارخان ).

دمسلم لیګ له خوانه داکسان راغلل:

۱- محمدعلی جناح چه دمسلم لیګ صدرو.

۲- لیاقت علي خان. جنرل سکرټری

۳- راجه محمودآباد.

۴- عبدالرب نشتر.

دبرتانیې دلیبرحکومت نه داوزیران راغلي وو:

۱- لاردپیتیک لارنس وزیرهند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- سر ستیفرد کرپس .

۳- مستر الکګزانډر .

۴- لارډ ویول د هند وایسرای .

د پورته ذکر شوو نمایندګانو تر منځ خبري شروع شوې . په اول ملاقات کښې چه څه خبري وشوې دهغې نه پس مونږ د کانګرس څلور وارو ملګرو مهاتما ګاندهي ته لاړو هغه مونږ ته ووېل انګریزان ډېر چالاک او هوښیار دي تاسو به په خبرو اخته کړي او په هغه او دغه به مو تېر باسي ، تاسو د هر څه نه مخکښې دوی نه پوښتنه وکړئ چه ایا دوی هندوستان پرېږدي او که نه ؟ بله دا ورته ووایئ چه تاسو د انګریزي فوځ د دې ملک نه وباسئ او که نه ؟ په سبا چه مونږ جرګې ته لاړو نو جواهرلال نهرو دوی ته داخبره وکړه چه تاسو هندوستان پرېږدئ او که نه ؟ او تاسو دا انګریزي فوځونه د دې خاورې نه وباسئ او که نه ؟

لارډ ویول ورته په ځواب کښې ووې چا ته یې پرېږدو ؟ تاسو (کانګرس او مسلم لیګ) جوړه نه کوئ نو مونږ به دا ملک چا ته پرېږدو ؟ جواهرلال نهرو ورته ووېل ، که مونږ ته یې نه پرېږدئ نو دوی (مسلم لیګ) ته یې پرېږدئ خو تاسو ووځئ .

د دې خبري په جناح صاحب سخته اثر وشو او هغه ووېل چه مونږ جوړه کوو . د دې نه پس مونږ تول راووتو او جناح صاحب او جواهرلال نهرو یوې بلې کوټې ته ننوتل او لږ ساعت پس راووتل او بیا تول د جرګې په ځای سره کښېناستو او فیصله دا سې وشوه ؛ یو وفد به مقرر شي چه یو تن د کانګرس او یو تن د مسلم لیګ نماینده پکښې وي او درېیم سرپنج به یې داسې څوک وي چه د دواړو جماعتونو په اتفاق انتخاب شي کومې خبري چه

سه جناح حبیب دخپل خبرونو چیر ملګی به خپره د کانګریس دلیډرانو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاموړ زه چه ورکوول د جناح پیلانو ۷۰۰ به ټپ وړ کول

د کانګرس او مسلم لیګ له خوا فیصله شي هغه به ومنلي شي او کومې چې په هغې کښې اختلاف او

لانجه وي هغه به د هغه وفد فیصله کوي.

لارډ پیتیک لارنس مونږ نمایندګانو ته ووېل چه تاسو به په دې لیو د خو کښې دننه دننه

د هغه دې کمیټی وفد انتخابوئ او مونږ ته به یې نومونه راليږئ. مونږ لارډ او کانګرسي

ته مو دا خبره وکړه مونږ چه د دې وړ ځي پس اجلاس ته راتلونو کاندهي جي مونږ ته ووېل

چه "مسلم لیګ خه غواړي" هغه ورته ورکوئ خو چه خبره ورانه نه شي!

چه مونږ راغلو او کښېناستلو نو لارډ پیتیک لارنس د جناح صاحب نه پوښتنه وکړه

چه هغه قصه مو څنګه کړه؟ جناح صاحب ورته ووېل د څه قصه؟ ما چه د جناح صاحب دا الفاظ

واوریدل نو عبدالرب نشتر صاحب ته می اشاره وکړه چه دلته راشه: هغه ما ته راغی نو ما ورته

ووېل ای هلکه وا نوئ یې مه! مونږ چه نن اجلاس ته راتلونو کاندهي جي مونږ ته ووېل

چه مسلم لیګ چه څه غواړي هغه ورته ورکوئ نو تاسو چه څه غواړئ هغه یې درکوي. ددې

خبرې ضمانت زه کوم. نشتر صاحب لارډ او د جناح صاحب شا ته ودرېدو. دېره دوخته

پورې ولاړ و خو هغه ورته هیڅ توجه ونه کړه نو بیا لارډ پیتیک خاې کښېناست او خبره ورانه

شوه پیتیک لارنس ورته ووېل چه: ای جناح صاحب تا خو وعده کړې وه؟ مګر هغه هیڅ

ونه ویل او جرګه ناکامه او خوره شوه.

**کیبنټ مشن:**

څه وخت چه د شملې کنفرانس ناکام شو او له هغه نه وروسته په انګلستان کښې نوې

انتخابات و شو او لیبر پارټي کامیابه شوه نو اعلان یې وکړه چه د هندوستان په بابا کښې

موږ چه څه اول ویلي و هغه به سر ته رسوو او عمل به پرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وروسته (واقعاتونه داخبره ثابته شوه چه د هغوی خبری د زړه داخلاصه وې. البته د کرپس مشن د ناکامی نه وروسته د چرچل حکومت دا فیصله کړې وه چه د جنګ تر ختمیدو پورې دې د هندوستان مسئله تاخ کښې کیښودلی شی.

کله چه معلومه شوه چه پیرنګیان هندوستان ته ازادی ورکولو باندې مجبور شول نو ما کانګرس ته وویل چه داخل حکومت داشی نو تاسو په خپله اخیستل په کار دی، ځکه چه تا خو لیدل چه داعملی بی اختیاره حکومت راغلی دی نو وزیرانو به د چا نه منل، اوس خو پوره اختیارات دا د والی دی نو په کار دی چه دا حکومت ته خپل لاس کښی واخلی. که چیری ته دا نه خلی نو دا د ریته وایم چه که دا خپل ځوی دیوی داس پرې کښینوې نو دا حکومت داسی یو څیز دی چه دانسان دماغ بدل کړی، نو دی به هم بیا ستا خبره نه منی. ښه به داوی چه ته کله دلیتن په شان حکومت خپله واخلی. که کانګرس حکومت اخیستی وی مکمل کړی نی وی که بیا نی خو نبی نه دی نو دما د په شان به یی پرینبی وی.

خو ته پوهیږم چه هغه زما ددی خبری سره په هیڅ وجه اتفاق ونه کړو، که چیری ده حکومت اخیستی وی نو د هندوستان به دومره تباهی او بربادی شوې نه وه. دلیبر حکومت دا اختیار د حاصلولو نه پس د پیرزدیو پارلمانی هیئت هندوستان ته راولیږه.

د فروری په ۷-۱۹۴۶ء لارډ پیتیک لارنس وزیر هند په پارلیمنټ کښې دا اعلان وکړو چه بېرتانوي حکومت هندوستان ته یو کیبنټ مشن لیږی، چه د هندوستان د نمایندګانو سره د ملک د ازادی په باره کښې خبری وکړی.

د دغه وفد د ۱۹۴۵ - ۴۶ په ژمی کښې هندوستان ته راغی او معلومه شوه چه دا مشن به په لارډ پیتیک لارنس وزیر هند، د تجارتی بورډ پریزیډنټ سر سټیفورډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرپس او د بحری محکمې اول لارډ اې . وی الکزنډر باندې مشتمل وې . د کیبنټ مشن د پلان مطابق به صرف درې محکمې د مرکزی حکومت تر اختیار لاندې وې، دا درې محکمې د دفاع، امور خارجه او مواصلاتو محکمې وې . مګر دې مشن په خپل پلان کښې یو نوی تجویز وړاندې کړ چه هندوستان لې په درې حصو تقسیم کړی ؤ ( C . B . A ) د دې درې چه د مشن د ممبرانو دا خیال وو چه د اقلیتونو په زړونو کښې به اطمینان پیدا شي په B برخه کښې پنجاب سنده، صوبه سرحد او برتانوی بلوچستان چه دا د مسلم اکثریت علاقې وې، په C برخه کښې بنګال او اسام شامل وو . په C برخه کښې د مسلمانانو پوره اکثریت و او په A برخه کښې د پورته ذکر شوو نه علاوه د هندوستان نورې ټولې صوبې شاملې وې. په دې دول د مسلم اکثریت صوبو ته تقریباً پوره خود مختاری حاصله وه په دې لحاظ په B او C برخو کښې د مسلمانانو اکثریت یقیني و او هغوته دا حق ورکړ شوی وه چه خپل ټول اختیارات ترلاسه کړي، تر کوم حایه پورې چه د مرکز سوال و د هغه سره صرف هاغه درې محکمې وې. په دې پلان کښې دا هم وه چه په یو زون کښې کومه صوبه اوسېدل نه غواړی او په اکثریت سره فیصله وکړی نو د هغې زون نه وتلې شي . د کیبنټ مشن پلان کانګرس او مسلم لیګ دواړو ومانه. په اول سر کښې جناح صاحب د دې سکیم مخالف وخو څه وخت چه مشن په صفا الفاظو کښې ووئیل چه نه موږ د ملک تقسیم منو او نه د ازاد ریاست سفارش کوو نو بیا جناح صاحب د مشن سکیم ومانه او پکښې شریک شو. په اخری ورځ جناح صاحب دا خبره تسلیم کړه چه د اقلیتونو د مسئلې د حل د پاره چه د کیبنټ مشن پلان کوم حل پیش کړی دی، د دې نه زیات کومه بله منصفانه فیصله نه شي کیدلی، په هر حال هغه د دې نه زیات مشن باندې نور شرطونه نه شو منلی هغه کونسل ته ووئیل چه کیبنټ مشن چه کوم سکیم وړاندې کړی دی هغه د زیات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات ددی. په دې وجه هغه مسلم لیګ ته مشوره ورکړه چه دا سکیم ومنی او کونسل په اتفاق سره ددې په حق کښې رایه ورکړه.

د کانګرس او مسلم لیګ له طرفه ددی پلان منل د هندوستان د تاریخ یوه روښانه واقعه وه له دی نه دا ثابتیده چه د هندوستان د ازادی سخته معامله د خبرو او مفاهمت له لاری فیصله شوه نه د تشدد او جنګ له لارې.

## د کانګرس صدارت:

تر دغه وخته مولانا ابوالکلام ازاد د ۱۹۳۹ عیسوی کال نه مسلسل صدر راغلی وو ځکه چه د دوهم عالمی جنګ او ملک کښې د هغه په نتیجه کښې د جد وجهد په وجه د نوی صدر انتخاب نه شو کیدې. هر کله چه جنګ ختم شو نو د کانګرس د نوی صدر د انتخاب سوال پیدا شو په دغه وخت کښې عام خیال دا وو چه مولانا ابوالکلام ازاد دې صدر پاتی شی ځکه چه دده په صدارت کښې د برتانیې لیبر حکومت او د هندوستان د مشرانو خبری اترې شوی وی او هم دده د صدارت په وخت کښې د شملې کنفرانس وشو، رایه داوه چه تر څو پورې دا خبری په صدارت کښې د هندوستان د ازادی کار تر سره شی ولی د صدارت په مسئله د کانګرس په مشرانو کښې اختلاف و د سردار پټیل او د هغه د طرفدارو دا خواهش وو چه دی (پټیل) دې صدر شی.

مولانا ابوالکلام ازاد ته دا تولی خبری معلومی وې هغه ددی په ځاۍ کښې د صدارت نه د استعفا ورکولو اراده وکړه د صدارت نه کولو فیصله وکړه خو د هغه دا خیال وو چه د هغه نه پس دې یو داسی سړۍ صدر شی چه په هغو نازکو او اهمو حالاتو کښې د مولانا صاحب د نقطه نظر مطابق کار وچلولی شی، ددې د پاره هغه ته جواهر لال نهرو موزون سړۍ ښکاریده او هغه پنډت ته رایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جواهرلال نهرو د صدارت په حق کښې په یو اخباري بیان کښې خرګندکړه ، ګاندهي جي هم د سردار پټیل په صدارت خوشحاله وخو د مولانا صاحب د دې بیان نه پس هغه خفه و نه ویل او جواهرلال نهرو صدر شو.

## د جواهرلال بیان :

د «کیبنټ مشن پلان» د قبلولو نه پس په هندوستان کښې د پره مېنه فضا پیدا شوه خو د دې نه وروسته جواهرلال نهرو په بمبۍ کښې په یو پرېس کنفرانس کښې داسې بیان ورکړو چه دا فضا یې ګډوډه کړه.

د ۱۹۴۶ کال د جنورۍ په لسمه نیټه جواهرلال نهرو نه په بمبۍ کښې په دغه پرېس کنفرانس کښې دا پوښتنه وشوه چه ایا آل انډیا کانګرس چه دغه تجویز منظور کړو نو د دې دا معنا شوه چه کانګرس دغه پلان په پوره ډول تسلیم کړو؟ نو دې په ځواب کښې ده ووېل «کانګرس چه په دستورساز اسمبلۍ کښې ښېنې نو ځان به د دې معاهدو پابند نه ګڼي او هغه وخت چه څنګه حالات پیدا کیږي د هغو مطابق به په ازادۍ سره فیصلې کوي.» د دې وضاحت نه پس د پرېس نماینده ګانو تپوس وکړو چه ایا د دې مطلب دا شو چه کیبنټ مشن پلان کښې ترمیم کېدی شي. جواهرلال نهرو د دې جواب کښې او ووېل چه کانګرس صرف په دستورساز اسمبلۍ کښې د شاملېدو وعده کړې ده او هغه ځان په کیبنټ مشن پلان کښې د بدلون او کمي زیاتي کولو مجاز ګڼي.

د مولانا ابوالکلام ازاد دا رایه وه چه دا یو غلط کار و شو هغه په خپل کتاب کښې وایي: زه په وضاحت سره د دې لیکلو ضرورت محسوسوم چه د جواهرلال نهرو بیان غلط و. «دا وینا صحیح نه وه چه کانګرس د خپلې مرضۍ مطابق په پلان کښې څنګه چه وغواړي ترمیم کولی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل خبر داوه چه موږ دا منلي وو چه مرکز کښې به وفاقي حکومت وي او د مرکز سره به صرف د درې محکمې وي نورې ټولې محکمې به د صوبو سره وې او د هغو په اختیار کښې به وي موږ «دا هم منلي وو چه صوبې به په درې ګروپونو A، B، C کښې ویشلې کېږي په دې شرطونو کښې کانګرس د خپله طرفه د معاهدې د نورو جماعتونو (فریقینو) د رضا نه بغیر د هیڅ تبدیلي کولو حق نه لري.

## د جواهر لال په بیان عکس العمل:

په مسټر جناح د جواهر لال نهرو د دغه بیان ډیر خراب تاثیر وکړو. د دغه بیان داسې د چه په هر چا یې سنه اثر نه شو کولی، جناح صاحب دا موقف اختیار کړو چه د جواهر لال نهرو بیان د د کانګرس د ذهن ترجماني کوي. د ده دلیل داو چه که کانګرس د و مره زر خپله رایه بدلوي او حال دا دې چه انګریز لا د لته موجود دی او د ده (کانګرس) لا سو ته اختیار نه دی راغلی نو اقلیتونه په کوم اعتماد یقین کولی شي چه د انګریزانو د تلو نه پس به کانګرس بدل نه شي او د کانګرس نظر به د دغه شان نه شي دا کوم څه چه د جواهر لال په بیان کښې ښکاره شوي دي. د دې سره سمدستي مسټر جناح یو اخباري بیان جاري کړو په هغه وخت کښې یې وویل: «د کانګرس د صدر د دې بیان سره هر څه بدل شول او اوس په هر څه د نوي سره د غور کولو ضرورت پیدا شو.»

جناح صاحب لیاقت علي خان ته وویل چه د مسلم لیګ د کونسل اجلاس راوبله او خوا له یې بیان ورکړو چه مسلم لیګ کونسل به د ډیلي کښې د کیبنټ مشن پلان ځکه منلی وو چه موږ ته یقین راکړی شوی وو چه کانګرس دا سکیم منلی دی او د هندوستان د پاره چه به کوم دستور جوړیږي دا سکیم به د هغې بنیاد وي هر کله چه اوس د کانګرس صدر اعلان کړی دی

ه دوا اثر ئے هند یو د تن جار ز کښ باچه خان رحمة الله علیه د خپل فراست
تجربه په رڼا کښ ...
کوله. باچه خان سره د بیا ځل په پوره کښ د دهلی حرص په تګلګ
زړوکړه . د دښمن د دغ نظام خپل پاتګ نږدې اوتو نه ګوول .



(c) ketabton.com: The Digital Library

چه کانګرس په دستور سازه اسمبلی کښې د خپل اکثریت په زور په دغه پلان کښې بدلون راوستی شی د دی دا معنا شوه چه اقلیتونه به د اکثریت رحم وکرم ته پاتې وي. جناح صاحب، په دغه بیان کښې دویل چه د جواهرلال د دی بیان مطلب دادی چه کانګرس د کیبنټ مشن پلان مسترد کړی دی نو خکه وایسرای ته په کار دی چه مسلم لیګ د دغه پلان منلی دی نو ده ته دی د وزارت جوړولو دعوت ورکړی.

## انترم حکومت :

د غه شان په ستمبر ۱۹۴۶ کښې عبوری حکومت جوړ شو. جناح صاحب خو اول د دی نه انکار وکړو بیا وروسته د لارډ ویول سره د خبرو اترو نه پس، پی په ۱۵ اکتوبر ۱۹۴۶ کښې عبوری حکومت ومانه او په هغې کښې شریک شو. لارډ ویول غوښتل چه زر تر زره انترم حکومت جوړ شی .

په دې وخت کښې زه ناجوړه وم نو کانډهي جی دویل چه ته خو چه دی داغلی نه دی او د ده رایه مو معلومه کړی نه وی مونږ عبوری حکومت نه جوړوو. لارډ ویول زما مونږ د صوبې چیف منسټر ډاکټر خان صاحب ته تیلفون وکړو چه زه خپل هوائی جهاز در لیږم، باچا خان په دې کښې ډیلی ته راولیږه. زه ناجوړه وم نو ماورته وویل زه په هوائی جهاز کښې نه ځم او بیا په ریل ګاډی کښې ډیلی ته لاړم.

هلته په کانګرس کښې په دوو مسئلو بحث ؤ. یوه داوه چه جواهرلال نهرو ویل چه زه سردار عبدالرب نشتر به کابینه کښې نه اخلم ځکه چه دی په انتخاباتو کښې په خپله صوبه کښې ناکام شوی دی او دی د قوم نماینده نه دی، د جواهرلال دا اعتراض معقول ؤ، چه کوم یو سړی په خپله کورنی حلقه کښې د صوبې انتخاب نه شی ګټلی نو هغه د تول هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرکزي حکومت کښې د کومې جمهوري نمائندګۍ حق لرلې شي .

کانګرس داخبره هم وانيسراى ته کړې وه چه په داسې حالاتو کښې که باچاخان وغواړي نو داسردار عبدالرب نشتر عبوري حکومت کښې اخيستې شي نکې نو نه ، بله داخبره وه چه کانګرس وې چه د مسلمانانو کوم حق چه ؤ هغه مسلم ليګ ته ورکړې شو او کانګرس د هندوانو حق د ى او د هغوى دا رايه وه چه مونږ د کانګرس د برخې نه مسلمان ته حصه نه ورکوو. ما ورته وويل چه زمونږ په عبدالرب نشتر هيڅ اعتراض نشته ، زما خيال دا چه دى خو يو پښتون دى که دى وانه شي نو بل پښتون ته خو دا موقع نشته ، ما دې اخو پښتون خودى ، دى به د داسې لوبه ونه کړي لکه چه يې وکړه . دده په باره کښې جواهر لال نهرو ماته داګيله وکړه چه دا سړې مونږ ستا په خوله مقرر کړى دى خو دا سړې سنه سړې نه دى . ما دا هم وې چه مسلمانانو په کانګرس کښې د يرې قرباني ورکړې دي او دا به سنه وي چه دوى ته د کانګرس له خوا يوه برخه ورکړې شي . ددې به په مسلمانانو سنه اثر وى . زما دا دواړه خبرې کانګرس ومنلې . لارډ ويول دوويل چه مسلم ليګ ته داخله وزارت ورکړئ . خوسردار پټيل په دى تينګ وو چه دا يل چا ته نه ورکوم ، نو بيا جناح صاحب وويل چه ماليه يو بل داسې د ذمه وارى وزارت دا کړئ ، نو کانګرس ورله فينانس منسټرى ورکړه . سردار پټيل دا تجويز غنيمت ګڼله او د هغه يې د يره تا ئيد وکړه . نو کانګرس لارډ ويول ته وويل چه ليګ له فينانس منسټرى ورکړه لارډ ويول جناح صاحب ته وويل چه وزارت ماليه داخله . هغه ورته وويل چه دده ورځې پس به جواب درکوم . غلام محمد چه د ورستو بيا د پاکستان ګورنر جنرل شو ، محمد على چودهري او نورو مسلمانانو چه دى محکمې کښې کار کولو مسلم ليګ ته راغلل د يره خوشحالي وکړه او ورته يې وويل چه دا د يره اهمه محکمه ده په دى تاسو ته مبارکباد درکوو . او لياقت على خان ته يې وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ته هیڅ فکر مه کوه مونږ به په دې کښې تا سره د پرامداد وکړو، بیا دې خبره جناح صاحب وزارت اخیستلو ته تیار شو او لیاقت علي خان د مالیې وزیر شو.

آخر کانګرس عبوري حکومت جوړ کړو او چه څه وخت دا حکومت جوړ شو نو پیر زکیانو د کانګرس د حکومت د بدنامولو د پاره په وزیرستان بمباري وکړه چه زه خبر شوم نو زه لاړم او جواهر لال مې د دې قصې نه خبر کړه چه ته وزیر اعظم یې او دا ستا د وزارت د قلمدان کار دی او ته تر اوسه خبر نه یې او نه تا چا خبر کړی یې د دې نه قبایلو ته ستاسو د حکومت متعلق ډېرې غلط فهمۍ پیدا کېږي بلکه دا چه په سرحدي قبایلو د حکومت په کرورونو روپۍ لګي او هغه روپۍ پولټیکل او د قبایلو ملکان اخلي او خوار دي خوار خوار شي او قبایلو له څوک هیڅ نه ورکوي او باوجود د دومره خرڅ هغو خلکو ته هیڅ فایده نه ده رسیدلې او اوس چه د هغه اختیارات ستا په لاس کښې دا غلل تا له په کار دي او ستا فرض دی چه د دغې علاقې خلک پخپله ووینې او هغو خلکو سره یو ځای شې، دغه خلک ډېر ښه خلک دي او ډېر عاجزان او مظلومان دي او د هغوی اکثر ملک غرونه دي او که د هغو خلکو سره لږ احسان وشي او د هغوی د قوت لایموت د پاره څه ذریعه پیدا شي نو دا ګړبړ چه کله پیدا کېږي دا به هم ختم شي. ما جواهر لال په دې خبره رضا کړو او هغه ما سره وعده وکړه هغه به ضرور د دغې علاقې دوره کوي او دغه علاقه او خلک به ګوري، او دا یې هم ویل چه څومره زمانه کېږي شو نو زه به یې د دغو خلکو د پاره کوم.

لیکن چه څه وخت جواهر لال سرحد ته د تلو اراده وکړه نو چه د صوبه سرحد ګورنر لف کیرو خبر شو نو هغه دهلي ته لاړه او لیې جواهر لال په خپله ولید او ورته یې وویل چه سرحد ته مه راځه، او چه هغه ونه منله نو بیا یې وایسرای خبر کړو چه پنډت نهرو دې یا ید صوبه سرحد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه شي. والیسرای ځسرونه وویل چه ته سرحد ته مه ځه. نوهغه ورته وویل چه ضرور قبایلو ته ځم اوسرحد ته راغی. چه څه وخت کیرو د ډیلی نه واپس پیښورته راغی نوټول پولټیکل ایجنټان یی را وغوښتل او هغوی یی دهغه د دورې مخالفت ته تیار کړل او د پولټیکل ایجنټانو نه علاوه مسلم لیګ یی هم په شاو تیا وه. جواهرلال چه پیښورله هوایي جهاز کښی راغی او بیا چه دډاکټر صاحب چه د صوبه سرحد وزیراعلی و و بنګلی ته تلو نو په چونې کښی مسلم لیګ چیغي وهلي حال آنکه په چونې کښی سیاسي سرګرمۍ بندې وې چاجلوس ویستی نه شو او نه چا چیغي وهلی شوې. تاسو لږ فکر وکړئ چه ډاکټر صاحب د صوبې وزیراعلی ؤ او جواهرلال دهندوستان وزیراعظم او په سرکاري دوره راغلی وو دا ټول د کیرو شرارت ؤ. او افسرانو او پولیس او مسلم لیګ چه څه کړي دی نو دده په داړیې کړي دي. دا ټول مشکلات چه زمونږ په لاره کښی حایل و دا ټول کورنر کیرو پیدا کړي وو.

## قبایلي علاقې او جواهرلال:

مونږ اول دوره دوزیرستان نه شروع کړه او چه په دوره روانیدو نو کیرو په جواهرلال ډیر زور اچولو چه باچاخان سره مه بیایه چه ډاکټر صاحب را سره دې نو دده څه ضرورت دی، خو جواهرلال راضي نه شو، او زه یې هم خان سره روان کړم. د وزیرستان پولټیکل ایجنټان انګریزان وو هغوی زمونږ مقابله په شریفانه توګه وکړه مونږ اول میرانشاه له لاړو د قبایلو جرګه دمخکښي نه راغونډه وه او په محکمه ناست وو او د پولیټیکل او زمونږ دیاره کرسي وې زه جرګې سره په محکمه کښېناستم خنګه چه دوی پولیټیکل پوه کړي وو، څه وخت چه جواهرلال جرګې ته تقریر شروع کړو نو داخلک ټول

پاخیل اودایي دوي چه مونږ دهندوانو حکومت نه منو. دا زمونږ قبایل د دوي ډېره عجیبه خلک دي، جواهرلال خو د دوی دخیر د پاره راغلی ؤ او تقریر کښې هم ورته دا خبره وکړه چه زه خو ستاسو دخیر د پاره راغلی یم د دې ځای نه بیا مونږ د زمک ته لاړو او په د زمک کښې هم دغه ډول وشوه خو دومره زیاته وه چه یو ملک جهانګیر چه د اکثر صاحب ورله لاس ورکولو نو هغه لاس ور نه کړو او وې ویل چه ته د هندوانو ملګری یې، تا له لاس نه درکوم. د د زمک نه چه روانېدو نو زمونږ سره د حفاظت د پاره چه کوم فوځ وو هغه دهندوانو ؤ. دوی جواهرلال ته وویل چه مونږ ته یو تقریر وکړه نو جواهرلال ورته تقریر وکړو او دهغې نه پس هغوی د ګاندهي جي زنده باد او جواهرلال زنده باد او پاچاخان زنده باد ناری ووهلې. چونکه په وزیرستان کښې زمونږ د دورې انتظام د فوځ په لاس کښې ؤ او هغه هندوان وو، نو دلته هیڅ قسم کړبړې ونه شو.

مونږ چه بیرته میرانشاه ته راغلو نو دا ټول پولیټیکل ایجنټان او ریزیډنټ موجود وو، نو جواهرلال ترې دا تپوس وکړو چه دا په کروړونو روپۍ چه په قبایلو باندې لګېږي نو تاسو دې خلکو د پاره څه کړي دي؟ هغوی سره د دې خبرې جواب نه ؤ ولې چه هغوی د خلکو د پاره څه کړي نه وو. نو ما پکښې مداخلت وکړو چه د دې خو پښتنو د پاره ډېر څه کړي دي. انګرېزان زما په خبره خوشحاله شول خو چه ما ورپسې دا خبره وکړه چه دوی په دې پیسو په پښتنو کښې داسې بد عادتونه او د پیسې محبت پیدا کړې دې چه پیسې ورته ونیسې نو بیا هر څه کوي او جایز ناجایز نه ګوري. په دې خبره پیرنګیان خپه شول.

بیا مونږ له میرانشاه نه واپس ته لاړو چه دا هم وزیرستان ؤ دلته پولیټیکل ایجنټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوو ، دهغه نوم دیوان شیوسرن لال ؤ ، دلته زمونږ د پرلوی استقبال وشو. زمونږ دمیلمستیا دپاره قبالیلو الګلهان راوستلی وو . دجواهرلال نهرو تقریر دلته خلکو په ډیر مینه شان واوریده او دهغه تائید یې وکړ .

## تورخم :

د دغه ځای نه واپس پېښور ته راغلو په سباله مو د تورخم دوره شروع کړه د خیبر پولیټیکل ایجنټ مسلمان و ، صاحبزاده خورشید یې نوم وه چه جمرود ته ورسیدو نو سړک ته په لږه فاصله باندې افریدي ناست وو او چه مونږ یې ولیدو نو په لاسونو کښې یې چیترۍ وې هغه یې مونږ ته وخوځولې او مونږ نیغ تورخم ته لاړو دغه د افغانستان او هندوستان سرحد و . اوخه وخت چه مونږ دغلته چاې څکله ، یو زلمی افریدي راغی او پولیټیکل ایجنټ ته یې وویل چه دوي خو زمونږ میلمانه دي ، دوي سره داسې سلوک په کار نه دی چه مونږ د اروان شو او لنډي کوتل ته رانزدې شو نو پولیټیکل تحصیلدار په منډه منډه راغی او ورته یې وویل چه دلته خوشنوارۍ راجمع شوي دي مونږ چه دلته ورورسیدو نو هغوي خلکو په مونږ کاڼي راوورول ، پولیټیکل ایجنټ زمونږ نه مخکښې وه هغه کوزشو ، هغه په جرګه کوم سپایان دو هغوی ته یې ووې چه په ډوي ډزې وکړې نو هغه خلک چه یو څو ډزې یې وشوې وتښتیده ، زمونږ د موټو شیشې ماتې شوې خو مونږ بچ شو او په کافوو نه لګیدلې صاحبزاده صاحب یو شریف سړې و زمونږ د حفاظت دپاره به زمونږ نه مخکښې و . دډوډۍ انتظام صاحبزاده صاحب زمونږ دپاره کړې و مونږ ډوډۍ وخوړه هلته څه خلکم موجود وو هغوي سره مو خبرې اترې وشوې او واپس پېښور ته راغلو .

## د ملکنډ ایجنسي :

بله ورځ زمونږ دوره د ملکنډ ایجنسۍ وه دغلته هم

ی یوځیتوون چه د انګریزو وفادار یش. لوځیتو عزت او املیا شودار ی ترییه
رنګی نو ر خلی
(c) ketabton.com: The Digital Library
- روزنان ترورن چه ستا سویم.



پولیتیکل ایجنټ مسلمان ؤ شیخ محبوب علي يي نوم و، دی د شیخانو د کلي و ډېر خراب انسان ؤ، د خیبر په دوره کښې چه مونږ تلونو د دوری انتظام د پولیس په ذریعه و ډاکټر صاحب ته ماووی چه د ملکانو د دوری انتظام د فوځ په ذریعه کول په کار دی لکه څنګه چه په وزیرستان کښې شوی و او که ته د فوځ انتظام نه شی کولی نو بیا به مونږ د خدای خدمتګارو په ذریعه د خپل حفاظت انتظام وکړو، ولی چه هلته پولیتیکل ایجنټ شیخ محبوب علی دی. مونږ خبر شو چه شیخ محبوب علی راغلی دی او ګورنر کیرو سره یې ملاقات کړی دی. دا سړی د انګریزانو ډېر وفادار او بې ضمیره ایجنټ و، دی ډېر کمینه سړی ؤ او د ده د لاسه د پښتون قوم ډېر تباه شوی ؤ. په افغانستان کښې د برتانوی سفیر همفری په چاکرۍ کښې د امان الله خان حکومت تخته د ده په ذریعه اوړېدلی وه او (بچه سقاو) یې د کابل په تخت کېښنولی و په ډېره اسماعیل خان کښې د هندوانو خلاف فسا د هم ده کړی ؤ ولی چه دی د غه وخت کښې هلته اسسټنټ کمشنر ؤ، لیکن ډاکټر صاحب یو عجیبه سړی و چه مونږ د هوائي جهاز نه په رسالپور کښې کوز شو، نو زمونږ د انتظام د پاره صرف پولیس والا وو. زه ډېر خفه شوم، نو ما ووې چه زه دې دوره کښې د وی سره هډو ځم نه ولی جواهر لال مې یوازې پرېښوی نه شو، مونږ د رسالپور نه په موټرو نو کښې روان شو چه مونږ سخاکوټ ته ورسېدو، نو راحت خان د وی زمونږ استقبال له راغلی وو نو مونږ ورته کوز شو او هغوی سره کښېناستو چه په دې کښې شیخ محبوب علي هم راغی. یو ساعت پس له دې نه رخصت شو، شیخ زمونږ خلاف انتظام کړی وو لیکن چه ده کوم وخت مقرر کړی ؤ مونږ د هغه وخت نه مخکښې ورسېدو، مونږ د ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګله کښې ناناست وو او چای مو څکلي چه په دې کښې مو د خلکو چغې واورېدې د
شپې يې د ډاکټر صاحب ډېرې خوشامندې کولې، زمونږ نه هم چاپېر ګوڅېدو
ډېر خوشامند ګو سړی و. د ده بنګلې سره جوخته، د ده کمرې وې معلومېږي داسې
چه هغه د مېلمنو د پاره وې، زه او جواهر لال هغه کښې ځملاستو او ډاکټر صاحب يې
ځان، سره څنګ بنګله کښې اوده کړو. ده مونږ له د جرګې راغونډولو څه انتظام نه
وکړه، زمونږ د سخاکوټ راحت خان خدايي خدمتګار راغی، نو مونږ ورته وويې
چه د د د علاقې خلک خبر کړه چه سحر له مونږ له راشي چه شيخ خبر شو نو موټر لې ورله مات
کړو او هغه خپل خلک خبر نه کړه شول او که څوک خبر شو هغه چا مونږ له راپرې نه ښودل
سحر وختې راحت خان راغی او مونږ لې خبر کړو چه شيخ محبوب علي ډېر خلک را
غونډ شتي دي، تا سو خپل د بچاو انتظام وکړئ مونږ سره د ده لارې وي چه هغه کښې
پوليس وو او په هره لاره کښې پوليس سره يو يو پېرنګي و مونږ خبر شو چه هغوی شپې
تېر ولو ته د دې ځای نه درګی له تلي دي څه راحت خان زه د دې قصې نه خبر کړم نو
ما ډاکټر صاحب بېل کړو او ورته مې ووې چه دې شيخ داسې قصه جوړه کړه، شيخ مونږ
ته مخ خامخ ولاړو او ما چه ډاکټر صاحب سره خبرې کولې نو شيخ مونږ ته غوږ ايښی و
زمونږ خبرې يې واورېدې نو ډاکټر صاحب له راغی او مونږ ته يې ووې چه زه به داسې
حرامي يم؟ اا ولې پښتون نه يم؟ او ته خو زما پلار يې نو زه به د خپل پلار لحاظ هم نه کوم؟
ډاکټر صاحب کښې دا کمزوري وه چه هغه به د خوشامندو نه ډېر متاثره کېده ما ورته
ووې چه ترګومه پورې زمونږ کار ده راغلي نه دی مونږ نه څو زمونږ د پوليس کار ده او
د ده يو وه مشوره وه او هغه ځکه د شپې د پاره دلته نه وپاتې شوی او د دغه وخته پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی نه وو. خو ده ډاکټر صاحب ته ووې چه راځئ چه ځو! که مونږ شو او که ډاکټر صاحب شو خو روان شوو، د شیخ موټر مخکښې و او زمونږ موټر وروستو، چه قلا له راورسیدو نو دغې نه یو څو انګریزان راوتی وو مونږ ته ولاړ وو. ده موټر ودرولو مونږ هم ودرېدو مونږ د موټر نه کوز شو او دغه انګریزانو سره قلا ته ننوتلو، شیخ صاحب لاړ، مونږ یې یو ځای پرېښو، څه ساعت پس مونږ د قلا نه راووتلو، مونږ چه لږ مخکښې شو نو په سړک یوه لاری ولاړه وه، سړک یې بند کړی و او ډېر خلک دغې د پاسه ولاړ وو، د مرده باد د چغو سره یې په مونږ کاڼي راوورول شروع کړل ډاکټر صاحب موټر کښې مخکښې ناست و او زه او جواهر لال وروسته ناست وو. زه خو په یو کاڼي ولګیدم سترګې را باندې توری شوې په جواهر لال ورپریوتم. دی په ما راپریوتو، ډاکټر صاحب سره مخکښې د شیخ یو سړی ناست و هغه هم د کاڼو نه سر ټیټ کړی و دغه په ملا تماچه وه هغه ډاکټر صاحب ولیدله هغه یې د هغه د قاش نه راوایسته او د موټر نه یې لاس راوښکو او خلکو ته یې ووې چه لیری شئ که نه ګولۍ درغله خلک وروسته شو او لاړی ده والا ته یې هم ووې چه لیری شه ګنی ګولۍ درغله لاړی هم لیری شوه دا هر څه د قلا څوا کښې وشو او قلا د سړک په څوا کښې وه او دا د هندوستان وزیراعظم و خو زمونږ مل د لته نه هغه پیرنګیان او نه څوک سرکاری محلک راغلل.

مونږ چه د ملکنډ د غاښي نه راکوز شو نو زمونږ هغه پولیس کارډ او هغه دوه پیرنګیان مخې له راغلل بیا چه مونږ هلته کوز شو تول کنډ وکړو و دغو پیرنګیانو ته مې ووې چه تاسو زمونږ سره کارډ یئ وګورئ مونږ په څه حال یو؟ زما خیال و چه محبوب علی به مخکښې هم مونږ ته د مظاهرو د پاره خلک کښېنولی وی. نو تاسو خو زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحفاظت دپاره یې چه خه وشو هغه خو وشو خو اوس دومره مهربانی وکړئ چه تاسو دا یوه لاره ښئ زمونږ. دموټرونه مخکښې کړئ او یوه وروسته کړئ او چه په لاره سړک سره نږدې خلک وو یښی نو لاړ شئ و دوی او دا دمخکښې لاړ شئ. خلک دې لاړ شي نه کوز شي هغه خلکو ته دې ووايي چه لیرې شئ. که نه لیرې کېدل نو بیا دې پرې لاټې چارج وکړي. که په لاټې چارج لیرې نه شو نو بیا دې پرې دوروستو لاره خلک هوایي ډزې وکړي بیا مونږ روان شو چه درې کې ته راورسېدو دغلته دېر خلک جمع وو. شیخ محبوب علي هم ولاړ و او بیا په مونږ دکانو باران شروع شو یو سړي خو په جواهر لال یوه ګټه راخلاصه کړه خو ماورته لاس مخکښې کړو. زما لاس مات شو خو جواهر لال مې بچ کړو یو بل سړي وُ چه دغو لوکېټوئ راخیستې وه او چه هغه یې په مونږ راخلاصه کړه نو زه او جواهر لال خو بچ شو خو د ډاکټر صاحب مخ. سر او ټول وجود په غولو ګنده شو. دلته شیخ محبوب علي پولیټیکل ایجنټ ولاړ و او مونږ ته یې ووې چه په دې پوخ سړک مه ځئ چه کوم ځای تاسو ته کچه سړک مخې له راشي. هغه نیغ چارسدې ته وتی دی په هغه لاړشئ مخکښې تاسو ته دېر خلک ولاړ دي او سړک یې بند کړی دی هسې نه چه لوی فساد وشي زه خو دې مخالف وم ماوې هم په دې پوخ سړک ځو خو زمونږ. هغه کار ډرنه تلو نو په هغه کچه سړک راروان شو او پېښور ته راورسېدو.

## سر دریاب:

سبا له زمونږ دوره دخدائي خدمتګارو مرکز عالیه سر دریاب ته وه. ما ډاکټر صاحب ته ووې چه ستا پولیس او ستا پوځ هیڅوک مونږ. خان سره نه بیایو ستا انتظام مو په کار نه دی مونږ. خپل انتظام بچپله کوو. مونږ د تلو دپاره داسې انتظام کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د پېښور نه تر سره دریاب پورې د سړک پېدوار روغاړو خدايي خدمتګار په وردې کېنې قطار ولاړ وو او د واړه غاړې محفوظې شوې. زمونږ نظریه خود علام تشدد دوه خو چه خلک زمونږ د ملګرو د واقعي نه خبر شوي وو نو هغوي د خپلو خدايي خدمتګارو د مدد او حفاظت د پاره سره د وسلې راغلل او د خدايي خدمتګارو شا ته په ډېر ګڼ تعداد کېنې په دې تو له لاړه ولاړ وو. کېرو ماتکي صاحب ته ويلي وو چه د مترې سړک چه کوم ځاې کېنې د چارسدې پوخ سړک سره يوځاې شوې دې د غلته د ګرملا کور و ششيخان تيار کړې چه د دوی په موټرو نو حمله وکړې. خو چه هغوی د غلته د خدايي خدمتګارو زور وليده نو د حملې جرئت يې ونه کړې شو. د غنه ششيخان د خليلو سره په پوله د خيبر په ايجنسي کېنې او سېبزي

د سر دریاب مرکز عاليه ته نزدې کل بيلي سره هم مسلم ليګيان په ګڼ تعداد کېنې را جمع شوي و. خو دوی هم جرئت وونه کړې شو. د هشتنغر پېښتانه سره د لوېو لوېو د لوباو سله زمونږ د امداد د پاره مرکز عاليه اله راغلل او ليګيانو چه د دې خلکو زور او طاقت وليد ونو وتښتيدل.

سحر چه مونږ مرکز له د تللو انتظام کولو زه د کمرې نه بهر راووتم نو څه ګورم چه د پېرنګيان په اتکې کېنې ناست دي او فوځ هم په سړک کېنې ولاړ دی ما هغو پېرنګيانو ته ووې چه تاسو تکليف مه کوئ مونږ د ځپل انتظام پخپله کړې دې سبه به داوی چه تاسو لاړشئ او خپل فوځ هم بوځئ او مونږ پسې رانه شئ.

مونږ مرکز ته روان شو. د خدايي خدمتګارو نه علاوه د ومره هجوم جمع شوې وچه د ته يې بيان کولی نه شم مونږ په خيريت سره مرکز ته ورسيدو، مرکز کېنې ډېر مخلوق راجمع شوي وو. جلسه شروع شوه، نظمونه وويلې شول، جواهر لال د پېرنګلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریر وکړو او ده ووی چه زه نن ډیر خوشحاله یم چه د پښتنو په مخکښه زما د بدن یو څو
ځاځکلي وینه توی شوه او زه امید کوم چه دا د مکر فریب او ظلم نه ډک نظام به ډیر زر بدل
شي.. د جواهر لال نهرو صاحب د تقریر نه پس ما هم خپلو پښتنو ورونو سره یو څو خبرې وکړې
او دا می ورته ووی چه د دنیا کښې مشهوره ده چه پښتانه ډیر مهمان نواز دي خو دکورنړ کیږد
په لمسون هغه روایات پاتی نه شول ځکه دوی خپل میلمه سره د ومره سپک سلوک وکړو
چه د دنیا به ترې پوزه پټه کړې. دا هرڅه کیږو د یو پښتون شیخ محبوب علي په ذریعه وکړل
شیخ تول پښتانه په دنیا کښې بد نام کړل د جواهر لال ګناه دا وه چه ده ووی چه زه د
پښتنو قبایلو د خیر د پاره په دوره ورغلم او کیږو ورته دې چه مه راځه زمونږ پولیټیکل نظام
کښې د دخل مه کوه نو ده ورته ووی چه زه به خامخا درځم، زه د دی ذمه وار یم دا زما مخکښه
ده او و دی صوبه سرحد ته زمونږ د پښتنو دا بادی ترقی او د خیر د پاره راغلی و. په سبا له
پنډت جواهر لال نهرو زمونږ نه ډیلی ته رخصت شو.

مولانا صاحب په خپل کتاب کښې دا لیکلي دي: چه په پښتنو کښې مهمان نوازی لوی
اخلاقی صفت دی ولی دوی کښې دا صفت نه ؤ او دوی بخل کولو، په دې تربینه پښتانه
بیزار وو. دی وایي چه یو ځل د دوی ملګری زما میلمانه وو چه ما ورته چا یو سره بسکټ اودل
نو هغوی ډیر خوشحاله شول او ما ته یې ووېل چه د دې څه نوم دی؟ دا خو د ډاکټر صاحب
بنګله کښې مونږ لیدلي وو خو هغه مونږ ته نه وو راکړي.

مولانا صاحب د دې خبرې تحقیق نه دی کړې او دا یې لیکلي ده. زمونږ خو دا تهذیب
نه دی، چه یو یې خوری او بل له یې نه ورکوی، مونږ خو دا سې یو چه اوس هم څه مونږ خورو هغه
خپلو میلمنو او نوکرانو ته هم ورکوو او ورسره یو ځای یې خورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفیر ملی ته د ور حکومت کښی مو د قم الحروف گرکر ته لے دوم صاحب [illegible]

[illegible]

[illegible] میاں مرحوم د هند دی په خوراو و غلل مولانا صاحب [illegible]

[illegible] ٧١٨ د [illegible]

زمونږ مرکز کښی هم زمونږ داقاعده وه چه د دی ته به کښیناستو او زمونږ به السبوکسیانو

خوراک یخ کړې وُ، دپاسه به شل نورراغلل نو مونږ به کښیناستو هغه به موتوو کړو کره خیلو

کښی تقسیم کړه او په شهکیه به مو وخوره او اوس هم دغه شان کوو.

زه حیران یم چه مولانا صاحب دا خبره د ډاکټر صاحب په هکله کوی، د هغه خو د

مهمان نوازۍ چه داقصه لی افراط ته رسولی وه. زه په دې نه پوهیږم چه دلولانا صاحب

نه کلکتی ته کوم کسان ورغلی وو ؟

دغه شان دی دا خبره هم لیکی چه د انتخاباتو وخت کښی کانګرس روپی ته ډیر

رقم ورکړې وُ خو دوی د ډیر لږ خرڅ کړو نو ځکه د ډیر امیدواران د خرڅ د کمی په وجه فیل

شول. مونږ خدای خدمتګار و خو هیڅ چیرې د کانګرس نه یوه پیسه هم اخیستی نه ده.

بلکه په دې خبره خو اهرلال زمانه خفه شوی وُ او د ډاکټر انصاری صاحب لی شکایت

کړې وُ چه دی ډیر مغرور دی. زه چه به د کانګرس د ورکنګ کمیټی د اجلاس د تلم. نو تولو

ممبرانو به چه د ریل د سیکنډ کلاس کوم خرڅ اخیستو، ما هیڅکله هغه هم اخستی نه وُ.

البته که پارلیمنټری بورډ له دوی نه څه اخیستی وی نو هغه به پارلیمنټری بورډ اخیستی

وی. هغه تول په ځای خرڅ شوی دی او څومره کسان چه دوی ورو ولی وو، د هغه تو

کامیاب شوی دی او په لوی اکثریت مونږ الیکشن ګټلی دی. نو بیا دا سوال څنګه پیدا

کیږی ؟ د حیرانتیا خبره داده چه مولانا صاحب دا اعتراض کوی چه د صوبه سرحد والو

په انتخاباتو پیسی کمی ولګولې. عام عقل خو دا وایی چه که صوبه سرحد کښی خدایی خدمتګار د

مکمله کامیابی حاصله کړې او رقم یې هم کم ولګولو، نو دا د هغوی یوه سیاسی کامیابی

وه. مولانا صاحب په دې هم اعتراض ضروری وګڼلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بجټ پیش کول:

سونږ ته یونوی مشکل هغه وخت پیدا شو چه لیاقت علی خان دنوی کال بجټ
پیش کړو. دا ښکاره د کانګرس پالیسی وه چه معاشی بنګته پورته والی ختم کړی او وړو
وړو د سرمایه دارانه نظام په ځای سوشلسټ نظام قایم کړی. د کانګرس دا لیکشن
په میننی فیستوکښی هم دا رنګ ویل شوی وو. دجنګ دوران کښی چه مختلف قسم سرمایه
داراتو کو صه نفعه کړی وه. دهغی په هکله جواهرلال بیانات جاری کړی وو. دا خبره عامو خلکو
ته معلومه وه چه ددی رقم ډیره زیاته حصه پټه کړی شوی وه او په هغی انکم ټکس نه دی
اداشوی. دهغی مطلب داؤ چه حکومت د دی غټ رقم نه محروم شوی دی. زمونږ خیال
داؤ چه د هندوستان حکومت ته ددی ټکس د حاصلولو دپاره سخته کارروایي پکار ده.
ولی چه دا ټکس (مالیه) واجب ؤ خو ادا شوی نه ؤ. لیاقت علی خان یو داسی بجټ جوړ
کړی وو چه په ظاهره د کانګرس داعلانا تو مطابق وو لیکن د اصل دهغی مطلب د کانګرس
بلکل فاسول وو. داسی چه د کانګرس مطالبی په ناقابل عمل شکل کښی پیش شوی وې. دهغه
د ټکس تجویزونو د ملک د دولت منی طبقی نه مفلس جوړول او صنعت او حرفت ته نقصان
رسول وو. ورسره هغه دا تجویز هم کړی ؤ چه یو کمیشن دی مقرر شی چه د هغه ټکسونو
په هکله چه ادا شوی نه دی. تحقیقات وکړی او د هغو د حاصلولو انتظام وکړی. دا
خو مونږ ته لوغنو سبتل چه د دولت تقسیم کښی زیات نه زیات مساوات پیدا کړی شی
او دهغه خلکو سره محاسبه وشی. چا چه ټکس نه دی ادا کړی. ددی دپاره مونږ
اصولی، ډول د لیاقت علی خان د بجټ مخالف نه وو. د کابینې مجلس کښی لیاقت علی خان
وویل چه دهغه تجویز د کانګرس د ذمه وارو لیډرانو په بیاناتو مبنی دی. هغه دا خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراف وکړو چه که جواهرلال بیانات نه وی ورکړی نو د هغه ذهن به دی الوزیری ته نه وو تللی. د بجټ په هکله قاعده داده چه وزیر خزانه ټول بجټ د خپلی کابینې د ملګرو وزیرانو په رأی او مشوره جوړوی. ولی دلته نوابزاده لیاقت علی خان خپلو ملګرو ته صرف هغه یوه سرسری جایزه پیش کړه او د مفصل بجټ د پاره یې معنوی په اعتماد کښی وانه خیستل.

تر کومه چه د عامو امورو تعلق ؤ. کابینې ورسره اتفاق وکړو. د غه شان لی د کابینې نه منظوري حاصله کړه او بیا یې بجټ داسی جوړ کړو چه صرف انتها پسندی نه وه بلکه د قوم معاشی نظام ته د نقصان رسولو نیت هم ؤ. مونږ به دی پوره وو چه د دا بجټ اصولی طور د کانګرس د سیاست او پالیسی مطابق ؤ. کانګرس ټول عمر داویلی وو چه مونږ به سرمایه دارانه نظام مخالفت کوو او غریبو له به د ملک په دولت کښی خپله برخه ورکوو، نو د دی وجهی نه اصولی طور مونږ د دی بجټ مخالفت نه شو کولی.

## د مونټ بیټن مشن:

لارډ مونټ بیټن د لارډ ویول د بو طرفی نه وروسته د هندوستان ګورنر جنرل مقرر شو. د هندوستان د واکلو نه مخکښی د لیبر وزارت دی د خپلو ټولو مسائلو نه او خواهشاتو نه خبر کړی وه. مستر اتلی هغه ته هدایت ورکړی وچه د ۳۰ جون ۱۹۴۸ نه مخکښی باید هندوستان ته اقتدار ورکړی شی.

د مارچ په ۲۲ باندی ډیلی ته راورسید او د مارچ په ۲۴ یی د وایسرای او د ګورنر جنرل په حیث سوګند وکړ. د سوګند نه وروسته هغه یو لنډ تقریر وکړ، په دی تقریر کښی هغه په دی ضرورت زور واچوه چه څومیاشتو کښی د ننه به د مسائلو د حل څه لار

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوو ویستلی شی، دغه وخت د کانگرس او مسلم لیگ اختلافات داسی ځای ته رسیدلی وو چه د دوی ترمیم کری دوساطت نه بغیری جوړه نا ممکنه وه. په دی وخت کښی حالات خرابیدل د ملکښتی د فسادونو نه وروسته بهار او نوا کلی کښی فرقه دارانه فسادونه شروع شوی وو بیا وروسته په بمبئی کښی کړ بروشو، پنجاب تردغه وخته پوری خاموش و، لیکن معلته هم د ناارامی اوګډوډی اثار ښکاره کیدل، ملک خضر حیات خان د مارچ په دویمه د پنجاب دچیف منستری نه استعفا ورکړی وه. د مارچ د ۴ تاریخ په مظاهرو کښی ۱۳ کسان مړه شو او ډیر زخمیان شو او ددی فرقه دارانه فسادونو اوور د صوبی په نورو ورخو کښی هم خور شو. امرتسر، راولپنډی او ټکسیلا کښی په لویه پیمانه فسادونه وشول. یو طرفته فوتیه دارانه جذبات زیاتیدل او بل طرف ته د حکومت انتظام سست کیده. مرکزی کابینه کښی د کانگرس او لیگ په مینځ کښی د عدم تعاون په وجه حالات نوره هم خرابیده، د مرکزی حکومت ارکان هر وخت دیو بل مقابلی ته ولاړ وو، د احکومت بالکل معطل شوی و د مسلم لیگ سره د مالیاتو محکمه وه چه هغه د حکومت بنیادګڼلی شی یاد و ولری چه ددی تولو ذمه واری د سردار پټیل په سر باندی وه چه هغه وزارت داخله د ځانان سره د ساتلو په فکر کښی، د مالیاتو محکمه لیگ ته ورکړی وه. په مالیاتو کښی ډیر داسی قابل افسران مسلمانان وو چه د لیاقت علی خان سره په هره ممکنه طریقه مرسته کوله.

د پیرزنګیا نوزړه لوبه کامیابه شوه، هغوی په ملک کښی د داسی حالاتو پیدا کولو کښی کامیاب شولول چه د کانگرس او مسلم لیگ په کور کښی سره پرې نه شو جوړیدی، او اخر هغوی پیرنګی ته کرکښینا ستل چه هغه اوس ددی لانجی څه حل راوباسی چنانچه مونټ بیټن د پیرنګیا نو د طرفه خپله د تقسیم هند منصوبه وروړو د کانگرس مشرانو ته وړاندی کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا تاثر ورکوو چه اوس په موجوده حالاتو کښې بې ددې نه بل هیڅ علاج نشته.

مونټ بیټن ډېر ذهین او هوښیار سړې ؤ، هغه به د خپلو ټولو هندوستاني ملګرو د زړونو حال معلوملو. هغه چه ولیدل چه سردار پټیل د ده د نظریې منلو ته تیار دې نو ده د په لاس راوړلو د پاره یې د خپل شخصیت او دلفریبۍ ټول طاقت په کار راچولو. په خپلو خبرو کښې به هغه سردار پټیل د غوز سره مشابه کولو چه د هغه پوټکی کلک دې خو چه مات یې کړې نو دننه یې چغوزی ره راوځي. د سردار پټیل د تسخیرنه وروسته د هغه جواهرلال ته متوجه شو. اول کښې جواهرلال د تقسیم خبره نه اورېدله او عکس العمل به یې ډېر سخت و. لیکن مونټ بیټن ورپسې ؤ تر دې چه ورو ورو د جواهرلال د مخالفت قوت هم مات شو، څنګه چه دا حالت معلومېدل چه د سردار پټیل سره جواهرلال هم د مونټ بیټن دوی منصوبې سره مني. نو زه ډېر زهیر شوم. ولې چه مونږ دا د هند تقسیم نه بلکه د مسلمان تقسیم ګڼلو. زما د پخوانه هم دا فکر و او اوس هم دا فکر دی چه کیبینټ مشن پلان په هر لحاظ زمونږ د مسایلو د حل ډېره ښه لاره ده. د دې نه د هندوستان یووالی او هرې فرقې ته د ازاد او باعزته ژوند موقع په لاس ورتلله، صرف د مسلمان د مفاد د خیال څخه یې په نظر کښې وساتو نو د دې نه د بل بهتر صورت امید نه شو کېدې. په کومو صوبو کښې چه د دوی اکثریت ؤ، هلته دوی ته په داخلي چارو کښې پوره واک اختیار د په لاس ورته. که د وفاقي هندوستان صوبو ته نظر وکړو نو که مونږ بلوچستان له یو صوبایي حیثیت ورکړو نو بیا به په مرکزي حکومت کښې هم د صوبو په تناسب مسلمانان د غیرمسلمو سره قریباً مساوي حیثیت حاصل کړي.

مولانا ازاد وایي چه «ما په دې ټولو مسئلو ډېر غور وکړ. ما سوچ وکړو چه ګاندهي جي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره ژر خپله رأیه ښکنه بدله کړه. زما خیال دی چه دا د سردار پټیل دا اثر نتیجه ده چه پټیل په بنګکاره وویل چه بې د تقسیم نه بله چاره نشته. د تجربې نه ثابته شوه چه د مسلم لیګ سره یو ځای کار کول ممکن نه دی. کیدی شي سردار پټیل یوې بلې خبرې ته هم اهمیت ورکړی وی چه لارډ ویول، مونټ بیټن ویل چه کانګرس د مرکزي حکومت په کمزور ساتلو صرف د مسلم لیګ د اعتراض د جواب ورکولو دپاره راضي شوی و او د دې په وجه صوبو ته د پوره داخلي خودمختاری حق ورکړل شوی و. مګر په یو داسې ملک کښې چه هلته د ژبې، مذهب او تهذیب دومره اختلاف وی، د مرکز کمزوری اتحاد د دښمنو نظریو ته قوت ورکوی. د لیګ نه چه ځان جدا کړی شي نو بیا د یو مضبوط مرکزي حکومت انتظام کیدی شي او داسې قانون جوړیدی شي چه د هندوستان د متحد ساتلو دپاره به فایده من وی. مونټ بیټن دا مشوره ورکړه چه په شمال مشرق او شمال مغرب کښې چه یو څو وړې ټوټې مسلم لیګ له ورکړې شي نو د باقي هندوستان به یو مضبوط او مستحکم ریاست جوړ کړی شي. په سردار پټیل باندې د دې دلیل زیات اثر وشو چه د مسلم لیګ سره د اتحاد په وجه به د هندوستان اتحاد او استحکام په خطر کښې پریوځي. زما خیال دا دی چه یوازې سردار پټیل نه بلکه په جواهر لال نهرو هم د دې دلیل اثر شوی وو. دغه دلیلونه چه سردار پټیل او مونټ بیټن دوباره وویل نو د تقسیم په مخالفت کښې د ګاندهي جي په نظریه کښې هم کمزوری راغله. ځکه چه دوی ولیدل چه خلک د کیبنټ پلان سخت مخالف دی نو دغه په ځای یې د تقسیم د پلان د پیش کولو چه د ده د خیال سره برابر دی تیاری وکړه. هرکله چه د تقسیم مسئله په ښکاره ډول منځ ته راغله، نو د پنجاب، او بنګال مسئلې لوی اهمیت پیدا کړ. مونټ بیټن وویل ځکه چه د تقسیم بنیاد د مسلمانانو د اکثریت علاقې دی او د پنجاب او بنګال په ځینو برخو کښې د مسلمانانو اکثریت دی، په دې وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دواړو صوبو کښې هم تقسیم کول په کار دي. خو د کانګرس لیډرانو ته یې مشوره ورکړې وه چه دغه سوال اوس مه پورته کوئ او دوی ته یې یقین ورکړ چه په یو راتلونکي مناسب وخت کښې به زه په خپله دغه سوال پورته کړم. په دې وخت کښې مونټ بیټن د تقسیم په باره کښې خپل تجویز تیار کړی ؤ او د برتانوي حکومت سره د خبرو اترو او د تجویز د منظورۍ د حاصلولو دپاره ژر یې د لندن د تلو فیصله وکړه. ما د مې په ۱۴ د مونټ بیټن سره په شمله کښې ولیدل، یو ساعت مې ورسره خبرې وکړې. بیا مې ورته اپیل وکړ چه د کیبنټ مشن پلان په خاوره کښې مه ښخوئ. مونږ باید د صبر نه کار واخلو ولې چه د دې پلان د کامیابۍ امید اوس هم شته دی. که مونږ تقسیم په تلوار ومنلو نو هندوستان ته به ډېر نقصان ورسیږي. ما بیټن ته دا هم وویل چه تاله د تقسیم ممکنه نتایج هم په ذهن کښې ساتل په کار دي. د تقسیم نه مخکښې هم په کلکته، نواکالي، بهار او بمبۍ او پنجاب کښې فسادونه وشول. هندوانو په مسلمانانو او مسلمانانو په هندوانو حملې وکړې، په داسې حال کښې که ملک تقسیم شي نو د وینو لښتي به وبهیږي او د دې خونریزۍ ذمه واري به د انګریزانو په غاړه وي. خو مونټ بیټن راته فوري جواب راکړ چه زه تاته پوره یقین درکوم چه زه به هیڅوک فساد او د وینو بهولو ته پرې نه ږدم. یو وار چه تقسیم اصولاً ومنل شي نو بیا به زه حکمونه جاري کړم چه په ملک کښې هیڅوک فرقه دارانه فسادونه کړې شي. خو بیا ټولې دنیا ته معلومه شوه چه د تقسیم د اعلان نه وروسته د ملک په ټولو برخو کښې د وینو لښتي وبهېدل او بېګناه ښځې او ماشومان قتل شول او د مسلمانانو او هندوانو د قتل عام د مخنیوي د پاره هیڅ سودمند تدبیر ونه کړې شو.*

## ډایرکټ اکشن او مساوات:

پنجاب کښې د هندوا او مسلمان جګړه شروع شوې وه، دا خبره ده چه بیا پنجاب د ونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبنی دا راتلل نو د دې په وجه به د هند د او مسلمان نفرت او کشیدګی زیاتیده لیکن چه په ۱۹۴۴۶ کال کښې په هندوستان کښې کوم فسادونه شروع دو نو په کلکته کښې چه د مسلم لیګ له طرفه د ایرکټ اکشن وشو نو د غه اورته یې د تیلو کار ورکړو. د کلکتې په بنیاد کښې خو د مسلم لیګ د لاسه ډیر لږ هندوان مړه او تالا شو. خو هندوانو د دې بدله په بهار کښې واخیسته مسلمانان منظم نه دي او هندوان منظم دي، دوی په کلکته کښې دومره خلک مړه او لوټ کړه چه څومره په بهار کښې مړه کړل، لوټ یې کړل او یوه لویه تباهي یې وکړه... زه پخپله د غلته د مسلمانانو د امداد پاره تللی وم، مونږ به کله ناکله سهروردي صاحب، ته ویلی چه د ابه په بهار کښې چه د مسلمانانو دومره بربادي وشوه، د مسلم لیګ د ایرکټ اکشن په وجه وشوه او تاوکړه نو هغه به وې چه ماسره لیکلې خط شته کسه د بنیتیاو او غنې ته راغي نو هغه به ښکاره کړم. د کلکتې په بنیاد کښې د بهار خلک مړه شوي وو، بیا د بهار ردعمل بدل داخیستو په بانه په نوا کلي کښې په هندوانو ډیر زور او ظلم وشو، پیر ګیلیانو دا پالیسي کامیابه شوه چه: (یوټ واچوه او حکومت کړو.) انګریزان د مسلم لیګ په دغه کار ډیر ډیر خوشحاله وو ځکه چه د هندوستان په دې خرمستو باندې انګریز «نوکرشاهي» دانګلستان، د مزدور پارټي حکومت باندې داوا ضحه کول او ثابتول غوښتل چه د هندوستان، خلک د ځنا ورو په شان دي او بل وینو څکلو ته تږي ناست دي او دیو بل غوښو خوړلو او خرمن و ښکلو پسې دي او دا چه د بنیاد مو په شان د او سپلو شعور خو په دوی کښې ورک دی د دې د پاره په دوی کښې دانګریزانو حکومت ضروري دی، او دوی له خپل ځان حکومت، مه ورکوئ او که داسې ونه شوه نو دوی به پخپلو کښې یو بل تباه او برباد کړي.

ترڅه بهار کښې: مسلم لیګ دانګریزانو پیدا او ادوو، د دې د پاره هغوی د صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال نه ناجایزه فایده اخیستل خوښ کړل او د امن او سلامتۍ د خرابولو دپاره مسلم لیګ او پیرنګیان په یوه سلا وو.

د دوی په دومره تباهي د مسلم لیګ زړه یخ شوی نه و هغوی په فرقه دارانه ماز شونو کښې لګیا وو د هغو فساد زپلو مظلومانو نه یې سیاسي فایده او چتوله او هغو ته یې دا ترغیب ورکولو چه بنګال ته هجرت وکړي. زه د دې مظلومانو په فکر کښې ډوب وم چه دوی به بیا څنګه پخپلو کلوا و کورونو کښې آباد کړم، لیکن هغوی مسلم لیګ د داسې تاب باندې خبر ولي وو چه زما خبري په هغوی سنې نه لګیدې، د دې د پاره زه د مسلم لیګ لیډرانو له ورغلم دا خلک د محمد یونس بیرسټر په یو عالیشان مکان کښې د یره وو چه کله زه هغوی له ورغلی یم نو دوی په خوړلو او څکلو کښې اخته وو او ما ته به یې او ویل چه مونږ تا سره خبري نه کوو او چه بیا ناظم الدین ورته وویل چه مونږ له په کار دي چه ورسره خبري وکړو نو دوی زما خبرو او ریدو ته تیار شول ما هغوی ته ووې چه تاسو له راغلی یم او تاسو ته دا عرض کوم چه د دې خلکو ډېره تباهي شوې ده او اوس به سبه دا اوي چه دوی معاف کړې او نور یې مه تباه کوئ او دا څومره تباهي چه د دوی وشوه دا اللږ ده څه؟ دا تاسو چه دوی ته د بنګال د هجرت مشوری او ترغیب ورکوئ نو که په حقیقي معنو کښې دوی هلته اباد وی نو زما په دې هیڅ اعتراض نشته او که دوی د خپلو سیاسي غرضونو سنبکار کول غواړئ او که دوی نه سیاسي فایده اوچتول غواړئ نو دا مناسب نه دی دوی ډېر تباه او برباد شوي دي. لیکن د دې مسلم لیګو په زړو کښې د رحم نه ماخیل زور مهربان فیروز خان نون هم دلته شپارس کاله پس ولیدو. ما نتری نه پوښتنه وکړه چه تا خوری چه مونږ به مشوره وکړو، نو قالا به ځواب ورکړو نو تترا وسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوری خوندی مالہ هغه ځواب نه دی راکړی ؟ دی حیاناک سړی و. ستړګی یې ښکته کړی او څه ځواب یې رانکړو، حال دادی چه د شملې په دعوت کښې ده زمانه شکایت کړی وچه تا کانګرس سره شوی، ماورته ویلی وو. مونږ خو تا سو ته درغلی وو، خو تا سو زمونږ امداد ونکړو، او مونږ خو په پولوی مصیبت کښې وو. نو ځکه کانګرس ته لاړلو. که تاسو پنجاب اوس هم مونږ سره ملګری کیږئ نو زه اوس کانګرس نه استعفا ورکوم، ده دوی چه مونږ مشوره وکړو نو ځواب به درکړم.

مسلم لیګیان دیونس ډیر سختو په بنګله کښې ناست وو، خوراک، څکل یې کول او د پښتنی دښنار نه د بهسر وتی نه شول او د. بهار مسلمانان چه کلونه راتښتیدلی وو او په کیمپونو کښې وو داکثرونه د خپل مال څخلو کوم نوکښې ښخ پاتی شوی وو، هغوی غوښتل چه مونږ سره څوک لاړ شی او دده غنه مال را وښکلو کښې مونږ سره مدد وکړي، خو مسلم لیګ خو د ویړې نه د ښار وتی نه شو.. دوی چه د مسلم لیګ نه مایوسه شو نو بیا یې ماته ووې چه ته به مونږ سره لاړ نه شی؟؟ مونږ څخلو کوروښو کښې مالونه ښخ کړی دي چه هغه راوباسو ما ورته ووی چه زه خو دلته د ستاسو خدمت د پاره راغلی یم څه وخت چه وایې درسره ځم نو هغوی به ما روزانه څخه کسان څخپل مونږ کښې خپلو کلو ته بو تلل او هغه څپل مالونه به یې را وښکل، هندوانو به ورته د بلې بلې کتل خو زما په وجه به یې څه ویل نه. زه دوی پسې کیمپونو ته لاړم او ورته می وویل چه په بورسات شروع کیدونکی دی راځئ چه زه مو آباد کوم خو دوی زما د اخبره ونه منله ځکه چه دوی خو مسلم لیګ بنګال ته روان کړي وو خو چه د بنګال د تللو په لاره کښې ورته دیرز تکلیفونه او مصیبتونه پیښ شو نو بیا ماله راغلل، بیا زه د بهار حکومت ته ورغلم او هغه تو لل، وزیران خو ما سره د هزاری باغ په جیلخانه کښې پاتی شوی وو، هغوی زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر ددوی دابادولو انتظام وکړو او ګاندهي جي چه په نوا کلي کښې ؤ هلته چونکه د هندوانو
برخلاف فسادونه شوی وو نو ګاندهي جي هلته په دوره ؤ . ماچه ورته خبر وکړو نو هغه
د نوا کلي دوره پریښوده او دلته بهار ته د مسلمانانو د امداد د پاره راغی . مهاتما جی زما
د خط په لید و دلته راغی او هغه کار نور هم په تېزی روان شو ما ته پیاری لال ویل چه
ګاندهي جي څه وخت نوا کلي ته راغی نو مونږ ته ئې وویل چه تاسو دلته د غه شان ناست
یئ او خپله هغه کښې نه ناستو او چه په کوموځایونو زور زیاتی او ظلم شوی ؤ دی به هلته
تللو او د هغه ځای خلکو ته به ئې داډ ګیرنه ورکوله او خدمت به ئې کولو د هغه په لیدو د
مونږ کښې هم جرئت او همت پیدا شو بیا مونږ هم د هغه په شان په هغو مظلومانو
ی
ګرځېدو او سړی څه کوی چه ښځې به هم ګرځېدې او نه به وېرېدې ،، په دې بیا ند
هغو خلکو کښې د ډېر ښه اثر و شو ولی دلته پټنه (بهار) کښې دا حال ؤ چه مسلم لیګیک
لیډران دویری نه د پټنې ښار کښې ګرځېدی نه شو چه د کوم قوم لیډران زړه ور دی
هغه قوم کښې هم زړه ورتیا پیدا شی ، او چه د کوم قوم لیډران بزدل وی د هغه قوم کښې
بزدلی پیدا شی . ما ته پیاری لال دا خبره دا هم کړې وه چه پټیل په بهار کښې زما کار ګډه و
مخالف وو خو ګاندهي جي ورته وویل چه دا مناسب نه دی .
مردولا بهن هم ګاندهي جي سره ملګرې وه او هغه د غه وخت د ګاندهي جي سکرټری
وه د هغې هم مسلمانانو سره ډېره همدردی وه چه څو مره مسلمانان به راغلل نو مردولا
بهن به هغوی ګاندهي جي ته بوتلل او هغه ته به ئې خپل مصیبتونه او تکلیفونه بیان
کړل . دا خبره د کانګرس د مشرانو خو ښه نه وه هغوی کوشش وکړو چه دا (مردولا بهن)
ګاندهي جي نه لیری کړي او لیری کوله ئې . نو هغه ماله راغله او ما ته ئې دا قصه بیان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودا ته یې دووې چه اوس خوما ستا سو نه جدا کوی . ماور ته دوېل ته هیڅ پروامه کوه، تا هیڅوک د ګاندهي جي نه لیری کولی نه شي . نوزه لاړم او ګاندهي جي ته مې ووېل او هغه پاتی شوه . زه به بهار کښې وم . ما غوښتل چه بهاریان سره دوباره اباد کړم او ددی د پاره هلته دیره وم . . خوچه څه وخت په پنجاب کښې فسادات شروع شو نوماسره فکر شو . بیا ګاندهي جي ماته ووېل چه دا کار به زه کوم ، څه ته سرحد ته لاړ شه ، نوزه سرحد ته راغلم . په صوبه سرحد کښې دخدائي خدمتګارو د تحریک په وجه دمسلمانانو ، هندوانو او سیکهانو تعلقات ، ډیر ښه وو ، ښه څه چه د ورونو په شان وو . دا تحریک دخدای دمخلوق دخدمت او انسانیت تحریک ؤ . دې تحریک په مسلمانانو ، هندوانو ، سیکهانو کښې دمینی محبت او خدمت جذبه پیدا کړې وه چه بخوا ئې مثال نه ؤ . دا تحریک کلیوال تحریک ؤ ، مرکزي هم په کلیو کښې ؤ . ځکه چه اکثریت قوم په کلو کښې اوسی . ددی تحریک فرق د نورو تحریکونو دا ؤ چه د نورو تحریکونه د ښارونو نه شروع کیږی او په کلو کښې خوریږی . مګر دا تحریک د کلو نه شروع شو او په ښارونو کښې خور شو .

تاریخ دا ښیی چه د ښارونو تحریکونه د حکومتونو د لاسه خراب شوی او له منځه تللی دی ، مګر کلیوال تحریک څوک په آسانۍ ختمولی نه شي لکه زمونږ دخدائي خدمتګارو تحریک ، چه د ډیرو ظلمونو ، کړاوونو ، مصیبتونو باوجود چا ختم نه کړې شو او تراوسه پورې جاری دی ، په بهار کښې چه کوم فسادونه وشول نو زمونږ د صوبې نه د مسلم لیګ د رضاکاران بهار ته لاړل . د وی خدمت له تللی نه وو . دوی په هندوانو او مسلمانانو کښې نفرت زیاتولو له تللی وو او چه د هغی ځای نه واپس راتلل نو ډیر هلکان وکی یی له ځان سره راوړل ، او په سرحد کښې کلی په کلی وګرځول او زمونږ په خلاف یې لویه پراپیګنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او مطلب یې دا ؤ چه په صوبه سرحد کښې هم د هندو او مسلمان او د سکهانو په منځ
د نفاق او فساد اور بل کړي . ولې فساد یې ونه کړې شو او په خپل مطلب کښې کامیاب
نه شول . ولې چه دلته د خدائي خدمتګارو د تحریک په برکت د فساد او د ښمنۍ جرړې
ایستلې شوې وې .

خو چه لارډ مونټ بیټن د هندوستان د تقسیم اعلان وکړ او دا یې هم و وویل
چه په صوبه سرحد کښې به ریفرنډم کیږي ، د دې زمونږ په صوبه ډیر خراب اثر وشو او
دلته هم فسادونه شروع شول . نو بیا مسلم لیګیانو د پېښور په بازارونو او لارو کوڅو
کښې بېګناه خلک قتلول شروع کړل . د پېښور ښار بازارونه بند شو ، هندوان ، سکهان
په خپلو کورونو کښې قید وو ، بهر ته راوتې نه شول . په کورونو کښې هم د دوی عزت ، دولت
او سرونه محفوظ نه وو .

چه مونږ پوه شو چه سرکاري افسران زمونږ سره هیڅ قسم امداد ته تیار نه دي
بلکه هر څه زمونږ د وزارت د بدنامولو د پاره کوي ، حکومت زمونږ د خوا افسرانو
زمونږ خبره نه منله نو مونږ فیصله وکړه او امین جان سالار د اعظم ته مو حکم وکړو چه
لس زره باوردي خدائي خدمتګار پېښور ته راولیږي . د حکم د رسېدو سره لس
زره خدائي خدمتګار پېښور ته راغلل او د دا نلو سره یې هندوان او سکهان د خپلو
کورونو نه بهر راوښکل ، د کانونه یې پرانیستل او کارونه یې شروع کړل . د دوی په دکانونو
د خدائي خدمتګارو پیرې ولګېدې ، چه مسلم لیګیان ورته نزدې نه کړې او د
هندوانو ، سکهانو مال ، ځان او عزت محفوظ شو . د غه شان په ټوله صوبه کښې چه
کوم کوم ځای خدائي خدمتګار وو هلته د هندوانو ، سکهانو مال ، ځان عزت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن وُو. په دووی کښې بعضې انګريز پرست هندوان هم وو چه د پيرنګيانو او ليګيانو په اشاره روګلې، بدل او دا مطالبه يې کوله چه د خدايي خدمتګارو حکومت دې ليرې شي او صوبه ګيلښنې دې ګورنر راج قايم شي، په دې نه پوهيدل چه دا ټوله قصه چا جوړه کړې ده او کوم د نه جوړه کړې وه خو چه څه وخت دلا ر د لوپې مونټ بيټن او کانګرس مشرانو په مينځ کښې ژمونږ په سر سودا وشوه. سودا په دې وشوه چه لارډ مونټ بيټن ورته وويل چه چه پنجاب او بنګال به زه درته تقسيم کوم خو تاسو د دې په بدل کښې صوبه سرحد پرېږدئ دوی او ريفرنډم ومنئ. بيايي په دريم جون ۱۹۴۷ د هندوستان د تقسيم اعلان وکړو او دايي هم وويل چه په سرحد کښې به د خلکو نه تپوس کيږي. نو تا سو خو ددې پيرنګي د دې ظلم او بې انصافۍ ته وګورئ چه پنجاب تقسيمږي، بنګال تقسيمږي هلته د خلکو نه تپوس نه کيږي بلکه د اسمبلۍ نه کيږي او دلته زمونږ په صوبه کښې د اسمبلۍ نه څوک تپوس نه کوی او د خلکو نه تپوس کيږي. حال دا دی چه زمونږ اليکشن خو په هندوستان او پاکستان خو مياشتې مخکښې شوی وُ. خلکو خو رايه ورکړې وه د وباره يې څه ضرورت وُ؟ که د کانګرس مشرانو زمونږ سره بې وفايي کړې نه وی او د تقسيم هم مسئله يې منلې نه وی نو په صوبه سرحد کښې به د هندوانو، سيکهانو او مونږ ته دومره د د سر او مال زيان نه وی رسيدلی او نه به سيکهان او هندوان دومره تباه او برباد شوی وُوی.

د دغه وخت مسلم ليګيانو حکومت نيولی وو او جيلونو کښې يې اچولی وو د لنډي-خانه نه ډکی» دوی خو جيلخانو تيرولو دی، ددوی هغه قيد او جيلخانې خو نه قيد وو او نه جيلخانې، د دوی د پاره ريسټورانټ وو، څه عجيبه لوبه وه. د شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کورته تلل، د ورځې به بازارونو کښې ګرځېدل، خپلو خپلوانو او دوستانو سره به يې مجلسونه کول ددې وجه داوه چه ګورنر زمونږ د وزارت سره تعاون نه کولو او زمونږ مخالف وو.

دوى چه بيا د جيل نه را ووتل او دهلي ته راغلل زه هم په دهلي کښې وم. هلته ما دوى وليدل او ثمين جانخان ته مې ووئيل چه يه! هلکه دا پاکستان چه جوړ وي، نو لږ خو فکر وکړئ. دې کښې به د پښتون څه حال وي، اکثريت خو د پنجاب دې نو اقتدار به هم د پنجاب وي، نو ده راته ووئيل چه اوس يې جوړ وو او که بيا پکښې زمونږ خير نه وو نو بيا به يې وران کړو. افسوس دى چه ثمين جانخان اوس نشته ګني ما به ترې تپوس کړى وى چه راشه وګوره چه اوس پاکستان کښې د پښتنو څه حال دى..

## د تقسيم اعلان:

څه وخت چه مونټ بيټن دمې په ۳۰ دهلي ته واپس راغى نو د جون په ۳ يې د د هندوستان د تقسيم په باب د برتانوى حکومت له خوا د منظور شوى منصوبې اعلان وکړوو، د دې منصوبې په اعلان کېدو سره د هندوستان د متحد پاتې کېدو قول اميد ونه ختم شول، برتانوى حکومت د تقسيم د مسئلې په دومره زړ منلو کښې د هندوستان نه زيات د خپلو مفاد خيال ساتلى وو، ولې چه يو داسې رياست چه اقتدار يې د مسلم لیګ په لاس کښې وى د برتانوى اثر په حلقه کښې زيات پاتې کېدى شي.

## د ورکنګ کميټى اجلاس:

بيا په دغه تاريخ په دې نوى حال باندې د غور کولو د پاره د کانګرس د ورکنګ کميټى غونډه وشوه، سردار پټيل او راج ګوپال اچاريه خوله بخوانه د تقسيم طرفدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د کیبینټ مشن مخالف وو. مګر په عوند کښې چه ګاندهي جي هم د تقسیم طرفداري وکړه، نو موږ ټول حیران پاتې شو. بله مسئله په سرحد کښې د ریفرنډم مسئله وه دا مسئله هم د لارډ ماونټ بیټن په منصوبه کښې راغلې وه په دغه خبره هم ډېر بحث مباحثه وشول او دلایل پیش شول، سردار پټیل او راج ګوپال اچاریه دلته هم په ورکنګ کمیټي ډېر زور واچولو او اخر ورکنګ کمیټي دا خبره هم ومنله او د ملک د تقسیم او صوبه سرحد کښې د ریفرنډم خبره دواړه ومنلې شوې.

زه حیران شوم چه دوی دا ټولې فیصلې کړې وې نو دا ما سره یې بیا جرګې او مشورې ولې کولې.

په دې وخت کښې ما ورکنګ کمیټي ته یو اپیل وړاندې کوو او دا مې ورته او وئیل چه موږ همیشه د کانګرس ملګرتیا کړې ده او لاس مو ورکړې دې اوس که کانګرس موږ یوازې پرېږدي او له موږ سره امداد ونه کړي نو په صوبه سرحد به د دې ډېر خراب اثر پرېوځي که کانګرس خدائي خدمتګار د شړمخ نو خولې ته هم داسې پرېږدي نو دا به د صوبه سرحد سره غداري وي. د ګاندهي جي په زړه باندې د دې اپیل زیات اثر وشو او وې وئیل چه زه به د ماونټ بیټن سره په دې مسئله خبرې وکړم.

په سباله زه او ګاندهي جي وایسرای لارډ ماونټ بیټن ته ورغلو هغه سره مو خبرې وکړې. هغه په دې کښې د جناح صاحب شرکت هم ضروري وګڼلو. څه وخت چه جناح صاحب، ګاندهي جي او زه یو ځای شو، نو جناح صاحب ووئیل چه دې زما مسلمان ورور دی زه به ده سره ځان له خبرې کوم. نو ما ګاندهي جي ته ووئیل چه دده داسې خوښه ده، نو که ستا اجازه وي، نو زه به ورسره ځان له خبرې وکړم، هغه ما ته ووئیل ډېر ښه. جناح صاحب ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چه تاسو ته د

شو، اصل کښې ما

لیک تر منځه تولی فیص

ما ولوستو نو زه دد

چه دا خبری خو فیصل

هغه ځنګه د کانګرس ج

چه که ددی فیصلی نه و

په دې باره کښ

» د پاره د کانګرس ورکړ

» سرحد د مستقبل په

» عجیبو مشکلاتو کښې غو

» کړې وه او دلیک لې مخ

» لیک د سخت مخالفت په موجودلی لښې هم په دې موبه ښې دوی د کانګرس حکومت

» په جوړولو کښې کامیاب شوې وو او داحکومت لی اس هم برسراقتدار وو د تقسیم په

» وجه دوی او کانګرس دواړو ته یو تکلیف ورکوونکی حالت پیدا شوی او، په اصل کښې

» د تقسیم مطلب دا و چه دوی او ددوی پارټی یعنی خدایی خدمتګار د مسلم لیګ رحم

» و کرم ته پریښود ل شی۰"

" مونږ پوهیږو چه په عبد الغفار خان به ددې فیصلې ځنګه اثر شوی دی، دا سې

" ښکاریده چه دغه وخت دوی خپل هوش او حواس بالکل بایللی و، خو د دقیقی ددوه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبي نه نه، پولفظ هم راونه وتو، بيا دوي وركنگ كميټي ته اپيل وكړو او ورته يي وويل چه كړه

"چه دوي دي تل دكانگرس ملگرتيا كړي ده او داوس كه كانگرس دوي يوازي پريږدي نو به

"صوبه سرحد به دوي په پرخراب اثر پريوځي، د دوي دښمنان به په دوي پوري خاندي

"او د دوي دوستان به وايي چه تر څو كانگرس ته د صوبه سرحد ضرورت و نو دوي ته يي

"خدمتگاراو حمايت يي كاوه خو كله چه يي د مسلم ليگ سره د مصالحت خواهش پيدا شو

"نو بيايي د صوبه سرحد او د دوي دليل رانو سره مشوره قدري هم ونه كړه او د تقسيم

"مخالفت يي پرپښود. خان عبدالغفار خان خوځلي دا خبره بيا بيا وكړه چه كه چيري

"كانگرس سره خدايي خدمتگار د ښمنانو خولو ته وغورځول نو دا به د صوبه سرحد سره

"غداري وي.."

مونږ د وركنگ كميټي د دغه غونډي نه پس واپس ځيني صوبي ته راغلو، حكومت ته

مو وويل چه چونكه كانگرس تقسيم هند منلي دي نو په داسي حالاتو كښي دلته د ريفرنډم ضرورت

نشته. و وايي چه، دوي په ذريعه به دلته په خلكو كښي يو د دښمني او ترېگني فضا پيدا شي.

چونكه وايسراي دا خبره ونه منله، دوي وجهي نه مونږ بيا د صوبي جرګه راوبلله او دا حالات

مو ورته د دغه جرګي په وړاندي كښېښودل. د صوبي جرګي فيصله وكړه چه كه سركار دلته خامخا

ريفرنډم كوي نو بيا به كاري چه پښتنو له پوره حق خود ارادیت وركړي او د هندوستان

او د پاكستان نه علاوه د پښتنو په ځيني ازادي صوبي پښتونستان باندي هم ووټ واخلي.

خو څو چه كله بيرنگيانو د دي مطالبي د منلو نه انكار وكړو او د ازاد پښتونستان مطالبي

ريفرنډم ته كميټي شامله نه كړه، نو بيا جرګي دا فيصله وكړه چه چونكه كانگرس تقسيم هند منلي دي

د دي وجهي نه دلته ريفرنډم ته هيڅ ضرورت پاتي نه شو. او كه حكومت خامخا ريفرنډم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی نو مونږ به په هغې کښې حصه نه اخلو.

## د کانګرس او مونټ بیټن سازش:

اصله خبره داوه چه دا لویه واقعه چه څنګه وشوه هم دغسې کېدونکې وه،، ولې چه ددې دپاره دپخوانه تیاری شوی وې. هغه وخت چه مونټ بیټن د تقسیم د اعلان نه مخکښې د سرحد په دوره راغلې ؤ په سرحد کښې دفعه (۱۴۴-۱۴۴) لګیدلې وه او په جلسو پابندی وه. د صوبه سرحد ګورنر سراولف کیرو چه زمونږ سخت مخالف ؤ او د مسلم لیګ لوی حامی ؤ هغه په لارډ مونټ بیټن دا اثر اچولو دپاره د سرحدی قبایلو نه په ډیر زیات شمیر کښې د پولیټیکل ایجنټانو او خپلو ملکانو په ذریعه خلک راجمع کړل، لارډ مونټ بیټن ته ئې یو لویه تماشه جوړه کړه، او د تللو په وخت کښې ئې لارډ مونټ بیټن ته داووئیل: چه دې پښتنوله داسې سزا ورکول په کار دی چه د دوی بچې ئې یاد ولری. ولې چه په هندوستان کښې لس کروړه مسلمانان وو هغوی زمونږ مخالفت ونه کړو او دوی زمونږ مخالفت کښې د د کانګرس سره ملګری شول. لارډ مونټ بیټن دا ټولې خبرې په زړه کښې واچولې او دیلی ته روان شو. هلته خو پټیل د هندوستان تقسیم غوښتو، او ده دا غوښتل چه پښتنو ته سزا ورکړي او د مسلم لیګ په حواله ئې کړي، ددې دوارو اتفاق په دې وشو چه کانګرس غوښتل چه بنګال او پنجاب دې تقسیم شي او لارډ مونټ بیټن غوښتل چه سرحد کښې دې ریفرنډم وشي. نو لارډ مونټ بیټن دوی ته داووئیل چه زه ستاسو دا خبره منم، او پنجاب او بنګال به درته تقسیم کړم خو ددې په بدله کښې تاسې زما دا منئ چه په صوبه سرحد کښې دې ریفرنډم وشي. نو کانګرس په صوبه سرحد کښې ریفرنډم و منلو او مونټ بیټن ورته پنجاب او بنګال تقسیم کړل او د دوی دوارو سودا زمونږ په سر د وشوه مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايي يې، خدمتګار و خو مره خواري وکړه چه هندوا و مسلمان سره نږدې شي او زه که په کور کښېنې وم، که په صوبه سرحد کښي وم، که په هندوستان کښي ما د دې د پاره ډېر کوشش کړی دی چه د هندو او مسلمان ترمنځه مينه محبت، اتحاد او اتفاق پيدا کړم او نفرت او دښمني تري ليري کړم. دا کار تر ډېره حده پوره وشو مګر د تقسيم نه پس تاسي وګورئ چه اوس څه حال دی؟ هغه مونږ چه څه کړي وو هغه په سيند لاهو کړی شو. په پاکستان کښي په هندوانو او سکهانو څه تير شول او په هندوستان کښي په مسلمانانو څه تېر شوی او تيرېږي؟ د دې نفرت او دومره نفاق پيدا شو چه د اصلاح اميد يې هم له منځه لاړ او ډېر پېړۍ لا نجي ترې را پيدا شوي.

## د کانګرس بې وفايي:

کانګرس خود پېژنګيانو سره د شپېتو کالو راسي د ازادۍ اخيستلو د پاره په جدو جهد لګيا و خو انګريزانو ورته پوره ازادي څه چه نيمګړې ازادي هم نه ورکوله. مګر کله چه پښتانه ور سره په دغه جنګ کښي ملګري شول او پښتنو په قصه خوانۍ، ټکر، اتمانزو کوهاټ، هاتي خېلو او ميرو س کښي قربانۍ ورکړې او دغه شان زمونږ د قبايلي علاقي غيرتي پښتنو دې پښتنو سره د هندوستان د ازادۍ په لاره کښي غزاګاني وکړې. د انګريزانو توپونو او ټانکونو ته يې خپلې سينې ډال کړې او د دوی مخې ته لګه غر ودرېدل نو دا انګريزانو له د هندوستان ازادۍ ته غاړه کښېښوده. مونږ خود کانګرس سره په دې وعده د ازادۍ په جنګ کښي ملګري شوي و چه وطن به په ګډه ازاد وو او د ډېرې پردی غلامي نه به خانونه خلاص وو، مګر چه وخت راغی نو بيا مونږ سره د شوو عده هيڅ خيال ونه ساتلی شو. زمونږ نه زمونږ د مستقبل په هکله هيڅ پوښتنه ونه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه د پاکستان او هندوستان دیو ځای کیدو ریفرنډم را باندی په زور را وتپلی شوا او د زمونږ په سر دغه لویه سودا وشوه. قربانی مونږ وکړې، وینې زمونږ توی شوې، مالونه، جایدادونه زمونږ تباه شول او کټه یې نورو ته ور سیده. د کانګرس مشرانو خو به په ټولو معاملو کښې زمونږ نه پوښتنه کولو، زما د سلا مشورې نه بغیر به یې هیڅ نه کول. مګر په دې لویه اهمه مسئله کښې نه زما سره مشوره شوه چه خبر هم نه کړې شوم. زما خپګان په دې خبره دی چه د کانګرس ورکنګ کمیټی هم زمونږ سره امل ادا او هله دی ښکاره نه کړه. دوی مونږ له لیونو، لاسونو و تړلو او مسلم لیګ ته یې حواله که کړو.

مونږ خو د مسلم لیګ نه الیکشن ګټلی ؤ نو بیا بل الیکشن ته څه ضرورت ؤ. که چا زمونږ سره نوی ریفرنډم کولی نو په کار وو چه زمونږ په مطالبه یې د پاکستان او پښتونستان په سوال یې کړې وی. دا ریفرنډم خو به پاکستان او هندوستان ؤ او مونږ د کانګرس د بې وفایی په وجه د هندوستان سره نه تلو، نو ځکه مو په دې ریفرنډم کښې شریکیدل نه غوښتل او بایکاټ مو ورپسې وکړو.

مونږ ته به پیر ښکیا نو ویل چه د کانګرس ملګرتیا پریږدی نو مونږ به چه هندوستان څه در کوو دهغې نه زیات تا سوله درکوو. لیکن مونږ کانګرس پرې نه ښود خو دوی مونږ پریښودو.. د دې په افسوس خبره خو داده چه مونږ دوی سره څه وکړل او دوی را سره څه وکړل ؟

د سردار پټیل او راجه ګوپال اچاریه نه خو زما ګیله نشته. زما ګیله د جواهر لال نهرو او د ګاندهی جی نه کیږی چه هغوی هم په دې معامله کښې ورسره اتفاق وکړو. د کانګرس لیډرانو ویل چه اوس داسې حالات را پیدا شوی چه بله لار نشته. نو زه وایم چه دا حالات چا را پیدا کړل ؟ دا حالات خو دوی را پیدا کړل. که دوی هندوستان تقسیم کړې نه وای نو د هندوستان او هندو مسلمان دا دومره تباهی او بربادی به نه وی شوی.

څه چه وشول هغه وشول او د مولانا ازاد خبره څه چه می ولیدل دا یو خوب ؤ. څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زه واوایم چه دا یو سازش ؤ، دا یوه بی وفائي وه، او دا یوه غداري وه چه زمونږ سره وشوه.

ز زمونږ په ملک کښی ځینی کسان شته چه زمونږ د بد خواهانو په لمسه زمونږ خلاف دا پروپیګنډه کوی چه خدائي خدمتګارو څه وکړل؟ او دا هم وائي چه عدم تشدد څه وکړل؟ او زمونږ د پرسادګان ورونه د خود غرضو کسانو د دې خبرو نه متاثره کیږی. نو زه دوی ته وایم چه د خدائي خدمتګارۍ دوه مقصده وو: یو دا چه د ملک ازادی او بل په پښتنو کښی د قامولۍ، وروولۍ، مینی محبت اتفاق او اجتماعي ژوند احساس پیدا کول.

تاسو خو وګوری. دا احساس خو پیدا شو، او ملک هم ازاد شو، او بیا دې ته وګوری، چه دا هر څه د عدم تشدد په ذریعه وشو، تشدد د خونه دی شوی. تاسو وګوری، خدائي خدمتګارۍ په خلکو کښی د مسلمان، هندو او سکه په زړونو کښی دا یو بل سره مینه محبت پیدا کړو او دا سی د ورورولۍ جذبې را وپښه کړې وه چه تر او او وسه پوری هغه هندوان او سکهان چه د صوبه سرحد نه په زور ایستل شوی دی، او هند ته تللی دی ځان ته او س هم خدائي خدمتګار وائي. هر کله چه زه هندوستان ته تللی یم نو هغه مینه او محبت د هغو هندوانو او سکهانو په زړونو کښی محسوس وم. تاسو وګوری چه څه وخت په هندوستان کښی د تقسیم په وخت کښی فسادات شروع شول. نو خدائي خدمتګارو د لته د خپلو هندوانو او سکهانو د حفاظت د پاره څو مره تکلیفونه تېر کړي دی او کوم ځای کښی چه خدائي خدمتګارو نو هلته یې دوی بچ کړي او د دوی د مال او ځان حفاظت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

 (٧٨٦)

دا کتاب برخوردارم مشتاق الرحمٰن ځما ده
مطالعه ده پاره به اوی یې هر چا
به بغیر ده اجازت نه ورکوي - او یا ئې په اجازت
ور - او واپس ئې نکړه - نو خیانت به اوکړي
شان یځله دے - ده عاقبت دین نه پتوس اوکړي

## یادګیرنه

مورخه ۲۸ جنوری ۱۹۹۲ ء — عنایت الرحمٰن ...

ما نه غوښتل چه زه څله یوکوانی ولیکم، ځکه چه زه د ویلو او لیکلو نه زیاپاد ت د کار او عمل ملګرې یم. مګر اجمل ختک، فضل الرحیم ساقی، عبدالله خند متشککار - بختانی، صدیق الله رښتین او فقیر محمد بایزی خوځوځله راته وویل چه په دا یوه ضروری خبره ده او زه یې بایدولیکم. ځکه نو دهغو یاددا شتو له مخه چه ما سره وو او د خپل یاد د ښت نه ما داکتاب ولیکلو.

ددی کتاب د لیکلو په وخت، دهغه په تنظیمولو او چاپ نه د تیاا رولو په چارو کښې هم دې ذکر شوو کسانو ما سره زیات کومک وکړو. نو ځکه زه د دوی نه مشکورګزاریم او د قوم او وطن په خدمت کښې ورته توفیق غوارم.

عبدالغفار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوده خانانو تهانه سره محمد نارئ یوه قصبه ده. ده الا نزاتی ده

ججاپا ئیده ده دی شیخ په نوم خان اوچه ده باچه خان مرحوم بګر داري یو

... ده تر ننګرو ده باباجي صاحب مریدان وو. ده دیونار

... ده شیخ خان یو ځوئ بوجعفر خان نوم وو. د جعف

... تاسکتره په نانځه کښي مصروف وو چه قتل کړو. حرف په

... الا پر سره په جائیداد کښي تر یک دی په بلوخت ک

... ست وو. جعفر خان بلته مخرور شو. مانه معلومه

د جعفر خان بلته وفات شو. او که صلح ئې او کړه. او

محمد نارئ ته ورانغل. یو امکانه شغله ۲۹۲

خواجه الو صاحب مرحوم مانه ده کا

او خلافت کمیټی ده اتحاد یو

کړیده. چه په ویلو رصوبه مدارا

جلسه وه. مولانا محمد علی صاحب او چک

خان او نماندې په یو شیخ ناست وو

والا صاحب ئې وئیل چه خه هم په شیخ

ګرمی وه او ټه مله او غوښتل په تلاش

ما چوره او په پاتې شوی. نماندې او وئیل

پاتې شو. او په ژړکړه ده مولانا صاحب چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوازنه ۶۹۱ ترینه نتوس تو وکړه چه د جناح [illegible]

په کوم ځای پیلوی کیږي او کوم یو په جلا کیږي او کوم یو [illegible]

په ټولو کښې تاته او کوم یو په [illegible] سکار کیږي [illegible]

د [illegible] شوی ده چه د اسلامي نظام ...

څو او نامزد کړي

[illegible] د قیوم ته چارو [illegible]

ځانې د جرګه [illegible] د چه قیوم ته [illegible]

[illegible] آباد دي [illegible] روانه وه [illegible]

[illegible] ځای [illegible] ملکه

[illegible] خدمتګار چه په [illegible]

[illegible] آباد دي [illegible] خو [illegible]

[illegible] د خدای [illegible] خدمتګار

[illegible] چه قیوم روان کړي [illegible]

[illegible] په [illegible] کښې [illegible] روز [illegible]

[illegible] آزاد [illegible] وکړه [illegible] زلمکه [illegible]

د آواز نه ترتیبه را [illegible] د قیوم د [illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا عبید الله سندهی د حضرت شیخ الهند
شاګرد وو. د فرنګیانو برخلاف د
دعوې ډېر محنت او تکلیف برداشت
کړی وو. په افغانستان او ترک
او روسیې ته تګ کړی وو. په
روس کښې مقیم وو. بیا آزادۍ
بیا هندوستان ته راغلی وو
هلته ئې چې ډېر ضعیف وو
لته وفات شو یغفره الله

عبدالقیوم خان د ۱۲ کسیز چراغ حسین شباه په قول
په آخر کښې حرف ډېلی بیرل خان یا نه شو
(د دغه کتاب سیاسي یادونه)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library